دانش خپرندویه ټولنه

۷

ســـینوهه

د فرعون د ځانګړي طبیب یادښتونه

له میلاد څخه ۱۳۵۰ کاله وړاندې

تاریخ

سیاست

فلسفه

دینپوهنه

ارواپوهنه

ناول

میکاولتاري

ژباړن: ډاکتر محمد عیسی ستانکزی

دوهمه برخه

سینوهه

د فرعون د ځانګړي طبیب یادښتونه

سیاست

فلسفه

دینپوهنه

اروا پوهنه

ناول

میکاوالتاري

ژباړن: ډاکټر محمد عیسی ستانکزی

ځکه چې د آمون د خدای د معبد پخوانیو کاهنانو چې پوهېدل، ممکنه ده فرعون د هغوی خدای له منځه یوسي، نو له دې مخکې چې د طبس جنګ پیل شي د سرو او سپینو زېرمه یې بل ځای ته لېږدولې وه.

د مصر سلطنتي کورنۍ د افق ښار ته د فرعون د انتقال له امله ووېشل شوه، پخوانۍ ملکې یانې د اخناتون مور، چې تي تي بلل کېده ونه غوښتل چې له طبسه راووځي او د سلطنت ښکلې مانۍ پرېږدي. د آتون د معبد ستر کاهن آمي چې ما مخکې د هغه ذکر کړی و، په طبس کې پاتې شو او د پخوا په شان یې ژوند وکړ.

له طبسه د فرعون له وتلو وروسته د دغه ښار د خلکو ژوند کوم توپیر ونه کړ او د غلته یوازې د فرعون کمی احساسېده.

خلک د هغه پر تګ خپه نه ول، بلکې هغه به یې جعلي فرعون باله او فکر یې کاوه چې د هغه له شر او جنجاله خلاص شول.

ملکه نفرتي تي چې نوي ښار ته راغلې وه، د لنګون لپاره بېرته طبس ته ولاړه، ځکه چې د تورپوستو د یونو او قابلو له مرستې نه شوای تېرېدای.

ملکې پر درېیم ځل هم لور وزېږوله او د خپلې لور نوم یې (آنخز آتون) کېښود او د دې نجلۍ سر هم د نفرتي تي د نورو لونو په شان اوږد و.

تورپوستو قابلو به له دې کبله چې د لنګون پر مهال پر نفرتي تي سختي تېره نه شي نو د ملکې په خېټه کې به یې د ماشوم سر ته فشار ورکاوه او د هغې سر به د دوی د دغه فشار له امله اوږد شو.

عام خلک له زېږېدو مخکې د سر د موښلو له کیسې خبر نه ول.

دوی به د مصر د فرعون د لونو دغه ډول سر یوه معجزه بلله او تصور یې کاوه چې دغه ډول سر د یوه ستر خدای د نژاد له سرونو څخه دی چې ملکې ته یې ورکوي.

د خلکو حماقت تر دې حده و، چې هڅه به یې کوله خپل سرونه هم د مصر د ملکې د لونو په شان کړي.

له دې کبله چې تر زېږېدو وروسته د سرونو بڼه نه بدلېږي نو دوی به مصنوعي وېښتان داسې کېښودل چې سر یې اوږد ښکاره کړي.

شاهزادګیو ددې لپاره چې وښیي د دوی د سر اوږدوالی ساختګي نه بلکې طبیعي دی، نو کله کله به له ساختګي وېښتانو پرته، په خرېیلو سرونو په مېلمستیاو کې

راڅرګندې شوې.

شاعرانو به د هغوی په ستاينه کې شعرونه ويل او مجسمه جوړونکو به د هغوی د سرونو په تقليد د خپلو مجسمو سرونه هم اوږده جوړول.

له دې وروسته چې د نفرتيتي دريمه لور هم پيدا شوه، د مصر ملکه له طبسه د افق ښار ته ولاړه او د آتون د ښار دايمي اوسېدونکې شوه.

خو په طبس کې يې د خپل خاوند حرم سرای پر خپل حال پرېښود، ځکه چې نه يې غوښتل خاوند يې تر دې زيات د حرم سرای په مسايلو کې ښکېل وي او خپل ځواک د چارو پر سنبالولو ولګوي.

پخپله فرعون هم له نورو ښځو سره چنداني علاقه نه درلوده او يوازې ځينې وخت به يې د مېړه او ښځې د دندې د ترسره کولو لپاره ورته پام کاوه.

خو زه پوهېدم چې نفرتيتي تر ټولو پرې ګرانه ده، ځکه چې د حرم په ټولو ښځو کې ښايسته وه او د دريو لونو له زېږيدو وروسته بيا هم تر ټولو ښکلې ګڼل کېده.

خو نفرتيتي به پر فرعون د خپل ګرانښت لامل د خپلې طبعي ښکلا پر ځای هغه کوډګر بلل، چې د دې په خدمت کې ول.

ځايي کوډګرو به ويل چې که د خپل خاوند مينه وساتي، يوه ورځ به د زوی خاونده هم شي.

په يوه کال کې د آتون د افق ښار هم جوړ شو، هر څوک چې به دې ښار ته له مخکښنې خبرتيا پرته ننوتل فکر يې کاوه، چې د جوړېدا يې لږ تر لږه لس کاله تېرېږي.

ځکه چې د خرما ونې او نورې مېوه لرونکې ونې له ريښو را ايستل شوې او دې ښار ته راوړل شوې وې.

ډېرې ونې وچې شوې، خو له دې کبله چې د ځينو ونو د وچېدو اټکل يې مخکې له مخکې کړی و، نو دومره ونې يې راوړې چې د آتون د افق ښار په يوه باغ بدل شي.

د اوبو په لښتيو کې به کبان ګرځېدل او هيليو به د ښار پر سر الوتونه کول.

کورنې غرڅه ګان به په کورونو کې د ګلانو او وښو په منځ کې ګرځېدل او له کورونو به د ډوډۍ پخولو پر وخت د خوړو او مسالو بويونه لتېدل.

په دې ډول د آتون د افق ښار د مصر د نوي خدای آتون په نوم جوړ شو.

کله چې بيا د منې موسم را ورسېد او د نيل اوبه را وختلې نو فرعون هوډ وکړ، چې په

رسمي توګه د غه ښار نوي خدای ته ډالۍ کړي.

تر مني لږ مخکې معمارانو او کارګرانو څلور سړکونه جوړ کړي ول، چې له ښاره پر څلور لورو ته تلل.

د هر سړک په وروستۍ برخه کې یې د آتون خدای مجسمه جوړه کړې وه.

یوه ورځ فرعون له سلطنتي کورنۍ او درباریانو سره شمال لور ته تللی و او هلته یې ژمنه وکړه، چې د افق ښار د تل لپاره د آتون ښار بولي.

تر هغه چې ژوندی دی هلته به اوسي او له مرګه وروسته به خپلې مومیایي شوې جنازې په یوه غره کې چې په ختیځ کې پروت و، ښخې کړي.

د کانو تراشوونکي او ختګران چې باید د فرعون قبر یې جوړ کړی وای، کله چې وپوهېدل باید څو کاله په دې غرنۍ سیمه کې پاتې شي، نو له ځان سره یې خپلې کورنۍ او بچیان هم راوستل او هغې غرنۍ سیمې ته ولاړل.

تر تګ مخکې فرعون ورته ویلي ول، زه نه غواړم تاسې زما د قبر د جوړولو لپاره کړاو وزغمئ او په کارونو کې بیړه وکړئ، ځکه چې زما خدای (آتون) وایي چې باید څوک ونه کړول شي.

که تاسې دوه یا درې تله (دهغه وخت ساعت ته یې تله ویله یانې دوه یا درې ساعته) کار وکړئ، نو له څو کلونو وروسته به زما قبر جوړ شي.

هڅه وکړئ چې ډېره ډوډۍ وخورئ او خپلو ښځو او ماشومانو ته هم ډېره ډوډۍ ورکوئ، چې چاغ او ښکلي شي، ځکه چې آتون ښکلا خوښوي.

ښکلا د دې سبب کېږي چې د خلکو په منځ کې مینه پیدا شي او په یوه ملت کې چې ټول نارینه او ښځې ښکلې وي، نو رخې او کینې نه پیدا کېږي.

کله چې فرعون فیصله وکړه، چې خپل قبر جوړ کړي، نو اشرافانو او درباریانو هم هوډ وکړ، چې د ځانونو لپاره قبرونه جوړ کړي

دې مسلې فرعون متوجه کړ چې باید د مړیو کور ولري، چې هلته مړي مومیایي کړي.

له همدې امله فرعون امر وکړ چې د طبس د دارالممات تکړه مومیایي کوونکي دې د افق ښار ته راوستل شي.

فرعون پوهېده چې دغه مومیایي کوونکي په طبس کې د آمون په معبد کې اوسېدل، خو په دې هم خبر و، چې د مومیایي کولو یو کارګر نه آمون پېژني او نه آتون.

دا داسې کسان دي چې ټول عمر یې د مرګ په کور کې تېر کړی او داسې موجودات دي چې انسان هم ورته نه شو ویلای، ځکه چې له مړیو سره یې داسې عادت کړی وي چې د هغو له ډلې شمېر کېږي.

پر هغې ورځې چې د طبس د مومیایي کولو کارګران د نیل سیند له لارې په بېړیو کې د افق ښار ته راوستل شول، خلکو خپلې پوزې بندې کړې وې او خپلو کورونو ته تښتېدل، ځکه چې د کارګرانو مخصوص بوی په فضا کې تیت شوی و. چې خلک یې تېښتې ته اړکول.

یوازې زه ترې ونه تښتېدم، ځکه چې را یاد شول، یوه ورځ زه هم د هغوی په شان وم او د مرګ په کور کې مې کارکاوه.

تر دې مخکې چې مومیایي کوونکي راشي د افق د ښار پر څنډه د مرګ کور د هغو لپاره جوړ شوی و.

فرعون زه ددې ودانۍ د جوړولو او د مومیایي کولو د وسایلو د برابولو د څارونکي په توګه وګمارلم.

دې پوهېده چې د آتون د خدای کاهنانو له مومیایي کوونکو سره دښمني درلوده، ځکه چې فکر کوي دوی د پخواني خدای آمون پلویان دي او هېڅ کاهن چمتو نه و. چې ددې کور د جوړولو څارنه وکړي.

ماخپله دنده په سمه توګه ترسره کړه، پر طبي معلوماتو سربېره مې د مړیو په کور کې کار هم کړی و، او په دې پوهېدم چې د مړیو یو سنبال کور کومو شیانو ته اړتیا لري.

د مړیو په کور کې مې د مالګینو اوبو لپاره څو ستر حوضونه جوړ کړل او څو هالونه مې ودان کړل، چې مومیایي کوونکي د مړي د بدن د محتویاتو د تشولو لپاره او په پټیو او تارو د هغو د تړلو لپاره ستونزه ونه لري.

زه پوهېدم چې د مومیایي کوونکي کارګر کور باید په دارالممات کې دننه وي نو د هغوی د اوسېدو لپاره مې باید کافي کوټې جوړې کړې وای.

له دې کبله چې فرعون زما لپاره په افق ښار کې کور جوړ کړی و، د هغه ښار اوسېدونکی شوم.

له دې وروسته په دغه ښار کې زما په ژوند کې خاصه پېښه ونه شوه، چې اهمیت ولري، ځکه کله داسې هم کېږي چې څو کاله پر انسان تېر شي خو په ژوند کې یې خاصه

پېښېږونه شي او کله بیا په لنډه موده کې ډېرې پېښې کېږي.

زه لس کاله د افق په ښار کې وم، خو په دې موده کې کارونه کابو یو ډول پر مخ روان ول.

هره ورځ ما پخپل کور کې ناروغان معالجه کول او هره ورځ به د فرعون مانۍ ته ورتلم کله نا کله به زما او د ښار د نورو اوسېدونکو په ژوند کې ځېنې پېښې وشوې، چې د یادولو او اهمیت وړ څه پکې نشته.

په دې موده کې چې زه د افق په ښار کې وم، زما پر معلوماتو څه زیات نه شول، خو له هغو معلوماتو مې استفاده وکړه، چې په ځوانۍ کې مې زده کړي ول.

زه د شاتو د مچۍ په شان وم، چې په ژمي کې نوي شات نه تولیدوي، خو له هغو څخه استفاده کوي چې په دوبي ګې یې جوړ کړي وي.

په تېرو لسو کلونو کې د وخت په تېرېدا سره زما روح هم بدل شو، ځکه چې شپه او ور ځ تېرېږي داسې وي، لکه چې اوبه د کانو پر مخ تېرېږي او خپل اغېز پرېږدي.

که څه هم اوبه نرمې او سپکې وي، خو کاڼي تراشي او ښویوي یې، د وخت تېرېدل هم د انسان روح تراشي او هغه بدلوي.

زه د عمر په تېرېدو سره درونډ او کم ادعا شوم، نور مې د ځوانۍ په شان پخپل علم او پوهې ویاړ نه کاوه.

ښایي هغه څه چې زه یې درونډ کړی وم، دا و، چې کاپتا به اوس ما ته نه ویل چې ته ستر ډاکتر یې، باید خپل هنر مشهور کړې، چې خلک ستا قدر وکړي.

کاپتا د افق په ښار کې نه و، بلکې په طبس کې اوسېده او هلته یې د خپلې میخانې او زما د دارایۍ مسولیت پر غاړه درلود.

د افق ښار که څه هم د اخناتون د اوسېدو ځای و، خو ژوند پکې داسې وه چې ته به وایې دغه ښار له مصره پرته په بوې بلې دنیا کې پیدا شوی او د بهرنۍ نړۍ د پېښو غبرګون د افق ښار ته داسې رسېده لکه د سپوږمۍ رڼا چې په اوبو کې ولوېږي او بیا ورکه شي.

د فرعون لپاره د مصر نور ښارونه داسې ول، لکه چې نه وي، ځکه چې د دغو ښارونو له پېښو بېخي نه خبرېده او هغه نه پوهېده چې په نورو ښارونو کې کاختي او تنګسیا راغلې ده.

درباريانو هېڅکله فرعون ته حقيقت نه وايه، هغوی باور درلود چې که فرعون ته دغسې خبرې وکړي، له هغه سره به يې اړيکي خرابې شي.

کله چې به مجبور شول يوه خبره ورته وکړي (ځکه چې پوهېدل له دې پرته بله چاره نه لري، نو دغه موضوع به يې په لفافو او شاتو او يا ګلانو کې ونغاړله چې فرعون به د بهرنۍ پېښې په حقيقت پوه نه شو او دغه خبرې يې ددې لپاره هم فرعون ته نه کولې چې هغه د سر په درد اخته نه شي.)

د طبس ښار د آتون د معبد د ستر کاهن آمي له لوري اداره کېده او فرعون د مالياتو راغونډول، د عدالت اجرا او سوداګريزي چارې ټولې په طبس کې پرېښودې.

له همدې امله طبس د پخوا په شان د مصر پلازمېنه پاتې شو او د افق ښار لکه دويمه پلازمينه داسې و.

آمي د اخناتون خسر و، فرعون پرې ډېر باور درلود او په طبس کې يې د يوه رښتيني پاچا په شان ژوند کاوه.

له دې وروسته چې آمون خدای را وپرځول شو، د فرعون پر وړاندې د مقابلې لپاره بل ځواک پاتې نه شو، چې د هغه د قدرت مخه ونيسي.

له دې لامله آمي هم کوم دښمن نه درلود او د نوي خدای او فرعون په نوم يې په طبس کې حکومت کاوه.

آمي فکر کاوه، چې پخوانی خدای له منځه تللی دی او په مصر کې نوی قدرت واکمن شوی، نو نا امني او ستونزې به رامنځته نه شي.

د آمي قدرت دومره پراخ و، چې پر هر چا او هر شي پلی کېده او که به د دوو کروندګرو او دوو جواليانو په منځ کې هم اختلاف راغی نو د هغوی ستونزه به د ستر کاهن آمي او ياد هغه تر لاس لاندې کسانو له لوري حل کېده.

آمي له دې امله خوشحال و، چې فرعون د افق په ښار کې دی او طبس ته نه راځي، ځکه پوهېده که فرعون طبس ته راغلی وای د هغه لپاره يې ستونزې پېښولې.

ستر کاهن ددې لپاره چې فرعون خوشحال کړي د افق ښار د پسوللو لپاره يې ګران بيه ډالۍ استولې او فرعون چې به د نوي ښار د ښکلي کولو لپاره هر څومره سره او سپين غوښتل آمي به ور استول.

هورم هب د ممفيس په ښار کې حکومت کاوه، هېواد ته يې امنيت او نظم راوست.

هورم هب د مالیاتو هر هغه مامور ته، چې له خلکو د مالیاتو ترلاسه کولو ته به تلل او هر هغه سنګ تراش امنیت ساته، چې د امون نوم به یې له مجسمو، معبدونو او قبرونو لېرې کاوه او پر ځای به یې د آتون نوم لیکه.

فرعون امر کړی و، چې حتي د هغه د پلار قبر وسپړي او د آمون نوم د مړي له کوټې او د هغه د مومیایي شوي پوښ له مخه پاک کړي او پر ځای یې د آتون نوم ولیکي.

کله چې د فرعون د پلار قبر پرانستل شو، نو څرګنده ده چې د عادي کسانو قبرونه په سر سپړل شوي ول او د آمون پر ځای د آتون نوم پرې ولیکل شو.

کله چې یې غوښتل د آمون نوم د قبرونو له مخې لېرې کړي او پر ځای یې د آتون نوم ولیکي، نو له دې سره سره چې په مصر کې د قبرونو سپړل جرم و، خو ستر کاهن آمي به چاته څه نه ویل.

ځکه چې هغه ډېر هوښیار سړی و، پوهېده تر هغه وخته چې فرعون د مړیو جنګ ته ورځي د هغه اقدامات به د ژوندو لپاره خطره نه وي او انسان باید احمق وي، چې د مړیو پر خلا ف د یوه فرعون د اقدماتو مخه ونیسي او هغه له ځانه خپه کړي.

د نوي خدای او پخواني خدای د پلویانو تر منځ د طبس له کورني جنګه وروسته، لکه چې ومې ویل مصر یوه موده آرام و او ستر کاهن آمي د مالیاتو ترلاسه کول لویو تحصیلدارانو ته وسپارل.

هغوی هم پخپل وار دغه کار یو شمېر وړو تحصیلدارانو ته وسپاره، او له خلکو به یې مالیات اخیستل.

د مالیاتو د اخیستو له هر پړاو وروسته به بې وزله کسانو د دې لپاره چې د چارواکو پام ځانته ور واړوي پر سر ایرې اچولې او جامې به یې شکولې خو چا به ورته پام نه کاوه.

دوی به د قانون پر اساس د مخکنیو کسانو په پرتله تر ډېر فشارلاندې ول، ځکه چې د بېوزله سړي لیدل چې د مالیاتو د مامورانو له ظلم سره مخامخ شوی و، دومره عادي چاره وه، چې چا به پرې زړه نه سوځاوه.

دغه راز د مالیاتو د مامورینو له لوري د مالیاتو د هر پړاو له اخیستو وروسته دغه مامورین نور بډایه کېدل.

دا یو منلی اصل دی چې علاج یې نشته، او تر هغه چې دا نړۍ وي له خلکو به مالیات اخیستل کېږي.

د مالیاتو اخیستونکي مامورین د حکومت په تاوان شتمن کېږي او یوازې په یوې لارې د مالیاتو د اخیستونکو مامورینو د بدایني مخه نیول کېدای شي، هغه دا چې مالیات نه وي، خو دا چاره ناممکنه ده.

د افق په ښار کې نفرتي تي خپله څلورمه لور وزېږوله او د څلورمې لور لنګون داسې بدبختي رامنځته کړه چې د سوریې د بلوا بدبختي چې مخکې مې یې شرحه کړه هېره شوه.

نفرتي تي د څلورمې لور له لنګونه وروسته ټول کسان تورنول چې پر هغې یې کوډې کړي دي او اړ کړې یې ده چې بیا لور وزېږوي.

دا طبس ته ولاړه چې د هغه ځای له تورپوستو کوډګرانو مرسته وغواړي چې د نورو د کوډو اغېز ختم کړي.

دري دېرشم څپرکی

زما پخوانی غلام

خدایانو داسې غوښتل چې هغه تل لور وزېږوي او له هغه وروسته بیا هم لور وزېږوي چې ان د شپږو لونو مور شوه.

له سوریې څخه هم وېرونکي خبرونه را رسېدل.

له سوریې څخه د هرې لوحې، او یا د پخې شوې ختې د لوحې له را رسېدو وروسته د لوحو د ظبطولو برخې ته ورتلم او هغه به مې لوستلې، ځکه چې پخپله فرعون دغه لوحې نه کتلې.

کله چې به ما دغه لوحې لوستلې د خپل غوږ له څنګه به مې د غشو د ویشتلو غږ اورېده، د اور بوی مې احساساوه، د هغو نارینه وو غږونه به مې اورېدل چې خېټه یې څېرل کېږي او د ماشومانو چیغې به مې تر غوږ شوې.

دا ځکه چې د آمورو هېواد عسکر وحشیان دي او د ماشومانو پر وژلو هم صرفه نه کوي، په تېره بیا دا چې د هاتي افسران یې قوماندانان وي.

په هغو لوحو کې چې له سوریې څخه د ا خناتون لپاره راتلې د اورشلیم او (بیت لوس) د پاچا لیکونه هم ول او له فرعون سره یې خپله وفاداري څرګندوله.

ده ویل اوس د آمورو د پاچا له خطر سره مخامخ دی، په ډاګه کړې یې وه، چې هاتي د آمورو له پاچا سره مرسته کوي او غوښتل یې چې فرعون وسلې او سپاهیان ورولېږي.

خو فرعون له دغو لیکونو کرکه کوله، هر لیک چې نه لوستل کېدو، هغه به یې د ارشیف مسول ته ورکړ چې ویې ساتي، بیا به زه آرشیف ته ورتلم او دغه لیکونه به مې لوستل.

له سوریې راغلي لیکونه یوازې دوو تنو لوستل، یو زه وم او بل د آرشیف مسول.

کله چې د آمورو پاچا اورشیلیم ونیو، د سوریې نور پاچاهان چې پوه شول د آمورو له

پاچا سره مقاومت نه شي کولای نو له هغه سره یوځای شول.
په دې وخت کې هورم هب چې تر هغه وخته یې په پټه د سوریې له پاچاهانو سره د فلزاتو د لېږلو په وسیله مرسته کوله، له ممفیس ښخه د افق ښار او بیا فرعون ته راغی. وېې ویل: اخناتونه موافقه وکړه چې زه سل ځله سل عسکر راغوند کړم او له سلو جنګي ګاډیو سره یې سوریې ته واستوم او ټوله سوریه بیرته ستا لپاره ونیسم.
اخناتون چې په هغه وخت کې د اورشلیم د ښار د سقوط له امله خواشینی و، وویل:
د اورشلیم پاچا چې اوس یې ما نوم هېر کړی دی، بوډا سړی دی، کله چې زه کوچنی وم په طبس کې زما پلار ته راغلی و، چې اوږده ږیره یې درلوده.
اوس چې اورشلیم د آمورو پاچا لاس ته لوېدلی دی، زه چمتو یم چې د اورشلیم د پاچا تاوان جبران کړم او له دې سره سره چې په مصر کې د مالیاتو د ټولولو حالت ښه نه دی، خو زه به د اورشلیم پاچا ته دوامداره مرستې ورکړم او هغه ته به د سرو زرو یو طوق ورولېږم چې په غاړه یې کړي او سرلوړی شي.
هورم هب وویل، هغه نور سرلوړی کیدای نه شي، ځکه چې سر یې له تنه جلا شوی دی، د آمورو پاچا د هغه له سره یو جام جوړ کړی او شراب پکې څښي.
اخناتون وپوښتل، تا له کوم ځایه دغه خبر اورېدلی دی؟
هورم هب وویل، زما جاسوسانو راته دغه خبر راوړی دی.
فرعون وویل، زه حیران یم چې د آمورو پاچا ولې دغه کار کړی دی، ځکه چې هغه زما ملګری دی او له ما یې د حیات صلیب تر لاسه کړی دی، خو ښایي ما د هغه په اړه تېروتنه کړې وي او هغه به تور زړی سړی وي.
خو دا چې ته وایې سل ځل سل عسکر چمتو کوې او له جنګي ګاډیو سره یې سوریې ته لېږې، دغه خبره دې د منلو نه ده.
ددې لپاره چې خلک په مصر کې د ډېرو مالیاتو او د محصولاتو د خرابۍ له امله ناخوښه دي او دومره ډېر عسکر او جنګي ګاډي نه شو برابرولای.
هورم هب وویل، اوس چې نه غواړې ماته دغه پوځ راکړې نو په آتون قسم درکوم چې لږ تر لږه لس جنګي ګاډي او لس ځل لس عسکر راکړه، چې سوریې ته ولاړ شم او هغه شیان وژغورم چې لا د (آمورو) د پاچا لاس ته نه دي ورغلي.
فرعون وویل، زما خدای آتون د وینې تویېدل منع کړي، زه به په سوریې کې ونه

جنګیږم.

زه غوره بولم چې سوریه آزاده او خپلواکه وي، خو په دې شرط چې جنګ ونه شي او له دې وروسته چې سوریه خپلواکه شوه، د سوریې د پاچاهانو یوه اتحادیه جوړه کړه.

موږ به له سوریې سره سوداګري وکړو، ځکه چې سوریه موږ ته اړتیا لري او سریانیان د مصر له غنمو پرته ژوند نه شي کولای.

هورم هب غوسه شوی و، بیا یې هم خپله غوسه کابو کړه او ویې ویل اخناتونه! آیا ته تصور کوې چې د آمورو پاچا له دې وروسته چې سوریه یې ونیوله، یوازې په سوریه به اکتفا وکړي؟

هر مصری نارینه او ماشوم چې وژل کیږي او هر سوري ښار چې د هغه لاس ته ورځي نور هم غښتلی او پیاوړی کیږي.

له دې وروسته چې سوریه یې ونیوله، د سینا د ټاټوبي د نیولو فکر به وکړي، موږ به د سینا د مسو له کانه بې برخې شو او د خپلو غشو او نېزو د څوکو د جوړولو لپاره به مس نه لرو.

فرعون وویل، ما یو ځل درته ویلي و، چې د نېزو لرګي تراش کړیء نو تېره به شي، مسي څوکو ته اړتیا نه لري.

ستا دغه خبرې د دې مخه نیسي چې هغه نوې سندره چې د آتون لپاره مې جوړه کړې بشپړه کړم.

هورم هب وویل، اخناتونه له دې وروسته چې د آمورو پاچا د سینا ټاټوبی ونیو، مصر ته به ننوځي او کوز مصر به ونیسي، ځکه چې سوریه د مصر له غنمو پرته ژوند نه شي کولای.

که ته له سوریې ځخه ډاربږې له هاتي وډار شه، ځکه چې نن سبا هاتي د آمورو د پاچا متحد دی، خو زه د خپلو جاسوسانو په وسیله د هاتي له حالاتو خبر شوی یم او پوهېږم چې د هاتي پاچا به په یوازې سر د مصر د نیولو هڅه ونه کړي.

اخناتون لکه چې یو هوښیار کس د لیوني په خبرو پسې خاندي په کرس وخندل او ویې ویل، هورم هبه! له هغې ورځې چې انسان پیدا شوی تر ننه پورې هیڅ دښمن د مصر خاورې ته نه دی ننوتی، ځکه چې مصر د نړۍ تر ټولو شتمن او قوي هېواد دی.

خو د دې لپاره چې ستا ډار کم شي، تا ته وایم چې هاتیان وحشي خلک دي، په غرونو

کې ژوند کوي، خپلې پادې او مالونه پیايي، دومره بېوزله دي، چې جنګ کولای نه شي او میتاني هېواد چې زمونږ دوست دی، زمونږ او هاتي ترمنځ حایل دی.

ما د هاتي پاچا ته د حیات يو صليب لېږلی او د هغه د غوښتنې پر اساس مې لږ سره او سپين زر هم وراستولي دي، چې زما مجسمه پخپل معبد کې ودروي.

هغه چې کله سپينو او سرو ته اړتيا ولري، نو له مايې غواړي او له همدې امله به پر مصر حمله ونه کړي.

ما وليدل چې د هورم هب مخ له غوسې تک سور دی او ممکنه ده نور ونه کړای شي ځان کنټرول کړي.

زه چې د فرعون ډاکټر يم او ددې حالت دوام مې د فرعون په تاوان باله، فکر مې وکړ، چې ښايي فرعون ناروغ شي.

هورم هب مې له فرعونه لېرې کړ او له دې وروسته، چې د اخناتون له مانۍ راووتو، هورم هب وويل د غه سړی د نړۍ له حالاتو او ژونده بې خبره دی.

زمونږ ډېر خوار مريان هم د نړۍ د حالاتو په هکله تر ده ډېره پوهه لري، فرعون خيال کوي چې د حيات د صليب يا د زرو په لېږلو سره د هغو کسانو مخه نيولای شو، چې د مصر خاورې ته يې سترګې نيولې دي.

فرعون په دې خبر نه دی، چې مصر د دنيا تر ټولو شتمن هېواد دی، له همدې کبله نور غواړي چې مصر ونيسي او د مصر سره، سپين او غنم د ځان کړي.

عجيبه خو داده چې کله فرعون له ما سره خبرې کوي، له دې سره سره چې پوهېږم تېروتنه کوي، خو بيا يې هم په خبرو خوشحالېږم، ځکه چې هغه د غه خبرې له ډېره صداقته کوي او د دروغو او چل ښنه پکې نه ښکاري.

له هغه مې پوښتنه وکړه او س څه کوې آيا د افق په ښار کې پاتې کېږې که نه ستنېږې؟

هورم هب وويل که په دې ښار کې پاتې شم او د ورځې له پلوه د فرعون مانۍ ته ولاړ شم او د هغه د درباريانو په شان دغه خبرې واورم نو وېرېږم چې په څو ورځو کې به د نورو درباريانو په شان سينې پيدا کړم او تمه راڅخه وکړي چې ماشومانو ته شېدې ورکړم، نو غوره ګڼم چې بېر ته ستون شم.

د هورم هب تر تللو وروسته زه ډېر خپه شوم، ځکه چې پوه شوم د هورم هب لپاره ښه ملګرى او د فرعون لپاره يو ښه سلاکار نه يم.

زه باید فرعون ته حقیقت ووایم، چې هغه پخپله غلطي. پوه شي.
ما چې هاتي او سوريې ته سفر کړی، د آمورو هېواد پاچا مې لیدلی او دا مې هم لیدلي چې په هاتي کې د جنګ لپاره څه ډول تیاري نیول کېږي.
ما باید فرعون پوه کړی وای چې آمورو او هاتي وېرونکي دښمنان دي او که ورسره مقاومت ونه شي نو مصر به ونیسي.
مالیدل چې زما د خوب ځای نرم دی، اشپز مې له غوښې، هیلیو او نورو چارپایانو څخه تر ټولو ښه خواړه راته برابروي، ښه اسوده ژوند لرم، نو نه مې غوښتل چې خپل ارام ژوند له لاسه ورکړم.
ماله دې سره سره چې د سرو او سپینو د ټولولو فکر نه کاوه، خو د مصر په دربار کې مې له سوکاله ژونده خوند اخیست.
زه پوهېدم چې که فرعون ته حقیقت ووایم، خپه به شي، که څه هم کینه نه لري، خو له ډېره خپګانه به ما له درباره وباسي، چې نور مې مخ ونه ګوري.
بله دا چې فکر مې وکړ، زه ډاکټر یم او زما دنده د ناروغیو معالجه ده نه د نورو د سپاهیانو مخنیوی.
کله چې فرعون د خپل پوځي قوماندان یانې هورم هب نظر نه مني نو زه چې یو ډاکټر یم، زما رایه به څه ډول ومني؟
له دې سره سره چې فرعون پوهېږي، هورم هب یو پوځي دی، د هغه خبره یې وانه ورېده، نو زما خبره به هم ونه مني او وايي به ته په سیاسي او پوځي چارو نه پوهېږې، نو غوره ده، په هغه کار کې مداخله ونه کړې چې په تا پورې اړه نه لري.
په دې وخت کې د فرعون دویمه لور چې مک تاتون نومېده ناروغه شوه، تبه یې وکړه، ټوخی یې هم درلود او ډنګره شوه.
ما په ډېرې ځیر تیا سره معاینه کړه او پوه شوم چې کومه خاصه ناروغي نه لري، بلکې ناروغي یې د بدن د عمومي کمزورتیا له امله ده او دهغې د غښتلتیا لپاره مې د تقویې محلول ورکړل.
فرعون د مک تاتون په ناروغی. خپه شو، ځکه چې لونې پرې ګرانې وې او د هغه لومړنی. او دویمه لور به ډېر ځله په سترو مېلمستیاوو کې له فرعون سره وې.
هرځل چې فرعون غوښتل نورو ته کوم شی ورکړي، په دغو دواړو لونو کې به یې د

يوې په لاس هغه شی ور ډالی کاوه.

له دې وروسته چې مک تاتون ناروغه شوه، له هغې سره د فرعون مينه نوره هم زياته شوه او دا طبيعي چاره ده، ځکه ناروغ اولاد په پلار ډېر ګران وي.

فرعون به په ورځ کې څو ځله له ماڅخه د خپلې ناروغې لور پوښتنه کوله او تل به يې ويل لور به مې مړه شي؟

هغه ته مې ويل، ستا لور کومه خاصه ناروغي نه لري، چې مړه شي د هغې ناروغي د کمزورتيا له امله ده.

فرعون د لور د ناروغی له غمه ډنګر شو او ما په دربار کې دوه ناروغان پيدا کړل، يو فرعون او بل د هغه لور.

زما ټول وخت د دغو دوو کسانو په پالنه کې تېرېده، ځکه چې زما لپاره دغه دوه کسان، د مصر تر ټولو ناروغانو او په دې هېواد کې تر ټولو هغو کسانو مهم ول، چې له لوږې کړېدل.

له دې کبله چې زما ټول وخت د فرعون او د هغه د لور په معالجې تېرېده، نو اشرافان او درباريان چې به ناروغان شول هغوی مې په دقت نه شوای معاينه کولای.

دوی به ويل سينوهه چې پخوا د مصر تر ټولو تکړه ډاکټر و، اوس کبرجن شوی، له دې کبله چې د فرعون مخصوص ډاکټر دی، فکر کوي چې نور ددې لياقت نه لري چې دی يې معالجه کړي.

په داسې حال کې چې داسې نه و، او هغه دقت چې ما د فرعون او د هغه د لور په معالجې کې کاوه، ددې مخه يې نيوله چې نور خلک په ځيرتيا سره معاينه کړم او پالنه يې وکړم.

پر دې سربيره زه چاغ شوی وم او د پخوا په شان به چابک نه شواي تللی د سرو ښتان به مې تو ييدل پوهيدم چې ډير ژر به ګنجی شم د شپې مهال به له ډيرې چاغی په خوب کې خورېدم که څه هم، چې له کوره د فرعون ترمانۍ ډيره لاره نه وه خو په دې لاره کې به هم په روان تخت کې سپريدم.

زه پوهيدم تر هغه وخت چې فصل بدل نه شي د فرعون د لور طبيعت به ښه نه شي او همدا چې نيل مست شو او د افق د ښار هوا د مني له امله سړه شوه د مک تاتون طبيعت هم ښه شو او څومره چې نجلی تکړه کيد له پلاريې هم ورسره ښه کيده.

کله چې مې ولیدل فرعون او د هغه لور معالجه شوي ، نو فرعون ته مې وویل له دې کبله چې ته او مک تا تون روغ شوي یاست، زه هم اوس په افق کې خاص کار نه لرم، مو افقه وکړه، چې طبس ته یو سفر وکړم.

ځکه چې روح مې په طبس کې ، د تمساح لکۍ د میخانې په مریت او حتي کاپتا پسې خپه شوی دی.

فرعون وویل زه ستا له سفر سره موافق یم، خو ټولو هغو کسانو ته زما سلام ورسوه چې په لاره کې د آتون لپاره په کرنې بوخت دي او په بیرته راستنېدا کې د هغو حال ماته راوړه.

دغه ځمکې همغه وې چې له پخواني خدای آمون سره وې، فرعون له آمونه واخیستې ا و پر هغو کسانو یې وویشلې چې د کرنې غوښتونکي ول ، ما له فرعون سره خدای پاماني وکړاو په بېړۍ کې د طبس پر لور روان شوم.

***

په لاره کې مې څو ځله د نیل ساحل پر دواړو غاړو کې دمه وکړه، له کلیوالو سره به مې خبرې کولې او هېڅ د ستړیا احساس مې نه کاوه، ځکه چې په بېړۍ کې زما ځای تر سایوان لاندې هوسا و.

زما اشپز په بلې بېړۍ کې راته خوندوره ډوډۍ پخوله او له دې کبله چې خلکو زمونږ لپاره ډالۍ راوړلې، مونږ تل تازه خوراکي توکي درلودل.

هغه سیمې چې زه ترې تېریدم داسې ځمکې وې چې پخوا په آمون پورې اړوندې وې.

ما دد غه کتاب په سر کې وویل، له دې کبله چې آمون خدای پر مصر ډېره اوږده موده خدایي کړې وه او د هغه کاهنین بریالي شوي ول چې د مصر ډېره کرنیزه ځمکه د نیل سیند په دواړو غاړو کې واخلي.

د آمون د خدایۍ په وخت کې د مصر ډېرې زراعتي ځمکې یا د آمون د معبد وې او د آمون رعیت به پکې کر کاوه او یا دا چې کروندګرو به ځمکه له آمون څخه اجاره کړه او کر کیله به یې پکې کوله.

په مصر کې زراعتي ځمکه د نیل په دواړو غاړو کې وه او په بله سیمه کې زراعتي ځمکه نه شته، مګر په استثنایي توګه که به په ځینو ځایونو کې چینه موجوده وه، پټي به هم جوړ شوي ول.

فرعون د پخواني خدای ځمکې پر کروندګرو وویشلې او ډېر شمېر کسان چې

کروندګر نه ول، د پخواني آمون په پټیو کې کروندګر شول او د نیل سیند په دوارو غاړو کې دغه ډول کروندګر لیدل کېدل.

کروندګر ډنګر و کمزوري ول، ښځو به یې د تیو د شېدو له کمي او د خپلو ماشومانو له کمزورتیا شکایت کاوه.

خپل کندوان به یې را وښودل او ویل به یې، وګوره زموږ د غنمو ځیره څومره کمه ده، بله دا چې پخواني خدای پر موږ غضب کړی او ښېراوې یې کړې دي.

ما چې غنمو ته وکتل و مې لیدل، چې دا غونه لري او داسې ښکارېدل چې د وینو څاڅکي پر غنمو څڅېدلي وي.

نویو کروندګرو ویل، کله چې موږ کر کیله پیل کړه، ومو لیدل چې زموږ غنم د فصلونو تر ټولو وروسته دغه ډول دي. فکر مو وکړ چې موږ نه پوهېږو او په کرنې مو سر نه خلاصېږي.

خو وروسته پوه شوو چې پخواني کروندګر هم د محصولاتو له خرابۍ څخه شکایت کوي، نو موږ پوه شوو چې دغه ځمکې د پخواني خدای آمون دي او آمون موږ ته ښېراوې کړې دي.

د غنمو د محصولاتو له کمښته پرته داسې نښې نښانې تر سترګو کېږي چې پخواني خدای پر موږ غوسه دی او سهار چې کله له خوبه را پاڅېږو پخپلو کروندوکې د پښو پلونه وینو، متوجه کېږو چې تنکي نیالګي یې را مات کړي دي.

د اوبو په څاګانو کې مردار شیان اچول کېږي چې موږ اوبه ونه څښلی شو، زموږ د اوبو لښتي د خاورو او شګو په وسیله بندېږي او زموږ څاروي له ناروغیو مري.

ځینو په داسې حال کې چې فرعون او د هغه خدای ته یې ښېراوې کولې، خپلې ځمکې یې پرېښودې او ښارونو ته ولاړل، چې خپله پخوانۍ دنده پیل کړي.

دوی ویل موږ ددې لپاره چې تر اوسه د فرعون خدای او د هغه صلیب ته هیله من یو له دې ځایه نه یو تللي، موږ فکر کوو چې ښایي د فرعون خدای موږ د پخواني خدای له تاوانونو وژغوري.

موږ احساس کوو، چې د پخواني خدای ځواک د نوي هغه په پرتله ډېر دی او داسې ورځ به راورسېږي، چې موږ به له لوږې مړه شو.

یا به مجبور شو چې د نورو په شان دغه سپېرې ځمکې، چې لعنت پرې شوی پرېږدو

او ښار ته ولاړ شو.

په دې سفر کې زه یو ښوونځي ته هم ولاړم.

کله چې ښوونکو زما زرینه غاړګۍ ولیدله او کتل به یې چې د حیات صلیب مې په غاړه کې پروت دی، نو پوهېدل چې زه د دربار یو شخصیت یم، زما به یې ډېر احترام کاوه، خو خپله نا رضایتي به یې هم نه پټوله او ویل به یې:

موږ د فرعون او د هغه د خدای د رضا لپاره چې نوی خط یې دود کړی، چمتو یو چې ډېر زیار وګالو.

هغه خط چې په نوي خدای کران دی او وایي چې باید له ماشوموالي زده کړای شي ډېر عامیانه او احماقانه خط دی، چې نه کومه ښکلا لري او نه هغه علمونه ښودلای شي چې موږ زده کړي دي.

له ذوو زرو کلونو راهیسې او د هرمونو د جوړېدا له وختـه تر ننه پورې، زموږ علوم او معارف په پخواني خط لیکل شوي دي.

نن باید هغه ټول شاته پرېږدو او په زور نوی خط زده کړو، چې ټول سواد ولرو.

په داسې حال کې چې هرمونه په زاړه خط جوړ شول، د پخواني خط په وسیله، مصر د نړۍ ستر ملت شو او د هغه علمونو او معارف ،نړۍ روښانه کړه.

موږ ددغه خط د روزلو لپاره لوحې او نی نه لرو ، مجبور یو چې په یوه لرګي د شګو پر سر د ماشومانو لپاره د نوي خط بڼې انځور کړو.

د ماشومانو پلار و مور چې نوی خط د نوي خدای بدعت بولي له موږ څخه ناخوښه دي، په داسې حال کې چې موږ نه بلکې نوی خدای ګنهګار دی.

له دې کبله چې مېندې او پلرونه له موږ څخه خوښ نه دي، نو زموږ اجوره لږه راکوي او د غنمو پیمانه، چې موږ ته یې راکوي سرونه یې تش وي، هغه د زیتون تېل راکوي چې خراب شوي وي او د اوربشو تروې اوبه راکوي.

یو بل شی چې تر اوسه موږ ونه کړای شو فرعون او نوی خدای پرې پوه کړو دا دی، چې نوی خط یوازې هغه ماشومان زده کولای شي چې وړتیا ولري.

پخوا هم همداسې و او هغه ماشومان چې بې استعداده ، لیک لوست یې نه شو کولای.

بله دا چې د فرعون خدای وایي چې باید نجونو ته هم لیک لوست وښودلی شي، په داسې حال کې چې نجونو ته لیک لوست هېڅ ګټه نه لري، ځکه چې نجونې ډاکترانې

،انجنیرانې او کاتبانې، نه شي جوړېدای.

ما به کله نا کله له ځینو ډاکټرانو څخه امتحان اخیست او پوهېدم به چې د هغوی معلومات ډېر کم دي.

ان دوی به په پخوانې خط هم ښه نه پوهېدل، خو ددې لپاره چې اسوده ژوند وکړي، د حیات صلیب یې منلی و او ځانونه یې د نوي خدای پیروان ښودل.

کروندګر له ښوونکو ډېر ناخوښ ول، ماته یې ویل سینوهه! ته فرعون ته نژدې یې او هغه ته ووایه چې موږ د نویو ښوونځیو له کړاو او تاوانه وژغوري.

ځکه چې ددې ښوونځیو معلمین د نیل سیند له تمساح ګانو ډېر خواړه خوري او په خېټې مینان خلک دي.

هرڅومره غنم ،د زیتون تېل او د اوربشو اوبه چې ورکو، دوی وایي لږ دي او که د غنمو په خرڅلاو سره یوه اندازه مس تر لاسه کوو له موږ څخه یې اخلي ان زموږ د غوایانو پوستکي راڅخه اخلي او خرڅوي یې، چې شراب پرې واخلي.

موږ د ورځې له پلوه په بیدیا کې کر کیله کوو، دوی مو کورونو ته ورځي او شیان مو لوټوي.

دوی تل غوره او ګران بیه شیان غلا کوي او چې اعتراض کوو چې ولې زموږ شیان پټوئ، وایي ، نوي خدای ویلي چې باید ټول خلک سره مساوي وي.

دوی وایي کله چې یو سړی کوم شی ولري نو دا فرق نه کوي چې خپل یې دی که پردی.

ما دغه شکایت اورېد او د کروندګرو د ستونزو د اوارې لپاره مې هېڅ هم نه شو کولای، ځکه چې فرعون ماته نه و ویلي چې د هغوی د ستونزو د اوارې لپاره کوم اقدام وکړم.

هغه ویلي ول یوازې زما سلام کروندګرو ته ورسوه.

ما هغوی رټل او ویل به مې، کرنه حوصلې، زیار او له بلاګانو سره مبارزې ته اړتیا لري.

تاسې له ډېرې تنبلۍ څخه له بلاګانو سره مبارزه نه کوئ، ځکه خو ستاسې د کروندو محصولات کمېږي.

تاسې که د شپې مهال پام وکړئ نو څوک به ستاسې تازه نیالګۍ مات نه کړي، ستاسې په څاګانو کې به مردار شیان وانه چوي او ستاسې د اوبو لښتي به نه بندوي.

تاسې ددې لپاره نه غواړئ چې ماشومان مو ښوونځيو ته ولاړ شي چې د ښوونکو اجوره نه ورکوئ، دغه راز غواړئ چې له خپلو بچیانو څخه په پټیو کې استفاده وکړئ او هغوي کار کولو ته اړ کړئ.

که زه د فرعون په شان وای ستاسو په لیدو به شرمېدم، ځکه چې تاسې نه غواړئ. له هغو ځمکو استفاده وکړئ، چې فرعون تاسې ته درکړې، په داسې حال کې چې دغه پټي د مصر تر ټولو ښېرازه، ځمکې دي

پخوانۍ خدای به تل هغه ځمکې نیولې چې تر ټولو ښې وې او اوس دغه ځمکې له تاسې سره دي، خو تاسې له تنبلۍ څخه دغه کروندې بې ګټې کړې دي، څاروي مو وژلي، چې تازه غوښې یې وخورئ او له پوستکو یې ګټه واخلئ.

هغوی به ویل مور نه غوښتل چې زمو ږ ژوند بدل شي، ددې لپاره چې مور ږ بېوزله وو او زمور پلرونو ویلي ول، چې کله انسان بېوزله وي باید د بدلون فکر ونه کړي

ددې لپاره چې هر انقلاب د بېوزلو په زیان او د شتمنو په ګټه دی او د ژوند تر هر بدلون وروسته شتمن، نور هم شتمن کېږي خو د بېوزلو په کندوانو کې غنم او په منګیو کې یې د زیتون تیلو اندازه ورځ په ورځ کمېږي.

ما داسې ښودل چې په دې خبرو باور نه کوم، خو په باطن او په زړه کې د هغوی خبره تایدوم ،ددې لپاره چې پوهېدم، په ټولنیز ژوند کې هر بدلون د شتمنو په ګټه او د بېوزلو په زیان وي.

ممکنه ده په موقتي توګه ځینې شتمن بېوزله شي، لکه دا چې د آمون د معبد کاهنانو خپلې ځمکې له لاسه ورکړې او بېوزله شول.

خو دغه پېښه هغه زیان و، چې یوازې یوې پرګنې ته رسېږي او بیا هم له یو ستر ټولنیز بدلونه وروسته ټولې ګټې وټې د شتمنو په برخه کېږي او بېوزله به همغه راز بېوزله وي یا به نور هم بېوزله کېږي.

فرعون پخوانی خدای له منځه یوور او د هغه ځمکې یې پر کروندګرو ووېشلې چې د بېوزلو او شتمنو توپیر ختم کړي.

خو نن سبا یو شمېر درباریان ،شتمن او اشرافان او یو شمېر طفیلي کسانو چې ځانونه د آتون پلویان بولي، د پخوانیو کاهنانو ځای نیولی دی.

دوی له دې پرته چې کار وکړي، په آسانه هرڅه تر لاسه کوي، زه هم د هغوی په شان یو

طفیلي شوی سړی یم، ځکه چې ما هم د هغوی په شان ګټور کار نه کاوه.

د آتون پلوي نوي کاهنانو، ټول بې سواده ښوونکي او ټول اشرافان چې ځانونه نوي خدای ته معتقد معرفي کوي، داسې طفیلي ژوي او وړوړې دي چې د سپیو په وړیو کې وي.

د غه وړوړې ټل د سپي له وینې څخه تغذیه کېږي، له دې پرته چې کوم کار وکړو، موږ ټل د مصر د ملت له وینې استفاده کوو، خو د مصریانو لپاره کومه ګټه نه لرو.

هغه وړوړې چې د سپي په بدن کې وي ممکنه ده خیال وکړي، چې له سپي غوره دي او سپي د دې لپاره پنځول شوي، چې هغوی تغذیه کړي یانې اصلي ژوي دوی دي، سپي فرعي ژوي دي.

موږ هم فکر کوو چې اصلي او اوچت موجودات موږ یو او د مصر ملت د دې لپاره پیدا شوی، چې موږ تغذیه کړي، خو همغه ډول چې سپي د وړږو له نه شتونه سوکاله او ارام وي، که د مصر ملت زموږ په شان د طفیلي موجوداتو له شره خلاص شي نو ښکمرغه به شي.

زه په دې سوچ سخت خپه شوم، ګني زه یو طفیلي او مفت خور موجود یم او په دې وخت کې د کروندګرو تنبلي راته چتي خبره ښکاره شوه.

زموږ بېړۍ د طبس په لاره کې حرکت ته دوام ورکړ، تر دې چې درې ګوني غرونه چې د طبس دایمي ساتوونکي دي راڅرګند شول او د ښار ودانۍ او باغونه ولیدل شول.

له کلونو جلا وطنۍ وروسته د طبس په لیدو ډېر خوشحال شوم، داسې لکه چې سمندر کچ کوونکي له لېرې سیمو، څخه طبس ته راستانه شوي وي، د نیل په سیند کې مې دوه پیمانې شراب په ځان وارول او ځان مې پرې وویڅه.

زموږ بېړۍ د طبس ډېرین بندر ته ورسېده، نو د بندر د ولاړو اوبو او د کټوې د مسالې خوږ بوی، یانې د طبس همېشنی وږم مې احساس کړ.

خپل کور ته چې مخکې د یوه مسګر کور و، ولاړم او هلته مې موجوده ونه ولیده او را په یاد شول چې د غه ونه ما ایښې وه.

خو د غه کور ما ته کوچنی ښکاره شو، ځکه چې زه د افق په ښار کې په داسې کور کې اوسېدم چې یوې ماڼۍ ته ورته و، او له همدې امله د پخواني کور په لیدو خوشحال نه شوم.

په دې وخت کې پوه شوم او وشرمېدم چې فاسد شوی یم، ځکه تر هغه وخته چې څوک فاسد شوی نه وي، پخوانی ساده ژوند، چې له هاندو هڅې، فعالیت او انسان دوستۍ سره یو ځای وو، هغه ته سپک او وړوکی نه ښکاري.

کله چې د کار او له بېوزلو سره د مرستې او لاس نیوي مرکز د انسان له نظره ډېر وړوکی ښکاره شي، دلیل یې دا وي چې شتمني او تجملاتو د هغه روح تیاره کړی او د عاطفې سرچینه یې وروچه کړې.

زما مریی کاپتا په کور کې نه و، خو بوډۍ نوکره موتي موجوده وه، چې زه یې ولیدم ویې ویل، دغه ورځ بختوره ده چې بادار مې پکې راستون شو.

خو په دې پوه شه چې زه ستا د راتلو په تمه نه وم، ځکه مې ستا کوټه نه ده منظمه کړې او کالي مې نه دې وینځلي.

نارینه په ټولو ځایونو کې یوشان دي، ناڅاپه ځي، او کله چې څوک د هغوی د ستنېدا په انتظار کې نه وي بیرته به راستانه شي.

ومې ویل موتي له دې کبله چې کور زما د هر کلي لپاره چمتو نه دی، زه به تر هغه په بیړه کې واړوم چې زما کور چمتو شي.

ایا کاپتا ګورې او د هغه له وضعې خبره یې؟

موتي وویل، کاپتا کله نا کله خو ډېر لږ دې کور ته راځي.

هغه نن سبا ډېر شتمن شوی دی او کله چې له ما سره خبرې کوي پوهوي مې چې له ما سره ډېر توپیر لري.

که ته غواړې هغه وګورې نو د تمساح لکۍ میخانې ته ولاړ شه...

زه د تمساح لکۍ میخانې پر لور روان شوم، مریت زما لور ته راغله ګورم چې چاغه شوې ده، خو ښکلا یې لا هم پر خپل ځای وه.

له دې کبله چې ما ګران بیه جامې اغوستې وې او زرینه غاړګۍ او د حیات صلیب مې په غاړه کې و، او ساختګي وېښتان مې درلودل نو مریت ونه پېژندم، ویې ویل، ایا تا په میخانه کې د ځان لپاره ځای نیولی دی، ځکه چې که ځای دې نه وي اجاره کړی، زه دې دلته هر کلی نه شم کولی.

ومې ویل: مریت! زه دا حق درکوم چې ما ونه پېژنې، ځکه کله چې یوه ښځه ډېره موده له یوه سړي لېرې وي او په دې موده کې یې ډېر سړي په غیږه کې نیولي وي، نو هغه

لو مړی سړی به هېر کړي.

خو زه له سفره راستون شوی یم او یو جام پخو شرابو ته اړتیا لرم، یو څوکۍ هم راوړه چې پرې کېنم، بیا یو جام شراب را باند وڅښنه.

مریت له حیرانۍ ناري کړې سینوهه! دا ته یې....بختوره ده دغه ورځ چې ته یې دلته راستون کړې.

مریت په بیړه چوکۍ راوړه او زه یې کېنولم، پخپله زما په مخکې ودرېده، ځیر ځیر یې راته کتل ویې ویل، سینوهه! ته چاغ شوی یې او ستا سترګې د پخوا په شان ځلا نه لري، خو اوس پکې د کرارۍ او خوښۍ نښې لیدل کېږي.

ته اوس هغه سړي ته ورته یې چې له ژونده یې هرڅه غوښتي وي، هغه یې ترلاسه کړي وي او ځان بل شي ته محتاج نه ګڼي.

بیا یې زما له سره ساختګي وېښتان لېرې کړل او پر سر یې لاس راتېر کړ ویې ویل، سینوهه! اوس د ځوانو او ښکلو ښځو په شان وېښتان نه لرې، او زه دغه ګنجی سر د نورو سړیو تر ګڼو وېښتانو ډېر خوښوم، اوس به زه درته شراب راوړم.

ما ورته وویل مریت! ماته د تمساح لکۍ شراب مه راوړه، ځکه چې نه مې معده دغه شراب زغملای شي او نه مې سر.

مریت پر مخ لاس راتېر کړ او ویې ویل سینوهه! ایا زه ډېره زړه او چاغه شوې یم، چې ته کله ماته را ورسېدې، د معدې او سر فکر کوې.

ځکه کله چې پر یو سړي کومه ښځه ګرانه وي، نه د معدې فکر کوي او نه د سر فکر ورسره وي، خو کله چې مینه له منځه ځي، په دې وخت کې سړی له خوړو او شرابو شکایت کوي.

په دغه وخت کې وایي دغه خواړه خوندور نه دي، یا دا چې درانه دي او هغه شراب زما معده په تکلیفوي او سر درد پیداکوي.

ومې خندل مې ویل مریت! دا خبره ومنه چې زه هغه پخوانی ځوان سړی نه یم او د عمر تېرېدا پر یوه بوډا سړي بدل کړی یم.

د سر وېښتان مې توی شوي دي، ډېر ژر به مې غاښونه هم ولوېږي او باید ساختګي غاښونه کېږدم او بله دا چې د یوه بوډا معده د یوه ځوان له معدې سره توپیر لري.

مریت وویل، ته بوډا نه یې ځکه کله چې مې ولیدې زړه مې وغوښتل له تا سره تفریح

وکړم او که بوډا واى زه به درته لېوا له شوې نه وم.

له يوې ښځې پرته بل هېڅوک د يوه سړي په ځوانى. او بوډاتوب ښه نه پوهېږي، کله چې يوې ښځې يو سړى وليد او له سرو او سپينو پرته يې له هغه سره ساعت تيري ته زړه وشو، نو دا په دې مانا ده چې هغه سړى ځوان دى او په دې اړه د ښځو سليقه تېروتنه نه کوي.

خو اوس دا راته ووايه چې د تمساح لکۍ درته راوړم که نور شراب؟

ما لکه چې هغې ښځې ته وويل په سر کې مې نه غوښتل د تمساح لکۍ شراب وخورم، خو وروسته مې ورته وويل د تمساح لکۍ راوړه، ځکه له يوې مودې راهيسې له تا لېرې وم، بيا غواړم پخوانى تاندوالى او شوق په ځان کې ژوندى کړم.

مريت ولاړه او د تمساح لکۍ يو جام شراب يې راوړل، زما په لاس کې يې کېښودل او ما پر سر واړول.

کــه څه هم ستونى مې وسوځېد او سترګې مې لـه اوښکو ډکې شوې خو څو شېبې وروسته مې ځان دومره تاند احساس کړ، چې د مريت پـه لاس کې مـې لاس کېښود او ومې ويل، مريت! تا سمه خبره کوله.

زه لا بوډا شوى نه يم، ځکه زما زړه ځوان دى او چې تـه مـې وليدې احساس مـې وکړ، چې د پخوا په شان ستا غوښتونکى يم.

بايد تا تـه ووايم چې زه بـه دې هېڅکله هېره نکړم، پـه دې کلونو کې چې لـه تـالېرې وم هر ځل چې مې توتکۍ ليدلې؛ چې د طبس پر لور الوځي هغوى تـه مې ويـل چې مريت تـه زمـا سلامونه ورسوئ.

مريت وويل، سينوهه! زه هم تل ستا پـه فکر کې وم او هر ځل چې کوم سړى زما پـه څنګ کې ويدېده او خپل لاس يې زما پر لاس اېښود، ما بـه ستا پـه هکله فکر کاوه او غمجنـه بـه شوم.

دا ځکه چې پوهېدم له هېڅ سړي سره ساعت تېري او تفريح هو مره خوند نـه لـري لکـه لـه تا سره.

کله به مې له ځان سره ويل، چې زه دې هېره کړې يم، ځکه چې د افق پـه ښـار کې د فرعـون پـه مانۍ کې ډېرې ښکلې ښځې شته او تا له هغوى سره تفريح کولاى شوه.

ومې ويل مريت! سمه ده چې د فرعون پـه مانۍ کې ډېرې ښکلې ښځې شته، خو تـه زمـا يوازېنۍ ملګرې يې او له طبسه چې وتلى يم هېڅ يوه ښځه مې نه ده ملګرې کړې.

مریت وویل کله چې کاپتا فرصت پیدا کاوه او په میخانې کې کېناست ما او هغه به ستا په هکله خبرې کولې.

کاپتا ستا ښېګڼې بیانولې ویل به یې، ساده زړی سړی یې، که په لېږې پرتو هېوادونو کې هغه له تا سره نه و، او ته یې له خطرو نه وې ژغورلی، نو وژل شوی به وې.

زه د تمساح لکۍ تودوخې ډېر هیجاني او مست کړی وم و مې ویل آه.... زما پخواني او وفاداره نوکر کاپتا چیرته دی چې زه یې په غېږ کې ونیسم، ځکه له دې سره سره چې اوس زما په شان د یوه سړي لپاره د پخواني مریي په غېږ کې نیول غوره کار نه دی خو بیا هم هغه پر ما ګران دی.

مریت وویل، کاپتا د ورځې له پلوه میخانې ته نه راځي، ځکه چې د ورځې له پلوه خپل وخت د غنمو په بازار او هغو میخانو کې تېروي چې د سترو معاملو مرکزونه دي.

اوس که تا ولید حیران به شې، ځکه چې کاپتا دا ښځي هېره کړې چې پخوا یو مریی و.

نن ورته ځان یو حقیقي بادار او شتمن ښکاري.

زه چې د تمساح لکۍ له څښلو وروسته هیجاني شوی وم مریت وویل غواړې ولاړ شو او په ښار کې لږ وګرځو چې باد درباندې ولګېږي او دغه راز وګورې چې په طبس کې ستا په نه شتون کې کوم بدلونونه راغلي دي.

ومې ویل هو... چمتو یم چې له تا سره چکر ته ولاړ شم، ځکه چې له تا سره چکر وهل ډېر خوند لري.

مریت ولاړه او مخ یې سینګار کړ، د زرو غاړکۍ یې هم په غاړه کړه چې راستنه شوه ډېره ښکلې شوې وه، روح ښښوونکي عطر یې پر ځان شیندلي ول او دا داسې عطر دي، چې یوازې په طبس کې پیدا کېږي.

روان تخت یې راوست زه او مریت پکې سپاره او روان شو، چې د آمون پخواني معبد ته نژدې د قوچانو واټ ته ورسېدو ما ولیدل، چې د مریت د خبرو اپوته طبس هېڅ بدل شوی نه دی.

د پخواني جنګ ورانۍ، همغه راز ځرګندې دي او چا نه دي جوړې کړې.

یوازې په څو برخو کې د پخوانیو نړېدلو ودانیو پر ځای نوې ودانۍ جوړېږي.

کله چې د آمون پخواني معبد ته ورسېدو، په حیرانۍ سره مې ولیدل چې کارغان لا هم هلته الوت کوي، ځکه چې سپېرو مرغانو له کورني جنګه وروسته لا کډه نه وه کړې او

عادت يې کړی و ، چې د پخواني معبد له پاسه والوزي.
زه او مريت له روان تخته راکوز شوو ، ومو ليدل چې په معبد کې ګڼه ګونه نشته، يوازې، د دارالحيات په مخکې او د مړګ د کور په مخکې يو څو تنه ښوري.
زه پوهېدم چې دارالحيات او د مرګ کور لا هم د آمون په پخواني معبد کې دي ، ځکه چې بل ځای ته د دغو دواړو موسسو انتقال ډېر سخت دی او لګښت يې هم ډېر وي.
مريت راته وويل، له دې سره سره چې دارالحيات شته، خو فرعون ورته پام نه کوي، ځکه يې تېر برم نه دی پاتې.
ډېر ډاکټران چې تل به په دارالحيات کې ول، له هغه ځايه تللي او په ښار کې يې کورونه جوړ کړي دي.
د آمون ستر باغونه د بې پامۍ له امله وچ شوي ول، او ځينې پخوانۍ ونې يې چپه کړې وې.
کله چې ما وليدل، دغه معبد چې يو وخت د نړۍ ستر علمي مرکز و ، په دې ډول دی، نو ډېر خواشينی شوم.
ما د ځوانۍ عمر په دې معبد يانې دارالحيات کې تېر کړی و ، او تصور کوم هر څوک هغه ځای چې ځواني يې پکې تېره کړې وي، په بوډا توب کې وران وويني خواشينی کېږي.
مجسمې چپه شوې او پر دېوالونو د آمون نوم پاک شوی و.
کله چې دارالحيات ته نژدې شوم ، هلته داسې کسان ول چې په غوسې يې ماته کتل.
مريت وويل سينوهه ! دغه د حيات صليب له غاړې لېرې کړه او يا يې پټ کړه، ځکه کله چې دغه کسان ستا صليب ګوري فکر کوي چې ته د آتون پلوی يې او ممکنه ده په ډېرو دې وولي او يا دې په چړې ووژني.
مريت سمه خبره کوله، خلک زما د صليب په ليدو غوسه شوي ول، په تېره بيا هغه کاهن چې د پخوانيو کاهنانو په شان يې سپينې جامې اغوستې وې، سر يې خرېيلی او په تېلو غوړ کړی و او هلته ګرځېد.
فرعون بنديز لګولی و ، چې د پخواني خدای کاهنان بايد سپينې جامې وانه غوندي، سرونه ونه خريي او تيل پرې ونه موښي.
دغه راز دوی د آمون معبد ته هم نه شي تللی، خو دغه کاهن په ستايوونکي جرائت د پخواني خدای د کاهنانو په جامو کې د خلکو په منځ کې ګرځېد.

کله چې به د خلکو په منځ کې تېرېده، خلکو به ورته لاره پرانستله او رکوع به یې ورته کوله

زه متوجه شوم چې که دغه کاهن زما صلیب وګوري او اشاره وکړي چې خلک ما ووژني، نو بې له ځنډه به زما وینه وبهوي، ان که په دې هم پوه شي چې زه د فرعون خاص ډاکټر یم.

ځکه چې په مصر کې یوازې یو کس سپېڅلی او د خدای زوی دی، هغه هم فرعون دی.

له همدې امله خلک هېڅکله یو فرعون نه وژني، خو شا و خوا کسان عادي خلک ورته ښکاري او وژل یې هم ورته اهمیت نه لري.

ما خپل لاس د حیات پر صلیب چې په غاړه مې و، کېښود چې خلک یې ونه ګوري او له مریت سره یو ځای له دارالحیات څخه لېرې شوم.

د معبد دېوال ته چې ور نژدې شوم، هلته مې ولیدل چې یو کیسه خوان سړی نکل کوي او یو شمېر کسان پرې راټول دي چې ځیني ناست او ځیني ولاړ ول.

څوک چې نه وېرېدل چې جامې او لنګ یې چټل نه شي پرلتی یې وهلې وې، پر ځمکه ناست ول او د کیسه خوان نکل یې اورېده او چا چې نه غوښتل جامې یې خیرنې شي ولاړ ول، د هغه نکل یې اورېد.

د نکل ویونکي کیسه ما ته نوې ښکاره شوه، له دې سره سره چې په ماشومتوب کې مور راته د مصر ټولې کیسې کړې وې، خو ما تر دې ورځې پورې دغه کیسه نه وه اورېدلې.

دغه کیسه په لنډه توګه داسې وه: پخوا یوه توزپوستې کوډګره چې له (ست) څخه یې الهام اخیست (په پخواني مصر کې ست په ورپسې پېړیو کې د شیطان معادل و) له خپلې خېټې یو جعلي فرعون وزېږاوه او دغه فرعون له دې وروسته چې پاچا شو، د ست پیروي یې پیل کړه.

ست چې به هر څه ورته ویل هغه به یې ترسره کول او د (ست) د حکم پر اساس یې د مصر د خدای مجسمې رنګې کړې.

بیا خدای د مصر په ملت عذاب نازل کړ، د مصر په کروندو کې غنم نه شنه کېدل او که به شنه شول نو خراب به ول.

د نیل سیند مستو څپو ددې پر ځای چې پټې ښیراز کړي، د خلکو کورونه به یې وړل او هر کال به ملخانو د مصر د کروندو غله دانه خوړله او په لښتیو کې به اوبو د وینو رنګ

پیداکاوه.

له دې سره چې فرعون د(ست) د حکم پر اساس د مصر خدای را پرځولی و، د مصر خلکو خپله عقیده نه وه بایللې او په پخواني خدای یې عقیده درلوده.

له همدې امله د فرعون خدای په خوارۍ او بدبختۍ کې مړ شو او هغه تورپوستې ښځه هم مړه شوه چې د غه جعلي فرعون یې زېږولی و چې له دې سره پخوانی خدای بیرته راستون شو.

ده د فرعون او دهغه د پیروانو ټولې کرونديې، سره او سپین زر پر خپلو هغو پیروانو وو یشل چې هغه ته وفادار پاتې ول.

دغه کیسه ډېره خوږه وه، کله چې خلک پوه شول پخوانی خدای راستون شو خپلو پیروانو ته یې انعام ورکړ، نو داسې خوشحاله شول چې ټوپونه یې وهل او نارې سورې یې پیل کړې.

کیسه ویونکي ته یې د مسو هومره حلقې ورکړې چې هغه مجبور شو خپلې کړی په یو ټوکر کې تاو کړي او له ځان سره یې یوسي.

کله چې خلک تیت و پرک شول موږ هم نیت وکړ، چې ستانه شو.

ما مریت ته وویل دغه کیسه ډېره په زړه پورې وه، خو عجیبه داده چې له اوسنیو حالاتو سره برابره ده.

زه حیران یم، چې دغه کیسه ویونکي څرنګه جرئت وکړ چې دغه کیسه ووایي.

مریت وویل دغه د دروغو نکل نه دی او نه یې دغه کیسه له خپلې خېټې ویلې، بلکې د آمون د پخواني معبد کاهنانو په هغو کتابونو کې موندلې، چې له ننه کابو زر کاله مخکې لیکل شوي دي.

که د فرعون مامورین وغواړي، چې د هغه مخه ونیسي، نو کیسه ویونکی به ورته ووایي چې دغه کیسه په کتابونو کې لیکل شوې حقیقت لري او هېڅوک هغه د درواغو ویلو په جرم نه شي نیولی.

ومې ویل، زه هورم هب پېژنم، چې په مصر کې د نظم د ساتلو د مامورینو مشر دی او پوهېږم چې هغه ډېر سخت سړی دی او په خدایانو هم عقیده نه لري، خو د فرعون امر په سمه توګه اجرا کوي. مریت وویل، هورم هب چې هر څومره سخت ګیره وي، د یو کیسه ویونکي مخه نه شي نیولای، مګر دا چې کیسه ویونکی درواغ ووایي او اوس خو دغه

کيسه ويوونکي درواغ نه دي ويلي، هرڅه چې يې ويلي له کتابه يې ويلي دي
خو خلک يوازې دغه کيسې نه اوري بلکې د دغو غيب ويلو په هکله هم يو بل ته کيسې کوي.
که ته د طبس په واټونو کې وګرځې، نو و به وينې چې کله دوه ښاريان له يوه بله سره خبرې کوي، نو هم دغه غيبي خبرې کوي.
د مصر حالات هم دغه غيب ويل تايدوي، ځکه چې د غنمو بيه لوړېږي، د ماليات و د ترلاسه کولو مامورين لا له مخکې ډېر خلک ځوروي او په ډېرو سيمو کې پر کروندو لعنت شوی دی، خراب غنم ترې شنه کېږي، کروندګر نه دغه غنم خوړلای شي او نه يې خرڅولای شي.
په همدې خبرو خبرو کې، زه او مريت د تمساح لکۍ ميخانې ته ورسېدو او ميخانې ته له رسېدو نيم ساعت نه و، تېر شوی چې څراغونه يې ولګول او د څراغونو له روښانه کولو وروسته کاپتا هم ميخانې ته ننوت.
خو کاپتا چاغ شوی و، کله چې يې غوښتل ميخانې ته ننوځي په يوې اوږې له دروازې ننوت، ځکه چې د هغه لويه خېټه د ميخانې په دروازې کې نه ځايېدله.
مخ يې د سپوږمۍ په شان ګرد ښکارېده، پخپلې ړندې سترګې يې يوه ټوټه سره زر او پر سر يې شنه ساختګي ويښتان ايښي ول، په غاړه او لاسونو کې يې غاړکۍ او بنګړي ول.
کاپتا د طبس د خانانو او شتمنو په شان جامې اغوستې وې، د هغه چا په شان يې ګامونه اخيستل چې پخپل لوړاوي يې باور وي.
خو کله چې يې زه وليدم له خوشحالۍ يې چيغې کړې او ويې ويل، بختوره ده، دغه ورځ چې زه پکې خپل ارباب وينم
بيا يې زړه غوښتل چې رکوع وکړي، خو له دې کبله چې خېټه يې لويه وه، لاسونه يې زنګونو ته نه رسېدل، ددې پرځای پر ځمکه کېناست، زما پښې يې ونيولې او ويې ژړل.
ما له ځمکې را پورته کړ او په غېږ کې مې ونيو، خپله پوزه مې د هغه پر وليو او مخ کېښودله او هغه هم خپله پوزه زما پر مخ او وليو کېښودله، د ميخانې مشتريانو ته يې په خطاب کې وويل، نن د خوشحالۍ ورځ ده، له همدې امله هر مشتري ته چې اوس په ميخانه کې دی، يو جام شراب وړيا ورکوم، خو د دويم جام بايد بيه ورکړي.

وروسته کاپتا له ځان سره یوې خصوصي کوټې ته بوتلم. مریت ته یې ویل، ته زما له بادار سره اوسه، ځکه چې پر هغه ګرانه یې او که له ترې لېرې شې خپه به شي.

مریت زما او کاپتا تر څنګ کېناسته.

کاپتا امر وکړ چې موږ ته سرې کړې هیلې راوړي او له کلونو وروسته ما د طبس سره کړې هیلۍ وخوړه چې په هېڅ ځای کې داسې خوندوره ډوډۍ نه پخېږي.

له ډوډۍ وروسته، کاپتا وویل، زما ګرانه باداره! زه پوهېږم چې ټول هغه لیکونه او حسابونه چې په دې څو کلونو کې مې تا ته درلېږلي د افق په ښار کې تا ته رسېدلي دي.

ته د خپلو کارونو په څرنګوالي خبر یې او اړتیا نشته، چې زه د کارونو پر څرنګوالي او پخوانیو حسابونو باندې درسره خبرې وکړم، خو هیله کوم اجازه راکړې د نن شپې، دغه ډوډۍ او هغه شراب چې مشتریانو ته مې ورکړي ستا په کاته کې ولیکم.

ما د مالیاتو په ورکولو کې، ستا لپاره بچت کړی او د مالیاتو د ترلاسه کولو مامورین مې غولولي او د نن شپې لګښت ستا لپاره اهمیت نه لري.

زه پوهېدم چې کاپتا په فطري توګه کنجوس دی، نو څه مې ونه ویل.

کاپتا وویل، ایا زما له لیکونو او په تېره بیا زما له حساب کتابه چې تا ته در رسېدل خوشحاله شوې؟

ومې ویل، کاپتا! ما ستا لیکونه او حساب، کتاب ترلاسه کړی، خو پر حسابونو مې سر خلاص نه شو، ځکه چې دومره شمېرنې یې درلودې چې سرې ګنګس کوي او ما چې به حسابونو ته ځغلنده کتنه هم کوله سربداله کېدم.

کاپتا چې شراب یې څښلي ول، وخندل، مریت هم ورسره په خندا شوه، خو کله چې کاپتا خندا بس کړه ویې ویل، زما ګرانه باداره! زه خوشحاله شوم چې ګورم ته د پخوا په شان ساده یې او پر جدي او اساسي کارونو دې سر نه خلاصېږي.

له دې سره سره چې نه غواړم تا له سرکوزي سره پرتله کړم، خو لا هم د هغه سر کوزي په شان یې چې د سرو زرو غاړکۍ یې مخکې کېږدي خو څنګه چې سرکوزی نه پوهېږي په هغې غاړکۍ څه وکړي؟ ته هم له دې غاړکۍ څخه د استفادې په چل نه پوهېږې.

زما ګرانه باداره! ته باید د مصر له خدایانو راضي شې او د هغوی شکر پر ځای کړې چې زما په شان یو نوکر یې در په برخه کړ، ځکه چې که یو غل نوکر در په برخه شوی وای نو په ډېره لنډه موده کې به یې په تورو خاورو کېنولی وې، په داسې حال کې چې ما شتمن

کړی یې.

ومې ویل کاپتا ! فکر کوم اړتیا نشته چې د مصر له خدایانو راضي واوسم، ځکه دا زه وم چې ته مې انتخاب کړې.

ایا په یاد دې دي، چې کله مې رانیولې، ته یې د مریيانو د پلورلو په چوک کې په یوې ستنې پورې تړلی وې او تا له هغه ځایه پر تېرېدونکو ښځو ملنډې وهلې.

له هغوی سره دې بدې توکې کولې، له خلکو دې د اوربشو اوبه غوښتې، خو چا نه درکولې.

له دې کبله چې یوه سترګه دې درلوده او ډنګر وې، هېچا تا ته توجه نه کوله، چې ودې پېري، خو کله چې زه د مریيانو د پېرلو بازار ته ننوتم ته مې رانیولې، ځکه چې په هغه وخت کې یو ځوان او بېوزله ډاکټر وم او ګران بیه مریی مې نه شو اخیستلای.

کاپتا چې زما خبرې واورېدې، خپه شو څېره یې ګونځې شوه، ویې ویل، زما باداره ښه نه ده چې پخوانۍ خاطرې در په زړه کړې، ځکه چې دغه خاطرې ما خپه کوي، زما حیثیت ته تاوان رسوي او بله ګټه نه لري.

خو ستا د شتمنۍ په هکله باید ووایم چې د مالیاتو د ترلاسه کولو د مامورینو له مزاحمتونو سره سره ماشتمن کړی یې او دوه سریاني کاتبان مې ګمارلي، چې د مالیې لپاره ستا شتمنۍ حساب کړي.

سریاني مامورین مې له دې کبله ګمارلي، چې لومړی خو مالیه پر هغوی ډېر باور لري او دویمه خبره دا ده چې د یوه سریاني کاتب پر حساب د مالیاتو د مامورینو سر نه خلاصېږي او حتي (ست) هم د سریاني کاتبانو په حسابونو نه پوهېږي، ان که ستا د پخواني ملګري هورم هب تول ملګري هم له هغوی سره مرسته وکړي.

رښتیا اوس چې د هورم هب خبره یاده شوه، باید ووایم چې ستا له سپارښتنې سره سم مې یوه اندازه سره او سپین هغه ته پور ورکړل او بیا هم ستا د سپارښتنې پر اساس مې ددغه پور د ترلاسه کولو لپاره تېنګار ونه کړ، ځکه چې پوهېدم که تېنګار وکړم له هغه سره ستا ملګرتیا خرابېږي.

پوهېږم ته داسې سړی یې چې پخپلې شتمنۍ نه یې خبر، خو باید درته ووایم، چې زما د خدماتو او زحمتونو له امله ته اوس د مصر یو لوی شتمن یې او ستا شمتني سره او سپین زر نه دي، بلکې حقیقي شتمني لري.

سره او سپین د وخت په تېرېدا سره ممکنه ده، خپل ارزښت له لاسه ورکړي، خو ځمکه ،مالونه، کور، بېړۍ او مریان هېڅکله خپل ارزښت نه بایلي.

څومره چې د سرو او سپینو ارزښت کمېږي، د ځمکو ،کورونو بېړیو او مریانو ارزښت هومره زیاتېږي.

زه پوهېږم چې ته د خپلې شتمنۍ په اندازې نه یې خبر، ځکه چې ما ستا د کروندو او کورونو یوه برخه د خپلو نوکرانو او کاتبانو په نوم کړې ده او لامل یې دا دی چې د مالیاتو له مامورینو ستا د شمتنۍ یوه برخه پټه پاتې شي.

هغه مالیات چې فرعون لګولي دي، پر شتمنو فشار زیاتوي، بېوزلي باید په پینځو برخو کې یوه برخه د مالیې په توګه ورکړي او شتمن باید په دریو کې یوه برخه شتمنې د مالیې په توګه ورکړي.

که دچا محصول ډېر زیات وي نیمایي یې ترې اخلي.

د سوریې له لاسه تللو او دغو درنو مالیاتو، مصر بېوزله کړی، خو مصر چې څومره بېوزله شي، شتمن نور هم بډایه کېږي او بېوزلي نور هم بېوزله کېږي او دا د هغو هېوادونو ځانګړتیا ده، چې له بېوزلۍ سره مخامخېږي.

خو ته سینوهه ! اوس په شتمنو کې راځې او ورځ په ورځ دې شتمني زیاتېږي، باید درته ووایم، چې ددې شتمنۍ یوه برخه د غنمو د احتکار له امله ستا په برخه شوې ده.

کاپتا ،یو غوړپ شراب وڅښل او ویې ویل:

زما باداره ! په هغو هېوادونو کې چې د ورانۍ پر لور ځي، نو ځینې کروندې پکې شاړې پاتې کېږي، همدغه ډول اوس په مصر کې د کروندو یوه برخه شاړه پاتې ده، نو د غنمو بیه لوړېږي. زه ډېر ژر په دې خبرې پوه شوم او متوجه شوم چې په غنمو کې هېڅکله څوک تاوان نه کوي، ځکه چې هر کال د تېر هغه په پرتله ګرانېږي.

له همدې امله د غنمو په اخیستو پسې شوم او له هر کال وروسته مې غنم په لوړه بیه خرڅول

اوس پوه شوی یم، چې په بل کال کې د غنمو خرڅول تېروتنه ده، نو باید غنم احتکار کړو، ځکه چې هره میاشت د تېرې هغې په پرتله د غنمو بیه لوړېږي.

څوک چې نن خپل غنم خرڅوي که هر څومره یې ګران خرڅ کړي، بیا به هم خپه وي، ځکه چې سبا به تر نن هم غنم ډېر ګران وي.

له همدې امله چې هرڅومره کېدای شي، زه غنم اخلم او اوس ستا د پیوګانې له غلې ډکې دي، خو هغه به خرڅې نه کړم، ځکه چې پوهېږم بیا به هم د غنمو بیه لوړه شي.

کاپتا زما او مریت لپاره شراب واچول او ویې ویل، زه د فرعون ډېره مننه کوم او له خدایانو غواړم، چې هغه ته سل ځله، سل کاله عمر ورکړي.

ځکه څومره چې فرعون ډېر عمر وکړي، خلک نور هم بېوزله کېږي او څومره چې خلک بېوزله شي هومره به مجبور شي، چې خپلې ښځې، ځمکې، زامن او نجونې د څو پیمانو غنمو لپاره خرڅ کړي.

په دې ډول به موږ په وړیا توګه د خلکو ځمکې ونیسو او د هغوی زامن، لوڼې او ښځې به وینځې او مریبان کړو.

کاپتا چې دې خبرو خوند ورکاوه، وویل، تل دې وي فرعون او د هغه خدای آتون، چې شتمن میاشت په میاشت شتمن کوي او بېوزله له یوه فصله بل ته نور هم بېوزله کوي.

موږ ته وخت راکوي، چې د مصر ټولې ځمکې، باغونه او کورونه واخلو، نارینه او ښځې خپل مریان او وینځې کړو.

اې باداره! ته دغه تصور ونه کړې، چې زه به نن سبا له تا څخه د پخوا په پرتله ډېره غلا کوم.

له تا دغه خبره نه پټوم چې کله کله زه له دې کبله خواشینی کېږم چې ولې دومره صادق یم او که ما ښځه او اولادونه درلودای، نو حتماً به یې ملامتولم چې ولې ستا له شتمنۍ څخه ډېره غلا نه کوم.

ځکه چې اې لویه باداره! اواې ستر سینوهه! لا تراوسه د مصر خدایانو ستا په شان بل ساده بادرا نه دی پیدا کړی، خدایانو ته ددې لپاره پیدا کړی یې چې انسان در څخه غلا وکړي.

ما او مریت د کاپتا خبرو ته خندل او کاپتا وویل، زما باداره! هغه شتمني چې ته یې نن لرې له مالیاتو او ځینو متفرقه خرڅونو پرته سوچه ګټه لرې.

متفرقه او تیت و پرک خرڅې هغه رشوتونه دي، چې ما د مالیاتو د ترلاسه کولو مامورینو ته ورکړي دي، چې له تا سره مرسته وکړي ځینې نور تیت و پرک لګښتونه هغه شراب دي، چې ما د مالیاتو د ترلاسه کولو په مامورینو څښلي دي، ځکه کله چې غواړې د مصري کاتبینو حسابونه وګورې، نو سرونه یې ور ګرم کړه چې سترګې یې حسابونه ښه

ونه کتلای شي.

کاپتا خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

ته نه پوهېږې چې د مالیاتو دغه مامورین، که ډېر شراب هم و خوري بیا هم نه نشه کېږي او سترګې یې نه تیاره کېږي.

په تیت و پرک لګښت کې هغه غنم هم راځي، چې زه یې بېوزلو او هغو کسانو ته ورکوم چې پوهېږم، هر چېرته چې ځي نو په چاپسې خبرې کوي

ددې لپاره چې ستا صفت او ستاینه وکړي او ووایي، چې سینوهه خپل ټول غنم ولس ته ببښي، دغه کار اړین دی او دا د شتمن کېدا یو چل دی.

یو شتمن هر کال، سلګونو کورنی له منځه وړي او د هغوی ځمکې نیسي، نارینه او ښځې مریيان او وینځې جوړوي، د غنمو او نورو غلو، دا نو په احتکار سره بیې لوړوي او سلګونه کسان له لوږې وژني او په بدل کې یې خپلې کوټې له سرو او سپینو ډکوي.

دوی د دې ټولې ګټې په بدل کې یو موټی غنم یا هم لږ سره او سپین زر څو تنو بېوزلو ته ورکړي، او هغوی چې هر ځای ته ځي بیا نو وایي چې دغه شتمن خپل هرڅه بېوزلو ته ورکوي، شپه او ورځ د بېوزلو د سوکالۍ لپاره کار و زیار کوي

ددې چل ګټه په دې کې ده، چې لومړی بېوزلي یا هغه کسان چې زما له لاسه بېوزله، مریان او وینځې شوي او شتمن کسان دواړه له تاسره رخه او بخیلي کوي چې ولې شتمن شوی یې؟

دویمه دا چې کله د مصر حالت خراب شي او د آتون خدای له منځه ولاړ شي، نو څوک دا لټه نه کوي، چې ستا د غنمو او غلو ګودامونه وسوځوي او ستا کورونه وران کړي، یا تا ووژني، ځکه چې خلک تا یو زړه سواند او مهربان کس بولي.

له دې وروسته چې کاپتا خپلې خبرې خلاصې کړې، لاسونه یې پر ټټر کېښودل، داسې ښکارېدل چې زما د ستاینې په تمه دی.

ما وویل کاپتا ! نو په دې ډول زه پخپلو ګودامونو کې پریمانه غنم لرم.

کاپتا وویل، هو ! ته نن په مصر کې تر ټولو ډېر غنم لرې.

ومې ویل کاپتا ! اوس د غنمو د کرلو وخت دی؟

کاپتا وویل، هو ! له همدې امله غنم ډېر لږ پیدا کېږي، ته باید ډېر ژر هغو کروندګرو ته ولاړ شې، چې د پخواني خدای آمون، پر ځمکو کې دهقاني کوي او زما غنم پر هغو

خلکو وو ېشي چې تخم ته اړتيا لري، ځکه چې هغوی د کرلو لپاره غنم نه لري او د هغوی غنم مرض وهلي دي.

ما پخپله وليدل چې د هغوی غنم، د ويني په رنګ سرې تاپې لري.

کاپتا وويل، ګران باداره! ته خپل فکر په دې ناسمو پلانونو مه ستړی کوه، پرېږده، چې زه ستا په ځای فکر او فيصله وکړم.

په سرکې چې کله کروندګرو د آمون په پتيو کې کر پيل کړ، ګودام لرونکو، ورته د کر او خوراک دواړو لپاره د نويو حاصلاتو تر ټولو پورې غنم پور ورکول.

داسې تاکل شوې وه چې د هرې پيمانې غنمو په بدل کې د فصل د اخيستو په وخت دوه پيمانې غنم بيرته وسپاري.

خو له دې کبله چې کروندګرو د دغه پور د ورکولو وس نه درلود پور ورکونکي مجبور شول د هغو مالونه ترې واخلي او کله چې به کروندګرو مال او څاروي نه درلودل هر څه به يې له لاسه ورکړل.

خو نن سبا غنم دومره ګران شوي، چې که ته د فصل د اخيستو او د درمند د ټولولو پر وخت د غنمو د پور پر ځای د هغوی څاروي هم ترې واخلې، نو ډېره ګټه به دې نه وي کړي.

ځکه غنم ګران شوي او که يې په بازارکې خرڅ کړې تر هغه به ډېره ګټه وکړې، چې څاروي ترې غضب کړې.

پر دې سربېره د غنمو د کرلو لپاره کروندګرو ته د تخم لپاره په پور د غنمو ورکول د سوداګرۍ له پلوه ناسم کار دی، ځکه چې زموږ د کار او مسلک غوښتنه دا ده، چې سږ کال غنم ونه کرل شي.

له دې سره به په بازارونو کې د غنمو بيه لوړه شي، نو موږ بايد کروندګرو ته غنم ورنه کړو، چې د تخم په ځای يې وکاروي او ويې کري.

ځکه چې لومړی خو هغوی د فصل د اخيستو پر وخت او د درمند د ټولولو پر وخت زموږ پور نه شي راکولای او موږ يې بايد څاروي ترې واخلو چې دا چاره زموږ په ګټه نه ده.

دويمه دا چې د هوښيارۍ خبره دا ده، چې که ځمکه ونه کرل شي، ښه ده، ځکه چې د غنمو بيه به زياته شي.

دريمه خبره دا ده چې ګودام داران به له موږ سره دښمني پيل کړي چې ولې مو کروندګرو ته په پور غنم ورکړي دي؟

د کاپتا په خوب کې مې وويل، هغه څه چې زه يې درته وايم ويې منه، زما غنم پر کروندګرو وويشه او هغوی ته ووايه چې دغه غنم د آخناتون او دهغه د خدای آتون په نوم درکوم، ځکه چې فرعون پر ما ګران دی، له همدې امله يې د خدای درناوی کوم.

ما کروندګر وليدل چې هډوکي يې تر پوستکي لاندې داسې ښکارېدل لکه په کانونوکې کارګران، ما وليدل چې د کروندګرو د ښځو سينې، د يوه وچ شوي ژي په شان ځوړندې دي، هغوی خپلو ماشومانو ته شېدې نه شي ورکولای.

ما وليدل چې د هغوی لوی ماشومان هم وږي دي او سترګې يې له ډېرې لوږې، کړاغې راوتلي دي.

له همدې امله بايد ته زما غنم پر کروندګرو وويشې او ورته ووايې چې فرعون او د هغه خدای آتون دغه غنم تاسې ته په پور درکوي، چې ګټه ترې واخلئ او پخپلو ځمکو کې يې وکرئ.

خو زه نه غواړم چې دغه غنم په وړيا توګه پر هغو وويشل شي، ځکه چې تجربې ښودلې، کله چې څوک وړيا يو شی ترلاسه کوي، د هغه په قدر نه پوهېږي او له همدې امله مصري کروندګر د آمون له هغو پېيو او څارويو څخه چې فرعون ورکړي ول ګټه وانه خيسته.

که فرعون په سمه بيه دغه پېي او څاروي ورکړي وای او بيه يې په کيستونو ترې اخيستې وای، نو کروندګر به مجبور شوي وای، چې له ځمکو او څارويو څخه استفاده وکړي او تنبلي ونه کړي.

هغه پور چې ته يې کروندګرو ته ورکوې بايد سود ونه لري او هغوی ته ووايه چې د هرې پيمانې غنمو په بدل کې، د درمندونو په وخت کې بايد يوه پيمانه غنم بيرته راکړي او ته يې وڅاره چې دوی بايد دغه غنم په پېيو کې وکري.

کله چې کاپتا دغه خبرې واورېدې ساندې يې پيل کړې، ګرېوان يې وشکاوه او ويې ويل، زما باداره! ته بيا راغلې او زه دې له بدبختيو سره مخامخ کړم. زه څه ډول د هرې پيمانې غنمو په بدل کې د درمند پر وخت هغه يوه پيمانه غنم بيرته ترلاسه کړم ؟

که زه د هرې پيمانې غنمو په بدل کې همدومره غنم ترلاسه کړم له چا به غلا کوم؟ ځکه چې زه ستا له شيانو غلا نه شم کولای، نو بايد د نورو له شيانو غلا وکړم.

زه نه شم کولای چې د فرعون په نوم او د هغه خدای آتون په نوم کروندګرو ته غنم په پور

ورکړم. ځکه چې آمون به ښېرا راته وکړي.

زه د فرعون او د هغه د مامورينو له وېرې د غه خبرې په ډاګه نه شم کولای، خو له دې کبله چې دلته پردي څوک نشته ځکه د غه ډول خبرې کوم او وايم چې پخواني خدای آمون ډېر قوي دی.

د هغه کاهنان که څه هم ظاهراً قدرت نه لري، خو اوس يې د آتون پر ټولو کروندګرو او کروندو لعنت کړی دی، له همدې امله د آتون کروندګر وږي دي او د هغوی په ځمکو کې مرض وهلي غنم راشنه کېږي.

کله چې کاپتا د غه خبرې کولې ما له ډېرې ګرمۍ، ساختګي وېښتان له سره لېرې کړل او کله چې د کاپتا سترګې زما پر ګنجي سر ولګېدې ويې ويل، اوو زما باداره ! ايا ستا سر هم ګنجی شوی دی؟... ايا غواړې داسې درمل درکړم، چې د سر وېښتان دې بېرته راشنه کړي او تر پخوا هم ښکلي وېښتان ولرې؟

دا تر ټولو ښه درمل دي، چې په مصر کې رامنځته شوي او لا د دارالحيات ډاکټران ترې نه دي خبر.

هر چا چې کارولي ښه نتيجه يې ورکړې، زه يې ستايلی يم، خو يوازې يوه کس شکايت وکړ او ويې ويل، ددغو درملو د استفادې له امله يې پر سر داسې وېښتان راشنه شوي چې، د حيواناتو د وړيو په شان دي او د تورپوستو په شان ګاږګوتي دي.

کاپتا ځکه ګډې وډې خبرې پيل کړې، چې په دې ډول زه خپله فيصله هېره کړم، خو ما پوه کړ، چې پر خپل هوډ کلک ولاړ يم او زما غنم بايد پر کروندګرو ووېشل شي.

کله چې کاپتا متوجه شو، چې زه ټوکې نه کوم ويې ويل، زما باداره ! ايا لېوني سپي داړلی يې، که دې د لړم نيش په بدن کې ننوتی دی چې لېونی شوی يې؟ ستا دغه فيصله به مونږ ډېوالیه کړي او بيا به د يوې نمرې، دوډۍ د تر لاسه کولو لپاره زيار ګالو.

زه هم ستا په شان د ډنګرو کروندګرو په ليدو خپه کېږم، خو زه داسې ځای ته نه ځم، چې دغه ډول کروندګر ووينم چې تر پوستو کې لاندې يې هډوکي ښکاري.

زه که په کوم ځای کې ورسره مخامخ شم مخ ترې اړوم، ځکه انسان چې کله يو شیويني نو اغېزمن کېږي، خو کله چې غمجن شيان او مسلې ونه ګوري نو نه اغېزمن کېږي.

يو شی چې زه يې خپه کړی يم دادی، چې ته وايې زه بايد ولاړ شم او پر کروندګرو غنم ووېشم ، دا ډېر ستړی کوونکی کار دی، ځکه چې د نيل پر غاړه د مصر کروندې، يوې

جبې ته ورته دي.

که زما پښه په خته کې ننوته، پر ځمکه به ولوېږم او یا به د اوبو لګولو په یوه ستر لښتي کې ډوب شم، ځکه چې نن سبا بوډا یم او د پخوا په شان ستوماني نه شم زغملای.

ومې ویل کاپتا ! تا پخوا درواغ ویل او ما تصور وکړ چې اوس شتمن شوی یې او درواغ ویل به دې پرېښي وي.

خو اوس چې ګورم بیا هم د پخوا په شان درواغجن یې.

ته نن سبا تر پخوا ډېر ځوان ښکارې، ځکه چې پخوا دې لاسونه او پښې رېږدېدل او اوس دې لاسونه نه رېږدي.

پخوا به دې سترګه سره شوې وه، خو اوس دې سترګه نه سره کېږي، مګر هغه وخت چې شراب وڅښې.

ته ډېر چاغ شوی یې او زه د یوه ډاکټر په توګه ستا لپاره دا سفر ضروري بولم، ځکه چې ډېره چاغي درته تاوان کوي، پر زړه دې فشار راوړي او ساه دې لنډه لنډه کېږي.

کله که پلې وګرځې، نو ډنګر به شې او زموږ په شان به په چالاکۍ سره پر لاره ځې.

ایا پر زړه دې دي، کله چې د بابل په لارو کې پلي ګرځېدو، ته به څنګه چالاکه روان وې، ایا پر زړه دې دي، چې د لبنان په غرونو کې مو څنګه مسافرت کاوه او ته به څومره ګړندی غرونو ته ورختلې،

که زه د فرعون خاص ډاکټر نه وای، نو حتماً له تا سره به دې سفر کې ملګری کېدم. کروندګرو ته ورتلم او غنم مې پرې وېشل، خو له دې کبله چې د فرعون ځانګړی ډاکټر یم، نو که یې هره ورځ په کار شم له طبس څخه به ځم.

بالاخره کاپتا تسلیم شو او موافقه یې وکړه، چې زما په حکم کار وکړي.

موږ تر نیمې شپې شراب وڅښل، کاپتا د تېرو سفرونو کیسې او خاطرې بیان کړې او کله به یې زه او مریت خندولو.

مریت خپلې سینې لوڅې کړې، چې زه لاس پرې ورکېږدم. کله چې کاپتا ستړی شو او غوښتل یې ولاړ شي ویده شي، نو مریت راته وویل، اجازه به را نه کړې چې د ویدېدا لپاره ستنه شم.

مریت له ما سره منګی نه و، مات کړی (*یانې له قانوني پلوه زما ښځه شوې نه وه، ژباړن*)

خو پر دې شپه یې له ما سره دومره مینه وکړه چې تصور کوم، که بلې هرې ښځې له ما سره

منګی مات کړی وای، نو دومره مينه به يې راسره نه وای کړې.

په دې شپه چې مې کله له مريت څخه پوښتنه وکړه، ايا له ماسره منګی ماتوې؟ هغې ځواب راکړ سينوهه! ته د فرعون ډاکټر يې او زه ستا لياقت نه لرم، ځکه چې زه د يوې ميخانې نوکره يم او ستا خور (ستا مېرمن ژباړن) بايد هغه ښځه وي، چې چا په ميخانې کې د شرابو ورکولو پر وخت نه وي ليدلې.

په بل سهار بايد زه په طبس کې د فرعون مور ته ورغلی وای چې ټول ترې ډار ېږي.

تر دې وړاندې چې د هغې ماڼۍ ته ورننوځم، بېرې ته ستون شوم چې د کتان جامې واغوندم او بيا په غاړه کې د سرو زرو طوق او د حيات صليب ځوړند کړم.

کله چې د جامو د بدلولو په حال کې وم، موتي راننوته او ويې ويل اې زما باداره! بختوره ده هغه ورځ چې ته طبس ته راستون شوې، خو بيګا دې د نورو سرپانو په شان چلند وکړ او ددې پر ځای چې کور ته راشې او هغه ډوډۍ چې ما درته پخه کړې وه، وخورې، ميخانې ته ولاړې او له دې ښځې سره دې (هدف يې مريت وه) شپه تېره کړه.

ما پرون ستا تر تللو وروسته مريان وګمارل او کومو چې تنبلي کوله، هغوی مې په متروکو ووهل، چې ژر ژر کور را پاک او ستره شي او ته وکړای شې د شپې مهال کور ته راشې.

خو ته رانه غلې او له همدې امله زه نن په تا پسې راغلم، غواړم، چې تا له ځان سره کور ته بوځم او هغه خواړه وخورې چې ما نن سهار درته برابر کړي دي.

که له دې ښځې څخه لېرې کېدای نه شې نو غوره ده، چې هغه هم له ځانه سره کور ته راولې.

ځکه چې کور ته ددې ښځې راوستل تر دې ډېر ښه دي چې د هغې د کتو لپاره ميخانې ته راشې او کور چې ستا د هوساينې ځای دی، خو ته ترې لېرې پاتې شې.

زه پوهېدم، چې موتي د مريت ښکلا ستايي او هغه د دوستۍ وړ مېرمن بولي، خو عادت يې کړی و، چې د غسې خبرې وکړي او د خپلو خبرو سبک او روده نه شوه بدلولای.

ځکه مې يو سړی ميخانې ته واستاوه، چې مريت ته ووايي ژر را روانه شي او زما کور ته راشي، ځکه چې زما نوکرې موتي طبس ته زما د ستنېدا لپاره په کور کې يو وړوکی جشن جوړ کړی دی.

پر روان تخت سپور شوم او د کور پر لور روان شوم، موتي زما د روان تخت په څنګ

کې روانه وه او ویل یې باداره! ما تصور کاوه، کله چې ته په افق ښار کې پاتې شوې او په دربار کې مېشت شوې ته به ارام سړی شې، خو اوس چې ګورم د پخوا په شان عیاش یې او له ښځو سره دې مینه دومره ډېره شوې، چې طبس ته له ننوتو سره سم میخانې ته راغلې چې ځان ښځو ته ورسوې.

پرون چې له افقه نوی راغلی وې، ما ولیدل چې سترګې دې ځلېدلې او اننګي دې سره او ګرد ول، خو له دې کبله چې یوه شپه له دې ښځې سره وې اننګي دې ننوتې دي او سترګې دې تورې او لویدلې ښکاري.

دغه موضوع ددې ښودنه کوي، چې له ښځو سره لېونی مینه لرې، ځکه کوم سړی چې په اعتدال کې له ښځو سره ساعت تېري کوي، دومره ژر یې څېره نه بدلېږي.

خو ډېر نارینه داسې نه دي او غواړي چې تل له ښځو سره ساعت تېري وکړي.

کور ته تر رسېدو پورې موتي همداسې خبرې کولې او بالاخره مې هغې ته وویل، اې ښځې! ستا دغه خبرې مې پر غوږ داسې لګي لکه د مچانو بنګېدا، غلې شه!

موتي غلې شوه، خو زه پوهېدم، چې خوشحاله ده، ځکه چې بریالی شوه ما کور ته راستون کړي، موتي او مریبانو کور په ګلانو ښایسته کړی و.

موتي د بلاګانو د لېرې کولو لپاره یوه مړه پیشو د ګاونډي د کور په مخ کې واچوله او څو ماشومان یې وګمارل، چې کله زه کور ته ننوځم نو دوی په لوړ غږ ووایي (بختوره ده هغه ورځ چې زما بادار بېرته راستون شوی دی)

موتي ځکه دغه ماشومان ددې کار لپاره وګمارل چې غوښتل یې زه بچیان پیدا کړم او ویل به یې په هغه کور کې، چې ماشوم نه وي تاندوالی پکې نه وي.

خو هغې په یوه شرط زما لپاره د ماشوم هیله کوله، چې کور ته کومه ښځه رانه ولم، ځکه چې موتي زما په کور کې د بلې ښځې د اوسېدو زغم نه درلود.

له دې کبله چې له ښځې پرته ماشوم نه پیدا کېږي نو ما هم ماشوم نه پیدا کاوه او د موتي هیله مې نه شوای پوره کولای.

کله چې ماشومانو په لوړ غږ او خاص ټون څو ځله وویل (بختوره ده هغه ورځ چې زموږ بادار بیرته راستون شوی دی) ما هغوی ته څو کړې مس ورکړل او موتي په شاتو کې پخې کړې څو پتیرې پرې ووېشلې چې ماشومان په خوشحالی سره ولاړل.

له دې وروسته چې زه کور ته ننوتم مریت هم راغله، ما ولیدله چې ځان یې په ګلانو

سینګار کړی دی او په بدن يې عطر وهلي و.

موتي زموږ لپاره خوندور خواړه برابر کړي ول، هغه خواړه چې يوازې په طبس کې پخېږي او ما يې په بل هېڅ ځای کې ساری ونه ليد.

ما او مريت ډوډۍ خوړله، مريت دوه ځله په ډېرې مينې د موتي خواړه وستايل، موتي په زړه کې خوشاله شوه، خو ددې لپاره چې خپله خوشحالي يې پټه کړې وي، ښترګې يې کش کړې او داسې يې وښودله چې د هغې له ستايلو کرکه کوي.

په دې کور کې چې اوس زما او مخکې د يوه مسګر کور و، د ډوډۍ پر وخت د مريت تر څنګ داسې خوشال وم، چې له اوبو جوړ ترازو (ساعت، ژباړن)ته په خطاب کې مې وويل، خپل څاڅکي بند کړه چې دغه شېبې همداسې پاتې شي، ځکه کله چې دغه شېبې له منځه ولاړې شي، ښايي ساری يې بل وخت پيدا نه شي.

زما په کورکې له مريت سره د ډوډۍ خوړل داسې مهمه پېښه نه وه، چې زه يې په اړه ډېرې خبرې وکړم، خو له دې کبله پرې غږېږم، چې انسان د نيکمرغۍ د موندلو لپاره سفرونه کوي او د نړۍ ګوټ ګوټ ته مزل کوي، خو کله چې خپل کور ته ستنېږي، پوهېږي هغه نيکمرغي چې ده ورپسې مزلونه کول د هغه په کور کې ده او چتې يې د خوشبختۍ د لټون لپاره نړۍ کچ کړې ده.

له دې وروسته چې ډو ډۍ وخوړل شوه، ما وليدل، چې زموږ د سيمې يو شمېر ښوزلي او زما ځينې، پخواني ناروغان زموږ په انګړ کې ګرځي.

دوی داسې ښکارېدل چې ځينې پکې شتمن شوي دي، ځکه نوې جامې يې اغوستې وې.

يوه پکې د نورو په استازيتوب وويل، سينوهه! تر هغه وخته چې ته په دې سيمه کې اوسېدلې او په وړيا توګه دې زموږ معالجه کوله، موږ دې په قدر نه پوهېدو.

خو له دې وروسته چې له دې ځايه ولاړې، موږ پوه شوو، چې ستا شتون څومره زموږ په ګټه او موږ ته غنيمت و.

اوس چې راستون شوی يې، ستا په ليدو ډېر خوشحاله يو او دغه ورځ، چې ستا د راستنېدا ورځ ده، بختوره ګڼو.

بيا يې هغه ډالۍ راکړې چې زما لپاره يې راوړې وې.

ددغو ډاليو بيه، ډېره لوړه نه وه، خو له دې کبله چې په مينه يې راکړې، نو زه پرې ډېر

خوشحال شوم.

زه پوه شوم چې زموږ د سیمې ځینې ښوزله نور هم ښوزله شوي دي، ځکه چې د فرعون نوي خدای هغوی ته ځینې ستونزې پیدا کړي وې، چې د هغوی دندې او کار ته یې تاوان رساوه.

یوه ښوزله ماته یوه پیمانه سبوس راوړل، سبوس د هغو کسانو خوراک دی، چې غنم نه شي اخیستلای.

بل ښوزله یو مرغه راته ډالۍ کړ، چې په ډېرې یې ښکار کړی.

یوه سړي څو دانې وچې خرماوې زما مخته کېښودلې او یوه ښوزله ځوان یو ګل راکړ.

په ناروغانو کې مې یو بوډا کاتب هم ولید، چې په ستوني کې یې ججوری درلود (دې ناروغۍ ته اوس ګواتر یا د ججوري ناروغي وایي. ژباړن) او سر یې ټیټ کړی و.

د هغه په لیدو حیران شوم، ځکه چې تمه مې نه کوله هغه دې ژوندی وي او هغه مریې مې هم ولید، چې ما یې ګوتې معالجه کړې وې، هغه خپلې ګوتې را وښودې، پوه شوم چې ښې ښه شوې دي.

یوه نجلۍ چې په ارزانه بیه یې ځان خرڅاوه، هم زما ناروغه وه او ما پخوا د هغې سترګه معالجه کړې وه.

هغې خپلې ټولې ملګرې هم ماته را واستولې، چې زه یې بدني نیمګرتیاوې ورته لېرې کړم.

دغه نجلۍ چې اوس پنډه او غټه ښځه شوې وه، زما پخوانۍ ناروغه وه، چې ما په نورو کې شتمنه لیدله.

ځکه چې دې ښځې د شتو او فلزاتو د ټولولو فکر درلود او هغه فلزات به یې غونډول چې په ارزانه بیه یې، د ځان په پلورلو تر لاسه کول.

دې ښځې څو میخانې اخیستې وې، بیا یې په اجاره ورکړې وې.

په یوې کې یې د ځان لپاره د عطرو د خرڅلاو دوکان جوړ کړی و، او په عین حال کې یې، چې عطر به یې خرڅول، د هغو ښځو ادرسونه به یې هم خپلو مشتریانو ته ورکول چې ځانونه ارزانه خرڅوي.

ما د ټولو ډالۍ په ډېرې خوشحالۍ ومنلې او له دې کبله، چې په دې ورځ زما کور ته ځینې راغلي ښوزله ناروغانو معالجې ته اړتیا درلوده، ما هم د کتان جامې وایستلې او د

هغو معالجه مې پیل کړه.

مریت هم خپلې جا مې وایستلې او د ناروغانو په معالجه کې یې مرسته راسره وکړه.

د ناروغانو په تېپونو به یې پټۍ لګولې، زما چاړه به یې پاکوله او په اور کې به یې اېښوده او یا به یې د هغو کسانو په رګونو کې ترياک پېچکاري کول، چې د غاښ درد یې درلود، چې د غاښ ایستلو پر وخت د درد احساس ونه کړي.

زه متوجه شوم چې زما ناروغان حتې مېرمنې، له دې امله ډېرې خوشحالې وې، چې مریت له ما سره مرسته کوي، ځکه چې مریت ډېر ښکلی اندام درلود، چې هېڅ ډول جامو د هغې د اندام ښکلا نه شوه پټولای.

کله چې د ناروغانو په معالجې بوخت شوم، ناڅاپه مې ځان هماغه سینوهه ولید چې پخوا یې ډېر ناروغانو ته هغو د بېوزلو معالجه یې کوله.

له دې کبله چې تر اوسه د مقام، شتمنۍ او په دربار کې د پاتې کېدا له امله فاسد شوی نه وم، نو ځان مې ډېر نېکمرغه احساساوه.

او له دې امله چې ښکلې مریت هم د ناروغانو په معالجه کې له ما سره مرسته کوله نور مې هم ځان نېکمرغه احساساوه.

بیا به مې په زړه کې ترازو (د هغه وخت د اوبو ساعت ته یې ترازو یا مېزان وایه ژباړن) ته ویل اې ترازو! د اوبو بهیر و دروه، ځکه چې اوس ځان نېکمرغه ګڼم او ډارېږم، چې که د نیکمرغۍ دغه شېبې تېرې شي بیر ته به راستنې نه شي.

کله چې وروستی ناروغ معالجه شو او زما له کوره ولاړ، پوه شوم چې لمر لوېدو، ته نژدې کېږي، خو زه لا د فرعون د مور کور ته نه وم تللی.

مریت چې پوه شوه زه باید د فرعون د مور کور ته ولاړ شم او به یې راوړې، ما ځان ژر ژر ووينځه، دې راسره مرسته وکړه چې جامې واغوندم او د سرو زرو غاړګۍ او د حیات صلیب یې را پر غاړه کړ.

کله چې مې غوښتل له کوره را ووځم ویې ویل، سینوهه! د فرعون د مور په کور کې ډېر مه ایسارېږه! هڅه وکړه ژر بیر ته راشې، ځکه چې د کور پوزي ستا په تمه دي.

څلور دېرشم څپرکی

د فرعون مور

د فرعون د مور ماڼۍ ته د تللو لپاره باید په بېړۍ کې سپور شوی وای.
په بېړۍ کې سپور شوم او پاروو هونکو ته مې وویل همت وکړئ ژر ژر پارو ووهئ او که د ستورو تر روښانه کېدا پورې ما د فرعون د مور ماڼۍ ته بوځئ تاسې ته به زر درکړم.
پارو وهونکو د اسې په بېړه پارو واهه چې د بېړۍ څوکې د اوبو د څيرلو پر وخت، د بېړۍ دواړو غاړو ته د بوالونه جوړ کړي ول.
په اسمان کې دوه ستوري لا نه و، روښانه شوي، چې زه د فرعون د مور کور ته ورسېدم.
تر دې وړاندې چې ووايم د فرعون مور خپل حضور ته څه ډول ومنلم او څه يې وويل؟
لومړی باید یادونه وکړم چې هغه دوه ځله له طبسه د افق ښار ته راغله، خو په افق کې پاتې نه شوه ځکه هغې له دغه ښاره کرکه کوله او د نوي خدای په اړه يې د خپل زوی کړنلاره نه وه خوښه.
دې به ویل، نوي خدای په مصر کې د ژوند نظم ګډوډ کړی او خلک يې خپه کړي دي.
خو پر فرعون مور ډېر ګرانه وه، له همدې امله يې هېڅکله له مور سره جنجال نه کاوه.
دود او دستور داد ی چې کله یو هلک واده نه وي کړی نو د مور پر وړاندې تر هغې ورځې ړوند او کوڼ وي، چې واده وکړي او ښځه يې غوږونه او سترګې ورخلاصې کړي.
خو د فرعون ښځه نفر تي تي چې د آتون د سترکاهن آمي لور وه د پلار په خاطر يې د فرعون د سترګو او غوږونو د خلاصولو فکر نه کاوه، ځکه چې پوهېده ستر کاهن له (تي ئي) سره د ورور او خور اړیکي درلودل او هر ځل ستر کاهن د دې لپاره د فرعون د مور ماڼۍ ته ورته چې له (تي ئي) سره مجلس وکړي.
پر دې خبرې ټول، ان د سلطنتي ماڼۍ (هغه ماڼۍ چې د فرعون مور پکې او سید) ساتونکي لا پوهېدل.

خو یوازې په افق ښار کې فرعون له دې موضوع بې خبره و، حتی ځینو ویل، چې د تي ئي وروستی لور هم د فرعون نه بلکې د ستر کاهن لور ده.

زه تصور کوم، له هغې ورځې چې مصر او فرعون رامنځته شوي، له استثنايي مواردو پرته د فرعون مور دغه ډول کارونه کړي او له دې دود سره سم یې بچیان پیدا شوي، خو څوک یې پرې نه خبرول.

ځکه په هر پړاو کې، هغه کسان چې له دې موضوع خبر دي هغوی یې په پاپیروس نه لیکي چې راتلونکي خلک ترې خبرشي، بلکې دغه راز ساتي.

کله چې دوی مړه شول د هغوی راز هم له منځه ځي.

په هر پړاو په تېره بیا په دې پړاو کې، همداسې دي چې د فرعون د مور د ژوند حالات نه لیکل کېږي، چې خلک او راتلونکي نسلونه ترې خبر شي.

په هر پړاو کې هغه کسان چې د فرعون په دربار کې ژوند کوي پر دې خبره پوه او زه هم د فرعون د ډاکټر په توګه له دې موضوع خبر یم.

له هغې ورځې چې اخناتون د مصر پر خلکو نوی خدای تپلی د پخواني خدای کاهنان وايي، چې حتي اخناتون د خپل پلار زوی نه دی او تي ئي د اخناتون د پلار په ژوند کې هم په همدې دود ژوند کاوه او اخناتون هم په همدې ډول پیدا شوی دی.

زه جرئت نه کوم چې دغه اوازه تاید کړم، باور لرم چې فرعون د خدايانو زوی دی، ځکه د مصر پاچاهي هغه نعمت دی، چې خدايان يې فرعون ته ورکوي.

خو باوري یم، چې د پخواني فرعون په ژوند کې په داسې حال کې چې لا د نوي خدای موضوع منځ ته نه وه راغلې، د آمون کاهنانو له فرعون سره دښمني پیل کړه.

هغه مهال هم دا اوازه موجوده وه چې دغه فرعون د خپل پلار زوی نه دی.

په هرحال، کله چې پر دې ورځ د تي ئي سلطنتي ماڼۍ ته ننوتم د فرعون مور زه یوې کوټې ته ور وبللم.

ددې کوټې پر دېوالونو ډېر قفسونه را ځوړند ول او په هر قفس کې مرغان هم تر سترګو کېدل چې ځينو پکې الوت کاوه.

تي ئي له ماشومتوبه د مرغانو له نیولو سره علاقه درلوده، هره ورځ به یې د ونو پر څانګو سرېښناک کنډ موښل او مرغان چې به پرې کېناستل بیا ترې نه شوای پورته کېدای.

دې به پر همدغه ډول نیول او په قفس کې به یې واچول ،اوس هم کله ناکله دغه لوبه کوي.

کله چې زه د تي ئي کوتې ته ننوتم ومې لیدل چې پوزي جوړوي او رنګین نقشونه یې پکې اچولي دي.

ماته یې وویل سینوهه! ولې وځنډېدې؟ایاتا وعده نه وه کړې، چې نن سهار به راځې؟

ما وویل ستا زوی یو لږ دندې راسپالي وې او ویل یې طبس ته له ننوتو سره سم باید هغه تر سره کړې ، بیا زما مور ته ورشه.

که زه نن سهار دلته راغلی وای مجبور به وم چې ستا د زوی ځینې حکمونه وځنډوم او ته پوهېږې چې دغه ځنډ سم نه دی.

تي ئي وویل ، ایا زما زوی معالجه شوی، که د پخوا په شان لېونی دی؟

ما وویل ستا موخه څه ده؟تي ئي وویل، زه فکر کوم چې هغه لا هم لېونی دی، ځکه چې یوازې یو لیونی د آتون په شاو خوا کې داسې شور ماشور کوي او خلک خپه کوي.

بیا یې وپوښتل سینوهه! ته چې سلطنتي کوپړۍ سوری کوونکی یې، ولې د هغه سر نه سوری کوې او دغه لېونتوب نه ترې باسې؟

ماوویل، فرعون ناروغ نه دی، چې سر یې ور سوری کړم.

ددې لپاره چې تي ئي دغه خبرې پرېږدي، ما په افق کې د فرعون د ژوند ، د هغه د لوبو د لوبو ، د هغوی د غرڅو ، د سلطنتي ماڼۍ د سپیو او ددغه ښار په سپیڅلې جهیل کې د بېړۍ ځغلولو او نورو شیانو په هکله خبرې وکړې.

په دې ډول تي ئي د فرعون د لېونتوب خبرې هېرې کړې، بیا یې اجازه وکړه چې زه د هغې د پوزي اوبدلو کارخانه وګورم.

ویې ویل، سینوهه ته د اوربشو اوبه (بیر) راوړئ!

تي ئي ویلای شو چې نوکران یې ماته شراب راوړي، ډېره کنجوسه مېرمن نه وه، خو له تو کمیز پلوه د یوې معمولي کورنۍ ښځه وه، پلار یې د مرغانو په نیولو ګوزاره کوله، نو تي ئي له همغه وخته د اوربشو له اوبو سره مینه درلوده.

دا اوس هم د اوربشو اوبه څښي، خو له دې کبله چې ډېرا فراط پکې کوي ، نو مخ او بدن یې پړسېدلی دی.

تي ئي دورګه ده، یانې پلار یې سپین پوستی او مور یې تورپوستې وه، څوک چې یې

ووینې فکر کوي، چې تورپوستې ده.

په طبس کې ورته تورپوستې کوډګره وايي، ځکه چې له کوډو سره ډېره علاقه لري.

زه چې هرځل تې ئي وینم حیرانېږم، چې دغه ښځه څه ډول توانېدلې چې په ځواني کې د فرعون په شان د یوه سړي پام ځانته ور واړوي او فرعون خپل ورور کړي.

دا نه یوازې ښکلې نه ده بلکې ډېره بدرنګه ده، خلک وايي فرعون یې په کوډو غولولی دی چې هغه خپله خور کړي.

په داسې حال کې چې تې ئي د اوربشو اوبه څښلې نو له ما سره یې خبرې شروع کړې

له دې کبله چې زه یو ډاکټر یم او ښځې معمولاً له ډاکټرانو سره بې پردې خبرې کوي او هغه شیان ورسره شریکوي چې نورو ته یې نه وايي، نو دې هم له ما سره بې پردې خبرې کولې.

د فرعون مور راته وویل سینوهه! زه پوهېږم چې، ته خور نه لرې او ډاډمنه یم، چې هره شپه له یوې ښځې سره ساعت تېري کوې، ځکه چې په افق ښار کې ښکلې ښځې ډېرې دي او د افق ښځې سختي نه کوي، له تا سره ساعت تېري ته چمتو کېږي.

زه فکر کوم چې ته آرام او نرم سړی یې، زه وینم ته دومره ارام یې چې کله خو زه په تنګ شم او زړه مې غواړي په بدن کې دې یوه ستنه ننباسم چې ته څه ډول تړپونه وهې.

خو دا هم باید ومنم چې ته ډېر ښه سړی یې او دې ته حیرانه یم چې ته یو پوه یې، او له دې ښېګڼې څخه څه استفاده کوې؟ ځکه هغه څوک چې پوه دې ښېګڼې ته اړتیا نه لري.

تجربې ښودلې، چې یوازې احمقان او هغه کسان چې هېڅ کار نه شي کولای ښه کېږي، خو ستا په لیدو ځکه خوشحالېږم، چې کله تا وینم پوهېږم، ته داسې سړی یې، که له ما سره ښېګڼه ونه کړې، نو بدي هېڅکله را سره نه کوې.

له همدې امله یوه داسې خبره درته کوم چې تر اوسه پورې مې بل سړي ته نه ده کړې او هغه د آتون په هکله ده.

آتون، ما او په حقیقت کې آمي رامنځته کړی، زما او هغه مقصد دا و، چې د آتون په وسیله آمون له منځه یوسو او په دې ډول زما د زوی او په ټوله کې زمونږ ځواک زیات شي.

خو ما او آمي دا اټکل نه و کړی چې د آتون موضوع دې دومره لویه شي چې د مصر ملت دې خپه شي.

حتماً پوهېږې (او که پوه نه شې ډېر ساده یې) چې آمي له دې سره سره چې زما ورور نه

دی، خو له ما سره ساعت تېري کوي، خو هغه مې ډېر نه خوښېږي، ځکه چې د پخوا په شان طاقت نه لري.

پر کومه ورځ چې آمي نوی خدای جوړ کړ، ما تصور نه کاوه، چې زما په زوی به دومره اغېز کوي، چې شپه او ورځ به د آتون په فکر کې وي.

خو اوس همدغسې وشول او زوی مې پر آتون داسې مین شوی، چې زه فکر کوم لېونی دی، باید د سر کوپړی یې سوری شي چې له جمجمې یې لېونتوب ووځي.

هغه بله خبره چې زه یې حیرانه کړې یم دا ده، چې نفرتي تي له دې سره سره چې ښکلې ده، ولې تل د فرعون لپاره لور زېږوي.

کله چې ښځه ښکلې وي، سړی په ډېرې لیوالتیا ورسره ساعت تېري کوي او ته چې ډاکتر یې پوهېږې چې کله نارینه په ډېرې مینې او شوق له نفرتي تي سره ساعت تېري کوي باید لور ونه زېږوي.

بله دا چې زه نه پوهېږم ولې خلک زما له تورپوستو کوډګرو، کرکه کوي، په داسې حال کې چې هغوی ښه خلک دي.

د مور په خېټه کې د ماشومانو سرونه د زوکړې پر وخت اوږدوي، خو خلک له دې ښو نارینه او ښځو ځخه کرکه کوي.

اوس زه مجبوره یم هغوی د خپل کور په ځمکتلې کې پټ کړم، ځکه که یې خلک ووینې نو تورپوستي به ترې ووژني.

زه له دغو تورپوستو کوډګرو ډېره خوشحاله یم، ځکه زما لپاره داسې درمل او شیان برابروي، چې زما جنسي غریزه یې تر پخوا ډېره کړې ده.

زه چې څومره له نارینه وو سره ساعت تېري کوم، بیا مې هم زړه نه سړېږي او غواړي نور ساعت تېري وکړم.

خو که ته تصور وکړې، چې زه له آمي سره له ساعت تېري خوند اخلم تېروتنه کوې او که ستر کاهن آمي د آتون په مسله کې له موږ سره شریک نه وای، ما به له ځانه شړلی و، ځکه چې دغه سړی له یوې ښځې سره د پخوا په شان ساعت تېري نشي کولی.

تي ئي یو غټ غوړپ د اوربشو اوبه وڅښلې او بیا یې د هغو کاریګرو ښځو په شان چې د نیل پر غاړې جامې وینځي په کړس کړس وخندل ویې ویل: سینوهه! دغه تورپوستي ډېر تکړه ډاکتران دي، خو خلک یې کوډګر بولي، ځکه چې د هغوی په چل نه پوهېږي.

د هغوی له تور رنګ او د بدن له بد بویه کرکه کوي او که ته وګړای شې خپله کرکه یوه لور ته کړې، نو د هغوی له طبابته به ګټه واخلې. البته په دې شرط چې هغوی خپل طبي رازونه درته ووایي، ځکه چې د خپلو طبي رازونو په برخه کې ډېر تعصب لري.

زه د نورو پر خلاف د تورپوستو د بدن له بویه کرکه نه کوم، تور ځوان نارینه مې خوښېږي، له هغوی څخه د سپین پوستو ځوانانو په پرتله ډېر خوند اخلم.

دا چې ته ډاکټر یې تاته وایم چې له تورپوستو ځوانانو سره تفریح کوم او پخپله تورپوستي ډاکټران ماته د دې تفریح اجازه راکوي وایي چې، تاندوالی در په برخه کوي او د ژوند غمونه به در څخه لېرې کړي.

زه پوهېږم چې د مصر ځینې سپین پوستې مېرمنې د هغو کسانو په شان دي، چې له هر ډول خواره یې خوړلي وي او له غوړې ډوډۍ څخه نور خوند نه شي اخیستلای.

دوی له همدې کبله ساده ډوډۍ ته مخه کوي او کله کله د خوند د بدلون لپاره له تورپوستو سره ساعت تېري کوي.

خو له تورپوستو سره زما تفریح په دې ډول نه ده، بلکې زه په رښتیا د دوی له ساعت تېري او غېږې خوند اخلم، ځکه احساس کوم چې یو تورپوستی، د یوه سپین پوستي په پرتله له لمر، ځمکې او هوا څخه ډېره استفاده کړې وي.

د دوی په بدن کې د سپین پوستو په پرتله ډېره انرژي او ځواک وي، که یو سپین پوستی ځوان، له یوه تورپوستي سره پرتله شي، یو لکه سوړ ژمی او بل د ګرم اوړي په شان ښکاري.

په ژمي کې ګرمې ورځې ډېرې دي، خو هېڅکله د اوړي د ورځو تودوخه نه لري او د اوړي په شان انسان د لمر له تودوخې او هوا څخه نه سست کېږي.

زه هم کله چې له یوه تورپوستي سره څملم راضي او خوشحالېږم. اوس چې دغه خبره تاته کوم نه وېرېږم، ځکه چې ته یو ډاکټر یې او د عادت له مخې د خلکو رازونه ساتې.

بیا هم که دې زما راز افشا کړ، زه به منکره شم او وبه وایم، چې ته درواغ وایې، ځکه چې زمونږ دغه خبرې بل څوک نه اوري، چې بیا ستا خبرې تاید کړي.

که خلک هم ستا له خولې واوري، چې زه له تورپوستو سره ساعت تېري کوم، تر دې به ډېر بدبینه نه شي چې اوس دي.

د دې لپاره چې خلک زما په هکله دومره بدبینه شوي او دومره بدې خبرې کوي، چې

دغه نوي بد ویل به ورته چنداني اهمیت ونه لري. نو غوره ده، په دې اړه بل چاته څه ونه وایې.

زه فکر کوم چې څه به ونه وایې، د دې لپاره چې نیک سړی یې، په داسې حال کې چې زه یوه بده ښځه یم.

بیاد فرعون مور غلې شوه، یو غوړپ د اوربشو اوبه یې وڅښلې او د خپل رنګین پوزي په اوبدلو لګیا شوه، ما هم د هغې لاسونو ته کتل چې څه ډول پوزی اوبي او غوټې ورکوي.

د فرعون مور، چې لږ پوزی وباڼه نو ویې ویل:

سینوهه! له دې کبله چې ته ډېر نیک سړی یې، باید درته ووایم، چې انسان په ښېګڼو باندې کوم ځای ته نه رسېږي، په دې نړۍ کې یوازې یو شی ارزښت لري او انسا ن هر شي ته رسولای شي، هغه قدرت دی.

حتي سره او سپین له قدرته پرته ارزښت نه لري، تا ولیدل، چې پخواني خدای آمون له دې سره سره چې ډېر سره او سپین یې درلودل خو قدرت راوپرځاوه اوله منځه ولاړ.

خو هغه کسان چې زما د زوی په شان د سلطنت پر ګدۍ کیني د قدرت او توان په ارزښت نه پوهېږي.

زما په شان کسان چې پر خاورو پیدا شوي، پوهېږي چې قدرت څومره ارزښت لري؟

ما هم د دې لپاره چې ځواکمنه شم هر کار ته مې لاس اچولی دی او نیت مې دادی چې له ماوروسته زما د وینې ،هډوکي ،او غوښې میوه یانې زما زامن په مصر کې پاچاهي وکړي او تر هغه چې نړۍ او اهرامونه وي، نو دوی د مصر فرعونان وي.

هغه کارونه چې ما د قدرت د ساتلو لپاره کړي دي، د مصر د خدایانو له نظره د سزا وړدي، خو له تا یې څه پټه کړم، له هغه وخته چې ما ولیدل څه ډول یو خدای په اسانه راپرځېدای شي او بل څنګه د هغه پر ځای واک ته رسولای شو، نو د مصر پر خدایانو مې عقیده کمزورې شوې ده.

زه فکر کوم چې هغوی چنداني قدرت نه لري، بلکې د فرعون توان او قدرت د خدای تر زور زیات دی.

بله خبره دا چې ما تجربه کړې، چې په دې دنیا کې نیک او بد عمل نشته، بلکې نیکي او بدي خیالي شیان دي او زموږ د اعمالو نیکي او بدي زموږ په بریالیتوب یا نه

بریالیتوب کې ده...

که ته تر ټولو بد کارونه وکړې او بریالی شې، ټول وایي چې ستا اعمال ښه و، خو که تر ټولو ښه کارونه وکړې او بریالی نه شې، وبه وایي چې بد دې کړي

له دې سره سره کله چې زه فکر کوم، د قدرت د ترلاسه کولو لپاره مې کوم کوم کارونه کړي دي، بدن مې رېږدي، ډارېږم، چې ښایي زما ډار له دې امله وي چې ښځه یم. ځکه که ښځه څومره پیاوړې او بې رحمه هم وي، یو څه په خیالاتو یقین لري او په چټیاتو فکر کوي.

یو شی چې تل ما ډاروي، هغه دادی، چې هر ځل نفرتي تي، د مصر ملکه او زما د زوی میرمن لور زېږوي.

ددې لپاره چې هغه زوی وزېږوي، ما د مصر له ټولو تورپوستو کوډګرانو مرسته غوښتې ده.

هر ځل چې نفرتي تي امیندواره شي، ځانته زیري ورکوم چې هغه به دا ځل زوی زېږوي، خو کله چې ماشوم پیدا شي، زما حالت داسې وي، لکه چې د پیشو یو مږی یې له خپلې کوټې را ایستلی وي او د نیل سیند ته یې وراچولی وي.

کله چې را ستنېږي بیا هم ګوري چې د پیشی مږی همغلته دی.

زه احساس کوم چې لعنت راباندې شوی، ګني نفرتي تي به تل لور نه وه، زېږولې.

په داسې حال کې چې د فرعون مور خبرې کولې، ما د هغې پوزې او بدلو ته کتل او ناڅاپه مې پام شو، هغه غوټې چې دا یې پوزې ته ورکوي، هغه د مرغانو د پلورونکو او ښکاریانو غوټې دي.

د غه غوټې هغه کسان اچوي چې مرغان پالي یا مرغان نیسي بیا یې خرڅوي او په ټول مصر کې د مرغانو د پالونکو غوټې ټول پېژني.

هغه څه چې د فرعون د مور غوټو ته یې زما پام ور واړاوه او

چې ما ته هغه ټوکری راياده شوه چې په ماشومتوب کې یې زه پکې اچولی وم.

ناسکه مور مې، هغه په نیل کې نیولې او ترې را ایستلې وه چې د مرغانو د پالونکې مشهورې غوټې یې درلودې.

ما د کتاب په پیل کې وویل، چې زما ناسکه مور (چې ما هغه خپله حقیقي مور بلله) له دې وروسته چې زه یې په اوبو کې له ټوکرۍ سره پیدا کړم، هغه ټوکرۍ یې ساتلې وه، ما

په ټول ماشومتوب کې دغه ټوکرې کتله او ټول جزيات يې راته ياد ول

زه پوهيدم چې د ټوکرې د جوړېدا پر وخت کومې غوټې چې ورکړل شوې وې، د مرغانو د پالونکو مشهورې غوټې دي

پر دې شپه مې چې کتل د فرعون مور هم پخپل پوزي کې، دغه ډول غوټې کاروي، حيران شوم.

په سر کې مې عجيبه فکرونه پيدا شول، دغه فکرونه دومره حيرانوونکي ول ،چې اوس يې نه شم ويلی څه ډول ول ؟

خو په دې پوهېدم چې د مرغانو د پالونکو غوټې، په کوز مصر کې دود وې، نه په برني مصر کې او هغه ټوکرۍ چې زه پکې اچولې شوی وم، په عليا يا برني مصر کې ياني په طبس کې له اوبو را ايستل شوې وه.

کوز مصر د نيل سين د اوبو په ښکتنۍ برخې کې پروت و، اوبه له برني مصره ښکته راتلې او سفلي مصر ته رسېدې، نو ښکاره خبره وه يوه ټوکرۍ چې په نيل کې اچول شوې وي، د اوبو له بهير سره سم حرکت کوي.

خو ددې فکر په وخت کې متوجه شوم، چې د تې ئې پلار مرغ باز يا د مرغانو پالونکی و، او لوريې چې اوس پوزی اوبي، د مرغبازانو غوټه له خپله پلاره زده کړې ده.

خودا بيا هم يو سوال و راته چې په کوز مصر کې اوبدل شوې ټوکرۍ څه ډول برني مصر ياني طبس ته را رسېدلې ده.

تې ئې پرې نه ښودل چې په دې اړه زما فکر دوام وکړي او ويې ويل سينوهه ! کله چې زه د خپلو اعمالو په هکله خبرې کوم، ښايي ته ما ورټې او ووايې چې زه تور زړې يم، خو غوره داده چې زما حالت ته هم لږ پام وکړې، بيا به پوه شې چې زه مجبوره وم، دغسې خراب کارونه وکړم.

ځکه کله چې د يوه مرغ باز لور د فرعون حرم سرای ته راځي، د هغې له لوري د قدرت ساتل ډېر سخت کار وي

ځکه چې د فرعون له پاملرنې پرته، د هغې د ملاتړ لپاره هېڅ ډول مادي او معنوي ملاتړ نه وي او د هغې دښمنان چې د حرم سرای او دربار ټول اوسېدونکي وي، او ټول چمتو وي چې هره شېبه يو تاوان ورورسوي، چې هغه د فرعون له نظره وغورځوي

نو زما د قدرت يوازينۍ وسيله دا وه، چې اجازه ورنه کړم، له ما سره د فرعون مينه کمه

شي.

له تورپوستو او ګوډګرو مې مرسته وغوښته هغوی، هم داسې شيان را وښودل، چې ومې کړای شول، فرعون ځانته را جذب کړم. فرعون پوه شو که د حرم سرای له هرې ښځې سره تفریح وکړي، دومره خوند ترې نه شي اخیستلی څومره چې له ما سره له ساعت تېري اخلي. له دې وروسته چې ما د کوډو په زور فرعون پر ځان مین کړ، هڅه مې وکړه د فرعون په قدرت او د ځان په محبوبیت سره خپل مخالفین او دښمنان له منځه یوسم.

زما د شپې او ورځې کار دا و، چې د خپلو دښمنانو د سیسې شنډې کړم، هغه لومې چې دښمنانو راته غوړولې دي وشلوم او له هغو کسانو غچ واخلم، چې رابانديې نه شي ګرانېدای.

زما یو کار دا و، چې پرې نه ږدم د حرم هېڅ یوه ښځه تر ما مخکې زوی وزېږوي او ته نه پوهېږې، چې ما ددې کار لپاره څومره زیار ګاللی دی او څومره زر مې ورکړي دي.

ډېره هڅه مې کوله، پخپله امیندواره شم. خو بیا هم نه امیندواره کېدم او په بدل کې نورې ښځې حامله کېدلې.

هر ځل چې به یوه ښځه امیندواره شوه، تر هغې ورځې پورې چې ما به د هغې اولاد پخپله خوښه انتخاباوه، یوه ورځ به په کراره نه وم ناسته.

ته له دې کېله چې درباري ډاکټر یې ښايي اټکل وکړای شې، چې ما څه ډول یو زوی پر لور بدلاوه، خو ددې کار لپاره مې د حرم ډېرې نوکرانې له ځان سره ملګرې کړې.

تر تا مخکې یو درباري سرسوری کوونکی (درباري ډاکټر، ژباړن) و، چې د مرګ یې ډېره موده نه ده تېره شوې، پر نجونو باندې د هلکانو په بدلولو کې له ما سره مرسته کوله (د کتاب په پیل کې سینوهه ویلي، چې د فرعون په حرم سرای کې یې څه ډول له زېږېدا وروسته، د هلکانو په ځای نجونې د هغو په ځای کې اچولې. ژباړن)

تر هغه وخته دغه هلې ځلې روانې وې، چې فرعون بوډا شو او زما لمس کولو د هغه توان کم کړ.

خو بالاخره زما زوی پیدا شو، چې اوس فرعون دی، خو دغه فرعون یوازې څو لونې لري او لا یې زوی نه دی پیدا شوی، چې د هغه ځای ونیسي.

دغه خبرې مې ددې لپاره وکړې، چې ته سینوهه! پوه شې زه یوه لایقه او توانمنه ښځه یم او په ډېر مهارت مې وکړای شول خپل قدرت وساتم او پراخ یې کړم.

که ما له خپل لیاقت او هوښیارۍ څخه کار نه وای اخیستی نو نن به د مصر د پاچاهۍ په ګدۍ زما زوی نه بلکه بل فرعون ناست و.

ومې ویل تې ئي! زه پوهېږم چې ستا لیاقت څه ډول دی؟ ددې لپاره چې ستا د هوښیارۍ ننبې مې په بل ځای کې هم لیدلې دي، ما ولیدل چې د مرغ بازانو مخصوصې غوټې ځنګه اچوې؟

کله چې ما دغه خبره وکړه تي ئي خپلې سترګې چې د اوربشو اوبو ور تکې سرې کړې وې، را واړولې او ویې ویل سینوهه! ایا خلک زما له رازونو خبر دي؟

ومې ویل زه کوڼ ګړ نه یم، خو پوهېږم چې له خلکو هېڅ شی نه شي پټېدای.

خلک په هر شي خبرېږي ځکه چې د شپې له پلوه، چې ته تصور کوې ځوک ویښ نه دي، ستا کارونه نه ګوري، خو ستوري او سپوږمۍ ویښ وي، تاویني.

باد چې ستا له ځنګه تېرېږي، پوهېږي، چې ته څه کوې؟ ته کولای شې، چې د خلکو خولې بندې کړې، خو د باد مخه نه شې نیولی او نه هم د ستورو سترګې وربندولای.

له دې کبله چې تي ئي دې خبرې په غوسه کړه، خو ما د خبرو موضوع بدله کړه او مې ویل، دغه پوزی چې ته یې په اوبدلو بوخته یې ډېر ښکلی دی او زړه مې غواړي دغسې یو پوزی ولرم.

د فرعون مور وویل، کله چې دغه پوزی خلاص شو، تا ته به یې درکړم خو ته به یې په بدل کې څه را کړې؟

ځواب مې ورکړ، زه به یې په بدل کې خپله ژبه درکړم.

د فرعون مور وپوښتل، څه ډول دې ژبه ما ته راکوې؟

ومې ویل، ایا ته په دې نه پوهېږې چې ددې خبرې مانا څه ده؟

ددې خبرې مانا دا ده، چې زه به خپله ژبه وساتم او ستا پر خلاف به څه نه وایم.

د فرعون مور چې شرابو نشه کړې وه، وویل، دغه ډالۍ چې ته یې ما ته راکوې ارزښت نه لري، ځکه دا هغه ډالۍ ده، چې په ما پورې اړونده ده.

ومې پوښتل ځنګه، په تا پورې اړونده ده؟

د فرعون مور ځواب راکړ نه یوازې ستا ژبه زما ده، بلکې ستا لاسونه هم زما دي او زه ویلای شم، چې ستا ژبه در پرې کړي او ماته یې راوړي، چې له دې وروسته زما رازونه ونه لیکلی شې، چې راتلونکي کسان یې وګوري او هغوی ماوپېژني.

ومې ویل، تي ئي ! تا نن شپه ډېر بیر ښئلی، له همدې امله داسې خبرې کوې، چې باید له خولې دې ونه وځي.

غوره ده، چې نورې د اوربشو اوبه ونه څښې او ویده شې چې خوب د نشې اغېزه ختمه کړي، ګني ښایي د اوبو د آس په شان شیان دلته وګورې.

خو له دې سره سره چې ته نشه او زه هوښیار یم وایم، چې چمتو یم خپله ژبه درکړم، یانې ستا رازونه وساتم، په دې شرط چې ته هم دغه اوبدل شوی پوزی ماته راکړې.

د فرعون مور وخندل او ویې ویل، سینوهه ! که له تا پرته بل چا د غه خبرې کړې وای، هغه به مې نه وې پرې ایښی، چې زما له مانۍ ژوندی ولاړ شي.

خو له دې کبله چې ته ډاکټر یې او پوهېږې، چې زما او زما د زوی د رازونو ساتونکی یې، تا نه وژنم، کله چې دغه پوزی خلاص شو تا ته به یې درکړم.

ما د فرعون له موره خدای پاماني واخیسته، له مانۍ راووتم، او په بېړۍ کې سپور شوم چې مریت ته ولاړ شم.

کله چې په نیل کې تېرېدم هغه شپه مې په ذهن کې انځور کړه، چې یو ماشوم یې په ټوکرۍ کې ایښی وي او هغه ټوکرۍ یې د نیل اوبو ته سپارلې وي.

په دې ټوکرۍ کې داسې غوټې وې، چې یوازې مرغ بازان یې اچولې شي.

ما غوښتل د هغه ماشوم راز چې اوس لوی سړی شوی او سینوهه نومېږي روښانه کړم، خو ځکه وېرېدم چې، د مجهولاتو او ناڅرګندو شیانو په اړه چې د انسان پوهه څومره زیاتېږي، د هغه غمونه هم هومره ډېرېږي او ما غوښتل زما غم نور زیات نه شي.

پينځه ديرشم څپرکی

په طبس کې دارالحيات
ته ستنېدل

کله چې فرعون د افق په ښارکې له ماپوښتنه وکړه، چې د څه لپاره طبس ته ځم، ومې ویل، زه درباري کوپړۍ سوری کوونکی یم نو باید کله ناکله دارالحیات ته ولاړ شم او هلته محصلینو ته درس ورکړم.

فرعون دغه خبره ومنله او کله چې طبس ته راغلم، په رښتیا مې زړه غوښتل چې دارالحیات ته ولاړ شم، ځکه له هغه وخته چې په افق ښار کې وم، یو سر مې هم سوری کړی نه و، ډارېدم چې په دې برخه کې خپل مهارت له لاسه ورنه کړم.

پردې سربېره هیله من وم چې دارالحیات ته په ورتګ سره به هغه نوي علمونه هم زده کړم، چې زموږ په وخت کې نه ول.

زموږ په وخت کې که چا غوښتل چې په دارالحیات کې تحصیل وکړي، لومړی باید د آمون د معبد کاهن وی او له دې وروسته چې کاهن به شو، بیا به دارالحیات ته ولاړ خو دا پوښتنه یې نه شوه کولای چې ((و لې یا د څه لپاره ؟)).

زموږ په وخت کې په دارالحیات کې د پوهې ترلاسه کولو عبادتي اړخ درلود او محصلینو ته به یې ویل، له دې کبله چې پوهانو پخوا دغه عقیده درلوده، نو تاسې باید د هغوی علمي، عقیدوي او د معالجې رودې ومنئ او موږ به هر هغه څه منل چې هغوی به ویل.

خو له دې وروسته چې پخوانی خدای راوپرځول شو او نوي خدای یې ځای ونیو، نور نو د دارالحیات محصلین مجبور نه ول، چې د آمون د معبد کاهن شي.

دوی به ددې پر او له کچ کولو پرته نیغ په نیغه زده کړې پیلولې او دا واک یې هم درلودل چې و پوښتي ولې یا د څه لپاره؟

له دې کبله چې زه پر دې خبرې پوهېدم ، نو فکر مې کاوه، چې په دارالحیات کې به علمونو ډېر پرمختګ کړی وي.

محصلین به کولای شي نیوکې وکړي او د علمي ستونزو او نیمګړتیاو، په هکله پوښتنې وکړي، دوی به بریالي شوي وي چې د علم په ډګر کې نوې لارې پیدا کړي او هغه پراخ کړي.

موږ چې کله په دارالحیات کې زده کړې کولې، نیوکې مو نشوې کولای او که مې له استاده پوښتنه کوله چې ولې داسې کېږي ؟ ځواب یې راکاوه، ددې لپاره چې پخوانیو پوهانو همداسې کړي دي.

یا دا چې ځواب یې راکاوه، چې آمون همداسې غوښتي دي.

موږ به د زده کړې پر وخت له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېدو، چې هېڅ یوه به استادانو نه شوه حل کولای.

خو نویو محصلینو، خپلې نیوکې کولای شوې او له استاده یې غوښتلی شوای، چې ستونزې یې ور حل کړي.

کله چې دارالحیات ته ننوتم ومې لیدل چې د زده کړې کیفیت او کمیت دواړه خراب شوي دي او محصلینو نیت نه درلود چې پوهان ترې جوړ شي.

ددې پر خلاف دوی غوښتل چې یوازې نوم یې په دې علمي موسسې کې راشي، د دارالحیات د فارغ التحصیل په نوم طبابت پیل کړي او فلزات ترلاسه کړي.

دارالحیات ته د راتلونکو شاګردانو شمېر هم کم شوی و، خلکو د پخوا په شان پر دې ستر طبي ښوونځي باور نه درلود او هلته د معالجې لپاره نه راتلل.

دوی پوهېدل چې د دارالحیات ځینې استادان له ښوونځي ځخه وتلي دي او په ښار کې یې کتنځي جوړ کړي دي.

کله چې طبس ته ولاړم په دارالحیات کې مې د سر سوري کولو درې عملیات وکړل او له دې سره سره چې محصلینو زما ورتیا وستایله، خو پخپله پوه شوم چې زما لاسونه هغه پخوانۍ ورتیا او چالاکي نه لري او د سترګو نظر مې هم کم شوی و.

په دې دریو عملیاتو کې مې یو ددې لپاره وکړ چې ناروغ په کراره کړم ځکه، چې ناروغ ډېر درد درلود، ما یې د سر کوپړۍ پرانیستله، چې هغه له درده وژغورم.

دویم کس یو سړی و، چې تر دغې نېټې دوه کاله، مخکې د ډېرې نشې له امله خپل بام

ته وخوت، کله چې يې خپلوانو راکوزاوه ، دی وتښتېد او له بامه ولوېد.

دغه سړي ظاهري ټپ نه درلود ، خو له څو ورځو وروسته په مېرګي اخته شو او کله به تاو را تاو شو او ناري به يې وهلې، خيالي منظرې به يې تر سترګو شوې او يا به يې ځان لوند کړ.

د دارالحيات د استادانو د سپارښتنو له مخې د جراحۍ پر وخت مجبور شوم، له هغه سړي څخه چې شتون يې د وينې د دربدا سبب کېږي وغواړم چې د ناروغ سرته ودرېږي.

دغه سړی تر هغه بل ډېر کم عقل و، چې د فرعون په مانۍ کې و ، ما مخکې په دې کتاب د هغه په هکله خبرې وکړې او ومې ويل چې هغه مړ شو.

دغه اوسني سړي د پخواني په پرتله د وينې د بهېدا د مخنيوي توان نه درلود او کتل مې چې د عملياتو پر وخت له ټپ څخه د وينې څاڅکي بهر ته راوځي.

کله چې ما د ناروغ سر سوری کړ، ومې ليدل، چې د ماړغو ځينې برخې د مړې شوې وينې له امله تورې شوې دي.

ما په ډېرې ځيرتيا سره مړه شوې وينه د هغه له ماغزو لېرې کړه ، خوله دې وروسته چې د هغه سر مې بېرته بند کړ د مرګي حملې بېخي ورکې شوې.

پر دريمه ورځ همغه ډول چې ما يې تمه کوله ، دغه سړی مړ شو ، خو له دې سره سره چې ناروغ پر دريمه ورځ مړ شو ، مګر هېڅوک حيران نه شول، ځکه چې ټول پوهېدل کم شاري خبره به وي چې د چا د سر کوپړۍ خلاصه کړي او هغه ژوندی پاتې شي.

کله چې جراحي عمليات پای ته ورسېدل، محصلينو وستايلم ، په داسې حال کې چې ما کوم خاص کار نه و کړی او زموږ په وخت کې د سر د کوپړۍ د خلاصولو عمليات که بې ارزښته نه ول نو څوک ورته حيرانېدل هم نه

دريم کس چې ما يې سر خلاص کړ يو ځوان و ، چې په کوڅو کې غلو پرې حمله کړې وه ، سره زر يې ترې غلا کړي ول او سر يې هم ور مات کړی و.

کله چې يې دغه ځوان دارالحيات ته راوست ، زه هلته وم ، پوه شوم د ناروغ حالت خطرناک دی ، نو فيصله مې وکړه ، چې ژر يې عمليات وکړم.

مات شوي هډوکي مې د هغه له سره را وايستل او د سر په سوري شوي ځای کې مې يې يو ټوټه سپين زر ورکېښودل او سر مې ور وتاړه.

دغه زر تر دې مخکې په اور کې ايښودل شوي، بيا بيرته ساړه شوي وي

دوه اوني وروسته دغه ځوان معالجه شو که څه هم په لومړيو کې يې خپل لاسونه او پښې نه شوې ښورولای، کله چې يې د هغه لاسونه او پښې ورتخنول، نه به پوهېده خو وروسته ورو ورو معالجه شو او خپل عادي ژوند يې پيل کړ.

له دې سره چې دغه ناروغ ژوندی پاتې شو، خو د دارالحيات محصلينو باور درلود، چې د هغه سرې عمليات چې مرګي يې درلودل تر دې مهم و.

د دې لپاره چې بريالی شوم، د هغه سرې له مازغو څخه مړه وينه لېرې کړم، بې له دې چې د عملياتو پر وخت مړ شي.

د دارالحيات استادانو هم د شاګردانو په شان زما درناوی کاوه، خو له دې کبله چې د افق له ښاره راغلی وم او د حيات صليب مې پر غاړه و، نو احتياط يې راسره کاوه.

زما په مخکې يې خصوصي او ځانګړې خبرې نه کولې او د هغه سپي په شان چې نور بويوي، زه يې هم بويولم، چې پوه شي پر ما باور کولای شي کنه؟

ما هېڅکله د آتون او مذهبي مسلو په هکله له هغوی سره خبرې ونه کړې، ځکه چې پوهېدم دارالحيات لا هم د پخواني خدای آمون يوه کلکه کلا ده.

کله چې زما دريم جراحي عمليات هم په برياليتوب سره پای ته ورسېدل (يو مريض هم د عملياتو پر وخت مړ نه شو او له جراحي وروسته به مړ شو، او په هغو دريو کې يو تن ژوندی پاتې شو) د دارالحيات يو ډاکټر په يوې خالي کوټې کې ماته راغی او وې ويل:

اې سينوهه! ته ډېر پوه سړی يې او پخوا دې په همدې ښوونځي کې درس ويلی دی، ايا له دې امله خيران شوی نه يې چې ولې دلته ناروغان نه راځي؟

ومې ويل، حيران شوی يم.

هغه ډاکټر وويل داچې ناروغان دلته نه راځي، علت يې دا دی، چې پوهېږي په طبس کې داسې ډاکټران شته له چړې، اور، درملو او پټيو لګولو پرته ناروغان معالجه کړي.

هغو ډاکټرانو چې په دې ډول درملنه کې تخصص لري، له ما غوښتي چې تاته درشم، درته ووايم، چې غواړې دغه ډول معالجه وګورې؟

که لېواله يې موږ به دې د دغه ډول ډاکټرانو کتنځي ته بوځو، په دې شرط چې موافقه وکړې، سترګې دې وتړل شي او پوه نه شې چې چيرته ځو.

بله دا ژمنه وکړې هغه څه چې ګورې بل چاته يې ونه وايې.

ما وويل د هغو شيانو په هکله چې نن سبا په طبس کې خلک د هغوی په هکله خبرې

کوي، یا یې تصور کوي ما ډېر څه اورېدلي دي. خو له دې کبله چې یو ډاکتر یم باور مې نه کېږي، چې له درملو چړې او اور څخه پرته وکړای شو، ناروغۍ معالجه کړو، نو نه غواړم چې په دغو چلولونو کې ښکېل شم.

که په دغو لوبو او چلولونو کې ښکېل شوم وبه وايي چې د فرعون ځانګړی ډاکتر شاهد و، چې له درملو، چړې، تېپ او اور پرته د ناروغیو معالجه کېدای شي.

زه نه غواړم چې زما له نومه د یوه خراب او درواغجن کار د تاید لپاره استفاده وشي.

هغه وویل سینوهه! ته یو پوه او هوښیار کس یې، بهرنیو هېوادونو ته دې سفرونه کړي او د نورو علمونه دې زده کړي، نو له دې امله په دغسې چلولونو تا نه شي غولولای.

زه ددې لپاره چې تا ته در وښیم، موږ له درملو او چړې پرته هم معالجه کولای شو، تا ته بلنه درکوم چې راشې او د ځینو ډاکټرانو د معالجې روده وګورې.

کله چې تا د سر د کوپړۍ عملیات کول، له هغه سړي دې استفاده وکړه، چې شتون یې، ددې سبب شو چې د ناروغ د بدن وینه ودرېږي.

په داسې حال کې چې تا د وینې بهېدا د مخنیوي لپاره نه له پټۍ کار واخیست، نه له اوره، نو بیا ولې له درملو، چړې او اور پرته د ناروغانو معالجه یو چل بولې؟

دې خبرې پر ما اغېزه وکړه و مې ویل، سمه ده، زه چمتو یم چې له تاسې سره ولاړ شم او وګورم چې تاسې څه ډول معالجه کوئ.

دغه کس چې د دارالحیات ډاکتر و، له ما سره وعده وکړه، چې د شپې به له روان تخت سره راځي، ما به له ځان سره بیايي، خو ویې ویل چې باید سترګې دې بندې وي چې پوه نه شې چېرته دې بیايو.

هغه سړی د شپې راغی، زه یې په روان تخت کې کېنولم، سترګې یې را وتړلې او تخت روان شو.

یو وخت روان تخت ودرېد، مریيانو له اوږو کوز کړ او ما ته هم هغه سړي لاس راکړ له روان تخته یې راکوز کړم.

ما احساس وکړ، چې یوه دالان ته ننوتو او له دې وروسته چې یوه موده په دالان کې روان وو له څو پوړیو هم تېر شو، بیا یې زما سترګې را پرانیستلې.

زه په یوه کوټه کې وم، چې څو څراغونه پکې بل ول او د پخواني خدای د کاهنانو په شان یو کاهن هلته موجود و، چې سر یې خریيلی او غوړ کړی و.

دغه کاهن زما نوم واخیست، معلومه شوه، چې هغه ما پېژني، بیا یې د کوټې یوه کونج ته اشاره وکړه، ما ولیدل چې هلته درې کسان غځېدلي دي.

کاهن وویل سینوهه! دغه درې کسان ناروغان دي او ددې لپاره چې پوه شې موږ دوکه نه کوو، ولاړ شه پخپله یې معاینه کړه.

زه هغو ته ورغلم چې معاینه یې کړم، ومې لیدل چې یوه ناروغه ډنګره او ځوانه ښځه ده، چې له ځایه نه شي ښورېدلای، داسې ښکاري چې یوازې سترګې یې ژوندۍ دي

بل ناروغ یو ځوان و، چې پر ټول بدن یې لمدې تناکې لیدل کېدې چې که عادي کسان دغه سرې وګورې، نو کرکه به ترې وکړي.

درېیم ناروغ هم یو فلج شوی بوډا و، چې دواړه پښې یې نه شوې ښورولای.

ددې لپاره چې ډاډه شم هغه فلج دی یوه ستن مې د هغه په پښو کې ننه ایسته، خو درد یې احساس نه کړ او دې خبرې وښودله، چې هغه فلج دی، دواړه پښې یې حرکت نه کوي او بې حسه دي

کاهن ته مې وویل، بې له شکه چې دغه درې تنه ناروغان دي او که زه یې معالج ډاکتر وای، هغوی به مې دارالحیات ته استولي ول مګر زه پوهېږم چې دارالحیات په غالب ګمان ددې بوډۍ او بوډا معالجه نه شي کولای.

خو ددغه ځوان درملو داسې هم کېدای شي چې پر خپل بدن ګوګړ وموښي او یا په هغو اوبو حمام وکړي چې ګوګړ پکې ګډ وي

کاهن یوه چوکۍ راوښودله و ویې ویل سینوهه! هلته کښېنه او وګوره چې موږ اوس ستا په مخکې دغه درې تنه معالجه کوو.

بیا د کاهنانو په امر څو تنه مریيان کوټې ته راننوتل، درې واړه ناروغان یې د کوټې له کونجه پورته کړل او د کوټې په منځ کې یې وغځول.

د باندې د یوې سندرې غږ واورېدل شو، چې څو تنو په ګډه ویله، له هغه وروسته د پخواني خدای څو تنه کاهنان کوټې راننوتل چې سندرې یې ویلې او د دغو دریو تنو شا و خوا ته ودرېدل.

بیا یې په پرله پسې ډول سندرې وویلې او ټوپونه یې ووهل، خپلې جامې یې و ایستلې او خپل بدنونه یې د ډبرو په چړو ټپیان کړل چې وینه ترې وبهېده.

زه ددې صحنې په لیدو حیران شوم، ما په سوریه کې دغسې یوه منظره کتلې وه.

خو د کاهنانو شور ماشور او زوږ دومره زیات شو، چې وحشت او ترهه یې رامنځته کړه، په داسې حال کې چې هغوی دغه کوډو ته ورته کار ته دوام ورکاوه، ناڅاپه یوه دروازه خلاصه شوه، د پخواني خدای آمون مجسمه یې رادننه کړه.

کله چې د آمون مجسمه را ښکاره شوه ټول غلي شول.

له هغه کړسنده شور ماشوره وروسته دغې چوپتیا پر ما اغېز وکړ او کله چې مې د پخواني خدای مجسمه کتله ځلیدله او پرتمینه ښکارېده.

هغه کاهن چې په لومړي سر کې یې زما هرکلی وکړ، دغو دریو ناروغانو ته وویل، تاسې چې پر آمون عقیده لرئ پاڅئ او روان شئ، ځکه چې آمون بختور کړي یاست.

هغه وخت ما هغه درې تنه ناروغان پر خپلو سترګو ولیدل، چې وښورېدل او په داسې حال کې چې د آمون مجسمې ته یې کتل، لومړی په ښېښانده حرکتونو پر دواړو زنګنو ودرېدل

هغه کس چې پر دواړو پښو فلج شوی و، په لاسونو خپلې پښې موښلې او بیا مې ولیدل چې ورو ورو پاڅېد.

ښځه هم د هغه سړي په شان ولاړه شوه او دوه ګامه مخکې لاړه.

درې واړه په داسې حال کې چې د آمون نوم یې اخیست په ژړا شول.

له هغه وروسته یې د آمون د مجسمې د کوټې دوازه بنده کړه او مریانو څو څراغونه راوړل چې زه وکړای شم ناروغان په سمه توګه ووینم کړم.

ما په حیرانۍ سره وکتل چې نه یوازې فلج شوی سړی او ښځه پر لاره تللی شي، بلکې د هغه ځوان تناکې او زخمونه هم جوړ شوي او بدن یې روغ او پاک شوی دی.

دې پېښې ډېر حیران کړم، ځکه چې د هغه ځوان معالجې چې بدن یې له تناکو او زخمونو ډک و، هیښ او هک پک کړی وم او د یوې معما په توګه راته ښکارېده.

هغه کاهن چې په سر کې یې زما هرکلی کړی و، وویل سینوهه! ایا دا خبره منې چې دغه درې تنه معالجه شوي دي؟

ومې ویل، ددغو دوو تنو یانې د بوډا او بوډۍ معالجه له علمي پلوه د توضیح وړ ده او زه فکر کولای شم چې دغه دوه تنه پخوا د کوډګرو د ارادې له امله یا په طبیعي توګه فلج شوي ول او اوس د یوه ځواکمن کوډګر ارادې هغوی بېرته رغولي دي.

خو د دغه ځوان معالجې ډېر حیران کړی یم.

زه په دې اړه علمي توضیح نه شم درلودلی، ځکه چې د بدن تپ په کوډو یا پر ناروغ د

خپلې ارادې په تېلو سره نه شي معالجه کېدای او هغه هم په دې لنډه موده کې.

کله چې ما د دغه سړي تناکې او تپونه وليدل پوه شوم چې د ګال ناروغي ده او ګال نه معالجه کېږي، مګر د ګوګړو په وسيله او يا دا چې تل په ګرمو اوبو حمام وکړي.

خو دغه ځوان له حمام کولو او د ګوګړو له کارولو پرته په لنډه موده کې معالجه شو او مجبور يم ومنم چې دغه معالجه معجزه ده، ما تر اوسه پورې نه و ليدلي چې څوک دې دغسې معالجه وکړای شي.

کاهن وويل دغه ځوان او هغه دوه تنه، آمون معالجه کړي دي او اوس دا خبره منې چې آمون د خدايانو پاچا دی.

ما وويل د دې خدای نوم زما په مخکې په لوړ آواز مه اخله، ځکه چې فرعون دغه خدای راپرځولی او د دې خدای د نوم په اخيستو يې بنديز لګولی دی.

له دې کبله چې زه د فرعون په چوپړ کې يم، نه غواړم چې څوک يې نوم واخلي.

زه پوه شوم چې زما خبرو کاهن غوسه کړ، خو له دې کبله چې لوړ مقامه سړی و، پر خپلې غوسې برلاسی شو او ويې ويل، زما نوم هري بور دی.

زه له دې کبله تا ته خپل نوم درښيم، چې ته ولاړ شې، ما فرعون ته ور وښيې او هغه خپل عسکر را واستوي، چې ما ونيسي او يا مې د متړکو په زور اړ باسي چې د اجباري کار لپاره کانونو ته ولاړ شم.

خو زه نه له فرعون څخه وېرېږم او نه د هغه له متړکو او عسکرو څخه.

هر څوک چې پر آمون عقيده ولري او ما ته راشي زه به هغه معالجه کړم.

له دې کبله چې زه او ته دواړه عالمان او پوهان يو، نو غوره دا ده چې د پوهانو په شان خبرې وکړو.

زه تا ته بلنه درکوم چې راشې او زما په کوټه کې يوه پيمانه شراب وڅښو، ځکه چې پوهېږم دلته د دغو شيانو له ليدو وروسته ستړی شوی يې.

هري بور، د دارالحيات ډاکټر رخصت کړ، زه يې له يوه دهلېزه تېر کړم او د هوا د روندوالي پوه کړم چې په ځمکتلې کې روان يو.

وروسته پوه شوم چې ويل کېږي د آمون تر پخواني معبد لاندې ځمکتلې يا زېرزمنۍ وې چې نا محرمو کسانو هغه نه وې ليدلې.

له ځمکتلې څخه چې تېر شوو، يوې کوټې ته ورسېدو، چې هلته د استراحت وسايل

لکه فرش، کتونه او صندقونه ایښي ول او هري بور په ډېر درناوي زما په لاسونو اوبه را واچولې.

بیایې زما مخې ته ډوډۍ، مېوه، خواږه او شراب کېښودل او ویې ویل سینوهه! دغه شراب چې ته یې څښې ډېر زاړه دي او د آمون له پخوانیو تاکونو تر لاسه شوي دي

نن سبا په مصر کې دغسې شراب نه جوړېږي، ځکه چې د آمون د تاکونو برکتي باغونه له منځه تللي دي

هري بور له دې وروسته چې جام یې پر سر واړاوه، وویل:

سینوهه! موږ دې پېژنو او پوهېږو، چې فرعون دربانديې ګران دی، خو له خدایانو سره تعصب نه لرې

له هغه وخته چې تا په دارالحیات کې زده کړې کولې، د مذهب په برخه کې بې پروا وې، ډېره دې علم ته توجه کوله، له همدې امله نن شپه زه له تا سره په مذهبي مسلو خبرې نه کوم

زما خبرې د فرعون په اړه دي، زه پوهېږم، چې ته له انسانانو سره خواخوږي لرې، ستا سلګونه ناروغان دا شهادت ورکوي، چې له سرو او سپینو پرته د بېوزلو معالجه کوې

ته له دې سره سره چې یوه موده نه وې، او اوس چې راستون شوی یې، بیا هم بېوزلي په وړیا توګه معالجه کوې.

نو شک نشته چې خواخوږی او بشر دوسته سړی یې او د مصر د ملت ښېګنه غواړې

زه تا ته ویلی شم، چې د مصر فرعون اخناتون ددې هېواد لپاره پر یوې سترې بلا بدل شوی دی، چې خطر یې تر هغې کاختی هم ډېر دی چې پخپله ده رامنځته کړې ده.

ددې لپاره چې د مصر ملت تر دې زیات، ددغه سړي د ظلم په پایله کې تاوان ونه ویني نو باید دغه فرعون او د هغه خدای را وپرځول شي.

ما وویل هري بوره! زه په ځوانۍ کې د خدایانو په اړه بې پروا وم، ځکه چې کتل مې څومره چې د مصر خدایان ډېرېږي هومره د مصر خلک بدبخته کېږي، خو د فرعون خدای ،آتون له نورو خدایانو سره توپیر لري.

توپیر یې دا دی چې هغه د خلکو ترمنځ مساوات غواړي او وایي چې باید بادار له مریي او کارګر له ټیکه دار سره توپیر ونه لري

بېوزله او شتمن یو شان دي، شتمني باید داسې ووېشل شي، چې په مصر کې ټول خلک په یوه اندازه له ځمکې ،اوبو او لمره استفاده وکړای شي.

له کومې ورځې چې مې نوی خدای پېژندلی، فکر کوم چې په نړۍ کې یو نوی کال پیل شوی دی.

موږ په داسې پېړۍ کې ژوند کوو، چې د بشر تر ټولو ځلانده پېر دی (په پخواني مصر کې نړیوال کال شپږ ویشت یا اووه ویشت زره کاله و او کله چې سینوهه وایي، په نړۍ کې یو نوی کال پیل شوی، مانا یې داده چې بل اوویشت زره کلن پېر په نړۍ کې پیل شوی دی. ژباړن) نور به په نړۍ کې دغه فرصت د بشر لاس ته ور نه شي.

یو پاچا چې باید د نورو ځمکې ونیسي، خلک د مریانو او وینځو په توګه وګماري، د هغو سره او سپین ترې واخلي، خو ددې پر خلاف دی پخپله دغه نوښت وکړي او د خلکو تر منځ د توپیرونو د ختمولو لپاره را مخکې شي.

د شتمن او بېوزلو، د توپیرونو د ختمولو فکر وکړي، د پخواني خدای ځمکې پر نورو وویشي.

دغه راز هغه سره او سپین چې د پخواني خدای له خزانې یې ترلاسه کړي ول، په هغه پورې اړوند دي، خو دی یې د ښار پر نویو ودانیو لګوي، نو له دغه فرصته باید استفاده وکړو او د بشریت تر منځ عدالت او ورورګلوي ټینګه کړو.

هري بور وویل، په دې موده کې چې فرعون د خپل خدای قوانین په ډېرې سختۍ سره پلي کړل، ایا د شتمن او بېوزلي ترمنځ یې توپیر ختم کړ؟ د بشریت ترمنځ یې مساوات ټینګ کړ؟

ما وویل نه، خو وروسته به ورورګلوي او مساوات راشي.

هري بور وویل، سینوهه! ته پوه او عالم یې خو له سیاسي چارو خبر نه یې، نه پوهېږې چې که د فرعون د نوي خدای قوانین د اجرا وړ وای، لږ تر لږه تر ننه خو به یې یوه برخه اجرا شوې وای.

د فرعون د خدای د قوانینو د عملي کېدا نتیجه دا شوه، چې د آمون کاهنان او شتمن کسان بېوزله شول، خو د هغوی پر ځای د نوي خدای کاهنان شتمن او بډای شول.

یوه شتمنه پرګنه له منځه ولاړه، خو پر ځای نوې شتمنه پرګنه رامنځته شوه او نن سبا په مصر کې د شتمن او بډای توپیر د آمون تر وخت هم ډېر شوی دی.

سینوهه ته با انصافه یې، زه غواړم چې ته قضاوت وکړې.

ته پخوا د آمون د معبد کاهن وې او که دې مقام ته نه رسېدې تا ته یې اجازه نه درکوله،

چې په دارالحیات کې زده کړې وکړې

د زده کړو له بشپړېدا وروسته ډاکټر شوې ، ایا ته چې د آمون د معبد پخوانی کاهن او له دارالحیاته فارغ شوی ډاکټر یې چمتو یې، چې له یوه مریي سره یو شان او وسې؟ ایا چمتو یې چې د یوه مریي په شان ژوند وکړې ، د هغه په شان پر خاورو څملې او ستا خواړه هم یوه کوله ډوډۍ او د اوربشو اوبه وي

ومې ویل، هري بوره ! زما ارزښت تر یوه مریي زیات دی، ځکه چې ما کلونه زده کړې کړې دي، خو یو مریی چې زده کړې یې نه وي کړي زما ارزښت نه لري

هري بورو ویل په بابل کې داسې کسان شته چې وایي، کلونه کېږي چې زیار مو ګاللی، صبر او زغم مو کړی، تر دې چې ډېره مو اورېده شوه او دومره لویه شوه چې اوس ځمکې ته رسېږي

له دې کبله چې اوږدې ږیرې، لرو نو تر نورو معتبر یو او دا حق لرو چې د نورو په پرتله د ژوند له وسایلو ډېره استفاده وکړو، یا تر نورو ډېر سره او سپین ترلاسه کړو.

ومې ویل، هېڅوک هم د اوږده ږیرې په لرلو سره نه نورو ته ګټه رسولای شي او نه کوم خدمت کولای شي، چې په بدل کې یې تر نورو ډېر سره او سپین ترلاسه کړي

خو هغه کس چې له دارالحیاته فارغ شوی وي، نورو ته خدمت کولای شي او هغوی ته یې خیر رسېدای شي، نو دا حق لري، چې و وایي تر نورو باید ښه ژوند وکړي.

هري بورو ویل سینوهه ! ایا ته خلکو ته ډېر خیر رسوې، که هغه کروندګر چې په بابل یا مصر کې پر کرنه بوخت وي او خلکو ته خواړه رسوي؟

که ته نن نه یې خلک له لوږې نه مري، خو که کروندګر نه وي خلک به مړه شي.

ایا ته نورو ته ډېر خیر رسوې، که هغه مریی، چې په کان کې کار کوي، سره او سپین راباسي او د هغه پر سرو او سپینو باندې چې ته هر څه وغواړې ترلاسه کولای یې شې.

ولې هغه کروندګر، چې تر تا ډېر د خلکو خدمت کوي او خیر ورسوي وږي دي؟ ته ولې هغو مریانو ته انعام نه ورکوې چې په وږي نس په کانونو کې تر مرګه پورې کار کوي ؟

هغه څه چې په خلکو کې شتمن او بېوزلي پیدا کوي ، دا نه دی چې شتمن د بېوزلو په پرتله خلکو ته ډېر خدمت کوي او خیر ورسوي، بلکې د شتمن او بېوزلي تر منځ توپیر له دوو شیانو پیدا کېږي، یو خدای دی او بل حکومت.

هر چېرته چې خدای او حکومت موجود وي، یو شمېر خلک به شتمن او یو شمېر نور به

بېوزله کېږي، ځکه خو د مصر د خدای کاهنان ځانته دا حق ورکوي، چې تر نورو ښه ژوند وکړي او شتمن وي.

همداسې د حکومت کارکوونکي هم دا خپل حق بولي، چې له ټولو امتیازاتو برخمن وي.

دغه دوه ډلې د نورو او ځان تر منځ، د شتمن او بېوزلو تر منځ توپیر ساتي، داسې قوانین رامنځته کوي، چې هېڅکله بېوزلي شتمن نه شي، ځکه چې بیا به له دوی سره برابر شي.

د بابل حکومت د ډېرې قانون د شتمن او بېوزلي، د توپیر د ساتلو لپاره اجراکوي او د مصر حکومت په دارالحیات کې د زده کړې قانون د همدغه کار لپاره عملي کوي.

په مصر، بابل، هاتي، سوریې، کرېټ او نورو ځایونو کې د خدای د کاهنانو او د حکومت د کارکوونکو هدف یو دی، هغه دا چې د دوارو ګټې او امتیازات وساتل شي او هڅه یې دا وي چې تر وسه- وسه بل څوک ورسره شریک نه شي.

سینوهه! تر هغه وخته پورې، چې په مصرکې یو خدای او یو حکومت وي، نو د شتمن او بېوزلو تر منځ به توپیر هم همداسې پاتې وي.

له دې کبله چې مصر او نور هېوادونه له خدای او حکومت پرته ژوند نه شي کولای، نو تل به د شتمن او بېوزلي تر منځ توپیر موجود وي.

ستا فرعون چې غواړي، دغه توپیر ختم کړي، د لېونتوب کار کوي، ځکه چې د اخناتون دغه کار به مصر له منځه یوسي، نو ددې پر ځای چې دی دغه کار وکړي باید مخکې له مخکې مونږ دی له منځه یوسو او مصر وژغورو.

ددې خبرې په اورېدو وارخطا شوم، لږ شراب مې وڅښل، چې خپله وارخطايي او پرېشاني ختمه کړم.

هري بور وویل: سینوهه! ته بې ازاره مصری یې او یو مصری باید د مصر د ژغورلو په دې مبارزه کې بې پلوه پاتې نه شي او بې پرې پاتې کېدل، له دندې تېښته او یو ډول بې غیرتي ده.

مونږ د آمون پیروان یو، چمتو نه یو چې له بې پرې کسانو سره، په نرمۍ او زغم سره چلند وکړو، ځکه چې مونږ په دې هېواد کې د بې پرې کسانو د کړو وړو قربانیاني شوي یو.

کومه ورځ چې فرعون فیصله وکړه، چې زمونږ خدای له منځه یوسي، مونږ هیله کوله چې د مصر ملت به د خپل خدای د نسکورولو په کسات کې پاڅون وکړي او اجازه به ورنه

کړي چې د هغوی دودونه او رواجونه له منځه ولاړ شي.
خو یو وخت مو ولیدل، چې د هېواد اکثریت خلک بې پرې پاتې شول او د خپل ځان یا مالونو د له منځه تللو له وېرې لاس تر زنې کېناستل او سکوت یې وکړ.
همدغو بې پرې کسانو موږ له منځه یوړو.
که موږ تر دې وړاندې، چې فرعون له آمون سره وجنګېږي، پوهېدلي وای، چې خلک به بې پرې پاتې شي، نو له دښمن سره به مو د مبارزې لپاره عسکر اجیران کړي وای او له نورو هېوادنو، څخه به مو عسکر راوستلي وای.
له دې کبله چې سره او سپین مو درلودل، نو یو ستر پوځ مو جوړولای شو، خو په دې هیله چې ټول مصریان د آمون پلویان دي او اجازه به ورنه کړي چې خدای یې را وپرځول شي، نو ځکه موږ د لښکر جوړولو هڅه ونه کړه.
سینوهه! ته چې تر اوسه بې پرې وې، له دې وروسته باید خپله لاره معلومه کړې.
ته باید موږ ته ووایې، چې زموږ دوست یې که دښمن؟ ځکه چې موږ ټول بې پرې کسان خپل دښمنان بولو او هغه کسان چې له موږ سره نه دي هم زموږ دښمنان دي.
له دې کبله چې ته ډېر ښه سړی یې، نو باید خپله لاره معلومه کړای شې او باید دا هم درته ووایم چې ستا فرعون به تر ابده ژوندی پاتې نه شي.
زه دغه خبره بل چاته نه کوم، خو تاته یې وایم، ځکه چې د لوړ ظرفیت خاوند او پوه انسان یې او داسې خبرې اورېدلی شې، چې نور یې د اورېدو توان او ظرفیت نه لري.
ومې ویل، هري بوره! سپینه خبره وکړه، داڅه وایې؟
هري بور وویل، موږ د فرعون د مړینې سریزه برابره کړې ده، هغه به مړ شي، خو ډېر ژر دغه کار نه کېږي.
ومې ویل: هري بوره! آیا لیوني سپي دا رلې یې که لړم چیچلی یې چې دغسې خبرې کوې؟
هري بور په کوټه کې څراغ اوچت کړ او ویې ویل راشه چې یو شي در وښیم.
زه هم ور ولاړ شوم او په هغه پسې له کوټې ووتم، کله چې له دهلېزه، ووتم، بیا هم هغه سړي له یوه دالانه تېر کړم او یوې کوټې ته ورسېدو.
کله چې یې دروازه خلاصه کړه، د سرو او سپینو کڅوړې مې ولیدې.
ددغو خلزاتو په لیدو موسک او د هري بور پر سادګۍ حیران شوم.
هغه چې زما موسکا ولیده ویې ویل، سینوهه! زه ماشوم نه یم چې هڅه وکړم، د سرو و

سپينو په زور تا له ځان سره ملګرتيا ته اړ کړم.

زه پوهېږم، چې ته سلطنتي ډاکټر يې او درباري ډاکټر سرو و سپينو ته ارزښت نه ورکوي، ځکه هر څومره سره و سپين چې وغواړي تر لاسه کولای يې شي.

ما، ته له دې امله دې کوټې ته راوستې چې مجبور يو له دې ځايه تېر شو او بلې کوټې ته ورسېږو.

بيا يې يوه لويه مسي دروازه خلاصه کړه او زه يې يوې بلې کوټې ته ننه ايستم.

له دې سره سره چې زه خرافاتي نه يم خو ده د څراغ په رڼا کې داسې شی راوښود، چې په ليدو يې زه ورپېږدېدم.

په دې کوټه کې پر يوې لويې ډبرې، چې دراز چوکۍ ته ورته وه، د فرعون اخناتون مومي مجسمه ايښې وه، چې په تټر او سر کې يې غشي ننه ايستلي ول.

هري بور وويل، سينوهه! موږ د آمون په نوم، ستا فرعون په مرګ محکوم کړی دی او دغه غشي چې ته يې وينې، سپېڅلي غشي دي.

دغه غيشي د آمون په نوم سپېڅلي شوي او ستا فرعون به حتماً پرې ومري.

خو له بده مرغه موږ نه شو کولای، هغه ژر مړ کړو او يوه موده وخت غواړي چې نوموړی د هغو ټپونو له کبله مړ شي، چې موږ يې دلته د هغه په شان قالب ته ورکوو او په دغې موده کې به دغه سړي لېونتوب مصر بدمرغه او کمزوری کړي.

سينوهه! دغه منظره مې ځکه تاته دروښودله، چې پوه شې خير دې په دې کې دی، چې بې پرېتوب پرېږدې او له موږ سره ملګری شې.

ځکه چې اخناتون به حتماً مړ شي او ته به بې فرعونه شې او هغه مقام به له لاسه ورکړې، چې نن يې لرې.

هري بور، له کوټې را و ايستلم او دروازه يې بنده کړه، بيرته هغې کوټې ته ولاړو، چې هلته مو شراب څښل.

هغه ماته شراب واچول او ويې ويل، موږ دې لپاره چې فرعون مړ کړو، ددې مجسمې له جوړېدا وروسته مو، د هغه لږ وېښتان او نوکان د افق له ښاره تر لاسه کړل او په دې مجسمې کې مو وکارول.

هغه کسان، چې موږ ته يې د فرعون وېښتان او نوکان راکړل، دا کار يې د سرو او سپينو لپاره نه دی کړی، بلکې پر آمون يې عقيده درلوده او مرسته يې راسره وکړه.

له هغه وروسته هري بور وویل : زموږ د خدای قدرت کال په کال زیاتیږي او تا پخپله نن شپه دلته ولیدل چې موږ وتوانیدو ، د خپل خدای آمون د ځواک او مرستې په وسیله له درملو ، چړې ، اور او پټۍ پرته ناروغان معالجه کړو.

له دې وروسته به د آمون ځواک نور هم زیات شي او د مصر پر هېواد او ملت به تر دې ډېر لعنت وکړي، ځکه چې د مصر پر هېواد او خلکو ډېر په قهر دی .

څومره چې فرعون ډېر عمر وکړي، د مصر پر ملت د آمون قهر هم هومره زیاتیږي او کله چې فرعون، مړ شي نو د مصر ملت به هم له بدمرغیو خلاص شي.

ته چې د فرعون خاص ډاکټر یې پوهیږې، چې فرعون په سر درد اخته دی او دغه سر درد د هغه ځواک ورو ، ورو کموي، تر هغه چې هغه ووژني.

غوره دا ده چې ډېر ژر دغه پېښه وشي او که ته غواړې، زه به یو ډول درمل درکړم، چې فرعون له سر درد او د اوس او راتلونکې له هر ډول سر خوږیو خلاص کړي.

ومې ویل هري بور ترڅو چې انسان ژوندی وي ممکنه ده ناروغه شي، چې د زړښت پړاو ته رسیږي ناروغۍ یې نورې هم ډیریږي باید داسې درمل خلکو ته ورکړو چې د اوس او راتلونکو ناروغیو پر وړاندې یې خوندي کړي یوازې مرګ دی چې انسان له ټولو ناروغیو ژغوري.

هري بور وویل، دغه درمل چې زه یې درکوم، فرعون به نور درملو ته اړتیا و نه لري او بله دا چې پر بدن به یې د درملو اغېز هم نه ښکاري

ان کله چې د هغه مړی مومیایي کوونکو ته ورکړي، نو مومیایي کوونکي به هم پوه نه شي چې ګني فرعون دې دغو درملو وژلی وي، ځکه چې د هغه په تورې ینې، معدې او کولمو کې به هېڅ اغېزه پرې نه ږدي.

تر دې وړاندې چې زه هغه ته ځواب ورکړم، هري بور زیاته کړه:

سینوهه ! که ته دغه کار وکړې او فرعون د خوب د دغو درملو په مرسته لوېدیزې نړۍ ته واستوې، نو ستا نوم به د آمون او د هغه د پیروانو په منځ کې تلپاتې شي.

له دې سره به ته تلپاتې ژوند ولرې او موږ ، یانې آمون او د هغه پیروان به ستا او ستا د راتلونکي نسل ملاتړ وکړي او تر هغې ورځې چې مصر وي او پر دغه ټاټوبي لمر ځلیږي، نو ستا خپلوان به په نېکمرغۍ او درناوي کې ژوند کوي.

که ته بېوزله او حریص وې ما به سره زر درکړي وای، چې فرعون بلې دنیا ته واستوې،

خو ته ډېر ستړی يې ، او نه شي کېدای چې د سرو او سپينو په زور کې دې د ځان کړو.
ستا په شان کسانو سره يوازې يو انعام مناسب دی او هغه د نوم تلپاتې کېدل دي.
هري بور خپلې اغېزناکې سترګې زما په سترګو کې ښخې کړې، ما چې ورته وکتل سست او پرکاله شوم او احساس مې وکړ چې دغه سړي د ارادې تر سلطې لاندې راغلی يم، خو زما روح دې ته چمتو نه و، چې د هغه سپارښتنې ومني.
هري بور زياته کړه، سينوهه! ته يو پوه او ډاکتر يې، پوهېږې چې، تر يوه حده د وګړو اراده تر خپلې سلطې لاندې راوستی شو او اوس که زه درته ووايم چې لاس دې پورته کړه نو ته همدغسې کوې.
که درته ووايم چې پورته شه ،نو ته به پاڅېږې، خو تا داسې کار ته نه شم مجبورولای چې روح دې نه مني.
که ته پخپله خوښه پر آمون عقيده او باور ونه کړې ، نو زه نه غواړم چې تا دغه کار ته اړ کړم ، او نه دې مجبورولای شم چې زما درمل فرعون ته ورکړې.
خو د مصر د هېواد او ملت په خاطر له تا غواړم، دغه درمل چې ما برابر کړي واخله ، فرعون ته يې ورکړه او د مصر ملت وژغوره.
تر هغه وخته چې هري بور، خپلې سترګې زما په سترګو کې ښخې کړې وې، ما خپل لاسونه، نه شو ښورولای.
له دې وروسته چې هغه سترګې راخخه واړولې، ما خپل لاسونه وښورول او ومې ويل، هري بوره، زه اوس درسر ژمنه نه شم کولای، خو خپل درمل دې راکړه، چې راسره وي.
ښايي يوه ورځ پخپله فرعون ونه غواړي، چې له خوبه راپاڅېږي او موافقه وکړي، چې تر ترياکو، په قوي درملو سره هغه ويده کړم، چې بيا راويښ نه شي او کله چې را ويښ شي، نو کومه ستونزه ونه ګالي .
هري بور، يو بوتل راته راوړو يې ويل، درمل په دغه بوتل کې دي او اوس چې دې دغه بوتل له ما واخيست، نو مصر ستا په لاس کې شو.
موږ کولای شو فرعون په بل ډول هم له منځه يوسو ، ځکه چې هغه هم انسان دی او کله چې د هغه په بدن کې نيزه او يا چاړه ننوځي د هغه وينه به تويه شي او وبه مري.
خو بايد دغه کار ونه شي، ځکه کله چې خلک يو ځل هم پوه شي چې فرعون له منځه تللی شي، نو تر هغه وروسته کومه پېښه نه کېږي. په دې دنيا کې به د فرعون مرګ، په

کایناتو کې د یوه مربي د مرګ په پرتله کم اغېز ولري او بیا به خلک هغه کوي، چې نور فرعونیان هم ووژني.

که دا کار وشي نو په راتلونکې کې به د مصر قدرت ځپځانده شي او په هېواد کې به دننه تل ګډوډي او ناامني وي.

غوره دا ده چې فرعون داسې مړ شي چې خلک تصور وکړي، هغه پخپل طبیعي مرګ مړ شوی دی.

ته کولای شې په خلکو کې دغه تصور رامنځته کړې او اوس ته یوازېنی کس یې چې د مصر د ژغورلو قدرت لرې او برخلیک یې ستا په لاس کې دی.

ومې ویل هري بوره ! له دې سره چې ته فکر کوې، پر هر څه پوهېږې، خو داسې نه ده ، له ځینو شیانو بې خبره یې او نه پوهېږې چې د مصر برخلیک یوه ورځ د داسې چا په لاس کې و، چې تو کرې یې اوبدلې.

هري بور وویل ، د تو کریو له اوبدلو ستا مقصد څه دی؟

ومې ویل، دغه موضوع اوږده کیسه لري، په هر حال ستا درمل له ما سره دي، خو په یاد ولره، چې ما له تا سره ژمنه نه ده کړې.

هري بور وویل، خو که دې مصر وژغوره، نو لوی انعام به تر لاسه کړې. له هغه وروسته، بې له دې چې زما سترګې وتړې، زه یې له هغو تل خونو را وایستم چې د آمون تر پخواني معبد لاندې وې.

تر دې مخکې چې، زه له ځمکتلو را ووځم ماته یې وویل، سینوهه ! ته شریف سړی یې او رازونه ساتې، زه ضرور نه ګڼم تا ته سپارښتنه وکړم چې ددې ځمکتلو، په تېره بیا هغو ته د تلونکو لارو په هکله چاته څه ونه وایې.

دا ځکه چې په طبس کې داسې کسان شته، چې پوهېږي د آمون په معبد کې زېر زمیني شته، خو څوک دغو ځمکتلو ته نه شي ننوتلی.

ما وویل، هري بوره ! ښایي زه یوه ورځ ووایم، چې د آمون تر پخواني معبد لاندې ځمکتلې شته، خو لارې به یې هېڅکله چاته ورونه ښیم، ځکه چې دا زما راز نه دی.

څو ورځې وروسته د فرعون مور تي تي په خپلې ماڼۍ کې د یوه زهرجن مار له چیچلو وروسته مړه شوه.

د فرعون مور له ځوانۍ څخه دا عادت درلود، چې د خپل پلار د لاربښوونو له مخې په

لومو کې مرغان ونیسي.
یوه ورځ خپلو لومو ته ورتله او دې ته یې پام نه وه چې که په لومه کې یوه کوچنۍ مرغۍ شته، کېدای شي یو زهرجن مار هم وي، نو هلته د(سراست) په نوم یوه کوچني مار وچیچله.
له دې وروسته چې نارې یې کړې او نوکرانو ورمنډې کړې، غوښتل یې د هغې ځانګړی ډاکټر را وغواړي، خو دهغې ډاکټر لکه چې تل په دغسې حالاتو کې نه وي، دا ځل هم موجود نه و، نو زه یې ور وغوښتلم او تر هغه چې زه ورسېدم نو دا هم مړه شوې وه.
سراست ډېر خطرناک مار دی او ځوک چې وچیچي، نو بیا ژوندی نه شي پاتې کېدای.
خو یوه لاره هم شته هغه دا چې تر دې وړاندې چې د مارچیچلي، زړه سل ځله ودېږي، د هغه د نېش ځای سوری کړای شي، له چیچل شوي ځایه پورتنۍ برخه پر یوه پړي کلکه وتړل شي او له چیچل شوي کس څخه ډېره وینه وبهېږي.
خو د تي ئي په مانۍ کې، چا دغه فکر نه و کړی، کله چې زه ور ورسېدم ومې لیدل چې د فرعون مور مړه شوې ده.
ماوویل، زه نور څه نه شم کولای، باید مړی مومیایي کوونکو ته وسپارل شي چې مومیایي یې کړي.
داتون د معبد ستر کاهن آمي، چې کله د فرعون د مور په مړینه خبر شو نو راغی او د تي ئي پر پرسېدلو غامبورو یې لاس تېر کړ، ویې ویل، دا غوره وه، چې هغه مړه شي، ځکه چې تي ئي پر دې سربېره، چې ځوانه او ښکلې نه وه، زما پر خلاف یې دسیسې هم کولې او اوس چې دا مړه شوې هیله کوم چې خلک به په کرار شي.
زه تصور نه کوم چې آمي دې هغه وژلې وي، که څه هم د آتون د معبد پر کاهن د فرعون بوډۍ مور ګرانه نه وه، خو هغه دواړه سره متحدول.
دوی پوهېدل چې یوه بل ته ګټه ورسوي، په دې دنیا کې د ګټو شریکېدل، تر مینې زیات خلک سره نژدې کوي او د شریکو ګټو دوستي، تر مینې زیات دوام کوي.
کله چې د تي ئي د مړینې خبر په طبس کې خپور شو، خلکو جشنونه جوړ کړل، د فرعون د مور د مړینې په خوشحالۍ کې یې شراب وڅښل او نارې یې وهلې چې موږ د کوډګرو له شره خلاص کړئ.
ددې لپاره چې آمي خلک خوشحاله کړي، پېنځه تنه کوډګر یې، چې یوه پکې

تورپوستې ښځه وه، له مانۍ را و ايستل.

خلک ناڅاپه پرې راټول شول او له دې سره سره چې تورپوستي کوډګرول، خو په کوډو يې ځان ونه شو ژغورلای، ټول ووژل شول.

د کوډګرو تر مړينې وروسته آمي د هغوی د کوډو ټول وسايل مات کړل او ويې سوځول.

دغې پېښې زه خواشينی کړم، ځکه چې زړه مې غوښتل پوه شم، چې تورپوستو کوډګرو له کومو درملو استفاده کوله او څه ډول يې د نورو معالجه کوله.

هيڅ په سلطنتي مانۍ کې د تي ئي او کوډګرو پر مړينې ونه ژړل او د هغې پر کټ حاضر نه شول.

يوازې شهزادګۍ او د تي ئي لور باکتاتون د خپلې مور د مرګ بستر ته راغله.

تي ئي تر مړينې مخکې ما ته ددې نجلۍ په هکله ويلي ول چې هغه يې تر فرعون مخکې زېږولې، خو ما تر هغه وخته نه وه ليدلې.

کله چې شهزادګۍ باکتاتون د خپلې مور د جنازې په څنګ کې زه وليدم ويې پوښتل، ايا ته سينوهه يې؟

ومې ويل، هو!

ويې ويل، ايا تا د هغو تورپوستو د وژلو مخه نه شوه نيولای؟

ومې ويل، باکتاتون! ته پوهېږې، چې زه په طبس کې هېڅ نفوذ او قدرت نه لرم. په دې ښار کې قدرت د آتون د ستر کاهن آمي او د مصر د لښکرو د قوماندان هورم هب په لاس کې دی.

که ما د تورپوستو د وژلو د مخنيوي هڅه کړې وای، نو خلکو به زه هم وژلی وای.

ما به هېڅ ډول تورپوستي له مرګه نه وای ژغورلي، ځکه چې خلک پوهېږي زه د فرعون ځانګړی ډاکټر يم، دوی فکر کوي ستا له مور سره يو لاس وم او له پخواني خدای سره دښمني لرم.

شهزادګۍ زما خبره تايد کړه، بيا يې وويل، دغو تورپوستو خوارانو کومه ګناه نه وه کړې، نه يې غوښتل چې کوډې وکړي او که آزاد وای، نو خپلو ځنګلونو ته به تلل، هلته به يې ژوند کاوه.

له دې کبله چې هغوی د ځنګل ځناورو ته ورته ول، په ښار کې يې ژوند نه شو کولای،

زما مور په زور هغوی په ښار کې ساتلي ول او د دې مانۍ په زير زمينۍ کې يې بنديان کړي ول.

زه حيرانه په دې يم چې هورم هب ولې د دغو کسانو د وژلو مخه ونه نيوله؟

له دې وروسته شهزادګۍ د هورم هب د مجردۍ په هکله خبرې وکړې او ويې ويل حيرانه يم چې هورم هب ولې واده نه کوي، چې ګنه کورنۍ جوړه کړي.

ومې ويل، له ما څخه دغه پوښتنه نورو کسانو هم کړې او ما هغوی ته ځواب نه دی ورکړی، خو تاته يې ځواب درکوم ځکه زما ځواب په تا پورې اړه لري.

له دې وروسته چې هورم هب طبس ته راغی او د لومړي ځل لپاره يې په سلطنتي مانۍ کې ګام کېښود، ستر ګې پر تا ولګېدې.

کله چې هغه ستا ښايست وليد، نو بلې ښځې ته يې نه شو کتلی، ځکه چې بله هره ښځه ورته بدرنګه ښکارېده، له همدې امله يې تر اوسه پورې له بلې ښځې سره منګی مات کړي نه دی.

خو باکتاتون! ته ولې مېړه نه کوې او ګن زامن نه پيدا کوې؟

ايا ته نه پوهېږې چې ونې تل ګلان او ميوه نه کوي او يوه ورځ به د نيل په خړو او ختو کې ولاړې تر ټولو ښې ونې داسې شي چې مېوه به نه شي کولای.

شهزادګۍ وويل، سينوهه! ته پوهېږې چې زما وينه سلطنتي يا له خدايانو څخه ده او د مصر تر ټولو شريف او ستر کسان هم زما لپاره د هر کوچني دې چې واده ورسره وکړم، هورم هب خو پر ځای پرېږده! يوازې يو کس د دې لياقت لري، چې له ما سره واده وکړي او هغه زما ورور فرعون دی، خو فرعون له نفرتي تي سره واده کړی دی.

پر دې سربېره، زه پخپله هم مېړه نه غواړم، ځکه چې اورېدلي مې دي کله چې نارينه غواړي له ښځو سره خملي، نو تاوتريخوالی کوي او له ځينو ښځو مې اورېدلي، هغه خوند هم چې ښځې يې له نارينه وو سره له ساعت تېري اخلي، هسې دروغ او لافې دي او د خوراک او څښاک تر خوند زيات نه وي.

کله چې باکتاتون دغه خبرې کولې، ما ورته کتل، متوجه شوم چې مخ يې سور شوی دی، ژر ژر ساه اخلي او پوه شوم چې په باطن کې د نارينه وو په اړه بل نظر لري.

زه پوه شوم چې ځوانه شهزادګۍ له دې خبرو خوند اخلي، نو خپلو خبرو ته مې دوام ورکړ او ومې ويل: باکتاتون! هغه تاوتريخوالي چې نارينه يې له ښځو سره د تفريح پر وخت کوي، حقيقي تاوتريخوالی نه دی. بلکې له هغوی سره د ډېرې مينې له امله يې کوي.

تولې ښځې دغه ډول تاوتريخوالى خوښوي.

خو له دې کبله چې هورم هب تر اوسه پورې له کومې ښځې سره منګى نه دى مات کړى، ښځه کولاى شي، پخپله خوښه هغه وروزي، ځکه که نارينه څومره هم زړه ور او ځواکمن وي، خو تر هغه چې له کومې ښځې سره يې منګى نه وي مات کړى، له ښځو سره د ساعت تېري په مسله کې له يوه ماشوم سره توپير نه لري.

ښځه کولاى شي هغه په خپله خوښه وروزي او پخپل زړه ورسره تفريح وکړي.

ته هم کولاى شې، زړه ور او ځواکمن هورم هب پخپل څنګ کې داسې نرم او ملايم کړې، چې کله هغه له تاسره اوسې، داسې به ښکاري لکه چې د هيليو د سينې په ښکو ستا بدن موښي.

باکتاتون وويل، زه نه غواړم، چې ته د هورم هب ستاينه وکړې، ځکه چې هغه پر خاورو زېږدلى دى او له اصيل زاته نه دى.

د هغه له نومه مې کرکه کېږي او بله دا چې دغه ډول خبرې زما د مور د مړي پر وړاندې ښې نه دي.

زړه مې غوښتل هغې ته ووايم، چې تا پخپله دغه خبرې پيل کړې، مګر غوره مې وبلله چې په دې اړه هيڅ ونه وايم.

له هغه وروسته مې د هغه چا په شان چې د سلطنتي مانۍ له حالاتو او له تې ئي څخه له کرکې بې خبره وي، وپوښتل:باکتاتون! ولې د مانۍ کومه ښځه دلته نشته او ستا د مور په مړي نه ژاړي؟

کله چې ستا د مور مړى د مرګ د کور پر لور بيايي، چې موميايي يې کړي، ايا په لاره کې نوکرانې شته چې وژاړي، ساندې ووايي او پر سر ايرې باد کړي.

خو له دې کبله چې د مور جنازه به دې ژر د مرګ کور ته ونه لېږدول شي، نو دا ضروري ده چې يو څوک يې پر وژاړي او ساندې ووايي. له دې کبله چې زه ډاکتر يم نه شم ژړېداى، ځکه چې ډاکتران دومره ډېر مړي ويني چې اوښکې يې وچېږي او د ژړا وس نه لري.

له دې وروسته چې د عمر يې لږه موده تېره شوه، له موسيقۍ او سندرو هم خوند نه شي اخيستلى، ځکه هغه ډاکتر چې ټول عمر يې د مرګ له سوړوالي سره تېر کړى وي هغه تودوخه له لاسه ورکوي، چې له موسيقۍ او سندرو څخه د استفادې لپاره ضروري وي.

بيا مې وويل، اې مهربانې شهزادګۍ چې لا دې مېړه نه دى خوښ کړى، پوه شه! چې

خواني د اوړي د ګرمو ورځو په شان ده، بوډاتوب د مني د نیمو تودو ورځو په شان او مرګ د ژمي د سړو ورځو په شان وي.

که څوک د اوړي له تودو او ګرمو ورځو او د مني له نیموګرمو ورځو استفاده ونه کړي، نو کله چې د مرګ سړې شپې ،ورځې را ورسېږي بیا ترې استفاده نه شي کولای.

باکتاتون وویل، سینوهه ! د مرګ په هکله له ماسره خبرې مه کوه، ځکه چې زه نه غواړم د مرګ په هکله فکر وکړم.

زه ځوانه یم، د ژرندله شاتو خوند اخلم او ستا په شان نه ښم ژړېدای، ځکه چې زه له خدایانو پیدا شوې یم او څوک چې له خدایانو پیدا شوی وي باید ونه ژاړي.

پر دې سربېره به مې اوښکې د مخ سینګار پاک او خراب کړي، خو باید یو څوک زما د مور پر مرګ وژاړي او همدا اوس ځم یوه ښځه دلته را لېږم چې اوښکې تویې کړي.

ومې ویل باکتاتون !هغه شېبه چې ما ولیدې او متوجه شوم چې ښکلې یې، داسې هیجاني شوم، چې که ته یوه ځوانه ښځه هم دلته را واستوې، زه به یوه شېبه هم دلته پاتې نه شم

نو ورشه یوه بوډۍ ښځه راولېږه، چې د مور لپاره دې وژاړي.

باکتاتون په ټوکو وویل، سینوهه ! ما اورېدلي، چې ته پر خدایانو عقیده نه لرې، خو فکر مې نه کاوه چې مړیو ته هم احترام نه کوې.

له دې کبله چې زما مور مړه شوې ده، باید د هغې د جنازې په خواکې د غه ډول خبرې ونه کړې.

خو د هغې د ټوکو لهجې او هغې خوشحالۍ چې زما له خبرو څخه هغې ته پیدا شوه، ماته څرګنده کړه، چې زما له خبرو یې خوند اخیستی دی.

ما په قصدي توګه د فرعون خور ته دغه خبرې وکړې او یوه موخه مې درلوده.

باکتاتون ولاړه او د سلطنتي ماڼۍ یوه میرمنه یې له څو سپینو او سرو ښځو سره را واستوله.

په دغو مېرمنو کې د پخواني فرعون نورې ښځې، (د تي ئي د مېره ښځې) د سلطنتي ماشومانو پالونکې نوکرانې، وینځې او نورې ښځې شاملې وې.

خو زیاترو سپین سرو مېرمنو ځانونه ځوان ښودل او له دې کبله چې په سلطنتي ماڼۍ کې اوسېدلې، هیله یې کوله چې په دې توګه به یو سړی لېوني کړي او له هغوی سره به منګي مات کړي

شپږ دېرشم څپرکی

څه ډول پخپل هویت پوه شوم

هغه بوډۍ، چې پر دې ورځ د ژړېدا لپاره راغله ((مهو نفر)) نومېده له ما چې یې کله مخ ته وکتل پوه شوم، چې له سرېو سره دلچسپي لري.

د هغې د نوم له دویمې برخې (مهونفر) څخه څرګندېږي، چې پخوا ښکلې وه.

دا چې راغله ژړا او ساندې یې پیل کړې.

زه ولاړم یو منګی شراب مې راوړل، یو جام شراب مې هم ورکړل او ورته مې وویل مهونفر دا وڅښه چې ګټه درته کوي.

هغې چې شراب وڅښل بیا یې ونه ژړل او ددې لپاره چې له هغې خبرې وباسم، نو ددې د پخوانۍ ښکلا په هکله مې خبرې پیل کړې ومې پوښتل، ایا دا سمه خبره ده، چې د فرعون په ټولو ښځو کې یوازې تي ئي د هغه لپاره زوی وزېږاوه او نورو ټولو لونې زېږولې.

مهونفر ماته په وحشت سره وکتل او اشاره یې راته وکړه چې چوپ شه.

هغه له دې امله ډارېده چې مړی به زما پوښتنې او د هغې ځوابونه واوري.

ددې لپاره چې له هغې خبرې وباسم د هغې د پخوانې پرتم او ښکلا په هکله مې نورې خبرې هم وکړې او ورته مې وویل، مهونفر! ته اوس هم ښکلې یې او ستا سترګې د ځوانو نجونو په شان دي.

که ته او یوه ځوانه نجلۍ د یوه سړي په مخکې ودرېږئ، هغه سړی به له ځوانې ښځې تېر شي او لېواله به وي چې له تاسره ساعت تېري وکړي.

ښځې چې څومره زړې او بوډۍ شي، په دغو خبرو باور کوي، ان که په دې هم پوه شي چې پر هغې ملنډې وهل کېږي، ځکه چې پخپل روح کې دې ته چمتو وي چې پر دغو خبرو باور وکړي.

له همدې امله مهونفر له ما سره ملګرې شوه، کله چې یې د تي ئي جنازه د مومیایي

کولو لپاره د مرګ کور ته يوړه، نو بوډۍ ښځې ماته بلنه راکړه چې د هغې کوټې ته ورشم او شراب ورسره شراب وڅښم.

له دې کبله چې ما غوښتل له هغې څخه معلومات راغونډ کړم، نو د هغې بلنه مې ومنله، کوټې ته يې ورغلم، لږ شراب مې ورسره وڅښل، خو هغه مې هڅوله چې نور هم وڅښي.

کله چې نشه شوه ويې ويل، تي ئي د نارينه وو په انتخاب کې عجيبه سليقه درلوده، ځکه له دې سره سره چې د مصر ټول خلک ښکلي اندامونه، نازک او غنم رنګ پوستونه لري، د بدنه يې خوندور بوی ځي خو دې بيا هم ترې کرکه کوله.

نوموړې به د مصري خلکو پر ځای، مضبوط تورپوستي د ساعت تېري لپاره انتخابول او ويل به يې، د هغوی د بدن له تېز بويه او د ساعت تېري پر مهال د هغوی له تاوتريخوالي څخه خوند اخلي.

کله چې بوډۍ دغه خبرې کولې ماته را نژدې شوه، زما ولي او ټټر يې بوی کړل، خو ما له ځانه لېرې کړه، ومې ويل، اورېدلي مې دي، چې تي ئي يوه تکړه اوبدونکې وه، ښکلې ټوکرې يې اوبدلې.

ايا تا نه دي اورېدلي، چې هغې کله د شپې مهال دغه ټوکرۍ په سيند کې خوشې کړې وي.

بوډۍ وويل له دې کبله چې تي ئي مړه شوې، زه يې له خطره خلاصه يم او تاته ويلای شم، چې د پخواني فرعون په ژوند درې نوي زېږېدلي ماشومان د تي ئي په وسيله په ټوکريو کې کېښودل شول او ټوکرۍ يې په نيل سيند کې خوشې کړې.

تي ئي باور درلود کله، چې څوک دغه ټوکرۍ وګوري فکر کوي چې نوی زېږېدلی د بېوزلو د کورنۍ دی او له دې کبله چې د ماشوم مور و پلار د هغه د ساتلو توان نه درلود، نو هغه يې په ټوکرۍ کې اچولی او په نيل سيند کې يې خوشې کړی دی.

په دې وخت کې تي ئي د فرعون د ښځو نوي زېږېدلي ماشومان له هغوی څخه پټول، په ټوکرۍ کې يې اچول او په نيل کې به يې خوشې کول.

دا هغه وخت و، چې لا تي ئي د خدايانو له وېرې هلکان نه وژل، ځکه ډارېده چې د نوي زېږېدلي ماشوم په وينو يې لاس ککړ نه شي.

خو تر هغه وروسته چې آمي، تي ئي ته ورزده کړل، چې څنګه له زهرو کار واخلي، نو

هغې به هغه هلکان چې د پخواني فرعون ښځو زېږول په زهرو وژل.

خو کله چې د ميتاني د پاچا لور او د فرعون ښځې هلک وزېږاوه تې ئي لا له زهرو څخه د استفادې چل نه و زده کړی، نو هغه هلک يې هم په تو کرۍ کې کېښود او نيل سيند ته يې واچاو.

ما ورېل مهو نفر! ته پوهېږې چې زه ډېر بې تجربې يم، نو زما د غولولو لپاره دغه ډول خبرې کوې، ځکه ما اورېدلي، چې د ميتاني د پاچا لور او د پخواني فرعون ښځې زوی نه وزېږولی.

بوډۍ ښځې وويل، سينوهه! ته بې تجربې نه يې، بلکې ډېرې تجربې لرې او ستا سترګې شاهدي ورکوي، کله چې وايي تجربه نه لرم دروغ وايې.

که تې ئي ژوندۍ وای، ما دغه راز نه شو افشا کولای خو دا چې هغه مړه شوې ده، تا ته ويلای شم چې دا تې ئي وه، چې د ميتاني د پاچا لور يې پرې نه ښوده، چې د مصر د وليعهد مور شي.

ته خبر يې چې له پخوا څخه دود داسې و، چې د مصر فرعونيانو د ميتاني له سلطنتي کورنۍ څخه يو ښځه ټاکله او بلې خواته همدغې پاچاهي کورنۍ هم غوښتل چې خپله لور د مصر پاچا ته ورکړي.

دوی به نجونې په ماشومتوب کې له ميتاني څخه مصر ته استولې، چې د مصر په دربار کې لويې شي او فرعون وکړای شي، هغوی پخپلې خوښې لويې کړي او چې لويې شوې بيا د فرعون مېرمنې شي.

په دې وخت کې هم د ميتاني له درباره يوه نجلۍ مصر ته راغله او دلته په سلطنتي ماڼۍ کې اوسېدله، چې له پېغلتوبه وروسته د اخناتون مېرمن شي، خو ته به خبر نه يې چې هغه مړه شوه.

کله چې د ميتاني د پاچا لور او د پخواني فرعون مېرمن چې (تادو هپا) نومېده مصر ته راغله، دومره وړه وه، چې نانځکې يې لوبولې.

پخواني پاچا له دغې نجلۍ سره څو کاله نانځکې لوبولې دي مګر لويه شوه.

تې ئي ډېره هڅه وکړه چې پخواني فرعون دغه نجلۍ د نورو ښځو په شان خپله خور نه کړي، خو ددې کار مخه يې ونه شوه نيولی.

ځکه کله چې يو نارينه د يوې ښځې په څنګ کې ژوند وکړي او ددغې ښځې د بدن

غړي د هغه په مخکې وده وکړي، نو له هغې سره تفريح او ساعت تېري کولو ته داسې تړې کېږي، چې هېڅوک نه شي کولای هغه له دې هيلې څخه واړوي.

او که هغه سړی پوه شي چې دغه نجلۍ د هغه ښځه ده، حتماً به له هغې سره ساعت تېري وکړي.

له دې وروسته چې (تادو هپا) د فرعون حقيقي مېرمن شوه، نو امېندواره شوه.

له دې وروسته تې ئي پخپل ټول توان سره هڅه وکړه چې د ميتاني د پاچا لور دې ته وهڅوي چې خپل مّاشوم وغورځوي، خو په دې کار کې هم ناکامه شوه.

تي ئي د فرعون د نورو ښځو په اړه دغه کار کاوه او هغوی يې سقط جنين ته اړ کولې.

له دې کبله چې دغو مېرمنو لوېې کورنۍ نه درلودې، نو له تي ئي به وېرېدلې.

دوی به د هغې له ډاره خپل ماشومان سقط کړل او يا دا چې موافقه به يې کوله، چې تر زېږېدا وروسته که به ماشوم هلک و، نو تي ئي به هغه وړي او پر ځای به يې يوه نجلۍ ږدي او يا به دا اوازه ګډوي چې نجلۍ يې زېږولې او هغه هم مړه شوې ده.

خو د ميتاني د پاچا لور اصل او نصب درلود، لويه کورنۍ يې درلوده او په مصر کې يو شمېر سترو شخصيتونو چې خپل مقام او شتمني يې د هغې له امله بلل، ددې نجلۍ ملاتړ کاوه، هيله يې کوله چې د هغې زوی پيدا شي چې د مصر وليعهد شي.

په همدې وخت کې چې د ميتاني د پاچا لور امېندواره شوه، پر همدې مهال تي ئي هم امېندواره شوه، خو زه پوهېږم چې د هغې زوی له فرعون څخه نه، بلکې د آمي له زوزاده و.

کله چې تي ئي پوه شوه اميندواره شوې ده، نو هوډ يې وکړ، په هر ډول چې وي، بايد د ميتاني د پاچا نوزېږی ماشوم له منځه يوسي.

آمي چې د لمر په ښار کې اوسېده ددې کار لپاره يې طبس ته راوست او ټول نوکران يې په سرو او سپينو تطميع کړل او يا يې وګواښل او د ځان ملګري يې کړل (*د لمر ښار په پخواني مصر کې په پېنځو مشهورو ښارونو کې يو و او يونانيانو له دې وروسته چې د مصر تاريخ يې وليکه، دغه ښار يې هيلو پوليس وباله.*

هيلو په يوناني ژبه کې لمر او پوليس د ښار په مانا دی له همدې امله د لمر ښار په دېرو تاريخونو کې د هيلو پوليس په نامه هم يادېږي ژباړن)

کله چې د ميتاني د پاچا لور زوی، وزېږاوه د تي ئي ټول ملګري او نوکرانې، په دې پلمه چې د شهزادګۍ د درد د کمولو لپاره راغلي، ددې ښځې شا و خوا يې کلا بنده کړه.

ښځې زوی وزېږاوه، خو له دې وروسته چې په را په خود شوه او غوښتل يې خپل زوی وګوري يوه مړه نوې زېږېدلې نجلۍ يې ور وښودله او ويل يې داستا بچی ده.

خو زه پوهېدم چې د ميتاني د شهزادګۍ بچی زوی و او هغه يې پر همدې شپه په يوې ټوکرۍ کې کېښود او په نيل کې يې خوشې کړ.

و مې ويل مهونفر! ته له کومه ځايه خبره شوې، چې تي ئي له دې وروسته چې د ميتاني د مېرمنې شهزاده پيدا شي، هغه يې په ټوکرۍ کې کېښود او په نيل کې يې خوشې کړ؟

بوډۍ ښځې وويل، پر دې شپه زه پخپله د نيل په اوبو کې ګډه شوم او ټوکرۍ مې په اوبو کې کېښودله، ځکه چې تي ئي امېدواره وه، سيند ته نه شوای ورګډ ېدای.

که يې ټوکرۍ په ساحل کې نژدې په اوبو کې ايښې وای، نو په لوخو کې به ګېره شوې وه او لېرې به نه تله

له همدې امله يې ما ته وويل چې د سيند اوبو ته ورګډه شم او ټوکرۍ په داسې ځای کې کېږدم چې د اوبو له بهير سره مخامخ شي او اوبه يې يوسي.

کله چې ما دغه خبرې واورېدې، داسې غوسه راغله، چې را اوچت شوم او د شرابو جام مې پر ځمکې وويشت او تر پښو مې لاندې کړ.

مهو نفر چې زما غوسه وليده، زما لا س يې ونيو او کې يې نولم،

بيا يې وويل، ما په دې هڅله بل چا ته څه نه دي ويلي، خو له دې کبله چې ته مې خوښ شوې تا ته مې دغه کيسه وکړه.

د سلطنتي ماڼۍ په ټولو نوکرانو کې، تي ئي يوازې په ما اعتماد درلود، ځکه چې زما د تېر ژوند په رازونو خبره وه او پوهېده چې که زه ورسره خيانت وکړم، ما وژلی شي.

ما وليدل، هغه ټوکرۍ چې د ميتاني د شهزادګۍ زوی پکې اچول شوی و، تي ئي اوبدلې وه، چې هغه ماشوم يې په ټوکرۍ کې کېښود ژوندی و.

کله چې مې ټوکرۍ خوشې کړه او اوبو يوړه، نو ډېره هيله منه نه وم چې ګڼي هغه ماشوم دې ژوندی پاتې شي او کوم سړی يا ښځه دې دغه ټوکرۍ له سيند څخه واخلي او هغه ماشوم دې لوی کړي.

ځکه چې په نيل کې تمساح ګانې ډېرې دي او تمساح ګانې دغه ډول ماشوم ژوندی تېروي او يا غوښې خوړونکي مارغان دغه ماشوم خوري.

د میتاني شهزادګۍ چې په هوش راغله او ویې لیدل، چې یوه مړه نجلۍ یې د هغې په څنګ کې اچولې ده، ساندې یې پیل کړې او ویې ویل دغه نجلۍ زما لور نه ده، ځکه چې د هغې د بدن د پوستکي رنګ زما د بدن د رنګ په شان نه دی او نه یې سر ماته ورته دی.

هغې ښځې سمه خبره کوله، ځکه چې د میتاني شهزادګۍ، د خپلې سیمې د نورو ښځو په شان روښانه رنګ درلود، سر یې وړوکی او ښکلی و، او ماشوم یې هم غنم رنګ و.

شهزادګۍ په چیغو چیغو وویل، تي ئي او د هغې تورپوستو کوډګرو زما زوی، د کوډو په زور بدل کړی، خو تي ئي ویل، دغه ښځه له دې کبله لېونۍ شوې ده چې مړ ماشوم یې زېږولی دی.

فرعون د تي ئي خبره ومنله، خو له هغې ورځې وروسته د میتاني شهزادګۍ کمزورې او ناروغه شوه.

داسې ښکاري چې تي ئي هم هغې ته زهر ورکول، ځکه وېرېدله، چې بیا امیندواره نه شي او بیا زوی و نه زېږوي.

که څه هم تي ئي پخپله هم امیندواره وه، خو وېرېده، چې د پخواپه څېر بیا لور ونه زېږوي.

شهزادګۍ څو ځله هڅه وکړه، پر همدغه ناروغ بدن له ماڼۍ څخه وتښتي او ولاړه شي، چې خپل ماشوم پیدا کړي.

له همدې امله ټولو ومنله، چې د تي ئي خبره سمه ده او دغه ښځه لېونۍ شوې ده.

شهزادګۍ څه موده ناروغه وه، او وروسته مړه شوه.

کله چې بوډۍ خبرې کولې ما خپلو لاسونو ته کتل او لیدل مې، چې سپین دي او له دې وروسته چې د هغې خبرې خلاصې شوې، نو پوښتنه مې ترې وکړه، ایا د میتاني شهزادګۍ سپین رنګه وه؟

بوډۍ وویل، هو!

ومې ویل، مهونفر! ایا ماته دا ویلی شې، چې دغه پېښه کله رامنځته شوه، په کوم وخت کې دې دغه ماشوم په ټوکرۍ کېناوه او پر اوبو کې دې لاهو کړ؟

بوډۍ وویل، ستا په نظر ایا غوره نه ده، ددې پر ځای، چې په دې خبرو خپل وخت تېر کړو، راځه وڅښو او وخورو؟

ومې ویل، زه غواړم پوه شم، کله دغه ماشوم وزېږېد، کله مو هغه په ټوکرۍ کې

کېښنود او نيل ته مو وسپاره؟

بوډۍ وويل، دغه پېښه د ستر فرعون د پاچاهۍ، پر دوه ويشتم کال په مني کې هغه وخت وشوه چې نيل مست شوی و.

که ته راته ووايې چې زه څنګه له دې نېټې خبره يم؟

زه وايم، له دې امله دغه پېښه نه هېروم، چې اخناتون يانې اوسنی فرعون او د تې ئي زوی له دغه کاره څه موده وروسته وزېږېد.

بوډۍ دومره پوډر او رنګ موښلی و، چې پر مخ او شونډو يې د رنګ پنډوالی ليدل کېده.

هغه ماته رانژدې شوه او ويې ويل، سينوهه! تا وويل چې که زه او يوه ځوانه ښځه، د يوه نارينه په مخکې ودرېږو، نو هغه نارينه به ما د خپلې مېرمنې په توګه غوره کړي اوس وايم چې که ته وغواړې، زه به ستا ښځه شم!

خو زه په داسې فکرونو کې ډوب وم، چې هغې ته مې ځواب ورنه کړ او د ځان په هکله مې فکر کاوه.

څکه چې که د بوډۍ خبرې سمې وي، نو زه هماغه ماشوم يم، چې د ميتاني د شهزادګۍ له خېټې او د ستر فرعون له ملا څخه پيدا شوی يم

يانې د خدايانو له نسله يم، سلطنتي وينه زما په رګونو کې روانه ده، او د مصر د پاچاهۍ لپاره تر اخناتون ډېره وړتيا لرم، څکه چې هم د فرعون مشر اولاد يم او هم يې په يقيني توګه زوی يم.

په داسې حال کې چې اخناتون له ما وروسته زېږېدلی دی. او لکه چې بوډۍ وايي، د فرعون نه، بلکې د آمي زوی دی او د هغه د پلار په هکله شکونه شته دي.

په دې وخت کې پوه شوم، چې زه ولې په ځوانۍ کې منزوي وم، څکه چې د چا په رګونو کې چې د پاچاهۍ وينه وي، هغه يوازې وي او د يوه پاچا په شان به بل څوک يوازې نه وي.

په دې وخت کې پوه شوم چې ولې سره او سپين راته ارزښت نه لري؟ علت يې دا و، چې که څوک د خدايانو له نسله وي او د فرعون وينه يې په بدن کې بهېږي، لوړ همت لري او سرو او سپينو ته اهميت نه ورکوي

بوډۍ دومره خبرې وکړې او په کوټه کې ايخوا دېخوا ولاړه، چې زما د فکر کولو لړۍ وشکوله

هغې ته متوجه شوم او د دې لپاره چې پخپلو خبرو سره زما افکار پریشانه نه کړي، هغې ته مې وویل غوره ده، چې یو شی وڅښو.

لږ شراب مو وڅښل، بوډۍ یو ځل بیا خبرې پیل کړې او ویې ویل، که یې ته ومنې، نو ستا مېرمن به شم.

بالاخره د دې لپاره چې له ما څخه لاس پر سر شي، د هغې په شرابو کې مې لږ اپیم واچول چې له دې سره ویده شوه.

کله چې د تې ئې له مانۍ راووتم، ګورم چې د مانۍ نوکرانې، ما یو بل ته ورښیي او خاندي.

د دوی د خندا له کبله غوسه شوم، خو حیران نه شوم، ځکه چې تل ټیټ او ناپوه کسان، چې پخپله پرتم او حیثیت نه لري، له بخیلۍ څخه په معتبرو او مخورو کسانو پسې خاندي.

دوی فکر کوي چې په دې کار سره به خپل کمی او حقارت جبران کړي.

کله چې کورته ولاړم ومې لیدل چې مریت په کورکې زما په تمه ده، چې د فرعون د مور په هکله له ټولې کیسې خبره شي.

کورته چې ورننوتم، زما نوکرې موتي پر خپلې خولې لاس کېښود او د هغو کسانو په شان، چې ناڅاپه حیرانه شوي وي، په اشارې سره یې مریت ته زما سترګې ور وښودلې.

مریت هم، چې زه ولیدم حیرانه شوه او زما نوکرې ورته وویل، اوس به زما دا خبره منې، چې ویل مې ټول سړي یو شان دي او پر هېڅ سړي اعتماد نه شو کولای.

ماوویل، نن زما تر ټولو ستومانه کوونکې او بده ورځ وه.

له دې ورځې وروسته استراحت کولو ته اړتیا لرم، نو په دې خبرې بحث نه شم کولای، چې موتي د نارینه وو په هکله وکړه.

ناڅاپه د مریت مخ تک شین شو، منډه یې کړه او د سپینو زرو هنداره یې راکړه او ناره یې کړه:

سینوهه! زه تا ته نه وایم چې له نورو ښځو سره له ساعت تېرې لاس واخله، ځکه هغه ښځه چې کوم سړي ته دغه ډول سپارښتنه کوي کم عقله ده.

ځکه کله چې یو نارینه د دې فرصت او امکانات ولري، چې له یوې ځوانې او ښکلې ښځې سره تفریح وکړي، نو نا ممکنه ده چې ځان له دې خوشحالۍ څخه محروم کړي.

خو له نورو ښځو سره داسې تفریح وکړه، چې زه پرې خبره نه شم او روح مې داغي نه شي.

ته چې وايې نن ستا د عمر ستومانه کوونکې ورځ وه، خپلې خېرې ته یو ځل وګوره، چې پوه شې ستا د درواغو نښه څنګه ستا په څېرې کې له ورایه ښکاري؟

کله چې ما د سپینو زرو په هنداره کې خپل مخ ولید، زه هم د ښځو غوندې حیران شوم، ځکه و مې لیدل چې مخ مې داسې سور شوی، ته به وايې انځورګر رنګ کړی دی.

د مخ ښي او کیڼ لوري، پر زنې او غاړې مې د بې حیا بوډۍ یانې مهو نفر د شونډو نښې په ارغواني رنګ له ورایه ښکارېدې.

له دې کبله چې هغې ښځې زما پر مخ پورې خپل مخ موښلی و، داسې ښکارېدل، چې یو رنګمال په ګچ او رنګونو، زما مخ سور او سپین رنګ کړی وي.

و مې غوښتل د سپینو زرو هینداره لېرې کړم، خو مریت مې هینداره له لاسه واخیسته او زما مخ ته یې ونیوله چې له هغې سره د بې وفايي ښکاره نښه وګورم.

کله چې مې مخ ووینځه او پاک شو، مریت ته مې وویل، فکر کوم تا لویه تېروتنه کړې ده، ځکه چې خیال کوې ما له هغې ښځې سره ساعت تېر کړی دی، نو باید توضیح ورکړم...

مریت وویل، زه توضیح ورکولو ته اړتیا نه لرم او تا چې له ما سره بې وفايي کړې نه غواړم چې په درغو سره خپله خوله چټله کړې.

په دې ډول مسلو کې هېڅ شک نه پیدا کېږي، ځکه چې ستا د مخ رنګونه دا ښيي چې تا له نورو ښځو او احتمالاً د فرعون د مور په ماڼۍ کې له ښځو سره ساعت تېری کړی دی.

زه په دې خواشینې یم، چې تا داسې هېره کړې وم، چې په یاد دې نه و، زه په کور کې ستا د راتلو په تمه یم، ګنې مخ به دې وینځلی و.

بله دا چې تا ښایي له دې امله مخ نه وي وینځلی، چې زه د فرعون د مور په ماڼۍ کې له ښځو سره ستا د ساعت تېري نښه وګورم او په دې پوه شم، چې ښځې تا ته دومره لېواله وي چې کله دې وګوري بې واکه شي او بې له ځنډه ستا په غېږ کې ځان اچوي.

یا داسې مست شوی یې، چې هېر شوي دې دي، چې د فرعون د مور په ماڼۍ کې له ښځو سره له ساعت تېري وروسته خپل مخ ووینځې!

په داسې حال چې مریت رټلم زما نوکری داسې او ښکې تویولې، چې ته وا کومې ښځې ته د خپل مېړه خیانت ور معلوم شوی وي او تولو نارینه و ته یې ښېراوې کولې.

زه پوه شوم چې د مریت قانع کول او ارامول له خپله ځانه د مهو نفر تر لېږې کولو سخت کار دی، ځکه ما په شرابو کې د اپیمو په اچولو سره مهو نفر ویده کړه او مریت مې نه شوه ارامولای.

بالاخره مې هغې ته وویل، مریت! ته له یوې مودې راهیسې ما پېژنې او زموږ ملګرتیا له هغه وخته پیل شوه، چې لا د افق ښار ته نه وم تللی.

کله چې له هغه ځایه طبس ته ستون شوم تا ته راغلم او د غه اوږده ملګرتیا باید پر ما ستا له اعتماد سره یو ځای وي.

ځکه کله چې یوې مېرمنې له اوږدې ملګرتیا او مینې څخه یو نارینه نه وي پېژندلی نو بیا به یې هېڅکله و نه پېژني.

خو دا چې زما مخ په رنګ سور شوی دی، علت یې زما په یوه ستر راز کې دی او که دغه راز یوازې زما په اړه وای اوس به مې درته افشا کړی و، خو دغه راز په سلطنتي ماڼۍ پورې هم اړوند دی، نو باید افشا نه شي او غوره دا ده چې ته له دې رازه خبره نه شې.

مریت زما په خواب کې دغو مبسې د لشې په شان په سرې او تېزې ژبې وویل: سینوهه! زه منم چې ته پوه سړی یې او کله چې یو پوه سړی له یوې یا څو مېرمنو سره تفریح کوي، باید د هغو راز وساتي.

ځکه ډېرې ښځې کله چې یو نوی سړی په غېږ کې نیسي، نه غواړي چې نور پوه شي، چې هغوی نوی عاشق پیدا کړی دی.

د ځوانو او ښکلو مېرمنو د رازونو ساتل د ځوانمردۍ او امانت دارۍ نښه ده.

ما فکر کاوه، چې ستا د روح په ژورو پوه شوی یم خو اوس پوهېږم چې ډېره لویه تېروتنه مې کړې او ستا په روح کې ډېر دالانونه او کنجونه شته، چې تیاره دي او څوک پرې نه پوهېږي، چې په هغو کې څه دي؟

خوشحاله په دې یم، چې له تا سره مې منګی نه دی مات کړی او خپله ازادي مې له لاسه نه ده ورکړې.

زه ډېره ساده وم، چې ویل به دې له تا پرته بله کومه ښځه راباندې ګرانه نه ده.

ما باور کاوه او حتماً دې د فرعون د مور په ماڼۍ کې همدا خبرې د نورو ښځو په غوږونو کې هم زمزمه کړې دي.

ما غوښتل مریت دلاسا کړم، چې په دې ډول د هغې خپګان کم کړم، خو هغې نارې

کړي، ماته مه رانژدې کېږه، ځکه چې ته ښن داسې ستړی شوی يې، چې باید څلرويشت ساعته ويده شې او تر هغه وخته چې د تې ئي د ماڼۍ ځوانې ښځې وي، زه درته ارزښت نه لرم.

د هغې هره خبره د هغو غشو په شان، چې په دارالحیات کې د جراحۍ لپاره کارول کېږي، زما په زړه کې ننوتله.

له دې وروسته چې مریت هرڅه چې يې غوښتل وويل، زما زړه يې زخمي کړ او له کوره ولاړه.

که د فرعون د مور په کورکې د هغې ورځې له خبرو اندېښمن نه وای، نو د مریت تر خبرو، د هغې په تګ ډېر خپه کېدم.

خو له دې کبله چې ټول فکر مې، هغو خبرو ته متوجه و، چې په دې ورځ مې اورېدلې وې، نو کله چې مریت وغوښتل ولاړه شي، ما د هغې مخه ونه نیوله او باوري یم، چې هغه به هم له دې امله حیرانه شوې وي.

پر دې شپه خوب نه را ته، ټوله شپه مې پر هغو شیانو فکر کاوه، چې د فرعون د مور په ماڼۍ کې مې اورېدلي ول.

تر هغه چې د شرابو نشه مې په سر کې وه، ددې پېښې حیرانوونکی اړخ راته مهم نه و، خو کله چې مې نشه له سره والوته، په داسې حال کې چې د اوبو د ترازو څاڅکو(د اوبو ساعت)ته مې غوږ نیولی، د فکرونو پر سمندر لاهو شوم، ځان راته غمجن او اندېښمن ښکاره شو.

له ځان سره مې وویل، سینوهه ! ته په یوې محرومې پرګنې او نړۍ کې پیدا شوې او په لومړیو شېبو کې چې دې نړۍ دې سترګې رڼې کړې، ته يې د مصر له سلطنته لېرې کړې او په یوې ټوکرۍ کې يې د نیل سیند ته ور واچولې.

بیا یوې ښځې چې د بېوزلو د ډاکټر مېرمن وه، د نیل له سینده څخه را ونیولې او له دې کبله چې زوی يې نه درلود، ته يې خپل زوی وبللې او لوی يې کړې.

ښوونځي ته يې واستولې چې لیک لوست زده کړې، له دې سره سره، چې د غه ډاکټر ډېر بېوزله و، ته يې د آمون معبد ته واستولې، چې په دارالحیات کې زده کړې وکړې او ډاکټر شې.

خو ددې پر ځای چې دې مېره او ښځې ته انعام ورکړې، د یوې حریصې ښځې لپاره دې

داسې خوار کړل، چې له خپله وخته مخکې مړه شول او مړي يې بې قبره پاتې شول.

بيا د مينا په نوم پر يوې ښځې مين شوې او له هغې سره کرت ته ولاړې، د کرت د خداى کور ته ورننوتې او ودې ليدل، چې د کرت خداى، يو لوى سمندري مار دى، چې مړ شوى دى.

خو مينا يې د هغه لپاره قرباني کړې وه او ودې ليدل چې د مينا مړى، ساحل ته نژدې په سمندر کې پروت و او سمندري چنګابښانو پرې حمله کړې ده.

بيا مصر ته راستون شوې او د دو خدايانو جنګ دې وليد.

له طبسه د افق ښار ته ولاړې، بيا څو کاله هلته پاتې شوې، چې د سر وېښتان دې توى شول، سر دې ګنجى شو، د اندام تناسب دې له منځه ولاړ او دافق د ښار خوندورو خوړو چاغ کړې.

نن له ډېرو کلونو وروسته درته معلومه شوه، چې ولې منزوي يې او د يوازېتوب احساس دې کاوه او ولې دې نه غوښتل چې د شتمنو په شان د عيش او عشرت محفلونه ولرې.

تر دې چې ډېرو ملګرو به دې ويل، سينوه ابن الحمار يوازې او ګوشه ګير دى، خو دغه ټولې خبرې د خدايانو او ستورو له لوري ستا په تقدير کې ليکل شوې وې، تا نه شوى بدلولاى او بايد همداسې شوي واى.

خو ايا اوس دا ثابتولاى شې، چې ته د ستر فرعون زوى يې او د ميتاني د شهزادګۍ له خېټې پيدا شوى يې؟

ددې خبرې ثابتول، چې ته يې د نيل له سينده رانيولى يې سخت کار نه دى، ځکه کله چې ته لوى شوې، نو ناسکه پلار دې دغه خبره تاته کړې ده او نورو کسانو چې ځينې يې اوس هم ژوندي دي، ستا له ناسکه پلاره دغه خبره اورېدلې ده او شهادت هم ورکولاى شي، خو څه ډول ثابتولاى شې چې ته د ستر فرعون زوى يې.

له هغه وخته چې د مصر ښوزله خلک عادت شوي چې خپل ماشومان نيل ته واچوي، هره شپه څو ماشومان نيل ته اچول کېږي. ځينې يې د تمساحګانو خوراک شي او ځينې وژغورل شي، خو دغه موضوع ددې دليل نه شي کېداى، چې ته د فرعون زوى يې.

او په توکرۍ کې د مرغبازانو غوټه دا خبره نه شي ثابتولاى، ځکه چې دغه موضوع په مصر کې ډېره عامه شوې او ښايي د کوز مصر ډېر توکرۍ اوبدونکي، توکريو ته دغه ډول

غوټې ورکړي.

ان ستا د بدن سپین رنګ، ددې دلیل نه شي کېدای، چې ته د میتاني د شهزادګۍ له خېټې پیدا شوی یې، ځکه سریاني او میتاني سپیم رنګه مېرمنې په مصر کې ډېرې دي او داسې هم نه ده چې سپین پوستې ښځې د یوه کس لپاره ځانګړې شوې وي.

په دغو فکرونو سره مې شپه سبا کړه او تر هغه همدا فکر راسره و، چې لمر راوخوت او هوا روښانه شوه.

د ورځې په روښنایي کې ددې لپاره چې د وهمونو او خیالونو پردې لېرې کېږي، دا خبره نوره هم راته ثابته شوه، چې زه داسې دلیل نه لرم چې ثابته کړم، دفرعون زوی یم او د میتاني د شهزادګۍ له خېټې پیدا شوی یم.

سهار مې ځان ووینځه، کتان جامې مې واغوستې، موتي راته تروه کبان او د اوربشو اوبه راوړې، ومې لیدل چې بیا هم ژاړي او سترګې یې سرې شوې دي.

له دې وروسته چې کبان مې وخوړل او د اوربشو اوبه مې وڅښلې، نو پر روان تخت کېناستم، د دارالحیات پر لور روان شوم، چې ناروغان معاینه کړم.

هلته څوک نه ول، چې سر یې سوری کړم. بیرته را ستون شوم او د آمون له پخواني معبد سره تېر شوم چې دامهال خالي و، هلته مې و لیدل چې د معبد پر زاړه بام څو دانې چاغ چاغ کارغان ګرځي او چیغې وهي.

زما په مخکې یوه توتکۍ تېره شوه او د آتون د معبد پر لور ولاړه.

زه هم ددغه معبد پر لور روان شوم، خلکو د نوي خدای، په معبد کې مذهبي سندرې ویلې، خدای ته یې مېوې، غنم او د سپاندو لوګي ډالۍ کول.

ما ولیدل چې څو تنه مصریان د آتون په معبد کې دي او د سندرو د ویلو په وخت کې لا سونه پورته پورته کوي چې آتون ولمانځي.

هر چا چې لیدل تصور یې کاوه، چې ټول د آتون پیروان دي، خو په حقیقت کې داسې نه ول.

زه پوهېدم چې طبس یو لوی ښار دی او تل یوه ډله مسافر د کشتیو په وسیله او یا د وچې له لارې دې ښار ته راځي، غواړي چې د آتون معبد وګوري او د نوي خدای د کاهنانو سیل وکړي.

په داسې حال کې چې کاهنان د سندرو په ویلو بوخت ول، ما د ستنو له پاسه د مصر د فرعون اخناتون مجسمو ته کتل، لیدل مې چې سترګې یې له ډېره شوق او جذبې څخه

ترهېدلې ښکاري او دغه مجسمې د مصر د نويو هنري آثارو يوه برخه وه.

مجسمه جوړونکي په دغو مجسمو کې د هنر پخوانيو اصولو ته پام نه دی کړی، خو پخوانۍ مجسمې يانې د اخناتون له دورې مخکې مجسمې يې په پخوانيو اصولو جوړې کړې وې، نو انسان په يوه نظر د هرې مجسمې خاوند پېژندلی شو.

په دې کې د ستر فرعون امنوفيس مجسمې د خلکو ډېر پام ورجلباوه او هر چا چې ليده پوهېده، چې خوار او بوډا شوی دی، د مصر د سلطنت تاج يې پر سر دروند ښکارېده او تر څنګ يې د مصر ملکه تي ئي ناسته ده.

د پخواني مصر د کورنۍ د غړيو په مجسمو کې د ميتاني د شهزادګۍ تادو-هپا مجسمه هم ليدل کېده، چې د پخواني خدای امون لپاره د قربانۍ په حال کې ده.

خو د مجسمې په څنګ کې کتيبه يا ډبرليک يې داسې اصلاح کړی و، چې د ميتاني شهزادګۍ د نوي خدای لپاره قرباني کوي.

دا په داسې حال کې وه، چې د نوموړې شهزادګۍ د ژوند پر مهال نوي خداي آتون لا پر مصر حکومت نه کاوه، چې څوک ورته قرباني وکړي.

له دې کبله چې پخوانيو مجسمه جوړونکو د لرغوني هنر د اصولو په اساس، علاقه درلوده چې هره مجسمه د هغې اصلي خاوند ته ورته جوړه کړي او د ميتاني د شهزادګۍ مجسمه يې هغې ته داسې ورته جوړه کړې وه، چې ليدونکی يې د اندامونو او څېرې په جزياتو هم پوهاوه.

زه د هغې ښکلا حيران کړم او څومره چې مې ورته کتل، دا راته ښه ثابتېدله چې دا له هغو ټولو ښکلو مېرمنو څخه ښکلې ده چې تر دې مهاله ماليدلې دي او ان له مينا او نفر نفر نفر څخه هم ښکلې ده.

هرځلې چې راپه زړه شي، چې زه د هغې ښکلې او تاندې شهزادګۍ زوی يم او تي ئي د زهرو په وسيله وژلې او يا له ډېره غمه مړه شوې ده، روح به مې سخت غمجنېده.

د هغې څېرې او اندام دومره لېواله کړم، چې نه مې غوښتل ستر ګې ترې واړوم.

کله به يوې توتکۍ زما پر سر الوت وکړ او ناري به يې کړې، دې کړيکې د مور يوازيتوب او مسافرۍ را په زړه کوله، چې له ميتاني څخه مصر ته راغلې وه او دلته د تي ئي د کينې او جنايتونو په لومه کې ګېر شوه.

له دې سره به ماته ژړا راغله.

کله به مې له ځان سره ویل څه ډول ممکنه ده، چې زما په شان یو سړی، چې سر مې ګنجی شوی، بدن مې چاغ شوی او مخ مې ګونځې کړې، دداسې یوې ښکلې او ځوانې شهزادګۍ زوی وي؟

بیا به مې فکر کاوه، چې که مې مور ژوندۍ وای، اوس به تر ما ډېره بوډۍ وه، ځکه چې وخت هرڅوک بدلوي او له ځوانۍ څخه یې بوډاتوب ته رسوي.

ما خپله مور نه وه لیدلې او باور مې هم نه کاوه، چې زما په مخکې مجسمه به زما د مور وي، خو د مور فکر د هغې زېږنځای یانې د میتاني هېواد ته متوجه کړم.

ما دغه هېواد هغه وخت، چې له مصره د باندې وم لیدلی و او په دې کتاب کې مې هم لیکلي دي.

له دې سره د میتاني ښکلي کورنه رایادشول.

په هغه وخت کې زه نه پوهېدم، چې د میتاني هېواد یوه شهزادګۍ دې زما مور وي او که په دې خبرې پوهېدای، نو د میتاني هېواد منظره به بل ډول راته ښکارېده.

زه تر هغو شپېو پورې د نومورې شهزادګۍ د مجسمې پر ننداره بوخت وم، چې د آمون له معبده یې د پخواني فرعون د وخت مجسمې د آتون معبد ته راوړې وې.

بیا له دې کبله چې ورځ تېرېده، د تمساح لکۍ، د میخانې پر لور روان شوم، چې هلته له مریت سره پخلا شم.

خو مریت د یوه عادي مشتري په سترګه را ته وکتل او له دې پرته چې له ما سره خبرې وکړې، خواړه او شراب یې راته راوړل.

د ډوډۍ تر خوراک ورسته رانژدې شوه او ویې ویل ایا نن دې خپله معشوقه ولیدله؟

ومې ویل، زه له مریت پرته بله معشوقه نه لرم او نن ښځو ته نه یم تللی.

له کوره چې را ووتم دارالحیات ته ولاړم، بیا د آتون معبد ته ولاړم او تر ډېره وخته هلته وم.

مریت د ملنډو په موسکا سره زما خبرې اورېدې او بیا یې وویل: زه پوهېدم، چې نن ښځو ته نه یې ورغلی، ځکه چې ستا په شان سړی، چې د سر وېښتان یې توی شوي او چاغ شوی دی نه شي کولای چې له پروني ساعت تېرې وروسته نن بیا له ښځو سره تفریح وکړي.

خو ستا معشوقه د خپل مین له لېرېوالي داسې بې قراره شوې وه چې دلته راغله او غوښتل یې تا ووینې.

زه د دې خبرې په اورېدو سره هک پک پاتې شوم او ومې ویل، مریت دا څه وایې، زما

معشوقه څوک ده او څوک دلته راغلې ده؟

مریت د ملنډو موسکا وکړه او ویې ویل، نن ستا معشوقه په داسې حال کې، چې ځان یې د یوې پېغلې په شان سینګار کړی و، دلته راغله او ما چې کله د هغې مخ ولید حیرانه شوم، ځکه چې ومې لیدل مخ یې داسې سور او سپین کړی و، چې که مې ګوته پرې وهلې وای نو په رنګونو کې به ننوتلې وای.

کله چې یوه بوډۍ او چاغه ښځه، ځان سینګاروي، خلک وېروي او د میخانې مشتریان یې پر کتو هک پک شول.

هغې چې کله ستا نوم واخیست او ته یې ونه موندلې نو دغه لیک یې ماته راکړ، چې تا ته یې وسپارم.

مریت یو لیک راته راکړ، چې پر یوه لرګي تاوو شوی و.

ما پاپیروس (مصري کاغذ.ژباړن)خلاص کړ، په داسې حال کې چې له کرکې مې وینې په رګونو کې اېشېدلې، لیک مې ولوست او داسې پکې لیکل شوي ول:

د زرینې سلطنتي ماڼۍ د اوسېدونکې مهو نفر له لوري سینوهه ته! زما ښکلیه خوسکیه! کله چې نن له خوبه راپاڅېدم سر مې درد کاوه، خو روح مې تر سر ډېر خوږېده، ځکه چې کتل مې ته زما په څنګ کې نه وې او زه ستا د عطرو خوږ وږم نه احساسوم.

کاشکې زه ګوډه وای، چې تل ستا په څنګ کې وای، کاشکې زه عطر وای، چې ستا پر بدن پاتې کېدای شوای او کاشکې زه شراب وای، چې تل ستا په خوله کې وای.

سینوهه! زه کوڅه پر کوڅه او کور پر کور په تا پسې وګرځېدم او تر هغه به نه غلې کېږم چې تا پیدا نه کړم، ځکه چې جسم مې تا ته اړتیا لري او له تا پرته یوه شېبه هم ارامه نه یم.

ته ولې زما کور ته نه راځې او له ما سره تفریح نه کوې.

زه پوهېږم ته ډېر شرمناک یې او که شرمېږې نو، په دې پوه شه، چې د سلطنتي ماڼۍ ټول کارکوونکي اوس پوهېږي چې پر ما ګران یې او ټول غواړي چې ته ماڼۍ ته راشې ،چې زه ستا په لیدو خوشحاله شم.

سینوهه! دغه لیک چې دې تر لاسه کړ، سمدستي زما لور ته راشه او که رانه شې نو زه به توتکۍ شم او ستا خواته به درشم، تر هغه به دې لټوم چې پیدا دې کړم .

د هغه چا له لوري چې غواړي ته یې وروړشې (مهونفر).
دغه لیک مې ولوست، خو د هرې جملې له لوستو سره یې کرکه راتله. دغې کرکې لېونی کړم، نه پوهېدم څه ووایم.
مریت ناڅاپه پاپیروس راخخه وتښتاوه، لړګی یې مات کړ، پاپیروس یې وشکاوه، تر پښو یې لاندې کړ او ویې ویل:
سینوهه! که دغه ښځه ښکلې او ځوانه وای، ما به ځان قانع کولای شو، چې تر ما یې ښکلې او ځوانه ښځه پیدا کړې، ځکه یې هغه تر ما غوره بللې ده.
خو دغه ښځه دومره بدرنګې ده، که بېزوګان یې هم وګوري، ترې وبرېږي او تښتي.
تا څه ډول وکړای شول له دې ښځې سره اړیکې ولرې او ایا سلطنتي مانۍ ستا عقل له سره لېرې کړ؟
دا خبره ماته د منلو وړ نه برېښي، ځکه چې ته د فرعون ډاکټر یې او تل په سلطنتي مانۍ کې او سېدلی یې او د یوې سلطنتي مانۍ لیدل ستا لپاره څه نوې خبره نه ده چې ځان ورک کړې.
ما له ډېرې بې وسۍ او غوسې خپلې د کتان جامې وشکولې او ومې ویل، مریت! کله چې زه په سلطنتي مانۍ کې وم، د تي ئي د معالجې لپاره وغوښتل شوم، خو زما ورتګ ګټه ونه کړه، ځکه چې هغه د مار له زهرو مړه شوې وه.
وروسته زه مجبوره شوم، چې د نورو معلوماتو په هیله، چې زما لپاره یې اهمیت درلود، دغې بوډۍ ته چاپلوسي وکړم، خو له بده مرغه دې ښځې هم خیال کړی، چې زما چاپلوسي له مینې وه او زه ورته لېوال شوی یم.
په داسې حال کې چې زه له دې ښځې څخه کرکه کوم، خو پوهېږم چې هغه به مې خوشې نه کړي او پخپل لیک کې یې لیکلي، چې د توتکۍ ځېر به په ما پسې راشي.
اوس باید ته ولاړه شې او زما پارو وهونکو ته ووایې، چې ډېر ژر حرکت ته چمتو شي، چې له طبسه ووځم، ځکه که په طبس کې پاتې شم دغه ښځه به ما پرې نه ږدي.
زه له دې امله اندېښمن یم چې کومه ورځ له دې ښځې سره تماس پیدا نه کړم، او له دغې ښځې سره تر اړیکې دا غوره بولم چې د مړیو په کور کې له مړیو سره تماس ولرم.
مریت د زور خندا وکړه او ویې ویل، زه پوهېږم چې تا له دې ښځې څخه څه ډول معلومات غوښتل، ځکه چې دغه ښځه تر ما درې برابره بوډۍ ده او په همدې اندازه د

ساعت تېریو او تفریح په اړه ډېر معلومات لري.

ته په دې پوهېږې، چې له یوې ښځې سره چې په تفریح کولو کې تر ما درې برابره زیاته تجربه لري ساعت تېری څومره خوند لري؟

ماوویل مریت! داسې نه ده، ته تېروتنه کوې، ما نه غوښتل له دې ښځې سره تفریح وکړم.

ما له دې امله هغې ته چاپلوسي وکړه، چې مجبور وم، له هغې څخه معلومات ترلاسه کړم، خو زه دلته دا خبرې نه شم کولای ځکه دا میخانه ده.

نو ښه دا ده چې راځه کور ته ولاړ شو، چې زه دغه راز درته ووایم، چې ته پوه شې ما له دغې چاغې او زړې ښځې سره د تفریح کولو هېڅ نیت نه درلود.

مریت په لېوالتیا سره زما په روان تخت کې کېناستله او روان شو. کور ته چې ورسېدو، هلته ما د خپلې زوکړې راز او هغه څه چې ناسکه مور و پلار راته ویلي و، هغې ته وویل.

بیا مې وویل چې څه ډول زما مور و پلار زما سپین پوست ته حیرانېدل، چې ولې زما پوستکی د مصر د خلکو په پرتله ډېر سپین دی.

دوی به ویل چې بې له شکه ستا مور و پلار او یا یو پکې سپین پوستی ول.

بیا مې له تي ئي سره د خپل لومړني تماس په هکله وویل. چې څه ډول هغه د پوزي په اوبدلو کې د ښکاریانو غوټه کاروي.

ومې ویل، هغې تېوکړه چې زه پکې اچول شوی او په نیل کې خوشې شوی وم، د ښکاریانو او مرغبازانو غوټې درلودې او دې خبرې زه له فکرونو سره مخامخ کړی وم.

بیا مې هغه معلومات ورته بیان کړل، چې له مهونفره مې اورېدلي ول او زیاته مې کړه، څو قوي شواهد شته، چې زه یې له مخې د پخواني فرعون زوی یم او د میتاني د شهزادګۍ له خېټې پیدا شوی یم، خو یقین نه لرم چې د فرعون او د میتاني د شهزادګۍ زوی به یم.

کله چې مریت زما دغه خبرې واورېدې ناڅاپه، د هغې شکونه ختم شول او نور یې پر ما ملنډې و نه وهلې.

نور د هغې پر شونډو باندې د ملنډو موسکا زه و نه ځورولم او په خېرتیا یې راته وکتل او ویې ویل سینوهه! له اولې ورځې چې د تمساح لکۍ میخانې ته راغلې او ما ولیدې، پوه شوم چې ته له نورو سړیو سره توپیر لرې.

ته مې حیاناک، متفکر او منزوي سړی ولیدې او هر ځل چې مې غوښتل له تا سره منګی مات کړم او تا خپل ورور کړم، پوه به شوم چې زه د دې وړتیا نه لرم چې ستا خور شم.
سینوهه زه هم یو راز لرم چې په وروستیو ورځو کې مې څو څو ځله غوښتل تا ته ووایم، خو اوس د خدایانو شکر ادا کوم چې ددې مخه یې ونیوله چې زه خپل راز تا ته ووایم. ځکه هغه راز چې له خولې ووت بیا د اد نشته چې پټ پاتې شي.
خو سینوهه! همغه ډول چې پخپله دې وویل، ددې موضوع د ثابتولو لپاره کومه وسیله نه لرې او غوره داده چې خپل راز هېر کړې.
زه به یې هم هېر کړم او داسې فکر وکړه، چې د غه منظرې او پېښې دې په خوب کې کتلې دي، په تیره بیا دا چې د عمر په پای کې انسان یوازې خوب او خیال دی.
ته داسې سړی یې چې ټولې دنیا ته دې سفر کړی، د بابل، هاتي، میتاني او کرت هېوادونه دې کتلي دي او د طبابت له پیله تر اوسه دې په سلګونو نارو غان عملیات کړي، یا دې سرونه ور سوری کړي.
نو ایا له ټولو هغو منظرو څخه چې تا په سفرونو کې کتلي او له هغو ټولو معالجو څخه، چې تا کړې ، له خیالونو او خاطرو پرته چې له خوبونو سره یې توپیر هم نشته بل څه په لاس کې لرې؟
ومې ویل نه!
مریت وویل، ټول خلک په ژوند کې ستا په شان دي او د هغو د ژوند د ټولو خاطرو او پېښو ټولګه د خوبونو د منظرو په څېر له خیالاتو سره یو شان ده.
ځینې کسان د شتمنی د ټولولو له مخې په دې فکر کې دي چې له خپله ژونده یې ښه ګټه اخیستې ده.
دوی ټول عمر سره او سپین ټول کړي او هغه یې د کورونو او ځمکې پر اخیستو لګولي دي
دوی پر ځان ویاړي چې د ژوند ثمره یې خوب و خیال نه دی، بلکې سره او سپین ،ځمکې، کورونه، مالونه ،پټي او دکانونه دي.
څو سوه کاله د آمون د معبد کاهنانو همدغه کار وکړ او دومره سره سپین، کورونه او پټي یې یوځای کړل، چې تصور یې کاوه د عمر تر پایه پورې به شتمن او بې نیازه وي.
خو په یوې ورځ کې د مصر خدای بدل شو او نوي خدای امر وکړ چې د آمون د کاهنانو ټولې ځمکې، سره و سپین ،کورونه ،او دکانونه له هغوی څخه و اخیستل شي او هغوی

هم، ناڅاپه متوجه شول، چې د کلونو کلونو محصول او ګټه یې یوازې خوب او خیال دی.

و مې ویل مریت دا لومړی ځل دی چې له تا داسې څه اورم چې له تا څخه مې د اورېدو تمه نه کېدله

مریت وویل، له دې کبله چې تر اوسه مې ته نه وې لیدلی، چې د یوې لویې پېښې له کبله دلاسې ته اړتیا ولرې.

تر اوسه دا اړتیا نه وه، چې له تا سره داسې خبرې وکړم. خو نن پوهه شوم، چې ممکن ته پر هغې موضوع ځان بدبخته کړې چې د پوهېدا له امله یې فکر کوې ستر راز دې موندلی دی.

ممکنه ده شپه او ورځ سر پر دوولاسونو ونیسې او غمجن شې، چې ولې دا خبره نه شې ثابتولی، چې ته د فرعون زوی یې، له همدې امله مې دغه خبره درته وکړه، چې په راتلونکي کې ځان اند ښمن نه کړې.

بیا مریت خپلې شونډې زما پر لاسونو کېښودلې او ویې ویل سینوهه! ما وبښه چې پرون او نن مې وځورولې، ځکه چې زه یوه ښځه یم.

کله چې یوه ښځه وګوري چې د هغې د خوښې د سړي مخ د بلې ښځې په سینګار ککړ شوی وي او بیا پرې هم پوه شي چې نومړې ښځې ورته عاشقانه لیک استولی، نو خپله کینه او حسد نه شي پټولی او حسادت داسې پرې برلاسه کېږي، چې څرګند شیان هم د هغې له سترګو پټوي.

ومې ویل مریت تا وویل چې کوم راز لرې او غوښتل دې ماته یې ووایې دا کوم راز دی؟

مریت وویل، ښایي داسې ورځ راشي چې هغه راز درته ووایم، خو اوس یې د ویلو وخت نه دی.

اوس ته باید ددغې ښځې له شره خلاص شې، کله چې دغه ډول بوډۍ او شهوتي مېرمنې د یوه سړي چاپلوسي ووینې، فکر کوي چې دغه سړی پرې مین شوی دی.

دوی چې بیا وروسته وګوري، چې سړی یې په اړه بې پروا دی، نو دا ورته د سړي خیانت ښکاري.

یانې فکر کوي چې لومړی سړی پرې مین شوی، خو بیا یې وروسته بله ښځه موندلې او له هغې سره یې خیانت کړی دی.

زه باوري یم، چې که ته په طبس کې پاتې شې، هغه ښځه به دې پرې نه ږدي.

هر ډول چې وي تا به اړ کړي چې ورسره تفریح وکړې او تر هغه بله بده خبره دا چې له هغې سره منګی مات کړې.

نو له دې ځایه ولاړ شه او تر تګ مخکې ورته ولیکه، چې هغه ناهیلې شي، ګني په تا پسې به درشي، ممکنه ده په بابل کې هم تا تعقیب کړي چې ستا وصال ته ورسېږي.

ځکه څومره چې انسان زړېږي دوه حرص پکې وده کوي، یو (که ښځه وي) له نارینه څخه د تمې حرص او (که سړی وي) له ښځې څخه د تمې حرص او بل د شتمنۍ د ټولولو حرص پکې زیاتېږي.

دا چې ته داسې نه یې، دا ځکه چې ښایي د خدایانو وینه ستا په رګونو کې روانه وي او د فرعون زوی یې، نو ته یو استثنایي موجود یې، خو نور چې څومره زړېږي دغه دوه حرصونه پکې ډېرېږي.

متوجه شوم چې مریت د هوښیارۍ خبره کوي او که زه په طبس کې پاتې شم دغه ښځه به مې پرې نږدي.

موتي ته مې وویل، زما د سفر وسایل راوړه او یو مریی مې واستاوه، چې زما پارو وهونکي له میخانو او عمومي ځایونو را وبولي.

ما نه غوښتل چې مهو نفر سپکه کړم، نو ځکه مې په پاپیروس کاغذ باندې هغې ته یو مودبانه لیک ولیکه چې مضمون یې په دې ډول و.

د سلطنتي کوپړۍ سوري کوونکي سینوهه له لوري، په طبس کې د سلطنتي زرین باغ او سپدونکې مهو نفر ته!

مهو نفر ډېر خواشینی یم، چې پر هغې ورځ زما څرګندونې ددې سبب شوې، چې ته زما د احساساتو په اړه تېروتنه وکړې او تصور کوې چې زه باید بیا له تا سره وګورم.

په داسې حال کې چې له تا سره تر کتو مخکې، ما خپل روح بل چا ته سپارلی و او اوس که له تا سره تفریح وکړم، له هغې ښځې او خپل روح سره به مې خیانت کړی وي.

پردې سربېره زه مجبوره یم، چې په یوه اوږده سفر ولاړ شم او نور به دې ونه ګورم.

خو په دوستانه ډول له تا څخه جلا کېږم او ددې لپاره چې یوه ډالۍ مې درکړې وي، د تمساح لکۍ په نوم یو منګی مشهور شراب در استوم چې په خښلو سره یې بوخته شې.

مهو نفر! باید درته ووایم، پر دې سربېره چې زما د احساساتو په اړه دې تېروتنه کړې، زما د جنسي قدرت په اړه هم تېروتې یې، ځکه چې زه بوډا شوی یم، سست او ستومانه سړی یم

چاغ بدن او راوتلې خېټه لرم، سر مې هم ګنجی دی او د عادي ښځو د رضایت سبب نه شم کېدای دا خو لا پرېږده، چې ستا په شان یوه راضي کړم.

ځکه ستا رضایت د هغه سړي کار دی، چې ځوان او غښتلی وي. خوشحاله یم چې زما د بوډاتوب او کمزورتیا له امله موږ داسې کار ونه کړ، چې له هغه وروسته به تر ې سخت پښېمانه و.

ځکه چې ته حتماً له یوه بوډا او کمزوري سړي ځخه کرکه کوې او غوره دا ده چې موږ یو بل هېڅکله ونه ګورو.

له دې وروسته چې لیک مې ولیکه مریت ته مې ورکړ، چې ویې لولي او خپل نظر پرې راکړي.

مریت وویل سینوهه ! تا په دې لیک کې ددې لپاره چې ادب ته دې پام کړی وي، ځان دې بوډا معرفي کړی او ډارېږم، چې دغه عجیبه ښځه د لیک د مفهوم په اړه تېروتنه وکړي او له تا لاس وانخلي.

غوره دا وه چې په دې لیک کې دې بې پردې لیکلي وای، له دې کبله چې هغه ډېره زړه، بد رنګه او کرکجنه ده او هېڅکله یو نارینه نه چمتو کېږي، چې د هغې په شان له یوې ښځې سره تفریح وکړي، نو ځکه ته له دې ښاره وتښتېدې چې د ژوند تر پایه دې سترګې پرې ونه لګېږي.

ومې ویل مریت ! دا یوه ښځه ده او یو مودب کس باید یوې ښځې ته و نه وایي، چې ته زړه او بدرنګه یې، ځکه ښځې ته چې هر ډول ښکنځل وکړې ببښي یې خو دغه خبره که سمه هم وي، نه یې ببښي.

له دې سره سره چې مریت د لیک له ډول او ژبې ناراضه وه او ویل بې چې، دلیک ژبه باید ځیره وي، چې هغه بوډۍ نوره هم نهیلې شي خو بیا یې هم لیک ماته راکړ چې سر یې بند کړم.

ما لیک بند کړ او یو مریی مې را وغوښت چې لیک زري سلطنتي مانۍ ته یوسي او مهونفر ته یې وسپاري.

خو په لاره کې ځان د تمساح لکۍ میخانې ته هم ورسوي او یو منګی مشهور شراب هم له ځان سره یوسي، چې لیک او شراب په یو وخت مهونفر ته ورسېږي.

اوه دېرشم څپرکی

تېښتې ته په ورته ډول له طبسه وتل

شپه را رسېدلې وه او په اسمان کې د ستورو له را ښکارېدو سره سم، څو شیبې تېرې شوې وې، چې موتي خبر راکړ، د سفر شیان مې تیار کړي دي او بېړۍ ته یې ورلای شې.

مریت میخانې ته نه ولاړه او له ما سره پاتې شوه.

ما چې به هر ځل هغې ته کټل خواشینی به شوم، ځکه چې پخپلې کم عقلۍ سره مې له هغې ښځه د بېلتون زمینه برابره کړه.

که ما په ناپوهۍ کې هغې بوډۍ ته چاپلوسي نه وای کړې، نو تر کومه چې مې زړه غوښتل، په طبس کې پاتې کېدای شوم، چې د مریت له کتلو خوند واخلم.

مریت هم په چورتونو کې وه، ناڅاپه یې وویل، سینوهه! ایا ماشومان درباندې ګران دي؟

زه دې نا ببره پوښتنې هک پک کړم.

مریت چې ما ته کتل ویې ویل مه ډارېږه، ځکه چې زه نه غواړم ستا لپاره ماشومان وزېږوم.

خو یوه ملګرې مې ده. یو څلور کلن زوی لري او وایي چې زوی یې غواړي په نیل کې سفر وکړي، شنه پټي، کروندې، پسونه، غواګانې، هیلۍ او غازان وګوري، ایا کولای شې په دې سفر کې دغه ماشوم له ځان سره بوځې؟

ومې ویل، مریت! زه پوهېږم چې کله دغه څلور کلن ماشوم را سره بوځم نو په سفر کې به په کرار نه یم، ځکه تل باید د دغه ماشوم پالنه وکړم، چې له بېړۍ ښخه او بو ته ونه لوېږي او یا یې تمساح ونه خوري.

مریت وخندل او ویې ویل سینوهه! کله چې دغه ماشوم پیدا شو ما پخپله له خپلې ملګرې واخیست او یو مې وور چې سنت یې کړم او هغه ښځه چې کوم ماشوم سنت کولو ته بیایي د هغه په وړاندې د یوې مور په شان دندې لري.

نو زه به دیوې مور په شان په دې بېړۍ کې پاتې شم او د هغه پالنه به وکړم. نو له دې کبله چې زه به یې ساتم، هغه به او بو ته نه لوېږي چې تمساح وخوري.

کله چې ما دغه خبره واورېده داسې خوشحال شوم، چې دواړه لاسونه مې پر خپل سر ووهل او ومې ویل، مریت! که ته د ماشوم د پالنې لپاره ځې، نو اجازه لرې چې د یوه ماشوم پر ځای د اتون د معبد د لومړني ښوونځي ټول ماشومان له ځان سره راولې.

او ته چې د ماشوم د ساتلو لپاره ځې، نو څوک به زما په بېړۍ کې ستا پر شتون حیران هم نه شي او ستا نیک شهرت ته به تاوان هم ونه رسېږي.

ما د بوډۍ او شهوتي مېرمنې له وېرې فیصله کړې، چې سهار وختي حرکت وکړم.

مریت زموږ د بېړۍ تر روانېدو مخکې ولاړه او هغه ماشوم یې له خوبه راپاڅاوه او رایې وست، خو د ماشوم مور نه وه راغلې.

ما غوښتل دغه مېرمن ووینم، ځکه چې هغې پر خپل زوی تهوت نوم ایښی و.

د ماشوم مور پر خپل زوی باندې ددغه نوم د ایښودو ګټه هم لېدلې وه، ځکه چې تهوت د یوه خدای نوم دی.

په مصر کې مور و پلار ډېر لږ جرئت کوي، چې پر خپل ماشوم باندې د کوم خدای نوم کېږدي، په تېره بیا د تهوت خدای نوم چې د خط او د خدایي او بشري معلوماتو خدای دی.

ماشوم ویده و او موږ حرکت وکړ.

کله چې د طبس هغه غرونه چې ساتونکو ته ورته دنګ ولاړ ول، زموږ له سترګو پټ شول نو ماشوم هم راویښ شو.

تهوت ښکلی ماشوم و، چې تور او نرم وېښتان یې درلودل او د هغه پر تنده یې وړې کړۍ جوړې کړې وې، ماته یې په تورو سترګو داسې کتل چې ته وا له ډېرې مودې مې پېژني.

زه ډېر ژر له دغه ماشوم سره اشنا شوم، مینه مې ورسره پیدا شوه، هغه مې پر خپلو زنګنو کېناوه او د نیل د څنډو له لوخو مې ورته وړې تو کړۍ واوبدلې، اجازه مې ورکړه، چې زما پر طبي وسایلو لوبې وکړي او زما درمل بوی کړي.

تهوت په دې سفر کې موږ ته هېڅ ستونزه پېښه نه کړه، نه په اوبو کې ولوېد او نه تمساح وخوړ، بلکې اپوته یې زموږ خوشحالي نوره هم زیاته کړه.

هره شپه چې به زه او مریت د یوه بل تر څنګ ویده وو، د ماشوم د ساه اخیستو منظم غږونه به مو اورېدل چې زموږ تر څنګ به ویده و او سهار چې به کله راویښ شوو هغه به لا ویده و.

زه به هېڅکله له مریت او تهوت سره یو ځای د نیل د سیند دغه سفر هېر نه کړم او له نیکمرغۍ وروسته د خوښیو او هیلو یوه پړاو داسې مست کړم چې مریت ته مې وویل:

راځه چې یو منګی مات کړو چې تل د یو بل تر څنګ ژوند وکړو ته هم زما لپاره د تهوت په شان یو ښکلی ماشوم وزېږوې.

زه تر ننه پورې د اولاد غوښتونکی نه وم، خو اوس احساس کوم چې زما وینه د ځوانۍ جوش نه لري، د زړبودۍ وخت را غلی، او هر ځل چې تهوت ګورم، زړه مې غواړي د هغه په شان یو زوی ولرم.

خو مریت خپل لاس زما پر خولې کېښود او ویې ویل سینوهه! ته پوهېږې، زه داسې ښځه یم، چې په میخانې کې کار کوم او په میخانې کې لویه شوې یم.

تر تا مخکې نورو سړیو، هم له ما سره تفریح کړې او ددې وړتیا نه لرم، چې د فرعون د ځانګړي ډاکټر او تر هغه لوړ د لوی فرعون د زوی ښځه شم، ځکه چې تا یوه ورځ په طبس کې راته وویل، چې تصور کوې د فرعون زوی او د خدایانو له نسله یې.

بله دا چې معلومه نه ده، چې کله ستا خور شم نو ماشومان به وزېږوم او کنه؟

دغه ماشوم پر ما هم ګران دی او فکر کوم چې زه او ته له دې ماشوم سره په دې بېړۍ کې نورې ښې ورځې په مخکې لرو او داسې فکر وکړه چې زه ددې ماشوم مور او ته یې پلار یې.

ځکه چې هغه وړوکی دی، د ټولو ماشومان په شان پخوانۍ ورځې هېروي، زه هغه ته ورښودلی شم، چې تا ته پلار ووایي او ته تصور وکړې چې ته د هغه حقیقي پلار یې.

له هغې ورځې وروسته به کوچني تهوت خپل لاسونه زما په غاړه کې اچول او خپل مخ به یې زما پر مخ کېښود، ما ته یې پلار وایه او ما د هغه د ګاڼګوټو ویښتانو له موښلو څخه خوند اخیست.

په هغو ورځو کې چې موږ په بېړۍ کې له نیله تېرېدو داسې مو ځان نېکمرغه احساساوه، چې د نیل پر دواړو غاړو مو د مصري کروندګرو لوږې او بدبختۍ ته هېڅ توجه نه کوله، یانې نه مې غوښتل د هغو د ډنګرو او خوارو ځېرو په کتلو او د هغوی په نارو سورو خپله نیکمرغي او عیش خراب کړم.

نن سبا چې هغه د خوشحالۍ ورځې را په زړه شي، په سترګو کې مې اوښکې ډنډې شي، له سینې اسویلي باسم او فکر کوم، ولې انسان داسې پیدا شو چې د خوشحالۍ ورځې یې ډېر ژر تېرېږي او اپوته، د بدبختۍ ورځې یې دومره ورو ورو تېرېږي چې هېڅکله نه ضایع کېږي.

نور نو زموږ سفر هم پای ته ورسېد او موږ د افق ښار ته ننوتو.

کله چې دې ښار ته ولاړو له دې سره سره چې ډېر وخت مې ترې د باندې نه و تېر کړی، خو احساس مې وکړ، چې د افق په ښار کې یو نوی حقیقت رامنځته شوی دی او زه یې نه ګورم.

د افق د ښار لمر همغه و، کورونه او ونې همغه وې، خو ما داسې احساس کاوه، چې دلته یو نوی حقیقت رامنځته شوی دی یو وخت متوجه شوم، دغه حقیقت چې ښار یې زما په نظر کې بل ډول کړی دی، کاختي ،بدبختي او د کاختۍ او بېوزلۍ له امله جنایتونه دي.

مریت او کوچني تهوت په ښار کې ډېر ایسار نه شول او طبس ته ستانه شول او زه بیا یوازې شوم.

د یوازېتوب غم، چې په سفر کې راسره نه و ،اوس بیرته راته را ستون شو.

څو ورځې وروسته، چې مریت او تهوت د افق له ښاره تللي ول، د مصر فرعون اخناتون چې چمتو نه و، د خپل هېواد حقیقتونه وګوري اوس مجبور شو چې یو حقیقت ووینې.

حقیقت په دې ډول و، چې د مصر د انتظامي ځواکونو قوماندان هورم هب یو شمېر مصریان، چې له سوریې څخه تښتېدلي ول، له ممفیس ښاره د افق ښار ته واستول، چې ځانونه فرعون ته ور وښیي او هغه پوه شي، چې د هغه د خدای غړنده چلند ،سوله غوښتنه ،او مساوات په سوریه کې پر مېشتو مصریانو څه بد حال راوستلی دی.

پر هغې ورځ چې دغه مصریان را تښتېدلي او له سوریې څخه د افق ښار ته راغلي ول، خلک د هغوی په لیدو داسې وېرېدلي ول، چې خپلو کورونو ته ولاړل او د کورنو دروازې یې رابندې کړې.

هغوی غوښتل، چې د فرعون ماڼۍ ته ننوځي، خو د ماڼۍ ساتونکو د هغوی مخه ونیوله او تښتېدلو ،کسانو د فرعون د ماڼۍ دېوالونو او دروازې په کاڼو ووېشتې او فرعون یې مجبور کړ هغوی ته اجازه ورکړي چې ماڼۍ ور ننوځي او خبرې یې واوري

دغه خلک چې ماڼۍ ته را ننوتل زه هلته وم او کله چې فرعون ته نژدې شول ناري یې کړې، اې اخناتونه !نن سبا د مصر د فرعون قدرت او شتمني په سوریې کې هغه کس ته

ورته دي، چې د کوما په حال کې وي او د ډېر ژر به قبر ته ولاړ شي.

ته په افق کې ناست يې او نه پوهېږې چې په سوريه کې له مېشتو مصريانو سره ګورزونه، جنګي ګاډي، اورونه، توري او نېزې څه کوي.

ته نه پوهېږې چې د سوريې په ښارونو کې د هغو کسانو وينه څه ډول بهېږي چې ستا په اعتماد يې هلته ژوند کاوه.

ناڅاپه د هغوی ناري په ساندو او ويرونو بدلې شوې، هغو کسانو چې لاسونه يې له متو څخه غوڅ شوي ول، خپل لستوني يې پورته کړل او ويې ويل اې فرعونه! موږ لاسونه درلودل، خو ستا د قدرت په داړ مو خپل لاسونه قربان کړل، له دې وروسته به د عمر ترپايه پورې سوالګر يو.

هغه ځوانان يا بوډاګان چې سترګې يې ترې ايستلې وې، يا يې ژبې ترې پرې کړې وې، رامخکې شول او د ځناورو په شان په نارو سورو يې وويل اې فرعونه! پر تا او ستا پر خدای باور او اعتماد موږ په دې بلا اخته کړي يو.

که موږ پوهېدای، چې ته دومره خوار او بې زړه يې، نو تر دې وړاندې، چې د سورېې پاچاهان بلوا وکړي او موږ ووژني، موږ به تښتېدلي و.

له دې سره سره چې په موږ يې دغه بلا راوستې ده، بيا هم تر خپلو ښځو او لونو ښه يو، ځکه چې زموږ ټولې ښځې او لونې د هاتي د عسکرو او د آمورو د پاچا د سرتېرو لاس ته ورغلې.

تر هغه چې ژوندۍ وي د هغو ښځو په شان به، چې ځانونه په ارزانه بيه خرڅوي، د سورېې او هاتي د عسکرو له تېريو سره مخامخې وي.

کله چې فرعون بې متو لاسونه، بې سترګو د سر کاسې او بې ژبو خولې ولېدې مخ يې په دواړو لاسونو پټ کړ، بيا يې د خپل خدای آتون په هکله خبرې وکړې، ويې ويل آتون له وينې بېزار دی، د نورو له کړولو او درواغو څخه کرکه کوي وايي، چې ټول خلک بايد يو شان وي او له يو بل سره مينه وکړي.

کله چې کم بخته مفرورانو دغه خبرې واورېدې داسې غوسه شول چې ښکنځلې يې پيل کړې، ويل يې اې فرعونه! ته تر ټولو ملعون فرعون يې او تر اوسه چا نه دي اورېدلي، چې کوم پاچا دې د خپل رعيت پر وړاندې داسې بې پروايي کړې وي.

هېڅ پاچا داسې نه دي کړي چې خپل رعيت بهرنيو ظالمانو ته وسپاري، ايا پوهېږې!

د حیات هغه صلیب چې تا د سوریې پاچاهانو ته استولي و، په هغه یې څه وکړل؟

هغو دغه صلیبونه د خپلو خرو او اسونو په غاړو کې واچول او په اورشلیم کې یې ستا د کاهنانو پښې غوڅې کړې.

که څه هم له دغو کاهنانو څخه یې پښې غوڅې کړې خو مجبور یې کړل چې ستا د خدای په مخکې وګډېږي.

کله چې اخناتون دغه خبره واورېده ناڅې یې کړې او د ځینو نورو وختونو په څېر پرې د بې هوشۍ حمله راغله او پر ځمکه ولوېد.

کله چې د ماڼۍ ساتونکو ولیدل، چې فرعون بې هوشه شوی، نو غوښتل یې چې دغه مصري فراریان له ماڼۍ څخه وباسي.

مفرورانو چې هر څه له لاسه ورکړي ول او هېڅ یې نه درلودل چې بیا یې له لاسه یې ورکړي، نو یې مقاومت وکړ او د هغوی او ساتونکو تر منځ شخړه پېښه شوه.

ځمکه د مصري فراریانو په وینو سره شوه او هغه کسان چې د سوریې د پاچاهانو له ظلمونو راتښتېدلي او فرعون ته دلاسنوي په تمه راغلي ول، د فرعون په ماڼۍ کې ووژل شول او د هغوی مړي یې په نیل سیند کې واچول.

کله چې ساتونکي ددغو تښتدلیو کسانو د وینې په تویولو بوخت ول، د مصر ملکه نفر تي تي او د هغې لوڼو له خپلو کوټو څخه د هغوی د وژلو ننداره کوله.

له دې کبله چې دوی لومړی ځل جنګ، تېښته او بدبختي لیدله نو هېڅکله یې بیا دغه صحنه هېره نه شوه.

په داسې حال چې د ماڼۍ په انګړ کې وژنه روانه وه، ما فرعون کوټې ته بوت او پر سر مې لانده ټوکران ورکېښودل، په ستوني کې مې مسکن درمل ور واچول، چې بې هوشي ختمه شي او بیا د کمزورتیا له امله ویده شو.

کله چې له خوبه راویښ شو، په تتې څېرې او پرکاله سترګو یې ماته وویل سینوهه! دغه حالت د زغملو نه دی باید اصلاح شي.

ما له هورم هبه اورېدلي، چې د آمورو پاچا چې اوس یې په سوریې کې پر مصریانو حمله کړې ده، دی یې پېژني.

ژر هغه ته ورشه او له هغه سره د سولې د اخیستو لپاره خبرې وکړه، د سولې په بدل کې چې یې هر څومره سره او سپین غوښتل ور یې کړه.

زه چمتو یم د مصر ټول سره او سپین د آمورو پاچا ته ددې په بدل کې ورکړم چې له مصر سره سوله وکړي، ان که له هغه وروسته مصر د تل لپاره بېوزله شي.

ومې ویل اخناتونه! زه وایم چې د سولې د اخیستو تر ټولو ښه روده داده، چې ته د مصر سره او سپین هورم هب ته ورکړې، چې هغه پرې جنګي ګاډي، نیزې، توري، او ګرزونه جوړ کړي او د جنګ لپاره عسکر پرې وروزي.

فرعون سر په دواړو لاسونو ونیو او د هغه چا په شان چې سر یې په ورمیږ درونډ وي، سترګې یې کش کړې بیا یې وویل سینوهه! په دې پوه شه چې له دښمني څخه دښمني پیدا کېږي. انتقام د انتقام سبب کېږي او د وینې بهېدل نورې وینې هم بهوي

کله چې یو شمېر کسان لټه کوي له نورو غچ واخلي د هغو پر خلاف د غچ او انتقام نور زړي هم کري

ته چې وایې د سولې اخیستل به د مصر لپاره خواري او سپکاوی ولري، دا یوازې خرافات دي او د دښمنۍ او غچ اخیستو د روحیې له لامله دي

زما خبره ومنه د امورو پاچا ته ورشه او هغه ته ووایه، هر څومره سره او سپین چې غواړې زه چمتو یم چې د سولې په بدل کې یې ورکړم.

زه پوهېدم چې د سرو او سپینو په وسیله د سولې اخیستل لېونتوب دی، ځکه کله چې د سولې پلورونکي د مصر سره او سپین واخیستل او پوه شو، چې مصر بې وزله شوی دی، نو په ډېر ډاډ او جرئت سره، جنګ نور هم سختوي.

ددې لپاره چې فرعون له دې کاره پښېمانه کړم، یا پخپله د لېونتوب دې معاملې ته ورګډ نه شم ومې ویل:

اخناتونه! تا د سولې په هکله خبرې کړې او له جنګ سره دې پرېکړون کړی خو ما د جنګ غوښتنې او ددې چارې د اصلي اړتیا یانې سفر کولو وړتیا له لاسه ورکړې او اوس په ځارویو او ګاډیو سفر نه شم کولای.

پر دې سربېره تر هغه مخکې چې زه د آمورو پاچا ته ورسېږم، د هغه سپاهیان به زما لاسونه او پښې غوڅې کړي او سترګې به مې را وباسي.

زه داسې سړی نه یم چې دوراغ ووایم، له هغه چا سره بحث او معامله نه شم کولای، چې له ما شومتوبه یې درواغ او چل ول زده کړي وي،

د آمورو او سېدونکي درواغجن او چلبازان دي او باید هغه کسان له دوی سره معامله

او مذاکره وکړي، چې درواغ وویلای شي، نو زما پر ځای بل څوک ور واستوئ.

خو فرعون وویل سینوهه! هغه څه چې درته وایم ویې منه، سوریې ته ولاړ شه او د آمورو له پاچا څخه سوله وپېره.

د فرعون له کوټې څخه چې راووتم په هغو مصري فراریانو مې سترګې ولګېدې، چې مړي يې هلته پراته ول، ومې لیدل چې د چا لاس نشته د چا پښې او د چا سترګې.

زه پوه شوم چې که زه هم سوریې ته ولاړم، د هغوی په شان به شم، د سوریې بلوا ګر به زما دواړه لاسونه را پرې کړي او سترګې به مې د سر له کاسې وباسي.

غوره مې وبلله چې کور ته ولاړ شم او ځان په ناروغۍ واړوم، چې د فرعون پرېکړه بدله شي او سوریې ته زما د آستولو مسله هېره کړي.

کله چې د فرعون د ماڼۍ له دروازې راووتم، او کور ته تلم و مې لیدل چې نوکر مې په بېړه منډې راوهي، چې زه یې ولیدم، ویې ویل ما فکر کاوه، چې ته به تر بېګا کور ته رانه شي، دلته راغلم چې له یو نوې خبرې دې خبر کړم.

ومې پوښتل نوې خبره څه ده؟ ویې ویل، همدا اوس یوه بېړۍ له طبسه، افق ښار ته را ورسېده او ستا د کور تر څنګ ودرېده او یوه ښځه ترې را کوزه شوه.

دغه ښځه له دې سره سره چې ډېره بوډۍ ده، خو ځان یې د هغو پېغلو په شان سینګار کړی، چې غواړي میړه پیدا کړي، مخ یې په رنګونو سور کړی او تېز عطر یې وهلي دي.

هغې ماته وویل ستا بادار سینوهه! زما غوښتونکی دی او هغه زما په بېلتون کې اوښکې تویوي!

خپل نوکر ته مې وویل، هغې خپل نوم درته واخیست؟ ځواب یې راکړ هو! نوم یې مهونفر دی، زه ددې لپاره راغلی یم، چې ډېر ژر کور ته راستون شې، ځکه چې مهونفر ستا په تمه ده.

کله چې مې واورېدل مهونفر په کشتۍ کې له طبسه زما تر شا دلته راغلې ده، له ډېرې وېرې او کرکې څخه ورېږدېدم.

بیرته سلطنتي ماڼۍ ته راستون شوم او فرعون ته مې وویل، فیصله مې کړې چې ستا د امر د اجرا لپاره همدا اوس سوریې ته روان شم.

ډېر ژر خپلو کاتبانو ته ووایه، چې د آمورو پاچا ته لوحې ولیکي چې هغه زما په مقام او درجې پوه شي او دا هم ورته معلومه شي چې زه ستا له لوري راغلی یم.

فرعون خپل کاتبان را وغوښتل او هغوی ته یې وویل چې زما لپاره لوحې ولیکي. ویې ویل، کله چې لوحې چمتو شوې له یوې اندازې سرو زرو سره به یې تا ته درولېږم.

ما چې کور ته له تګه وړه درلوده، فرعون ته مې وویل، چې زه سلطنتي ماڼۍ ته نژدې، د خپل ملګري توتمس د مجسمه جوړولو په کارخانه کې یم. کله چې لوحې چمتو شوې، ورته ووایه، چې هلته یې له طلا سره یو ځای را واستوي.

ما غوښتل د توتمس کارخانې ته ولاړ شم، ومې لیدل چې زما نوکر د ځواب په تمه دی. هغه ته مې وویل ولاړ شه او مهونفر یانې همدې بوډۍ ښځې ته ووایه چې فرعون زه سوریې ته آستولی یم او زه هلته وژل شوی یم. چې هغه له ما څخه بېخي نا امیده شي او پوه شي چې نور زه ژوندی نه یم.

کله چې ما دا خبره کوله پوهېدم چې دروا غ نه وایم. ځکه یقین مې درلود سوریې ته په تګ سره به ووژل شم.

خپل نوکر ته مې وویل کله چې دې مهونفر ته وویل، چې زه په سوریه کې وژل شوی یم، نو باید هغه بیرته کشتۍ ته ستنه کړې او طبس ته یې واستوې.

که یې نه غوښتل چې له کوره لاړه شي، په زور یې کشتۍ ته ستنه کړه او دومره پوه شه چې که زه له سوریې راستون شوم او وګورم چې دغه ښځه زما په کور یا د افق په ښار کې ده ستا او د کور د نورنوکرانو غوږونه به پرې کړم او د اجباري کار لپاره به مو کانونو ته واستوم.

زما نوکر چې د لومړي ځل لپاره یې له ما څخه دغه ګواښ اورېدلی و، پوه شو چې زما دغه خبره جدي ده او په آتون یې قسم وخوړ، چې دغه ښځه به له کوره وباسي او له طبسه به یې بهر کړي.

له دې وروسته چې ډاډه شوم زما نوکر به زما حکم پر ځای کړي، د خپل ملګري او د سلطنتي مجسمه جوړونکي توتمس کارخانې ته ولاړم.

توتمس پخوا د هورم هب یوه مجسمه جوړه کړې وه او پر دې ورځ چې زه د هغه کارځای ته ورغلم ومې لیدل چې یوه بله مجسمه یې له خرمايي رنګه او په نوي سبک جوړه کړې ده.

که څه هم توتمس په دې مجسمه کې د هورم هب د بدن د ځینو برخو په جوړولو کې مبالغه کړې وه، په تېره بیا د هورم هب د متو او تتر عضلې یې دومره پنډې جوړې کړې وې، چې که هرچا دغه مجسمه لیدلې وای نو فکر یې کاوه چې د یوه غېږنیونکي. مجسمه ده، نه د سلطنتي پوځ د قوماندان.

خو د هنر نوی سبک دغسې شی غوښت، چې د بدن د ځينو برخو په جوړولو کې چې راوتلې دي مبالغه وکړي، چې دغه کار تر ښايست ډېره بدرنګي را منځته کوله.

پخوا به هنرمندانو هڅه کوله عيبونه پټ کړي او يوازې ښېګڼې وښيي، خو د نوي هنر اړتيا دا وه، چې تر ممکنه حده پورې د انسان عيبونه نور هم څرګند کړي او حتي ښې برخې هم د ډېرې مبالغې له امله د عيبونو په بڼه معلومېدې.

ځکه چې نوی هنر په انسان کې له يوشمېر هندسي بڼو او کرښو پرته بل څه نه ګوري او ددې پېر د هنرمند له نظره ښکلا خاص مفهوم نه لري او هڅه کوي هندسي بڼې او کرښې په څرګند ډول تر سترګو شي.

پخواني هنر انسان د نړۍ تر ټولو ښکلی موجود باله او نوی هنر باور لري، چې انسان د نړۍ تر ټولو بدرنګه ژوی دی او حتي له نباتاتو او جماداتو هم بدرنګه دی.

کله چې تو تمس زه وليدم، لوند ټوکر يې را واخيست او د هورم هب پر مجسمې يې تېر کړ چې ماته وښيي د مجسمې عضلې څنګه پړقېږي؟

کله چې پوه شو ما نيت کړی د فرعون په حکم سوريې ته ولاړ شم ويې ويل، زه هم د (هت نت سوت) معبد ته ددې مجسمې د رسولو لپاره له تا سره ځم.

ماورته وويل د هورم هب مجسمه د هغه معبد په يوه غوره ځای کې کېږده او ددغه سفر په ترځ کې به د نيل سين له ښکلې ورځې هم استفاده وکړو، ځکه يوه موده کېږي، چې سفر مې نه دی کړی او زما لپاره تفريح او ګرځېدل ضروري دي.

کاتبانو لوحې او د سفر لګښت راوړل، موږ د هورم هب مجسمه حکومتي بېړۍ ته چې زموږ لپاره چمتو شوې وه، ولېږدوله او د (هت نت سوت) پر لور روان شو چې له هغه ځايه زه سوريې ته ولاړ شم.

(هت نت سوت هغه ښار وو چې نن سبا المينا بلل کېږي. ژباړن) کله چې روان شو تو تمس وويل سينوهه! له دې کبله چې ته هغه هېواد ته ځې، چې د جنګ اور پکې بل دی، نو په شراب څښلو کې سختي مه کوه، ځکه چې معلومه نه ده، له دې وروسته به وخت دا فرصت درکړي چې شراب وڅښې کنه؟ ما د تو تمس پر نصيحت عمل وکړ او کله چې د نيل سيند د اوبو له بهير سره روان وو، په شراب څښلو مې صرفه ونه کړه.

اته دېرشم څپرکی

د فرعون په حکم د سوريې پر لور حرکت

کله چې ما غوښتل کاپتا ته دنده وسپارم، چې ولاړ شي او د اتون پر کروندګرو زما غنم ووېشي، نو هغه د بد بختۍ اټکل کړی و.

ده به ویل ستا دغه فرعون به په دې کارونو موږ ټول بدبخته کړي او موږ به له خوندورو خوړو ،ارام کور او نرمې بسترې محروم کړي.

کله چې زه د سوريې پر لور روانېدم پوه شوم چې د کاپتا اټکل سم و.

زه له ارام کور او نرمې بسترې څخه محروم شوی وم. د فرعون لپاره باید ولاړ شم او د سوريې د جنګ خطرونه وزغمم.

که کاپتا زما د غنمو د وېشلو لپاره له کور ،خوړو او ښې بسترې څخه محروم شوی و، لږ تر لږه ژوند یې خوندي و ،په داسې حال کې چې، زه داسې ځای ته تلم، چې باور مې نه درلود له هغه ځایه دې راستون شم او که ژوندی را ستون شم نو لاسونه او سترګې به مې نه وي.

انسان باید د خبرو پر وخت د بدو پېښو اټکل ونه کړي، ځکه چې بدې پېښې ژر پېښېږي. په داسې حال کې، چې سمې پېښې په ځنډ او یا هم هېڅکله نه پېښېږي.

په لاره کې ما د هغو بدبختیو په هکله خبرې کولې، چې په سوريې کې به ورسره مخامخ شم، خو توتمس راته وویل، غلی شه او پرېږده چې زه ستا انځور وباسم.

توتمس زما څېره انځور کړه، ما چې ورته وکتل چې ډېر بدرنګه شوی یم ، نو هغه مې وراته او ورته ومې ویل، ته زما ملګری نه یې، ځکه که زما ملګری وای نو زه به دې داسې بد رنګه نه انځورولی.

توتمس وویل، زه هنرمند یم او کله چې هنرمند يوه مجسمه جوړوي یا انځور باسي، نه د چا ملګری دی، نه له چا سره دښمني لري، یوازې باید د خپلو سترګو پيروي وکړي او هغه څه انځور کړي، یا یې مجسمه جوړه کړي، چې ويني یې.

موږ ډېر ژر د هت نت سوت ښار ته ورسېدو.

دا ښار د نیل سیند تر څنګ پروت یو وړوکی ښار دی او له یوه کلي سره ډېر توپیر نه لري.

دغلته موږ ولیدل چې پسونه او غواګانې د ښار په کوڅو کې ګرځي او د ښار معبد یې له خښتو جوړ کړی دی.

د ښار چارواکي، چې پوه شول زه د فرعون مخصوص ډاکټر یم او توتمس سلطنتي مجسمه جوړونکی دی، نو په ډېر درناوي یې، زموږ هرکلی وکړ.

توتمس د ښار په معبد کې د هورم هب مجسمه ودروله.

دغه معبد پخوا د هوروس د خدای لپاره جوړ شوی و.

هوروس هغه خدای دی، چې سر یې د باز په شان دی، خو له دې وروسته چې فرعون نوی خدای مشهور کړ، هغه معبد یې هم د آتون لپاره بېل کړ او د هوروس د خدای مجسمه یې له هغه ځایه لېرې کړه.

د ښار اوسېدونکي چې د هوروس د خدای د مجسمې له لېرې کېدا وروسته یې بله مجسمه نه درلوده، د هورم هب د مجسمې په لېدو ډېر خوشحال شول.

زه تصور کوم چې هغه به یې خپل خدای بللی وي، یا یې د پخواني خدای پر ځای منلی دی، ځکه چې ددې ښار اوسېدونکي، نا لوستي ول او پر دې نه پوهېدل. چې ممکنه ده له مجسمې او ظاهري بڼې پرته هم خدای موجود وي.

د هورم هب اصلي مور و پلار هم په همدغه ښار کې اوسېدل او د ښار عام خلک ول.

له دې وروسته چې هورم هب د مصر د پوځ قوماندان شو. هڅه یې وکړه، خپل مور و پلار په اشرافانو کې راولي چې خلک ووایي، هورم هب د نجیبانو او اشرافانو له کورنۍ څخه دی.

هورم هب فرعون ته دومره نژدې و، چې هر څه یې ترې غوښتي وای نو فرعون له جنجاله پرته منل.

له همدې امله د مصر د لښکرو قوماندان، خپل پلار په سلطنتي څارونکو کې شامل کړی و او مور یې د دربار پادوانه کړه، ځکه چې مور یې د غواګانو له پادوانۍ او لوشلو پرته بل کار نه شو کولای، لیک لوست یې هم نه و زده چې هغې ته بله دنده ورکړي.

د هورم هب د پلار هم لیک لوست نه و زده خو په څارونکو کې شامل شو او د مصر په ځینو کلیو کې یې د آتون د ودانیو څارنه کوله. د هغه دنده یوازې تشریفاتي وه او کوم

خاص کار یې نه کاوه ټول کارونه به معمارانو او ختګرانو کول.

کله، چې د هورم هب مور و پلار په دربار کې په شاملېدا سره د اشرافانو او نجیبانو په کتار کې راغلل، په ټول مصر کې خلکو فکر کاوه، چې هورم هب له اشرافانو او نجیب زادګانو څخه دی.

شپه او ورځ چې مو ږ په نیل کې سفر کاوه، زه به په بېړۍ کې ناست او پر سر به مې د فرعون زري ترا ړې څپې وهلې (زري ترا ړه په حقیقت کې یو کم سوره او اوږد بیرغ و، چې د او سنیو بیرغونو پر ځای یې د بېړۍ په مخکښنۍ برخه کې لګاوه او لا هم په ځینو هېوادونو کې یوه کم سوره او اوږده ریتاړه پر بېړیو ځوړندوي. ژباړن).

د بېړۍ پر غولي ناست وم، د نیل د غاړې لوخې او د مرغانو د الوتلو ننداره مې کوله.

روانو اوبو ته مې کتل، لمر تود شو، مچان به راباندې ګرځېدل او له ځان سره به مې ویل، سینوهه! سترګې له ډېرو کتلو ستومانه کېږي، غوږونه له ډېرو اورېدلو ستړي کېږي او روح هېڅکله نه راضي کېږي، ځکه چې هېڅوک په ژوند کې خپلو ټولو هیلو ته نه رسېږي.

داسې څوک نه شو پیدا کولای، چې ووایي زه خپلو ټولو هیلو او ارزوګانو ته رسېدلی یم.

که څه هم انسان په ژوند کې هیڅکله په بشپړه توګه د نېکمرغۍ احساس نه کوي، خو بیا هم له مرګه وېرېږي او زړه یې ورته تنګ وي.

خو که نور له مرګه ډارېږي نو سینوهه! ته چې یو ډاکټر یې باید له مرګه ونه وېرېږې، ځکه دومره مړګونه دې لیدلي چې مرګ اوس عادي شی درته ښکاري.

ته پوهېږې! کله چې د مرګ وخت را نژدې شي، ټولې ستونزې کړاونه، او د ژوند هیلې له منځه ځي.

له بدني کړاو او روحي ستونزو سره یو ورځ ژوند تر هغه ډېر سخت دی، چې انسان تر قیامته پورې په قبر کې پاتې وي، ځکه چې که تر ابده پورې سړی په قبر کې پاتې کېږي بیا هم د محرومیت احساس نه کوي.

زه لږ وخت په دې فکرونو کې وم، چې د بېړۍ اشپز به وویل، ډوډۍ تیاره ده.

زه به پورته شوم له تو تمس سره به مې یو ځای ډوډۍ وخوړه او بیا به مې استراحت کاوه او ویده به شوم.

په دې ډول زموږ بېړۍ د ممفیس ښار ته ورسېده (ممفیس د مصر پخوانی ښار دی چې داوسنۍ قاهرې په جنوب کې پروت دی او تراوسه پورې د دې ښار کنډوالې هلته ترسترګو کېږي ژباړن).

هورم هب په ممفیس ښار کې و او کله چې زما له ورتګه خبر شو نو زما یې ډېر زیات او افراطي درناوی وکړ.

ده ځکه زما درناوی وکړ چې زه په سوریه کې د آمورو پاچا ته د فرعون د استازي په توګه ور روان وم.

بل علت یې داو، چې له سوریې څخه یو شمېر تښتېدلي مصریان او د مصر پلوي سریانیان چې له دې هېواده تښتېدلي وو او هم د نورو ملتونو شتمن کسان په ممفیس کې وو.

کله چې هورم هب خبر شو، چې زه سوریې ته ځم، نو زما هرکلی یې وکړ او موخه یې دا وه چې هغوی پوه شي، د مصرفرعون دومره قوي او د درناوي وړ دی چې هورم هب یې د استازي دومره هرکلی او درناوی کوي.

هورم هب د خلکو په مخکې خپل لاسونه په زنګنو کېښودل او زما پر وړاندې یې رکوع وکړه.

خو کله چې خلک لاړل هغه زه خپل کور ته بوتلم، چې کوټې ته ننوتو نوکران یې رخصت کړل او په داسې حال کې چې د سرو زرو د لاستي درلودونکې متروکه یې ښوروله ویې ویل، سینوهه! له دې سره سره چې لا نه پوهېږم ته ولې سوریې ته د آمورو پاچا ته ورځې، خو باور لرم چې ستا سفر د فرعون د لېونتوب پایله ده.

ما د خپل ماموریت په اړه توضیحات ورکړل، ومې ویل لکه چې تا اورېدلي، ماته یې ویلي، په هره بیه چې وي د آمورو له پاچا آزیرو څخه سوله وپېره.

کله چې هورم هب دغه خبره واورېده داسې چیغې یې پیل کړې چې زه وویرېدم.

بیا یې وویل زه پوهېدم چې د فرعون لېونتوب بیا پیل شوی دی خو فکر مې نه کاوه چې هغه دې دومره لیونی شوی وي چې فکر وکړي سوله په سرو او سپینو اخیستل کېدای شي.

ځکه هغه څوک چې له خپل دښمن څخه په سرو او سپینو سوله اخلي، هم به سره او سپین له لاسه ورکوي او هم به خپل هېواد له لاسه ورکوي.

سینوهه په دې پوه شه!

له دې سره سره چې د آمورو پاچا سوریه نیولې ده، خو زه بریالی شوی یم چې د غزې سیمه د مصر لپاره وساتم.

کله چې مورږ وغواړو سوریه بیرته ونیسو غزه به پر سوریې د حملې لپاره ښه سرچینه او د حملې د پیل کولو ځای وي.

کله چې هاتي په میتاني هېواد کې د خپلو پښو ځای ټینګ کړ، یا به پر بابل حمله وکړي، یا پر مصر.

سلیم عقل دا حکم کوي چې کله هاتي وګوري، بابل د خپلو ځواکونو په را غونډولو او سنبالولو بوخت دی او پر مصر باندې حملې ته ځان جوړوي، او دا هم ورته معلومه شي چې مصري پوځ کمزوری دی، نو پر مورږ به حمله وکړي او له مصریانو او فرعونیانو به لوخړې پورته کړي.

د آمورو پاچا آزیرو هم له دې کبله چې ګوري هاتي قوي او مصر کمزوری دی، پوهېږي چې له مصر سره اتحاد د هغوی په ګټه نه دی او ددې پر ځای که له هاتي سره متحد شي ډېره ګټه به وکړي.

د آزیرو پر ځای که بل هوښیار سړی هم وای، همدا کار یې کاوه، له مصره لېرې کېده او له هاتي سره یو ځای کېده.

هورم هب را ته وویل، زه کولای شم آزیرو د سینا او غزې تر منځ په ټاټوبي کې پیدا کړم، ځکه چې اوس هلته دی او له مصري چریکانو سره جنګېږي.

زمورږ ځینې جاسوسان د پاړو ګرانو، مارګیرانو، د اوربشو د اوبو د پلورونکو او د غنیمت د شیانو د اخیستونکو په توګه د آزیرو له لښکرو سره ملګري دي.

آزیرو هم جاسوسان لري، چې پاړو ګرانو، د اوربشو د اوبو د پلورونکو او د وینځو او مریيانو د سوداګرو په بڼه پارتیزانان تعقیبوي او یا د مصر له سرحدي ساتونکو سره ملګرتیا پیلوي او له هغوی څخه معلومات را غونډوي.

د آزیرو یو شمېر جاسوسان په ممفیس او مصر کې دي او هلته د مصر د پوځي حالت په اړه معلومات راغونډوي او په اصل کې جاسوسي کوي.

تر ټولو خطرناک پکې هغه سپین پوستې او ځوانې ښځې دي چې تورې سترګې لري او له سوریې څخه مصر ته راغلې دي.

دغه ښځې ظاهراً په عمومي فاحشه خانو کې د کار کولو لپاره، خو په حقیقت کې د جاسوسۍ لپاره راغلې دي، چې مصري افسران او عسکر له هغوی سره تفریح کوي

کله چې هغوی یو افسر یا عسکر په غېږ کې ونیسي هر ډول معلومات چې وغواړي ترلاسه کوي یې.

خو له نیکه مرغه دغه ښځې پوځي زده کړې نه لري، نو زموږ له افسرانو او سپاهیانو ګټورې پوښتنې نه شي کولای او ډېرې پوښتنې یې د ماشومانو په شان دي.

یو شمېر هوښیار جاسوسان هم شته، چې هم د مصر لپاره کار کوي او هم د آزیرو لپاره، هم له دواړو خواو ګټه اخلي او هم له دواړو سره خیانت کوي.

هورم هب وویل زه له دې موضوع خبر یم، خو له دې کبله چې د هغوی له شتمنیو څخه ګټه اخلو مجبور یو ویې زغمو.

ومې ویل هورم هب ! له دې کبله چې ته د خپلو جاسوسانو په وسیله د آزیرو د لښکر له حالته خبر یې ماته دا ووایه چې له کومې لارې باید ځان ازیرو ته ورسوم او له کومو ګوابنونو سره به مخامخ شم.

هورم هب وویل، ته د سمندر له لارې تللی شې او که د وچې له لارې ځې نو بیا غزې ته ولاړ شه ځکه، لکه چې ومې ویل آزیرو د غزې او سینا ترمنځ دی.

که له سمندري لارې غزې ته ولاړ شې د کرت جنګي بېړۍ به ستا ملاتړ وکړي، خو په دې شرط چې د هغوی ستر ګې د سوریې پر جنګي بېړیو ونه لګېږي.

ځکه که د سوریې جنګي بېړۍ وګوري، چې شمېر یې ډېر او پیاوړي دي، نو ستا بېړۍ به پرېږدي او وبه تښتي.

بیا به نو یا له ځانه دفاع کوې او یا به تسلیمېږې، که له ځانه دفاع وکړې ستا بېړۍ به ډوبه شي او ته به په اوبو کې مړشې او که تسلیم شې، نو تا به اړ کړي چې د هغوی په بېړیو کې پارو ووهې.

تا به د مترکو په زور پارو وهلو ته اړ کوي او ممکنه ده په څو ورځو کې له درد او کمزورتیا څخه مړ شې.

خو که تا وپېژني او پوه شي، چې ته د مصر یو ستر چارواکی یې په تا به پارو هم ونه وهي، بلکې ژوندی به دې له پوسته کړي او ستا له پوستکي به کځوړه جوړه کړي چې سره او سپین پکې واچوي

زه نه غواړم چې تا وډاروم ، خو له دې کبله چې تا پخپله معلومات وغوښتل ما تا ته معلومات درکړل.

خو له دې ټولو سره سره دا هم ممکنه ده، چې ستا بېړۍ له کوم خنډه پرته غزې ته ورسېږي.

خوزه نه پوهېږم له دې وروسته چې له بېړۍ کوزشوې، څه ډول به ځان آزیرو ته ورسوې، ځکه چې جنګ په غزه کې ثابت حالت نه لري، چې زه وکړای شم، تا ته ووایم هغه چېرته دی او کله چې ته غزې ته ننوتې هغه به چېرته وي؟

ومې ویل هورم هبه ! ایا غوره نه ده چې له وچې یانې د سینا له لارې غزې ته ولاړ شم. (سینا د یوې سیمې نوی نوم دی، چې اوس هم د سینا ټاپو وزمه بلل کېږي پخوا دې سیمې څو نومونه درلودل، چې یو یې تانیس و او دلته نوی نوم ددې لپاره اخیستل کېږي، چې لوستونکی د نا آشنا نومونو په اورېدو سره خپله لار ورکه نه کړي. ژباړن)

هورم هب وویل، زه ستا د امنیت لپاره یو شمېر عسکر او څو جنګي ګاډۍ له تا سره لېږلی شم، چې د وچې له لارې غزې ته ولاړ شې، خو کله چې عسکر د آزیرو له سپاهیانو سره مخامخ شول، تابه یوازې پرېږدي او و به تښتي.

بیا به د آزیرو عسکر تا ونیسي او د هاتي د خلکو په دود به دې په سیخونو کې ورکړي او په شکنجو شنکجو به دې مړ کړي.

بل احتمال دا دی چې زمونږ د خپلو چریکانو لاس ته ورشې.

خو دوی داسې کسان دي، چې هېڅ قانون او اصول نه پېژني او هرڅه چې لرې درڅخه به یې واخلي ،بیا به دې په ژرندې پورې وتړي او تر هغه چې ژوندی یې باید ژرنده وګرځوې.

دغه راز له دې وېرې چې و نه تښتې سترګې به دې هم درړندې کړي.

په لومړیو ورځو، چې تا لا د ژرندې په کار کې تجربه نه وي پیدا کړې نو دا به درته سخته وي چې له سهاره تر بېګا پورې په چټکتیا سره ژرنده وګرځوې، نو ځکه به دې د مرګ تر پولې وهي.

زه د هورم هب دې خبرو ووېرولم ، هغه ته مې وویل، دې ته په پام سره چې زه باید د فرعون په غوښتنه ولاړ شم او له آزیرو سره مرکه وکړم نو ښه به دا وي چې همدا اوس ولاړ شم ځکه بله چاره نه لرم.

ورته مې وويل چې د وچې له لارې به ولاړ شم او ته څو تنه ساتونکي راکړه چې ما د آزيرو عسکرو ته ورسوي، خو که دې واوريدل چې زه اسير شوی يم ، ورته ووايه چې له چنې وهلو پرته زما د خوشې کولو په بدل کې زما له لوري هغو کسانو ته پيسې ورکړه، چې زه يې اسير کړی يم.

زه بډای يم او زما مريي چې اوس په طبس کې زما ناظر دی ، زما د راخلاصولو په بدل کې چې هر څومره سره او سپين ضروري وي ور به يې کړي.

هورم هب وويل، سينوهه ! زه پوهېږم چې ته بډای يې او له همدې امله مې ستا له پخواني مريي کاپتا او ستا له شتمنيو لږ پور اخيستی دی.

ما غوښتل چې ته هم د مصر د څواکمنېدا په خاطر د مرستو لپاره په پورونو کې شريک شې او محروم پاتې نه شې.

خو سينوهه ! په دې پوه شه همغه ډول، چې زه د مصر د نورو بډايو کسانو پور، نه ورکوم ستا قرض به هم درنه کړم او که کومه ورځ له ما څخه سره او سپين وغواړې زما او ستا ملګرتيا به خرابه شي او ان ښايي له منځه ولاړه شي.

اوس روان شه او کله چې سينا ته ورسېدې ، هلته زما له عسکرو څخه يو ټولی سرتېري له ځانه سره بوځه او که اسير شوې، زه به له کاپتا څخه زر واخلم چې تا بيرته واخلي.

خو که يې ته ووژلې ،ستا په کسات کې به ستا يو شمېر قاتلين ووژنم او دا هم درته وايم، تر هغه وخته پورې چې ستا د وژلو لپاره يې ستا په خېټه کې نيزه نه وي ننه ايستلې، هيله من و اوسه او پوه شه چې ستا وينه به ضايع نه شي.

ما وويل هورم هب ! که زه ووژل شم زما د کسات لپاره خپل وخت مه ضايع کوه، ځکه که زه ووژل شم مړی به مې په بيديا کې وي او له څو اونيو وروسته به له څو هډوکو پرته زما دبدن کومه نښه نه وي پاتې.

هغه وخت که بيا تا زما د وژلو په غچ کې د نيل سين د اوبو په شان وينې زما پر هډوکو تويې کړې، بيا به هم زما هډوکي خوشحاله نه شي.

له دې کبله چې هورم هب زه ډېر خوروللی او وېره ولی وم نو ما هم غوښتل چې هغه ته يو ټونګ ورکړم ، ورته ومې ويل: خو که زه ووژل شم، زما سلام د فرعون خور مېرمن باکتاتون ته ورسوه، ځکه چې هغه ښکلې او په زړه پورې ده، خو لږه کبرجنه ده او پر هغې ورځې چې مور يې مړه شوه، د مور د جنازې تر څنګ يې ستا په هکله له ما سره خبرې

کولې.

دې خبرو پر هورم هب اغېزه کوله ، ځکه چې باکتاتون پرې ګرانه وه.

زه له هغه ځایه د ممفیس د سلطنتي دفتر پر لور روان شوم چې خپل وصیت ولیکم او هلته يې امانت کېږدم.

په وصيت لیک کې مې ولیکل چې که په سوریه کې ووژل شوم، زما د مرګ له ثابتېدا وروسته دې زما شتمني، زما پر پخواني مريي کاپتا ، ملګرې مریت ، او پخواني ملګري هورم هب ته ور وویشل شي.

له هغه وروسته د هغه چا په څېر په بېړۍ کې سپور شوم چې د مرګ پر لور له تګ پرته بل کار نه لري .

د کوز مصر پر لور روان شوم، د سینا دښتې ته نژدې، له بېړۍ څخه را کوز شوم، په روان تخت کې مې ځان سینا دښتې ته ورساوه.

هلته مې په یوې کلا کې په سره لمر کې د هورم هب عسکر ولیدل چې خپل وخت يې د اوربشو د اوبو پر څښلو ،او د صحرایي حیواناتو ، په تېره بیا د غرڅو په ښکار تېراوه.

دوی له ستونزمن ژونده تنګ ول، یو شمېر ښځې چې تر ټولو بېکاره ښځې دي او ځان ډېر ارزانه خرڅوي، شپه و ورځ يې خپل ځانونه عسکرو ته سپارلي ول.

ما وليدل چې ټول عسکر غواړي، چې هورم هب يې سوریې ته واستوي، چې هلته وجنګېږي.

ددې چارې علت هم درته وایم.

تاسې پوهېږئ، په داسې حال کې چې زما بدرګه کوونکي عسکر تګ ته چمتو کېدل، ما ولیدل چې په دې کلا کې خاص نظم ټینګ دی. یوازې هغه عسکر کولای شي ښکار ته ولاړ شي او له ښځو سره تفریح وکړي، چې پهره يې نه وي.

هر عسکر تر هغه وخته چې په پهرې کې وي یا يې نوکري وي، ټول وخت يې پر پوځي مشق او بیګار تېرېږي.

دې چارې زه یوه ټکي ته متوجه کړم، چې د سپاهیانو د قوماندانۍ په تخنیک پورې اړوند ېږي.

زه متوجه شوم چې یو لایق قوماندان هغه دی چې پرې نه ږدي د هغه سپاهیان حتی یوه ګړۍ هم وزګار پاتې شي او تل هغوی پوځي زده کړو او بېګار ته اړ کړي.

پر هغوی داسې ډسپلین اجرا کړي چې عسکر ورځ و شپه د ځانګړیو قوانینو پیروي ته مجبور وي.

دغه عسکر پر دې سربېره چې د پرله پسې تمرینونو او کار کولو له کبله تکړه کېږي او نور د ستړیا احساس نه کوي، دغه راز کله چې د جګړې له پیلېدا خبرېږي نو ډېر خوشحالېږي چې د مبارزې ډګر ته ولاړ شي.

دوی په دې ډول جګړې ته دومره خوشالېږي ته وا د یوه هرم په اندازه سره و سپین دې ورکړي وي او یا دې د نړۍ تولې ښکلې نجونې وربښلې وي.

دا چې دغه ډول عسکر د جنګ میدان او د قتل ډګر ته په تګ خوشحالېږي، علت یې دادی چې پوهېږي د جنګ ډګر ته تګ هغوی له ډسپلین او د عسکرو په کور (قشله) کې له دایمي کاره خلاصوي.

دوی داسې احساس کوي چې اوږده رخصتي ورکړل شوې وي، اوتر کومه ځایه چې یې زړه غواړي تلای شي.

دوی پر دې هم پوهېږي چې ښایي د جنګ په ډګر کې ووژل شي، خو له دې کبله چې د جنګ خبر هغوی په قشله کې له اوږدو مشقونو او کارونو ژغوري، بیا هم جنګ ته په تګ سره خوشحالېږي.

له همدې امله هورم هب هڅه کوله، د هغه عسکر هېڅکله وزګار، نه شي ان که د سینا په صحرا کې هم وي.

د هورم هب د حکم پر اساس د هغه عسکرو د سینا صحرا ته د ننوتو په برخه کې لس جنګي ګاډي، زما لپاره چمتو کړې او په هره جنګي ګاډۍ کې پر ګاډۍ چلونکي سربېره دوه کسه نور هم سپاره ول، چې یوه نېزه او بل زغره درلوده.

ددې لسو ګاډیو قوماندان ماته راغی، ماولیدل چې پر ملا یې لنګ تړلی دی او نورې جامې نه لري.

ما ته چې را نژدې شو، لاسونه یې پر زنګنو کېښودل او رکوع یې وکړه.

د هغه د نوم پوښتنه مې وکړه، چې (ژو ژو) نومېده.

هغه وویل سینوهه ! که غواړې کله چې د آزیرو له عسکرو سره مخامخ شوې او تاوان درونه رسېږي، نو د خرما د ونو یوه ښانګه له ځان سره یوسه.

کله چې د آزیرو عسکرو ولیدې، دغه ښانګه پر سر وښوروه، چې پوه شې ته د جنګ

کولو اراده نه لرې.

ومې وويل چې د ژو ژو عسکر د خرما د ونې څو څانګې چې د کلا شاو خوا موجودې وې را غوڅې کړې او زما په روان تخت کې دې کېږدي.

کله چې ژو -ژو متوجه شو ، چې زه نيت لرم په روان تخت کې ولاړ شم په کرس يې وخندل او ويې ويل سينوهه ! دغلته چې موږ څو د سينا بيديا ده، زموږ د ژوندي پاتې کېدا يوازينی چانس دا دی، چې په ګاډيو کې له دې بيديا څخه ګړندي تېر شو او که په روان تخت کې چې ورو ځي حرکت وکړو ټول به ووژل شو .

بله دا چې زموږ په لاره کې خوراکي شيان هم نشته، نو د اړتيا وړ شيان بايد له دې ځايه له ځان سره يو سو.

ان د اسونو لپاره واښه هم بايد له ځان سره واخلو، زه به يو جوال واښه ستا په ګاډي کې کېږدم چې ته يې پر سر کېنې او د ګاډي له ټکانونو خوندي شې.

ومې ويل، پخوا زه په ګاډي کې سپور شوی يم، يو ځل په جنګي ګاډيو کې د آمورو هېواد ته تللی يم، خو په هغه وخت کې ځوان وم او د ګاډيو له ټکانونو نه وېرېدم.

خو بيا هم له دې سره سره چې نن سبا بوډا شوی يم، خو هڅه کوم د جنګي ګاډي ټکانونه وزغمم.

ژو ژو د خرما څانګې چې په سر کې يې زما په روان تخت کې ايښې وې، له هغه ځايه خپلې جنګي ګاډي ته ولېږدولې.

پر بلې ورځ يې د خرما د ونې څانګې زما ګاډي ته راوړې، زه سپور شوم او په بيړه د سينا دښتې پر نرۍ لاره روان شو.

نهه دېرشم څپرکی

زما دردناک اسارات

پر لومړي ورځ هغه لاره چې موږ پرې روان و، نسبتاً اواره وه او د ګاډي ټکانونو نه ځورلم ځکه زه پر يوه جوال وښو ناست وم.

خو پر بله ورځ اواره لاره پای ته ورسېده، موږ يوې داسې دښتې ته ننوتو چې لاره پکې نه وه او د ګاډيو ټکانونو سخت ځورولم.

خو نيمه ورځ وه، چې د ډېرو سختو ټکانونو له امله مې دوارې پښې له ګاډي څخه جلا شوې، ښکته ولوېدم او مخ مې په ازغو زخمي شو. د شپې مو چې کله د آسونو او د ځان د دمې لپاره استراحت وکړ، ژو ژو زما په وينو ککړ مخ وويني‌ـه او و يې ويل که په همدې سرعت حرکت وکړو، ممکنه ده پر څلورمه ورځ د آزيرو د عسکرو کمپ ته ورسېږو.

پر دريېمه ورځ له داسې ټاټوبي تېر شو، چې ډېره ناواره وه.

دغلته مې ډېره بوږنوونکې منظره وليده، ځکه چې د پارتيزانانو يوې اډې ته ورسېدو چې ټول عسکر يې د آزيرو د عسکرو له لوري وژل شوي ول او هغوی حتې ماشومان وژلي ول.

کله چې موږ هلته ورسېدو، سلګونه مردار خواره مرغان د مړيو په خوړلو بوخت ول او د مړيو حالت، ددې ښودنه کوله چې له وژلو يې کابو دوه ورځې تېرې شوې وې.

دا په دې مانا وو، چې د آزيرو سپاهيان له دې ځايه ډېر لېرې نه دي، ځکه چې دوه ورځې مخکې يې دغه ډلوژنه کړې وه.

پر څلورمه شپه له لېرې بل شوی اور ښکاره شو او ژو ژو ماته وويل، دغه اور د آزيرو د عسکرو د کمپ دی، له دې کبله چې هلته کوم کلی نشته چې ووايو د آزيرو عسکرو سوځولی وي.

د ژو ژو په خوښه لږه شېبه ايسار شوو، چې آسونه واښه وخوري او ستوماني يې کمه شي، بيا د سپوږمۍ په رڼاکې وخوځېدو او ورو ورو مو حرکت کاوه.

زه چې پر جوال ناست وم، د ګاډي د ارام حرکت له امله ویده شوم، یو وخت متوجه شوم چې ژو ژوله خوبه پاځولم.

کله چې مې سترګې رنې کړې لمر راختلی و، او تر دې وړاندې چې له ژو ژو وپوښتم چیرته یو؟ هغه ،زه ، زما د لوحو صندوق او سره و سپین له ګاډي کوز ګوزار کړو، که ګورم د بېديا پر شګو پروت يم، د ژوژو ګاډي ماته شاکړې او د لوديځ پر لور روان دي، په بيړه د تېښتې په حال کې له دې ځايه ليرې کېږي.

د ژو ژو پر دې چلنده حيران شوم، خو شېبه وروسته، زما حيراني ختمه شوه، ځکه چې پوه شوم له ختيځه يوه ډله جنګي ګاډي په ډېرې چټکتيا سره زما پر لور را رواني دي او داسې ښکارېدل، چې غواړي د ژو ژو ګاډي تعقيب کړي.

په دې وخت کې د هورم هب خبره رایاده شوه چې ويل يې، کله چې ستا ساتونکو عسکرو د آزيرو سپاهيان وليدل وبه تښتي.

کله چې ګاډي را نژدې شوې ما د خرما ځانګې چې وچې شوې هم وې را واخيستې او پر خپل سر مې وښورولې، چې د آزيرو سپاهيان پوه شي، زه د جنګ کولو نيت نه لرم.

خو هغوی ماته پا م ونه کړاو د ژوژو په ګاډيو پسې ولاړل، خو ژو ژو او ملګري يې په بيړه داسې وتښتېدل، چې د سترګو په رپ کې له نظره پټ شول.

له هغه وروسته د آزيرو د سپاهيانو ګاډي بيرته راستنې شوې، له ما سره نژدې ودرېدې او ما همغه راز د خرما ځانګې پر سر ښورولې.

له ګاډيو څو تنه عسکر پلې شول، ما ورته وويل، چې نوم مې سينوهه دی او په ابن الحمار مشهور، د فرعون استازی يم.

زه راغلی يم، چې ستاسې پاچا وګورم او په دې صندوق کې ځينې لوحې شته ، چې ښيي زه د مصر د فرعون استازی يم.

عسکر و ما او د فرعون لوحو ته پام ونه کړ، زه يې لوڅ کړم او هر څومره سره وسپين چې مې درلودل را څخه يې واخيستل،بيا يې زه په يوې ګاډي پسې پر پړي وتړلم او روان شول.

که د هغوی اډه نژدې نه وای، نو زه به د چټکو ګاډيو تر شا هومره ډېر نه وای تللی.

د يوه ترازو (ګړۍ) وخت په اندازه، زه پر ځمکې کښېناستم او که اډې ته ژر نه وای رسېدلي نو د صحرا کاڼو به مې بدن ټو ټه ټو ټه کړی وای او مړی شوی به وم.

د هغوی ستره اډه وه، چې د پرې جنګي ګاډي او هغه ګاډي چې غواګانو کشولې پکې ولاړې وې.

زه چې په پرېیو تړل شوی وم، هلته له رسېدو سره بېهو شه شوم او تر لمر لاندې پر ځمکه ولوېدم.

یو وخت چې راویښ شوم احساس مې وکړ، چې څو تنه پر ما اوبه اچوي او بدن مې په نباتي غوړیو غوړوي او موښي یې.

وروسته راته معلومه شوه چې د اډې یو افسر چې لیک لوست یې زده و، زما لوحې لوستې دي او پوه شوی و، چې زه د فرعون استازی یم، نو حکم یې وکړ چې له ما سره سم چلند وکړي جامې مې بیرته راکړي.

کله چې دومره شوم چې پر لاره ولاړ شم ومې ویل، ما آزیرو ته بوځئ.

ازیرو په یوې خیمې کې اوسېده، کله چې یې زه ولیدم، له کېږدۍ راووت.

د سرو زرو یو زنځیر یې په غاړه کې اچولی و، خپله ږیره یې د سپینو زرو د تارونو په یوې کڅوړه کې اچولې ده.

آزیرو په کېږدۍ کې تر خپل څنګ کېنولم او ویې ویل سینوهه! کله چې دې زما عسکر ولیدل ولې دې ځان معرفي نه کړ او ودې نه ویل چې د فرعون استازی یې او ولې دې د خرما د ونې څانګې و نه ښورولې چې زما عسکر پوه شوي وای، ته جنګ نه غواړې.

زما عسکر وایي کله چې تا هغوی ولیدل په چړې دې پر هغوی برید وکړ، غوښتل دې هغوی ووژنې، ځکه نو زما سپاهیان د ځان د ساتلو لپاره مجبور شول تا وتړي.

زما لاسونو لا هم درد کاوه ځکه په پړي تړل شوي ول او پر ځمکه د کښېدا له امله پر بدن جوړو شویو ټپونو سخت درد کاوه.

آزیرو ته مې وویل، ما ته خیر شه او وګوره ایا زه داسې سړی یم، چې وکړای شم ستا پر عسکرو، هغه هم په جنګي ګاډیو کې چې وسلې هم ورسره دي حمله وکړم.

هغوی درواغ وایي او ددې لپاره چې له خپلې ګناه منکر شي پر ما دغه تور لګوي.

کله چې ما دوی ولیدل د خرما څانګه مې وښوروله او ځان مې معرفي کړ، د فرعون لوحې مې وروښودلې، خو هغوی د خرما څانګه ماته کړه او پر لوحو یې ناړې تو کړې.

هغه څه چې ما درلودل ټول یې راځخه واخیستل. بیا یې زه په ګاډي پسې وتړلم، له همدې امله باید ته امر وکړې چې هغوی په متروکو ووهي، چې له دې وروسته د فرعون د

استازي درناوی وکړي.

آزیرو وویل سینوهه! ممکنه ده چې تا خوب لیدلی وي، یا دا چې په لاره کې لویدلی یې او لاس و پښې دې زخمي شوې دي.

زه نه غواړم خپل عسکر د یوه مصري لپاره په متروکو ووهم او ستا دغه خبرې زما په غوږونو کې د مچانو دبنګېدا په شان دي.

ومې ویل آزیرو تر پرونه ته د آمورو پاچا وې، نن سبا د ټولې سوریې پاچایې او پر پاچاهانو واکمني کوې، یا په بله وینا د پاچاهان وپاچا یې نو ته باید تر هرچا زیات د نورو پاچاهانو درناوی وکړې او د نورو پاچاهانو د درناوي یوه اړتیا دا ده چې د هغوی له استازو سره سم چلند وکړې.

د یوه پاچا د استازي سپکاوی او رټل د هغه پاچا د سپکاوي په مانا دی، نو ضروري نه ده، چې زه درته ووایم.

دلته چې ستا اډه ده، زه هیڅ قدرت نه لرم او ته کولای شې ما ووژنې، خو که دغه کار وکړې د فرعون سپکاوی به دې کړی وي.

بله خبره دا ده چې که ته فرعون خوار او سپک کړې، ځان به دې سپک او خوار کړی وي ، ځکه هغه پاچا چې نور پاچاهان سپکوي، خپل سلطنت یې خوار کړی دی.

ته چې غواړې پر ټولې سوریې حکومت وکړې باید په دې حقیقتونو پوه شې.

کله چې یې زه په پړي د ګاډي تر شا تړلی وم، زه مجبور وم، چې له ګاډي سره یو ځای منډه ووهم، چې پر ځمکه کش نه شم.

یو سړي چې پر اس سپور او زما تر شا روان و، زه یې د نیزې پر څوکه په شا ووهلم او شا یې را سوری کړه.

که ته نه غواړې خپلو عسکرو ته سزا ورکړې، د غه یو سړی په دې جرم چې زه یې زخمي کړی یم او ما ته یې په سپکه سترګه کتلي په متروکو ووهه.

په دې هم پوه شه چې زه د فرعون له لوري تا ته ډېره لویه ډالۍ راوړم او هغه ډالۍ سوله ده، ځکه چې فرعون غواړي له تا سره سوله وکړي.

آزیرو وویل، د فرعون سوله زما لپاره ارزښت نه لري (په داسې حال کې چې زه پوهېدم، هغه په باطن کې د سولې وړاندیز ته ډېره خوشحاله شوی دی.) ځکه دا خبره حتمي ده، چې فرعون به ما مجبوره کاوه، چې زما پر وړاندې خپل مخ پر خاورو کېږدي او د سولې

غوښتنه وکړي.

خو داچې وايي يوه سړي ته په کوناټو وهلی يې او زخمي شوی يې زه تا په حقه بولم، هغه باید ستا په شان د يوه پاچا له استازي سره چې زما ملګری هم دی دغسې چلند نه وای کړی او همدا او س به يې زه په متروکو ووهم.

پر همدې ورځ ازيرو امر وکړ چې د هغه عسکر راټول شي او د هغو په شتون کې يې دغه سړی په متروکو وواهه.

ما فکر وکړ چې د آزيرو نور عسکر به د خپل ملګري په سزا خواشيني کېږي، خو هغوی ساعت تېری کاوه او خندل يې، ځکه چې نا لوستي او جاهل عسکر د نړۍ په ګوټ ګوټ کې يو شان وي.

له دې کبله چې د هغوی په يو شان ژوند کې تفريح نشته، نو له هرې وسيلې حتي په متروکو د خپل ملګري له سزا څخه هم خوند اخلي.

کله چې ما وليدل د هغه سړي له بدنه ويني روانې شوې او متروکې يې د بدن غوښې جلاکړې، لاس مې پورته کړ او له آزيرو مې وغوښتل چې د دغه سړي سزا بس کړي.

تر هغه وروسته مې هغه سړی خپلې کېږدۍ ته، چې آزيرو زما لپاره بيله کړې وه بوت.

عسکرو چې وليدل زه هغه سپاهي خپلې کېږدۍ ته بيايم فکر يې وکړ چې شکنجه کوم يې نو خوشحالي يې وکړه.

خو ما يې ټپونه ور وتړل او مسکن درمل مې ورکړل، له هغه وروسته مې د اوربشو اوبه ورکړې او هغه سړي سم باور وکړ، چې ګني زه لېونی يم.

د شپې مهال آزيرو د ډوډۍ لپاره ور وغوښتلم، زه يې کېږدۍ ته ورننوتم، خواړه يې راوړل، ما وليدل چې د آزيرو د پوځ پر قوماندانانو سربېره د هاتي يو شمېر افسران هم موجود ول.

د هاتي د افسرانو نښان دا و، چې پخپلو ټټرونو يې دوه متقاطع تبرونه او د تبرونو د پاسه يې وزرلرونکی لمر انځور کړی و.

د شپې خواړه کباب شوی سيرلی او په غوړو کې سره کړې ډوډۍ وه.

ټولو راسره په مهربانۍ چلند کاوه، خو داسې احساس مې کاوه چې د دوی دغه مهرباني ملنډو ته ورته ده، ځکه زه ورغلی وم، چې د فرعون له لوري له هغوی سره سوله وکړم.

په داسې حال کې چې پخپله دوی د سولې غوښتونکي ول او که فرعون څو میاشتې صبر کړی وای آزیرو مجبورېده، چې د سولې لپاره مخکې شي.

د ډوډۍ له خوړو وروسته ما ولیدل چې د هاتي افسرانو د شرابو په څښلو کې افراط وکړ. او ما اټکل وکړ چې ښایي کومه ناوړه پېښه وشي.

همداسې هم وشول د هاتي افسران چې نشه شوي ول، د آمورو له افسرانو سره ونښتل (آمورو هغه هېواد دی چې آزیرو یې پاچاو).

د هاتي یوه افسر خپله چاړه را وایستله او د آمورو د یوه افسر په ستوني کې یې ښخه کړه.

ما زخمي سړی معاینه کړ او پوه شوم چې علاج یې کېدای شي د هغه ټپ مې وتاړه او په بستر کې مې څملاوه.

خو دغه زخمي افسر نیمه شپه خپل نوکران او سپاهیان راغونډ کړل او ویې ویل ولاړ شئ او د هاتي له دې افسره زما غچ واخلئ ، هغوی هم ولاړل او هغه افسر یې وواژه.

پر بله ورځ چې آزیرو له دې پېښې خبر شو ، زخمي سړی یې له پنځو څخه سر په څېرې په دار وځړاو ، او تر هغه یې ځړولی و چې مړ شو .

څکه چې له یوې خوا آزیرو د هاتي له افسرانو ډارېده او په دې سزا سره یې غوښتل هغوی راضي کړي او له بلې خوا ده هڅه کوله په خپل پوځ کې نظم ټینګ کړي.

پر هغې شپې چې د هاتي یوه افسر د آمورو یو افسر ټپي کړ ، په دې جنجال پسې او د افسرانو له تګه وروسته چې د آزیرو کېږدۍ خالي شوه، آزیرو خپل زوی ما ته را وښود .

زه پوهېدم چې دغه هلک زما د پخوانۍ وینځې له خېټې دی، هغه وینځه چې ما یې مخکې ذکر کړی و ، او ویلي مې و ، چې ما د آمورو پاچا ته ډالۍ کړې وه، دغه ماشوم اووه کلن و ،خو له پلار سره به جنګونو ته روان و.

د آزیرو د زوی غومبوري سره او وېښتان یې د پلار د ږیرې په شان تور ګاڼګوتي ول، ما چې د هغه د ټټر پوستکي ته کتل له ځان سره مې ویل چې دغه سپینه څېره یې له موره په میراث وړې ده.

آزیرو چې خپل زوی ما ته راوښود ویې ویل سینوهه ! ایا تا تر اوسه داسې اووه کلن ماشوم لیدلی، چې زما تر زوی غښتلی او ښکلی وي زما زوی اوس د څو هېوادونو خاوند دی، له ما وروسته به د ټولې سوریې یا ښایي د نورو ډېرو هېوادونو پاچا وي.

زه داسې کار کوم چې له ما وروسته څوک د هغه له پاچاهۍ سره مخالفت ونه کړي، ځکه چې په سوریې کې مې دننه تول پاچاهان او د قبیلو مشران چې ممکنه ده په راتلونکې کې، زما له زوی سره مخالفت وکړي له منځه وړي یا به یې له منځه یوسم.

زما زوی لیک لوست کولای شي، توره هم چلولی شي، څو ورځې مخکې یې یو مریی چې هغه ته یې بې احترامي کړې وه، پخپلې تورې وواژه.

زه هغه له ځان سره جنګ ته بیایم او په جګړو کې یې ګډون ته هڅوم او هغه وخت یې په جنګ کې شریکوم چې موږ تولې سیمې نیولې وي لوټ تالان او ورانې مو پیل کړي وي، چې څوک مقاومت ونه کړي او زما زوی ونه وژني.

له هغه وروسته آزیرو زما د پخوانۍ وینځې په هکله چې ما ورته ډالۍ کړې وه او اوس د هغه ښځه ده، خبرې وکړې.

ددې وینځې نوم (کفتیو) و، هغه وویل، اوس په آمورو کې ده او زه یې پر لېرې والې خپه یم، ځکه چې اړتیا لرم ورسره څملم او ساعت تېري ورسره وکړم.

که څه هم زه د سوریې له هغو نجونو سره چې اسیرانې کېږي تفریح کوم، خو له کفتیو سره ساعت تېری بېل خوند لري.

زه د هېڅ یوې ښځې له غېږې دومره خوند نه اخلم، چې له کفتیو سره له څملاستو یې اخلم.

اوس نوره هم ښکلې شوې او که یې وګورې و به یې نه پېژنې.

کله چې موږ په خبرو بوخت وو د ښځو د چیغو اوازونه اورېدل کېدل او آزیرو وویل، دا هغه ښځې دي، چې د هاتي افسران یې څوروي، ځکه هاتیان کله چې له اسیرو ښځو سره تفریح کوي، له هغو سره دعادي نارینه وو په شان چلند نه کوي، بلکې ښځې څوروي او ژوبلوي.

زه یې هم مخه نه شم نیولای، ځکه چې لا هم هاتیانو ته اړتیا لرم، خو بل پلو وېره لرم، چې زما افسران او عسکر د هاتي د افسرانو وحشیانه خویونه زده کوي.

ما له دې فرصته استفاده وکړه او مې ویل آزیرو ! له هاتیانو سره ملګرتیا او اتحاد په راتلونکې کې ستا په تاوان دی.

هاتي به هغه هېوادونه ستا له منګولو وباسي چې نیولي دې دي، نو غوره دا ده، چې له هاتي تېر شې او د مصر له فرعون سره متحد شې.

اوس هاتي په ميتاني هېواد کې په جنګ بوخت دي او بابل هم خپل ځواک راغونډوي، ځکه پوهېږي له هاتي سره به جنګ پيلېږي.

ته چې د هاتي ملګری او متحد يې له دې وروسته به له بابله غنم ترلاسه نه کړې او په راتلونکې کې به لوږه او کاختي د وږي ليوه په شان هغه هېوادونه وځپي چې تا نيولي دي، خو که له مصر سره متحد شې، هر څومره غنم چې وغواړې له فرعونه يې ترلاسه کولای شې.

آزيرو په ځواب کې وويل، هاتيان داسې خلک دي، چې د دښمنانو لپاره خطرناک او د دوستانو لپاره ګټور دي او که څوک ورسره ملګري وي تاوان به ونه کړي.

اوس موږ او دوی ملګري يو، خو زموږ تر منځ کوم تړون او معاهده نه ده شوې، چې زه ونه کړای شم له نورو سره سوله وکړم او ورسره ملګری شم.

د هاتي پاچا کله نا کله ما ته ډالۍ هم راستوي، په تېره بيا هغه وسلې چې ما ته يې را استوي، ډېرې په زړه پورې دي، ځکه چې دغه وسلې له داسې وسپنې جوړې شوې دي، چې له مس او برونزو ډېره کلکه او تېره ده.

زه دا منم چې د هاتيانو له چلنده راضي نه يم، ځکه چې هغوی د سورېې په ځينو بندرونو کې چې زما په هيواد پورې اړوند دي داسې چلند کوي چې ته وا دغه بندرونه دهغوی دي.

ومې ويل آزيرو ! هغوی، چې اوس ستا دوستان دي، دغه بندرونه خپل ګڼي، دا خو لا پرېږده چې يوه ورځ ستا دښمنان شي.

آزيرو وويل، پر کومې ورځ چې هغوی زما دښمنان شي، زه به يې له خاورو سره خاورې کړم.

ومې ويل آزيرو ! ته پوهېږې، چې ستا له لوري د هاتيانو ټکول او له منځه وړل که ناممکنه نه وي، نو سخت کار خو دی، ځکه چې د هاتي اوسېدونکي له سورېې ليرې په يوې ليرې پرتې غرنۍ سيمه کې ژوند کوي.

که ته غواړې هاتيان له پښو ورغورځوې، بايد خپل عسکر له سورېې څخه د هغوی هېواد ته بوځې مګر هغوی به په غرنيو سيمو کې ستا لښکر له منځه يوسي.

زه پوهېږم چې هاتيان يو ډول فلز لري، چې نوم يې وسپنه دی او هغه توري چې له وسپنې جوړېږي، مسي توري په يوه ګوزار غوڅوي او د هغوی وسپنيز غشي داسې تېره

دي، چې کله له لیندو خوشې شي او پر تټر ولګېږي نو له شاڅخه وځي.

پر دغه ملت برلاسی ناشونی دی ځکه چې په پراخې غرنۍ سیمه کې اوسېږي او که ته دومره ځواک ولرې چې هغوی کلابند کړې نو خپله پلازمېنه به خوشې کړې او بلې سیمې ته به ولاړ شي.

د پر کلونه به دې په غرنیو سیمو او درو کې سرګردانه کړي، هغه هم په دې شرط چې د هاتي د هېواد سوړ ژمی وزغمې.

ځکه چې په ژمي کې د هاتي په غرنیو سیمو کې هوا دومره سړه وي چې په غرونو کې اورنه شي بلولای او په دې سړو کې به ستا عسکر مړه شي.

آزیرو ته نو باید داسې کار وکړې، چې کله هاتي په تا برید وکړي، له ځانه د دفاع وسیله ولري او دغه وسیله له فرعون سره ستا اتحاد دی.

ته په یوازې سر د هاتي پر وړاندې د خپل هېواد دفاع نه شې کولای، خو که له فرعون سره یو ځای شې، د مصر فرعون به دومره عسکر درکړي چې هاتیان په شا وتمبوې.

آزیرو چې په ځیر تیا سره یې زما خبرې اورېدې، ویې نه غوښتل اعتراف وکړي، چې له هاتي وېرېږي.

ده وویل، د سولې پلوی یم او تر جنګ سوله غوره بولم، خو له دې امله جنګېږم، چې له شرافت سره سم سوله ترلاسه کړم او که فرعون د غزې سیمه چې په چل او دوکې یې له ما څخه نیولې ده بیرته راکړي او د سوریې د جنګ تاوان په غنمو ،نباتي غوړیو او سرو زرو ورکړي (ځکه چې دغه جنګ فرعون رامنځته کړی دی) زه به له هغه سره سوله وکړم.

ما چې ولیدل آزیرو چې په خبرو خبرو کې د جنګ د تاوان یادوه کوي او خاندي، نو پوه شوم چې له هغه سره تو کې کولای شم، ومې ویل:

آزیرو !اې غله !او اې د بې ګناه کسانو جلاده !ته څنګه د تاوان د اخیستو خبره کوې، په داسې حال کې چې دا ته وې، چې په سوریې کې دې د مصر په چوڼیو برید وکړ، نارینه او ماشومان دې ووژل او ښځې دې اسیرانې کړې.

اوس دې دغه مېرمنې د هاتي افسرانو ته ورکړې، چې هغوی یې شکنجه کړي.

ته له دې کبله د ګرمې او تاوان د ترلاسه کولو خبره کوې، ته خیال کوې چې مصر کمزوری دی، په داسې حال کې چې اوس په کوز مصر کې پښان او صنعتګر د تورو، نیزو ،چړو ، غشو ،لیندو او جنګي ګاډیو په جوړولو بوخت دي.

هورم هب چې ته یې ښه پېژنې، یا دې نوم اورېدلی دی، بې له خنده د عسکرو د راتولولو لپاره هلې ځلې کوي.

پر کومه ورځ چې ما غوښتل تاته درشم او د سولې غوښتنه وکړم، داسې غوسه شو چې ما فکر وکړ وبه مې وژني.

خو فرعون چې د خپل خدای آتون پیروي کوي، د سولې غوښتونکی دی او له وینې بېزاره کرکه لري.

له همدې امله یې ماته وویل آزیرو ته ورشه او د سولې وړاندیز ورته وکړه.

خو د غزې په هکله باید ووایم، چې نن سبا فرعون په دې سیمه کې هېڅ قدرت نه لري چې وکړای شي هغه ځای تا ته وسپاري.

ته کولای شې چې پخپل ځواک سره د غزې غله او ډاکوان له منځه یوسې او هغه ځای ونیسې.

پوهېږې چې دغه غله او ډاکوان هغه کسان دي، چې ستا د بې رحمۍ او ظلم له وېرې له سوریې تښتېدلي دي.

یوازېنۍ غوښتنه چې فرعون یې د سولې په بدل کې له تا څخه کوي دا ده چې مصري بندیان خوشې کړې او د مصري چوڼیو د ورانیدا تاوان ورکړې.

آزیرو د یوه حریص سریاني سوداګر په څېر چې د چنې وهلو پر وخت خپلې جامې شکوي، خپل ګریوان وشکاوه او نارې یې کړې:

سینوهه ! ایا کوم لېوني سپي خوړلی یې چې دغه خبرې کوې ؟

غزه د سوریې خاوره ده، باید بېرته سوریې ته ستنه شي، خو د هغو مصري بندیانو په هکله چې له موږ سره دي د روانو دودونو پر اساس چلند کېږي.

موږ یې خرڅوو او که فرعون د اسیرانو غوښتونکی دی او د هغو د اخیستو لپاره سره او سپین زر لري، کولای شي، هغوی واخلي.

دا چې ته د مصري سوداګرو په هکله خبرې کوې، یوازې هغه څوک دغسې خبرې کولای شي، چې لېوني سپي داړلی وي.

دغه سوداګر چې ته وایې تاوان یې زغملی دی، چېرته و، چې تاوان یې کړی دی ؟

که هغوی په مصر کې و او موږ مصر ته ورغلي یو او دوی زموږ د ورتګ له امله تاواني شوي وای، نو تا دا حق درلود چې ووایې، باید هغوی ته ګرمه یا تاوان ورکړو.

خو دغه سوداګر چې باید په خپل هېواد کې تجارت وکړي، هغه ځاي يې پرې ايښى دى، زمونږ هېواد خپل کور ګڼي او په ډېرو ښکلو کورنو کې ناست دي.

زمونږ ښېرازه ځمکې يې نيولي دي او له خپل هېواده، مصري شيان سوريې ته راوړي او په خو برابره ګټه يې خرڅوي.

دوى ورځ په ورځ شتمن کېږي او د سوريې خلک نور هم بېوزله کېږي.

ځکه خلک چې د کار په بدل کې هر څومره سره او سپين ګټي بايد د مصري شيانو په بدل کې يې مصري سوداګرو ته ورکړي.

د سوريې په شيانو کې له غنمو پرته بل هېڅ شى د سوريې د خلکو لپاره ګټه نه لري.

ډېره موده دغه روده په سوريې کې روانه وه او خبره دې ځاى ته ورسېده چې داسې ښه کور، ښيرازه ځمکه او ښه کاريز پاتې نه شو چې په مصري سوداګرو پورې اړوند نه وي او يا هغه پکې شريک نه وي.

اوس چې د سوريې خلکو خپل حق ترلاسه کړى، نو بايد مونږ مصري سوداګرو ته سره او سپين ورکړو او د هغوى تاوان او ګرمه ورکړو ؟

زه پوه شوم، چې که د مصري سوداګرو د ګرمې د اخيستو خبره اوږده کړم، نو خپله خبره به ونه کړاى شم..له همدې امله ما د بحث موضوع بدله کړه او ومې ويل، ازيرو که ته له مصر سره سوله وکړې د خپل ښار شا و خوا ته دنګ ديوالونه جوړولى شې او ستا د هېواد سوداګر له مصر سره په معاملو بډاى کېداى شي.

خو که هاتي پر تا بريد وکړي، نو د مصر فرعون د سرو و سپينو او پوځي مرستو په زور د هغوى د حملې مخه نيولاى شي.

بيا مې زياته کړه آزيرو ! که ته وغواړې د مصري سوداګرو د شتمن کېدا موضوع په سوريې کې راپورته کړې او ووايې، چې هغوى په سوريې کې د خلکو په تاوان سره شتمن شوي دي، نو د يوې پخوانۍ مسلې په هکله به دې خبره کړې وي.

پخوانۍ مسلې نن سبا د توجيه وړ نه دي ، ددې لپاره چې د انسان د عمر هر پړاو خپلې غوښتنې او اړتياوې لري، بايد له هغو سره سم عمل وشي.

تېر وخت چې هر ډول و، تېر شو، بايد د نن ورځې لپاره فيصله او اقدام وشي.

زه باوري يم، هغه سوله چې نن سبا يې فرعون تا ته وړانديز کوي، نه يوازې ستا لپاره پکې شرافت او عزت شته، بلکې ستا په ګټه هم ده.

ځکه چې فرعون له تا د هغه هېوادنو غوښتنه نه کوي، چې تا په سوريې کې نيولي دي بلکې په دغې سولې سره تا د هاتي پر وړاندې پياوړی کوي.

ددې شپې مذاکرات همدلته پای ته ورسېدل، خو له هغه وروسته څو ورځې او څو شپې ما له آزيرو سره د سولې په هکله خبرې وکړې او څو ځله هغه د سرياني سوداګرو په شان کالي وشکول او ناري سوري يې وکړې.

ده به ويل فرعون غواړي چې ما وغولوي او زوی مې د سوريې له سلطنته محرم کړي.

يو ځل په کاوړکې د هغه له کېږدۍ څخه را ووتم او داسې مې وښودله، چې غواړم بيرته ستون شم، هغه ته مې پيغام واستاوه، چې يو روان تخت او يوه ډله عسکر زما د ساتنې لپاره راکړي، چې مصر ته ستون شم.

آزيرو بيرته خپلې کېږدۍ ته ور وغوښتم، بيا مذاکره پيل شوه، زه پوه شوم چې څومره وخت تېر شي د فرعون په ګټه دی، ځکه هره ورځ چې تېرېده د آزيرو په اډه کې د هاتي افسرانو او د آمورو د افسرانو ترمنځ اختلافات زياتېدل.

د هاتي افسرانو د آزيرو د پوځ افسران د خپلو مرييانو په بڼه ګڼل او ويل به يې که موږ نه وای تاسې سوريه نه شوه نيولای نو ځکه بايد سوريه زموږ په لاس کې وي نه ستاسې.

په سوريه کې هم د آزيرو او نورو پاچاهانو ترمنځ اختلافات پيل شوي وو.

د سوريې نورو پاچاهانو له آزيرو سره، د هغه د مقام او بخت له امله بخيلي کوله، نه يې غوښتل د هغه اطاعت وکړي.

آزيرو ماته وړانديز وکړ، له دې کبله چې د هغه او فرعون ترمنځ له غزې پرته بل کوم اختلاف نشته، نو ددې سيمې وضيعت دې په دې ډول وټاکل شي، چې د غزې د ښار دېوال (چې د غزې سيمه هم ددې ښار په نوم يادېږي) وران شي.

له هغه وروسته به د آزيرو له لوري د غزې لپاره يو پاچا ټاکل کېږي، خو دغه پاچا به د هغه مشاور په خوښه چې فرعون يې ټاکي پر غزه حکومت کوي.

مصري بېړۍ به د باج له ورکړې پرته غزې ته ځي او مصري سوداګر به هم په ازاد ډول تجارت کولای شي.

زه پوه شوم چې له دې وړاندېزه د آزيرو هدف دا و چې په چل ول سره غزه د مصريانو له لاسه وباسي.

کله چې د غزې دېوال وران شي، د غزې پوځي ارزښت هم له منځه ځي او نور به مصر ته

له پوځي پلوه ارزښت ونه لري.

ما دغه حل لاره ونه منله او د پخوا په شان مې بې وسي وښودله و مې ويل، فرعون په غزه کې هيڅ نفوذ او قدرت نه لري، چې وکړای شي د غزې د ښار دېوال وران کړي او يا داسې مشاور وټاکي چې د غزې د پاچا د ټاکلو لپاره مشوره ورکړي.

آزيرو له ناپوهۍ داسې غوسه شو، چې زه يې له خپلې کېږدۍ و ايستم، ما غوښتل چې ستون شم، خو بيا يې هم زما مخه ونيوله.

بې له دې چې د سولې په هکله خپل پرېکنده نظر ورکړي، زه څو ورځې نور هم د هغه په اډه کې پاتې شوم.

خپل وخت مې د ناروغانو او ټپيانو په درملنې تېراوه، په تېره بيا هغه ښځې مې معالجه کولې، چې د هاتي افسرانو به پرې تېری کړی و.

ځينې يکې داسې وې، چې پوهېدم حتماً مري، هغوی ته به مې اپيم ورکول، چې له درداو عذاب پرته په ښکلي خوب کې مړې شي او د ژوند له شکنجو وژغورل شي.

په هغو درملو کې چې په مصر کې د وژلو لپاره کارول کېږي، يو هم د اپيمو په شان اغېزناک نه وي، ځکه يوازې اپيم او نور اړونده شيان يې کولای شي، يو کس له کړاوه پرته په خوب کې بلې دنيا ته بوځي. له همدې امله بايد اپيم د مېرمنو، ځوانانو، ماشومانو او هغو کسانو لاس ته ورنه شي چې نهيلي دي او غواړي ځان ووژني.

له دې سره سره چې د آزيرو په اډه کې د اوسېدو په وخت مې ناروغان او ټپيان او هغه مېرمنې معالجه کړې، چې د هاتي افسرانو پرې حمله کړې وه او ځينې مې د مرګ په خوب ويده کړل، بلکې په دې موده کې مې يو شمېر مصري اسيران هم آزاد کړل.

يوه شپه دوو تنو نيت درلود چې آزيرو ووژني.

آزيرو يو يکې وواژه او بل د هغه د زوی له لوري ژوبل شو.

پر بله ورځ آزيرو زه ور وغوښتم، او له دې وروسته چې په سر کې يې يو څه خلق تنګي وکړه، خو بيا يې وويل زه چمتو يې چې له فرعون سره سوله وکړم.

پر همدې ورځ له يوې خوا د مصر د فرعون او له بلې خوا د سوريې د پاچاهانو او آزيرو له لوري د سولې تړون برابر شو او د سوريې د نورو پاچاهانو له لوري آزيرو هغه لاسليک کړ.

د نوموړي تړون له مخې غزه له مصر سره پاتې شوه او فرعون د غلو او ډاکوانو د

ختمولو لپاره هېڅ ډول مسولیت ونه مانه، خو موافقه یې وکړه، چې مصري اسیران به له آزیرو اخلي.

په تړون کې ولیکل شول، چې دغه تړون به تل د فرعون او آزیرو ترمنځ معتبر وي او ددې لپاره چې تړون دوامداره پاتې شي، هغه یې د آتون په ګډون د زړو مصري خدایانو او زړو سوري خدایانو تر ملاتړ لاندې راوست.

کله چې د متې ختې پر لوحو دغه تړون ولیکل شو آزیرو غوښتل هغه مهر کړي.

کله چې یې پر لوحې مهر لګاوه ځان یې داسې غمجن وښود، چې ته وا ددغه تړون په لاسلیک کولو سره یې لوی تاوان کړی دی.

ما چې هم پر تړون لاسلیک وکړ، ګرېوان مې وشکاوه او ناره‌ې سورې مې جوړې کړې، چې آزیرو پوه شي، زه پر دغه تړون ډېر خپه یم ځکه د مصر په تاوان دی، خو په زړه کې هم زه او هم دی خوشحاله و.

کله چې ما غوښتل مصر ته حرکت وکړم آزیرو ډېرې ډالۍ راکړې، ما هم ورته وویل، چې کله مصر ته ولاړ شم په لومړنۍ مصري کشتۍ کې به، چې له سولې وروسته د غزې پر لوري راځي، د هغه لور او زامنو ته ډالۍ را واستوم.

د روانېدو پر وخت آزیرو په غېږ کې ونیولم او خپل کلک ملګری یې وبللم.

ما هم د هغه زوی په غېږ کې ونیو او ښکل مې کړ، خو دواړه پوهېدو، چې د سولې دغه په نامه تلپاتې تړون د هغې ختې په اندازه ارزښت نه لري چې تړون پرې لیکل شوی دی.

آزیرو د هاتي له ویرې مجبور شو، چې دغه تړون لاسلیک کړي او فرعون د خپل خدای آتون په ټینګار د غه موافقه وکړه.

خو د تړون دوام په هاتي پورې اړوند و او که هاتي په راتلونکي کې د آزیرو لپاره خطر پېښ نه کړي، هغه به تړون مات کړي او د مصر پر خلاف به جنګ پیل کړي.

پر هاتي سربېره د کرت د پاچا وضیعت هم پر جنګ باندې خپله اغېزه درلوده، ځکه که د کرت سمندري ځواک د مصر ملاتړ ونه کړي او مصري بېړۍ ونه کړای شي غزې ته غنم، سره وسپین او وسله یوسي نو هغه کسان چې په غزه کې جنګېدل هغوی به تسلیم شي.

آزیرو د تړون له لاسیک کولو وروسته ما ته وویل، خپل پوځ به رخصت کړي او ما ته به یوه ډله عسکر راکړي چې (غزې) ته مې ورسوي.

دغه راز آزیرو ددې ډلې د عسکرو د قوماندان په لاس په غزه کې خپلو عسکرو ته یو

لیک واستاوه، چې د غزې محاصره پای ته ورسوي، ځکه چې سوله شوې ده.

کله چې موږ غزې ته ورسېدو او زما سترګې د غزې پر دېوالونو ولګېدې، پوه شوم، چې آزیرو د غزې د نیولو لپاره ولې دومره ټینګار کاوه، او یا یې غوښتل چې دېوال یې وران کړي.

د غزې دېوال یو پیاوړی جنګي ډال یا کلاوه.

له دې سره سره چې د آزیرو له لوري له ډېرې مودې راهیسې غزه کلابنده وه، خو محاصره شویو کسانو د سمندر له لارې خواړه تر لاسه کول او مقاومت یې کاوه.

له دې کبله چې زه د مصر د پاچا استازی او په داسې حال کې چې د خرما د ونې څانګه مې پر سر ښوروله، غوښتل مې ښار ته ننوځم. خو ددې پر ځای چې د ښار دروازه راته خلاصه کړي د غشو داسې باران راباندې جوړ شو، چې تصور مې وکړ، د ژوند وروستې شېبې مې دي.

تر دې وړاندې چې د غزې کلا ته نژدې شو، د آزیرو عسکرو ستر ډالونه اخیستي ول، موږ یې لاندې پټ کړي و، ګني وژل مو حتمي و.

ان له دې وروسته چې ما ځان په لوړ غږ معرفي کړ، د غزې د ساتونکو قوماندانوویل ، موږ به ونه غولېږو او په هېڅ پلمې او عذر به دروازه در خلاصه نه کړو.

که دغه سړی (سینوهه) د فرعون استازی وي موږ به یې په یوه زنبېل کې پورته د دېوال سر ته کش کړو.

همدا کار یې وکړ او په داسې حال کې چې د آزیرو عسکرو خندل، زه یې په زنبیل کې د دېوال او کلا سر ته وخېژولم.

د غزې د دفاع کوونکو قوماندان وویل، ما له سریانیانو دومره درواغ او چلونه لیدلي او اوریدلي، چې پر هېڅ شي باور نه کوم.

په دې وخت کې پوه شوم چې څنګه غزې تر دې وخته د آزیرو د عسکرو پر وړاندې مقاومت کړی دی. ځکه چې د ساتونکو قوماندان او نور موجود خلک ډېر زړه ور او هوښیار کسان ول چې نه غولیدل او نه له سریانیانو څخه وېرېدل.

له هغه ځایه یوې کشتۍ، زه د مصر لور ته بوتلم.

کله چې نیل ته ورسېدم او د مصر او سیدونکي خبر شول، چې په سوریه کې سوله شوې، ډېر خوشحاله شول.

ممفیس ته له ننوتو وروسته زه اند ېښمن وم او ډارېدم چې هورم هب پر ماغوسه نه شي او وبه وايي چې د سولې د تړون لاسلیک کول د مصر د ګټو پر خلاف دی، خو هغه مې هم خوشحاله ولید.

معلومه شوه، چې د کرت سمندري ځواکونه نور د مصر د کشتیو ملاتړنه کوي او د هغوی کشتۍ بېرته کرت ته ستنې شوي دي.

نو که په غزه کې جنګ دوام کاوه، غزه د دښمن لاسته لوېده.

هورم هب هم نور نه شو کولای چې د سمندر له لارې دې ښار ته خواړه او وسله ولېږدوي، ځکه چې د سوریې جنګي کښتیو د مصر هغه بېړۍ چې غزې ته یې خواړه او وسله لېږدوله ډوبولې.

له همدې امله هورم هب پر دې خوشحاله و، چې سوله وشوه او غزه له مصر سره پاتې شوه.

سمدستي یې ځو بېړۍ خواړه او عسکر د غزې د پوځ د پیاوړتیا لپاره واستول، د غزې پارتیزانان او چریکان چې په صحرا کې ول هغوی یې هم مضبوط کړل.

په هغو شپو ورځو کې چې زه په ممفیس کې وم، د بابل د پاچا بورابوریاش له لوري یو استازی مصر ته راغلی.

ما پخپلې بېړۍ کې چې درباري بېړۍ وه سپور کړ او یوځای د فرعون دربارته ولاړو.

له دې کبله چې د بابل استازی یو بوډا او پوه سړی و، په لاره کې ما د هغه له خبرو په تېره بیا د ستورو، فال بینۍ او د راتلونکو پېښو له اټکلونو خوند اخیست.

د بابل استازي ویل، زه د هاتي له دیره کړای شوي ځواکه ډارېږم، فکر کوم هاتي به له دې وروسته نور هم پیاوړی شي، خو د هاتي قدرت هم یو حد لري، ځکه چې د بابل ستورپېژاندو اټکل کړی دی، چې یوه پېړۍ وروسته به د هاتي قدرت په ځوړتیا شي.

له لوېدیځه به وحشي او سپین پوستي قبایل روان شي او د هاتي قدرت به له منځه یوسي.

د بابل منجمینو نه دي ویلي، چې په کومه نېټه به دلوېدیځ تاتوبي وحشي او سپین پوستي قبایل د هاتي د ختمولو لپاره وخوځېږي، خو ددې پېښې په پېښېدا کې شک نشته.

زه په دې خبرې حیران شوم، ځکه چې پوهېدم په لوېدیځ کې له سمندر او تاپوګانو

پرته بل څه نشته.

په دې مې سر نه خلاصېده چې څنګه وحشي قبایل له هغه ځایه راځي او د هاتي قدرت له منځه وړي.

خو په دې پوهېدم چې د بابل منجمین سم اټکل کوي ځکه چې ما په خپله په بابل کې له هغوي داسې شیان کتلي وو چې زه یې هک پک کړی وم.

بیا د بابل سفیر وویل هغه پېر او دور، چې موږ پکې ژوند کوو پای ته رسیدلی دی له دې وروسته بل پېر پیلېږي او په نوي پړاو کې د نن ورځې ځینې ملتونه له منځه ځي هماغه ډول چې د میتاني ملت د هاتیانو په وسیله له منځه لاړ او هغه خدایان چې نن سبا واک چلوي هغوي به هم له منځه لاړ شي او نور خدایان به یې ځای ونیسي.

بیایې له ما د آتون په هکله پوښتنه وکړه، ما وویل، آتون هغه خدای دی، چې د مصر فرعون ته څرګند شوی دی، هغه ته یې دنده سپارلې، چې په مصر کې مساوات ټینګ کړي، د بېوزله او بډای توپیر له منځه یوسي او له جنګ سره پرېکړون وکړي.

کله چې ما دغه خبرې کولې د بابل استازي خپله سپینه ږیره موښله او بیا یې وویل، زه خیال کوم چې د دې خدای ظهور د دې پېر د پای ته رسېدا یو دلیل دی، ځکه چې تر اوسه پورې هېڅ دغسې عجیبه او خطرناکه عقیده نه ده درلودلې.

د دې عقیدې پیدا کېدل د دې پېر د ختمېدا لپاره کفایت کوي.

څلوېښتم څپرکی

د فرعون د وژلو هڅه

زه چې د مصر په دربار کې نه وم، د فرعون سردرد سخت شوی و او د هغه پر روح اند ېښنه واکمنه شوې وه.
د آتون د معبد ستر کاهن آمي ددې لپاره چې فرعون آرام کړي، فيصله وکړه، چې د محصول له ترلاسه کولو وروسته کله چې نيل مستېږي او اوبه راخېژي نو د فرعون لپاره د پرش کلن جشن جوړ کړي.
فرعون تر د يارلسو کلونو ډېر حکومت نه و کړی، خو دا چې د پرش کلن جشن ورته جوړېږي کومه ستونزه نه وي، ځکه چې له ډېرې مودې راهيسې په مصر کې دود داسې و، چې فرعون کله وغواړي نو کولای شي د خپلې واکمنۍ د پرش کلنۍ جشن جوړ کړي.
کله چې زه مصر ته ننوتم محصولات ټولېدل او کروندګر، د غلو دانو د پريمانۍ له امله تر پخوانيو کلونو څه نا څه خوشحاله ښکارېدل څه ناڅه خوشحاله ددې لپاره وايم چې بېخي خوشحاله هم نه ول، ځکه چې د غنمو دانو د پخوا په شان سرې ننبې او تاپې درلودې او کليوالو همغه شان په وحشت او ډار سره غنم مصرفول.
زه ورستون شوم د مصر سوداګر د آزيرو او فرعون ترمنځ د سولې پر تړون ډېر خوشحال ول، ځکه چې ددې معاهدې له امله د مصر او سوريې ترمنځ بيرته سوداګري پيلېدله.
له سياسي پلوه مصر ته د بابل د استازي سفر ډېر اهميت پيدا کړ، ځکه چې د بابل سفير د خپل پاچا بورابورياش، يوه خور له ځان سره راوستله، چې د فرعون ښځه شي او غوښتل يې له فرعونه وغواړي چې خپله يوه لور بورابورياش ته ورکړي.
فرعون ته د نجلۍ ورکول او له فرعونه د لور غوښتل دا ښکاره کوله چې د بابل پاچا نيت لري، د هاتي د خطر پر وړاندې له فرعون سره متحد شي.
کله چې مصريان خبر شول چې د بابل پاچا د فرعون لور د خپلې مېرمنې په توګه

غوښتې ده، نو حيران او هک پک شول، ځکه چې د پخوانيو دودونو پر اساس د فرعون د کورنۍ د غړيو سپيڅلې وينه بايد له بهرنيو وينو سره يو ځای نه شي.

خو فرعون پر دې ورانديز خپه نه شو، البته زه پوهېدم چې په باطن کې ډېر خواشينی دی، چې لور به يې له مصره لېرې شي او بابل ته به ولاړه شي.

ځکه چې فرعون ته ياد دي چې په وارونو وارونو د ميتاني شهزادګۍ ددې لپاره چې د مصر د فرعون ښځې شي مصر ته راغلې او دلته مړې شوې دي، نو ډارېده چې د هغه لور به هم په بابل کې مړه شي. له دې سره سره يې د بابل له پاچا سره دوستي دومره مهمه ګڼله چې له دې فدا کارۍ سره يې موافقه وکړه.

خو هغه نجلۍ چې بايد د بورابورياش مېرمن شوې وای دوه کلنه وه او فرعون د بابل سفير ته وويل چې خپله لور به په مصر کې د بابل پاچا ته ځانګړې کړي او د بابل سفير له يوه لوري او فرعون به له بل لوري، د بابل د پاچا او د فرعون د لور په استازيتوب منګی مات کړي، چې بورابورياش پوه شي د فرعون لور د هغه مېرمن ده او کله چې پيغله شوه، هغه به بابل ته واستوي.

د بابل سفير دغه حل لاره ومنله.

کله چې زه د افق ښار ته ولاړم فرعون د سر له خوږو کړېده، خو له آزيرو سره د سولې د تړون لاسليک کول او دغه راز د بابل او مصر د اتحاد خبرې پر فرعون ښه اغېزه وکړه او هغه يې د پاچاهۍ د ډېرشمې کليزې په جشن کې د ګډون لپاره چمتو کړ.

د آتون د معبد ستر کاهن آمي په ډېر پرتم سره د اخناتون د سلطنت د ډېرش کلن جشن جوړ کړ او د مصر د جنوبي برخې او سېدونکو ته يې بلنه ورکړه، چې خپل استازي په دې جشن کې د ګډون لپاره را واستوي.

هغوی هم خپل استازي راواستول چې پر برګو خرو (ګوره خر) او زرافو سپاره ول.

ځينو استازو کوچنۍ بيزوګانې په لاس کې درلودې، چې د هغو په لاسونو کې هم طوطيان ول.

د مصر د جنوب او سېدونکو له ځان سره مربيان راوستي ول، چې هغوی فرعون ته ددې سيمې د اوسېدونکو له لوري ظاهراً طلا، د فيل عاج، او له خاصو لرګيو او د شتر مرغ له ښکو جوړ صندوقونه فرعون ته ډالۍ کړل.

خو زه پوهېدم، چې آمي دغه شيان د فرعون له خزانې ايستلي دي او په نمايشي توګه

يې د مصر د جنوبي برخې او سېډونكو ته وركړي، چې فرعون ته يې وركړي او خلكو هغه صندوقونه چې مرييانو په سرونو ايښي ول، يو بل ته ښودل او ويل يې چې دغه صندوقونه له سرو زرو ډک دي، خو زه خبر وم چې صندوقونه تش دي.

فرعون په دې دوكې خبر نه شو او خيال يې وكړ چې په رښتيا د مصر د جنوب او سېډونكو دغه ډالۍ وركړې دي.

دی د هغوی د وفادارۍ له كبله او بيا داچې د هر شتمن دي خورا خوشحال شو، ځكه چې كه شتمن نه وای دغسې ډالۍ يې نه شوای وركولای.

خو د بابل د سفير ډالۍ حقيقي او ګران بيه وې او د فرعون د سلطنت د دېرشمې كليزې لپاره د كرت او آزيرو له لوري هم استازي راغلي ول.

د كرت سفير څو دانې ميناګانې او د طلا جامونه چې په ډېره ښكلې بڼه جوړ شوي ول، فرعون ته وركړل او دغه راز د خوندورو نباتي غوړيو څو منګي يې هم فرعون ته ډالۍ كړل چې يوازې په كرت كې جوړېږي او ډېر ښه ورېم او بوی لري.

آزيرو هم ډالۍ راستولې وې، ځكه چې تمه يې كوله د فرعون له لوري به هم ډالۍ ترلاسه كړي او پردې سربېره يې غوښتل د خپل استازي په مرسته چې ډالۍ يې لېږدولې د مصر حالات وڅېړي.

دغه راز ده غوښتل معلومات ترلاسه كړي او پوه شي چې د فرعون د لېونتوب او ناروغۍ آوازه څومره سمه ده ؟(ځكه چې اوريدلي يې و فرعون لېونی دی)

د جشن له تشريفاتي مراسمو وروسته اخناتون له خپلې دوه كلنې لور سره د آتون معبد ته ولاړ او زه هم ورسره ملګری شوم.

په معبد كې فرعون خپله لور د بابل د سفير ترڅنګ ودروله او بيا ستر كاهن د مېږه او ښځې ترمنځ د پخواني دود پر اساس د فرعون د لور او د بابل د سفير ترمنځ منګی مات كړ.

كله چې منګی مات شو ما وليدل چې د آزيرو د سفير څېره له ډېر خپګانه تكه شنه شوه، ځكه هغه پوهېده چې د منګي د ماتولو مفهوم دا دی چې له دې وروسته به د مصر او بابل سلطنتي كورنۍ سره متحدې شي.

كه آزيرو پر مصر حمله وكړي، د بابل پاچا به د فرعون په مرسته د آزيرو پر خلاف په جنګ كې وركډ شي.

کله چې منګي مات شو کوچنی نجلۍ تېښته شوه او د منګي يوه ټوټه يې پورته کړه او ټولو دغه مسله په نیک فال وګڼله.

خلکو وویل په راتلونکې کې به دا ډېره نیکمرغه مېرمن شي.

کله چې له معبده ستانه شو ما فرعون اړیست چې په بستري کې څملي، خو هغه لږ هیجاني و او په بستر کې نه شو پاتې کېدای.

ما هغه ته مسکن درمل ورکړل، چې وېره او اضطراب يې ختم شي، خو درملو پرې اغېز نه کاوه او نه ویده کېده، له بستري به پورته شو او ویل به يې سینوهه.....سینوهه...... !

نن زما د ژوند تر ټولو ښه ورځ ده، ځکه چې ګورم آتون پخپل ځواک سره په مصر کې دا ټول خلک رامنځته کړي، کلي او ښارونه يې جوړ کړي، کروندې يې شنې کړې او د نیل په روانو اوبو يې خړوبې کړې دي.

کله چې به فرعون لاس د آسمان لور ته پورته کړ، داسې به يې ښوراوه چې ته وا د لاس په ښورولو سره بدبختي او تورې تیارې له منځه ورلای شي.

ده به ویل: اې آتونه! ته د ورځې له پلوه لکه لمر پر ځمکه ځلېږې او ټولې سترګې تا ته ګوري، خو دومره ځلاند يې چې هېڅوک نه شي کولای نېغ په نېغه تا ته وګوري.

او که وګوري ستا د رڼا له کبله به ړوند شي، خو کله چې ناځرګند شې، شپه را ورسېږي او خلک تا ونه ویني، نو سترګې پټې کړي چې ویده شي، هغه وخت تر ورځې هم په ځلانده توګه زما پر زړه رڼا خپروې.

فرعون داسې هیجاني شوی و، چې ما يې د زړه د درزېدا غږ واورېده.

ده له ډېر هیجانه وژړل، بیا يې لاسونه پورته کړل او په ډېر شور او زور يې د آتون لپاره دغه سندره ولوستله:

داسې څوک نشته چې تا په ربښتیني ډول وپېژني.

یوازې ستا زوی اخناتون تا پېژني.

او ته، تل د هغه پر زړه ځلېږې او د شپې مهال هم د ورځې په شان رڼا او ځلا لرې.

ته پخپلو مقصدونو یوازې خپل زوی آخناتون پوهوې.

نړۍ ستا په لاسونو کې ده.

او همغسې ده چې تا پنځولې او تل به يې اداره کړې.

(کله چې ته راخېژې انسان ژوندی کېږي.

او کله چې غروب کوي انسان هم مري.
يوازې ته د انسان د ژوند له معيار سره مينه کوې
او انسان له تا پرته د ژوند کولو توان نه لري.)

فرعون دغه شعرونه داسې په خلوص شور او زوږ سره ويل چې پر ما يې هم اغېز کاوه.

خو له دې کبله چې زه ډاکټر وم تر نيمې شپې مې، د هغه سندرې نه شواى اورېدلى او په هر ډول چې کېده، هغه مې په بستري کې څملاوه، بيا هم نه ويده کېده، خو ما نه پرېښود چې پاڅېږي.

زه پر دې شپه د فرعون پر بستري د هغه په شان ويښ وم.

فرعون سهار وختي له خوبه پاڅېده او د خوب له ځايه راووت، باغ ته ولاړ، هلته يې چکر وواهه کله به د باغ په منځ کې ستر حوض ته نژدې شو او د هيليو الوت ته يې کتل.

کله چې د ورځې يوه څلورمه برخه تېره شوې وه، ددې حوض تر څنګ دوو تنو پر فرعون حمله وکړه چې هغه ووژني.

هلته د سلطنتي مانۍ ساتونکي موجود نه ول، يوازې د توتمس يو شاګرد د حوض تر څنګ د هيليو انځور ايست، ځکه توتمس ټينګار کاوه چې د هغه شاګردان بايد ځناور له پخوانيو رسمونو څخه نه، بلکې د ژويو له حقيقي څېرې څخه انځور کړي.

دغه انځورګر وليدل چې دوه تنه د فرعون د وژلو نيت لري، نو ځان يې د هغوى په مخکې واچاو او په نارو او اوازونو يې د فرعون ساتونکي را وبلل.

د انځورګر مداخله ددې سبب شوه، چې فرعون له مرګه وژغورل شي، يوازې يو ولى يې ټپي شو، خو انځورګر مړ شو او د هغه وينې د فرعون جامې سرې کړې.

کله چې زه ورغلم، د فرعون ټپ معاينه کړم او ويې ترم هغه دوه کسه مې وليدل.

يوه سرخريلى و، پر مخ و سر يې تېل موښلي ول او ما حدس وواهه چې بايد د پخواني خداى مريد وي.

بل دوه غوږونه نه درلودل او داسې ښکارېده، چې پخوا يې کوم جرم کړى دى او له همدې امله يې دواړه غوږونه ترې پرې کړي دي.

د مانۍ ساتونکي هغه دوه کسان وتړل او ددې لپاره چې پوه شي څه ډول او ولې يې د فرعون د وژلو هڅه وکړه هغوى يې ووهل.

خودغو دوو کسانو بې له دې چې له درده شکايت وکړي، بې له ځنډه يې د پخواني

خدای آمون نوم اخيست او زه پوه شوم چې د آمون کاهنانو دغه دوه تنه پخپل مرموز څواک سره د درد پر وړاندې بې حسه کړي دي.

د فرعون د وژلو لپاره پر هغه د دغو دوو تنو حمله داسې پېښه وه چې په مصر کې يې سارى نه درلود.

له هغې ورځې چې مصر رامنځته شوى او فرعونيانو پرې واکمني کړې ده، تر دې ورځې پورې داسې پېښه نه ده شوې، چې يو څوک دې په ښکاره د فرعون د وژلو لټه وکړي.

که څه هم ډېر فرعونيان پخپلې مانۍ کې په زهرو سره وژل شوي دي او ځينې د شپې مهال په پړيو خپه شوي دي، يا دا چې جمجه يې په دې پلمه سپړلې چې ګڼي ناروغان دي او د سر کوپړۍ يې سوري کولو ته اړتيا لري، چې بالاخره دوى ورڅخه مړه شوي دي.

خو ټول دغه جنايتونه او وژنې په پټه په سلطنتي مانۍ کې د ننه شوي او ټل د وژل شوي فرعون مرګ طبيعي مرګ ښودل شوى دى.

هېڅکله داسې نه دي شوي، چې په مصر کې دې، په ښکاره چا پر فرعون حمله کړې وي او د هغه د وژلو لټه دې کړې وي.

د بابل سفير په حقه و، چې ويل يې زمونږ پېر بدلېږي او نوى پېر پيلېږي او د نوي دوران د پيلېدا يو چې انکار ترې نه کېږي دا دى چې په ښکاره پر فرعون حمله وشوه.

له هغو دوو کسانو څخه يې د فرعون په مخکې پوښتنې کولې چې ووايي چا دنده ورسپارلې وه، چې فرعون ووژني، خو هغوى ځواب نه ورکاوه.

ساتونکو دغه کسان په متروکو وهل چې هغه څوک وروښيي چې دوى يې دې کار ته پاورلي دي، خو هغوى په پرله پسې ډول د آمون نوم اخيست او د فرعون پر نوي خداى آتون يې لعنت وايه.

دوى اخناتون ته ويل: اې د درواغو فرعونه! ته به ډېر ژر د خپلو اعمالو له کبله سزا شې او تر قيامته به ملعون وې.

دغو دوو کسانو تر دې حده پر فرعون لعنت وايه چې بالاخره فرعون غوسه شو او امر يې وکړ، چې هغوى دواړه شکنجه کړي.

خو شکنجې، حتي د هغوى د غاښونو ايستلو پر هغوى اغېزه ونه کړه او همغه راز يې آتون ته ښېراوې کولې، ويل يې، اې د درواغو او کاذب فرعونه ته خيال کوې، چې موږ له

تا او ستا له ملعون خدایه و پرېږو.

موږ هغه کسان یو چې پر حقیقي خدای آمون عقیده لرو او څوک چې پر آمون عقیده ولري، هېڅ ډول درد نه احساسوي.

کله چې فرعون پوه شو هغوی هېڅ ډول درد نه احساسوي، نو د هغوی له شکنجه کولو پښېمانه شو او ساتونکو ته یې وویل، هغوی خوشې کړئ، ځکه همغه ډول چې درد نه احساسوي، په دې هم نه پوهېږي چې څه کوي.

خو کله چې یې هغه دوه تنه خوشې کړل نو یې ورته وویل ، تاسې ازاد یاست ، هر چېرته چې مو زړه غواړي تللی شئ.

هغوی فرعون ته ښکنځلې وکړې او ویې ویل اې دروغجن او چلباز فرعونه ! موږ ووژنه چې تلپاتې ژوند ته ورسېږو او تل له آمون سره ژوند وکړو.

کله چې هغوی ولیدل د ماڼۍ ساتونکي یې په زور باسي، نو ځانونه یې خوشې کړل او سرونه یې په زور پر دېوال ووهل، چې په دې ډول هغوی مړه شول.

پر دې ورځ زه پوه شوم پخوانی خدای آمون له دې سره سره چې د فرعون له لوري نسکور شوی ، خو بیا هم څومره قدرت او نفوذ لري او څه ډول پخپل نفوذ سره د خلکو پر روح حکومت کوي.

له دې ورځې وروسته ټول پوه شول چې د فرعون ژوند ته خطر پېښ دی او که د هغه ساتنه ونه شي نو و به وژل شي.

له همدې ورځې وروسته د فرعون ملګري او ساتونکي تل له فرعون سره ول، حتي کله چې به هغه پخپل باغ کې چکر هم واهه، دغه کسان به ورسره سم ګرځېدل او له هغه څخه به نه بېلېدل.

دغې نا کامې حملې چې خلک پرې خبر شول د آتون او آمون د پلویانو تر منځ تعصب نور هم سخت کړ او که به د هر لوري وس ورسېد پر بل هغه یې له زور زیاتي څخه مخ نه اړاوه.

د فرعون د سلطنت د دېرشم کال په جشن کې (چې په حقیقت کې د هغه د باچاهۍ دیار لسم کال و.) په طبس کې خلک د زرافو ،برګو خرو ، طوطیانو او بیزوګانو په لیدو خوشحاله نه شول.

دغه راز په لارو کوڅو کې جنګونه وشول او هر څوک چې به یې د حیات له صلیب سره

کتل، وهل به يې او د آتون دوه تنه کاهنان چې د خلکو په منځ کې ګير شوي ول ووژل شول.

تر ټولو بده خبره دا وه چې بهرنيو استازو وکتل، چې پر فرعون ناکامه حمله شوې او ويې ليدل چې د مصر خلکو د خپلو پخوانيو دودونو پر خلاف په ښکاره د فرعون د وژلو لته کړې، نو هغوی پوه شول چې فرعون هم د نورو خلکو په شان دی، کېدای شي هغه ووژل شي کولای شي هغه ووژني او که ووژل شي کومه پېښه نه کېږي او نړۍ به ورانه نه شي.

زه باور لرم چې د آزيرو سفير پر دې سربېره چې د خپل پاچا لپاره يې له فرعون څخه ښکلې ډالۍ ترلاسه کړې وې، دغه راز يې د آزيرو لپاره په زړه پورې خبرونه هم ټول کړي ول.

ما هم د آزيرو لپاره يوه ډالۍ واستوله او د زوی لپاره مې ورته د لوبو يو شی واستاوه.

دغه لوبتکه يو شمېر نيزه لرونکي او غشي ويشتونکي عسکر ول، چې د آمون د پخواني معبد صنعتګرانو له لرګي جوړه کړې وه.

ما ورته وويل، ددې لوبتکې نيمايي مجسمې د سوريې د عسکرو په شان رنګ کړي او نيمايي نور د هاتي د عسکرو په شان رنګ کړي، چې د آزيرو زوی وکړای شي دغه دوه ډلې عسکر سره وجنګوي او لوبې پرې وکړي.

د آمون د پخواني معبد کارګرانو دغسې کارونه ددې لپاره کول، چې وزګار ول او د ژوند د تېرولو لپاره يې دې ډول کارونو ته هم غاړه کېښودله.

پخوا ددې کارګرانو دنده دا وه چې د شتمنو لپاره يې له لرګي څخه بېړۍ او نوکران جوړول، چې هغوی يې پخپلو قبرونو کې کېږدي. د دوی باور دا و چې دغه شتمن چې کله له مرګه وروسته د لوېديز ټاټوبي ته د تګ لپاره په بېړيو کې سپاره شي نو له لرګي جوړ نوکران به يې خدمت کوي.

خو له دې وروسته چې آمون نسکور شو، په قبرونو کې د لرګينو نوکرانو او کشتيو د اېښودلو دود هم له منځه ولاړ.

له دې سره د آمون د معبد دغه کارګران مجبور شول چې د ماشومانو لپاره له لرګي څخه د لوبو شيان او عسکر جوړ کړي.

فرعون چې له ناکامې حملې روغ رمټ ووت، نو داسې فکر يې وکړ چې دغه حمله د آتون له لوري يو اعلان او اخطار و، چې هغه د نوي خدای د عقېدو د خپراوي لپاره نورې

هلې خلې هم وکړي.

د لومړي ځل لپاره د غچ خوند (البته غچ د آتون لپاره، نه د هغه لپاره) د هغه په خوله کې خوندور ښکاره شو او د نوي خدای د عقیدو د خپراوي لپاره یې حکم وکړ چې د پخواني خدای ټول کاهنان له منځه یوسي او د آمون ټول پلویان کانونو ته واستوي.

څرګنده خبره ده چې له دې سره د تل په شان بېوزلې، سادګان، او کمزوري کسان د فرعون د ظالمو او خونړیو مامورینو په منګولو کې ګیر شول.

خو د آمون یو کاهن هم ونه نیول شو، ځکه چې هغوی په داسې ځای کې ژوند کاوه، چې د چا لاس نه ور رسېده.

د فرعون ظالمان او خونړي مامورین پوهېدل، چې د آمون د معبد کاهنان ډېر پلویان او سرښندونکي عسکر لري، نو ددې لپاره چې فرعون ته ځان وفادار وښیي د بېوزلو او کمزورو کسانو نیول او ځورول یې پیل کړل.

بېګناه کسان به یې په دې جرم نیول چې ګني د آمون نوم یې اخیستی دی، دوی به یې کانونو ته استول او هر ځل چې به یوه ډله بېګناه کسان کانونو ته واستول شول د فرعون پر خلاف به د خلکو غوسه او دښمني نوره هم سخته شوه.

دوی به په زړه کې له پخواني خدای آمون څخه غوښتل، چې فرعون مړ کړي چې د هغه له ظلم او کړاوه خلاص شي.

فرعون زوی نه درلود چې له هغه وروسته د مصر فرعون شي، نو خپلې دوه لونې یې د مصر دوو لویو کسانو او اشرافانو ته ورکړې.

په دې ډول چې د(مریتاتون)په نوم خپله یوه لور یې د (سمن خکر) په نوم یوه ځوان ته ورکړه، چې په دربار کې یې خدمت کاوه.

دغه ښکلې او دښې وینا څښتن ځوان د آتون یو متعصب پلوی و، هغه به هم د فرعون په شان کله نا کله بېهوښه شو او په دې وخت کې به یې داسې تصور کاوه چې آتون ګوري او غږ یې اوري.

کله چې فرعون سمن خکر داسې مومن او پر آتون مین ولید، تر دې حده یې خوښ شو، چې کله یې لور ورکړه، نو تاج یې هم د هغه پر سر کېښود او هغه یې خپل ځای ناستی کړ.

فرعون وویل له ما وروسته به سمن خکر د مصر پاچا وي.

فرعون خپله بله لور (آنکس تاتون)پوه بل یوولس کلن هلک ته ورکړه چې(توت)

نو مېده.

نوموړی د مصر د یوه خان زوی و او له دې وروسته چې توت د انکس تاتون ورور (یعنې دهغې مېړه ژباړن) شو ، د سلطنتي غوجلې مشري یې هغه ته ورکړه.

توت هم د فرعون د بل زوم په شان ښکلی و ، خو ډېر تنبل او سست و ، تل یې غوښتل ویده وي او چې راویښ به شو ، له نانځکو سره به یې لوبې کولې او تل به یې خواږه غوښتل.

لکه څرنګه چې زه پوهېدم فرعون دوه فرمانبرداره او بې ارادې ځوانان د زومانو په توګه غوره کړل.

فرعون ځکه دغه کار وکړ چې په راتلونکې کې د هغه د نظر پر وړاندې مقاومت ونه کړای شي او هر څه چې دی وایي هغوی به یې بې له جنجاله مني.

زه فکر کوم درې شیان ددې سبب شول چې فرعون خپلې دوه لونې دغو ځوانانو ته ورکړې.

لومړی دا چې دواړه د آتون صمیمي مومنان وو.

دویمه خبره دا چې هر یو د مصر د یوې مخورې کورنۍ غړی و چې ګنه کورنۍ هم وې او ددې کورنیو اصلي څانګې حسابېدې.

فرعون په دې اړیکه سره د مصر دوه سترې او مخورې کورنۍ له سلطنتي کورنۍ سره نژدې کړې.

درېیمه دا چې دواړو د فرعون پر وړاندې هېڅ اراده نه درلوده او د مصر د پاچا پر خلاف یې کوم کار نه شو کولای.

دغو دوو پیوندونو د اخناتون د کورنۍ اډانه مضبوطه کړه، خو له بده مرغه د آتون د خدای په اړه د فرعون له حده زیات تعصب او د هغه د ظالمو او بې رحمه مامورینو سخت چلند په افق ښار کې خلک ډېر په تنګ کړي ول.

کله چې به زه له کوره وتم او په روان تخت کې به له کوڅو او واټونو څخه تېرېدم، پوهېدم چې کوڅې خاموشې دي

په سر کې د کوڅو په خاموشۍ پوه نه شوم، خو وروسته پوه شوم چې د کوڅو چوپتیا له دې امله ده، چې نه پکې د خلکو خندا او نه په لوړ اواز خبرې شته او نه هم له عمومي کورونو څخه د موسیقۍ غږ اورېدل کېږي او ښار د مړیو د کور په شان په خاموشۍ او سکوت کې ډوب دی.

هر څوک چې پر سړک او يا کوڅه کې ګرځي ښي او کيڼي خوا ته په تر هېدلو سترګو ګوري، چې د مامورينو له عسکرو سره مخامخ نه شي. دوی وېرېدل هسې نه لاره به يې بنده کړي او سره و سپين به ورڅخه غواړي چې که يې ورنه کړي نو تور به پرې پورې کړي چې پر آمون عقيده لري او کانونه ته به يې واستوي.

وروسته وحشت او ترهه په خلکو کې دومره واکمنه شوه، چې حتی له کورونو بهر نه راوتل.

کله به ما په کور کې غوږ ونيو چې د ښار غږ واورم، خو پوهېدم، ښار دومره غلی دی، چې د اوبو د ترازو (ساعت) له غږه پرته بل څه نه اورېدل کېږي.

يوازې د ترازو غږ به شاهدي ورکوله، چې ژوند دوام لري، خو داسې ښکارېدله چې دغه د اوبو ترازو (ګړۍ) وايي چې زه ددې پړاو وروستۍ شېبې شمارم.

په رښتيا چې د افق ښار مړ شوی دی او که کوم وخت به يوه جنګي ګاډۍ له واټونو تېرېده، نو غږ به يې دومره زيات و، چې د تالندې د غږ په شان به يې په غوږونو کې انګازې کولې.

کله چې به زما اشپز کوم غاز ونيوه چې حلال يې کړي، نو په هغې چوپتيا کې به يې زه وېرولم.

په داسې حال چې د افق ښار د جوړېدا په لومړي سر کې د نړۍ تر ټولو ښکلی او په زړه پورې ښار و او هر څوک چې به دې ښار ته ننوتل فکر يې کاوه، داسې يو ښار ته ننوتی دی، چې د تاندوالي او نېکمرغۍ ښار دی.

خو همغه ډول چې يو چينجی ميوه خوري او له دننه يې خرابوي د وخت تېرېدل هم لکه يو چينجی داسې دی، چې تاندوالی او نېکمرغي له منځه وړي او که ظلم او بې عدالتي هم ورسره يو ځای شي ښادي او نېکمرغي ډېره ژر له منځه ځي.

د افق د ښار چاپېريال داسې غم لړلی شو، چې ما بيرته طبس ته د تګ هيله کوله

د افق د ښار يو شمېر اشراف او خانان د کرنې او سوداګرۍ په پلمه او يا د لونو د ورکولو په بهانه طبس ته ولاړل او بيرته راستانه نه شول، په داسې حال کې چې ممکنه وه، د فرعون له کړاو سره مخامخ شوي وای.

خو هغوی د فرعون او آتون په پرتله له آمون څخه ډېر وېرېدل، او طبس ته هم ددې لپاره ولاړل چې له آمون سره اړيکي ښه کړي.

ماکاپتا ته پیغام واستاوه، چې ماته یو لیک را واستوي، له ما وغواړي چې د خپلو کارونو لپاره طبس ته ولاړ شم، چې په دې توګه زه وکړای شم دغه لیک فرعون ته وښییم او له افقه ووځم

کاپتا خط ولیکه، ما هغه فرعون ته ور وښود ومې ویل، چې د خپلو کارونو د جاج لپاره باید طبس ته ولاړ شم.

هغه زما له تګ سره موافقه وکړه، زه په بېړۍ کې سپور شوم، د افق غم لړلی او مړ ښارمې تر شا پرېښود او جنوب یانې د طبس پر لور روان شوم.

کله چې بېړۍ د نیل د اوبو د بهیر پر خلاف د جنوب لور ته روانه شوه، داسې راته ښکارېده چې زما زړه له غمونو خلاص شوی دی.

ما چې د افق له ښاره حرکت کاوه پسرلی و، توتکیو په هوا کې پرازونه کول،نیل مست شوی و او ژوند ښنونکې خړې څمکې یې پوښلې وې.

ما د هغه مین په شان چې د خپلې معشوقې لیدو ته بې قراره وي، بېړه درلوده، چې ژر ځان طبس ته ورسوم.

(له دې کبله چې نیل د افریقا د مرکز له غرونو (د حبشې له غرونو) او ددې لویې وچې له نورو برخو سرچینه اخلي، په دغو سیمو کې په منې کې سخت بارانونه کېږي، څکه خو نیل د نورو سیندونو په اپوته په منې کې مستېږي او په پسرلي کې یې اوبه کمېږي، له همدې لامله وایي، چې په پسرلي کې د نیل سین طغیان یا مستېدل پای ته رسېدلي ول ژباړن)

انسان د خپلو احساساتو مریي وي، د هغه شي غلام کېږي، چې مینه ورسره کوي، که هغه انسان وي ،حیوان ،نبات او یا جماد وي.

پر ما هم طبس ګران و ، څکه چې زما زېږنځای و ، زه هلته لوی شوی یم او زده کړې مې پکې کړې دي

پر دې سربېره د افق له ښاره په وتلو پسې داسې خوشحاله وم، لکه چې یو مرغه له قفسه الوتی وي، احساس مې کاوه چې ازاد شوی یم.

څکه چې ما په افق ښار کې د فرعون د فیصلو له کبله د عادي اوسېدونکو په پرتله ځان ډېر محدود احساساوه، څکه چې د مصر ملت فرعون د خدای زوی بولي، هغه ته د یوه خدای په سترګه ګوري او د هغه د حکمونو پیروي د مصر د ملت لپاره یوه طبیعي چاره

ده، څکه چې فکر کوي د خدای پيروي فرض ده.

خو زه د فرعون ډاکټر يم، څکه خو فرعون زما لپاره د نورو انسانانو په شان يو انسان دی، زه نه شم کولای هغه خدای وبولم.

له دې سره سره د افق په ښارکې مجبور وم، د نورو په شان د هغه د حکمونو پيروي وکړم، خو زه له دې امله ډېر خوابدی او خپه وم چې نورو د خدای او ما د يوه انسان پيروي کوله.

د سفر دوه ورځې مې تېرې شوې وې، زه د افق له ښاره لېرې شوم، ومې کړای شول چې له ښاره دباندې د فرعون په هکله مطالعه وکړم او په دې پوه شوم چې اخناتون يو ستر انسان دی چې ستر خدای لري.

هغه څه چې زه يې وهڅولم او يا يې اړ کړم چې زه فرعون او د هغه خدای ستر وبولم دا دي چې ما د هغه خدای له پخواني خدای سره پرتله کړ.

پخوانی خدای آمون خرافاتي و، خونړی او بې رحمه خدای و، چې د شتمنو او زورواکانو پلويتوب يې کاوه.

پخواني خدای چاته دا اجازه نه ورکوله، چې څوک پوښتنه وکړي (دڅه لپاره، يا ولې؟) دغسې پوښتونکی يې کافر باله، څکه پوهېده، که خلک وکړای شي وپوښتي (ولې؟) نو بيا استبداد او د هغه زور نه زغمي.

خو نوي خدای خلک آزاد پرېښودل، چې هرڅه يې زړه غواړي، هغه وپوښتي او تر سره يې کړي مګر شرط دا و چې نور ونه ځوروي.

نوي خدای خلک له خرافاتو، ناپوهی، جهالت، او وېرې وژغورل، خو جهل ،ناپوهی او خرفاتو پر خلکو داسې سيوری غوړولی و، چې که هغه يې له لاسه ورکول نو ډارېدل.

که نوي خدای ظاهري بڼه درلودای، نو خلکو به ژر د هغه عبادت کړی و، خو مصريان پر دې نه شي پوهېدای، چې ګني داسې خدای هم ممکن دی چې مجسمه او ظاهري بڼه ونه لري.

خلک پر دې نه شي پوهېدای چې نوی خدای د طبيعت په شان دی، چې هر چيرته شته، خو څوک يې نه ويني، اغېزه او ښې يې هر چېرته شته خو ظاهري بڼه نه لري.

خلک درک نه شي کولای، چې ټول هغه خدايان چې تر ننه پورې راغلي، يوازې د دنيوي چارو لپاره راغلي، مګر يوازې آتون پر دنيوي چارو سربېره د بشر اخروي

نیکمرغي هم تضمینوي.

خلکو په زرهاوو کلونو خرافات ستایلي او عبادت یې کړی، نو اوس پر دې نه شي پوهېدای، چې فرعون وایي آتون په بل ځای کې نه بلکې ستاسې په زړه او ستاسې په وجود کې دی.

هغوی پر دې عادت شوي، چې خدای دیوې مجسمې په توګه له خپل وجوده باندې ویني او د دوی لپاره د هغه خدای شتون د منلو وړ نه دی چې نه لیدل کېږي او د هر انسان په زړه او باطن کې دی.

فرعون تصور کوي، چې ټول خلک د هغه په شان شعور او پوهه لري او هر څه چې دی ورته وایي، هغوی پرې پوهېدای شي.

فرعون دې ته متوجه نه دی چې د مصر د اهرامونو تر جوړېدا زر کاله مخکې را ونیسه تر ننه پورې خلک جاهلان دي او پر چټیاتو باور لري.

د جهالت او پوچ پالنې دغه اوږد پړاو خلک تر ځارویو هم بې شعوره کړي دي او پر دې نه شي پوهېدای چې خدای د انسان په زړه کې دی.

مثلاً یو شی چې فرعون یې وایي دا دی، چې هر څوک پخپل زړه کې یو خدای لري او د بشریت د نفوس په اندازه خدایان شته دي.

کله چې هر مصري دغه خبره اوري، فکر کوي، چې فرعون لیونی شوی دی.

دوی وایي، کله چې د انسانانو د شمېرې په اندازه خدایان موجود وي، نو څوک به یې عبادت کوي، ځکه خدایان چې دومره پریمانه وي نو د هر خدای د نمانځنې لپاره به یوازې یو کس موجود وي.

ښایي فرعون وکړای شي، د ستر هرم په شان یو بل ستر هرم جوړ کړي، خو وبه نه شي کولای، په لږ وخت کې هغه خرافات او جهالت د مصریانو له ارواوو وباسي چې له لسګونو کلونو راهیسې د خلکو په زړونو کې دي.

د یو ملت له زړونو څخه د خرافاتو لېرې کول د یوه ستر هرم تر جوړولو سخت کار دی.

په دې مسافرت کې موږ ولیدل چې مصري کروندې د نیل له رسوب او د خړې له کیناستو وروسته څه ډول شاړې شوې او د غنمو پر ځای پکې یوازې د غنمو تنې او وابښه راشنه شوي دي.

له دې سره سره چې د تخم د شیندلو فصل و، خو کروندګر لاس تر زنې ناست ول او تخم

يې نه شينده.

ځيني کروندګرو ځمکې پرې ايښې وې او ښارونو ته تللي ول، فکر يې کاوه چې د هغوی پر کروندو د آمون له لوري لعنت شوی او يوازې خراب غنم پکې راشنه کېږي.

له ځينو کروندګرو څخه، چې په ختېنو کورونو کې ناست ول، ما پوښتنه وکړه، چې ولې تخم نه کرئ او ولې په دې تنبلۍ سره ځان لوږې ته ورکوئ؟

ځواب يې راکړ، که تخم وکرو ګټه نه لري، ځکه چې کله د لو کولو وخت را ورسېد، هغه غنم را په برخه کېږي چې تاپې لري او زموږ ماشومان د هغې ډوډۍ له امله مړه شول، چې له دغو غنمو څخه مو پخې کړې وې.

د افق په ښار کې څوک نه و خبر، چې د تاپې لرونکو غنمو له امله څه ډول ناروغي رامنځته شوې ده، او ما د لومړي ځل لپاره د دغې ناروغۍ په هکله واورېدل.

دې ناروغۍ يوازې ماشومان نيول نارينه او ښځې پرې نه اخته کېدلې، د ماشومانو خپتې به وپړسېدې، ډاکټرانو يې علاج نه شو کولای او بالاخره به ماشومانو د سختو دردونو په زغملو سره ساه ورکړه.

ما تصور نه کاوه چې دغه ناروغي دې د غنمو د تاپو له امله وي، بلکې زما له نظره دا د اوبو يوه ساري ناروغي وه، چې په مني او ژمي کې د نيل سيند د مستېدا له امله پيدا کېږي.

خو کروندګرو به ويل په ماشومانو کې دغه ناروغي د تاپه لرونکو غنمو تر خوړلو ور وسته پيدا کېږي.

زه پوهېدم چې فرعون د دې ناروغۍ په تړاو کومه ګناه نه لري، ځکه چې هغه نه غوښتل دغه ناروغي رامنځته شي، بلکې ګناه د پخواني خدای آمون ده، چې دغه ناروغي يې رامنځته کړې ده، يا د هغه کاهنان ګناهګاران دي، چې په ځينو وسيلو سره د دې ناورغۍ سبب شوي دي.

له دې کبله چې ما طبس ته بيېره درلوده، نو پارو وهونکو ته مې ويل چې ژر ژر پارو ووهئ، لږ فلز مې هم ورکړل چې پخپلو کې يې ووېشي.

څو شېبې وروسته مې واورېدل چې پارو وهونکو له يو بل سره خبرې کولې او ويل يې، موږ ولې د دې لپاره ژر ژر پارو ووهو، چې د خنځير په شانې پړسېدلې دغه سړی ژر خپل مقصد ته ورسېږي.

هغه په داسې خدای عقيده لري، چې د هغه پر وړاندې ټول يو شان دي او د فرعون د

ډاکتر او پارو وهونکي تر منځ توپیر نه ګوري.

که دغه سړی رښتیا وایي او په مساوات عقیده لري، را دې شي پخپله دې هم پارو ووهي، چې لاسونه یې تناکي شي او پوه شي چې د لاس تناکې د اوربشو د اوبو په څو څاڅکو یا په لړ سرو او سپینو نه شي معالجه کولای.

ما د دوی له خبرو وروسته کولای شول پخپلې لکړې هغوی پر ملا ووهم خو دغه کار مې ونه کړ، بلکې د هغوی خواته ورغلم او مې وویل پارو ماته راکړئ، چې د ببړۍ په چلولو کې له تاسې سره مرسته وکړم.

هغوی یو پارو راکړ، ما د پارو یو سر په اوبو کې ننه یوست او بل سر مې په لاس کې ونیوه او د هغوی په شان مې پارو وواهه.

له دې وروسته چې لس ځله زما پارو په اوبو کې دننه او رابهر شو پوه شوم، چې پارو وهل ډېر سخت کار دی او سړی ژر ستړی کوي. یوازې هغه کسان پارو وهلی شي، چې یوه موده یې تمرین کړی وي او په پارو وهلو نه ستړی کېږي.

لنډه موده وروسته مې لاسونه تناکې شول او ملا مې په درد شوه، داسې سخت درد راباندې راغی چې نژدې و، بېهوشه شم.

غوښتل مې پارو وهل پرېږدم، خو پام مې شو چې پارو وهونکي به را باندې ملنډې ووهي.

هغوی به طبس ته تر ننوتو پورې پر ما ملنډې وهي، نو له همدې امله مې دې کار ته دوام ورکړ.

پر دغې ورځ مې دومره پارو وواهه چې بېهو شه شوم او د ببړۍ کارکوونکو خپلې کوټې ته بوتلم او په بستر کې یې څملولم.

پر بله ورځ له دې سره سره چې لاسونه مې تناکې شوي ول او ملا مې درد کاوه، بیا هم پارو وهلو ته کېناستم او د ببړۍ د خوځولو لپاره مې پارو وواهه.

پر دې ورځ مې احساس وکړ، چې پارو وهونکي راته درناوی کوي او ماته یې وویل، ته زموږ بادار یې او موږ ستا مریيان یو، باید ته پارو ونه وهې، ګنې د دې ببړۍ غولی به چت شي او موږ به په داسې حال کې چې سر مو ښکته وي پر لاره ځو.

یوه پارو وهونکي وویل، سینوهه! خدایانو په دې دنیا کې د هر چا ځای ټاکلی دی او ستا ځای دا نه دی چې د پاروګانو تر شا کېنې، ځکه چې ته بادار یې او موږ چې مریيان یو

باید پارو ووهو.

خو ما د هغوی دې خبرې ته پام ونه کړ او همغه راز مې پارو وواهه. پر درېيمه ورځ مې احساس وکړ، چې پارو وهل راته اسانه شوي دي او نوره مې ملا او متې نه خوږېږي.

ورو ورو مې هغه دردونه ختم شول چې د پارو وهلو له امله مې په بدن کې پيدا شوي وو.

زه پوه شوم چې که څه هم زما چاغي کمه شوې وه، خو په بدل کې يې ډېر اسوده او ارام پر لاره تلم. ساه مې لنډه لنډه نه کېدله او داسې راته ښکارېده چې ګني ببرته مې ځواني تر لاسه کړې وي.

زما نوکران چې په بېړۍ کې ول، پر ما يې ملنډې وهلې، ويل به يې يوه لړم سينوهه چېچلی دی يا دا چې د افق د ښار د نورو او سېدونکو په شان لېونی شوی دی، ګني يو څوک چې د فرعون ځانګړی ډاکټر وي د پارو وهونکو په منځ کې داسې نه کېني او د مريبانو په شان پارو نه وهي.

خو زه لېونی نه وم او نه مې غوښتل تل پارو ووهم او دا مې هم په زړه کې ول چې کله طبس ته ورسېدم نو دا کار به پرېږدم.

په دې ډول موږ طبس ته ورسېدو او لا ښار ته نه و ننوتلي، چې بادونو د دې ښار خاص وږم تر موږ را ورساوه، چې ماته يې ډېر خوند راکړ.

هغه څوک چې په طبس کې يې نړۍ ته سترګې رڼې کړې وي او هلته لوی شوی وي، هېڅکله د دې ځای ښکلی بوی نه هېروي.

تر دې وړاندې چې ښار ته ننوځم، ځان مې ووينځه، پر بدن مې عطر ووهل او ښکلې جامې مې وا غوستلې.

خو زما کالي پراخ او ارت شوي ول او زما نوکران پر دې ډېر خواشيني ول چې زه ډنګر شوی يم، خو د دوی پر خلاف زه پر دې خبره خوشالوم.

ما خپل يو نوکر په طبس کې خپل کور ته واستاوه چې زما نوکره موتي زما په راتګ خبره کړي، څکه چې مخکې يو ځل ناخبره کور ته تللی وم او موتي په قهر شوې وه.

بيا مې جرئت نه شو کولای چې بې خبره کور ته ولاړ شم.

له هغه وروسته مې پر پارو وهونکو سره او سپين ووېشل او ومې ويل دا له اجورې پرته ستاسې انعام دی، ولاړشئ او خوندور شراب وڅښئ.

پارو وهونکو ته مې وويل اتون د خلکو له لوري ساده ساعت تېري خوښوي او د شتمنو د تفريح په پرتله د بېوزلو تفريح ډېره خوښوي ځکه چې بېوزلي ساده ساعت تېري کوي.

کله چې پارو وهونکو سره او سپين تر لاسه کړل سترګې يې کش کړې او يوه وويل، موږ ستا له سرو او سپينو ډارېږو.

ومې پوښتل ولې؟

هغه وويل، ځکه چې تا د آتون نوم واخيست او موږ ډارېږو چې ستا پر سپينو او سرو لعنت شوی نه وي او هسې نه موږ ته بدبختي راپېښې کړي.

زه پوه شوم چې د دوی دغه خبره پر ما د اعتماد له امله ده، ځکه له دې وروسته چې ما ور سره پارو وواهه، نو پر ما يې اعتماد زيات شو او مينه يې راسره دوه برابره شوه او پر ما ډاډه شوي ول.

هغوی ته مې وويل، ډاډه اوسئ چې زما پر سرو او سپينو لعنت نه دی شوی، خالص سره او سپين دي هغه يې د افق د ښار له مس سره نه دي يو ځای کړي.

که فکر کوئ چې زما پر سرو او سپينو لعنت شوی، نو ډېر ژر ولاړ شئ او هغه پر خوندورو شرابو او خوړو ورکړئ.

خو له آتون څخه ستاسې وېره او ترهه بې ځايه ده، ځکه چې آتون ترهګر او وحشت پارونکی خدای نه دی.

هغوی وويل سينوهه! موږ له آتونه نه ډارېږو، هېڅوک له يوه بې وسه خدايه نه وېرېږي، خو موږ له فرعونه ډارېږو، ځکه چې پوهېږو که هغه خبر شي چې موږ دده خدای ته عبادت نه کوو، نو د کار کولو لپاره به مو کانونو ته واستوي.

له هغه وروسته پارو وهونکي په داسې حال کې چې سندرې يې ويلې، د شراب خانې او عمومي کورونو پر لور روان شول.

ما هم ډېر غوښتل د هغوی په شان سندرې ووايم، خو زما مقام او حيثيت ددې کار مخه نيوله.

کله چې زما نوکرانو وليدل، زه له بېړۍ کوزېږم ويې ويل صبر وکړه، چې ستا لپاره روان تخت راوړو، خو زه روان تخت ته په تمه پاتې نه شوم، پلې د تمساح لکۍ د ميخانې پر لور روان شوم او له يوې مودې لېرې والي وروسته مې مريت بيا په دې ميخانه کې وليده.

مریت د پخوا په شان ځوانه نه وه، خو لا هم په ښکلو ښځو کې شمېرل کېده.
کله چې ما ولیده پوه شوم چې د اوس په شان بل هېڅ وخت دومره ډېره راباندې ګرانه نه وه.
مریت چې، زه ولیدم دواړه لاسونه یې په خپلو زنګنو کېښودل او رکوع یې وکړه.
بیا ما ته را نژدې شوه زما ولي، شا، ټټر او نس یې لمس کړل او ویې ویل سینوهه! په تاڅه شوي چې ډنګر شوی یې او سترګې دې داسې ځلېږي.
ومې ویل زما د سترګو ځلا د مینې له شوقه ده او له دې امله ډنګر شوی یم، چې غوښتل مې ډېر ژر ځان تا ته را ورسوم او له تا سره تفریح وکړم.
مریت وویل، ایا په سفر کې بیړه، انسان ډنګروي؟
ومې ویل هو! کله چې انسان ګړندی ځي، د هغه د بدن وازګې ویلې کېږي او هغه ډنګروي.
مریت وویل سینوهه! که څه هم زه پوهېږم ته درواغ وایې، خو بیا هم ستا له دروغو خوند اخلم، ځکه چې هر څه چې د مینې په ګټه وي حتی که هغه درواغ هم وي خوندور دي.
خو په ښه وخت کې راغلې، اوس پسرلی دی او په پسرلي کې ځمکه او اسمان، ټول ژوي مینې کولو ته هڅوي.
که له یوې خوا زه ډنګر شوی وم، خو له بلې خوا زما پخوانی مریی کاپتا نور هم چاغ شوی و.
ومې لیدل چې د اشرافانو جامې یې اغوستې دي، څو زرینې غاړکۍ یې په غاړه دي او پر خپله ړنده سترګه یې یوه ټوټه سره زر ایښي چې برسېره پرې غمې هم کتار شوي ول.
کله چې کاپتا ولیدم، له ډېرې خوشحالۍ یې وژړل او نارې یې کړې دغه ورځ بختوره ده، ځکه چې زما ښاغلی په دې ورځ راغلی دی.
بیا کاپتا د میخانې یوې کوټې ته بوتلم او پر یوه پنډ او نرم فرش یې کېنولم.
مریت زموږ لپاره د میخانې تر ټولو ښه خواړه راوړل.
د خوراک پر مهال کاپتا وویل: زما باداره سینوهه! پر کومې ورځ چې تا وویل ستا غنم په مصري کروندګرو د تخم لپاره وویشم او د درمندونو پر وخت یې د هرې پیمانې غنمو په بدل کې یوازې یوه پیمانه غنم بیرته واخلم، نو ما تصور وکړ چې ته لېونی یې.
خو ستا دغه کار کروندګر له دیوالیه کېدا وژغورل ځکه ستا غنم یې وکرل او ښه

حاصل يې ترې واخيست.

بله خبره دا وه په غزه کې مصري جنګياليو، يا هغو کسانو ته چې د مصر پلويان دي او هلته جنګېږي، د غنمو د رسولو لپاره د آتون د معبد ستر کاهن حکم وکړ چې د اربابانو او خانانو غنم ضبط کړي.

په نتيجه کې د شتمنو غنم د فرعون او د هغه د خدای په امر د آمي له لوري ضبط شول خو چانه شو کولای چې ستا غنم ضبط کړي، ځکه چې موږ هغه کروندګرو ته ورکړي او هغوی کرلي ول.

کروندګرو چې خپل حاصل واخيست نو د درمندونو پر وخت يې بيرته ماته خپل غنم راکړل چې په نتيجه کې ستا د غه ځيرکتيا ددې سبب شوه، چې زموږ غنم بيرته زېرمو ته راشي.

زه وروسته خبر شوم چې د فرعون په حکم ته د سولې د تړون د لاسليک کولو لپاره سوريې ته تللی يې.

د سولې د تړون خبر د غنمو بيه کمه کړه، ما اټکل کړی و، چې له سولې وروسته به مصري سوداګر ډېر غنم سوريې ته واستوي او د غنمو بيه به بيرته زياته شي، نو د خپلو زېرمو په اندازه غنم مې بيرته واخيستل.

کله چې ته له سوريې راستون شوې او افق ښار ته ننوتې او د سولې تړون دې فرعون ته ورکړ، نو د مصر بېړۍ له غنمو ډکې شوې او د سوريې پر لوري روانې شوې چې په دې ډول د غنمو بيه بيرته پورته شوه.

خو بيا هم کېدای شي چې د غنمو بيه لوړه شي او په دې توګه به سږ کال ټول مصر له کاختۍ سره مخامخ شي، ځکه چې مصري کروندګر غنم نه کري او وايي چې آمون پر کروندو لعنت کړی دی.

په داسې حال کې چې زه پوهېږم پر غنمو د لعنت کولو خبره سمه نه ده او هغه تاپې چې پر غنمو ليدل کېږي، د وينې يا کومې بلې مادې له امله نه دي چې ګني د آمون کاهنانو او يا د هغوی مريدانو د کروندګرو پر غنمو شيندلي دي چې کروندګر وو ېروي.

خو که زه او ته دغه خبره کروندګرو ته وکړو نه يې مني.

هغوی باوري دي، چې پخواني خدای آمون د هغوی پر کروندو لعنت کړی دی.

کاپتا وويل، زما باداره! موږ په داسې وخت کې ژوند کوو، چې شتمن کسان په

بېلابېلو ډولونو شتمن کېږي او حتی له زاړه منګي څخه هم د سرو او سپینو د ترلاسه کولو لپاره کار اخلي.
باید درته ووایم چې په وروستي ژمي کې ما سل ځله، سل زاړه منګي خرڅ کړي دي.
ومې ویل کاپتا ! تا د غه زاړه منګي له کومه کړل ؟
کاپتا وویل، کله چې زه پوه شوم چې ځینې کسان د زړو منګیو په اخیستلو بوخت دي، خپلو مربیانو ته مې دنده وسپارله چې ولاړ شي او په ولایاتو کې زاړه منګي واخلي او رایې وړي.
هغوی هم زاړه منګي په بېړیو کې دلته را استول او ما له دې ځایه کوز مصر ته لېږدول او هلته مې خرڅول.
ومې پوښتل په کوز مصر کې په زړو منګیو څه کوي ؟
کاپتا وویل، دلته یې داسې اوازه کړې، چې په کوز مصر کې په تروو اوبو کې د کبانو د ساتلو لپاره نوې روده کشف شوې ده، چې زاړه منګي ورته ډېر پکار دي.
خوزه پوهېږم چې دا اوازه سمه نه ده، ځکه چې په مصر کې له زړو منګیو استفاده نه کېږي، بلکې یوازې یې په بېړیو کې سوریې ته استوي او له هغه وروسته څوک نه پوهېږي چې هورې پرې څه کوي؟
سوریې ته د مصر د زړو منګیو د لېږد مسلې ډېر حیران کړم، هر څومره چې مې فکر وکړ ومې نه شو کړای، چې پوه شم سریانیان له زړو مصري منګیو څخه د څه شي لپاره کار اخلي.
خوله دې کبله چې د غنمو مسله مهمه وه، نو د منګیو خبره مې هېره شوه.
کاپتا ته مې وویل، هرڅومره غنم چې اخیستای شې وایې خله، خو هغه غنم واخله چې پخپلو سترګو یې ګورې، نه هغه غنم چې لا نه دي راشنه شوي یا دا چې شنه شوي خو پاخه شوي نه دي.
که د غنمو د اخیستو لپاره دې سره او سپین پکار شول، زما هرڅه خرڅ کړه او په ترلاسه شویو سرو سپینو باندې غنم واخله، ځکه چې ما پخپله د مصر ناکرل شوې ځمکې لیدلې دي او باوري یم چې په راتلونکي ژمي کې به په دې هېواد کې کاختي زیاته شي.
اورېدلي مې دي، ډېر غنم سوریې ته لېږدول شوي، نو که کولای شې له سوري سوداګرو څخه هم د دغو غنمو یوه برخه واخله او مصر ته یې راوړه.

کاپتا وويل، زما باداره! ته سمه خبره کوې! که نن سبا موږ غنم واخلو، ته به په راتلونکې کې د مصر تر ټولو شتمن کس يې او ستا شتمني به تر فرعون هم زياته شي.

خو د سوريې سوداګرو چې د سولې په پلمه يې زموږ غنم اخيستي، او س يې د غه غنم زموږ له لاسه ايستلي دي.

هغوی تر موږ ځيرک دي او تر هغه به صبر وکړي، چې په مصر کې کاختي راشي، بيا به يې بيرته مصر ته راستانه کړي او د اخيستو تر بيې به يې لس چنده ګران خرڅ کړي.

دغه کم عقله آمي چې ستر کاهن دی، په دې نه پوهېده، چې سوريې ته دد غو غنمو لېږدول به مصر له غلې تش کړي.

څو شېبې وروسته چې مريت کوټې ته راننوته، ما د غنمو خبره هېره کړه.

د مريت له راتلو وروسته زما پخوانی مريی له کوټې ووت، ځکه چې شپه او د خوب وخت و.

کله چې کاپتا له کوټې ووت چې زه ويده شم، نو ما احساس وکړ چې ددې ښځې په شتون کې زه يوازې نه يم او بايد ما ګوشه نشين سينوهه ونه بولي.

پر بله ورځ مې کوچنی تهوت وليد، هغه زما خوا ته رامنډه کړه او خپل کوچني لاسونه يې زما په غاړه کې اميل کړل.

همغسې چې مريت په بېړۍ کې ورزده کړي ول، زه يې پلار وبللم او زه د هغه ماشوم پياوړې حافظې ته حيران شوم، چې لا يې نه وم هېر کړی.

مريت ماته وويل ددې ماشوم مور مړه شوې ده او له دې کبله چې ما بېولی او سنت کړی مې دی، نو د هغه د ساتلو مسوليت زما پر غاړه شو او زه به دا ماشوم ساتم.

ډېر ژر تهوت د تمساح لکۍ په ميخانه کې پر ټولو مشتريانو ګران شو.

ددې ميخانې دايمي ګاکانو د مريت خوشحالولو لپاره اړينه بلله چې دغه ماشوم ته د لوبو يوه وسيله واخلي.

بيا تهوت زما کور ته راغی او زما نوکره، چې تر هغه وخته يې تل ويل، بايد زه يو ماشوم ولرم، نو ددې ماشوم په ليدو خوشحاله شوه.

ما چې به تهوت ليده چې تر ونو لاندې لوبې کوي او يا په کوڅه کې له هلکانو سره مستي کوي، په طبس کې به د خپل ماشومتوب وختونه را په زړه شول او را ياد به شول چې زه هم د تهوت په شان په ماشومتوب کې همداسې شوخ وم.

تهوت زما په کور کې په اوسېدو داسې خوشحاله و، چې د شپې به هم زما په کور کې پاتې شو. ما به د شپې مهال خپل ځنګ ته کېناوه او له دې سره سره چې کوچنی و، خو ما به سبق ورښود.

زه ډېر ژر پوه شوم چې تهوت ډېر هوښیار دی او په ښښو ښښانو ډېر ژر پوهېږي او هغه حافظې ته سپاري.

له همدې کبله مې فیصله وکړه چې هغه د طبس تر ټولو ښه ښوونځي ته واستوم چې د خانانو او اشرافانو له بچیانو سره هلته سبق ووایي.

مریت پر دې فیصلې ډېره خوشحاله شوه.

موتي هره ورځ د تهوت لپاره په شاتو کې کلچې پخولې او پر هغه یې خوندور خواړه خوړل، هغه به یې په خپلې غېږه کې ویده کاوه او هم به یې تر هغه ورته کیسې ویلې چې ویده شي.

که د طبس ټولنیز حالت ناکراره نه وای، نو ما به د دې ارام ژوند له کبله د نېکمرغۍ احساس کاوه.

خو د طبس حالت ورځ تر بلې خرابېده او داسې ورځ به نه وه، چې یو شمېر کسانو په واټونو کې د آتون او آمون لپاره شخړه نه وه کړې.

د فرعون عسکرو به هغه کسان نیول چې د پخواني خدای آمون په ملاتړ یې په شخړو کې ګډون کاوه.

هغوی یې د کشتیو په وسیله او یا له ځمکنۍ لارې کانونو ته استول او که به ښځې وې، نو هغوی به یې د آتون کروندو ته د کار لپاره استولې چې هلته کر وکړي.

خو کله چې به یې دغه ښځې او نارینه له طبسه تبعیدول، هغوی به د شهیدو اتلانو په شان د کانونو او کروند پر لور روان شول.

خلکو به په ګلانو بدرګه کول، رکوع به یې ورته کوله او جلا وطنه شویو کسانو به ورته لاسونه ښورول، ویل به یې، مونږ بیرته راستنېږو او د آتون د وینې یوه برخه به پر ځمکه توی کړو او یوه برخه به یې د اوربشو د اوبو په شان وڅښو.

خلکو به د جلاوطنه شویو کسانو داسې ملاتړ کاوه چې آتون ته له ښکنځلو سره سره به د خلکو د ملاتړ له وېرې ساتونکو د هغوی د وهلو جرئت نه شو کولای.

عسکر پوهېدل چې که دغه کسان ووهي نو خلک به دوی ووژني.

یو څلوېښتم څپرکی

په طبس کې د ښکر او صلیب تر منځ جګړه

د نوي خدای آتون د پیروانو رسمي نښه (دحیات صلیب) و او دغه صلیب یې د غاړکۍ په شان په غاړه کې اچاوه او یا دا چې پر خپلو جامو به یې انځوراوه.

د پخواني خدای آمون پیروانو، ښکر خپله رسمي نښه اعلان کړې وه او فرعون هم نه شو کولای چې پر سر د ښکرو د لګولو مخه ونیسي.

ځکه له هغې ورځې چې د مصر ملت رامنځته شوی دی په نارینه وو کې د ښکر لېږدول یو سینګار و، هېڅ خدای او فرعون نه شو کولای دغه طبیعي ښکلا او دود له منځه یوسي یا بندیز پرې ولګوي.

زه په سر کې نه پوهېدم چې ولې د آمون پیروانو ښکر خپله رسمي نښه بولي، خو وروسته خبر شوم چې ښکر د آمون یو ستر نوم دی.

(پخوا د مصر خدایانو دوه ډوله نومونه درلودل، یو یې معمولي نوم و، چې عامو خلکو به پرې خدایان پېژندل او په دغو نومونو به یې یادول او بل خاص نومونه ول، چې ستر نومونه هم بلل کېدل چې کاهنانو به د هغوی په وسیله خدای یاداوه. د مصر ځینو پخوانیو خدایانو تر شلو ډېر ستر نومونه درلودل ژباړن)

د آمون پیروانو په ښکرو سره د آتون د پیروانو د دکانونو پر دروازو حمله کوله او دروازې به یې ماتې کړې.

دوی به د میوې، کبانو او سبزیانو ډکې ټوکرۍ پر بل مخ واړولې، ناري به یې وهلې، موږ ښکر لرو او د آتون خېټه به څیرې کړو... موږ د آمون پیروان یو او آمون موږ ته ښکر راکړي، چې د هغه د دښمنانو خېټې او سینې سورې کړو.

کله چې د ښکرورو مزاحمتونه داسې حد ته ورسېدل چې د آتون پیروانو ته یې ژوند

سخت کړ، نو هغوی هڅه وکړه چې و سپنیز صلیبونه جوړکړي چې را وئلې برخه یې د چاقو په شان وي.

ددغه صلیب دوه اړخونه یې لاستی او اوږده خوا یې تېره څوکه وه چې د چړې کار یې ورکاوه.

دغه برچې یا پېشکوزې به یې تر کالیو لاندې په ملا پورې تړلې، چې کله به ښکرورو څورول، نو برچې به یې را ایستلې او پر ښکرورو به یې حمله کوله.

(لا هم د توري او برچې لاستي په ځینو اروپایي هېوادونو کې د صلیب په بڼه دي او دغه دود له مصر او کرت څخه اروپايي هېوادونو ته رسېدلی دی، یاني صلیب له عیسویت څخه مخکې هم د ځینو ملتونو او مذهبونو رسمي نښه وه. ژباړن)

د آمون او آتون، صلیب او ښکر اختلافات په طبس کې دومره پراخ شول چې پلار له زویه او مېړه له ښځې څخه ددې اختلافاتو له امله بېل شول.

په کومه ورځ چې زه طبس ته ننوتم، تصور مې وکړ، چې طبس د آمون ښار دی او په دې ښار کې د آتون پلویان نشته.

خو کله چې څو ورځې په ښار کې پاتې شوم، پخپلې غلطۍ پوه شوم او متوجه شوم، چې نوی خدای هم په طبس کې، په تېره بیا په ځوانو کارګرانو او مریيانو کې ډېر پلویان لري.

نوي خدای له دې امله په ځوانانو، مريیانو او کارګرانو کې ډېر پلویان درلودل، چې د هغه خبرې، ددې پرګنې له طبعې سره برابرې وې.

ځوانانو له زړو سره د مخالفت له امله نوې نظریې منلې او کارګرانو او مريیانو له شتمنو سره د مخالفت له امله پر نوي خدای ګروهه یا عقیده درلوده.

نوي خدای په ځانګړي توګه د طبس د بندر په کارګرانو، د نساجۍ او رنګ ریزۍ په کارخانو او مريیانو کې سرزوري پلویان درلودل، ځکه چې دې پرګنې تر نورو ډېر زیار ګاله او د محرومیت احساس یې کاوه.

هغوی به اورېدل چې نوی خدای وایي، باید د بېوزلو، شتمنو، کارګرانو، ټیکه دارانو، مريیانو او بادارانو تر منځ توپیر ختم شي.

دوی تصور کاوه، چې له دې وروسته به د شتمنو سره، سپین او توري پانګې د ځان کړي او هغوی به کار کولو او مريیتوب ته اړ کړي.

د نوي خدای په متعصبو پیروانو کې د مړیو د ښار(د طبس د هدېرې) تر غلو بله وفاداره پرګنه نه وه.

د قبرونو غله پوهېدل چې فرعون له پخواني خدایه د کرکې له لامله به نور د مړیو د قبرونو ملاتړ ونه کړي.

ددې لپاره چې د قبرونو په مخکې د پخواني خدای نوم ،د مړیو په جامو، لوښو او بېړیو لیکل شوی دی.

هغوی به ویل مونږ خو، چې په قبرونو کې د آمون نوم پاک کړو، خو د هغوی اصلي هدف د قبرونو د ګران بیه شیانو لوټل و.

دوی به د سپک وزن درلودنکي شیان د شپې مهال د تمساح لکۍ میخانې ته راوړل او ددې میخانې په ځانګړو کوټو کې به یې پر سوداګرو خرڅول.

خو ددې لپاره چې د خلکو ورپام نه شي، درانه شیان به یې، له ځان سره نه راوړل، بلکې هغه به یې په ځانګړو زېرمو کې ټولول، سوداګر به یې دغو زېرمو ته ورو ستل او هغه شیان به یې پرې خرڅول.

د خلکو یو بل ټولی چې د نوي خدای له واکمنېدا یې ګټه اخیسته، هغه کسان ول، چې د پخواني خدای پیروان به یې د فرعون عسکرو ته په ګوته کول چې د هغوی شتمني د ځان کړي.

هغوی پوهېدل چې کـه کومـه ورځ حالات بدل شي، نوی خدای را وپرځول شي او پخواني خدای بیرته واکمن شي، نو بې له جنجاله به یې ووژني.

له همدې امله یې د نوي خدای د حکومت د پاتې کېدا لپاره هلې ځلې کولې او کمزوري او بېوزلي خلک به یې تل د آمون د پلویانو په توګه د فرعون سپاهیانو ته ورپه ګوته کول.

په طبس کې د فرعون سپاهیانو د افق د ښار په شان عمل کاوه.

هغوی بـه شتمن ښکرور، چې پـه ښکاره یې د پخواني خدای پلویتوب کـاوه نـه نیول، ځکه وېرېدل او پوهېدل چې یا به ووژل شي او یا به ژوبل شي.

خو یو کارګر یا بېوزله کسبګر چې به په قصدي ډول نه بلکې د عادت له مخې د آمون نوم واخیست، هغه به یې ونیو او کان ته به یې د کارکولو لپاره استاوه.

د شپې له پلوه به د ښکر پلویانو یا د صلیب پیروانو له خپلو ځانګړیو میخانو را وتل(د صلیب او ښکر پلویانو پخپلو ځانګړو میخانو کې شراب څښل) او د طبس په واټونو

کې به روان شول.

دوی به څراغونه نسکور، د هوې به یې مړې کړې او نارې به یې وهلې.

که دوه مخالفې ډلې به سره مخامخ شوې جګړه به پیل شوه او څو تنه به پر ځمکه مړه پراته ول.

هغو کسانو، چې په عمومي ځایونو کې یې کارکاوه او یا به د کار په لټه کې په واټونو کې ګرځېدل له ځان سره به یې تل یو ښکر او یو صلیب ګرځاوه.

که به یې ولیدل، چې د هغوی موقتي بادار ښکرور دی، ښکر به یې وربښودل او که به پوه شول، چې بادار یې د صلیب پیرو دی، نو صلیب به یې وربښود او ځان به یې د صلیب پلوی معرفي کاوه.

د نوي او پخواني خدای په پلویانو کې خینې کسان داسې هم ول چې هم له آمونه او هم له آتونه په تنګ شوي ول.

هغوی هیله کوله، چې په طبس کې سوله او کراري واکمنه شي، چې وکړای شي کار او کسب وکړي، خو خپلې دې هیلې ته نه رسېدل.

دې پرګنې نه شو کولای، ځان بې پرې وساتي، ځکه چې له دواړو لورو پرې حمله کېدله او مجبور ول، چې د ژوند حالاتو او د خپلو ملاترو او پلویانو ګټو ته په پام سره کله د ښکر پلویان شي او کله د صلیب.

کاپتا یوه موده د دواړو ډلو پر وړاندې مقاومت وکړ او د خپلې میخانې لپاره یې کومه ننبه و نه ټاکله.

هغه د تمساح لکۍ د خپلې میخانې لپاره تر ټولو ښه ننبه ګڼله، چې وکړای شي هم له ښکرورو ګرمه واخلي او هم د صلیب له پلویانو.

خو ښکرور په دې پوهېدل، چې د کاپتا میخانه د قبرونود غلو مرکز دی، نو کاپتا یې په کرار نه پرېښود.

البته جرئت یې نه شو کولای چې د شپې یا د ورځې پر میخانې برید وکړي، ځکه پوهېدل، چې کاپتا قوي ساتونکي لري، چې د هغه د میخانې دفاع کوي.

خو د شپې مهال به یې د میخانې پر دېوالونو د ښکر انځور او نور ناسم عکسونه ایستل او تر یوې مودې پورې کاپتا مجبور و، هره ورځ هغه تصویرونه پاک کړي.

له دې وروسته، چې زه په طبس کې مېشت شوم، پوه شوم چې د بندر له پنډیانو او

مریبیانو پرته ماته بل څوک د معالجې لپاره نه راځي، په داسې حال کې چې تر هغه مخکې به د خپلې سیمې ناروغان راتلل.

یوه ورځ زما د سیمې دوو تنو اوسېدونکو زه په یوه خالي ځای کې ولیدم او ویې ویل سینوهه! موږ له تا خپه نه یو، زموږ ماشومان او ښځې هم ناروغان دي او ستا علم او پوهې ته اړتیا لرو، خو داریږو چې تا ته راشو.

ځکه ستا کتنځی له دې امله، چې د حیات صلیب دې په غاړه کې اچولی ډېر خطرناک دی، که موږ د خپلو نارغانو د درملنې لپاره ستا کتنځي ته راشو د ښکرورو له غوسې سره به مخامخ شو.

خو د آمون له لعنته نه و ېرېږو، ځکه چې د خدایانو له جنګه په تنګ شوي یو او نه پوهېږو، چې دغه خدایان له موږه څه غواړي او ولې موږ پخپل حال نه پرېږدي، چې څرنګه مو زړه غواړي هغسې ژوند وکړو.

خو که ښکرور پوه شي چې موږ د معالجې لپاره ستا کتنځي ته راځو موږ به ووژني او یا به زموږ ماشومان هغه وخت ژوبل کړي، چې موږ په کور کې نه یو او یا په کار بوخت یو.

دوی کېدای شي زموږ د کورونو دروازې ماتې کړي، ځکه ټول پوهېږي، چې ته د فرعون ځانګړی ډاکټر او د آتون پلوی یې، دغه صلیب چې تا په غاړه کې اچولی دی ستا د معرفۍ لپاره کفایت کوي.

خو د بندر پنډیان او مریبیان له ښکرورو یا د صلیب له پلویانو څخه نه دارېدل.

دوی له ویرې پرته زما کتنځي ته راتلل او، چې کله به ما ویل انسان ان که پنډي یا مریبی هم وي ازاد ژوند کولای شي، هغوی به ویل سینوهه! تا لا پر خپله ملا د متروکې ګوزار نه دی احساس کړی، ګنې پوهېدې، هغه انسان چې مریبی یا کارګر وي، نامکنه ده چې آزاد ژوند وکړای شي.

انسان تر هغه وخته ازاد نه دی، چې د بل چا لپاره کار کوي او بیا د خپل کار مزد هغه ته سپاري، چې په بدل کې یې یوه نمړۍ ډوډۍ او د اوربشو اوبه تر لاسه کړي.

له دې سره سره ته راباندې ګران یې، ځکه چې ته ډېر ساده او ښه سړی یې او له دې پرته چې له موږ څخه ډالۍ واخلې، زموږ معالجه کوې.

دوی راته وویل پر کومې ورځې چې په طبس کې جنګ وشي او د آمون و آتون پلویان یو بل سره ووژني (ځکه چې دغه ورځ به راشي) ته بندري سیمې ته راشه چې هلته دې پټ

کړو او د مرګ ژوبلې له خطرې به وژغورل شي.

که څه هم تول پوهېدل، چې زه د آتون پلوی یم، نه چا را باندې حمله وکړه او نه یې زما د کور پر دروازې او دېوالونو نا سم انځورونه وایستل.

ځکه چې لا فرعون دومره د درناوي وړ و، چې خلک د هغه ځانګړي ډاکټر ته د هغه په شان درناوی وکړي.

پر دې سربېره ټولو ګاونډیانو زه پېژندلم، زما ملاتړ یې کاوه او په طبس کې د فرعون پوځي مامورین هم زما ملاتړي ول، نو له همدې کبله ښکرورو جرئت نه شو کولای پر هغه چا حمله وکړي چې دومره پلویان لري.

یوه ورځ تهوت په ژړا له کوڅې کور ته راغی، موتي ولیدل، چې د هغه له پوزې وینه بهېږي او یو غابښ یې ورته مات کړی دی.

کله چې موتي دغه ماشوم وینځه چې د مخ او تټر وینه یې پاکه کړي ژړل یې او له هغه یې وپوښتل ولې ژوبل شوی یې؟

.تهوت وویل د تېوکر او بدونکي زوی ووهلم او زما غابښ یې مات کړ او راته یې وویل له دې کبله چې ته د آتون پلوی یې باید ووهل شې.

موتي لرګی واخیست روانه شوه او ویې ویل، د تېوکر او بدونکي زامن که د آمون پلویان وي یا د آتون باید هغوی ووهل شي.

ډېر ژر له کوڅې د تېوکر او بدونکي د پېنځو زامنو نارې سورې پورته شوې ، او کله چې د هغوی مور و پلار د خپلو زامنو په ننګه راغلل موتي هغوی هم ووهل.

موتي چې کور ته راستنه شوه ما ولیدله، چې رنګ یې تک سور شوی دی.

ما غوښتل، چې هغه پوهه کړم، چې کینه ښه نه ده، د غو سې سبب کېږي او دښمني راپیدا کوي، خو موتي زما خبرو ته غوږ ونه نیو.

پر بله ورځ چې د موتي غوسه سړه شوه ، نو د تېوکر او بدونکي د ماشومانو او د هغوی د مور و پلار لپاره یې په شاتو کې کلچې پخې کړې او د هغوی کور ته یې یووړې، چې سوله ورسره وکړي.

له هغه وروسته د تېوکر او بدونکي کورنۍ له موتي او تهوت سره ملګرې شوه او د تېوکر او بدونکي زامنو بې له دې چې تهوت ژوبل کړي تل به یې له هغه سره لوبې کولې.

له دې وروسته به چې موتي کله تهوت ته شیریني او پتیرې ورکولې د تېوکر او بدونکي

د زامنو برخه به یې هم ورکوله.

کله چې په طبس کې زما پاتې کېدل ځنډني شول، یو ځل د فرعون په حکم، دې ښار سلطنتي ماڼۍ (زرین قصر) ته لاړم.

که فرعون امر نه وای کړی، چې هلته لاړ شم نو د مهو نفر له وېرې به مې په دې ماڼۍ کې ګام نه وای ایښی.

خو د فرعون د حکم د منلو لپاره مجبور شوم، چې په پټه او د مهو نفر له خبرولو پرته ماڼۍ ته ننوځم چې ستر کاهن آمي وګورم.

پر کومه ورځ چې ماڼۍ ته ننوتم د هغه سوی په شان وم، چې د باز له وېرې ګله یوې خوا او کله بلې خوا ته پټېږي، ما هم د مهو نفر له وېرې ځان تر ونو لاندې پټ کړ، چې ستر کاهن آمي وګورم.

ستر کاهن راته وویل، سنیوهه! له دې سره سره چې د آتون د معبد ستر کاهن یم، خو د فرعون کړچار مې نه خوښېږي، ځکه د غه سړی لکه چې نه پوهېږي څه وایي؟ او د هغو حکمونو نتېجه څه ده چې ورکوي یې؟

که کولای شې هغه په سمه لاره راوله او که دغه کار نه شې کولای د خوب د درملو په وسیله یې ویده کړه، چې تل په خوبولې وي چې دغسې عجیب او غریب حکمونه ورنه کړي.

نن د فرعون د حیرانوونکو اصولو او حکمونو له امله د حکومت قدرت کم شوی دی، ځکه چې فرعون د اعدام سزا ختمه کړې ده او ویلي یې دي، له دې وروسته دې د غلو لاس او د مجرمانو پوزه او غوږ نه پرې کوي او تښتېدلي مریيان باید ونه وهل شي.

په دې بڼه کې څنګه تمه کولای شو، چې خلک دې قانون ته درناوی وکړي، په تېره بیا د هغو قوانینو، چې هره ورځ د فرعون د هوسونو او غوښتنو له امله بدلېږي.

له یوې خوا فرعون له سوریې سره د سولې تړون لاسیک کوي او زه د دې تړون په اساس ژمن کېږم، چې سوریې ته غنم ولېږدوم.

له بلې خوا هورم هب د غنمو هغه بېړۍ چې باید سوریې ته لاړې شي په ممفیس کې دروي.

کله چې له هغه پوښتنه کوم، ولې بېړیو ته اجازه نه ورکوې، چې لاړې شي وایي، فرعون ویلي له دې وروسته باید د مصر غنم سوریې ته ولاړ نه شي.

کاشکې زه له پیله د لمر له ښاره نه وای راوتلی او د فرعون د مور په هڅونه د څوکۍ او

مقام په لټه کې نه وای شوی، چې نن سبا له دې ستونزو سره مخامخ شوی نه وای.

سینوهه ! کله چې يو چا د قدرت خوند وليد، بيا تل د قدرت لټه کوي.

د مقام او فرصت غوښتنه د بشر يوه طبيعي غريزه ده، که څه هم په ټولو انسانانو کې نشته، خو په کومو کسانو کې چې شته، هغوی ارام نه پرېږدي.

د مقام او فرصت غوښتونکی سړی د مقام د ترلاسه کولو لپاره په هر عمل لاس پورې کوي.

خو دا خبره هم بايد وکړو، چې کله انسان مقام او څوکۍ ته ر سېږي ښايي له ژوند ډېر ښه خوند واخلي او که ما په مصر کې قدرت تر لاسه کړی وای اجازه مې نه ورکوله، چې د مصر حالات په دې ډول وي

اختلافات به مې له منځه وړي وای او سره له دې چې د آمون او آتون ترمنځ تو پيرونه شته، د فرعون حيثيت مې لوړاوه.

زما يو اساسي کار به دا و، چې آتون ته مې مجسمه جوړوله، ځکه د مصر ملت د هغه خدای عبادت نه شي کولای، چې بهرنی وجود يا مجسمه ونه لري او په سترګو ونه ليدل شي.

ما له آمي پوښتنه وکړه، چې ايا د فرعون د ځای ناستي لپاره دې فکر کړی دی، چې بل څوک د فرعون پر ځای کېنوې؟

آمي دې خبرې ته حيران شو او بيا يې لاس پورته کړ او ويې ويل سينوهه ! زه خاين نه يم، چې هڅه وکړم، فرعون د سلطنت له ګدۍ کوز کړم او بل يې پر ځای کېنوم.

که څه هم کله، د فرعون په هکله له کاهنانو سره خبرې کوم، خو دغه خبرې د فرعون د پاچاهۍ د پياوړتيا لپاره کېږي نه دا چې د هغه د سلطنت د پرځولو فکر ولرم.

خو داسې احساس کوم چې هورم هب څه فکرونه لري او خيال کوي چې يوه ورځ کولای شي د مصر پاچا شي.

دغه سړی له دې کبله چې په نيزې متکی دی، نو فکر کوي هرڅه چې وغواړي ترسره کولای يې شي.

نوموړی له دې خبر نه دی، چې په مصر کې هغه کس کولای شي پاچا شي، چې د خدايانو له ذاته وي او د فرعون وينه پکې وي، په داسې حال کې چې هورم هب د پاچاهانو له توکمه نه دی.

که زه کله د سلطنت د پياوړتيا فکر کوم او وايم، چې بايد فرعون د عقل او تدبير له مخې پاچاهي وکړي، دا د دې لپاره چې د مصر د ملکې نفرتي تي پلار يم او په سلطنت پورې تړلی کس يم.

خو هورم هب دا حق نه لري چې د مصر د سلطنت پر ګدۍ د کېناستو خام خيال په ذهن کې ولري.

زه پر دې خبرې ډېر حيران شوم ومې ويل، ايا په رښتيا هورم هب غواړي د مصر پاچا شي او پر کوز او بر مصر حکومت وکړي؟

که د غه سړی داسې فکر ولري، ډېره د حيرانۍ خبره ده، ځکه ما پر هغه ورځ هورم هب وليد، چې د مصر دربار ته نوی راغلی و.

هغه مې وليد چې د بېوزلو جامې يې اغوستې وې، له يوه باز پرته چې په مخکې يې الوت، بل څه يې نه درلودل.

آمي چې د پندو وريځو لاندې يې تېزې او لوېدلې سترګې ځلېدې څو شېبې يې ماته وکتل ويې ويل، سينوهه! څوک نه شي کولای د بل چا راز د هغه په روح کې کشف کړي، چې هغه څه فکر کوي، خو که هورم هب اوچت والوزي، زه به يې په اسمان کې وزرې ماتې کړم او پر ځمکه به يې وغورځوم.

له دې خبرو اترو وروسته ما له آمي سره خدای پاماني وکړه، بيا د فرعون د حکم پر اساس د هغه ځوانې مېرمنې او بابلۍ شهزادګۍ ته ورغلم، چې له بابله يې ورته را استولې وه.

له دې وروسته چې په وکالت کې د واده دستورې جوړې شوې، د بابل پاچا نومورې مېرمن مصر ته را واستوله او څو ورځې د غه شهزادګۍ په افق ښار کې وه.

خو د مصر ملکې نفرتي تي فرعون اړ کړی و، چې نومورې شهزادګۍ له افقه طبس ښار ته واستوي او په زرينې سلطنتي ماڼۍ کې ځای ورکړي.

ځکه چې زما له اټکل سره سم نفرتي تي وېرېدله، چې که بابلۍ شهزادګۍ په افق کې پاتې شي او فرعون ورسره تفريح وکړي، دا به اميندواره شي او زوی به وزېږوي.

زه د هغې کوټې ته ننوتم او ومې ويل، شهزادګۍ زه د فرعون له لوري راغلی يم، چې پوه شم ته ښه يې که نه؟

بابلۍ شهزادګۍ چې مصري ژبه يې څه نا څه زده کړې وه او په خوږه لهجه يې خبرې

کولې ، له ماپوښتنه وکړه ته څوک یې ؟
ومې ویل، زه سینوهه ، د فرعون ځانګړی ډاکټر یم.
شهزادګۍ، چې د مصري ښځو په دود یې ژوند کاوه، یانې ټول بدن یې نه و پټ کړی
وویل ، سینوهه ! وګوره زه څومره روغه یم ؟
زه حیرانه یم چې ولې فرعون زما له روغتیا او ښکلا څخه استفاده ونه کړه او له ما سره یې تفریح ونه کړ.
ډېر مې زړه غواړي چې فرعون له ما سره تفریح وکړي، چې نوره زه پېغله پاتې نه شم.
بله خبره دا چې ما اورېدلي په مصر کې ښځې له هغه سړي سره او سېدلی شي، چې دوی یې غواړي او پرې ګران وي.
ومې ویل، شهزادګۍ چا درته ویلي، چې په مصر کې ښځې کولای شي له هر هغه سړي سره تفریح وکړي، چې زړه یې وغواړي.
شهزادګۍ وویل، دغه خبره ما له څو کسانو اورېدلې ده او هغوی ماته ویلي، چې مصري مېرمنې کولای شي، له هر هغه سړي سره خملي چې پرې ګران وي، په دې شرط چې بل څوک له دې سړي سره د هغې په اړیکو خبر نه شي.
ومې ویل شهزادګۍ ډېر لږ داسې کېږي، چې یوه ښځه له خپل خاوند پرته له نورو سړیو سره تفریح وکړي او نور خلک پر دې خبرې پوه نه شي، په تیره بیا د فرعون په ماڼۍ کې دغه ډول اړیکې ډېر ژر افشا کېږي او نور پرې خبرېږي.
ددې لپاره چې هره شهزادګۍ په یوه سلطنتي ماڼۍ کې ژوند کوي یو شمېر خدمتګاران لري، چې هغوی شپه و ورځ له هغې سره وي او د شهزادګۍ ملګري ګوري.
دوی پوهېږي، چې دې ماڼۍ ته څوک څوک راځي او که شهزادګۍ له ماڼۍ ووځي بیا هم پوهېږي، چې چیرته ځي او له کومو کسانو سره ګوري، نو ته نه شې کولای، چې له بل سړي سره خملې او په دې هیله واوسې چې دغه خبره دې پټه پاتې شي.
بابلۍ شهزادګۍ وخندل او بیا یې وویل، کله چې افق ته ستون شې زما له قوله فرعون ته ووایه، چې زما او د هغه ترمنځ منګی مات شوی دی، نو که زه پېغله پاتې شم بې ګټې به وي
دا ډېر ستومانوونکی کار دی او هغه باید ډېر ژر ما له دې ستړیا او ستومانۍ څخه وژغوري.
بیا یې خبره بدله کړه ویې ویل سینوهه ! کله چې زه په افق کې وم له ښځو مې اورېدلي

ول، چې ته تکړه ډاکټر او جراح یې، خو ایا ما معالجه کولای شې؟ ومې ویل شهزادګۍ ایا ته ناروغه یې؟

خوانې نجلۍ وویل، نه خو زه د خپل بدن په یوه برخه کې یو وړوکی خال لرم، چې ته یې له نږدې ونه ګورې دغه خال نه شې لیدلای زه غواړم چې دغه خال له منځه یوسې، ځکه اورېدلي مې دي، په جراحۍ کې داسې مهارت لرې، چې کله جراحي کوې ناروغ ترې خوند اخلي.

اوس دا راته ووایه، چې ایا غواړې ما عملیات کړې کنه؟

وپوهېدم، چې د خال موضوع یوه پلمه ده او خوانه شهزادګۍ نیت لري چې ما تفریح کولو ته اړ کړي.

له دې شېبې وروسته د شهزادګۍ په کوټه کې پاتې کېدل راته خطرناک ښکاره شول، ځکه کله چې یوه ځوانه ښځه فیصله وکړي، چې یو سړی پر ځان مین کړي، نو نیم ترازو (نیمه ګړۍ ژباړن) نه وي تېر چې هغه ځانته لېوال کړي.

سړی باید په لومړیو شېبو کې وتښتي، ګني داسې پېښېږي چې باید نه وای شوې.

ما نه شو کولای له داسې ښځې سره تفریح وکړم، چې د فرعون خور (د فرعون ښځه) او پېغله ده.

نو ورته مې وویل زه ستا جراحي عملیات نه شم کولای، ځکه چې خپل جراحي وسایل مې نه دي راوړي او تر دې وړاندې چې شهزادګۍ څه ووایي، د هغې له کوټې راووتم او په دې توګه له زرینې سلطنتي ماڼۍ را وتښتېدم.

د دوبې په رارسېدا سره د طبس هوا ګرمه وه، نیت مې درلود، چې بیا هم په دغه ښار کې پاتې شم، خو فرعون د افق ښار ته وروغوښتم، پیغام یې راولېږه، چې د هغه د سردرد زیات شوی دی او باید معالجه یې کړم.

ما کاپتا ته وویل، فرعون غوښتی یم، پیغام یې رالېږلی، چې سر درد یې معالجه کړم او هغه ربښتیا وایي، ځکه فرعون د درواغو سړی نه دی او درواغو ته اړ هم نه دی، نو زه له تا سره خدای پاماني کووم او د افق ښار ته ځم.

کاپتا وویل، زما باداره تر وسه وسه مې ستا لپاره غنم واخیستل او د څو ښارونو په زېرمو کې مې اچولي دي، که د یوه ښار زېرمه له منځه لاړه شي د بل هغه به پاتې وي.

ما د احتیاط لپاره یوه اندازه اخیستل شوي، غنم پټ کړل. ځکه چې ممکنه ده د

راتلونکې کاختې. له امله به ستا د ټولو زېرمو غنم ضبط کړي او پر بېوزلو به يې وويشي.

که دغه پېښه وشوه بيا به هم ته غنم ولرې، ځکه دغه غنم د فرعون مامورين نه شي موندلی.

زه خيال کووم چې په راتلونکو مياشتو کې به ډېرې ناوړه پېښې وشي، ځکه چې فرعون سوريې ته د خالي منګيو په صادرېدا بنديز لګولی دی او دغه راز يې سوريې ته د غنمو صادرېدل هم بند کړي دي خو که سوريې ته د غنمو صادرېدل بند نه وای، بيا هم چا سوريې ته د غنمو د استولو فکر نه کاوه، ځکه چې د مصر په بازار کې غنم نه پيدا کېږي، چې څوک يې واخلي او سوريې ته يې واستوي.

زه نه پوهېږم، چې ولې يې سوريې ته د خالي منګيو د صادرېدا مخه نيولې ده، ځکه چې موږ يې له ګټې محروم کړي يو.

خو دغه بنديز له منځه هم ورل کېدای شي، په دې ډول کله چې ګړي له اوبو ډک کړو بيا د تشو منګيو نوم پرې نه شو کېښودلی، هغه سوريې ته لېږدولی شو، خو ستونزه دا ده، چې د ډکو منګيو د استولو لګښت زياتېږي.

له دې وروسته چې مې له کاپتا سره خدای پاماني وکړه، له مريت او کوچني تهوت څخه مې هم رخصت واخيست و مې ويل. ډېر خواشينی يم، چې تاسو د افق ښار ته نه شم بيولی، ځکه فرعون امر کړی، چې ډېر ژر ورشم او زما ګرندی سفر د دې مخه نيسي چې تاسې هم له ځان سره بوځم.

مريت وويل، که ته په بېړه هم نه ستنېدای، بيا هم ښه نه وه چې موږ له تاسې سره لاړ شو.

ومې پوښتل ولې ؟

مريت وويل، که يو صحرايي بوټی له بيديا ښار ته راوړې او په يوه ښېرازه او قوي خمکه کې يې کېږدې، هره ورځ اوبه ورکړې، خو بيا به هم له څو ورځو وروسته وچ شي، ځکه چې دغه بوټی د ژوندي پاتې کېدا لپاره هوا، لمر او د بيدا بوی ته اړتيا لري.

زما او ستا مينه هم، د دې لپاره چې پر خپل حال پاتې شي، بايد د افق ښار چاپېريال ته ولاړه نه شي، ځکه چې هلته تل درباري ښځې ګورې او هغوی تل تا ته وايي، چې زما او هغوی تر منځ ډېر تو پير شته.

پر دې سربېره ستا د مقام او حيثيت لپاره ښه نه ده، چې په افق ښار کې له داسې ښځې سره ژوند وکړې، چې د ميخانې نوکره وي، او تر تا مخکې نورو خلکو ورسره تفريح کړې وي.

ومې ویل، تر هغه وخته چې زه ستا په څنګ کې یم ځان سوکاله احساسوم، خو کله چې ستا له څنګه لرې کېږم پوهېږم، چې د یوه تږي په شان یم چې اوبو ته اړتیا لري.

زه هم تا ته اړتیا پیدا کوم او د هغو ښځو ترمنځ، چې تر ننه مې لیدلې او پېژندلې دي، یوازې ته یې، چې زه یې تر څنګ ځان یوازې نه احساسوم.

زه د نورو ښځو ترڅنګ ځان یوازې احساسوم او هیله کوم، چې وکړای شم د هر ژر تاته راستون شم او دا خل له طبسه ونه وځم.

مریت وویل، زه پوهېږم چې که ته افق ته لاړ شې، له هغه ځایه به بیرته راستون نه شې.

ومې ویل ایا دا تصور کولی شې، چې کله زه وایم، له هغه ځایه راستنېږم نو تاته دروغ وایم؟

مریت وویل نه ... سینوهه! ته دراغجن نه یې، خو ما اورېدلي چې، فرعون په یوه سختې ناروغۍ اخته شوی او یو شمېر پلویانو هغه خوشې کړی دی.

خو ته داسې څوک نه یې، چې د فرعون د ناروغۍ او بدبختۍ په وخت کې هغه خوشې کړې، نو په افق کې به پاتې شې او له همدې امله نه شې کولای بیرته طبس ته راستون شې.

ومې ویل مریت! زه حاضر یم له تا سره له دې هېواده لاړ شم او په یوه بل ځای کې زه ،ته او تهوت یو ځای ژوند وکړو.

زه د نوي او پخواني خدای له جنګونو او د فرعون له لېونتوبه په تنګ شوی یم، فکر کووم چې له مصر پرته په نورو ځایونو کې هم ژوند کولای شو.

مریت موسکۍ شوه ویې ویل سینوهه! زه ستا له دې خبرې خوند اخلم، ځکه دغه خبره ښیي چې زه درباندې ګرانه یم.

خو د دې خبرې د کولو پر وخت د هغې د پایلو په هکله فکر نه کوې؟ نه پوهېږې هغه څوک چې په مصر کې لوی شوی وي او د نیل اوبه یې څښلې وي، په تېره بیا که په طبس کې لوی شوی وي، له دې ځایه پرته په بل هېڅ ځای کې د نیکمرغۍ احساس نه کوي.

بله دا چې که زه له دې هېواده لاړه شم، د عمر د تېرېدا له امله به چاغه او بوډۍ شم او مخ به مې د وچې شوې میوې په شان ګونځې وکړي

هر خل چې ته ما ګورې وبه وېرېږې او ځان به ملامت کړې، چې ولې له ما سره له مصره راوتلی یې او پخپل وطن کې دې، خپله نیکمرغي او سوکالي د یوه موقتي هوس قرباني کړل.

ومې ویل، مریت! زما وطن ته یې او زه له تا سره ځان آرام احساسوم.

زما په خوله کې د نیل او به هغه وخت خوند کوي، چې ستا په څنګ کې یم.

ته وایې چې کله ته بوډۍ شوې، زه به پښېمانه شم، چې ولې مې خپل عمر له تا سره تېر کړ او یا مې له تا سره له مصره کډه وکړه، خو د غه فکر باید هغه کسان وکړي، چې نوي له یو بل سره اشنا شوي وي او د یو بل دوستي یې نه وي ازمویلې.

که داسې وي، چې د بل چاپېريال ښځې ما ستا پر وړاندې بې وفا کړي تر او سه به د غه کار شوی وای، خو زه به هېڅکله له تا څخه موړ نه شم.

داسې ورځ به رانه شي چې پښېمانه شم، ولې مې له تا سره ژوند کړی دی.

مریت وویل، داچې ما د ملامتي خبره وکړه چې بیا به وایې ولې مې له مریت سره ژوند کړی دی، د یو رنګه او تکراري ژوند له امله مې وویل.

سینوهه ! خدای سړی داسې پنځولی دی چې کله لس ځله یو ډول خواړه په پرله پسې ډول وخوري غواړي، چې نور خواړه وخوري حتي که له د غو تکراري خوړو څخه ډېر بې خونده هم وي.

همغه ډول چې یو سړی له یو ډول او تکراري خوړو څخه ستړی کېږي همغه ډول له یوې ښځې سره له اوسېدو څخه هم ستړی کېږي، په تېره بیا که وګوري، چې د غه مېرمن بوډۍ او چاغه شوې هم ده.

له دې ټولو سره سره که یو راز نه وای ، زه به له تا سره له مصرنه تللې وای او په یوه بل هېواد کې به مو ژوند کړی وای.

خو د غه راز د دې مخه نیسي، چې زه له دې ځایه لاړه شم او ښایي ته یوه ورځ په دې راز پوه شې، ځکه چې تر اوسه پورې ما ستا لپاره د غه راز نه دی ویلی.

له مریت څخه مې وپوښتل، چې راز یې څه دی؟

هغې د دې راز له افشا کولو ډډه وکړه او یوازې دا یې وویل، ښایي داسې ورځ راشي، چې د غه راز به رابرسېره کړم او تا ته به یې ووایم.

بیا ما له هغې او تهوت سره خدای پاماني وکړه او په بېړۍ کې د افق پر لور روان شوم.

ما په طبس ښار کې د خپلې دې ایسارتیا ، په هکله ډېرې خبرې وکړې ،په داسې حال کې چې تر هغه وخته کومه خاصه پېښه هم نه وه شوې.

خیني خاطرې د انسان لپاره تر نورو خاطرو ډېرې خوږې وي ، نکل کوونکی له دې کبله چې د غه خاطرې په تفصیل سره بیانوي خوند اخلي.

دوه څلويښتم څپرکی

پر مصر د هاتي د حملې سريزه

کله چې دافق ښار ته ستون شوم، ومې ليدل چې اخناتون په رښتيا ناروغ دی او درملنې ته اړتيا لري.

د فرعون غومبوري ننوتي او غاړه يې نری او اوږده شوې وه.

په رسمي دستورو کې يې پر خپل سر باندې د کوزو بر مصر د تاج وزن زغملای نه شو او سر به يې ترلاندې کوږ شو.

ماوليدل چې د فرعون ورنونه نري شوي دي او پرورنو يې تنا کې ليدل کېږي.

د پښو بندونه يې نري او سترګو يې د بېخوبۍ له امله تورې حلقې وهلې وې.

فرعون د خبرو پر وخت د خپل خدای په فکر کې داسې ډوب و، چې د بل چا مخ ته يې نه کتل او دا به يې هېره شوه چې خبرې کوي.

د ده سر هم خوږېده خو تر لمر لاندې به له خولۍ او چترۍ پرته ګرځېد، چې دې کار به يې د سر درد نور هم زيات کړ.

کله چې به يې د هغه مخه نيوله ويل به يې زما د خدای وړانګې برکت راوړي او زه د هغه له وړانګو ځان نه شم بې برخې کولای.

خو د لمر وړانګو د دې پر ځای چې هغه ته برکت ورکړي، داسې به يې وکړاوه، چې فرعون به اوتې بوتې پيل کړې او خپسه به يې تر سترګو شوه.

داسې ښکاريده، چې د فرعون خدای هم پخپله د اخناتون په شان دی او خپل رحمتونه په تاوتريخوالي او سختۍ سره په نورو پيرزو کوي چې د هغو د بدبختۍ سبب کېږي.

کله چې ما پر بسترې څملاوه او لوند ټوکر به مې پر سر او تنده ېږ ورکښښود او مسکن درمل به مې ورکول، نو د سترګو ځلا به يې کمه شوه.

ده به په اغېزناکو سترګو داسې راته کتل چې نظر به يې زما پر زړه اغېز وکړ.

سره له دې چې فرعون ناروغ او کمزوری و، خو په دې وخت کې به چې ده راته کتل پر ما به ګران شو او هیله مې کوله، داسې کار وکړای شم چې هغه نهیلی نه وي.

فرعون به په دې وخت کې ویل سینوهه ! ایا هغه شیان چې پر ما یې الهام کېده او ما به لیدل درواغ ول؟

که داسې وي نو ژوند تر هغه ډېر وېرونکی دی، چې ما یې تصور کاوه او داسې ښکاري چې نړۍ په مینه او احسان سره نه اداره کېږي بلکې یو وېرونکی او ورانکاری ځواک دنیا اداره کوي.

خو له دې کېله چې ناممکنه ده یو وېرونکی او ورانکاری ځواک نړۍ اداره کړي، زه باوري یم، هغه څه چې ماته یې الهام کېده یا مې کتل سم ول او که له دې وروسته لمر زما پر زړه ونه ځلېږي، نو زه به د هغه څه په اړه شک وکړم چې الهام رابانديې کېده.

زه د آتون د الهامونو له امله حقیقت داسې وینم، چې د خلکو له زړونو خبرېدای شم، مثلاً پوهېږم چې ته فکر کوې، زه لیونی شوی یم.

خو زه دغه تصور دربښم، ځکه چې زما دا نه شم هېرولی، چې ته هغه څوک یې چې د آتون د حقیقت رڼا ستا پر زړه هم ځلېدلې ده.

خو کله چې له درده کړېده او زګیروي به یې کول ویل به یې، سینوهه ! کله چې یو ځناور ژوبل شي، نو د دې لپاره چې کړاو او درد یې کم شي خلک هغه وژني، خو څوک دې ته نه چمتو کېږي چې یو انسان ووژني چې کړاو او درد یې کم شي.

زه له مرګه نه ډارېږم، ځکه چې پوهېږم د لمر یم او له مړینې وروسته د لمر پر لوري ځم، خو له دې ډارېږم چې زه به داسې وخت کې مړ شم چې آتون لا تول مصر نه وي نیولی.

په منې چې هوا سړه شوه او د لمر وړانګې کمې شوې، ورسره په ځنګ کې زما معالجه هم وه، نو د فرعون حالت څه ناڅه ښه شو.

کله ناکله به مې فکر کاوه چې که مې آزادي درلودای، هغه به مې په خپل حال پرېښوداې چې مړ شي، خو که یو ډاکټر وکړای شي خپل ناروغ معالجه کړي او یا یې درد کم کړي دا اجازه نه لري، چې هغه په خپل حال پرېږدي چې مړ شي.

ښه ډاکټر، باید ښه سړی، بد، نیک او ورانکاری سړی یو شان معالجه کړي او پر هر چا مهربان وي.

له دې وروسته چې د فرعون وضیعت ښه شو، د پخوا په شان په خپلو سوچونو کې

ډوب شو، تل يې د خپل خدای په هکله فکر کاوه.

له دې کبله چې دی پوهېده پر آتون عقيده د هغه په غوښتنه پر مختګ نه کوي، نو پر خپلو شاوخوا کسانو بد بينه کېده.

په دې وخت کې د مصر ملکې نفرتي تي پينځمه لور وزېږوله.

دا د دې پېښې له کبله داسې غمجنه شوه چې فيصله يې وکړه له فرعون څخه غېږ واخلي، ځکه چې فرعون يې ګنهګار باله، تصور يې کاوه، چې د جسمي ستونزې له امله نيمګړتيا لري او له دې امله هغه تل لور زېږوي.

له فرعون څخه د ملکې غېږ په دې ډول و، چې کله د شپږم ځل لپاره اميندواره شوه، نو هغه اولاد يې د فرعون له نسله نه و، ځکه چې نفرتي تي موافقه کړې وه، چې يو بهرنی تخم وکري او هغه داسې سپين سترګې شوه، چې له ټولو سره به يې تفريح کوله.

تو تمس ماته وويل، کله چې هغه له نفرتي تي سره تفريح کوله، هغې ورته ويلي ول، نيت لرم پخپلې ښکلا سره هغه کسان چې فرعون ته نژدې دي د ځان په لور جذب کړم له فر عون نه يې لرې کړم.

نفرتي تي داسې ښځه وه، چې د خپلو موخو د پوره کولو لپاره يې له خپلې ښکلا استفاده کوله.

له دې کبله چې سلطنتي وينه يې په رګونو کې نه وه (ځکه چې د آمي لور وه) نو دا ورته مهمه نه وه، چې پردي کسان هم ورسره ځملي.

خو بايد ووايم، چې د پينځمې لور تر زېږېدا پورې نفرتي تي ډېره پاکه مېرمن وه.

سره له دې چې ډېر درباريان يې غوښتونکي ول او ګران بيه ډالۍ به يې ور کولې، خو له هېچا سره همبستره نه شوه او تر ټولو يې فرعون غوره باله.

له همدې امله ځينو کسانو د ملکې انحراف سپېره فال باله او هغه يې د مصر د ملت او د افق د ښار د اوسېدونکيو د بدبختۍ يوه نښه وبلله.

دغه انګېرنه په تېره بيا هغه وخت ډېره شوه چې اوازه ګډه شوه، نفرتي تي نه يوازې له درباري شخصيتونو سره ساعت تېري کوي، بلکې د لېبيا سپاهيان او کارګران هم خپلې کوټې ته بيايي.

خو ما پر دې اوازې باور نه کاوه، ځکه چې پوهېدم خلک غواړي تر حده زياتې خبرې پسې وکړي او د سترو کسانو مېرمنې تر هغه ډېرې بدنامه کړي چې په رښتيا دي.

فرعون د خپلې مېرمنې له خپل سر یو او انحرافاتو ناخبر و او له چا سره یې ناسته پاسته نه وه چې پرې خبر شي.

اخناتون له وچې ډوډۍ او د نیل له اوبو پرته بل څه نه خوړل او نه څښل، ویل به یې، زه باید له خوندورو خوړو ځخه په پرهیز سره ځان پاک او تصفیه کړم، چې آتون په ښه توګه راته څرګند شي.

له دې کبله چې غوښه ،شراب ، او د اوربشو اوبه نشه او مستي زېږوي، نو د دې مخه نیسي چې د حقیقت نور پر ما وځلېږي.

له بهرنیو هېوادونو څخه مصر ته خواشینوونکي خبرونه را رسېدل او آزیرو مصر ته پخپلو رالېږلو لوحو کې ویل، چې زما عسکر غواړي خپلو کورنو ته ستانه شي، خپل پسونه وڅروي او ځمکې وکري.

خو یو شمېر غله او ډاکوان چې په غزه او سینا سیمو کې اوسي، د مصر پر وسلو سنبال دي او مصري افسران قومانده ورکوي، تل د سوریې پر خاوره حملې کوي.

له دې کبله چې دغو ډاکوانو د سوریې لپاره یو دایمي خطر رامنځته کړی دی زه نه شم کولای چې خپل عسکر رخصت کړم.

بله دا چې د غزې ښار قوماندان د سوریې او مصر ترمنځ د موافقې د روح او متن پر خلاف عمل کوي او غزې ته د سوریې د عسکرو د ننوتو مخه نیسي.

دغه راز هغه سریا یې کاروانونه چې باید غزې ته لاړ شي، دی یې بیرته راستنوي او دغه غلیمانه کار د سوریې ګټو ته تاوان رسوي.

که زما پر ځای بل هرڅوک وای تراوسه پورې به یې د صبر کاسه ډکه شوې وه او جنګ به یې پیل کړی وای، خو له دې کبله چې مونږ د سولې غوښتونکي یو، نو تراوسه پورې مو غلیمانه اقدام نه دی کړی. سره له دې زمونږ زغم هم یو حد لري او کله چې له حده واوړي بیا د سوریې د عسکرو او افسرانو مخه نه شو نیولی.

د بابل پاچا غوښتل پر سوریې غنم خرڅ کړي او د سوریې په بازار کې یې د مصر له سیالۍ شکایت کاوه.

که څه هم اوس له مصر څخه سوریې ته غنم نه تلل، خو د سوریې په بازارونو کې د مصر دومره غنم ول، چې د بابل سوداګرو په آسانه خپل غنم نه شوای خرڅولای.

په مصر کې د بابل سفیر خپله ږیره په لاس کې ونیوله او په هیجان سره یې وویل، زما

بادار او د بابل پاچا د یوه زمري په شان دی، چې په خپل کمین کې ناست دی او هوا بویوي، چې نسیم ورته له کومه لوري د ښکار بوی راوړي.

کله چې یې د مصر نسیم بوی کړ هیله من شو چې له مصر سره اتحاد او دوستي د هغه په ګټه ده، په داسې حال کې چې تراوسه زما بادار له دې دوستۍ څخه ګټه نه ده اخیستې.

که مصر دومره کمزوری دی، چې بابل ته سره وسپین نه شي استولی چې د بابل پاچا پرې قوي او مضبوط سپاهیان وګماري او جنګي ګاډي جوړ کړي، نو زه نه پوهېږم چې د بابل او مصر د دوستۍ پایله به څنګه وي؟

زما بادار ډېر غواړي، چې له شتمن او پیاوړي مصر سره متحد وي، څکه چې پوهېږي دغه یوالی د نړۍ د سولې ضمانت کوي.

بابل او مصر دواړه شتمن دي، جنګ ته اړتیا نه لري او له دې کبله چې دوی پیاوړي دي، نو نور هېوادونه یې له یو ځای کېدو او اتحاده وېرېږي او ورسره جنګ نه کوي.

خو له یوه کمزوري او بېوزلي مصر سره اتحاد، نه یوازې زما د بادار لپاره ګټه نه لري. بلکې د بابل پر اوږو دروند بار دی.

کله چې د بابل پاچا واورېدل، چې فرعون په دې اسانۍ له سوریې څخه تېر شو او هغه یې آزیرو او د هغه هاتي متحدینو ته وسپارله، نو هک پک شو ویل یې، پر ما مصر ډېر ګران دی او د مصري فرعون او ملت نیکمرغي غواړم.

خو له دې کبله چې د بابل سفیر یم مجبور یم، چې د بابل د پاچا ګټې پر مصر غوره وبولم او پوهېږم، چې ډېر ژر به د بابل پاچا ما له مصره ورو غواړي، څکه چې دلته زما سفارت ګټه نه لري.

زه خواشینی یم چې د خپلې دندې له ترسره کولو پرته بابل ته ستنېږم، څکه ماغوښتل د مصر او بابل اتحاد دخبرو او شعار له حده واوړي او عملي اړخ پیدا کړي.

ما د بابل د سفیر خبرې تاید ولې، څکه چې پوهېدم سمه خبره کوي او له یوه کمزوري او بېوزلي هېواد سره اتحاد د یوه پاچا لپاره هېڅ ګټه نه لري.

د بابل پاچا بورابوریاش چې تر دې ورځې یې په پرله پسې توګه خپلې درې کلنۍ میرمنې (د فرعون لور)ته لوبتکې او رنګ شوې هګۍ را استولې، اوس یې ددې ډالیو له را استولو ډډه وکړه.

داسې ښکارېده چې دی غواړي اړیکي غوڅ کړي، په داسې حال کې، چې پوهېده د

کوچنۍ مصري شهزادګۍ په رګونو کې د مصر د پاچاهانو یعنې د خدایانو وینه بهېږي
(مه حیرانېږئ چې ولې د بابل پاچا خپلې درې کلنۍ میرمنې ته رنګ شوې هګۍ را استولې، ځکه چې په هغه وخت کې په مصر کې چرګې نه وې او مصریانو نه چرګې پېژندلې او نه یې لیدلې وې ژباړن)

په همدې وخت کې د هاتي یو پلاوی مصر ته راغی.

د دې پلا وي غړي د هاتي یو شمېر اشرافان او خانان ول او ویل یې ، ددې لپاره راغلي چې د مصر او هاتي پخوانۍ دوستي تایید کړي.

دغه راز دوی ویل غواړي، چې د مصریانو له اخلاقو او عادتونو سره چې په نړۍ کې ډېر مشهور دي بلد شي او د مصر د پوځ له پوځي تخنیکونو او نظم څخه درس واخلي.

د پلاوي غړي ظاهراً ښه اخلاقي او هوښیار کسان ول او درباریانو ته یې ډالۍ هم ورکړې.

منجمله د او سپنې په نوم له یو ډول فلز څخه جوړه چاړه یې د فرعون زوم (توت) ته ورکړه او توت دې ډالۍ ته ډېر خوشحاله شو ، ځکه ویې لیدل، چې په دې ډول چړې سره د مصر چړې دوه ځایه کولای شي.

ما چې بهرنیو هېوادونو ته په سفرونو کې یوه وسپنېزه چاړه له ځانه سره راوړې وه، توت ته وویل غوره دا ده چې دغه ګران بیه فلزي چاړه د سرباوالو په شان په سرواو سپینو سره ښکلې کړې او توت هم دغه کار وکړ.

ده وویل، زړه یې غواړي او سپنیزه چاړه پخپل قبر کې کېږدي، ځکه توت فکر کاوه، چې زر به مړ شي او بریالی به نه شي چې خپل طبیعي عمر وکړي.

د هاتي د پلاوي غړي چې ډېر مضبوط کسان ول، برېښنده سترګې یې درلودې او ډېر ژر د افق ښار پر ښځو ګران شول، ځکه چې مېرمنې له هر نوي شي څخه خوند اخلي.

د مصر درباریانو به د دغه پلاوي غړي خپلو کورنو ته بلل.

پلاوي به په مېلمستیاوو کې ویل: موږ پوهېږو ، چې زموږ د ملت او هېواد په هکله ځینې شیان ویل شوي دي، چې ترهه یې را منځته کړې، خو دغه څرګندونې سمې نه دي

هغه کسان چې پر موږ یې نېکمرغي نه پېرزو کېږي او بخیلي راسره کوي پر موږ دغه تورونه لګوي

موږ داسې ملت یو چې لیکل او لوستل کولای شو.

دغه راز په موږ پسې ویل کېږي چې خواره مو د ماشومانو وینه او اوومه غوښه ده، خو دې پر خلاف موږ سریايي او مصري خواره خوښوو.

موږ ارام او سوله غوښتونکي خلک یو، له جنګونو کرکه کوو او تاسې ته د ډالیو په بدل کې له ګټورو معلوماتو پرته بل څه نه غواړو.

موږ په دې توګه غواړو چې د خپل ملت او ځان پوهه او صنعت لوړ کړو.

زموږ ډېر زړه کېږي، چې یوه شو د مصر په پوځ کې لیبیايي عسکر څه ډول وسلې لري او هیله لرو چې ستاسې د ګرندیو جنګي ګاډیو مانورې وګورو.

موږ پوهېږو، چې زموږ ګاډي ستاسې د ګاډیو پر وړاندې ډېرې درنې او غړنده دي.

موږ پوهېږو، چې د میتاني تښتېدلي کسان کله چې و تښتېدل او دلته را غلل زموږ په هکله یې ډېرې وېروونکې خبرې کړې دي.

تاسې باید د هغوی پر خبرو باور ونه کړئ، ځکه چې دغه خبرې هم د هغوی د غوسې او نهیلۍ له امله او هم د دوی د وېرې له امله دي.

دغه کسان چې اوس په مصر کې دي که په میتاني کې پاتې وای، هغوی ته به هېڅ تاوان نه وای رسېدلی.

دوی اوس هم خپل هېواد ته ستنېدای شي، موږ ډاډ ورکوو چې د هغو تورونو له امله به ترې خپه نه شو، چې پر موږ یې لګولي دي او موږ به د غچ اخیستو فکر ونه کړو، ځکه چې پوهېږو هغوی له ډېرې نهیلۍ څخه پر موږ چټي تورونه لګولي دي.

دا چې موږ ولې میتاني هېواد ته ننوتو علت یې دادی، چې زموږ نفوس ډېر دی او زموږ پاچا غواړي چې د هغه د ملت بچیان ډېر شي. له همدې امله د ځای د کمې له امله د ژوند کولو فضا را ته تنګه شوې ده او زموږ د ملت بچیانو نورو ځمکو ته اړتیا درلوده، چې هلته کرنه وکړي.

دوی داسې څرځایونه غوښتل چې خپل څاروي پکې وروزي او زموږ په هېواد کې دغه ډول ځمکې او څرځایونه نشته.

په بدل کې یې په میتاني کې دغه ډول ځمکې او ښکلي څرځایونه ډېر دي او بله دا چې د میتاني اوسېدونکي هم لږ دي.

هلته هره کورنۍ تر یوه یا دوو ماشومانو ډېر نه لري.

پر دې سربېره موږ دا نه شوای زغملای، چې په میتاني هېواد کې دې ظلم واکمن وي

او خلک دې د یوه ظالم او جابر حکومت تر سیوري لاندې وي، ځکه چې پخپله خلکو د ظلم د ختمولو لپاره له مونږ څخه مرسته وغوښته او مونږ میتاني ته ننوتو.

تاسې باید پوه شئ چې مونږ د فاتحانو او نیواکګرو په توګه دې هېواد ته نه یو ننوتي، بلکه د هغوی د ژغورلو لپاره ورغلي یو، چې له بې رحمه واکمنانو یې وژغورو.

مونږ اوس د کرلو لپاره ډېره ځمکه او د څاریو د څرولو لپاره ډېر څړځایونه لرو، نو دې ته اړتیا نه لرو، چې د نورو ځمکې او څړځایونه ونیسو په تېره بیا دا چې مونږ سوله غوښتونکي انسانان یو او غواړو چې تل په سوله او کراره کې ژوند وکړو.

کله چې د هاتي پلاوي دغه خبرې کولې او د شرابو جامونه یې پر سر اړول، نو له ځرګندونو یې د صداقت داسې نښې ښکارېدې چې ټول به یې ځانته جذب کړل.

دوی په دې خبرو سره ډېر ژر د مصر ټول درباریان د ځان ملګري کړل او ټولو ځایونو ته یې لاره ومونده.

خو ما چې د هغوی هېواد لیدلی و، او دا مې هم لیدلي و چې څه ډول خلک په سیخونو کې ورکوي او سترګې یې ور ړندوي، نو د نورو په شان مې د هغوی په خبرو باور نه کېده.

زه د افق په ښار کې د هغوی د اوسېدو له کبله اندېښمن وم، نو ځکه له مصره د هغوی په تګ خوشحال وم.

زه پوهېدم، دغه پلاوی چې د مصر له حالاتو هر ډول معلومات ترلاسه کوي، ممکنه ده یوه ورځ د مصر په تاوان له هغو څخه استفاده وکړي.

کله چې ما افق ته مراجعه وکړه ومې لیدل چې د ښار وضعیت بدل شوی دی.

زه چې کله له افقه طبس ته تلم ښار غلی و، عیش و عشرت او ساعت تېري ته د خلکو زړه نه کېده، خو کله چې بېرته راستون شوم ومې لیدل چې له بېګا تر سهاره به څراغونه روښانه ول او له میخانو او عمومي کورونو څخه به د خوښیو اوازونه راتلل.

د خانانو په کورنو کې به د خوشحالی او موسیقی جشنونه جوړېدل او نوکرانو او مریانو به هم د خپلو بادارانو په جشنونو کې برخه اخیستله

خو دغه عیش و عشرت او ساعت تېري یو ډول مصنوعي او ظاهري ښکارېده او داسې و، لکه چې خلک د نړۍ د حالاتو د بدلون احساس کوي

یا د داسې پېښو د کېدو احساس کوي، چې نور به هغوی ته د خوښیو اجازه نه ورکوي

، نو ځکه باید له دغه فرصته استفاده وکړي او خپل وخت ښه تېر کړي، چې کـه فرصت لـه لاسه ووت، بیا خواشیني نه شي چې ولې یې له تېر عمره استفاده نه ده کړې.

هغه څه چې ښودل یې دغه خوشحالي طبیعي او عادي نه ده دا و چې کله به ناڅاپه ښار خاموش شو او هېڅ غږ به نه اورېدل کېده ،داسې ښکاریدل چې خلک د خوشحالیو په منځ کې ناڅاپه متوجه شوي چې کومه ناوړه پېښه رامنځته کېږي او دراتلونکې پـه اړه اند ېښمن دي.

هنرمندان هم دښتمنو په شان له یوه غیر عادي او ناڅاپي فعالیت سره مخامخ شوي ول او داسې فکر یې کاوه، چې که کوم نوی شی ونه پنځوي نو وخت به یې له لاسه ووځي.

هنرمندانو هنري حقیقتونه د مبالغې په بڼه انځورول چې په نتیجه کې د خلکو څېرې په کاریکاتوري بڼه ځرګندېدې.

له دې سره سره چې هنري حقیقتونه یې داسې ساده ایستل چې ځینو به د یوه کس د بشپړې څېرې پر ځای د هغه کس د انځورولو لپاره څو کرښې او ټکي ایستل.

دغو هنرمندانو به د فرعون د بڼې د انځورلو لپاره داسې مبالغه کوله چې د هغه له اندام او څېرې سره یې بېخي توپیر درلود او کله چې به انسان ورته کتل ترې وبه ډارشو.

یوه ورځ ما په دې اړه له توتمس سره خبرې وکړې، ومې ویل، فرعون له تا سره نیکي وکړه، ته یې له خاورو پورته کړې او خپل ملګری یې کړې، نو تـه ولې د هغـه مجسمه پـه داسې بڼه باسې چې ته وا له هغه سره دښمني لرې؟

توتمس را ته وویل سینوهه! ته یو ډاکټر یې، په هنر نه پوهېږې او د هغه شي پـه هکله نظر مه ورکوه، چې پرې نه پوهېږې.

توتمس وویل، ښایي زه له فرعون سره دښمني، ولرم خو دغه موضوع زما په هنر پورې تړلې نه ده.

هنر داسې شی دی، چې په دوستي او دښمنۍ نه پوهېږي او کله خو داسې هم کېږي چې یو هنرمن د دښمنۍ په حال کې داسې اثر وپنځوي چې په دوستۍ کې یې نه شي کولای.

زه یو پنځوونکی یم، هغـه څه چې زه یې پنځوم ،زما هنر دی او هغـه د خپـل ذوق او استعداد په اساس جوړوم.

دغه راز هغه څه چې زه یې پنځوم هغه به تلپاتې وي

فرعون مري او آتون له منځه ځي، خوزه پاتې کېږم یانې هغـه څه،چې له ما څخه پیدا

شوي دي او زما هنر دی هغه پاتې کېږي.

کله چې تو تمس خبرې کولې ما يې سترګو او مخ ته کتل او پوهېدم چې هغه سهار شراب څښلي دي، نو طبيعي حالت نه لري او د غه خبرې د شرابو د مستۍ له کبله کوي، نو خبرو ته يې حيران نه شوم او کرکه مې ترې وشوه.

بيا د مني فصل راغی، د نيل اوبه مستې شوې او ورپسې ژمی را ورسېد.

د ژمي په را رسېدا سره لکه چې خلکو يې اټکل کاوه، په مصر کې کاختي پيل شوه او له سوريې څخه هم وحشتناک خبرونه را رسېدل.

د غه راز معلومه شوه چې آزيرو د سوريې د ډېرو ښارونو دروازې د هاتي د سپاهيانو پر مخ خلاصې کړې، د هاتي د پوځ سپکې ګاډۍ له سينا د ښتې تېرې شوې او پر (تانليس) ښار يې حمله کړې، او ټوله هغه سيمه يې ورانه کړې ده.

***

د دغو وېروونکو خبرونو له را رسېدو سره سم آمي له طبس او هورم هب له ممفيس څخه د افق ښار ته راغلل، چې د دې پېښو په اړه له فرعون سره مشوره وکړي.

ما هم په دې غونډه کې برخه واخيسته چې که د دغو دوو تنو د څرګندونو له امله د فرعون طبيعت خراب شي نو معالجه به يې کړم.

آمي وويل، اې اخناتونه ! سږ کال مونږ ونه کړای شول چې د مصر د جنوب ماليات راغونډ کړو، ځکه چې د هغه ځای خلک د کاختۍ له امله بېوزله شوي دي او د ماليات ورکولو وس نه لري.

اوس د فرعون د غلو دانو ډېپوګان تش شوي دي او له دې ډېپوګانو څخه د خلکو د لوږې د مخنيوي لپاره استفاده نه شو کولای.

خلک له ډېرې لوږې د ونو ريښې او د ونو پوستکي حتی چونګښې او ملخان خوري.

تر اوسه پورې يو شمېر کسان له لوږې مړه شوي دي او نور به هم مړه شي، ځکه چې د فرعون غله دومره کمه ده، چې هر څومره د سيمې د اوسېدونکو اندازه کمه کړو بيا هم د هغوی د مرګ مخه نه شو نيولای.

ځينې سوداګر غله لري، خو دومره ګرانه يې خرڅوي چې خلک د هغوی غنم اخيستلای نه شي.

د کليو او باندو اوسېدونکي له کليو څخه د ښارونو پر لوري ځي، ټول وايي چې پر

موږ د آمون لعنت شوی دی او زموږ ټوله بدبختي د فرعون د نوي خدای له امله ده.

خو، اې فرعونه! زه تاته وایم، چې د آمون قدرت بیرته ستون کړه او هغه د مصر خدای وبوله چې د آمون کاهنان او خلک له ترهې او وېرې وژغورل شي او کروندګر وکرای شي د آمون په ځمکو کې فصلونه وکري.

دا ځکه، چې اوس ځوک ستا او ستا د خدای په ځمکو کې کوم شی نه کري او باوري دي، چې ستا د خدای پر ځمکو لعنت شوی دی.

که ته سمد ستي له آمون سره پخلاشې دغه وېرونکې کاختي به له منځه لاړه شي، ګني ټول خلک به له لوږې مړه شي او زه هم د هغوی د ژغورلو لپاره څه نه شم کولای.

هورم هب وویل: اې فرعونه! زه خبر یم چې د بابل پاچا بورابوریاش، د دې لپاره چې د هاتي له حملې خوندي پاتې شي، له هغه هېواد سره سوله کړې او آزیرو هم له وېرې هغوی ته د سوریې ټول ښارونه پرانیستي پرې ایښي دي.

نن سبا په سوریه کې د هاتي د عسکرو شمېر د بیدیا د شګو او د هاتي د سپاهیانو د جنګي ګاډیو شمېر د ستورو په اندازه دي.

زه شک نه کوم چې د هاتي عسکر دې په پسرلي کې لومړنی حمله پر مصر وکړي، ځکه چې د سوریې او مصر ترمنځ په ټولې بیدیا کې یې د اوبو منګي ایښي دي، چې کله د هاتي عسکر په پسرلي کې په دې بیدیا کې تېرېږي، نو چې تږي نه شي.

دغه منګي یې هم له مصره اخیستي دي.

مصري سوداګرو په دې خیال چې هاتي ګني له دغو منګیو څخه بله استفاده کوي، د مصر ټول زاړه منګي پر هاتي خرڅ کړي دي.

دوی پر دې خبر نه ول چې د ځان د تباهۍ وسیلې برابروي.

د هاتي افسران او سپاهیان دومره زړه ور دي، چې له ژمي سره سره یې په تانلیس برید وکړ.

که څه هم هلته یې ډېر ورانی نه دی کړی، خو ما په مصر کې اوازه ګډه کړه، چې هغوی ډېره مرګ‌ژوبله اړولې او غمیزې یې رامنځته کړي دي، چې د هغوی پر خلاف د مصر د خلکو کرکه او غوسه راوپاروم او خلک وهڅوم، چې په قدرت او سختۍ له هاتي سره وجنګېږي.

اې فرعونه! لا وخت نه دی تېر شوی او کولای شو د هاتي او دغه راز د هاتي د متحد

آزیرو مخه و نیسو.

اې اخناتونه! امر وکړه چې د جنګ د پیلولو لپاره د جنګ نغارې ووهي او له ټولو ځوانانو څخه وغواړه چې پوځ ته را شي.

حکم وکړه، هرڅو مره مس چې لرو، باید د وسلې په جوړولو یې ولګوو.

زه له تا سره وعده کوم چې که جنګ پیل کړې او زما وړاندیز ومنې، هم به هاتي په شا وتمبوې، هم به سوریه بیرته ترلاسه کړې دغه جنګ به په داخل کې هم یوه ګټه وکړي، هغه دا چې خلک له بهرني جنګ سره مخامخیږي نو له دې سره به آمون، آتون او کاختي ټول هېر کړي.

کله چې آمي دغه خبرې واورېدې، لږ شکمن شو او نه پوهېده چې څه ووایي، بیا یې وویل، اې فرعونه! د هورم هب خبرو ته غوږمه نیسه، له ورایه ښکاري چې هغه ستا د غولولو نیت لري، ځکه چې دغه سړی غواړي قدرت ترلاسه کړي.

دی غواړي تا د سلطنت له ګدۍ ښکته کړي او خپله پرې کښېني.

زه باوري یم چې ته به ډېر ژر د آمون له کاهنانو سره پخلاشې خو لومړی د هغوی څمکې بیرته ورکړه.

له دې وروسته که دې بیا غوښتل نو د آزیرو او هاتي پر خلاف جنګ پیلولای شې، خو د خپلو سپاهیانو قومانداني هورم هب ته مه ورکوه.

دهورم هب پر ځای یو بوډا او باتجربه قوماندان، چې پخواني پوځي تخنیکونه یې زده وي او د پخوانیو فرعونیانو د جنګ اصول یې په پاپیروسونو کې لوستي وي، پر دغه دنده وګماره، او پر دې هم ځان ډاډه کړه چې هغه نه غواړي له تا څخه ستا پاچاهي واخلي.

هورم هب په دې وخت کې وویل، که اوس موږ د فرعون په مخکې نه وای ما به په سوکانو په مخ وهلی وې.

ته آمي! له دې کبله چې یو درواغجن او چلباز کاهن یې، تصور کوې، ټول ستا په شان دي او زه پوهېږم چې تا په پټه د امون له کاهنانو سره مذاکره کړې او هغوی ته دې وعده ور کړې، چې فرعون به اړباسې چې د آمون د خدایي دوره به بیرته احیا کوي

خو زه فرعون نه غولوم او د هغه پاچاهي ته مې سترګې نه دي نیولې، زه همغه سړی یم چې کله فرعون وړوکی و، په بیدیا کې مې په خپلو جامو سره هغه له یخنۍ و ساته

دغه سړی (اشاره یې ماته وه) په همغې بیدیا کې موجود و او ویې لیدل چې ما خپلې

جامې هغه ته وراغوستلې.

زما هدف دا دی چې مصر له منځه لاړ نه شي او هغه څه، چې زه يې وايم د مصر د لوړاوي او حيثيت ساتلو لپاره دي.

زه پوهېږم، چې له ما وروسته څوک نه شي کولای د مصر عظمت وساتي.

فرعون له هغوی څخه پوښتنه وکړه، ايا ستاسې خبرې پای ته ورسېدې؟

دواړو وويل هو ! زموږ خبرې پای ته ورسېدې.

فرعون وويل، تر دې وړاندې چې زه ستاسې خواب درکړم، بايد تول له شپه ويښ پاتې شم او له خپل خدای سره مشوره وکړم.

خو تاسې سبا خلک راوبولئ او ووايئ، چې له ښتمن او بېوزله رانيولې، تر مريي او باداره پورې او حتی هغه مريان، چې په کانونو کې کار کوي، تول دې راشي، ځکه چې زه سبا نيت لرم له خپل ملت سره خبرې وکړم او خپله فيصله اعلان کړم.

دغه حکم عملي شو.

پر بله ورځ خلک د فرعون د مانۍ په مخکې راټول شول.

تر هغه مخکې کرۍ شپه فرعون په مانۍ کې ګرځېده، ډوډۍ يې هم ونه خوړه او له هېچا سره يې خبرې ونه کړې، تر دې حده چې زه ورا خطا شوم چې بيا يې طبيعت خراب نه شي.

خو پر بله ورځ کله چې هغه د خلکو په مخکې پر تخت کېناست لاس يې پورته کړ او خبرې يې پيل کړې، ما وليدل چې مخ يې له ډېره هيجانه پړقيده.

فرعون داسې وويل: زه يو کمزوری کس وم او زما د کمزورتيا له امله په مصر کې کاختي راغله.

دغه راز زما د کمزورتيا له امله دښمن هوډ کړی، چې د مصر پر خاوره حمله وکړي او اوس د هاتي پوځ په سوريه کې ځان پر توره خاوره د حملې لپاره چمتو کوي.

(*له توري خاورې مقصد مصر دی، ژباړن*) زه له دې امله کمزوری وم، چې د خپل خدای غږ مې سم وانه ورېد او هغه مې ښه ونه لېد.

خو وروسته زما خدای ماته ښرګند شو، د هغه اور زما په ګوګل کې بل شو او پوه شوم، چې زما د کمزورۍ علت څه دی؟

زه له دې امله کمزوری وم، چې د دروغجن خدای آمون له پرځولو وروسته مې د مصر

نور خدایان پخپل حال پرېښودل، چې هر ډول غواړي ژوند وکړي.

زه نه پوهېدم، چې دغو خدایانو له زړګونو کلونو راهیسې مصر غصب کړی دی او د یوازېني خدای آتون پر وړاندې تر ټولو ستر مدعیان دي.

دوی نه پرېږدي چې آتون په آرامۍ سره، په ټول مصر کې خدایي وکړي، نو له همدې امله وایم چې نن دې په ټول قدرت سره د مصر ټول خدایان له منځه یوړل شي.

دغه موجودات دې تباه کړای شي، چې له زړګونو کلونو راهیسې یې توره خاوره پر خپله ځاله بدله کړې ده.

اې د مصر ملته! له ننه وروسته یوازې یو خدای پر ټول مصر حکومت کوي او هغه آتون دی.

د آتون له وړانګو پرته به بل هېڅ وړانګه پر نړۍ ونه ځلېږي.

کله چې خلکو واورېدل، فرعون غواړي د هغوی ټول خدایان له منځه یوسي، نو له وېرې ورېږدېدل او ځینو پکې سجده وکړه.

فرعون په داسې حال چې لاس یې د اسمان پر لور اوچت کړی و، په لوړ غږ ناره کړې:

اې د مصر ملته... اې هغو کسانو چې زه درباندې ګران یم.... همدا شېبه او له همدې ځایه روان شئ او د مصر ټول پخواني خدایان زاړه وپرځوئ!

د هغوی محرابونه ونړوئ، د دې غاصبو خدایانو د سپېڅلو غوړیو او اوبو لوښي نسکور کړئ، معبدونه یې له منځه یوسئ او هڅه وکړئ چې په هېڅ یوه ډبر لیک او معبد کې د هغوی نوم پاتې نه شي.

زه تاسې ته اجازه درکووم، چې ددې غاصبو خدایانو د نومونو د ورانولو لپاره قبرونه هم وکنئ او مجسمې ماتې کړئ، چې مصر ددغو خدایانو له ظلم، فتنې، کرکې او تمې څخه وژغورل شي.

اې خانانو او اشرافو! ګورز او سوټي را واخلئ!... او تاسې! اې مجسمه جوړونکو او انځورګرانو! خپل د کندنکارۍ قلم او د انځورګرۍ مویک لرې واچوئ! ګورز او لرګي در واخلئ.. او تاسې اې کارګرانو پتک او څټک څنډې ته کړئ او مارتولونه واخلئ... او تاسې اې کروندګرو! خپل لرونه تېره کړئ، روان شئ او د مصر په ښارونو او کلیو کې که د پخوانیو خدایانو هر ډول نښه ګورئ هغه له منځه یوسئ.

دغو خدایانو چې له زړګونو کلونو راهیسې یې په دې هېواد کې خدایي کړې، زهرول

يې کړي دي او دغه هېواد يې له خداى زادګانو ډک کړى دى.نو ناممکنه ده چې له خپلو ګټو تېر شي.

شونې نه ده، چې اجازه ورکړي په دغه هېواد کې د شتمنو او بېوزلو توپير ختم شي، دغه راز په دې هېواد کې ځمکې په مساويانه توګه ووېشل شي.

تر هغه چې په مصر کې د هغوى نسل له منځه يو نه سئ، د غه هېواد به د حريصو او غاصبو خدايانو له شتونه پاک نه شي.

اې د مصر ملته! سر له نن څخه په دې هېواد کې نه څوک بادار دى او نه مريي،نه څوک بادار دى او نه نوکر. هېڅوک دا حق نه لري چې بل څوک پخپله ځمکه کې کار کولو ته مجبور کړي او هېڅوک حق نه لري چې بل اړ کړي، د هغه په کان کې کار وکړي.

هر څوک آزاد دى، چې هر چيرته غواړئ لاړ شي او هره دنده، چې غواړي تر سره کولاى يې شي.

د مصر ټول او سېدونکي د يوه بل پر وړاندې او د آتون پر وړاندې يو شان دي ....

کله چې د مصر د فرعون خبرې دې ځاى ته ورسېدې، نو نارې يې کړې. ستاسې د فرعون خبرې پاى ته ورسېدې، کولاى شئ لاړ شئ او د مصر خدايان رانسکور کړئ.

هغه څه چې خلکو د فرعون له خولې واورېدل، دومره عجيب ول چې باور يې پرې نه شو کولاى، خو فرعون په داسې جذبې او صميميت سره خبرې کولې، چې پر خلکو يې اغېز وکړ.

خلکو ويل، شک نشته چې د فرعون خداى له هغه سره خبرې کړې دي، ځکه که د هغه خداى دغه حکم نه واى کړى، نو د فرعون کلام به دومره اغېزناک نه و، زموږ پر روح به يې داسې اغېزه نه وه کړې او موږ بايد د هغه امر ومنو.

کله چې خلک تيت پرک شول، آمي وويل، اخناتونه! اوس ته سلطنتي تاج له سره لرې کړه او سلطنتي لکړه ماته کړه، ځکه هغه څه چې تا وويل ددې سبب کېږي، چې ستا سلطنت له منځه يو سي.

فرعون ځواب ورکړ، هغه څه چې ما وويل، د دې سبب به شي، چې زما نوم تلپاتې شي او له دې وروسته به زما قدرت د نړۍ تر پايه پورې د وګړيو په روح کې پاتې وي.

آمي په ډېر تحقير سره نارې پر ځمکه تو کړې او ويې ويل، که داسې وي، نو زه د يوه لېوني پر وړاندې خپل مسوليت ېږته اخلم او وايم، چې مجبوره نه يم د فرعون درناوى

وکړم.

بیا آمي روان شو، چې لاړ شي خو هورم هب هغه تر متې ونیو او ویې ویل: آمي ولې دې ناړې تو کړې او ولې دا خبره کوې، ایا دغه سړی فرعون نه دی او ته د نده نه لرې، چې د هغه درناوی وکړې؟

آمي! په دې پوه شه، چې که ته وغواړې له فرعون سره خیانت وکړې، نو زه به دې پخپله توره خښته درخیرې کړم.

ښایي په دې به پوه شوی یې، چې زه درواغ نه وایم، زه دا خبره منم هغه خبرې چې فرعون وکړې، څه ناڅه عجیبې دي او د لېونو د خبرو په شان ښکاري، ځکه چې ترا وسه پورې چا په مصر کې داسې نه دي اورېدلي چې د دې هېواد ټول خدایان، د یوه خدای په ګټه نسکور کړای شي.

خو د هغه خبره له یوه اړخه د هوښیارۍ خبره ده، ځکه د دې سبب کېږي، چې د مصر ټولې بېوزلې او وږې پرګنې د فرعون پلویتوب وکړي.

که هغه یوازې ویلي وای، چې د مصر ټول خدایان نسکور کړئ، ښایي په مصر کې کورنۍ جنګ پیل شوی وای.

خو له دې کبله چې وایي باید د شتمن او بېوزلي، بادار او مریې توپیر دې ختم شي، په دې ډول به د مصر ټولې بېوزله پرګنې او مریيان د فرعون پلویتوب وکړي او کورنۍ جنګ به رامنځته نه شي.

بیا هورم هب فرعون ته وکتل او ویې ویل اوس دا ووایه چې موږ باید له هاتي سره څه وکړو؟

فرعون چې لاسونه یې پر زنګنو ایښي ول ځواب ورنه کړ.

هورم هب وویل، اخناتونه! ماته غنم، طلا، وسله، جنګي ګاډي او اسونه راکړه او اجازه راکړه، چې سپاهیان وګمارم، له تا سره ژمنه کوم چې هاتي به په شا وتمبوم.

فرعون سر راپورته کړ او د بې خوبۍ له کبله سرې سترګې یې هورم هب ته وروا ړولې ویې ویل، زه نه غواړم چې ته جنګ اعلان کړې، خو که زما ملت غواړي د توري خاورې دفاع وکړي، زه به یې مخه ونه نیسم. خو د وسلو، غنمو او طلا په هکله باید ووایم، چې زه یو هم نه لرم چې تا ته یې درکړم او که مې درلودای، بیا مې هم نه درکول، ځکه نه غواړم چې بدي، په بدیو پاکه کړم.

خو ته کولای شي په هر ډول چې کېدای شي، له تانیس څخه د دفاع وسایل برابر کړې، خو په دې شرط چې وینه ونه بهوې.

هورم هب وویل ډېره ښه ده.

زه به له تانیس څخه د دفاع وسایل برابر کړم او هلته به مړ شم، ځکه چې د پوځ یو مشر چې نه غنم لري، نه طلا او نه وسلې او باید د سیمې دفاع هم وکړي، نو مجبور دی چې د ځان په تباه کولو سره د هغه ځای دفاع وکړي.

خو زه په دې کې شک نه لرم. کله چې مې فیصله وکړه چې یو کار ترسره کړم هغه بیا ترسره کووم، نو اخناتونه! سمدستي خدای په امان... او هیله کووم چې خپلې روغتیا ته توجه وکړې.

له دې وروسته چې هورم هب لاړ آمي هم روان او لرې شو.

بیا فرعون خپلې سرې سترګې ماته راواړولې او ویې ویل، اوس چې مې خپلې خبرې وکړې د کمزورۍ احساس کووم.

بیا یې په موسکا وویل سینوهه! ایا زه درباندې ګران یم؟

ومې ویل البته چې راباندې ګران یې.

ته تصور کوې، چې که ته راباندې ګران نه وای ایا زه به دې ته چمتو شوی وای چې ستا لېونتوب مې زغملای وای؟

فرعون وویل، که زه درباندې ګران یم ته باید پوه شې چې څه وکړې؟

زه پوه شوم چې فرعون څه غواړي؟

ځکه هغه امر کړی و، چې د هغه ټول خلک خپل کارونه خوشې کړي لاړ شي، د مصر د خدایانو مجسمې ورانې کړي او د هغوی نومونه له منځه یوسي.

ده تمه کوله چې زه هم همدا کار وکړم، ومې ویل اې فرعونه! زه ستا ډاکټر یم او تصور مې کړی و، له دې امله دې له طبسه را وغوښتم چې زما طبابت ته اړتیا لرې، خو اوس ګورم چې نه غواړې، زه له تا سره پاتې شم نو زه هم ځم او لرې کېږم.

زما متې د ځټک او مارتول زور نه لري، خو ستا د حکمونو د منلو لپاره هر کار کووم.

د طبس پر لوري به روان شم، ځکه چې په هېڅ یوه ښار کې د طبس په شان ډېر خدایان نشته، زه پوهېږم کله چې ما په طبس کې د خدایانو په پرځولو پیل وکړ، خلک به زما خبټه خیرې کړي، سر به مې مات کړي او بیا به مې سر په ځېرې، پر دېوالونو راځوړند کړي، خو

زه ستا د حکم د پلي کولو لپاره دغو ټولو کارونو ته غاړه ږدم.

له هغه وروسته بې له دې چې کومه خبره وکړم، له فرعون څخه روان شوم، هغه هم هېڅ ونه ویل.

زما په روح کې غوسې داسې ځاله کړې وه، چې له سلطنتي ماڼۍ څخه تر وتلو مخکې مې فیصله وکړه، چې تو تمس ته ورشم او له هغه سره د زړه خواله وکړم.

ما ولیدل چې توتمس په خپله کارخانه کې ناست دی او له هورم هب او یو بوډا هنرمن سره چې ډېر شرابي و او (بک) نومېده شراب څښي.

د توتمس نوکران اخته ول، د هغه د سفر لپاره یې وسایل ټولول او راته څرګنده شوه، هغه هم روان دی چې د مصر د نورو خدایانو مجسمې ورانې کړي.

توتمس په داسې لهجې سره چې د اعتراض بوی ترې لتېده وویل، په آتون قسم چې له دې وروسته به په مصر کې نه خان وي او نه عام کسان.

تر ننه پورې زما کار دا و، چې مړه کاني په داسې مجسمو بدل کړم چې تر ژوېو ډېر ژوندي دي، ځکه چې د هغوی ښکلا او هنري ارزښت له ژوندیو ژوېو ډېر دی، خو له دې وروسته باید مارتول او څټک واخلم او د خدایانو مجسمې ورانې کړم...

ملګرو ښه به داوي چې له دې فرصته استفاده وکړو او وڅښو، ځکه چې پوهېږو زموږ د عمر ډېرې لږې شپې ورځې پاتې دي او ډېر ژر به ټول مړه شو.

بک خپل جام پر سر واړاوه او ویې ویل، زه پوهېږم چې مړ به شم، خو د اخناتون له حکمه سرغړونه نه شم کولای، ځکه چې زه یو بې نومه هنرمن وم او زما هنري شیان چا نه اخیستل، خو فرعون زه له چیکړو پورته کړم او دلته یې راوستم.

هر ځل چې به ما خپله شتمني او ان خپل لنګ په شرابو ورکاوه، لوڅ به پاتې کېدم، فرعون به ماته سره زر او جامې راکولې او هېڅکله یې تعجب نه کاوه، چې ولې زه لوڅ او بې جامو یم.

زه پوهېږم چې کله زه خپل ولایت ته ستنېږم او د مصر د خدایانو د تباه کولو لټه کووم، نو د هغه ځای کروندګر به زما خېټه په لرونو څیرې کړي. زما مړی به په نیل کې واچوي او د تمساح خوراک به شم.

خو زه اوس بوډا یم، له شرابو سره هم ډېره مینه لرم، او بله دا چې د پخوا په شان کار نشم کولی، نو څو مره چې ژر مړ شم ښه به وي.

هورم هب وويل، که زه د دې ملت د سپاهيانو قوماندان نه واى نو تاسې ته مې ويل ښه دى چې مرئ او د هاتي له ځواکونو سره نه مخامخ کېږئ.
ځکه چې د هاتي عسکر داسې بې رحمه دي، چې زموږ ترټولو ځېږ مرګ د هغوى لپاره د س کولو په مانا دى.
خو له دې کبله چې زه پخپل قسمت باور لرم د هغوى مخه به ونيسم، دا په داسې حال کې ده چې پوهېږم په خالي لاس او له غنمو او طلا پرته د هاتي د عسکرو مخنيوى سخت کار دى.
هغږى داسې کسان نه دي، چې د ډول له غږ او نارو سورو څخه وډار شي او يا که په مچنو زغو سره حمله پرې وشي نو ترې وتښتي.
بيا يې وويل، يو شى چې زه يې حيران کړى يم دا دى پوهېږم فرعون سم عقل او پوهه نه لري او د لېونيو په شان فيصلې کوي، خو بيا هم پر ما ګران دى او د حکمونو پيروي يې کووم.
ـک وويل، زه تصور کووم، د دې کار علت دا دى چې د غه سړى د مصر له ملت سره دښمـ يې نه لري. هره خبره، چې کوي پرې باور لري او له دې کبله چې انسان احساس کوي، د هغه خبرې له مينې او ګرانښته ډکې دي، نو خبره يې مني او له هغه سره مينه کوي.
توتمس وويل خو پر ما ګران نه دى او کرکه ترې کووم.
ومې ويل، نو ولې غواړې خپله کارخونه پرېږدې او د هغه د حکم د منلو لپاره د مصر د خدايانو د مجسمو د ورانولو لپاره روان شې.
توتمس وويل، د دې لپاره چې پوهېږم د غه کار به د فرعون د نسکورولو لپاره زمينه برابره کړي، د هغه پر ځول به ګرندي کړي او موږ به نور د غه سړي له لېونتوبه خلاص کړي.
هورم هب وويل، توتمسه ! ته دروا غ وايې، له فرعون نه کرکه نه کوې، کله چې يې ګورې ستا کرکه له منځه ځي او مينه يې ځاي نيسي، ځکه چې اخناتون سړي ته داسې ګوري چې ناممکنه ده، څوک له هغه سره دښمني او کينه وکړاى شي.
په وار وار داسې شوي، چې زه په ډېر قهر سره دربار ته ننوتى يم، غوښتل مې له فرعون سره جګړه وکړم، خو کله چې مې د هغه سترګې او موسکا ليدلې، خپله غوسه مې هېره کړې ده، که څه هم پوهېږم چې هغه لېونى دى، خورا باندې ګران دى.
موږ د توتمس په کارخونه کې دغه خبرې کولې. شراب مو څښل او هغو کشتيو ته مو

کتل چې په نیل کې ګرځېدلې.

ځینې خانان به مو کتل چې له وېرې په کشتیو کې تښتې، چې ځان له دې جنجاله لرې کړي، ځکه پوهېدل، چې د عوامو له غوسې سره به مخامخ شي او ځینې نور په تېر، مارتولونو او نور وو سیلو سره د مصر د ښارونو پر لور روان ول، چې هلته د خدایانو مجسمې ماتې کړي او دوی چې له افق ښاره روانیدل د آتون سندره یې ویله طوطمس ویل که د خلکو له لومړنۍ ډلې سره مخامخ شول سندرې به یې په خوله کې وچې شي.

موږ په دې شپه د طوطمس په کارخونه کې تر بېګا شراب وڅښل خو د دې په ځای چې خوشحاله شو موږ یې خپه کولو، ځکه پوهیدلو تیاره او خرابه راتلونکې لرو.

چې شپه شوه، هورم هب یوې څنډې ته کړم او ویې ویل سینوهه زه سبا له دې ځایه ممفیس ته ځم او له هغه ځایه له تانیس د دفاع لپاره روانیږم په داسې حال کې چې نه سره زر لرم او نه غنم خو ته شتمن کس یې باید له ما سره مرسته وکړې.

ومې ویل زه هم سبا له دې ځایه د طبس پر لور ځم، کله چې هلته ورسېدم، څومره چې مې وکړای شول طلا به درته وله کړم تا ته به یې درواستوم.

دغه راز به خپل نیمایي غنم هم درولېږم، ځکه چې نیمایي د مصر د وږیو خلکو د مړولو لپاره ساتم.

له دې وروسته چې هورم هب ډاډه شو، چې زه به طلا او غنم ورولېږم نو د بلې ورځې پر سهار لاړ او زه هم له تو تمس سره د طبس پر لوري روان شوم.

له څو ورځو وروسته د نیل سیند زموږ لپاره د نارینه وو، ښځو، او ماشومانو مړي د ډالیو په توګه راوړل او د ځینو مړیو سرونه خریل شوي ول.

له دې څخه موږ پوه شوو، چې هغوی د آمون کاهنان دي او ځینو هغو ډېرې ویاړمنې جامې اغوستې وې، چې ښکارېده هغوی خانان او اشرافان دي.

د نیل سیند تمساح ګانو ته ستر جشن جوړ شوی و او تمساح ګانې چې هوښیار ځناور دي، د بوډاګانو مړي یې نه خوړل، یوازې د ماشومانو او ځوانو نجونو مړي یې ښه خوړل.

زه تصور کووم چې که تمساح ګانې هم د بشر په شان د خدای عبادت وکړي، نو تېوله شپه او ورځ به د آتون ستاینه او ذکر کوي، ځکه چې پر نورو خدایانو د آتون د بریالیتوب له امله دغه خلک وژل شوي ول چې مړي یې د تمساح ګانو په برخه شوي ول.

موږ چې کله طبس ته ورسېدو ومو لیدل چې د ښار له څو برخو او هم د مړیو له ښاره

(د طبس له هدیرې، ژباړن) د لوګیو ستنې د آسمان پر لوري پورته کېږي.

د غلته د آتون پلویانو د دې لپاره چې د نورو خدایانو ننبې له منځه یوسي پر قبرونو یې حمله کړې وه او مومیایي شوي مړي یې سوځولي ول.

په دې وخت کې مې شکر وکړ، چې زما مور او پلار قبرونه نه لري.

که ما د مور و پلار مومیایي شوي مړي په یوه قبر کې ښخ کړي وای، خلکو به د هغوی مومیایي شوي مړي هم له قبرونو را ایستلي او سوځولي به یې ول.

په دې وخت کې پوه شوم، چې پخواني فرعونیان چې د خپلو مړیو لپاره یې هرمونه جوړ کړي دي څومره هوښیار ول او ولې یې د هرم له جوړلو وروسته او د مړیو په ښخولو پسې د هرم دروازې داسې بندې کړې دي چې لاره یې معلومه نه وي.

هغوی اټکل کړی و، چې داسې ورځ به راشي چې خلک به د خپلو پخوانیو خدایانو د نابودۍ لپاره پاڅون وکړي او پر دې ورځ به د پخوانیو خدایانو مجسمې هم له منځه یوسي او مومیایي شوي مړي به هم له قبرونو وباسي او سوځوي به یې.

خو پر هرمونو به حمله ونه کړای شي، چې د فرعون مړی له هغه ځایه وباسي او هغه وسوځوي، یا یې مړی له منځه یوسي.

په هغه وخت کې چا د فرعونیانو مومیایي شوي مړي له قبرونو نه ورا ایستلي چې و یې سوځوي، ځکه په طبس کې خلکو فرعون ته درناوی کاوه او د کاهنانو مومیایي شویو مړیو ته هم درناوی کېده.

خو خلکو د هغوی مړي له قبرونو را وایستل او ویې سوځول نو ممکنه وه، یوه ورځ د فرعون مړی هم له قبره را وباسي او ویې سوځوي. له همدې امله پخوانیو فرعونیانو د خپلو قبرونو لپاره ستر هرمونه جوړ کړي ول، او دا د دې ښودنه کوي چې هغوی ډېر خیرک پاچاهان ول. ځکه خپل قبرونه یې داسې جوړ کړي، چې څوک نه شي ورننوتلی چې لوټ یې کړي.

درې څلوېښتم څپرکی

په طبس کې زما نوې دنده

کله چې موږ طبس ته ننوتو صلیب مو په غاړه و، هلته مو ولیدل، وچې د صلیب یو شمېر لېږدونکیو، ښکرور خلک په نیل کې واچول او پر سر سر یې دومره ووهل، چې اوبو ډوب کړل او بیا راپورته نه شول.

موږ پوه شوو چې په طبس کې د صلیب لېږدونکي برلاسي دي او پخواني خدایان یې له منځه وړي دي، او س آتون چې ظاهري بڼه نه لري په طبس کې واکمني کوي.

ما تو تمس ته ویل چې د هر ژر باید د تمساح لکۍ میخانې ته لاړ شو، ځکه چې هغه ځای امن او ارام دی.

روسته له خپل تبر او څټک سره د میخانې پر لوري روان شو.

میخانې ته چې ننوتو ما ولیدل چې کاپتا د خانانو ویاړمنې جامې ایستې دي او زړې جامې یې اغوستې دي.

له سترګې یې طلایي پټۍ لرې کړې ده، ړنده سترګه یې له ورایه ښکارېدله او خپلو یو شمېر لوڅو او لغړو مریيانو او د طبس د بندر وسلوالو پنډیانو ته یې ویل: وروڼو وڅښئ او خوشحالي وکړئ، ځکه چې یوه نوې دنیا پیل شوې ده.

له دې وروسته به بادار، مریی، خان او مزدور نه وي، ټول خلک به سره مساوي وي، هر څوک خپلو اک دی چې چیرته یې زړه غواړي هلته تللی شي.

د هر چا چې هر کار زړه غواړي، هغه کولای شي.

زه ننوتلو ته په وړیا توګه د اوربشو اوبه درکوم، په دې شرط چې د فلز له ترلاسه کولو وروسته ما هېر نه کړئ.

کله چې د دروغجنو خدایانو یا شتمنو کسانو کورونه لوټئ، نو هغه څه چې ترلاسه کوئ یې، په دې میخانه کې یې خرڅ کړئ.

زه هم ستاسو په شان یو مریی یم او مریی زېږدلی یم، زما یوه سترګه زما بادار ړنده کړه، ځکه پر کومه ورځ چې تږی او وږی وم، د هغه د اوربشو اوبه مې پر سر واړولې او هغه په لرګي ووهلم چې

ستر ګه مې رنده شوه.

خو په راتلونکې کې به داسې ظلمونه نه وي او له دې وروسته به څوک په دې پلمه ونه وهل شي چې مریې دی. له دې وروسته به د چا ستر ګه د اوربشو د یوه جام د څښلو له امله نه رنده کېږي.

هېڅوک به له دې کبله چې مریې دی، پخپلو لاسونو کار نه کوي بلکې تر هغه چې ژوندي یو زموږ کار به خوړل، څښل، نڅا او تفریح کول وي.

په دې وخت کې کاپتا، ما او توتمس ته متوجه شو او زموږ په لیدو ډېر حیران شو. په بېړه یې د میخانې له انګړه یوې خصوصي کوټې ته بوتلو او ویې ویل، تاسې ډېره بې احتیاطي کړې ده چې په دغو جامو کې په ښار کې راتېر شوي او دلته راغلي یاست.

که غواړئ ژوندي پاتې شئ، باید خپلې جامې بدلې کړئ، زړې جامې واغوندئ لاسونه او پښې ککړې کړئ چې خلک فکر وکړي تاسې کارګران یاست.

ځکه نن سبا که په طبس کې هر څوک ښې او ویارمنې جامې واغوندي مریيان او کارګران یې وژني او حتې هغه کسان هم ښايي ووژل شي چې چاغ او پنډ دي.

که تاسې وینئ چې زه یې لا نه یم وژلی، د دې لامل دا دی چې زه پخوا مریې وم او بله دا چې ما په مریيانو او کارګرانو لږ غنم وویشل او په دې میخانه کې مې پر هغو د اوربشو اوبه وڅښلې.

خو تاسې ولې په دې وخت کې چې خانان او اشراف او له خطرې سره مخامخ دي، طبس ته راغلي یاست؟

موږ له ځان سره راوړې څټک او تبر کاپتا ته وروښودل او ومو ویل، راغلي یو، چې د مصر خدایان له منځه یوسو او مجسمې یې ماتې کړو.

کاپتا زموږ تبر او څټک ته وکتل، ویې ویل، کوم کار چې تاسې یې کوئ بد نه دی، ځکه چې خلک نن سبا هم دغه کار خوښوي

خو باید پام وکړئ چې تاسې ونه پېژني، ځکه چې ممکنه ده حالات بدل شي او ښکروړ د پخوا په شان واک ته ورسېږي چې بیا به نو تاسې هم ووژني.

زه باوري یم چې حالات همداسې نه پاتې کېږي او مریيانو او کارګرانو داسې غمیزې را منځته کړې دي، چې د صلیب ځینې پلویان له ښکرورو سره متحد شوي دي غواړي چې په طبس کې نظم او ډسپلین واکمن کړي

که خلک د نظم او ډسپلین لپاره سره متحد نه شي، بیا نو دغه حالات دوام نه شي کولای، ځکه چې مریيان او کارګران تصور کوي چې له دې وروسته کار کولو ته اړتیا نه لري

دوی باوري دي چې د لوټمارۍ په وسیله ځان مړولی شي، په داسې حال کې چې سره و سپین د خوړلو شی نه دي، په مصر کې غنم نه پیدا کېږي.

زه د فرعون پر دې پرېکړې خوشحاله یم، چې مریيان یې خوشې کړي دي. ځکه چې د دې پرېکړې له کبله زه له یو شمېر زړو او معیوبو مریيانو خلاص شوم.

که فرعون هغوی نه وای ازاد کړي، نو له دې کبله چې زما یا ستا مریيان ول، مجبور وم چې د ژوند تر پایه پورې بې له دې چې ګټه ترې واخلم خواړه ورکړم.

خو اوس هغوی ټول په دې تصور تللي چې ګني له دې وروسته به له کار کولو پرته ژوند وکړي زه پوهېږم هغه کارګران چې اوس په لوتمار غلا ژوند کوي، ډېر ژر به د غنمو د کمښت له امله کار کولو ته مجبور شي چې نیم نس ډوډۍ وخوري.

هغه وخت به مضبوط کارګران په کمې اجورې سره وګمارم او کله چې ورته اړتیا ونه لرم بېرته به یې وشړم.

باوري یم چې له دې وروسته به د یوه کارګر د یوې ورځې اجوره یوه ډوډۍ وي.

ومې ویل، کاپتا! له دې کبله چې تا د غنمو او ډوډۍ په هکله خبرې کولې را په زړه شول چې ما له هورم هب سره ژمنه کړې، چې هغه ته غنم او سره زر ور واستوم.

ما فیصله کړې چې خپل نیمايي غنم هغه ته ورکړم چې وکړای شي دا هاتي د پوځ پر وړاندې د مصر دفاع وکړي.

نو زما نیمايي غنم په بېړیو کې واچوه او د هورم هب لپاره یې تانیس ته واستوه او نیمايي نور ورکړه، چې ورو ورو یې اوړه کړي، ډوډۍ ترې پخه کړي او پر خلکو یې وویشه.

هغه کسان چې ستا له لوري خلکو ته ډوډۍ ورکوي حق نه لري چې، له خلکو څخه فلز واخلي، خو باید ووایي چې (دغه ډوډۍ تاسې ته د آتون له لوري درکول کېږي ویې خورئ او د اخناتون صفت وکړئ).

کله چې کاپتا دغه خبره واورېده، خپلې زړې او بې ارزښته جامې یې وشکولې، ویې ژړل او په ژړا کې یې وویل: زما باداره سینوهه! ستا دغه کار به د دې سبب شي، چې موږ دیوالیه شو او د یوې نمرې ډوډۍ لپاره نورو ته لاس ونیسو.

خو نور ستا په شان لیوني نه دي، چې خپل غنم اوړه کړي، ډوډۍ ترې پخه کړي او بیا یې موږ ته راکړي.

ما دې بلا ووهي چې تر ننه پورې ژوندی پاتې شوم او دغه سپېره ورځ وینم. له دې وروسته به د غنمو هر وړی له خپل وزن سره د برابر فلز ارزښت ولري، نو ته ولې خپل غنم اوړه کوې او ډوډۍ ترې پخوې چې خلکو ته یې ورکړې؟... ایا تصور کوې چې کله خلکو ستا ډوډۍ وخوړه نو له تا څخه به مننه وکړي او که وکړای شي چې تا ووژني، نو ستا له خیراته وروسته به ستا له وژنې لاس پر سر شي؟

هېڅوک به ستا منډه ونه کړي، هر څوک چې له تا څخه یوه دوډۍ ترلاسه کړي، وایي به چې ته شتمن یې او د نوي خدای د حکم په اساس باید بېو زله شي او ستا غنم او اوړه باید بېوزله خلک وخوري.

ته غواړې خپل نیمایي غنم هورم هب ته ورکړې، خو دغه سړی تر یوه غله هم بد دی، ځکه یو غل چې له چا کوم شی اخلي په ډاګه یې پوهوي چې بېرته یې نه ورکووم، خو هورم هب دغسې نه دی.

ده چې له موږ څخه سره زر ترلاسه کړل ویې ویل چې هغه به د طلا په سود سره بېرته راکړي، مګر کله چې ما ورته لیک واستاوه ومې ویل چې پور مې راکړه، په ځواب کې یې ولیکل، راشه او ترلاسه یې کړه.

ومې ویل کاپتا! ته پوهېږې چې زه د نورو په شان طلا او غنمو ته ارزښت نه ورکووم.

نن سبا هورم هب د خپلو عسکرو د مړولو لپاره غنمو ته اړتیا لري، دغه راز د مصر ملت وږی دی او زه چې غنم لرم دا نه شم زغملی، چې داهاتي لښکر دې مصر ونیسي او خلک دې له لوږې مړه شي.

ایا په داسې حالت کې زه خپل غنم وساتم او احتکار وکړم چې بیا یې په لوړه بیه خرڅ کړم؟

هغه څه چې ما درته وویل هغه ترسره کړه، لاړ شه زارۍ او ژړا پرېږده، ځکه کله چې زه د مصر د زرګونو ماشومانو لوږه ګورم ستا په اوښکو تویولو مې رحم نه راځي.

کاپتا سر کوز کړ او ویې ویل، زما باداره! له دې سره سره چې زه پوهېږم ته به د بوالیه شې خو بیا هم مجبوریم ستا حکم پلی کړم.

بله ورځ چې جامې مو بدلې کړې، تبر او څټک په لاس د طبس واټونو ته راووتو چې وګورو د ښار حالات څنګه دي؟ اشرافو او شتمنو کسانو خپل کورونه پر پوځي کلاګانو بدل کړي ول او ځانونه یې پکې کلابند کړي ول، چې د خلکو له حملو خوندي پاتې شي.

ځینې معبدونه سوځېدل او له کاهنانو تش شوي ول، داسې ښکارېدل چې کاهنان یې وژل شوي دي.

په دغو معبدونو کې د مصر د خدایانو له مجسمو پرته بل کوم شی نه و او ټول هغه شیان چې د خرڅلاو وړ ول، لوټ شوي ول.

موږ په دغو معبدونو کې د څټک او تبرونو په وسیله د خدایانو مجسمې ماتولې، هڅه مو کوله چې د هغه نوم له منځه یوسو.

ځینې معبدونه هم د خانانو د کورنو په شان پر جنګي کلاګانو بدل شوي ول، کاهنان له ځانه تېر ول، په دغو معبدونو کې یې د خپلو خدایانو دفاع کوله او موږ پوهېدو چې دغو معبدونو ته د ننوتو وس نه لرو.

هره ورځ زما او تو تمس کار دا و، چې د مصر د خدايانو د مجسمو د ماتولو لپاره او د هغوی د نومونو د پاکولو په خاطر له کورنو راووځو او د شپې مهال ستړي ستومانه يا کورنو ته ستانه شو او يا د تمساح لکۍ ميخانې ته لاړ شو.

په طبس کې زما کور همغه د مسګر پخوانی کور و او په هغه کور کې نو کرانو موږ ته ډوډۍ پخوله

کوچني تهوت به په غاړه کې لاسونه راواچول او د پلار ناري به يې راته کولې.

مريت چې به په ميخانه کې نه وه، په کور کې به يې راسره مهرباني کوله، خو موږ به د شپې مهال د عوامو د شور ماشور له امله خوب نه شو کولای.

مريبيانو، جواليانو او کارګرانو خپلې دلې جوړې کړې وې، چې وکړای شي، د خانانو پر کورنو او معبدونو حملې وکړي، د هغوی شتمنۍ لوټ کړي او هغه څه چې تر لاسه کوي يې پخپلو کې سره ووېشي.

ځينې خلک به د ورځې ويدېدل او د شپې مهال به يې غلا کوله او ځينو به د ورځې له خوا خلک لوټل او د شپې به يې استراحت کاوه، نو له همدې کبله به تل د خلکو شور ماشور اورېدل کېده.

د فرعون مامورينو د دې وس نه درلود چې د غلا او لوټمار مخه ونيسي، ځکه چې د لوټمارانو له زياتېدا پر ته دوی هم نه پوهېدل چې څه وکړي او لاره ترې ورکه وه.

فرعون له خپلو تولو پلويانو غوښتي و، چې نور کارونه خوشې کړي لاړ دې شي، د مصر خدايان دې له منځه يوسي او طبيعي خبره ده چې د غه کار له جګړو او لانجو پر ته نه شو کېدای.

د دې حکم له صادريدا وروسته فرعون په حقيقت کې ملت د وژنې او لوټماريو لپاره ازاد پرېښود.

د فرعون مامورين چې پر دې خبره پوه و، نو يې په طبس کې هېڅ لاسوهنه نه کوله په تېره بيا دا چې د پخوانۍ مداخلې له امله د قوانينو او نظم لړۍ له منځه تللې وه او دوی پوهېدل چې که لاسوهنه وکړي نو و به وژل شي.

په طبس کې د لوټماريو او وژنو په دې ورځو کې يوازې يو قوي او کلک پوځ چې ازمويل شوي عسکر ولري د دغه کار مخه نيولای شوه او عوام يې دې ته اړ کولای شوو، چې د قانون او اصولو پيروي وکړي.

خو فرعون پخپله حکم کړی و، چې د غه حالت را منځته شي، هېڅکله يې د خپل پوځ قوماندان ته حکم نه کاوه، چې په طبس کې امنيت او نظم ټينګ کړي.

خو په طبس کې لا هم د پخوانيو خدايانو معبدونه ول، خلکو مقاومت کاوه او چمتو نه ول چې د اتون خدايي ومني.

کاپتا يو شمېر کسان د غنمو د اوړه کولو او د ډوډۍ د پخولو لپاره اجيران کړل
هره ورځ به ډوډۍ پخېدله، خو کله چې به يې هغه ډوډۍ پر بېوزلو وېشله له ستونزو سره به مخامخ شو، ځکه چې ډوډۍ وېشونکي به په واټونو کې راګېر ګند شول. نو خلک به پرې راټول شول او ډوډۍ به يې ترې ولوټله.
خلکو به ويل، دغه ډوډۍ زموږ ده، شتمنو زموږ ډوډۍ غصب کړې وه، اوس بايد حق حقدار ته ورسېږي او هېڅ به له ما څخه مننه نه کوله.
څلو ښت ورځې او څلوېښت شپې د طبس وضيعت همداسې و او ما ليدل هغو کسانو چې پخوا يې سره زر په ترازو کې تلل اوس يې په واټونو کې د يوې نمرۍ ډوډۍ سوال کاوه.
ما وليدل چې د همدغو کسانو مېرمنې ددې لپاره چې بچيان يې له لوږې مړه نه شي، ځانونه يې مريانو ته سپارل.
نه رحم موجود و، نه قانون او نه پر آتون باندې ايمان.
ظاهرا آتون په طبس کې حکومت کاوه، خو د هغه د پلويانو ياني مريانو او کارګرانو که وس رسېدای نو هغه خانان يې هم وژل چې د آتون پلويان ول او شتمنۍ به يې لوټ شوې.
پر څلوېښتمه ورځ کاپتا ماته وويل: زما باداره! هغه وخت راغلی چې ته له طبسه وتښتې، ځکه چې ډېر ژر به په دې ښار کې د آتون د خدايۍ دوره پای ته ورسېږي.
هېڅوک به د هغه په راپرځېدا خواشيني نه شي، ځکه چې د آتون د خدايي پړاو په طبس کې تر ټولو بد پړاو و.
ټول خلک نور په دې ښار کې د قانون او نظم ټينګېدل غواړي، مګر دغه کار له نوې وينې بهېدا پرته ممکن نه دی او له همدې امله به د نيل تمساح ګانې بيا ښې شپې ورځې ولري.
و مې ويل، ته ولې وايې چې په دې ښار کې د آتون د خدايۍ دوران پای ته رسېږي؟
کاپتا وويل، د آمون کاهنان او د نورو خدايانو کاهنان د آتون د ړنګولو لپاره متحد شوي، فيصله يې کړې چې آتون له منځه يوسي، حتی که د دغه خدای د ختمولو لپاره د طبس ټول ښاريان هم ووژل شي.
و مې پوښتل ته څنګه په دې کيسه خبر شوې؟
کاپتا وويل، ما هېڅکله له آمون سره خپل اړيکي غوڅ کړې نه دي او تل د آمون له کاهنانو سره اړيکي لرم، ځکه چې هغو ته مې سره زر په پور ورکول او په بدل کې مې د آمون ځمکې په ضمانت کې اخيستې.
ما په دې کار سره دوه ګټې وکړې لومړی دا چې شته مې ډېر شي، ځکه چې کتل مې د آمون کاهنان هم ضمانت ورکوي او هم سود ورکوي. دويمه دا چې که حالات بدل شي خپل ځان او خپله

شتمنې ساتلای شم. د آمن کاهنان به ما خپل ګټي او د نورو په شان به مې نه وژني.

آمي چې د نوي خدای ستر کاهن و، د خپل ځان او شتمنۍ د ساتلو لپاره او س د آمون له کاهنانو سره ملګری شوی دی. د آمون له کاهنانو او نورو خانانو سره يې يوه اتحاديه جوړه کړې ده.

هېڅوک چمتو نه دي. حتی يوه کړی مس د وړيو د مړولو لپاره ولګوي. خو په بدل کې خپله شتمني او سره زر دې اتحاديې ته ورکوي چې عسکر اجيران کړي.

بيا کاپتا وويل، د آمون کاهنان، آمي او خانان خپل عسکر د مصر د جنوب له تور پوستو او د شردن له او سېدونکو څخه غوره کوي چې ناڅاپه به حمله وکړي، آتون او د هغه پلويان به له منځه يوسي.

زما باداره! له دې کبله چې ته د آتون يو مشهور پلوی يې او ډېرو کسانو ستا په غاړه کې صليب ليدلی دی، نو د هغوی د کاهنانو او سپاهيانو په وسيله به ووژل شې.

ما وويل، فرعون به چا ته اجازه ورنه کړي چې آتون را وپرځوي

کاپتا وويل، څوک به له فرعون څخه د دې کار اجازه وانه خلي. بلکه دا چې که فرعون اجازه ورکړي يا يې ورنه کړي، خو له دې وروسته چې کاهنان واک ته ورسېږي، د آمون او نورو خدايانو خدايي پيل شي، نو ټولې هغه لارې به بندې کړي چې د افق ښار ته غځېدلې دي.

په دې ډول به افق ته خوراکي توکي نه رسېږي او د دې ښار او سېدونکي به له لوږې مړه شي.

هغه وخت به نو آمون او د هغه کاهنان فرعون مجبور کړي چې له افقه راووځي، طبس ته راشي او د آمون په مخکې رکوع وکړي.

کله چې کاپتا دغه خبرې وکړې زه ډېر خپه شوم. د فرعون خبره، موسکا او سترګې مې سترګو ته ودرېدې او زړه مې پرې وسوځېد.

فرعون خپل ټول عمر په دې تېر کړی و، چې آتون رامنځته کړي، د هغه قدرت پراخ کړي جنګ او دښمني له منځه يوسي او د شتمن او بېوزلي ترمنځ توپير ختم کړي.

د کاپتا خبرو ته په پام سره دا سې ښکارېدله، چې د فرعون ټول زيار به په اوبو لاهو شي، بيا به د آمون د کاهنانو د حکومت وار را ورسېږي، بيا به د کارګرانو، کروندګرو او مريانو د بدبختۍ په بيه خپلې خزانې ډکې کړي او د مصر نيمايي ښېرازه سيمې به ونيسي.

ومې ويل، کاپتا! دغه رسوايي بايد رامنځته نه شي، ځکه که آمون يو ځل بيا خدای شي او د هغه کاهنان بيا واکمن شي، نو زه فکر نه کووم چې تر يوه بل نړيوال کاله پورې دې د شتمن او بېوزلي ترمنځ توپير، ظلم او ستم له منځه لاړ شي.

اې! کاپتا زه نن تقريباً بېوزله شوی يم، خو ته شتمن يې او پخپله اعتراف کوې چې زما له شتو څخه ته شتمن شوی يې، نو ته کولای شې چې زما او ستا دواړو د مال په يوې برخې يو شمېر

سپاهیان اجیران کړي.

دوی ته توري، نېزې او ګرزونه ورکړه، چې که د آمون کاهنان پاڅون وکړي نو دغه مریيان او کارګران به د خپل خدای د فاع کوي دوی به چا ته اجازه نه ورکوي چې آتون له منځه یوسي، ځکه که آتون له منځه لاړ شي، نو د بشریت د نېکمرغۍ یوازینۍ لاره به هم له منځه لاړه شي.

که څه هم تر اوسه پورې د ښتمن او بېوزلي تو پیر له منځه نه دی تللی، خو د شتمنو کسانو ځمکې لا پر کروندګرو نه دي وېشل شوې، یانې په عمل کې لا هم دغه توپیر پر خپل ځای پاتې دی. شتمن نور هم شتمن شوي، مګر کارګران او مریيان لا پسې بېوزلي شوي دي.

خو که آتون څه موده نوره هم خدایي وکړي، نو بې له شکه چې د شتمن او بېوزلي ترمنځ شته توپیر به ختم شي.

د شتمنو کسانو ځمکې به پر بېوزلو ووېشل شي او هغه مهال به ټول خلک کار کوي، هېڅوک به نه شي کولای چې پخپله له کار کولو پرته، د کارګرانو، کروندګرو او مریيانو د کار ګټې ګونډه ووهي او وېې خوري.

کاپتا! پخوا ته په هر ځای کې له ما سره وې او زه دې یوازې نه یم پرې ایښی، نو اوس هم ما یوازې مه پرېږده. له ما سره ملګری شه چې دغه کار وکړو او چا ته اجازه ورنه کړو، چې نوی خدای له منځه یوسي او فرعون نهیلی شي، ځکه که نوی خدای وپرځول شي، نو نه یوازې دا چې د ظلم تغر به بیا خپور شي، بلکې فرعون به هم له نهیلۍ څخه ومري.

کله چې کاپتا دغه خبره واورېدله، ورېږدېده، خو وېې نه ژړل.

که هغه ژړلي وای، نو زه پوهېدم چې چل راسره کوي، خو له دې کبله چې له یوې سترګې یې اوښکې تویې نه شوې، نو زه پوه شوم چې وېرېدلی دی.

کاپتا وویل:زما باداره! که نوی خدای خپل قدرت وساتي، نو زه چې بوډا شوی یم، بیا به مجبور یم چې کار وکړم، په داسې حال کې چې زه د کار کولو وس نه لرم.

دغه راز که نوی خدای پر خپل حال پاتې شو، نو ما به د ځینو اشرافو او خانانو په څېر، چې نن سبا په ژرندو پورې تړل شوي، په ژرنده پورې وتړي او تر هغه به مې په متروکو وهي چې مړ شم.

زما باداره سینوهه! آیا په زړه دې دي، چې یو ځل دې په کرت کې راته وویل، چې د کرت د خدای (مینوتور) توري کوټې ته ننوځم، ما ستا خبره ومنله او له تا سره د کرت د خدای کوټې ته ننوتم.

دا ځل هم نیت لرې چې یوې توري کوټې ته ننوځې؟

ته نه پوهېږې چې په دې کوټه کې څه شی موجود دي او ښایي بیا په دې توره کوټه کې یو وېرونکی ځناور وګورې چې مړ شوی او مړی یې تو ته شوی دی، ځکه تر هغه ځایه چې مونږ پوهېږو د

اخناتون خدای د کرت تر خدای(مینوتور) ډېر وېروونکی دی.

د کرت خدای ښکلې نجونې او هلکان د غوایانو په مخکې ګډول او په هره میاشت کې به یې یوه ښکلې نجلی خوړله، خو د فرعون نوی خدای زرګونه نارینه او ښځې قرباني کوي....

نه! بادار .... دا ځل زه له تا سره د تور خدای کور ته نه ځم.

کاپتا نه ژړل او همغه راز یې په زړه ورتیا سره خبرې کولې او زه پوهېدم، هغه څه چې کاپتا وایي، د هغه له حقیقي عقیدې سره اړخ لګوي.

بیا زما پخواني مریي وویل، که په ځان رحم نه کوې او زما په فکر کې نه یې، لږ تر لږه د مریت او تهوت فکر وکړه، ځکه چې پر دواړو ګران یې، هغوی له دې ښاره لرې کړه.

زه پوهېږم چې د دواړو ژوند په خطر کې دی.

پر کومه ورځ چې د آمون کاهنان او خانان غوسه شي او حرکت وکړي، نو نه به پر نرینه وو رحم وکړي او نه پر ښځو او ماشومانو باندې د آمون کاهنان چې یو ځل د خلکو پر سستو عقیدو تېرو تل او د مصري ولس د اکثریت د بېطرفۍ له امله یې خپل قدرت له لاسه ورکړ، نو د خپل قدرت د احیا لپاره، که اړتیا پېښه شي، د مصر کابو ټول ملت به له منځه یوسي.

هغوی وایي، که په مصر کې سل نران او ښځې د آمون پیروان وي، تر دې ښه دي چې د بېدیا د شګو په کچ نارینه او ښځې وي، خو د نوي خدای پیروي کوي.

ومې ویل کاپتا! زه پوهېږم ته ځکه ډارېږې، چې شتمن شوی یې او زما تجربه داده چې شتمني انسان ډارن، بې حیثیته او محافظه کاره جوړوي

شتمن سړي ویرېږي چې که له خطرې سره مخامخ شي، نو خپله شتمني به له لاسه ورکړي او بېوزله به شي.

له دې کبله چې ته شتمن یې نو د عوامو له شور ماشوره او د څو خریل سرو کاهنانو او څو تنو خانانو له ملګرتیا وېرېږې، تصور کوې چې هغوی کولای شي د مصر پر بېوزله اکثریت بر لاسي شي.

اوس خلکو د ازادۍ خوند ولید او تر دې وروسته شونې نه ده چې د آمون او د هغه د کاهنانو ظلم او ناروا و زغمي.

کوم تور خدای چې ته یادوې هغه آمون دی، د مصر ملت یې مریی کړی او په جهالت کې ساتلی، چې هېڅکله ونه پوښتي (ولې؟)

دغه تور خدای د خرافاتو، ناپوهۍ او تکفیر په وسیله خدایي کوي او همېشنۍ هیله یې دا ده چې: باید ټول وږي وي، تل د هغه او د هغه د خریل سریو کاهنانو لپاره کار وکړي

دی هیله لري چې که کومه ورځ یوه سړي سر پورته کړي او پوښتنه وکړي چې (ولې؟) نو زه به

بې سمدستي د تکفیر په ګناه او په دې تور چې ګني خدای ته بې سپکاوی کړی سر غوڅ کړم.
دا د کار ددې لپاره هم کوم چې نور پوه شي، یوازې هغه شی سم دی چې آمون بې وایي
دغه راز آزدای هم داده چې د مصر ملت ټول زما مریان شي او د نړۍ په تر ټولو ستر علمي مرکز دارالحیات کې چا ته اجازه نه ورکووم، چې وو ایي (ولې ؟).
کاپتا ! ته وایې چې مریت او تهوت په دې ښار کې له خطر سره مخامخ دي، نو زه باید وتښتم او هغوی له ځان سره بوځم چې له خطره وژغورل شي.
خو کله چې د مصر او ټول بشریت دیوازیني ژغورونکي آتون بر خلیک له خطره سره مخامخ وي او لوبې پرې کېږي، نو د یوې ښځې او یوه هلک ژوند څه اهمیت لري؟
دا زموږ فرض دی، چې مقاوست وکړو او پرې نه ږدو چې څو تنه حریص کاهنان له څو تنو حریصو او بې رحمه خانانو سره لاس یو کړي، یو شمېر تورپوستي اجیران کړي او د فرعون خدای را وپرځوي.
که زموږ مقاومت نتیجه ورنه کړي او آتون را وپرځول شي، نور به ژوند ارزښت ونه لري او غوره دا ده چې نارینه، ښځې او ماشومان له منځه لاړ شي.
کاپتا وویل: څه چې ما غوښتل ټول مې درته وویل او نور به په دې اړه هېڅ خبرې ونه کړم.
کله کله خو زه فکر کووم چې یو کوچنی راز درته ووایم، خو ترې تېرېږم. څکه پوهېږم چې پر تا اغېز نه کوي.
ته هم د فرعون په شان په لېونتوب اخته یې، خو پر کومه ورځ چې تا پر سر ایرې باد کړې او له د هرې نهیلی دې مخ او ټټر په نوکانو وشکول، نو هیله ده چې ما ونه رټې.
دغه راز که کومه ورځ ووژل شوې، نو ما ملامت مه بوله، زه یو پخوانی مریی یم، زوی هم نه لرم چې زما له مرګه وروسته پر ما وژاړي اوس چې ته هر چېرته وایې، د پخوا په شان به له تا سره لاړ شم، که څه هم زه پوهېږم چې له تا سره تګ ګټه نه لري، یو ځل بیا به زه او ته د کرت د خدای تورې کوټې ته ننوځو او زه به له ځان سره یو منګی شراب اخلم.
له دې ورځې وروسته کاپتا زما د حکم د اجرا لپاره وسلې واخیستې، پر مریيانو او جواليانو بې وویشلې او په طبس کې د فرعون له ځینو مامورینو سره متحد شو، چې که جنګ پېښ شي، نو هغوی به له آتون څخه دفاع وکړي.
په طبس کې همغه راز لوږه او ګډوډي واکمنه وه او ځینو کسانو به ویل، چې ژوند را ته د خپسې په شان وېرونکی شوی دی، هېڅکله پکې نه شو راویښېدای، خو که مړه شو، نو له دې خپسې به خلاص شو او مرګ هم له وېرونکي خوبه را ویښېدل دي.
دغو کسانو له ژونده د ژغورلو لپاره یو بل وژل او ددې لپاره چې د خپلو ورو ښځو او

ماشومانو ژړا ونه ويني هغوی يې ووژل.
ځينو نورو خلکو ددې لپاره چې ژوند هېر کړي شپه و ورځ به يې شراب او د اوربشو اوبه څښلې.
يو شی چې په دې ورځو کې هم هېڅکله ورک نه شو، هغه شراب او د اوربشو اوبه وې.
که يو چا به څوک په واټ کې ليدل او پوهېده به، چې يوه ډوډۍ لري، نو ورته ويل يې دغه ډوډۍ له ما سره نيمه کړه، ځکه چې موږ سره ورونه او برابر يو.
که چا به کوم کس په کتان جامو کې وليد، ويل به يې جامې دې وباسه او ماته يې راکړه، ځکه چې ډېره موده زه لوڅ وم او له دې وروسته ستا وار دی، چې لوڅ وګرځې.
هر چا چې به صليب درلود، که به په يوازې سر له ښکرورو سره مخامخېده، حتماً وژل کېده، او مړی به يې په نيل کې اچول کېده.
تمساح ګانې په دې ډول د مړيو په خوړولو کې زړورې شوې وې او د طبس ښار ته ننوتې وې.
دېرش ورځې وروسته په طبس کې د آتون خدای له منځه لاړ.
هغه تورپوستي سپاهيان او د شردن عسکر چې د آمون کاهنانو، خانانو او آمي اجيران کړي ول راغلل او طبس يې کلابند کړ، چې څوک ونه تښتي. په طبس کې دننه هم ټولو ښکرورو پاڅون وکړ او د آمون د کاهنانو له لوري پر هغوی وسله ووېشل شوه.
يو شمېر خلک چې نه د آمون پلويان ول نه د آتون، خو له ګډوډيو په تنګ شوي ول، دوی هم له ښکرورو سره يو ځای شوي ول او ويل يې، نوي خدای له ګډوډۍ، بې نظمۍ او لوږې پرته بل څه نه دي راکړي، موږ له دې بې شکله او بې څېرې خدايه بېزار يو.
کله چې د ښکرورو پاڅون پای ته ورسېد ما د تمساح لکۍ ميخانه کې خپلو پخوانيو کارګرانو او مريیانو ته وويل، زه دا خبره منم چې کله په وروستيو ورځو کې آتون په جدي توګه خدايي پيل کړه، نو ظلم پر عدالت برلاسی شو او بې ګناه کسان يې ووژل.
هغوی يې په ژړندو پورې وتړل او پر نجونو او ښځو يې د هغوی له خوښې پرته تېری وکړ.
خو زه چې يو ډاکټر يم او پوهېږم کله چې يوه خېټه د معالجې لپاره څيرم، وينه ترې بهېږي او تر هغه وخته چې وينه ترې ونه وځي، ناروغ به معالجه نه شي.
دغه ظلم او ستم چې تاسې يې ګورئ، د همغې وينې په شان دی، چې بايد وبهول شي، چې ناروغي يانې د آمون خدايي او د مصر د نورو خدايانو، خدايي له منځه لاړه شي.
د ناروغۍ د ختمولو لپاره د وينې بهول او درد وركول روا دي، ځکه چې د درد زغمل موقتي وي او له هغه وروسته چې ناروغ څو ورځې درد وزغمي، نو پاتې عمر به يې روغ او ارام وي
نو اې مريیانو او پخوانيو غلامانو! د آتون د خدايي د ساتلو لپاره مبارزه وکړئ او له مرګه مه

دار بړئ!

په دې جنګ کې تاسې داسې کوم شی نه لرئ چې له لاسه یې ور کړئ او خواشیني شئ! او که آتون له منځه لاړ شي، ستاسې ځان هم ارزښت نه لري

لامل یې دا دی چې که ښکرور د آمون او پخوانیو خدایانو له واکمنېدا وروسته تاسې ونه وژني، نو کاڼونو ته مو آستوي او بیا به د پخوا په شان مریان او نوکران شئ.

خو پخوانیو مریانو او کارګرانو وخندل او ویې ویل سینوهه! ته ډېر ساده سړی یې او د سادګۍ له کبله خیال کوې، چې یو خدای له بل خدای او دغه فرعون له بل یوه سره توپیر لري.

په داسې حال چې ټول خدایان سره ورته دي او هر څه چې وایي دوراغ دي او غواړي خپل بازار تود وساتي.

ټول فرعونیان سره ورته دي، هغه څه چې وایي، یوازې د دې لپاره دي، چې خپله پاچاهي وساتي.

همدغه فرعون چې وایي ټول انسان یو شان دي، د مریې او بادار ترمنځ توپیر نشته، د نورو فرعونانو په شان دروا غجن دی، د هغوی په شان بادار تر مریانو لوړ ګڼي.

هغه پخپله سلطنتي مانۍ کې سلګونه مریان او نوکران لري که په موږ کې یو کس همدا نن د فرعون یا د نورو درباریانو مانۍ ته لاړ شو، وو ایو چې مساوات او عدالت ټینګ شوی، د مریې او بادار، شتمن او بېوزلي ترمنځ توپیر نشته او زه راغلی یم، چې له تا سره ډوډۍ وخورم، نو د فرعون ساتونکي یا د هغه درباریان به مې ووژني. فرعون د دې لپاره د مساوات او عدالت خبرې کوي چې دغه خبره د هغه د پاچاهۍ د دوام او ساتلو یوازینۍ وسیله ده.

هغه له زړه عدالت او مساوات نه غواړي او که یې غواړي هم، په هر حال کې ځان تر ټولو لوړ ګڼي. دی باوري دی، چې باید خپل قدرت او شتمني وساتي. هېڅوک باید د هغه په شان قدر، درناوی، فلز او ښکلې ښځې ونه لري.

د فرعون درباریان چې کله ګوري فرعون پر دوی لوړ نه دی (ځکه چې هغه هم د دوی په شان انسان دی) نو ولې داسې امتیازات او ګټې ولري چې پخپله وایي، باید له هغو څخه استفاده ونه شي.

په دغسې حالت کې بیا درباریان هڅه کوي د فرعون په شان امتیازات ولري، درناوی یې وشي، ښکلې ښځې او ډېر قدرت ولري.

دویمه درجه او درېیمه درجه درباریان او د فرعون ټول مامورین همداسې فکر او عمل کوي.

خو سینوهه! ته له دې کبله چې ډېر نیک او ښه سړی یې، تل دې موږ وږیا معالجه کړي یو او له کاپتا مو اورېدلي، چې خپل غنم دې هم په وړیا توګه پر خلکو وېشلي دي، نو افسوس کوو، چې

وژل کېږي.

نو دغه ګرز چې دې په لاس کې دی، لرې وغورځوه، ځکه چې ستا لاسونه د دې ګرز د اخیستو لپاره نه دي او که ښکرور وګوري چې ستا په لاس کې ګرز دی، نو به دې وژني.

موږ چې ستا په ویناهېڅ هم نه لرو چې له لاسه یې ورکړو نو له مرګه هم نه وېرېږو، که ښکرور وغواړي، موږ ووژني نو د ځانه دفاع به وکړو او که ووژل شو ډېر به خواشیني هم نه شو.

ځکه چې په تېرو شپېتو شواروزو کې موږ نوکران او مریيان نه وو او له ژونده مو خوند اخیستی دی.

تر وسه وسه مو وخوړل، ومو څښل او د شتمنو له ښځو او نجونو سره مو تفریح وکړه، نو اوس که ووژل شو هم له ډېرو ښځو سره د ساعت تېري او د خوراک و څښاک ارمان به و نه کړو.

دغو خبرو له دې امله پر ما اغېز وکړ چې زه یو ډاکټر وم.

زه دا خبره منم چې زما لاسونه د دې لپاره نه دي، چې ګرز وګرځوي بلکې د جراحۍ د سامان د کارولو لپاره دي.

له همدې امله مې ګرز لرې کړ، کورته لاړم او د خپلو طبي وسایلو صندوق مې خلاص کړ، چې کله جنګ پیل شي، نو ټپیان به معالجه کړم

څلور څلوېښتم څپرکی

په طبس کې بورنوونکی جنګ او زما د دوستانو مړینه

په طبس کې جنګ پیل شو. داسې جنګ چې د طبس نور ټول جنګونه ورته د پر کو چني ول.

درې ورځې او درې شپې په طبس کې خلکو یو بل ووژل، کورونو ته یې اور ورته کړ، چې د شپې پر مهال د جنګ ډګر ولیدلای شي.

تورپوستو عسکرو او د شردن سپاهیانو هم کورنه وسوځول، هرڅه چې به یې لیدل لوټل به یې او پر هرچا چې به یې وس ورسېد وژل یې.

د هغوی لـه نظره ښکرور او صلیبیان یو شان ول او دواړه یـې وژل. ددغـو عسـکرو قوماندان همغه پپیت آتون و، چې ما مخکې وویل، د آمون د معبد په مخکې د قوچانو په واټ کې یې خلک قتل عام کړل او د نوي خدای آتون سخت پیرو و.

خو په دې وخت کې یې خپل نوم بدل کړی و او پر ځان یې د پپیت آمون نوم ایښی و.

آمي دغه کس د شردن او تورپوستو سپاهیانو د قوماندانۍ لپاره غوره کړی و، ځکه چې فکر یې کاوه، د فرعون تر ټولو تکړه سپاهي دی.

په کومه ورځ چې جنګ پیل شو، زه د تمساح لکۍ میخانه کې وم. هلته مې د پخوانیو مریبانو او نوکرانو د ټپونو علاج کاوه او هغوی به په زړورتیا سره جنګېدل.

مریت په دې شپو ورځو کې د ټپیو او نوکرانو د برابرولو مسولیت پر غاړه اخیستی و، حتی زما او کاپتا جامې یې د ټپیو د جوړولو لپاره شکولې وې.

کوچني تهوت هم هغو ټپیانو ته اوبه ورکولې چې تږي به ول او پر لارې به نه شو تللی.

په دریمه ورځ جنګ د طبس بندري سیمې او د بېوزلو محلې ته راغی.

تورپوستي عسکر او د شردن سپاهیان چې د جنګ لپاره روزل شوي ول، د خلکو په

وژولو سره يې د بېوزلو د سيمې په کوڅو کې وينې بهولې. ښکېلو غاړو بنديان نه منل او که څوک تسليم شوی وای سمدستي وژل کېده. مريیان او جواليان چې پوهېدل که تسليم شي، وژل کېږي نو تر وروستۍ سلګۍ يې جنګ کاوه.

پر درېيمه ورځ د مريیانو او نوکرانو مشران د شرابو او د اوربشو د اوبو د څښلو او د ډوډۍ لپاره ميخانې ته راغلل، ماته يې وويل سينوهه! ته دلته بې ځايه د ټپيانو د معالجې لپاره زيار باسې، ځکه ټول دغه زخميان چې تا يې ټپونه ورتړلي دي د ښکرورو له لورې وژل کېږي.

که ته لېوال يې چې په بندري محله کې پټ شې نو هلته ستا د پټېدا لپاره يو ځای شته او څوک به پوه نه شي چې ته پکې پټ يې.

ومې ويل، زه د فرعون ډاکټر يم او څوک دا جرائت نه لري، چې د سلطنتي ډاکټر لوري ته لاس اوږد کړي.

کله چې پخوانيو مريیانو او پنډيانو دغه خبره واورېدله، ويې خندل، د اوربشو اوبه او شراب يې وڅښل او د جنګ لپاره له ميخانې څخه ووتل.

پر همدې ورځ کاپتا هم ماته نږدې شو او ويې ويل سينوهه ستا کور د بېوزلو په محله کې سوځي او ښکرورو ستا د نوکرې موتي خېټه هم ورڅيرلې چې غوښتل يې ستا د کور دفاع وکړي.

اوس هغه وخت راغلی چې جامې بدلې کړې او د سلطنتي طبابت جامې واغوندې چې کاهنان او افسران تا د فرعون د ډاکټر په جامو او نښان کې وګوري، ستا احترام وکړي او ودې نه وژني.

مريت په زاريو سره زما لاس ونيو ويې ويل، سينوهه همدغه کار وکړه، چې کاپتا وايي. که د ځان ساتلو لپاره دا کار نه کوې نو زما او د کوچني تهوت ژوند وساته.

له دريو ورځو راهيسې زه نه وم ويده شوی، د شرابو او محرکو درملو په وسيله مې ځان ويښ ساته، چې د ټپيانو علاج وکړای شم.

په دغو دريو ورځو کې مې هيله کوله چې د پخوانيو مريیانو، د طبس د بندر د پنډيانو، کارګرانو او نورو کسانو مقاومت نتيجه ورکړي او صليب پر ښکر برلاسی شي، خو په هغه وخت کې متوجه شوم چې صليبيان مات شوي او ښکرور برلاسي شوي دي.

په دې وخت کې مې له ډېرې نهيلۍ څخه مريت ته ناري کړې، ماته خپل کور ارزښت نه

لري، زما لپاره ستا، تهوت او خپل ژوند مهم نه دی، ځکه د غه وینه چې ته یې وینې د ناځرګند او نامریي خدای آتون وینه ده.

آتون زموږ هریو په بدن کې دی، زموږ وینه چې بهېږي، دا د هغه وینه ده، نن چې آتون خدای له منځه ځي او وژل کېږي نو زه هم نه غواړم چې ژوندی پاتې شم.

که په دې وخت کې ما غوښتي هم وای، خو د تېښتې وخت مې نه درلود، ځکه یو شمېر تورپوستي عسکر او د شردن سپاهیان د آمون د یوه سر خرېیلي او غوړمځي کاهن په قوماندې د میخانې دروازې ته را رسېدلي وو او د میخانې دروازه یې را خلاصه کړه.

کاهن چې د شردن او تورپوستو عسکرو قوماندانو، ویې ویل د لته د آتون یو لوی پټنځای دی او ټول صلیبي زخمیان همدلته دي. باید په توره، نیزه او اور سره دغه ځای له آتونه پاک کړو، دلته څوک ژوندی مه پرېږدئ.

هغوی زما په مخکې ټول هغه زخمیان ووژل، چې ما معالجه کړي وو. تورپوستو او د شردن سپاهیانو ټوپونه وهل او په دواړو پښو به یې د زخمیانو په خېټه کې ځان واچاوه او د ټپیانو له ترل شویو ټپونو وینو دارې وهلې.

زما د سترګو په مخکې یو تور پوستي عسکر د ګرز په یوه ګوزار سره د کوچني تهوت مازغه باد باد کړل.

تورپوستو سپاهیانو غوښتل زما په مخکې مریت ته هم سپکاوی وکړي او له دې کبله چې دې ښځې سخت مقاومت کاوه، نو په یوه شېبه کې یې د هغې په خېټه او ټټر کې نیزه ننه ایسته.

کله چې ما غوښتل له هغې سره مرسته وکړم، ومې لیدل چې د عسکرو قوماندان کاهن، پر سر باندې په ښکر ووهلم، زه پر ځمکه ولوېدم نور پوه نه شوم چې څه کېږي.

کله چې په هوش را غلم، لومړی مې فکر وکړ، چې په لودیزه نړۍ کې یم (*د مصریانو په نظر لودیزه نړۍ له مرګه وروسته نړۍ وه. ژباړن*) بیا مې هغه کوڅه وپېژنده چې د تمساح لکۍ میخانه پکې وه.

ومې لیدل چې میخانه په اور کې سوځي او د اور لمبې تر ې پورته شوې دي، خو د میخانې په مخکې کاپتا تورپوستو او د شردن سپاهیانو ته شراب او د اوربشو اوبه ورکوي.

تېرې پېښې را په زړه شوې، د تهوت د مازغو تیت و پرک کېدل او د مریت په خېټه کې

د نیزې ننوتل مې سترګو ته ودرېدل.

غوښتل مې پاځم، خو ونه توانیدم او ځان مې پر ځمکه راکاږه، تر دې چې د میخانې دروازې ته ورسېدم، هڅه مې وکړه چې میخانې ته ننوځم او له تهوت او مریت سره یو ځای شم.

هلته مې جامو اوروا خیست ناڅاپه کاپتا ولیدم ناري یې کړې، راغی،زه یې له اوره و ایستم او د کوڅې په خاورو کې یې واچولم،چې د جامو اور را مړ کړي.

له دې کبله چې تورپوستو عسکرو او د شردن سپاهیانو خندل، ممکنه وه چې ما ووژني، خو کاپتا وویل، دغه سړی ډاکټر او د آمون د معبد کاهن دی،ځکه چې که کاهن نه وای نو په دارالحیات کې یې درس ویلو ته نه پرېښود،چې ډاکټر شي، خو د تېرو څو ورځو پېښو له امله لېونی شوی، نه پوهېږي چې څه وکړي؟

زه د کوڅې په منځ کې په خاورو کې ناست وم،سر مې په دواړو لاسونو نیولی و،اوښکې مې توېدلې او ویل مې، مر یت..... مریت..... ته چیرې یې؟ ولې ستا مهربان وجود پخپل څنګ کې نه احساسوم؟

کاپتا راته وویل غلی شه .....،تر دې ډېر لېونتوب مه کوه،ځکه چې ستا لېونتوب تر هغه ډېره بدبختي رامنځته کړه چې فکر یې کېده.

خو زه نه شوم غلی کېدای او په چیغو چیغو مې ژړل.

کاپتا ددې لپاره چې ما غلی کړي وویل: زما باداره ! په دې پوه شه چې خدایانو بدبخته کړی یې، ځکه چې هغه راز چې نه ما او نه مریت نه تاته وواېو، دا دی چې تهوت ستا زوی و.

له دې کبله چې تا له مر یت سره ژوند کاوه او له تا څخه امېندواره شوې وه، دغه ماشوم یې زېږولی و. خو ته دومره پرې ګران وې چې نه یې غوښتل د هغه ماشوم شتون ددې سبب شي، چې ستا په شان د یوه سړي حیثیت او آبرو چې درباري ډاکټر یې له خاورو سره خاورې شي.

له همدې امله یې ونه ویل چې دغه ماشوم ستا زوی دی، ځکه چې بیا به مجبوره شوی وې،چې له هغې سره منګی مات کړې او هغه ستا رسمي مېرمنه شي.

مریت په وار، وار له ما سره خبرې کړې وې او هر ځل به یې ویل، نه غواړي چې خلک داسې ښځه د سینوهه رسمي ښځه وګڼي چې هغې په میخانه کې خدمت کړی وي.

د غسې مېرمن دا ورتیا نه لري چې د هغه ترخنګ ژوند وکړي. نن سبا په طبس او د مصر په نورو ښارونو کې داسې کسان ډېر دي، چې وايي، موږ په د تمساح میخانه کې د مریت له لاسه شراب څښلي دي.

سینوهه زما باداره! که لیوني شوی نه وې، نو باید په هغه ورځ له تهوت او مریت سره له دې ښاره وتلی وای، چې ما درته وویل.

خو ته چمتو نه شوې چې له دې ښاره ووځې او ستا د لېونتوب په نتیجه کې دواړه ووژل شول.

له دغو خبرو وروسته زه غلی شوم یوه شېبه مې ورته وکتل ومې ویل ته رښتیا وایې؟

خو وروسته پوه شوم چې دغه پوښتنه بې ځایه ده، ځکه چې که کاپتا رښتیا وايي یا درواغ، خو هغه دوه کسان اوس مړه شوي دي.

ما احساس وکړ چې کاپتا رښتیا وايي، ځکه چې مریت هم راته ویلي و، داسې یو راز شته، چې ویلی یې نه شي او ښایي همدا رازو.

له دې خبرې وروسته مې ونه ژړل، ځکه چې زما روح ،اوښکې او سترګې لکه ډبرې داسې شوي ول او ژړلی مې نه شو.

خو بې فکر هم نه شوم پاتې کېدای او کتل مې چې د تمساح لکۍ میخانه سوځېږي او د اور لمبې غرغړانده دي

د مړیو د سوځېدا بوی تربې لتېده او زما د ګرانې مېرمنې مریت او زما د زوی تهوت مړي هم په دې میخانه کې سوځېدل.

کله چې بېرا په زړه شول چې زما د زوی مړی د مړییانو او د بندر د پنډیانو د مړیو ترخنګ سوځي او ایرې کېږي، نږدې و، چې لېونی شم، ځکه چې تهوت زما زوی د خدایانو له نسله و ځکه زه پخپله هم د خدایانو له نسله وم.

که زه پوهېدای چې تهوت زما زوی دی، ښایي بل کار مې کړی وای، ځکه چې یو پلار د خپل زوی لپاره داسې کارونه کوي چې د ځان لپاره یې نه کوي، خو وخت تېر شوی و.

زما د ګران زوی او خور مړي د اور په منځ کې پراته ول، ما حتی د هغوی مړي له نابودۍ نه شوو ژغورلی، چې پخپلو لاسونو دواړه مومیایي کړم او په یوه ستر او کلک قبر کې یې کېږدم.

له دې کبله چې جنګ خلاص شوی و، کاپتا ماته وویل، راځه چې لاړ شو او تا آمي او

پپیت آمون ته ورولم، هغوی او س د نیل په ښنده کې دي او ته به هلته په امن کې یې.

کله چې زه هغوی ته ورغلم ومې لیدل چې دواړه د نیل په ښنده کې د بېړزلو په محله کې پر یوه تخت ناست دي او صلیبیانو ته سزا ورکوي

تورپوستو عسکرو او د شردن سپاهیانو شېبه په شېبه دوی ته صلیبي اسیران را وستل او هغوی د صلیبي اسیرانو په هکله داسې عدالت اجرا کاوه:

هر صلیبي چې وسله یې درلوده او اسیر کېده، سر په څېړۍ پر د ېوالونو ځوړندېده او د صلیب هر پلوی چې له لوټ شویو شیانو سره نیول کېده لاس و پښې یې ورترړل او د نیل تمساحګانو ته یې وراچاو.

سلګونه تمساحګاني په تمه وې او کله چې به ګوله ورغله، نو دوی به پرې حمله کوله.

عادي صلیبیان، چې نه به ورسره وسله وه او نه لوټ شوي شیان، هغوی به یې په مترو کو وهل او بیا به یې کانونو ته د کار کولو لپاره استول.

د صلیب د پیروانو مېرمنې به یې تورپوستو عسکرو او د شردن سپاهیانو ته ورکولې چې وینځې یې کړي. له دې کبله چې د صلیب د پیروانو په کورونو کې بل څه نه وپاتې، چې د آمون او نورو خدایانو پیروان یې لوټ کړي، نو د هغوی زامن یې اسیرانول او بیا به یې د خرڅلاو لپاره بازار ته بېول.

د صلیب د پیروانو په دار کېدلو، په سیند اچولو او متروکو وهلو د نیل ښنده په یوه لوی قتل ځای او د شکنجې په یوه مرکز بدله کړې وه. ددې لپاره چې آمي د آمون د کاهنانو مینه او توجه راجلب کړي، ویل به یې، زه به د مصر له خاورې چټله وینه لرې کړم.

پپیت آمون هم په بې رحمۍ سره د آتون پیروان وژل او په مترکو یې وهل چې کانونو ته یې بوځي. هغه ددې لپاره دغه کار کاوه، چې کله د آتون پیروان په طبس کې بریالي شوي ول، د هغه کور یې لوټ کړی و او د هغه پېشوګانې وږې پاتې وې.

پپیت دغه خبره نه شوه هېرولای، نو په دې وخت کې یې فرصت ترلاسه کړی و، چې د آتون له پلویانو څخه د ځان او خپلو پېشوګانو غچ واخلي.

د نیل پر ښنده دوه ورځې وژنه روانه وه، پر دویمه ورځ د نیل په ساحل کې د بېړزلو د کورونو ټول د ېوالونه، د هغو کسانو په مړیو ډک شول، چې سر په څېړۍ یې په د ېوالونو پورې راځوړند کړي ول.

د آمون کاهنانو پر بله ورځ خوشحالي کوله او د خپل خدای مجسمه یې پورته کړې وه،

د هغه لپاره یې قرباني وکړه او خلکو ته یې په خطاب کې وویل، له دې وروسته به په مصر کې کاختي نه وي او څوک به او ښکې تو یې نه کړي.

ددې لپاره چې آمون راستون شوی دی، د هغه خدایي بیا راژوندی شوې او آمون به هغو کسانو ته برکت ورکړي چې پر هغه عقیده ولري.

اوس کارونه پیل کړئ، د آمون په کروندو کې تخم وشیندئ او ډاډه اوسئ، چې آمون به د هر هغه تخم په بدل کې چې تاسې یې په ځمکه کې کرئ لس برابره دانه درکړي او په مصر کې به غنم خپل ارزښت له لاسه ورکړي.

خو په واقعیت کې نه په مصر کې کاختي ورکه شوه او نه هم په طبس کې ګډوډي پای ته ورسېده.

تورپوستي عسکر او د شردن سپاهیان د طبس د ښار د نارینه وو، ښځو او ماشومانو د ژوند خاوندان ول، هر څوک چې به یې زړه غوښتل هغه یې وژل.

دغه راز له هرې ښځې سره چې د دوی زړه غوښتل، تفریح یې کوله او د هغوی زامن به یې خرڅول.

عسکرو ځیني کسان هم ووژل چې د آمون پیروان او له ښکرورو څخه ول، ځکه دوی نه آمون پېژاند او نه آتون.

د دوی یوازېنی هدف د فلزاتو تر لاسه کول او له ښځو سره تفریح کول وو.

نه آمي ددغو عسکرو مخه نیولای شوه نه پیپیت آمون او د فرعون مامورین خو په طبس ښار کې ببخي بې وسه شوي ول، ځکه چې د آمون کاهنانو فرعون له پاچاهۍ څخه ځنډې ته کړی و او ویل یې چې هغه درواغجن او ملعون دی.

دوی ویل فرعون باید له دې وروسته پر مصر حکومت ونه کړي او باید د هغه ځای ناستی طبس ته را شي او د آمون په مخکې رکوع وکړي، نو هغه وخت به بیا د مصر فرعون وبلل شي.

له دې وروسته چې آمون په طبس کې واک ته ورسېد، زه بیا هم د یوې مودې لپاره هلته پاتې شوم، ځکه له دې ښاره وتل هم ستونزمن و او داسې بر ښېښېده چې د هر ډول فیصلې اراده را څخه اخیستل شوې وي.

زه په لاره تللم او ډوډۍ مې خوړله، خو ځان مې نه پېژاند او ته وا پر یوه بل کس بدل شوی یم، چې زه ورسره بلد نه یم.

د افق په ښار کې هم له فرعونه احوال نه راته، خو د هغو آوازو په اساس چې طبس ته را رسېدې، پوهیدم چې په افق ښار کې هم حالات ناسم دي.

آمي غوښتل افق ته لاړ شي، نو له همدې امله یې پېپيت آمون د طبس حکمران وټاکه او له هغه ورسته دی روان شو. تر تګ مخکې یې ماته وویل سینوهه! ته پوهېږې چې د آمون کاهنانو فرعون له قدرته لرې کړی او هغه یې ملعون کړی دی، نو زه غواړم افق ته لاړ شم چې ورته ووایم، نور له پاچاهۍ لاس واخله او مقاومت مه کوه.

په دې سفر کې غوره ده، چې ته هم له ما سره ولاړ شې، ځکه کله چې زه غواړم اخناتون له سلطنته لرې کړم، نو ستا په شان د یوه ډاکټر شتون را سره ډېر ګټور دی، ایا ته له ما سره یو ځای افق ته ځې؟

ومې ویل هو ځم ځکه چې فکر کووم خدایان غواړي ما و ازمايي چې زما دصبر کاسه ډکه شي او له دې اړخه مې ترنورو غوره کړي نو دغه تجربه هم ضروري ده.

خو آمي پوه نه شو چې زه څه وایم بیا دواړه د افق ښار پر لور روان شولو.

په همدې وخت کې چې موږ دافق پر لور روان شو هورم هب هم له تانیسه دافق په لور خوځیدلی و.

موږ د دې لپاره چې افق ته لاړ شو د نیل د اوبو له بهیر سره مو یو شان سفر پیل کړ، خو هورم هب د سیند د اوبو د بهیر په مخالف لوري روان و.

زه خبر شوم، چې د هورم هب په لاره کې د ښارونو او سېدونکو د آمون پخوانې معبدونه پرانیستي دي او مجسمې یې بیرته درولې دي، خو هورم هب نیو که پرې نه کوله او غوښتل یې چې ډېر ژر افق ته ور سېږي. هغه فکر کړی و چې آمي غواړي په ټول مصر کې قدرت ترلاسه کړي او هورم هب نه غوښتل، چې دغه سړی په مصر کې تر ټولو لوی قدرت وي.

کله چې موږ افق ته نژدې شوو پوه شوو چې د افق ښار لکه لعنت شوی ښار داسې دی، ځکه چې دې ښار ته ټولې تلونکې لارې د آمون د ښکرورو کاهنانو او پلویانو له لوري بندې شوې وې او اجازه یې نه ورکوله چې څوک دې ښار ته ننوځي.

هغه کسان چې له افقه بهوتل په یوه شرط اجازه ورکول کېده چې تر وتلو مخکې آمون ته قرباني ورکړي او وښیي چې پر آمون عقیده لري، ګني له دې پرته به یې هغوی په متروکو وهل او کانونو ته یې استول.

د آمون د کاهنانو له اجازې پرته چا د نیل له لارې چې د افق اصلي لاره ده، سفر نه شو کولای، ځکه چې دغو کاهنانو د نیل لاره هم په مسي ځنځیرونو تړلې وه.

آمي د دې لپاره افق ته روان و چې فرعون د سلطنت پرېښودو ته مجبور کړي او کاهنان هم پوهېدل چې آمي د دوی نږدې متحد دی، نو زموږ د کښتۍ پر وړاندې یې مسي ځنځیر پرانېست او موږ تېر شوو.

***

کله چې کښتۍ د افق ښار ته ورسېده زه د افق د باغونو په لیدو حیران شوم، ځکه په باغونو کې ګلان او شنه بوټي ټول وچ شوي ول او د ونو حالت د دې ښودنه کوله چې باغونو ته یې اوبه نه دي ورکړې.

په نورو وختونو کې به کله چې چا له نیله د افق په منځ کې سفر کاوه د مرغانو غږونه به یې د ساحل په ښي او کیڼ اړخ کې اورېدل، خو پر دې ورځ ما د مرغانو غږ وانهورېد او داسې ښکارېده چې مرغانو له دې ښاره هجرت کړی وي.

هغه باغونه چې فرعون او د دې ښار نورو خانانو جوړ کړي وو، د نوکرانو او خانانو له هجرته وروسته شاړ شوي ول، ځکه داسې څوک نه وپاتې چې باغونو ته اوبه ورکړي.

له ځینو باغونو څخه د خرابو شویو مړیو بویونه لتېدل او کله چې مې د دې بوی علت وپوښت، پوه شوم چې په غوجلو کې څاروي او په جونګړو کې سپیان له لوږې او تندې مردار شوي او بوی یې کړی دی.

خو فرعون او د هغه کورنۍ لا پخپله ماڼۍ کې وه او همغلته یې ژوند کاوه.

یو شمېر بوډا او وفادار نوکران او مریيان هم ورسره پاتې ول، دغو نوکرانو د ډېرې وفادارۍ له امله فرعون نه شو پرېښودلی او بوډا درباریان هم پوهېدل چې په بل ځای کې کوم کار نه شي کولای.

کله چې زه افق ته ننوتم متوجه شوم چې فرعون او درباریان د سپوږمۍ له دوه ځله ګرځېدا یانې له شپېتو ورځو راهیسې په حالاتو باندې خبر نه دي، ځکه چې د آمون کاهنانو چاته اجازه نه ورکوله چې د افق ښار ته راشي.

په سلطنتي ماڼۍ کې د خوړو کمښت احساسېده او درباریانو، لکه فرعون غوندې ساده ډوډۍ خوړله او ساده ژوند یې کاوه.

آمي ماته وویل، له دې کبله چې ته فرعون ته ډېر ورنږدې یې او هغه په تا باور

لري، پوهېږي چې درواغ نه وایي، نو هغه ته ورشه او په هغه څه یې خبر کړه چې پېښ شوي دي.

زه په غمجن روح سره هغه ته ورغلم، فرعون چې ښکته کښل سر یې را اوچت کړ، په داسې حال کې چې د سترګو ځلا یې کمه شوې وه، ماته یې وویل سینوهه! ایا زما له ملګرو څخه یو ازې ته راستون شوی یې که نور کسان هم راغلي دي؟ ما په طبس کې ډېر ملګري درلودل، چې ډېر راباندې ګران ول، ماته ووایه، چې هغوی څه کوي؟

ومې ویل اې فرعون اخناتونه! پخواني خدایان په تېره بیا آمون چې تا راپرځولی و، بیرته په طبس کې واک ته رسېدلی دی، خدایي کوي، کاهنانو د آمون مجسمه بیرته درولې ده او د پخوا په شان ورته قرباني کوي.

خلک په دې ډېر خوشحال دي چې خپل خدایان یې بیرته ترلاسه کړي دي، پر تا لعنت وایي، ملعون دې بولي، له ټولو ځایونو، له معبدونو، ډبرلیکونو او مجسمو څخه ستا نوم پاکوي او وایي چې ته درواغجن فرعون یې او باید له سلطنته لاس پر سر شې.

کله چې فرعون دغه خبره واورېده هیجاني شو، مخ یې لږ سور شو او ویې ویل، سینوهه! ما د طبس د حالاتو په هکله له تا پوښتنه ونه کړه بلکې، ما وپوښتل چې زما ملګري څه شول او زما یاران څه کوي؟

ومې ویل، اخناتونه! ته دې په ملګرو څه کوې؟ ستا لپاره څه اهمیت لري، چې هغوی ژوندي دي که مړه؟ هغه څه چې تا ته اهمیت لري ستا مېرمنې، بچیان او زومان دي.

خو ستا ښځه ملکه نفرتیتي او ستا بچیان ستا تر څنګ ناست دي، ستا یو زوم (سمن خګر) په نیل سیند کې کبان نیسي او بل زوم

دې (توت) له نانځکو سره لوبې کوي، هره ورځ خپلې نانځکې مومیایي کوي او په قبر کې یې ږدي (*په بلې دنیا کې د مرګ او ژوند د وسایلو د کېښودلو او برابرولو فکر په پخواني مصر کې دومره زیات او قدرتمند و، چې حتی ماشومانو پر نانځکو د لوبو په وخت کې نانځکې مومیایي کولې او په قبر کې یې ایښودلې. تر دې وړاندې چې نوی خدای آتون په مصر کې رامنځته شي، همغه ډول چې د مصر د تاریخ مورخان د اسنادو له مخې وایي، د دغه هېواد خلکو یوازې د دې لپاره ژوند کاوه، چې د ځان لپاره د مرګ وسایل برابر کړي او مړه شي. هدف دا دی چې قدرمن لوستونکي حیران نه شي چې ولې ماشومانو د نانځکو په وخت د هغو په ښخولو سره ځان بوختاوه او لوبې یې کولې ژباړن*)

فرعون لکه چې زما خبره نه وي اورېدلي وویل، زما ملګري تو تمس چې ستا ملګر هم و چېرته دی؟ دغه ستر هنرمند چیرته دی، چې پخپل هنر سره یې د برې ته ساه ورکوله او کانو ته یې تلپاتې عمر ورکاوه؟

ومې ویل اخناتونه! هغه له دې کبله چې ستا او ستا د خدای پر ورانديې د بېر وفادار و، د تورپوستو عسکرو له لوري ووژل شو.

هغه یې په نېزې سره سوری سوری کړ او مړی یې ورته په نیل کې واچاوه، تمساحګانو یې مړی تو ته کړ او اوس د هغه سرې د مجسمه جوړولو په کارخانه کې، د شپې په مهال شغالان اتڼ کوي.

اخناتون په داسې بڼه چې ته وا له مخه پرده لرې کوي لاس وښوراوه او د خپلو هغو ملګرو نومونه یې واخیستل چې په طبس کې ول.

د هر نوم له اخیستو وروسته به ما ورته ویل، هغه ستا او ستا د خدای لپاره ووژل شو او یا مې ویل هغه ژوندی دی او اوس د آمون لپاره قرباني ورکوي او پر تا لعنت وايي.

کله چې فرعون د ملګرو د نومونو له اخیستو فارغ شو، ما وویل اې فرعونه! پوه شه چې د آتون د خدایي دوره پای ته رسېدلې، هغه نور نسکور شوی دی او په نړۍ کې یو ځل بیا آمون خدايي کوي.

فرعون خپل د نګر لاسونه وښورول او خپلې مخې ته یې یوه لرې تکې ته وکتل او ویې ویل، آتون ازلي، ابدي او نامحدود خدای دی او یو نامحدود خدای په یوه محدوده نړۍ کې نه شي ځایېدای نو عجیبه نه ده چې هغه یې نسکور کړی دی.

خو اوس چې آتون له منځه تللی او هرځه د پخوا په شان کېږي په نړۍ د وحشت، ظلم، کینې او جهالت حکومت دی، نو له همدې امله غوره ده چې زه هم مړ شم او د آمون او د وېرې او وحشت د نورو خدایانو وخت او پېر ونه ګورم، کاشکې ما دې نړۍ ته سترګې نه وای رڼې کړې چې دغه ظلمونه او بدبختۍ وګورم.

ومې ویل اې فرعونه! ته خو پوهېدې چې په دې محدوده دنیا کې یو نامحدود خدای نه ځایېده او د خلکو کوچني فکرونه د دې وس نه لري، چې د یوه ناڅرګند او بې مجسمې خدای عبادت وکړي، نو ولې دې دغه خدای رامنځته کړ؟

ولې دې هغه په خلکو وپېژاند او ولې دې دومره وینه وبهوله.....ته خو دلته ناست یې، ستا بچیان یې ستا پر ورانديې نه دي وژلي او هغه ښځه چې درباندې ګرانه وي هغه یې

ستا په مخ کې سوری سوری کړې نه ده.

ته نه شې پوهېدای چې ستا خدای خلک څومره بدبخته کړي دي او څومره بې ګناه کسان یې وژلي دي؟

تا ونه لیدل چې څنګه هغو مېرمنو چې زرینې غاړکۍ به یې درلودې خپلو ماشومانو ته د یوې نمرۍ ډوډۍ لپاره ځانونه په تورپوستو خرڅ کړل.

دا تر ټولو نیمکرغه مېرمنې وې، ځکه تورپوستو عسکرو بې له دې چې یوه ګوله ډوډۍ ورکړي، پر نورو ښځو تېری کاوه.

ایا هغه نیکمرغي چې تا غوښتل له دې وروسته یې د مصر پر ملت پېرزو کړې په دې ټولو غمیزو او کړاوونو ارزېدله؟

اخناتونه! تا د طبس جنګ ونه لیده، ته نه پوهېږې، چې ښکرورو کوم کوم جنایتونه کړي دي، خو تر هغه مخکې صلیبیانو همدغه جنایتونه له ښکرورو سره کړي ول چې د هغوی خدایان یې له منځه وړل. فرضاً که له دغو جنایتونو څخه هغه نرۍ رامنځته شوې وای چې ستا خدای غوښته او د شتمن او بېوزلي ترمنځ توپیر له منځه تللی وای، خو بیا هم اوس څوک باید ددغو بې ګناه کسانو د وژنې مسولیت ومني. د هغو کسانو د وژنې مسولیت چې سوري سوري شول، وسوځېدل او ژوندي بدنونه یې تمساحګانو ته واچول شول.

اې فرعونه! کله چې پوهېدی ستا نامحدود او ناڅرګند خدای په دې دنیا کې نه ځاېږي، نو ولې دې امر وکړ چې خلک ستا د خدای عبادت وکړي، چې دغه غمیزه رامنځته شي.

فرعون وویل سینوهه! که ته ما دومره ظالم او د خلکو کړونکی بولې. له ما سره مه ایسارېږه.

له دې ځایه لاړ شه چې تر دې زیات زما له کبله په تکلیف نه شې... له دې ځایه لاړ شه، چې زه دې څېره ونه وینم، ځکه چې د انساني څېرې له لیدو ستړی شوی یم.

خو زه ددې پر ځای چې لاړ شم، د اخناتون پر وړاندې پر ځمکه کېناستم او ومې ویل، اې فرعونه! زه له تا څخه نه ځم

ځکه ښکاري چې زما د برخلیک لوښی لا نه دی ډک شوی، باید تر دې زیات ډک شي، بیا تګ اسانه دی او ټول تللی شي.

خو کله ناکله پاتې کېدل همت غواړي، که ما تاته داسې خبرې کړې چې ته مې رټلی يې، دا زما د باطني درد له امله دي، ځکه چې ما په طبس کې خپل زوی او هغه ښځه له لاسه ورکړه چې پر ما ګران ول.

پر دې سربېره آمي او هورم هب غواړي، تا ته راشي او مذاکره وکړي هورم هب نيل سيند کې نغارې ووهلې چې مسي ځنځير مات کړي، چې د هغه بېړۍ افق ته ننوځي، زه تصور کوم چې يو ساعت وروسته به دواړه راشي.

فرعون زهرجنه موسکا وکړه، ويې ويل، آمي د جنايت مجسمه ده او هورم هب د تورې او نيزې. ايا آتون داسې کم بخته کړی يم چې يوازې دغه دوه تنه ما ته وفادارا پاتې دي چې زما پر لور راځي.

له دې وروسته فرعون خبرې ونه کړې، زه هم غلی شوم، تر هغه چې آمي او هورم هب راننوتل.

زه د هغو له سرو شويو ځېرو څخه پوه شوم چې له يوه بل سره يې لانجه کړې وه او په جنجال سره سلطنتي مانۍ ته راننوتي دي.

پینځه ځلویښتم څپرکی

پخپل لاس مې فرعون وواژه

کله چې آمي کوټې ته راننوت، له مقدمې او فرعون ته له درناوي پرته یې وویل، اخناتونه نور ته پاچاهي نه شې کولای، خو که استعفا ورکړې خپل ځان ژغورلای شې ګنې تا به ووژني.

استعفا ورکړه او خپل زوم سمن خګر د پاچاهۍ لپاره انتخاب کړه چې ستا زوم له دې ځایه طبس ته لاړ شي او د آمون لپاره قرباني وکړي له دې قربانۍ وروسته به د آمون کاهنان د هغه پر سر غوړي وموښي او د سلطنت خولۍ به یې پر سر ورکېږدي.

کله چې د آمي خبرې پای ته ورسېدې، هورم هب وویل، زما توره او نیزه به هم د اخناتون سلطنت وساتي او هم د هغه ځان، په دې شرط چې فرعون له دې ځایه طبس ته لاړ شي او د آمون لپاره قرباني ورکړي.

که څه هم د آمون کاهنان به لړ وغورېږي، خو کله چې زما نېزې او تورې وګوري غلي به شي او بیا که فرعون د سوریې د نیولو لپاره جنګ پیل کړي او حمله وکړي، کاهنان به مجبور شي، چې له فرعون سره مرسته وکړي.

اخناتون یوه شېبه هورم هب ته وکتل بیا یې وویل، ما د فرعون په شان ژوند کړی او د فرعون په شان به مړ شم، هېڅکله به د یوه دروغجن خدای لپاره قرباني ورنه کړم، هېڅکله به جنګ ونه کړم، ځکه چې زما خدای له جنګه بېزاره دی.

له دې خبرې وروسته فرعون د خپلو جامو لمن پورته کړه او پر خپل مخ یې واچوله له کوټې ووت او لاړ.

هورم هب، آمي او زه په کوټه کې پاتې شوو، زه د کوټې په غولي کېناستم او له ډېرې خواشینۍ مې د پاڅېدا توان نه درلود، هغو دواړو ته مې کتل ومې لیدل، چې آمي خپل دواړه لاسونه پرانیستل او هورم هب ته یې وویل، ستا تورې او نېزې چمتو دي، ته له دې

ښه فرصته د پاچاهۍ لپاره استفاده وکړه او دا فيصله وکړه، چې د مصر د پاچاهۍ خولۍ پر سر کېږدي.

هورم هب وخندل او ويې ويل، آمي! که پر سر د مصر د پاچاهۍ د خولۍ ايښودل دومره آسانه دي، ولې ته دغه کار نه کوې.

ته پوهېږې! هر څوک چې له فرعون وروسته د مصر پاچا شي، بايد د هغه کرل شوی تخم تول کړي، نو ما ته وړانديز مه کوه چې د مصر پاچا شم.

او که ته پوهېدای چې له اخناتونه وروسته پاچا کېدل آسانه دي، پخپله دې د سلطنت تاج پر سر کاوه.

اخناتون هېواد له کاختۍ سره مخامخ کړی دی او پر دې سربېره يې مصر دومره کمزوری کړی چې حتماً به پر مصر حمله کېږي.

هغه تخم چې اخناتون کرلی، يانې کاختي او جنګ، بايد د هغه فصل وريبي. که زه له اخناتون وروسته د سلطنت خولۍ پر سر کېږدم خلک به کاختي او جنګ زما له لاسه وبولي، ځکه چې زه په لنډه موده کې نه د جنګ مخه نيولای شم او نه کاختي له منځه وړلای شم، هغه وخت بيا ستا لپاره آسانه کار دی، چې ما د پاچاهۍ له ګدۍ راکوز کړې.

آمي وويل له دې کبله چې ته نه غواړې فرعون شې، بله چاره نه شته، مګر دا چې د فرعون زوم سمن خګر فرعون شي او که هغه هم پاچاهي ونه منله، د هغه بل زوم توت به سلطنت ومني او تر هغه به د خلکو له قهر سره مخامخ وي، چې کاختي له منځه لاړه شي او حالات ښه شي.

هورم هب وويل، زه پوهېږم چې ته ولې غواړې د اخناتون يو زوم فرعون کړې، ځکه چې پوهېږې، دواړه ستا پر وړاندې اراده نه لري او ته د هغوی په نوم سلطنت کولای شې.

آمي وويل، خو ته يو پوځ لرې او تر ما مضبوط يې په تېره بيا دا چې که وکړای شې هاتي په شا وتمبوې، نور به هم مضبوط شې او هېڅوک نه شي کولای چې په دې هېواد کې له تا سره د برابرۍ لافې ووهي.

دواړو يوه شېبه له يو بل سره خبرې وکړې او بيا آمي وويل: هورم هبه! زه اعتراف کووم چې غوښتل مې تا پر ځمکه وولم او لاس دې د پوځ له قوماندانۍ لنډ کړم، خو نن سبا ګورو چې زه او ته يو بل ته اړ يو، که زه نه يم ته د هاتي مخه نه شې نيولای او که ته د هاتي مخه ونه نيسې زه به حکومت ونه کړای شم، ځکه چې د هاتي ځواک به په لنډه موده کې

مصر ونیسي.

نو راځه چې له یوه بل سره متحد شو او د مصر په خدایانو قسم وخورو، چې له یوه بل سره به مرسته کوو.

هورم هب وویل، زه د مصر پاچاهي نه غواړم، خو غواړم چې د مصر د ځواک قوماندان واوسم، زما پوځ ځمکې ونیسي او د دې کار لپاره ستا ملاتړ اړین دی.

خو زه وېرېږم چې که له تا سره متحد شم ته به په لومړني فرصت کې له ما سره خیانت وکړې، ما به پر ځمکه وو هې.

دغه خبره دروا غ مه ګڼه، ځکه چې تا ډېر ښه پېژنم، نو له تا سره د اتحاد لپاره تضمین غواړم.

آمي وویل، تر دې لوی ضمانت څه کېدای شي، چې ته یو پوځ لرې او مصر یانې زه به یې خرخ ورکووم، ایا ستا د قدرت د ساتلو لپاره د یوه پوځ له درلودلو پرته بل څه ضمانت کېدای شي ؟

هورم هب غلی شو.

هغه چې هېڅکله د خبرو په وخت شک نه کوي، په دې وخت کې ما ولید چې شکمن شو، بیا یې وویل: هغه ضمانت چې زه یې غواړم دادی چې شهزادګۍ باکتاتون دې زما شي او زه باید ورسره منګی مات کړم.

آمي وخندل ویې ویل هورم هبه ! ته تر هغه ډېر هوښیار یې چې ما یې تصور کاوه، په دې پوهېږې، هغه کس چې د اخناتون له خور مېرمن باکتاتون سره واده وکړي، د مصر پاچا کېدای شي، حتی پر مصر د پاچاهۍ لپاره ستا حق د اخناتون تر زومانو ډېر دی.

ځکه چې اخناتون د کاهنانو د فتواو پر اساس درواغجن او ملعون فرعون دی، نو د هغه د لونو په رګونو کې د یوه درواغجن او معلون فرعو ن وینه بهېږي، په داسې حال چې د اخناتون خور باکتاتون لویه ده او د هغې په رګونو کې د لوی فرعون وینه بهېږي.

له همدې امله که هغه ستا خور (*یعنې ستا مېرمن ژباړن*) شوه، ته د اخناتون د زومانو په پرتله د مصر د پاچاهۍ لپاره ډېر صلاحیت پیدا کوې.

خو یوه شه ! دغې شهزادګۍ خپل پخوانی نوم باکتاتون اوس پر (باکتامون) اړولی دی، نو له همدې امله د آمون په کاهنانو ګرانه ده.

زه ستا له دغه وړاندیز سره موافق نه یم، ځکه چې که دغه مېرمن چې د لوی فرعون لور

ده. ستا مېرمن شي، ته به زما د خارنې له حلقې ووځې او په راتلونکې کې به زه پر تا هيڅ کنټرول او نفوذ ونه لرم.
هورم هب وويل، پوهېږم ته له دې دارېږې، چې کله زه د هغې مېړه شم او زموږ زامن پيدا شي، نو د مصر سلطنت به زما د زامنو مسلم حق وي.
خو مه وېرېږه! زه به له تا مخکې پاچاهي ونه کړم، ځکه چې زه انتظار کولای شم، تر تا ډېر خوان يم او چمتو يم، چې د خپلې توري او په وسيله له تا سره مرسته وکړم، چې سلطنتي خولۍ پر سر کړې.
دا چې ما له تا څخه وغوښتل دغه شهزادګۍ زما خور شي، لامل يې دادی، چې دا پر ما ګرانه ده.
له کومې ورځې، چې ما وليد له تر او سه پورې د هغې غوښتونکی يم او که ته خپل نفوذ وکاروې، چې دغه مېرمن زما خور شي، نو زه به ستا له پاچاهۍ سره مخالفت ونه کړم.
آمي په چورت کې لاړ. زه متوجه شوم، چې ولې هغه فکر کوي؟
د آمي د فکر کولو علت دا و، چې پوه شو يوه ښه وسيله يې پيدا کړې ده، چې په دې توګه هورم هب تر خپلې خارنې لاندې وساتي. ځکه کله چې پر يوه سړي کومه ښځه ګرانه وي، ددې لپاره چې وکړای شي له هغې سره واده وکړي، نو هر ډول قيدو شرط مني.
وروسته آمي وويل، هورم هبه! ته چې له يوې مودې راهيسې دا هيله لرې، چې ددې مېرمنې خاوند شې، نو دومره صبر چې دې وکړ، لږ نور زغم هم ولره. ځکه چې ته بايد اوس په يوه ستر جنګ کې ګډون وکړې ددغه جنګ موخه پر مصر د يرغل مخنيوی دی او اوس چې بايد د جنګ ډګر ته لاړ شې، نو له دې کبله له شهزادګۍ سره منګی نه شې ماتولای.
بله دا چې تر اوسه پورې له دې شهزادګۍ سره خبرې نه دي شوې چې ته غواړې ورسره منګی مات کړې او د هغې فکر هم ددې خبرې منلو ته چمتو نه دی.
لږ وخت پکار ده، چې دغه شهزادګۍ چمتو شي او تا د خپل ورور په توګه ومني. ځکه هغه پوهېږي چې ته د عوامو له توکمه يې.
کله چې تا دې نړۍ ته ستر ګې رڼې کړې، ستا د ګوتو په منځ کې د غوا د دووګوتو په شان خوشايي نښتې ول. خو په مصر کې يوازې يو کس شته چې کولای شي دغه شهزادګۍ له تا سره واده کولو ته مجبوره کړي او دغه کس زه يم.
زه د مصر په ټولو خدايانو قسم خورم چې کله ما د مصر د پاچاهۍ تاج پر سر کېښود

پخپل لاس به ستاسې ترمنځ د ورورۍ او خورۍ منګکی مات کړم.

آمي دغه خبره په داسې جدیت سره وکړه چې په هورم هب یې اغېز وکړ، ویې ویل د ډېره ښه ده. زه هم له تاسره مرسته کووم چې ډېر ژر د مصر پاچاهۍ ته ورسېږې او دغه شهزادګۍ ژر زما خور شي.

دغه دوه کسان په خبرو بوخت ول او زه پر ځمکه ناست وم نو څکه یې نه لیدم.

خو ناڅاپه د هورم هب راپام شو، ویې لیدم او په خندا یې وویل، اوه سینوهه! ته لا دلته یې او زموږ ټولې خبرې دې اورېدلې دي؟

ایا په دې پوهېږې چې ته زموږ په رازونو پوه شوی یې، نو باید زه دې ووژنم، خو ستونزه دا ده چې ته زما ملګری یې او د یوه ملګري وژل بې خونده کار دی.

ما له دې خبرو سره وخندل، ځکه چې را په زړه شول، هورم هب او آمي دواړه عام خلک دي او له توکمیز پلوه د پاچاهۍ وړتیا نه لري، په داسې حال کې چې زه د فرعون له توکمه یم او د پاچاهۍ وړتیا لرم.

آمي چې زما خندا ولیدله ویې ویل سینوهه! اوس د خندا وخت نه دی، ځکه چې موږ جدي خبرې کوو او که زموږ ملګری نه وای، یادا چې ستا ملګرتیا ته مو هیله نه وای نو ته مو وژلې چې څوک زموږ له رازه خبر نه شي.

اوس به دا ستا په ګټه وي، چې دغه خبره بل چاته ونه کړې چې څوک هېڅ پوه نه شي چې زه د پاچاهۍ نیت لرم. که ته چمتو یې چې له موږ سره مرسته وکړې، نو موږ به په راتلونکې کې هرڅه چې ته یې وغواړې درکړو.

ومې ویل له تاسې سره څه مرسته کولای شم؟ آمي وویل، فرعون له یوې مودې راهیسې ناروغ دی، ټول پوهېږي چې د هغه ناروغي لاعلاجه ده، د درملنې یوازې یوه روده پاتې ده، چې باید وکارول شي، هغه دا چې د فرعون د سر کوپړۍ سوری شي چې له مازغو یې تاواني بخار ووځي.

ته هم د اخناتون ځانګړی ډاکټر او د مصر بلکې د نړۍ لوی پوه یې، هېڅوک ستا په لیاقت او صلاحیت کې شک نه کوي، نو همدا نن یې سر سوری کړه او د جراحۍ چاړه دې د هغه په مازغو دننه کړه چې فرعون مړ شي او مصر له دې بدبختۍ څخه وژغورل شي.

ومې ویل آمي! له دې وروسته چې فرعون مړ شي، د هغه مړی به د مومیایي کولو لپاره د مړیو کور ته یوسي او هلته به یې د سر هډوکی لرې کړي چې مازغه یې وګوري

کله چې د مړیو د کور کارکوونکي د فرعون مازغه وګوري، سملاسي پوهېږي چې ما د هغه په مازغو کې چاره ننه ایستې او هغه مې وژلی دی.

دغوخبرو پر هغوی اغېز وکړ، ځکه چې دواړه هېڅکله د مړیو کور ته نه وو تللي او هلته یې د کارکولو روديې نه وې لیدلې. هغوی نه پوهېدل، چې د مړیو په کور کې هېڅکله د فرعون او نورو شتمنو کسانو د سر هډوکي نه پورته کوي چې د هغوی مازغه وباسي.

خو کله چې د بېوزلو مړي مومیایي کوي، د سر هډوکی د یوې کاسې په شان له جمجمې څخه جلا کوي، چې په اسانه او چټکه توګه مازغه او چت کړي. لرې یې وغورځوي او بیا هډوکی بیرته پر خپل ځای ږدي او بندوي یې.

خود فرعون د درباریانو او خانانو مازغه د هغوی د پوزې له سوریو راباسي.

زه پخپله کله چې د مړیو په کور کې د مړیو په مومیایي کولو بوخت وم، دغه چل مې لکه چې ددې برخلیک په پیل کې وویل زده کړی و.

نو که ما د فرعون په مازغو کې خپله چاره یوه ګوته دننه کړې وای هم، د مړیو د کور کارکوونکي نه پوهېدل چې ما هغه وژلی دی. خو هغه پلمه چې ما وکړه هورم هب او آمي ومنله.

هورم هب وویل، زه ډاکټر نه یم او نه پوهېږم چې فرعون به څه ډول مړ شي، خو په دې پوهېږم، چې دغه سړی باید له منځه لاړ شي، ځکه تر هغه چې دی ژوندی وي، مصر به ونه ژغورل شي.

ومې ویل، زه ډاکټر یم، پوهېږم د فرعون طبیعت داسې نه دی، چې سر یې سوری کړای شي، ځکه سر یې په داسې وخت کې باید سوری شي، چې د مرګ خطر نږدې وي.

مګر نن سبا چې فرعون د مرګ له خطر سره مخامخ نه دی او زه هم د فرعون ملګری یم نو زه هم نه غواړم چې دغه سړی د خپل خدای له راپرځېدا څخه وکړېږي او خپل پاتې عمر په بدبختۍ کې تېر کړي.

زه به هغه ته داسې شربت ورکړم چې له درد او کړاو پرته بلې دنیا ته لاړ شي او ددې شربتو اصلي ماده د کوکنارو د پوټکي شیره ده.

آمي وویل، اپیم یادوې؟ ومې ویل، هو ! اپیم یادوم.

دغه ماده به زه له شرابو سره یو ځای کړم پر فرعون به یې وڅښم، هغه به له درده پرته

په درانه خوب ویده شي او بیا به مړ شي.
آمي وویل، ایا د فرعون له مرګه وروسته هغه کسان چې د هغه مړي مومیایي کوي، ددې درملو په اغېز پوهېږي او د هغو اغېز به یې په خېټه کې پیدا کړي کنه؟
ومې ویل زه به پر هغه شربت وڅښم او شربت په خېټه کې کوم اغېز نه پرېږدي
آمي وویل، اپیم خاص بوی لري، کله چې د هغه بوی احساس کړي، وبه یې نه څښي.
ومې ویل، له دې وروسته چې اپیم څو ځله وایشول او تصفیه شي، نو خپل بوی به له لاسه ورکړي، په تېره بیا که په شرابو کې حل شي.
ما اپیم او نور درمل په شرابو کې حل کړي دي.
آمي وویل نو ځنډ مه کوه، پر هغه اپیم وخوره، خو غوره نه ده چې داسې زهر ورکړل شي چې ژر اغېز وکړي؟
ومې ویل آمي! زه خبروم چې دې سړي د خیر نیت درلود او نه یې غوښتل، چې د مصر حالات داسې شي، خو ځېل یې وکړ او د هوښیارانو خبرو ته یې غوږ ونه نیو.
خلکو چې هر څه ورته وویل د هغوی خبره یې ونه منله او تل به یې ویل چې زما خدای همداسې ویلي دي.
نو غوره نه ده چې داسې زهر پرې وخوړل شي چې درد ولري او ویې کړوي. د اپیمو د پوټکي له شیرې پرته بل هر ډول دارو حتی که ډېر لږ هم وي درد پیدا کوي، یوازې دغه شیره ده، چې مسموم کس ویدوي او هېڅ ډول درد نه احساسوي.
یوازې په ځینو کسانو کې چې کمزوري وي، ممکنه ده بدن یې سوړ شي او لړزه پیدا کړي.
آمي او هورم هب بیره درلوده چې زه ډېر ژر فرعون ته زهر ورکړم چې آمي ژر پاچاشي او هورم هب وکړای شي له شهزادګۍ باکتاتون چې اوس باکتامون بلل کېده، واده وکړي.
ما په یوه جام کې نیمه پیمانه شراب واچول او درمل مې پرې ور زیات کړل، ښه مې وښورول، چې شراب او درمل سره ګډ شي، بیا له آمي او هورم هب سره یو ځای د فرعون د کوټې پر لوري روان شوم.
فرعون د پاچاهي خولۍ له سره لرې کړې وه او سلطنتي متروکه او لکړه یې یوې خواته ایښې ول او پر یوه تخت اوږد غځېدلی و.
آمي سلطنتي تاج پورته کړ او په لاس یې وتاله، داسې وبرېښېدله چې غوښتل یې پوه

شي سر يې دد ې خولۍ د وړلو وس لري او کنه؟

بيا يې وويل فرعونه! ستا ډاکټر سينوهه، درمل درته راوړي دي چې تا به معالجه کړي او کله چې روغ شوې مورږ به د هغې مسلې په هکله خبرې درسره خبرې وکړو چې نن مو سره ياده کړه.

فرعون سترګې پرانيستلې، پورته شو او په تخت کې کېناست، مورږ درې واړو ته يې ښايسته شېبه وکتل، کله چې يې ماته وکتل، زما بدن ورېږدېده.

هغه چې زما په لاس کې د شرابو پيمانه وليده ويې ويل:سينوهه! کله چې يو ځناور ناروغېږي، ددې لپاره چې هغه ارام کړي، نو ناڅاپه يې له منځه وړي، ايا دغه درمل چې تا ماته راوړي ، د همدغه کار لپاره دي؟

که داسې وي، نو زه له تا څخه مننه کوم، ځکه چې ناهيلي له مرګ څخه هم بده ده او نن سبا مرګ زما لپاره تر هر ډول شرابو خوندور دی.

ومې ويل فرعون اخناتونه! دغه درمل وخوره چې استراحت وکړای شې، ځکه چې ته استراحت ته اړتيا لرې

هورم هب وويل فرعون اخناتونه! ايا په زړه دې دي، چې کله ځوان وې، ما پخپلو جامو کې په بيديا کې پټ کړې چې يخ دې ونه شي؟ دغه درمل وخوره او ويده شه، که دې ساړه وشول، زه به دې پخپلو جامو کې پټ کړم.

فرعون د شرابو پيمانه له ما واخيستله او شونډو ته يې نږدې کړه، خو لاسونه يې داسې رېږدېدل چې په دواړو لاسونو يې ونيوله.

لکه چې ما اټکل وکړ، فرعون ښه پوهېده چې څه شی څښي، خو بيا يې هم په يوه غوړپ کې وڅښل، پيمانه يې پر کټ کېښوده او ما راپورته کړه.

فرعون څو شېبې مورږ ته وکتل، له هغه وروسته يې خبرې ونه کړې، اوږد وغځېده، بيا يې ساړه وشول او ورېږدېد.

هورم هب خپلې جامې وايستلې او پر فرعون يې واچولې، چې لړزه يې ورکه شوه نو ويده شو.

کله چې فرعون ويده شو آمي د سلطنت تاج پر خپل سر وآزمايه چې ايا د هغه د سر لپاره ښه دی کنه؟

کله چې ما اشاره وکړه، هورم هب او آمي له کوټې ووتل، زه هم وروسته راووتم او

نوکرانو ته مې وویل، فرعون استراحت ته اړتیا لري او ویده شوی، باید هغه راویښ نه کړئ.

نوکرانو د بلې ورځې تر سهاره را ویښ نه کړ او په دې ډول مړ شو. اخناتون فرعون د مرګ جام زما له لاسه یانې د سلطنتي ډاکټر له لاسه وڅښه. زه نه شم ویلای چې په ښېلا ښېلو عواملو کې چې ما د مرګ جام هغه ته ورکړ کوم عامل ډېر پیاوړی و؟ ایا د مریت او تهوت مړینه ددې سبب شوه، چې زه د اپیمو شیره هغه ته ورکړم؟ ایا له دې امله مې مړ کړ چې پوهېدم د هغه شتون به د مصر ملت نور هم بدبخت کړي؟

ایا په مصر کې د موجود دود له مخې چې فرعون باید د هغه د ځانګړي ډاکټر له لوري ووژل شي، ما فرعون وواژه چې د دودونو په اساس عمل وکړم؟ ایا دا چې په ستورو کې لیکل شوي ول، چې باید دغه کار زما په لاس وشي؟

ښایي پر دغو عواملو سربېره دا عامل هم اغېزناک و، چې غوښتل مې زما د برخلیک لوښی ډک شي، چې یوه ورځ ووایم، سینوهه! تا داسې برخلیک درلود چې هېچا نه دی درلودلی.

ښایي غوښتل مې، په دې ډول خپل ځان ته خپل قدرت وښییم.

ځکه چې که یو څوک ووایي زه ځان ډېر ښه پېژنم، بیا هم ددې وس نه لري، چې ځان بشپړ وپېژني او کله نا کله به داسې کار هم وکړي چې وروسته نه شي پوهېدای ولې یې دغه کار کړی دی؟

پر بله ورځ د افق ښار په سلطنتي ماڼۍ کې د ساندو او ژړاګانو غږونه واورېدل شول، موږ ځان ماڼۍ ته ورساوه.

یوازې یوه کس نه ژړل او هغه ملکه نفرتي تي وه، چې د خپل خاوند د جنازې تر څنګ ولاړه وه، بې له دې چې وژاړي، د هغه پر مخ یې خپلې ګوتې تېرولې.

کله چې زه ورننوتم د فرعون مړي ته مې وکتل سترګې یې خلاصې وې، ما ته یې کتل.

ما د هغه په سترګو کې د غوسې نښې ونه لیدلې، خو تر هغه وخته چې د هغه مړی مې د مړیو کور ته یوور او د مړیو د کور کارکوونکو ته مې وسپاره چې مومیایي یې کړي، د فرعون له سترګو شرمېدم.

که له ما پرته بل چا دغه کتاب لیکلی وای ښایي، دغه برخه یې نه وای لیکلې او ځان یې د فرعون قاتل نه وای معرفي کړی، خو ما په دې کتاب کې له حقیقت پرته بل شی نه

دي لیکلي او وبه یې نه لیکم، حتي که زما په تاوان هم وي.

زه پوهېږم چې کـه کومـه ورځ ځوک دغـه تصـویرونه (د مصر خط تصـویري و. ژباړن) ولولي له ما څخه به ډېره کرکه وکړي، چې زه درباري ډاکټر او د فرعون د اعتماد وړ کس وم، نو ولې مې هغه وواژه؟

زه تر دې زیات ځانته د برائت ورکولو لپاره بل څه نه لرم، خو اوس چې دغـه تصـویرونه کاږم وایم، یو هغـه عامـل چې زه یې اړ کړم د اپیمو د پوټکي شیره پر فرعون وڅښم دا و، چې غوښتل مې د هغه کړاو او درد ختم کړم، ځکه چې پوهېدم که له ما پرته بل ځوک د هغه د وژلو تابیا وکړي نو په ډېر کړونکي ډول به یې ووژني.

خو ما لوېديزې نړۍ ته داسې واستاوه، چې هغه پوه نه شو، ویده دی که د ځنکدن په حال کې دی.

تر دې وړاندې چې د اخناتون مړی د مومیایي کولو لپاره د مړیو کور ته ولېږدول شي، د فرعون زوم سمن خګر یې د هغه پر ځای کېناوه، هغه یې فرعون وباله، تاج یې ور پر سر کړ سلطنتي لکړه او متروکه یې په لاس کې ورکړه.

خو ځوان او نوی فرعون اند ښمن او ترهېدلی و، شا و خوا یې کتل، ځکه عادت یې کړی و، چې تل د اخناتون پیروي وکړي، د هغه په ارادې فکر وکړي او خپلواکه رایه او نظر یې نه درلود.

آمي او هورم هب ورته وویل که غواړي چې تاج پر سر ولري باید ډېر ژر افق له ښاره ووځي، طبس ته لاړ شي او هلته د مصر همېشني او ستر خدای آمون ته قرباني وکړي

خو سمن خګر د اخناتون خبره تکرار کړه او ویې ویل، هڅه به وکړم چې د بې ځېرې او ناځرګند خدای وړانګه پر ټولې نړۍ وځلېږي او په دې ښار کې به د خپل خسر لپاره یو معبد جوړ کړم او د خپل خدای آتون په شان به د هغه عبادت وکړم، ځکه چې اخناتون داسې کس و، چې ساری به یې په نړۍ کې پیدا نه شي.

آمي او هورم هب چې کله ولیدل سمن خګر ټینګار لري چې د آتون عبادت وکړي، نو څه یې ونه ویل.

پر بله ورځ ځوان فرعون د کب نیونې لپاره د نیل څنډې ته لاړ خو په اوبو کې ولوېد او تمساح ګانو وخوړ.

ځینو کسانو به ویل چې سمن خګر کله چې کبان نیول په اوبو کې ولوېد او تمساح ګانو

وخوړ، خو زه په دې خبره باور نه کووم او ګمان کوم چې هغه یې په اوبو کې اچولی دی.
هورم هب داسې سړی نه و، چې دغه کار یې کړی وي، نو په غالب ګمان به آمي د تمساح ګانو خولې ته ورکړی وی، چې ډېر ژر خپل هدف یانې د مصر پاچاهي ته ورسېږي.
هغه وخت آمي او هورم هب توت ته ورغلل، ویې لیدل چې له نانځکو سره د مړیو د ښخولو لوبې کوي، د هغه مېرمن او د پخواني فرعون لور آنکس آتون هم ورسره لوبې کوي.
هورم هب ورته وویل: توت! پاڅه ته فرعون شوی یې. باید سلطنتي خولۍ پر سر کړې او د خپل خسر پر تخت کېنې!
توت پا څېد.
هورم هب او آمي هغه د خپل خسر د تخت پر لور او پر ګدۍ یې کېناوه. توت وویل، زه له دې کبله چې فرعون شوی یم حیران نه یم، ځکه چې ځان مې تر نورو لوړ ګاڼه
خو له دې وروسته به زما متروکه، بد خلک سم کړي او زما سلطنتي لکړه به نیک خلک اداره کړي.
آمي وویل، توت! چټي خبرې پرېږده او واوره څه درته وایم:
ته باید له دې وروسته زما خبره او امر ومنې، هر څه چې زه وایم له مخالفت پرته یې باید ترسره کړې.
زموږ لومړنی کار به دا وي چې طبس ته لاړ شو، هلته به د مصر د پخواني خدای آمون په مخکې رکوع وکړې او د هغه لپاره به قرباني وکړې، کاهنان به دې پر سر تېل وموښي او د مصر سلطنتي تاج به دې پر سر کېږدي.
توت لږ فکر وکړ او ویې ویل، که زه طبس ته لاړ شم، ایا زما لپاره به د سترو فرعونیانو په شان قبر جوړ کړي او ایا زما په قبر کې به ښکلې نانځکې او داسې شنې چړې لکه چې د هاتي پلاوي راکړې کېږدي؟ ځکه چې زه د دې ښار له قبرونو څخه کرکه کوم چې ډېر کوچني دي او پر دېوالونو یې انځورونه ایستل شوي دي، زه لوی قبر غواړم چې هلته ډېر شیان کېښودلای شم.
آمي وویل افرین دې پر تاوي، له دې سره سره چې ماشوم یې، خو بیا هم د قبر په فکر کې یې.
داده اوسه چې ستا په غوښتنه به، کاهنان ستا لپاره ستر او ښکلی قبر جوړ کړي. که ته

په راتلونکې کې همدومره هوښیاري وکړې، نو د مصر لپاره به یو ښه فرعون شې.

خو ستا نوم ښه نه دی او ستا بشپړ نوم چې توت انخ آتون دی د طبس کاهنان یې نه خوښوي، ځکه چې هغوی له هر هغه شي کرکه کوي چې په آتون پورې اړوند وي، نو سر له ننه به ستا نوم توت انخ آمون وي. کوچني توت په دې اړه هم نیوکه ونه کړه او یوازې یې وویل، ما خپل پخوانی نوم ډېر ښه لیکلی شوای، خو خپل نوی نوم نه شم لیکلی، زه نه پوهېږم هغه انځور څنګه کښل کېږي، چې آمون ښیي.

په دې وخت کې یې هغه ته د توت انخ آمون نوم ور زده کړ او خپل لومړنی نوم یې په افق ښار کې ولیکه.

د پخواني فرعون مېرمنې نفر تي تي چې ولیدل د توت انخ آمون له پاچاهۍ وروسته هغې ته څوک توجه نه کوي، نو ځان یې سینګار کړ او د هورم هب د کتلو لپاره چې بېرې یې په نیل کې ولاړه وه، هلته ورغله د هورم هب کوټې ته ورننوته او ورته یې وویل:

ګورې چې زما پلار آمي په دې هېواد کې، څنګه د ماشومانو لوبه پیل کړې ده او یو ماشوم یې د مصر فرعون کړی دی، چې وکړای شي بې جنجاله د توت انخ آمون په نوم، دې په مصر کې حکومت وکړي.

په داسې حال چې زه په دې هېواد کې یم، تول پوهېږي چې د پخواني فرعون مېرمن او د هغه د بچیانو مور یم او تر یوه ماشوم ډېره د پاچاهي وړتیا لرم.

دا سمه ده چې زه یوه ښځه یم نه شم کولای خپله خبره عملي کړای شم، خو که یو سړی له ما سره مرسته وکړي، نو له دې کبله چې ملکه او د مصر تر ټولو ښکلې مېرمن یم او له دغه سړي سره په حکومت کې برخه اخیستلای شم.

هورم هبه! ما او زما ښکلا ته وګوره او فرصت له لاسه مه ورکوه .... ته توره او نیزه لرې او زه ښکلا او نوم، که زه او ته سره متحد شو نو پر مصر حکومت کولای شو او زموږ له حکومته به مصر ته ډېره ګټه ورسېږي، په داسې حال چې زما پلار آمي ډېر احمق او حریص سړی دی او که د مصر پاچا شي، هېواد به تر اوسني حالت ډېر خراب کړي.

هورم هب نفر تي تي ته کتل، هغې خپلو خبرو ته دوام ورکړ او هڅه یې وکړه چې پخپلو خبرو سره نوموړی وهڅوي چې وړاندیز یې ومنې.

که څه هم نفر تي تي اورېدلې ول، چې پر هورم هب د پخواني فرعون خور ګرانه ده او زړه یې غواړي، چې له هغې سره واده وکړي، خو فکر یې کاوه، چې دغه واده به د

شهزادګۍ باکتاتون د کبر او غرور له امله و نه شي.

بله دا چې نفر تي تي نه پوهېده چې د هغې د پلار آمي او هورم هب ترمنځ پټ تړون شوی، چې له مخې به يې هورم هب له آمي سره مرسته کوي چې هغه پاچاشي او آمي به يې په مقابل کې د هورم هب او شهزادګۍ باکتامون د واده کولو زمېنه برابره کړي.

پر دې سربېره نفر تي تي عادت شوې وه چې له خپلې ښکلا څخه په استفادې سره سړی ژر دې ته اړ کړي چې تفریح ورسره وکړي. دې فکر کاوه چې د سړ د زړونو په ګټلو کې استاده ده او د دې اپوټه شهزادګۍ باکتامون ځوانه او بې تجربې ده، نه پوهېږي، چې سړي څنګه وغولوي؟

خو د هغې ښکلا د ډېرو بچیانو د زړولو له کبله اوس هغسې تانده نه وه پاتې، نو پر هورم هب يې اغېز ونه کړ.

هورم هب وویل: اې ښکلې نفر تي تي ! ما په دې ښار کې په کافي اندازه ځان ککړ کړی دی، نه غواړم چې له تا سره څملم او ځان نور هم ککړ کړم.

زه بايد اوس خپل يوه افسر ته چې د سینا په سرحد کې دی، ليک وليکم نو له تا سره د ساعت تېرې وخت نه لرم.

کله چې نفر تي تي دغه خبره واورېده خپلې کتان جامې يې راغونډې کړې او له کوټې راووته دغه کيسه ما ته پخپله هورم هب وکړه.

زه فکر کووم چې هورم هب به داسې توند ځواب نه وي ورکړی، خو ځواب به يې حتماً منفي و، ځکه چې له هغې ورځې وروسته نفر تي تي له هورم هب سره دښمني پيل کړه او بیا په طبس ښار کې له شهزادګۍ باکتامون سره متحده شوه چې دغه کيسه به وروسته وکړم

.

که هورم هب له نفر تي تي سره ښه چلند کړی وای او هغه يې راضي کړې وای يو قدرتمن او پياوړی ملګری به يې پيدا کړی وای، خو هغه نه غوښتل پخوانی فرعون اخناتون له ځانه خپه کړي او د هغه له ښځې سره تفریح وکړي.

زه پوهېدم کله چې هورم هب د اخناتون له مرګ سره موافقه وکړه، له مرګ وروسته هم فرعون پرې ګران و، که څه هم د اخناتون نوم يې له ټولو ډبرليکونو او معبدونو پاک کړی و او په افق په ښار کې يې د ناخرګند خدای آتون معبد وران کړی و.

خو تر هغې ورځې چې ما هورم هب ته کتل پوهېدم چې پخوانی فرعون پرې ګران دی.

زه خبر وم کله چې د آمون کاهنان قدرت ته ورسېدل، نیت یې درلود د اخناتون مومیایي شوې جنازه چې په افق ښار کې ښخ شوی و، له قبره راوباسي، ویې سوځوي او ایرې یې په نیل کې واچوي چې له منځه لاړ شي.

خو هورمهب د خپلو څو تنو اعتباري کسانو په مرسته تر دې وړاندې چې کاهنان د هغه مړي ته ځان ورسوي، د اخناتون مړی له قبره وایست او په ګبټتی کې یې طبس ته واستاوه چې د اخناتون د مور په قبر کې ښخ شي.

کاهنانو چې په افق ښار کې د فرعون قبر لوټ کړ، جنازه یې پکې پیدا نه کړه ټو اوازه یې ګډه کړه، چې آمون د درواغجن او ملعون فرعون مومیایي شوی مړی له منځه وړی دی، چې په لوېدیزه نړۍ کې *(له مرګه وروسته دنیا، ژباړن)* یې اغېزه پاتې نه وي.

آمي، چې طبس ته د سفر لپاره د توت انخ آمون موافقه تر لاسه کړه، نو امر یې وکړ چې بېړۍ چمتو کړي، دربار حرکت کوي.

آمي له افقه، طبس ته د دربار په لېږد کې داسې بېړه درلوده چې هغه خواړه یې هم و نه خوړل چې په زرینه مانۍ *(سلطنتي مانۍ، ژباړن)* کې پاخه شوي ول او درباریانو ته یې هم وخت ورنه کړ، چې ډوډۍ وخوري، په بېړه روان شول.

ددې لپاره چې وویل شي دافق ښار ملعون دی او یوه شېبه هم پکې ایسارېدل روا نه دي، نو باید بې له ځنډه دغه ښار خوشې کړای شي.

خلکو خپل کورونه پرېښودل روان شول او د توت انخ آمون لوبتکې او نانځکې په زرینه مانۍ کې د تل لپاره پاتې شوې او د عمر ترپایه به د جنازې د ښخولو د ستورې ننداري ته وړاندې کوي.

له بیدیا را ولاړ شوی باد نرمې او میده شګې د افق کوڅو ته راکاږلې، کورونه او باغونه یې له شګو ډک کړل، د لمر وړانګو او باران کورونه ورانول، په منې کې د نیل مستۍ هم د ښار ورانې زیاتوله.

لښتې او ویالې وچې شوې او هغه ونې له منځه لاړې، چې اخناتون په زیار او مینې سره کرلې وې.

د کورونو چتونه ونړېدل، په کورونو او باغونو کې د انسانانو پر ځای شغالانو ژوند پیل کړ.

په دې ډول د آتون د افق ښار هغسې بېړه له منځه لاړ لکه څنګه په بېړه چې جوړ شوی و.

له دې وروسته چې د بېدیا خاورو او شګو ښار لاندې کړ، نو هېڅ هڅه و نه کړه چې تر خاورو لاندې شویو ګران بیه شیانو د را ایستلو لپاره یو ځل د غه ښار ته ورشي.

ځکه هغه ځمکه چې د افق ښار پکې جوړ شوی و، ملعونه بلل کېده، آمون داسې لعنت پرې کړی و، چې چا جرئت نه شو کولای، هلته ګام کېږدي او ګران بیه شیان له خاورو را وباسي.

ته وا چې د افق ښار یو خوب و خیال و، چې ناڅاپه له منځه لاړ او نښه یې هم پاتې نه شوه. هورم هب د سلطنتي بېړیو په مخکې روان و، چې د نیل دواړه غاړې امنې او آرامې کړي.

کله چې طبس ته ننوت په دوو ورځو کې په دې ښار کې غلا و ژنه او ګډوډي له منځه لاړه.

هورم هب غله او وژونکي ونه وژل او په دېوالونو یې راځوړند نه کړل، بلکې ټول یې ونیول، چې د جنګ په ډګر کې ترې استفاده وکړي، ځکه هورم هب د هاتي د عسکرو د مخنیوي لپاره سرتېرو ته اړتیا درلوده.

کله چې کوچنی فرعون طبس ته ننوت موږ ولیدل چې د قوچانو واټ یې د فرعون په بیرغونو ښکلی کړی و او د آمون معبد د لمر د وړانګو له کبله روڼ ځلېده.

فرعون د تاج اېښودو پر وخت د آمون معبد ته د تللو لپاره پر زري روان تخت سپور شو او د هغه ترشا د پخواني فرعون مېرمن، ملکه نفر تي تي او ورپسې د هغې لونې روانې وې.

پر دې ورځ چې فرعون د آمون معبد ته ورغی چې هلته تاج کېږدي او د آمون لپاره قرباني وکړي نو د مصر پخوانی خدای بېخي بریالی شو.

د آمون ټول کاهنان چې پر خرېیلو سرونه یې تېل موښلي ول، ولاړ ول او د ټولو کاهنانو په مشرۍ ستر کاهن هري بور د آمون د مجسمې پر وړاندې د فرعون پر سر تېل وموښل او د زنبق او پاپیروس په نښو سره یې د مصر سور او سپین تاج د هغه پر سر کېښود.

دغه د ستورې د خلکو په مخکې ترسره شوې، ځکه چې وګوري فرعون خپل تاج د آمون له کاهنانو څخه ترلاسه کړی.

کله چې د تاج اېښودلو مراسم پای ته ورسېدل، نوي او کوچني فرعون د آمون لپاره قرباني وکړه او بیا یې هغه څه چې آمي له وران او بېوزله مصره تر لاسه کړي ول او فرعون

ته یې ورکړي و، آمون ته ډالۍ کړل.

خو تر دې وړاندې چې فرعون آمون ته دغه ډالۍ ورکړي، له هري بور سره یې خبره پخه کړې وه، چې دغه ډالۍ ده ته ورکړي، چې د هاتي د مخنیوي لپاره یې په جنګ کې ولګوي.

د طبس اوسېدونکي پر دې ډېر خوشحال ول، چې پخواني خدای واکمن شوی او فرعون له دې سره سره چې ډېر کوچنی و، خو هغه ښار ته ورغلی و. انسان فطرتاً په خیالونو کې ژوند کوي، تل راتلونکې ته هیله کوي او تصور کوي، چې له پخوا څخه به ښه راتلونکې ولري. خو د انسان د بدبختۍ یو عامل دا دی چې له تېرو ترخو تجربو څخه درس نه اخلي او فکر کوي چې راتلونکی به په دې دلیل چې لا نه ده راغلې تر پخوا ښه وي.

له همدې امله د طبس خلکو تصور کاوه، چې د فرعون د پاچاهۍ دوره به د سوکالۍ او خوښۍ پړاو وي، په قوچ واټ کې د فرعون په لاره کې راټول شول او پر ځمکه یې ورته ګلان شیندلي ول.

خو د بېوزلو له سیمو او بندر ته نږدې کورنو څخه لا لوګي پورته کېدل. د طبس ښار په یوه څنده کې اسمان تیاره و او له ورانو کورونو څخه د خرابو شویو مړیو بویونه لتېدل، کارغان او مردار خواره چې د آمون د معبد پر بام ناست ول، له ډېرې چاغۍ څخه نه الوتلی شول، ځکه چې شپه و ورځ به یې مړي خوړل.

بېوزلې مېرمنې او بې پلاره ماشومان په کنډوالو کې ګرځېدل چې وکړای شي د خپل کور خیني شیان بیرته له خاورو را وباسي.

دغه ماشومان د لوږې له کبله داسې ډنګر ښکارېدل، چې د مړیو په کور کې مومیایي شوي مړي، داسې وچ نه ول.

ماشومان او ښځې پوهېدل چې له طبسه رحم او عاطفې کډه کړې او ډېره موده کېږي، چې نه څوک چا ته کوم شی ورکوي او نه یې ګېډه ورمړوي، له همدې امله یې له چا څخه د ډوډۍ او فلز غوښتنه نه کاوه.

د نیل له بندره لرې شوم او د تمساح لکۍ میخانې پر لور روان شوم، میخانه کنډواله شوې وه او هغه هم اور توره کړې وه.

د زړه له تله مې سوړ اسوېلی وایست، ځکه چې هغه ورځ را په زړه شوه، چې په دې میخانه کې زما د سترګو پر وړاندې یې زما د خوږ ژبې او کوچني زوی تهوت ماږغه په

ګورزباد باد کړل
هغه تهوت چې زما له نسله یانې د خدایانو او فرعون له نسله و او زما د سترګو پر وړاندې یې پر مریت حمله وکړه، چې هغه ښځه اسیره کړي، خو مقاومت یې وکړ او د نیزې په ګوزارونو سره یې د سترګو په رپ کې سوری سوری کړه.
بیایې په داسې حال کې چې ښایي مریت ژوندۍ وه، میخانې ته اور ورته کړ او زما ګرانه مریت ژوندۍ په اور کې وسوځېدله.
اې د مصر خدایانو! ایا ممکنه ده ماته وواياست چې زما مریت په دې وخت چې میخانې اور واخیست د سوځېدا د شکنجې له زغملو پرته مړه شوه؟
کاشکې ما همغه ډول چې فرعون مې بې له کړاوه په اپیمو سره بلې نړۍ ته واستاوه، مریت او کوچني تهوت مې هم وژلي وای.
خو زه د اخناتون فرعون د خبرو تر اغېز لاندې راغلم او په هغه وخت کې مې د ګرانې مریت او د خپل کوچني زوی تهوت د مړینې فکر ونه کړ.
د حیرانۍ خبره خو دا وه چې دومره کم عقل شوی وم، چې نه پوهېدم، دا ناممکنه ده چې د مصر یا بل ملت د داسې یوه خدای عبادت وکړي، چې بهرنی وجود نه لري او په سترګو ونه لیدل شي.
ما ویل انسانان یوازې د یوډول خدای عبادت کولای شي چې بهرنی وجود او څېره ولري له دې پرته انسان فکر کوي چې د بې ځانه او ناڅرګند خدای عبادت کوي دوی په حقیقت کې د دوهمه او دریمه درجه خدایانو یعنې دسترو کاهنانو او فرعونیانو عبادت کوي.
له دې کبله چې انسان د ناڅرګند او بې څېرې خدای عبادت نه شي کولای، ځکه چې هېڅ درک او پوهه د هغه د درک کولو وس نه لري نو دغه خدای ژر هېروي.
په بدل کې یې د هغو کسانو عبادت کوي چې وایي موږ د خدای زامن یو یا د هغه له لوري راغلي یو او یا مو د هغه غږ اوریدلی دی او له هغه سره مو خبرې کړي دي، ځکه چې دا انسان دی او بهرنی وجود لري او خلک یې لیدلی شي.
په راتلونکې کې به هم همداسې وي او هر ځل چې یو ناڅرګند او بې څېرې خدای رامنځته کېږي، که وغواړي چې بریالی شي باید یو کس خلکو ته معرفي کړي او د هغه له ژبې له خلکو سره خبرې وکړي. خو ددغه سړي له مرګ وروسته هغه کاهنان چې د ده ځای

ناستي کېږي د عبادت وړ ګرځي. ځکه چې انسان دا وس نه لري چې له انسان، حيوان او جماداتو پرته د بل شي عبادت وکړي.

که اخناتون فرعون د خپل خدای لپاره يوه ښه ورکړې وای، دغه کار به نه کېده او دغه فتنې به نه وای رامنځته شوې.

زما مريت او تهوت به نه وای وژل شوي، زما پر سر به د بدبختۍ او خوارۍ ايرې او خاورې نه وای توبې شوې او يو ځل بيا به په دې نړۍ کې نه وای يوازې شوی.

زه تصور کووم چې د نړۍ تر ټولو خطرناک شی د يوه فرعون اصلاح غوښتونکی فکر دی، ځکه چې دغه اصلاح غوښتونکي افکار حتی که د خير ښېګڼې هم وي، خو ډېر کسان بدبخت کوي.

له لرې مې د خلکو د شور او زوږ غږ اورېده، چې د فرعون لپاره يې خوشحالي کوله.

خلکو تصور کاوه، چې نوی او کوچنی فرعون له ماشومتوبه د خپل قبر په فکر کې دی او غواړي د ځان لپاره قبر جوړ کړي، نو دا به داسې فرعون وي چې له بې عدالتۍ سره به مخالف وي، دی کولای شي ظلم له منځه يوسي او عدالت او سوکالي راولي.

خلک خبر نه ول، چې د پخواني فرعون خدای له دې سره سره، چې د سولې، برابرۍ او د شتمن او بډای د توپير د ختمېدا غوښتونکی و، خو بيا يې هم خلک بد بخت کړل.

د نوي فرعون خدای همغه ظالم او قهرجن خدای آمون دی، چې نوی رامنځته شوی او ډېر وړی او تږی دی.

ډېره موده وشوه چې کوم شی يې نه خوړلي او نه څښلي او د هغه د مړولو لپاره به د مصر د ټولو خلکو د لاس محصول او د هغه د تندې د ماتولو لپاره به د دې ټاټوبي د ټولو بچيانو وينه کفايت ونه کړي.

پخواني فرعون له ما څخه د مرګ پيمانه واخيسته ويې څښله او آرام شو، ځکه چې له مرګه وروسته هر شی هېرېږي، خو زه ژوندی پاتې شوم او نه شم کولای هغه څه هېر کړم چې ما اورېدلي، ليدلي او پر ماتېر شوي دي.

له دې وروسته به زما ژوند تريخ او له حسرت سره يو ځای وي.

د تمساح لکۍ د ميخانې له کنډوالو طبس د بندر پر لور روان شوم.

د طبس بندر چې غلی او تش ښکارېد د خالي زنبيلونو او شلېدلو پړيو په ليدو يې سړی پوهېده، چې دغه ځای يو وخت د ترانسپورټ د فعاليت مرکز و.

ناڅاپه د زنبیلونو او ټوکریو له منځه یو ډنګر او خوار سړی را ووت زما خواته را غی، خپلې ننوتې او مړاوې سترګې یې ما ته ونیولې او ویې ویل، ایا ستا نوم سینوهه نه دی؟
ایا ته همغه سلطنتي ډاکټر نه یې چې د آتون په نوم دې د بېوزلو ټپونه معالجه کول؟
زه نه پوهېدم چې د هغه هدف څه دی، ځکه غلی شوم او ومې کتل چې نور څه وایي؟
هغه سړي وویل، ایا ته همغه سینوهه نه یې چې د خپلو نوکرانو په مټ دې پر بېوزلو ډوډۍ وېشله او هغوی به ستا له خولې ویل چې دا د آتون ډوډۍ ده.... ویې خوړۍ او له اخناتونه راضي اوسئ.
تا چې پر خلکو ډوډۍ وېشله، اوس هم ماته ډوډۍ راکړه، ځکه چې له څو ورځو راهیسې زه د دغو ټوکریو او زنبیلونو په منځ کې ژوند کووم او له لوږې څخه د تللو او ګرځیدو وس نه لرم.
ما وویل، ته وښې چې زه ډوډۍ نه لرم، خو ته ولې تر زنبیلونو او ټوکریو لاندې ژوند کوې؟
هغه سړي وویل، ما یوه جونګړه درلوده چې ډېره کوچنۍ وه او له هغې څخه د خوسا شویو کبانو بوی لتېده، خو له دې سره سره به د شپې مهال او د غه راز په باد و باران او ډېر لمر کې پکې خملاستم.
یوه ښځه مې درلوده چې ښکلې نه وه، خو زما خپله مېرمن وه. همدا راز ما څو زامن درلودل چې له یوې مودې راهیسې وږي ول.
خو نن سبا کور نه لرم او جونګړه مې ورانه شوې... نن مېرمن نه لرم زما ښځه یې وژلې.. اوس بچیان نه لرم، زما بچیان یې له منځه وړي او د دې ټولو مسولیت ستا د خدای پر غاړه دی.
سینوهه! ستا خدای آتون زما جونګړه، ماشومان او میرمن راڅخه واخیستل او زه یې پر تورو خاورو کېنولم.
اوس زه باید له ګرمۍ او یخنۍ څخه د تېښتې لپاره تر دغو زنبیلونو لاندې پټ شم. له هغې ورځې چې دغه نړۍ جوړه شوې ستا د خدای په شان سپېره او بې رحمه خدای نه دی لیدل شوی. زه پوهېږم چې مړ به شم، خو په دې خوشحاله یم چې ستا خدای یې له منځه یووړ، چې له دې وروسته د مصر خلک بدبخت نه شي.
له دې خبرې وروسته دغه سړی پر ځمکه ولوېد، ویې ژړل، خو ما له هغه سره مرسته نه

شوه کولای نوترې لرې شوم.
وروسته د بېوزلو محلې ته ننوتم او هغه ځای ته ورسېدم چې د مسکریانې زما پخوانۍ کور پکې و.
ومې لیدل چې کور د طبس د نورو کورونو په شان رنګ شوی دی او د اور لوګیو تور کړی دی. کور ته خېرمه ونې وچې شوې وې، خو د دېوال په خوا کې د یوې کوچنۍ جونګړې ننې راښکاره شوې، چې په مخکې یې یو منګی ایښی و او داسې برېښېده چې کوم څوک دلته ژوند کوي، ځکه چې د منګي لوندوالي شاهدي ورکوله چې او به پکې دي.
ما ددې جونګړې پر لور ګام واخیست، نا څاپه مې ولیدل چې زما نوکره موتي په ګډوډو وېښتانو سره په داسې حال کې چې ګوډه ګوډه کېده له جونګړې راووته او ویې ویل، بختوره ده دغه ورځ چې زما بادار بېرته راستون شوی دی.
د موتي په لیدو داسې حیران شوم، چې تصور مې وکړ، دا موتي نه بلکې اروا یې ده، ځکه ما ته ویل شوي ول چې هغه وژل شوې ده.
له هغې مې پوښتنه وکړه، موتي ایا ته ژوندۍ یې؟
موتي څه ونه ویل، پر ځمکه کېناسته او په دواړو لاسونو یې خپل مخ پټ کړ.
هغه ډېره ډنګره شوې وه او پر بدن یې د ښکر د تپ نښه لیدل کېده.
داسې راته معلومه شوه، چې حوصله یې نه درلوده، ما ته د هغو شیانو کیسه وکړي، چې پرې تېر شوي ول او ما هم نه غوښتل چې په ډېرو پوښتنو سره د هغې کړاو نور هم زیات کړم.
د کاپتا پوښتنه مې وکړه، موتي راته وویل کاپتا د کارګرانو او مریيانو په لاس وژل شوی دی، ځکه کله چې یې ولیدل، هغه د آمون عسکرو ته د اوربشو اوبه او شراب ورکوي، دوی غوسه شول او هغه یې وواژه.
خو ما په دې خبرو باور ونه کړ، ځکه را په زړه شول چې کله آتون نسکور او آمون واکمن شو، کاپتا ژوندی و، هغه زما مخه ونیوله، اجازه یې رانه کړه چې د تمساح لکۍ میخانې اور ته ورودانګم او د مریتا او تهوت مړي ترې را وباسم.
دا هغه وخت و، چې د صلیب ټول پلویان کارګران او مریيان له منځه تللي ول، داسې څوک نه و پاتې چې کاپتا ووژني.
له دې وروسته چې زه له طبسه را وتلی وم، که څه هم په ښار کې ګډوډي وه، خو کاپتا

تر دې ډېر هوښيار او چالاک و، چې په ګډوډۍ کې دي، له دې سره سره چې د آمون له ملاتړه يې هم استفاده کولای شوه مړ شوی وي.

کله چې موتي وليدم چې غلی يم او خبرې نه کووم، ناڅاپه غوسه شوه ويې ويل، ايا پوهېږې چې ستا ځېل بالاخره څه نتيجه ورکړه ؟

تا تر وروستۍ ورځې ويل چې آتون به بريالی وي، خو هم هغه او هم تا، دواړو ماتې وخوړه.

اوس ته يو بېوزله سړی يې او باور لرم چې وږی يې او دلته راغلی يې چې له ما څخه يوه ګوله ډوډۍ ترلاسه کړې. پوهېږم چې د ويدېدا لپاره ځای نه لرې، نو غواړې چې په دې جونګړه کې له ما سره څملې.

کله چې سهار راپاڅې له ما به د اوربشو اوبه او کبان وغواړې او که مې ډېر زړ درته را نه وړل نو په سوټي به مې ووهې.

وګوره! ستا او زموږ له ژونده، ستا د ځېل له امله پر دې وراني کنډوالې سربېره بل څه نه دي پاتې شوي.

زه به دلته مړه شم، بې له دې چې کوم قبر ولرم، ځکه چې د قبر د اخيستو توان نه لرم او له دې کبله چې بېوزلې يم نو له مرګه وروسته به مې څوک د مرګ کور ته هم يو نه سي چې مړی مې موميايي کړي.

له دې کبله چې زما مړی بوی و نه کړي نو په قبر کې به يې هم نه ږدي او په نيل کې به مې واچوي.

ما به هم د نورو هغو زرګونو کسانو په شان، چې د تمساحګانو خوراک شول، د نيل ځناور وخوري.

کله چې موتي دغه خبرې کولې، ما ته ژړا راغله، ځکه را په زړه شول چې ځوان وم، زما د ناپوهۍ او بې پروايۍ له امله هغه ښځه او سړی چې ما مور و پلار بلل بې قبره پاتې شول.

ما ددې لپاره چې ځانته د يوې ښځې پام را واړوم، حتی د هغوی قبر هم خرڅ کړ. هغې ښځې په اصل کې له ما سره د مجلس وړتيا هم نه درلوده، خو کله چې يې زه وليدم ځان يې يوه محترمه او وياړمنه مېرمن معرفي کړ.

اوس هم زما نوکره موتي قبر نه لري او که نن ما دا فکر نه وای کړی چې دلته راشم او

هغه وګورم، ممکنه وه چې مړه شي او جنازه يې په نیل کې واچوي، ځکه هغه کس چې نه د جنازې د مومیایي کولو وسیلې لري او نه قبر، نو له مرګ وروسته يې ځای د نیل سیند دی.

کله چې موتي زما ژړا ولیده، غوسه يې سړه شوه او ويې ویل، سینوهه! غم مه کوه لا هم ددې کور تر کنډوالو لاندې لږ غنم شته او د نباتي غوړيو څو منګي هم لرم.

همد اوس به لږ غنم اوړه کړم، تا ته به ډوډۍ پخه کړم، بیا له ځانه سره یوه ډوډۍ وړم او په بدل کې يې د اوربشو اوبه اخلم او تا به موړ کړم.

زه او ته به په ګډه دلته یو وړوکی کور جوړ کړو، چې ته وکړای شې هلته کېنې او خپل طبابت وکړې.

که څه هم خلک بېوزلي شوي او فیس نه شي ورکولای، خو ته په طبابت کې ډېر شهرت لرې، ډېر ناروغان به درته راشي هېڅ غم مه کوه.

که ناروغان تا ته رانه غلل بیا دې هم زه نه پرېږدم، چې ته وږی پاتې شې.

د ورځې له پلوه به د شتمنو کسانو کورنو ته ځم، د هغوی جامې به وینځم او په بدل کې به يې ستا لپاره د اوربشو اوبه راوړم.

خو له تا څخه هم یوه هیله او غوښتنه لرم هغه دا چې له دې وروسته طبس او مصر ته بل خدای مه راوله، ځکه په مصر کې د شته ډېرو خدایانو په وجود موږ څه خیر ولید چې ته یو بل خدای راولې؟

که خدایانو دا وس درلودای چې د بشر کارونه اصلاح کړي، نو هغو زرګونو خدایانو به دغه کار کړی و، چې تر اوسه راغلي دي.

دغه خدای چې تا به ویل تر ده بل ځواکمن خدای نشته. وګوره څومره نا خوالې يې رامنځته کړې او تا ولیدل چې څنګه څو تنو ښکرورو هغه راپرځاوه.

ایا دا لېونتوب نه و، چې دومره وینې وبهول شي او دا بدبختي رامنځته شوې

تا خپله شتمني له لاسه ورکړه او دېوالیه شوې مګر بیا هم همغه پخوانی خدای ایې کوې.

څومره چې پر مریت او تهوت زما زړه خوږېده پر تا مې دومره رحم نه کېږي، ځکه چې ته سړی يې او د ټولو سړیو په شان یو ماشوم او لېونی يې.

یو سړی له دې کبله چې نارینه دی، هېڅکله نه هوښیارېږي او تل به ماشوم او لېونی وي

خو مریت هوښیاره او صابره ښځه وه، پر ما د لور په شان ګرانه وه او تهوت به هره شپه زما پر لمنه ویده کېده.

له دې کبله چې زما او ښکې همغسې بهېدې، نو موتي مجلس بدل کړ او ویې ویل، سینوهه! د وخت په تېرېدا سره هرڅه سمېږي ته به دغه بد مرغی هېرې کړې.

بیا به ستا بدن او غومبوري دومره ډنګر نه وي، ځکه چې زه به د پخوا په شان تا ته ښه خواړه او شراب درکړم او ته به بیرته چاغ او هډورشې.

زه په دې خبرو سره کرار شوم.ومې ویل، موتي! زه ددې لپاره نه یم راغلی چې تا په تکلیف کړم، زه له دې ځایه ځم او ښايي تر ډېرې مودې پورې بیرته رانه شم. زه دلته ددې لپاره راغلم چې هغه کور وګورم چې په سو کالی کې مې پکې ژوند کاوه او ددې کور په مخکې ګنې ونې وګورم چې اوس وچې شوې دي.

ما غوښتل یو ځل بیا د خپل کور انګړ ووینم چې زما زوی تهوت به پکې لوبې کولې، خو اوس ګورم چې د کور انګړ له خاورو او لوټو ډک دی.

تا وویل چې زه دیوالیه شوی یم.

دا دې سمه خبره وکړه، ځکه چې ما خپل شته له لاسه ورکړي، خو لا هم دومره شتمني لرم چې ستا لپاره هم څه نا څه فلزات را واستوم، چې د ځان لپاره شیان پرې واخلې او که دې زړه غواړي، نو دغه ځای جوړ کړه او ژوند پکې کوه.

زه ستا په خبرو خپه شوی نه یم او په دې هم پوهېږم چې ستا ژبه د غومبسې د لشې په شان تېره ده، خو ستا روح د مینې او محبت زانګو ده، نو اوس له تا سره خدای پاماني کووم او نن یا سبا به درته فلز راولېږم.

موتي وژړل، پر سر یې خاورې باد کړې او ویې ویل، زه دې نه پرېږدم چې لاړ شې، ځکه ستا له سترګو داسې ښکاري چې ته وږی یې او باید ډوډۍ درته پخه کړم، چې ویې وخورې او ځواکمن شې.

ددې لپاره چې موتي خپه نه شي زه هم پاتې شوم، هغې راته ډوډۍ پخه کړه او زما په مخکې یې کېښوده.

خو ما اشتها نه درلوده، ځکه چې د تهوت او مریت فکرونو د ډوډۍ اشتها راځخه اخیستې وه.

موتي ویل سینوهه! وخوره .... وخوره چې ځواکمن شې.... زما د ډوډۍ مزه یاد ساته،

خکه چې زه اټکل کووم، له تېرو ټولو کړاونو سره سره به بيا هم پر ځان نوري ناخوالې راولې.

خو هغه وکړه چې ډېر ژر بېرته راستون شې، زه به ستا د راتګ په تمه يم او که زما د قبر د اخيستو مسله حل شوه، نور به د راتلونکي لپاره اند ښنه ونه لرم.

ځکه زه لا جسما پياوړې يم او د شتمنو د کاليو په وينځلو او ډوډۍ پخولو باندې به خپله ګوزاره وکړم.

پر دې ورځ زه تر ماښامه د دې جونګړې تر څنګ له موتي سره وم. ډېر غمجن وم او له ځان سره مې وويل، کله چې مې موتي ته فلز ورکړل نور به بيا دې کنډوالې ته نه راځم، ځکه چې د دې کنډوالو په ليدو مې اروا غمجنه کېږي او ځان به تر نورو بدبخت او خوار ګڼم.

تر لمر لوېدو مخکې د پاچاهۍ زريني ماڼۍ ته لاړم، له هغه ځايه مې لږ فلز راوړل او موتي ته مې ورکړل.

بيا مې له موتي سره خداى پاماني وکړه او ومې ويل، خپل ژوند داسې برابر کړه چې ته وا له دې وروسته به هېڅکله ما ونه وينې، خو کله چې فرصت پيدا شو زه به درته راشم.

کله چې له دې ځايه ستون شوم ومې ليدل، چې د طبس د ښار ځينې برخې په مشالونو سره روښانه شوې او په ځينو کوڅو کې د موسيقۍ غږونه اورېدل کېږي.

زه پوه شوم چې دغه ورځ د توت آنخ آمون د تاج پر سرولو ورځ ده او خلک د هغه لپاره خوشحالي کوي.

شپږ څلوېښتم څپرکی

د جنګ د الهې (سخ مت)
د معبد پرانیستل

پر همدې شپه چې طبس د نوي فرعون د تاج پوشۍ لپاره په مشالونو روښانه شوی و او موسيقۍ پکې غږېدلې، کاهنانو د مشالونو په رڼا کې د جنګ د الهې (سخ مت) په معبد کې کار کاوه.

دغه معبد له تېرو څلوېښتو کلونو راهيسې تړلی و. کاهنانو يې وحشي بوټي شکول، د جنګ الهې ته يې د سره کتان جامې وراغوستلې او د جنګ او پرځېدا نښې نښانې يې پرې تومبلې.

څکه چې آمي هورم هب ته ويلي و، اې د باز زويه! (هورم هب په ماشومتون او ځواني کې تل له ځان سره يو باز ساته او باز به دده پر سر الوت. هورم هب به ويل، زه د باز زوی يم) نغارې ووهه او جنګ پيل کړه، چې د مصر ملت په جنګ کې د ښکېلېدا له امله خپلې ټولې بدبختۍ او له دې ډلې څخه د درواغجن فرعون کيسه هېره کړي.

جنګ پيل کړه چې دغه خلک ددې فرصت پيدا نه کړي، چې پر نورو شيانو فکر وکړي او له لوږې مړه شي.

هورم هبه! په جنګ کې ځان نعمتونو ته ورنږدې کړه، چې مېرمن باکتامون، د ډېر شوق او خوښۍ له کبله ستا پر لور درشي او موافقه وکړي چې له تا سره واده وکړي.

له همدې امله هورم هب د آمي او نورو کاهنانو له موافقې وروسته امر وکړ، چې د جنګ د الهې معبد پرانيزي. دا کار يې څکه کاوه چې وکړای شي پر بله ورځ نوموړي معبد ته ورشي او د جنګ له الهې سخ مت څخه مرسته وغواړي چې سر يې د زمري او بدن يې د ښځې دی.

په داسې حال کې چې نوي فرعون له خپلې مېرمنې سره يو ځای د نانځکو په وسيله د

مرېيو د ښخولو لوبه کوله، د طبس په معبدکې د اخناتون نوم له منځه وړل کېده او د توت انخ امون نوم يې پر ځای ليکه. که څه هم فرعون توت انخ امون و خو هېواد آمي اداره کاوه، ماليه يې اخيستله او سلطنتي ځمکه به يې هر هغه چاته ورکوله چې د ده زړه غوښتل.

د آمون کاهنان د برياليتوب له امله له ډېره کبره په کاليو کې نه ځايېدل، ځکه چې ناڅاپه يې ټوله هغه شتمني تر لاسه کړه، چې پخوا يې له لاسه ورکړې وه.

هورم هب هم غوښتل، چې د سيالی په ډګر کې له نورو وروسته پاتې نه شي او د هغه نوم مشهور شي.

دغه راز خلک بايد پوه شي چې د باززوی له دې وروسته د مصر يو اصلي چارواکی دی.

له همدې امله پر بله ورځ د مصر په واټونو او چوکونو کې د هورم هب د عسکرو نغارو انګازې وکړې.

جارچيانو به اعلانونه کول چې نن د سخ مت د معبد مسي دروازه پرانيستل کېږي، هورم هب له خپلو يو شمېر عسکرو سره نوموړي معبد ته ځي او د سخ مت لپاره قرباني کوي.

پر دې ورځ هورم هب ما ته ووېل، چې د ننداري لپاره معبد ته لاړ شم او زه متوجه شوم، چې هغه غوښتل خپل قدرت ماته وښيي.

دا خبره بايد وکړم، هورم هب، له دې سره سره چې پوهېده د مصر په ملت کې به ډېر مشهور شي، خو له ډېرو تشريفاتو او تجملاتو يې کار نه واخيستی.

خپل اسونه او جنګي ګاډی يې د شتر مرغ په بڼکو نه وې سينګار کړې او د جنګي ګاډيو ارابې يې په زرينو پوښونو سره نه وې ښکلې کړې.

يوازې يې دوه لوی لرونه چې د جنګونو پر وخت يې په ګاډيو کې لګوي، دا ځل هم په ګاډيو پورې وتړل.

د هغه په ګاډی پسې نېزه لرونکي عسکر روان ول او د هغوی پوځي پرېډ پر هغه واټ انګازې کولې، چې په کاڼو پوښل شوی و.

له نېزه لرونکو عسکرو وروسته تورپوستي عسکر راغلل او ددې لپاره چې خپل پوځي ګامونه يو شان کړي، داسې ډولونه يې غږول چې د انسان پوستکي يې پرې غوړولي وو.

خلک ترهېدلي ول او د هورم هب عسکرو ته یې هک پک کتل، چې له ډېر مرېښته یې مخونه ځلېدل او پوهېدل چې د دوی برخه خواره هم عسکر خوري.
کله چې هورم هب د معبد په مخکې ودرېد او پر ځمکه یې ګام کېښود، نو خلکو د هغه لوړ قد او پراخه سینه ولیده.
ماته په مبهم ډول دا احساس پیدا شو، چې د هغوی بدبختي لا نه ده ختمه شوې او لا هم پر خپل حال پاتې ده.
هورم هب له خپلو قوماندانانو سره یو ځای معبد ته ننوت او کاهنانو په داسې حال کې د هغه هرکلی وکړ چې لاسونه یې په وینو سره کړي ول.
د مصر له بوډاګانو پرته چې مخکې یې دغه مراسم لیدلي ول، زه او زما په څېر ډېر نور نه پوهېدل، چې د جنګ د الهې معبد څنګه پرانیستل کېږي، نو چې کله مې د معبد د کاهنانو په وینو ککړ لاسونه ولیدل حیران شوم.
بیا مې ولیدل چې کاهنانو هورم هب د سخ مت د مجسمې پر لور بوت.
سخ مت هغه الهه وه، چې د زمري په شان سر او د ښځې په شان سینې او تیونه یې درلودل. په دې ورځ یې د هغې ارغواني جامې په وینو سرې کړې او لندې کړې وې.
د معبد هغه برخه چې د سخ مت مجسمه پکې ولاړه وه، سمه روښانه نه وه، او داسې ښکارېده چې هورم هب هڅه کوي سخ مت په رڼو سترګو وګوري.
کاهنانو د مجسمې په مخکې هورم هب ته درې زړونه په لاس کې ورکړل او هغه ته یې وویل، چې هغه د محراب په مخکې ټینګ کړي. ما په لومړي سر کې فکر وکړ چې دا به د سخوندر یا پسه زړونه وي، خو کله چې ښه ځیر شوم ومې لیدل چې د انسان زړونه دي.
کله چې هورم هب د انسان زړونه په منګولو کې پر محراب ټینګ کړل، له زړونو څخه وینه راووتله.
په دې وخت کې کاهنان د هورم هب او مجسمې پر شاوخوا ګډېدل، په وینو سرې چړې یې پر خپلو تندیو وهلې. له سر او تندیو یې وینې بهېدلې او پر سپینو روحاني جامو یې تویېدلې.
دغه منظره ډېر بوږنونکې وه او په کورنیو جنګونو کې د طبس د عام وژنې په شان حالت یې رامنځته کړ.
کاهنانو په ډله ییزه توګه د نڅا پر وخت دغه ذکر لوست: ((اې هورم هب، د باز زویه! له

جنګه بریالی راستون شه، چې سخ مت له خپل ځایه راکوزه شي او تا لوخ په غبږ کې ونیسي.))
کله چې هورم هب د انسانو ګرم زړونه، د محراب پر سر په منګولو کې ټینګ کړل او وینه یې ترې وبهوله، بیا له مجسمې او محرابه لرې شو.
کاهنانو په نڅا سره په داسې حال کې چې مخ او جامې یې سرې شوې وې، هغه بدرګه کړ.
هورم هب له معبده ووت، پخپله ګاډۍ کې سپور شو، بیا یې د مصر ملت ته مخ واړاوه، خپل دواړه لاسونه یې خلکو ته وروښودل او په لوړ غږ یې وویل: ((اې د مصر ملته! غوږ ونیسه او زما خبره ښه واوره، زه هورم هب د باز زوی یم، چې د مصر بریالیتوب مې په لاس کې دی. له ټولو هغو کسانو سره چې له ما سره په سپېڅلي جنګ کې ګډون کوي ژمنه کووم، چې هغوی ته به تلپاتې ویاړ ور په برخه شي.
همدا اوس په سینا صحرا کې د هاتي جنګي ګاډیو حرکت پیل کړی او مخکینی ځواک یې په کوز مصر کې په لوټما را او وژنو بوخت دی. مصر هېڅکله داسې خطره نه وه لیدلې او د دغه خطر په پرتله چې نن سبا مصر ګواښي، په پخوا وخت کې پر مصر د هیک سوس د قبایلو یرغل بې اهیمته دی.
د هاتي لښکرې مصر ته را رسېدلې دي او تاسې نه پوهېږئ چې هغوی څومره بې رحمه دي او څه ډول به د مصر د ملت ریښې وچې کړي.
کله چې د هاتي عسکر هر ښار ته ورسېږي هغه به وران کړي، ټولې ښځې او نجونې به اسیرانې او د ځان وینځې کړي.
ټول پاتې نارینه به ړانده کړي چې وکړای شي په ژرندو کې ترې کار واخلي او یا د غوړیو په کارخانو کې پرې ژرندې وګرځوي.
ټول ځوان هلکان به اسیران کړي او د مریيانو په بازار کې به یې خرڅ کړي.
چیرته چې د هاتي د عسکرو ګاډۍ ورسېږي تر یوه نړیوال کاله به *(۲۷ زره کاله ژباړن)* هلته بوټي زرغونه نه شي، له نمدې امله زه اعلان کووم چې باید د دغه بېرحمه دښمن پر وړاندې دغه سپېڅلی جنګ پیل شي.
د غه سپېڅلی جهاد هغه جنګ دی، چې موږ یې د خپلو ښځو، بچیانو، لونو او هوښیارو نارینه وو او د خپلو خدایانو د ساتلو لپاره پیلوو.
زه تاسې ته داډ درکووم، چې که پخپله خوښه دغه جنګ ته لاړ شئ، نو نه یوازې دا چې

د هاتي عسکرو ته به ماتې ورکړو، بلکې سوريه به هم بيرته ترې ونيسو.
د پخوا په شان به هر مصري له مصر سره د سوريې له يو ځاى کېدا ګڼه واخلي او د هر مصري کور به د پخوا په شان له غنمو او د اوربشو له اوبو ډک شي.
اې د مصر ملته! د کمزورتيا او خوارى يوه اوږده پړاو خپلې سپېرې اغېزې پرېښودې او د مصر د ښمنان نور هم سپين ستر ګي شول.
دوى له موږ څخه نه يوازې سوريه ونيوه، بلکې اوس نيت لري چې توره خاوره او زموږ خدايان هم را څخه واخلي.
دوى غوارې د آمون او نورو خدايانو کورونه وران کړي او په نيل سيند کې د اوبو پر ځاى وينه وبهوي.
ترازو (ساعت ژبارن) وايي چې د پاڅېدا، روانېدا او د وينې د بهېدا وخت دى.
هر څوک چې پخپله خوښه له ما سره روان شي، يو کندو ډک غنم به ترلاسه کړي او په جنګي غنيمتونو کې به شريک شي.
که کوم سړى ونه غواړي چې له ما سره په جنګ کې برخه واخلي، زه به يې په زور د بارونو د لېږدولو لپاره له ځان سره بوځم او که هغوى و غواړي يا ونه غواړي په جنګ کې به برخه اخلي.
دوى ته به بيا نه يو کندو غنم ورکول کېږي او نه به په راتلونکې کې جنګي غنيمتونه ورکړاى شي.
د غه راز به د جنګ په اوږدو کې پر پنډيتوب سربېره زموږ د عسکرو سپکې سپورې هم اوري.
زه هيله کووم، هر مصري نارينه چې توره يا نېزه چلولاى شي، بايد حرکت وکړي او له ما سره د جنګ ډګر ته لاړ شي.
اوس موږ د هغو کسانو د ځېل، سستى او غفلت له امله چې مخکې يې په مصر کې حکومت کاوه، هيڅ هم نه لرو.
کاختي لکه وږې تمساح په موږ پسې ده، خو که بريالي شوو، ددې سبب به شي چې غنم، اوربشې او پرېمانه فلزات ولرو.
هر څوک چې په دې جنګ کې ووژل شي نېغ په نېغه به لوېديزې نړۍ ته ځي او د مصر خدايان به يې تر قيامته پورې ملاتړ کوي.

هر څوک چې ژوندي پاتې شي، زموږ د ګټو او بریالیتوبونو شریکان به وي. خو د بریالیتوب لپاره باید ډېره سربښندنه وکړو.

د شاهین زوی هورم هب وايي، اې د مصر مېړمنو! د غشو لپاره لیندۍ جوړې کړئ او که د بوټو تارونه او د حیواناتو کولمې نه لرئ له خپلو زلفو او وېښتانو څخه لیندۍ جوړې کړئ.

اې د مصر مېړمنو! خپل مېړونه او بچیان د جنګ ډګر ته واستوئ.

او تاسو اې د مصر نارینه وو! هر ډول فلز چې لرئ نېزې او غشي ترې جوړ کړئ او له ما سره لاړ شئ، چې زه مو په داسې جنګ کې شریکان کړم چې لا یې په نړۍ کې ساری نه دی لیدل شوی.

هورهب وايي! په دې جنګ کې ستر فرعونان او ټول خدایان په تېره بیا آمون زموږ ملاتړي دي او موږ به د هاتي لښکرې داسې وځپو، چې د تېښتې پر وخت د مخ ګرځولو جرئت ونه کړي.

موږ به یې تعقیب کړو او د سینا او سوریې ځمکه به د هغوی په وینو سره کړو، چې په وینې سره د مصر حیا بیرته واخلو او بې غیرتۍ یې وو ینځو ...

اې د مصر ملته! غوږ ونیسئ ... د باز د زوی، د راتلونکي جنګ د فاتح او هورم هب خبرې خلاصې شوې))

کله چې د هورم هب خبرې خلاصې شوې، خپل په وینو سره لاسونه یې ښکته کړل او بیا نغارې ووهل شوې.

عسکرو خپلې نیزې په زغرو ووهلې او پښې یې کلکې پر ځمکې ودربولې.

خلکو له ډېره هیجانه چیغې کړې او هورم هب په موسکا د خپلې ګاډۍ چلوونکي ته وویل، چې روان شي.

عسکرو یې د خلکو په ټولي کې هغه ته لار پرانستله، خو خلکو همغه راز نارې وهلې.

زه په همدې ورځ پوه شوم چې د یوه ملت دله ییزه خوشحالي په دې کې ده، چې په ګډه چیغې ووهي.

بې له دې چې دلچسپي ولري، ولې نارې وهي او د نارو په وخت کې څه وايي؟

ددې خبرې لامل دا دی چې کله یوه ډله په ګډه نارې وهي، ځان مضبوط او پیاوړی احساسوي او تصور کوي چې د یوه سپېڅلي، ګډ او مشروع هدف لپاره نارې وهي.

هورم هب د نيل پر لوري لاړ، چې پخپله بېړۍ کې سپور شي او د کوز مصر پر لوري روان شي.

دی پوهېده چې هلته يې شتون ضروري دی، ځکه د هاتي لښکرې تانيس ته رسېدلې وې

زه چې پوهېدم هورم هب به په بېړۍ کې له سپېريدا وروسته سمدستي روان شي، هغه ته ورغلم او ومې ويل، اخناتون فرعون چې زه يې خاص ډاکټر او سر سوری کوونکی وم، مړ شو، نور سرسوري کوونکي ته اړتيا نه لري، نو زه ازاد شوی يم او چېرته چې مې زړه وغواړي هلته تللی شم.

له بلې خوا زه نه غواړم چې نور په طبس کې پاتې شم، ځکه چې له دې وروسته په طبس کې هېڅ شی ما نه شي خوشحالولی.

له همدې امله غواړم له تا سره لاړ شم، په جنګ کې برخه واخلم او وګورم، له هغه جنګه وروسته چې ته يې له کلونو راهيسې پيلوې، د مصر ملت ستا له بريالیتوبه څه استفاده کولای شي.

هورم هب وويل، زه په جنګ کې ستا ګډون نيک شګون بولم، ځکه چې تمه مې نه کوله، ته به خپلې سوکالۍ ته شا کړې

که څه هم د جنګ په ډګر کې د دښمن د عسکرو د شړلو لپاره ته څه نه شې کولای، توره او نېزه نه شې چلولای، خو تکړه ډاکټر يې.

زه ستا له طبابته استفاده کولای شم او تصور کووم چې ستا طبي معلومات زما لپاره ګټور ثابتېدلی شي.

خو په دې پوه شه چې د هاتي عسکر ډېر بې رحمه دي او د جنګ په ډګر کې ممکن تا ووژني.

ومې ويل هورم هبه! ما د هغوی هېواد ليدلی دی او د دوی بې رحمي مې د هغوی په هېواد کې د ننه ليدلې ده، خو د هاتي له عسکرو نه وېرېږم، ځکه کله چې يو څوک په ژوند کې د خوشحالۍ هيله نه شي کولای هغه نه ډارېږي.

هورم هب وويل، زما سپاهيان په حقه وو، چې تا ته يې د خبيريانو په جنګ کې ابن الحمار لقب درکړ، ځکه چې د اوږد غوږي په شان يې، نه ډارېږې.

په دې وخت کې ماښوګانو خپل اوږده پاروګان وخوځول، بېړۍ روانه شوه او په ساحل کې راټولو شويو کسانو شور او زوږ جوړ کړ.

هورم هب هغوی ته وکتل او ژوره ساه يې واخيستله، بيا يې وويل، هغه خبرې چې ما مخکې پخپله وينا کې وکړې، پر دوی يې ښه اغېز کړی دی..

بيا د خپلې کوټې پر لوري روان شو او ويې ويل غواړم، خپل ګکړ لاسونه ووينځم.

له دې وروسته چې خپل لاسونه يې په کوټه کې ووينځل بيا يې بوی کړل او ويې ويل، زما له لاسونو د وينې بوی لټېده او تر دې مخکې چې زه د سخ مت معبد ته لاړ شم، نه پوهېدم چې کاهنان نن څوک قرباني کوي؟

د هغوی دغه کار هم سم و، ځکه چې له ټلو ښتو کلونو راهيسې د هغوی د معبد دروازه نه وه خلاصه شوې او هيله يې کوله چې د معبد د دروازې له پرانيستلو وروسته د جنګ د الهې لپاره په زړه پورې قرباني وکړي.

له همدې امله يې د معبد د دروازو تر خلاصولو مخکې له ما وغوښتل چې د هاتي او سوريې څو تنه اسيران هغوی ته وسپارم.

کله چې مې واورېدل کاهنانو پر دې ورځ څو تنه د سخ مت لپاره قرباني کړي دي، زما زنګنونه ورېږدېدل.

که څه هم ما په معبد کې د انسان زړونه وليدل، چې هورم هب ته يې ورکړل چې پر محراب يې ټينګ کړي او وينه يې بهر راوځي. خو له ځان سره مې فکر کاوه او ځان ته مې داډ ورکاوه چې د انسان زړونه ښايي په داسې ډول چې زه به ترې خبر نه يم کاهنانو ته رسېدلي وي.

خو د هورم هب خبرو زما شکونه لرې کړل او پوه شوم چې د سخ مت کاهنانو د هاتي او سوريې اسيران، په معبد کې وژلي او زړونه يې هورم هب ته ورکړي چې وينه يې د جنګ الهې ته ډالۍ کړي.

هورم هب وويل، کله چې کاهنانو ماته وويل چې څو تنه اسيران ورکړم، نه پوهېدم چې هدف يې څه دی؟ خو کله چې مې د محراب په مخکې د هغوی زړونه وليدل حيران شوم.

خو بيا هم که سخ مت په دې قربانۍ راضي وي او له مونږ سره مرسته وکړي، نو زه دې پېښې ته چنداني توجه نه کووم. ځکه اوس مونږ د ټولو خدايانو مرستې ته اړتيا لرو، هغه که نرينه دي يا ښځينه

خو په دې هم پوه شه چې زما لپاره د يوه زړور عسکر په لاسونو کې يوه خوځېدونکې نېزه او تېره توره له ټولو نارينه او ښځينه خدايانو څخه ډېر برکتونه او ارزښت لري.

ددې قرباني ارزښت په دې کې دی، چې کاهنان راضي شوي او نور به مونږ په کراره پرېږدي.

کله چې زه د جنګ ډګر ته ځم، د جنګ د جبهې له شا څخه به ډاډه یم او په دې پوهېږم چې، د معبد کاهنان به نه خلک پاروي او نه به ستونزې راټوکوي

ما هورم هب ته وویل، هغه خبرې چې هغه په اورشلیم کې خپلو عسکر ته وکړې، زما په نظر تر هغو خبرو ښې وې، چې نن یې د مصر ملت ته وکړې.

هورم هب وویل هغه خبرې چې د جنګ په ډګر کې د عسکرو لپاره کېږي له هغو خبرو سره باید ډېر توپیر ولري چې یوه ملت ته کېږي، ځکه چې عسکر په تشو خبرو او وعدو نه شو غولولای، په داسې حال کې چې ملت احمق دی او د هر ملت فطري ځانګړتیا همدا حماقت وي په ډېرو ښکلو او غوره جملو چې زرګونه یې د یوې ټنګې ارزښت نه لري، غولېږي، اهمیت ورکوي او تصور کوي چې په دې جملو سره نړۍ بدلولی شي.

ددې لپاره چې پوه شې، یو ملت څومره احمق دی، یو شاهد درته وړاندې کووم او دلیل یې هم همدغه وینا ده، چې ما نن وکړه.

دغه وینا ،هغې وینا ته ورته ده، چې د نړۍ له پیله تر ننه پورې ټولو جنګي مشرانو او خطیبانو د جنګ په پیل کې کړې ده او هېڅ نوی شی پکې نه و.

خو ډاډ درکووم چې زما دغه وینا به په ډېره ولیکي او د راتلونکو نسلونو لپاره به پاتې شي، ځکه چې د مصر ملت داسې فکر کوي، چې دغه خبرې مخکې چا نه دي کړې.

ما پخپله وینا کې وویل، چې دغه جنګ سپېڅلی دی، چې غواړو یرغلګر پرې وشړو.

د نړۍ له پیله تر ننه پورې چې کله چا غوښتي جنګ پیل کړي، همدا خبره یې کړې ده او په نړۍ کې داسې هېڅ جنګ نشته چې د سپېڅلتیا اړخ و نه لري.

ما وویل زمونږ هدف باید دا وي چې یرغلګر په شا وتمبوو او اجازه ورنه کړو، چې توره خاوره د هغوی لاس ته ور شي.

ددې لپاره چې ملت وډاروم، نو د هاتي خطر مې تر هغه ډېر وښود چې اوس دی.

زه نه وایم چې د هاتي د شړلو نیت نه لرم، هغه خبرې چې ما وکړې سمې وې، خو د هاتي شړل زما وروستی هدف نه دی، بلکې اصلي هدف او موخې ته د رسېدا لپاره دا کار راته یوه وسیله ده.

زما هدف دا دی چې بریالیتوب تر لاسه کړم او وویاړم، ځکه چې خپله قوماندانې

ثابته کړم او بیا مېرمن باکتامون په غېږ کې ونیسم.

زما اصلي هدف دا دی چې د زرګونو مصري او هاتي عسکرو په وژلو سره لوړتیا او ویاړ ترلاسه کړم. ملت ما ته د یوه خدای په سترګه وګوري او هېڅکله یوه شهزادګۍ له ما سره له واده کولو ډډه ونه کړي. بلکې په اپوته پر دې وویاړي چې زه یې ورور شم.

ما وویل دغه جنګ له مصره د دښمن د ایستلو لپاره یو دفاعي او سپېڅلی جنګ دی.

هغه وویل. خو له دې وروسته چې هاتي مې شاتګ ته اړ کړ، سوریه به ونیسم.

له سوریې وروسته که وکړای شم ټوله نړۍ به ونیسم. په ... وخت کې به د دغو جنګونو نوم سپېڅلي جنګونه کېږدم او ملت د فطري حماقت له امله ... پوره باور کوي.

په جنګ کې د خدایانو په مرسته باور نه لرم. ځکه چې خدایان نه شي کولای چې ځان وساتي. دا خو لا پرېږده چې په جنګ کې له موږ سره مرسته وکړي.

خو نن مې د مصر د ملت پر وړاندې پخپله وینا کې، په جنګ کې د بریالیتوب لپاره له خدایانو مرسته وغوښته. ځکه چې پوهېږم د مصر ملت ساده او کم عقل دی او ددې خبرو په اورېدو سره خوشحالېږي.

دوی فکر کوي چې خدایان به له موږ سره مرسته وکړي. د هغوی مرسته به پر جنګ اغېز وکړي. په تېره بیا دا چې له ما خوشالېږي. ځکه تصور کوي زه هم د هغوی په شان احمق او کم عقل یم. چې د خدایانو مرستې ته هیله وکړم.

ما نن پخپله وینا کې د راتلونکو ستونزو په هکله چې په دې جنګ کې یې عسکر زغمي خبرې ونه کړې. ځکه چې د جنګ ستونزې او مشکلات د لمر ختو او لوېدو په شان دي.

کله چې یې وخت را ورسېږي پخپله پیدا کېږي او دا اړتیا نشته چې تر هغه مخکې خلک له دې ووېروم چې بیا عسکر شي.

نن ما خپل یو شمېر کسان د خلکو په منځ کې درولي ول. چې د خوشحالۍ نارې وکړي او زما لپاره شور او زوږ جوړ کړي.

دغه کار ټولو هغو کسانو کړی. چې تر دې مخکې یې د خلکو لپاره ویناوې کړي دي. ځکه چې ملت دومره ساده او بې شعوره دی چې نه پوهېږي هغه خبرې چې دوی اورېدلې دي سمې دي که نه؟

بله خبره داده چې یو شمېر داسې کسان باید وي. چې د خوشحالۍ نارې وکړي چې نور د خبرې پر ښېګنو یا بدیو باندې. له پوهېدا پرته د هغوی تقلید وکړي.

سینوهه ! ته چې په دې وخت کې یو اورېدونکی یې فکر کوې، ټول هغه کسان چې زما خبرې یې اورېدلې دي، زما پلویان دي او زما لپاره به هر ډول فداکاري، ته تیا ر وی؟

ومې ویل هورم هبه ! ته چې وایې د خدایانو په قدرت عقیده نه لرې.... ته چې وایې د سپېڅلي جنګ کلیمه هغه عنوان دی، چې تل کارېدلی دی او نوی شی نه دی... ته چې وایې یو ملت احمق او بې شعوره دی...ایا په نړۍ کې داسې شی شته چې ته پرې عقیده ولرې؟

هورم هب وخندل او ویې ویل، ته ډېر ساده سړی یې ګڼي دغه پوښتنه دې له مانه کوله، ځکه ته پخپله پوهېږې، چې زه په څه شي عقیده لرم.

سینوهه په دې حقیقت پوه شه چې د نړۍ له پیله تر اوسه پورې او تر هغه وخته چې دا نړۍ وي، دغه خبره په یاد ولره چې یو فرعون.. یا یو هورم هب .. یا یو آمي، یا یو هري بور په کلي توګه هر هغه کس چې قدرت ویاړ او شتمني لري یوازې پر یوه شي عقیده لري او هغه هم په قدرت ،ویاړ،او شتمنۍ.

کله چې یو فرعون، یا آمي چې مقام او شتمني لري تا ته ووایي چې په خدایانو عقیده لرم، پوه شه چې دروغ وایي.

که تا ته ووایي چې پر ملت عقیده لري، پو شه چې ستا د غولولو نیت لري او که درته ووایي چې په هېواد او توره خاوره باور او عقیده لري، پوه شه چې هدف یې، ستا له سادګۍ او ناپوهۍ څخه د شتمنۍ او قدرت د زیاتېدا لپاره کار اخیستل دي

یو فرعون یا هورم هب له قدرت، شتمنۍ او ویاړ کولو پرته په بل شيء عقیده نه لري. آمي او هري بور هم همداسې دي او هر شی چې ووایي یا یې وکړي د قدرت، شتمنۍ او ویاړ د ساتلو یا ترلاسه کولو لپاره یې کوي.

خو یو فرعون یا آمي مجبور دی، د شتمنۍ او قدرت د ساتلو او زیاتولو لپاره داسې وښیي چې پر خدایانو عقیده لري، د مصر په ملت باوري دی او توره خاوره د هغوی لپاره د نړۍ تر ټولو سپېڅلې خاوره ده.

هغوی مجبور دي، داسې وښیي چې ګڼي ټول کال د مصر د ملت لپاره کړاو زغمي او هېڅکله نه ویدېږي.

په ډوډۍ ،شرابو او د اوربشو په اوبو کې، سپما کوي، چې داسې نه شي، د دې ملت یو وګړی کوم وخت وږی پاتې شي.

په ځوانۍ کې چې لا یې د قدرت او شتمنۍ خوند نه وي څکلی ښایي داسې کسان هم

وي چې له ځانه پرته په نورو شیانو هم عقیده ولري.

خو کله چې په عمر پاخه شول او پوه شول چې قدرت او شتمني کوم خوند لري، غرور او شهوت انسان ارام وي، نو له ځانه پرته پر هر شي باندې عقیده له لاسه ورکوي

کله چې زه ځوان وم له ځانه پرته مې په دوو شیانو عقیده درلوده، یو پخپل باز او بل په دوستۍ باوري وم. خو نن سبا چې په عمر پوخ یم له ځانه پرته په هیڅ شي عقیده نه لرم او پوهېږم، هرڅه چې کووم باید د شتمنۍ او ویاړونو د زیاتولو لپاره یې وکړم.

هرډول دوستي زما په نظر د قدرت او شتمنۍ د زیاتولو لپاره یوه وسیله ده او حتي ښځه هم را باندې نه شي ګرانېدای.

زه باکتامون هم ددې لپاره غواړم چې تفریح ورسره وکړم او خپل قدرت او ویاړ پرې زیات کړم.

سینوهه! دغه خبره چې ما درته وکړه، که فرعون یا بل هرڅوک وي، خو چې قدرت او شتمني ولري او درواغ ونه وایي، نو هم دغه خبره به درته وکړي.

دغسې هر سړی به درته ووایي چې زه ځان د هر شي په مرکز او چورلیز کې ګورم او باوري یم چې د مصر هېواد او ملت زه پخپله یم.

زه ددې لپاره د مصر لوړاوی غواړم، چې ځان لوی او ستر کړم. ځکه د ځان د لویولو لپاره بله لاره نه لرم.

باید داسې ملت وي چې پر هغه زما تسلط او قبضه نور هم وګوري او د هغه فلز او نباتي غوړي ترلاسه کړم. په هغه څه چې له ملته یې اخلم یو شمېر کسان اجیران کړم، چې تل زما ښېګڼې بیا ن کړي، په لوړ غږ زما صفت وکړي چې ملت پوه شي یوازې زه دغه ځانګړتیاوې لرم.

دغو خبرو پر ما اغېز ونه کړ او ښایي له دې امله یې اغېز نه وي کړی، چې ما په ځوانۍ کې هورم هب لیدلی و. بیا مې د هغه مور و پلار هم ولیدل او متوجه شوم چې که څه هم هورم هب هغوی په اشرافو کې راوستي ول، خو د خوشیو بدبوی ترې لتېده.

دغه ډول خبرې د هورم هب په شان د یو چا له خولې راته بې انډوله ښکارېدې، فکر مې کاوه چې که یو اشرف زاده او فرعون دغه ډول خبرې وکړي، ښایي له هغه سره خوند وکړي، خو د هورم هب په شان سړي له خولې دغه ډول خبرې، غورو او چټیاتو ته ورته ښکارېدې

اوه څلوېښتم څپرکی

سپېڅلی جنګ یا د مصر او هاتي

تر منځ جنګ

موږ چې ممفیس ته ورسېدو ، هورم هب له اشرافو او شتمنو کسانو وغوښتل چې سره راټول شي.

هغوی، چې راغلل هورم هب ورته وویل، تاسې شتمن یاست او زه یو بېوزله کس یم.

په کومه ورځ چې وزېږېدم نو د ګوتو په منځ کې مې د څارویو غوندې خوشایي نښتي ول ،آمون پر ما برکت پېرزو کړ، زه یې لوی سړی کړم.

اوس فرعون ماته حکم کوي، چې د وینې زبېښونکي او بې رحمه دښمن مخه ونیسم، چې د مصر پر لور روان دی.

زه دلته راغلم په ډېرې خوشحالۍ سره مې واورېدل چې تاسې خپلو کروندګرو او مریيانو ته ویلي چې، جنګ پیل شوی او تاسې باید سربښندنه او سپما وکړئ.

ښه مو کړي چې د خپلو مریيانو او کروندګرو خواړه مو ورکم کړي او په دې ښار کې مو د خپلو محصولاتو بیه لوړه کړې ده.

زه ستاسې له دغې سربښندنې راضي او خوشاله یم.

تاسې پوهېږئ چې جنګ یو لړ لګښتونه لري، چې تر ټولو مهم یې وسله او د عسکرو خواړه دي.

زه، چې دلته راغلم ددې ځای له مامورینو څخه مې ستاسې د مالیاتو اندازه معلومه کړه.

پر دې سربېره مې ستاسې د شتمنۍ په هکله نور معلومات هم ترلاسه کړل.

زه پوهېږم چې تاسې د درواغجن فرعون په وخت کې خپله یوه اندازه شتمني پټه کړې وه، چې مالیه درباندې رانه شي.

اوس د رښتوني فرعون وخت دی او هغه د آمون په نوم پاچاهي کوي، نو تاسي باید خپله شتمني پټه نه کړئ، بلکې په ډېرې خوشحالۍ سره باید د مصر د دفاع لپاره خپله شتمني ورکړئ.

له همدې امله باید تاسې ډېر ژر د خپلې شتمنۍ نیمه برخه ماته راکړئ.

هر شی راکولای شئ، که هغه سره یا سپین وي، غنم، پسونه، غواګانې او یا هم د جنګي ګاډیو د ترلو لپاره اسونه وي.

کله چې د هورم هب خبرې خلاصې شوې، ناڅاپه د اشرافانو او خانانو شور ماشور شو.

هغوی خپلې جامې څیرې کړې او هغو کسانو چې ډېر و ښتان یې درلودل، منګولې یې پکې خښې کړې او خپل و ښتان یې وشکول.

دوی په ژړا ویل، موږ هېڅ هم نه لرو، درواغجن فرعون او د هغه خدای هر څه راڅخه اخیستي دي او موږ بېوزلي شوي یو.

هغه کسان چې وایي موږ خپله شتمني پټه کړې ده، درواغ وایي.

د زاریو او نارو سورو تر ختمېدو وروسته هورم هب وویل، د درواغجن فرعون د پاچاهۍ په دوره کې ما پخپله ولیدل چې هېڅ ستاسې د غنمو یو وږی، یو منګی د اوربشو او به یا د مسو یوه کړۍ نه دي اخیستي.

درواغجنو مامورینو یوازې هغه ځمکې ونیولې چې د آمون د کاهنانو له لوري اداره کېدلې او پر کروندګرو یې ووېشلې.

په تاسې کې ځینې کسانو چې ډېرې ځمکې یې درلودې د خپلو کروندګرو په وسیله یې له دغو ځمکو خپله ونډه اخیسته، او خپلې ځمکې یې هېڅکله هم کروندګر ته ور نه کړې.

له همدې کبله د درواغجن فرعون په وخت کې ستاسې یوه شتمني هم کمه نه شوه او ان ځینو خو وکړای شول، چې په دغه وخت کې خپلې ځمکې زیاتې کړي.

له هغه وروسته کاختي راغله او له دې کبله چې تاسې مخکې له مخکې د کاختۍ اټکل کړی و، نو ورسره مو غلې دانې هم پټې کړې او احتکار مو وکړ چې بیا مو غله په ډېره لوړه بیه خرڅه کړه.

بله خبره دا ده چې زه نه غواړم ستاسې نیمایي شتمني وړیا ترلاسه کړم، بلکې زه غواړم چې تاسې د خپلې ظاهري شتمنۍ نیمايي برخه چې حتماً ستاسې له حقیقي شتمنۍ څخه ډېره کمه ده، ماته په پور راکړئ.

دغه شتمني به زه په جنګ کې ولګوم او بيا به له جنګه وروسته بيرته ستاسې پور درکړم.

شتمنو او خانانو يو بل ته وکتل ويې ويل، که موږ تا ته پور درکړو، نو ته به موږ ته په ضمانت کې څه راکړې؟

هورم هب وويل، د پور د اداکولو لپاره زما ضمانت، برياليتوب دی او تصور کووم چې دغه ضمانت ستاسې لپاره ډېر اهميت لري

ځکه چې که زه بريالی نه شم د هاتي عسکر به دلته راشي او ستاسې نيمايي شتمني نه، بلکې ټوله به د ځان کړي.

زه پوهېږم چې تاسې د حساب کتاب او هوښيار خلک ياست، نو له ما به ددې پور په بدل کې ګټه او سود وغواړئ. خو زه هم چمتو يم، چې تاسې ته سود درکړم او له هر يوه سره به د سود په اړه جلا جلا خبرې وکړم.

شتمنو ناڅاپه بيا فرياد او ژړاګانې پيل کړې او يې ويل، دا چې ته وايې له هر يوه سره به د سود په هکله جلا جلا خبرې وکړې، دا ددې لپاره کوې چې موږ ته د سود راکولو نيت نه لرې.

پر دې سربېره زموږ دا تمه لا نشته چې خپل اصلي پور ترلاسه کړای شو، سود خو يې لا پرېږده.

شتمنو په داسې حال چې تندې يې پر ځمکه موښلې وويل، اوس چې بايد موږ ېپوز له شو او خپل هرشی له لاسه ورکړو، نو غوره داده چې ځانونه د هاتي عسکرو ته تسليم کړو.

هورم هب وويل، ډېره ښه ده... زه چمتو يم چې ستاسې په خوښه چلند وکړم او له دې کبله چې تاسې غواړئ ځانونه د هاتي عسکرو ته تسليم کړئ، زه هم خپلو عسکرو ته وايم، چې راشي او ستاسې لاس و پښې وتړي، په بېړۍ کې مو واچوي او ټول د هاتي عسکرو ته وسپاري.

د هاتي عسکرو ته ستاسې سپارل، ستاسې د مړينې په مانا ده، ځکه د هاتي عسکر به سمدستي تاسې ړانده کړي، چې د خپلو تېلو د ايستلو په ارهټ کې مو وتړي او کله چې تاسې لاړ شئ، نو زه به ستاسې ټوله شتمني ضبط کړم.

شتمنو چې دغه خبرې واورېدې، ژګيروي يې پيل کړل او ځانونه يې پر ځمکه وغورځول، چمتو شول، چې يوه اندازه سره او سپين هورم هب ته ورکړي.

خو هورم هب دلاسا کړل او ویې ویل: ما ددې لپاره را وغوښتلاست، چې پوهېدم، په دې ښار کې تر تاسې نور شتمن نشته.

دغه راز زه خبر یم چې تاسې ډېر خیرک کسان یاست، د خلکو په تاوان شتمن شوي یاست او په راتلونکې کې به نور هم شتمن شئ، ځکه چې د نړۍ خلک دوه ډوله دي.

یوه ډله د عمر له پیله تر پایه بېوزله پاتې کېږي. دوی نه شي کولای چې د نورو د تاوان له لارې او د هغوی د وینې په زبېښلو سره د بډایتوب لاره پیدا کړي.

دویمه ډله هغه کسان دي، چې د خلکو په تاوان او د هغوی د وینې د زبېښلو له لارې یې د بډایتوب لارې چارې زده کړې دي.

که دغه ډله کسان پخپل ژوند کې شل ځله هم خپله شتمني له لاسه ورکړي، بیا به هم شتمن شي، ځکه پوهېږي، چې څه ډول باید د نورو په زیان، دوی شتمن شي.

تاسې د همدې ډلې کسان یاست.

که مو زه داسې وزبېښم چې د بدن شیره درنه وباسم، بیا به هم بډای شئ، ځکه پوهېږئ چې د نورو د مزد او ګټې د لوټولو په وسیله د شتمنۍ د ترلاسه کولو لاره کومه ده؟

خو ډاډه اوسئ، چې زه به مو دومره نه ټینګوم، چې ستاسې شیره ووځي.

تاسې شتمن کسان زما لپاره د مېوه لرونکو ونو په شان یاست او یو هوښیار باغوان، مېوه لرونکې ونه له بېخه نه باسي، بلکې یوازې ددې ونې مېوه راټولوي.

بله خبره دا ده چې، کله جنګ پیل شي، نو شتمن کسان په تېره بیا د ځمکو خاوندان، سوداګر، د بېړیو خاوندان او مالداران خپله شتمني نوره هم زیاتوي.

که د بیدیا د شګو په اندازه د مالیاتو مامورین ورته وګمارل شي، بیا به هم د هغوی شتمني ورځ تر بلې زیاتېږي او هغوی به حتی د مالیاتو له مامورینو څخه ګرمه واخلي.

ځکه چې خپل غنم، د اوربشو اوبه، غوښه نور محصولات، به په ډېره ګرانه بیه پر هغوی خرڅ کړي.

تاسې غم مه کوئ او په دې مه خپه کېږئ، چې د خپلې شتمنۍ یوه برخه ماته راکوئ، ځکه چې په لنډه موده کې به تر هغه ډېره نوره بیرته ترلاسه کړئ.

اوس لاړ شئ او د جنګ په وخت کې د لویو ګټو د ترلاسه کولو لپاره چمتو شئ او ځانونه نور هم چاغ کړئ.

کله چې جنګونه کېږي که څه هم زرګونه عسکر پکې مري، زرګونه کورونه پکې

ورانېږي او اوسېدونکي يې مريان او وينځې کېږي، خو شتمن کسان، مالداران، د بېړيو خاوندان او سوداګر نور هم چاغېږي.

بله خبره دا چې زه د هاتي د عسکرو له ځپلو وروسته غواړم، سوريه هم ونيسم او د پخوا په شان يې د مصر له خاورې سره يو ځای کړم، نو تاسې به له سوريې څخه ډېره ګټه واخلیء.

له همدې کبله غوره ده، چې د جنګ لپاره له پور پرته، کله ناکله ماته ډالۍ هم راولېږئ چې پر پوځ يې ولګوم.

اوس لاړ شئ، که غواړئ وژاړئ، نو ساندې پيل کړئ، زه به ستاسې له ساندو خوند واخلم، ځکه چې زما په غوږونو کې د مسو د کړيو په شان دي.

ځکه زه پوهېږم، چې که ژاړئ هم، خو هغه سره او سپين به حتماً راکړئ، چې ما در څخه غوښتي دي.

شتمن او خانان پورته شول او لاړل.

هورم هب ماته وويل، سينوهه! ښايي تا نن فکر کړی وي، چې د جنګ د لګښتونو د پوره کولو لپاره له شتمنو کسانو څخه د قلنګ اخيستل ظلم دی او غوره دا وه چې ما د جنګ لګښتونه له هغو مالياتو څخه پوره کړي وای چې د مصر له ټول ملته مو اخيستي دي.

که څوک بېوزلي دي او که شتمن، بايد ماليات ورکړي، چې په دې ډول ټولې پرګنې د جنګ په لګښتونو کې برخه واخلي.

زه پوهېږم چې د جنګ د لګښتونو د پوره کولو لپاره له ټولو پرګنو څخه د مالياتو ترلاسه کول، ددې لپاره چې پر ټولو پرګنو يو شان فشار راشي، يو خيالي کار دی، ځکه کله چې په يوه هېواد کې ماليات اخيستل کېږي، که دغه د مالياتو اخيستل ډېر عادلانه هم وي، بيا هم ډېر فشار پر بېوزلو راځي.

لامل يې دا وي چې په دې وخت کې شتمن، خانان او د کار خاوندان که د مالياتو په نوم يوه مسې کړی ورکوي، خو له بېوزلو څخه لس کړی ترلاسه کوي.

همغه ډول چې د مصر په هرمونو کې تر ټولو ډېر فشار پر هغو ډبرو راځي چې تر ټولو لاندې اېښودل شوې دي.

په هره ټولنه کې د مالياتو او بل هر ډول فشار د بېوزلو پر اوږو وي او د هغوی هډوکي

ماتوي

زه د جنګ د لګښتونو لپاره له بېوزلو څخه ماليات نه اخلم، ددې لپاره چې ووايي هورم هب داسې سړی دی چې د جنګ لپاره يوازې له شتمنو څخه ماليات اخلي او له بېوزلو سره کار نه لري.

سينوهه! له دې ټولو سره سره به بيا هم بېوزلي ددې او نورو جنګونو ماليات ورکوي، خو نن چې زه کوم کار کووم دا به ما ډېر مشهور کړي او په مصر کې به مې محبوبيت زيات کړي.

د سرو او سپينو د راغونډولو، د نويو عسکرو د ګمارلو او دغه راز د نويو ګاډيو د جوړولو لپاره، په ممفيس کې د هورم هب ايسارتيا تر هغه ډېر وخت واخيست چې ما يې اټکل کاوه.

په ممفيس کې زموږ د پاتې کېدو په موده کې، د هاتي عسکرو د نيل سيند په دلتا کې کروندې او کلي ورانول او خپل اسونه به يې په هغو کروندو کې څرول چې لا پاخه شوي نه ول. *(دلتا يوه يوناني کليمه ده. چې مثلث ته ورته شی دی او له دې کبله چې نيل سيند په هغه برخه کې چې سمندر ته تويېږي پر څو برخو وېشل کېږي. نو ټولې ځانګې يې يو مثلث جوړوي او دغې برخې ته يوناني مورخان دلتا وايي. پخوا نيل سيند په دلتا کې اووه ځانګې درلودې، خو اوس تر دوو ځانګو ډېرې برخې نه لري ژباړن)*

هغه تښتېدلي کسان چې له دلتا سيمې څخه ممفيس ته راتلل د هاتي د عسکرو د بې رحمۍ په هکله يې لړزونکې کيسې کولې.

هورم هب پر هغو کيسو ډېر خوشال و چې تښتېدلو کسانو به خلکو ته کولې. دی پوهېده چې دغه کيسې ددې سبب کېږي، چې خلک د هاتي له سپاهيانو ډېر وډار شي او د مصر له عسکرو سره مرستې ته چمتو شي.

هغه به ويل، سينوهه! ته به حيران شې چې زه ولې دلته ايسار شوم، ولې نه ځم او د هاتي د عسکرو مخه نه نيسم؟

خو زه له کافي عسکرو او جنګي ګاډيو پرته د هاتي جنګ ته تللی نه شم.

بله خبره داده چې غزه زموږ په ولکه کې ده او زموږ ځواکونه هلته مقاومت کوي، له همدې امله تر يوه حده ډاډه يم، ځکه چې غزه هغه غشي ته ورته ده چې د هاتي او د هغه د متحد آزيرو په ټټر کې ننبتی دی او اجازه نه ورکوي چې هغوی په اسانه جنګي مانوره

وکړي.

هغه ورځ دې یاد پرې چې ته له آزیرو سره د سولې لپاره سوریې ته تللی وې او ما تاته سپارښتنه وکړه، چې په هره بیه وي، غزه له لاسه ورنه کړې.

په هغه وخت کې ما د نن ورځې اټکل کاوه.

د مصر د ساتلو او د سوریې د نیولو لپاره غزه، زموږ لپاره تر ټولو ښه تکیه ځای دی.

تر هغه وخته پورې چې غزه له موږ سره ده، هاتي جرائت نه شي کولای، خپل پلي ځواکونه، چې شمېر يې تر ملخانو هم ډېر دی، سینا دښتې او د سوریې له غرونو راتېر کړي او مصر ته يې ورسوي.

ددې لپاره چې پوهېږې موږ سمندري ځواک لرو، د سمندر له لارې به مهم ځواک په غزه بندر کې پلی کړو او د هاتي د نظام ترشا به ځان څرګند کړو.

تر هغې ورځې چې د هاتي عسکر د سینا دښتې او د سوریې له غرونو نه وي راتېر شوي، مصر ګواښلی نه شي.

نن سبا د هاتي سپاهیان یوازې پخپلو جنګي ګاډیو اتکا کوي او د هاتي د عسکرو قوماندان فکر کوي، په جنګي ګاډیو سره ډېر ژر مصر نیولی شي.

دوی نه پوهېږي چې مصر د سوریې په شان له یوه هوار سره توپیر لري، ځکه چې سوریه د اوبه خور او اوبو لګولو کانالونه او ویالې نه لري.

مګر د مصر په هر ځای کې د نیل سیند له سرچینې رانیولې تر لومړني ابشار یا ځروبې پورې د اوبولګولو ویالې شته او دغه کانالونه د هاتي د جنګي ګاډیو د تېرېدا مخه نیسي.

خو زه یوازې د اوبو لګولو پر سیستم تکیه نه کووم، پوهېږم کله چې د یوه تېري کوونکي پوځ مخه ونه نیول شي، که يې په مخکې د اور سیند هم وي، هغه پوځ به ترې را واوړي.

خو زه غواړم په پوره ځواک سره د هاتي جنګ ته لاړ شم

اوس هم لاس تر زنې ناست نه یم او زما پارتیزانان او چریکي ډلې په سینا صحرا کې تل د هاتي عسکرو ته ستونزې پیدا کوي.

داسې ورځ به نه وي، چې د هاتي څو تنه عسکر يې نه وي وژلي.

په کوز مصر کې چې د هاتي عسکر هر څومره ورانی وکړي، کروندې ورانې کړي او خلک

وو پروي، نو د هغو کسانو شمېره به ډېره زیاته شي چې زما له سپاهیانو سره یو ځای کېږي.

په حقیقت کې یو شمېر کروندګر چې په کوز مصر کې د هاتي د عسکرو د تېري له امله وږي پاتې دي، د هورم هب په لښکرو کې شامل شول.

یو شمېر کسان چې د آتون د خدایي په وخت کې بېوزله شوي دي، هغوی هم د عسکری لپاره پخپله خوښه راغلي دي.

که څه هم د هورم هب د عسکرو شمېر ډېر نه و، خو هغه دې ته له پامه پرته چې د آمون کاهنان به څه وایي، یو حکم وکړ او ټول هغه محکومین یې خوشې کړل، چې آتون ته د عقیدې په تور نیول شوي ول او د کار لپاره کانونو ته استول شوي ول.

اته څلویښتم څپرکی

د هاتي پر عسکرو مو څه ډول برید وکړ

په ممفیس ښار کې دومره عسکر راټول شوي ول، چې دغه ښار یې په یوه پوځي ښار بدل کړی و.

هره شپه به عسکر د عیاشۍ کورونو ته تلل، په واټونو کې به یې نارې سورې وهلې، جنګونه یې کول او د ښار ځایي اوسېدونکو به له وېرې د کورونو دروازې تړلې او د باندې نه راوتل.

د مسو د ویلي کولو او جوړولو بټیو به شپه او ورځ کار کاوه.

خلک د هاتي له پوځیانو دومره وېرېدلي ول، چې ښځو به هم خپلې مسي ګاڼې ورکولې چې د عسکرو لپاره ترې غشي جوړ کړي.

هورم هب همغه ډول چې د ممفیس له شتمنو به یې سره او سپین اخیستل، د بېړیو اخیستو ته یې هم مخه کړه.

هره هغه بېړۍ چې له کرت او نورو دولس ګونو ټاپوګانو څخه مصري بندرونو ته راتلې، هورم هب به پېرودلې.

که د بېړۍ کوم ماڼو به نه غوښتل چې خپله بېړۍ خرڅه کړي، نو هورم هب به په زور ترې واخیستله.

په هغه وخت کې د کرت بېړۍ سرګردانه وې او له یوه بندره به بل ته تللې او جرائت به یې نه کاوه چې کرت ته ستنې شي، ځکه چې د کرت په هکله یې وېروونکي خبرونه اورېدل.

داسې اوازې هم خپرې شوې، چې په کرت کې مریانو بلوا کړې، د کرت بندر ته یې اور ورته کړی او ځینو به ویل چې د هاتي لښکرو په کرت برید کړی دی.

دغه اوازه د خلکو لپاره عجیبه ښکارېده، ځکه پوهېدل د هاتي قبیلې دا تجربه نه لري،

چې له سمندره واوړي او پر کرت برید وکړي.

ځینو باور درلود چې سپین پوستو قبایلو چې له شماله راغلي ول پر کرت حمله کړې ده.

خو ټولو مانوګانو او د بېړیو عملې د کرت بدبختی د خپل خدای د مړینې له امله بللې او ویل به یې، له دې کبله چې خدای یې مړی شوی دی، نو بیرته کرت ته نه شي ستنېدای.

هورم هب به ځینو دغو بېړیو ته ورته وړاندیز کاوه، چې د مصر لپاره خدمت وکړي. هغو بېړیو چې به دغه وړاندیز ومانه ګټه یې کوله.

ځینې بېړۍ په لالهاندۍ کې د سوریې بندرونو ته تلې او هلته به د آزیرو لاس ته ورغلې.

خو هورم هب وتوانېده د کرت او نورو ټاپوګانو د بېړیو په مرسته یو سمندري ځواک جوړ کړي او ددې ځواک ټول مانوګان او سپاهیان تکړه کسان ول.

کله چې نیل مست شو او اوبه یې راوختلې، نو هورم هب له خپلو عسکرو سره روان شو، خو تر دې وړاندې چې له ممفیس څخه روان شي، غزې ته یې د استول کېدونکو قاصدانو په مرسته هورې خپلو کسانو ته وویل، چې مقاومت وکړي.

ددې ترڅنګ یوه مصري بېړۍ له خو ړو سره د غزې بندر ته ورسېدله او د هورم هب پیغام یې د غزې د پوځیانو قوماندان ته ورساوه.

دا همغه قوماندان و، چې کله ما غوښتل د غزې ښار ته ننوځم، نو ما ته یې د ښار دروازه خلاصه نه کړه، بلکې زه یې په یوه زنبیل کې د کلا پر دېوال د کلا منځ ته ور واړولم.

زه نه پوهېدم چې هغه څه ډول په دې ښار کې مقاومت وکړ، ځکه چې د آزیرو او هاتي عسکرو به تل حملې کولې او د ښار دروازه به یې تل په لویو ستو وهله چې ماته یې کړي.

یا به یې ښار ته دننه له مارانو ډکې ټوکرۍ وراچولې.

د هورم هب جاسوسانو به بیا په غشو سره هره ورځ د هغه پیغامونه ښار ته ورغورځول او په دې پیغامونو کې به یې کلابندو ښاریانو ته ویل چې مقاومت وکړي.

کله چې موږ تانیس ته نږدې شوو، هورم هب خبر شو، چې د هاتي یوه ډله جنګي ګاډيو، د نیل په څنګ کې د سیند په پېچومې کې مورچې نیولې دي.

هورم هب امر وکړ چې د اوبو بند شوي لښتي چې د ختو او چیکړو له امله له کاره لوېدلي ول، پاک کړي او اوبه دې پکې خوشې کړي. کله چې دغه کار وشو، نو یو وخت د

هاتي د جنګي ګاډیو ټولی پوه شو چې له هرې خوا د اوبو په واسطه کلابند شوی دی.

مصري عسکر چې په بېړیو او ماکوګانو کې سپاره ول، له اوبو څخه ونه وېرېدل، تر لښتیو تېر شول، د هاتي درې سوه آسونه یې ووژل او سل ګاډۍ یې وسوځولې.

هورم هب په دې پېښه خوابدی شو، ځکه هغه غوښتل چې اسونه او ګاډۍ ونیسي او د مصر په لښکرو کې ترې کار واخلي.

له دې پېښې وروسته موږ هم روان شوو تر دې چې تانیس ته ورسېدو. هلته هورم هب د هاتي له یو شمېر عسکرو سره چې له خپلو ګاډیو لرې وو مخامخ شو.

مصري عسکرو پرې برید وکړ او له دې کبله چې د هاتي عسکر پلي ول ټول یې ووژل او د هغوی اسونه او ګاډۍ یې ونیولې.

دغه بریالیتوب له پوځي پلوه مهم نه و، خو له روحي پلوه یې ډېر اغېز درلود، ځکه مصري عسکرو اورېدلي ول، چې هاتي عسکرو ته ماتې نه شي ورکولای، خو دې پېښې وښودله چې د هاتي عسکر د نورو په شان ماتېدای شي.

هورم هب پر اسونو د مصر د پوځ نښه ولګوله او ګاډۍ یې هم د مصر د ګاډیو په شان رنګ کړې.

پخپله هورم هب هم پر دې بریالیتوب خوشحال او هیجاني شوی و، خپل پیاده عسکر او درنه وسله یې شاته پرېښوده او له یوازې یوې ډلې جنګي ګاډیو سره یې پر تانیس حمله وکړه.

هورم هب چې کله د تانیس پر لوري ته، ماته یې ویل، که غواړې ګوزار وکړې، نو باید ګړندی او سخت وي، چې دښمن دې داسې سربداله شي، چې ژر ځان راټول نه کړای شي.

ما فکر وکړ چې هورم هب به په تانیس کې پاتې شي، خو له دې سره سره چې پوهېده د تانیس په جنوب کې د دښمن عسکر د کلیو او باغونو په ورانولو بوخت دي، له تانیسه تېر شو.

موږ سینا صحرا ته ننوتو، ما په حیرانۍ سره وکتل چې هورم هب د لیندۍ دغشي په شان د ختیځ پر لور مخه کړه.

له دې وروسته چې صحرا ته ننوتو، هورم هب د هاتي څو جنګي پوستې ونیولې، چې عسکرو یې په دښته کې له اوبو د ډکو منګیو د ساتلو دنده درلوده.

په همدې وخت کې زه پوه شوم، چې ولې آزیرو او د هاتي پوځ له مصره استعمال شوي

منګي اخيستل.

ددې لپاره چې نوي منګي اوبه جذبوي او هغه اوبه چې د هغوی په منځ کې وي د منګيو تر سوريو تېرېږي، کمېږي او ضايع کېږي.

خو استعمال شوي منګي اوبه ساتي.

د هاتي پوځ سلګونه زره منګي او چاټي له اوبو ډکې کړې وې، له سوريې څخه د مصر تر سرحده پورې يې په ځانګړيو ځايونو کې په دښته کې ايښي ول چې پر مصر د حملې په وخت کې لښکر بې اوبو پاتې نه شي.

څکه چې د هاتي عسکرو سمندري ځواکونه، نه درلودل، نو پر مصر د حملې لپاره مجبوره ول، چې د وچې له لوري بريد وکړي او له ځمکنۍ لارې د حملې لپاره يې اوبو ته اړتيا درلوده.

هورم هب له دې پرته چې د اسونو د ستړيا فکر وکړي، د هغو منګيو د اېښودلو د ځايونو په اوږدو کې چې د هاتي پوځ په ځمکه کې ښخ کړي ول د ختيځ پر لور روان شو.

له دې سره سره چې ځينې اسونه مړه شول، خو هورم هب خپل سرعت کم نه کړ.

د هغو سلګونو ګاډيو حرکت په دښته کې وېرونکې منظره جوړه کړې وه، دوړې او خاورې تر اسمانونو پورې رسېدې او هغو کسانو چې د هغه د ګاډيو حرکت يې ليده ويل به يې، هورم هب د توپان په شان رارسېږي.

په همدې وخت کې چې د هورم هب ګاډي بيديا ته ننوتې، د مصر پلوي چريکي او پارتيزاني ډلو د هاتي پر پوستو او مرکزونو حملې پيل کړې، د شپې مهال به يې د سينا دښتې په لوړو غرونو کې اورونه بلول او د اور په وسيله به له هورم هب سره يوځای شول.

هغو دوړو او ګردونو چې د ګاډيو له حرکته پيدا کېدل او هغو اورونو چې د شپې مهال به بلېدل دغه افسانه را منځته کړه، چې ګنې هورم هب د ورځې د صحرا د باد په شان او د شپې د اور د لمبو په څېر يې پر سوريې حمله کړې ده.

هورم هب، په غلچکي بريد کې په صحرا کې د اوبو ټولې مورچې ونيولې.

د هاتي عسکرو چې تصور يې نه کاوه، چې هورم هب به پرې حمله وکړي، په ټولو ځايونو کې تسليم او يا ووژل شول.

د هاتي عسکرو په دوو دلايلو د هورم هب د حملې تمه نه کوله، يو دا چې د هاتي عسکر تل د بريد په حال کې ول او تر هغه وخته چا نه و اورېدلي، چې پر هاتي دې چا بريد

کړی وي.

دویمه دا چې د هاتي پوځ پوهېده، د هغوی یو شمېر پوځیان په کوز مصر کې د کلیو او باغونو د ورانولو په حال کې دي.

چا دا تصور هم نه کاوه، چې هورم هب دې دغه پوځیان پر خپل حال پرېږدي چې ورانی وکړي او پخپله د سینا دښتې ته را شي او پر هاتي دې حمله وکړي.

دوی پوهېدل چې مصر کمزوری دی او که هورم هب له مصره ووځي نو په کوز مصر کې به د لږ شمېر هاتي عسکرو مخه څوک ونه نیولای شي.

یو عامل چې په سینا صحرا کې یې د هاتي ځواک د هورم هب پر وړاندې کمزوری کړ، هغه د غزې مقاومت و.

د هاتي پوځیانو ددې لپاره چې غزه ښار ونیسي یو شمېر عسکر یې په غزه کې سره راټول کړل.

خو له دې کبله چې د غزې په شا و خوا کې دغو ځواکونو د خوړو امکانات نه درلودل، نو عسکر یې د سوریې په ښار کې تیت و پرک کړل چې خواړه ورته ورسېږي.

کله چې هورم هب د سینا دښتې ته ننوت، هاتي پوځیانو ونه کړای شول، چې خپل ځواکونه د هغه پر وړاندې راټول کړي.

هورم هب د غزې ښار تر شا و خوا سیمو پورې پر مخ لاړ او د هاتي د ځواکونو یوه برخه یې چې د ښار په شا و خوا کې وه له منځه یوړه، خو بریالی نه شو چې غزې ته ننوځي.

څکه چې هلته د هاتي افسران پوه شول چې، د هورم هب جنګي ګاډي، د هرې نه دي او فیصله یې وکړه، چې د هغه مخه ونیسي.

کله چې هورم هب د غزې پر لوري تلو، زه ورسره نه وم او د اوبو په یوه مرکز کې ایسار شوم.

له دې کبله چې هورم هب راته ویل چې په دې برید کې ډاکټر ته اړتیا نه لري او د ټپیانو د درملنې وخت نه لري، هر څوک چې ژوبل شي په دښته کې به پاتې وي، یا به ژوندی پاتې شي او یا به د مردار خورو ښکار شي.

هغه څه چې ما ددې جنګ په اړه لیکلي دي، یا پخپله هورم هب او یا یې نورو افسرانو له جنګه وروسته راته بیان کړي دي

تر دې وړاندې چې غزې ته ورسېږي، هورم هبُ خپلو عسکرو ته ویلي ول، چې کله له

ګاډیو پلي کېږي. نو له ده دې نه لرې کېږي ځکه چې د دوی جنګ د مورچلونو او جبهه اې جنګ نه دی. بلکه یو غلچکی برید دی او ښایي هره شېبه خپل دریځ او د جنګ روده او مانوره بدله کړي.

خو یو شمېر سپاهیان د هاتي د عسکرو د مرکزونو د چور تالان لپاره له ګاډیو ښکته شوي او لري شوي ول.

هورم هب پوه شو. چې د هاتي ځواکونه بله متقابله حمله کوي نو مجبور شو چې په چټکتیا سره خپلې جنګي ګاډۍ را وګرځوي.

په نتېجه کې یو شمېر عسکر د غزې د دېوالونو تر شا د هاتي د عسکرو له لوري ونیول شول. سرونه یې ور پرې کړل او پوستکي یې ترې وایستل چې کڅوړې ترې جوړې کړي. ځکه چې د هاتي خلک

د دغه ډول کڅوړو په جوړولو کې مهارت لري.

په دغه غلچکي برید کې د هورم هب عسکرو ته څه ور په برخه نه شول. ځکه چې په صحرا کې یوازې منګي او له اوبو ډک چاتې وې که څه هم په هغه صحرا کې یو منګی اوبو. د منګي په وزن د فلز په شان ارزښت درلود. خو دغه منګی په نیل سیند کې هېڅ ارزښت نه لري. له دغه غلچکي بریده وروسته هورم هب خپل ځواک له غزې څخه راستون کړ او په بېدیا کې یې ایسار کړ.

له دې سره سره چې اسونه دومره ستړي ول، چې د مصر سرحد ته نه شو تللی خو د هاتي د لښکرو د حملې وېره حتمي وه.

له دې کبله چې هورم هب شاته د اوبو زېرمې له منځه نه وې وړې، نو پوهېده چې د مصر د پوځ هغه برخه بېرته راغوښتلی شي او له ده سره یو ځای کېدای شي چې شاته یې پرې اېښې وه.

د هورم هب عسکر له دې سره سره چې په دې برید کې بریالي شوي ول، خو دا چې جنګي غنیمتونه یې نه و نیولي نو ناخوښ ښکارېدل.

که به چا ورته ویل چې په دې بریالیتوب سره مو ویاړ ترلاسه کړی، دوی به ویل موږ چمتو یو خپل ویاړونه پر څو کړیو سرو او سپینو بدل کړو.

زه له هغه لښکر سره چې له مصره راغلی و، لاړم او له هورم هب سره یو ځای شوم. په بېړه له بېدیا تېرېدو او په لاره کې مو د جنګ ویاړ نه بلکې غمیزې لیدلې.

دا د دې لپاره چې افسران او عسکر د جنګ ویاړونه له ځان سره وړي او هغه کسان چې په دوی پسې ځي، هغوی یوازې غمیزې ګوري او له غمیزو پرته بل څه نه ګوري.

کله به مو د یوه مصري عسکر مړی ولید، چې نیمایي بدن به یې شغالانو او ګیدړو خوړلی و.

کله به مو وکتل چې د هاتي یو عسکر یې په سیخونو کې د لارې تر څنګ خوړند کړی دی.

موږ هم د اوبو له هغو زېرمو استفاده کولای شوه چې د هاتي عسکرو پکې اوبه ذخیره کړې وې.

هورم هب پوهیده چې له دغو مرکزونو څخه دده پوځیان او کسان چې وروسته راځي استفاده کولای شي نو هغه یې نه ورانول.

یوه ورځ وروسته چې لمر ولوېد، شپه شوه، نو ما د هورم هب د لښکرو اورونه ولیدل، خو پوهېدم، چې پر دې شپه به هم هغه ته ونه رسېږو، ځکه هغه اور چې په بیدیا کې لیدل کېږي، تر هغه ډېر لرې وي چې موږ یې ګورو.

پر دې شپه د ورځې له تودوخې وروسته هوا ډېره سړه وه او خوب نه راته، خو عسکر چې په لوخو پښو یې د صحرا ګرمې شګې کچ کړې وې له ډېرې ستومانۍ څخه سمدستي وېده شول، په خوب کې یې زګېروي کول او نارې به یې وهلې.

خلک وايي د شپې مهال په بیدیاوو کې سپېرې اروا وې ګرځي، نو له همدې امله دغه افسانه پیدا شوې وه، چې خلک پکې د شپې مهال زګېروي کوي.

پر بله ورځ چې کله سپېدې وچاودې، نغارې ووهل شوې او عسکر یې راپورته کړل.

موږ د هورم هب د کمپ پر لوري روان شوو، خو تر دې وړاندې چې اډې ته ورسېږو، د هاتي یو شمېر کشفي ګاډۍ، چې په صحرا کې یې ګزمې کولې زموږ له شا راڅرګندې شوې.

زموږ عسکر چې لا د هاتي له ګاډیو سره د جنګېدا په چل نه پوهېدل، وویرېدل او ځیني وتښتېدل، خو د هاتي عسکرو په غشو وویشتل او ووژل شول.

ځرنګه، چې موږ د هورم هب اډې ته نږدې شوي وو، هغه خپلې جنګي ګاډۍ زموږ مرستې ته راواستولې او کله چې د هاتي عسکرو مصري ګاډۍ ولیدلې پاتې کېدل یې خطرناک وبلل او وتښتېدل.

کله چې دوی وتښتېدل عسکر خوشحاله شول. خپلې نیزې یې وښورولې او خینو د هاتي د ګاډیو پر لوري غشي وویشتل. په داسې حال کې چې پوهېدل غشي یې ګاډیو ته نه رسېږي.

کله چې زموږ پلیو سپاهیانو ولیدل چې د هاتي ګاډي، تښتي، نارې یې کړې، موږ له هاتي نه وېرېږو. ځکه چې د هورم هب باز به پر هغو غوټه وکړي او سترګې به یې وړندې کړي.

پلي عسکرو هیله کوله چې کله ذ هورم هب اډې ته ور سېږي، نو قدر به یې وشي. ځکه چې یېلې پښې یې بید یا کچ کړې او دغه راز یې هیله کوله چې هلته به دمه وکړي.

خو هورم هب چې مخ یې له ګرمی، څخه سور شوی و، سترګې یې د وینو د کاسو غوندې وې، خپله متروکه یې وښوروله او ویې ویل اې تنبلانو او د نیل سیند د چیکړو چینجیانو ! تر او سه پورې چیرته واست، ولې مو دومره ځنډ وکړ؟

تاسې ته مې نه ویل چې ژر راشئ؟

اوس چې راغلي یاست، ستاسې خوسا بوی مې داسې تنګوي، چې کله ستاسې په منځ کې یم، باید خپله پوزه بنده کړم.

اوس چې راغلي یاست، ددې پر ځای چې خپلې ګوتې په پوزه کې ووهئ، یا مو مقعد وګروئ، ځمکه وکینئ او یوه کنده جوړه کړئ.

ځکه چې ستاسې ژوند په کنده پورې تړلی دی او که مو کنده وکینله او په ډبرو مو د ګاډي، مخه ونیوله نو ژوندي به پاتې شئ، ګني هډوکي به مو همدلته سپین شي.

له دې سره سره چې مصري عسکر ستړي ول، پښې یې ژوبلې او تناکې وې، خو په دې خبرو غوسه نه شول، ځکه چې پوهېدل هورم هب له عسکرو سره تل همداسې خبرې کوي.

مګر د هغه په وینو ککړې متروکې ددې ښودنه کوله، چې دا ځل دده خبرې تو کې نه دي.

ددې پر ځای چې عسکر د خپلو پښو د ټپونو او ستړیا فکر وکړي، د ځمکې کیندل یې پیل کړل او کنده یې جوړه کړه.

د کندې په مخکې یې لویې ډبرې کېښودلې او د ډبرینو تختو په منځ کې یې غشي ولګول چې د ګاډیو د تېرېدا مخه ډب کړي.

تر دې کندو لږ مخکې یې د هورم هب په امر لنډکي غشي ښخ کړل او د پړیو په وسیله یې، له یو بل سره وتړل.

زه پوهېدم چې د هورم هب هدف دا و، چې د اسونو پښې په پړيو کې ونښلي او د هاتي جنګي ګاډي حرکت ونه کړای شي.

پر دغو کندو سربېره چې د کيندلو ځای يې له ورايه ښکارېده، هورم هب شا و خوا هم کندې وکيندلې، سر يې ورپټ کړ او خاوره يې پکې واچوله، چې له لېرې څوک پوه نه شي چې دلته يې اوږد او پلن خندق ايستلی دی.

هره ورځ به د تازه دم عسکرو نوی ټولی اډې ته را رسېده او د دغه راز يو شمېر چريکي ډلې هم له موږ سره يو ځای کېدلې.

دې ته په پام سره چې بيديا لويه وه او ددې وېره وه، چې د هاتي جنګي ګاډي له خندونو راتېر شي او له شا څخه پر موږ بريد وکړي، نو څومره کندې به چې زموږ د اډې شا و خوا کيندل کېدلې بيا به هم هورم هب ويل چې کمې دي.

خو دغو اقداماتو ورو ورو مصري عسکر زړه ور کول او کله چې به يې د هورم هب پراخ تېر او جګه ونه ليدله او د هغه په وينو ککړې متروکې ته به يې کتل، نو متوجه کېدل به چې هغه له سهاره تر بېګا د دوی کارونه څاري.

دوی به له ځان سره ويل چې دغه سړی به موږ د هاتي له خطرې وژغوري.

يوه ورځ هورم هب هغو عسکرو او چريکي ډلو ته چې اډې ته د راتګ په حال کې ول پيغام واستاوه، چې بيړه وکړي، ځکه که شپه تېره شوه او تر بل سهاره پورې اډې ته ونه رسېدل نو دا وېره شته چې د هاتي د عسکرو له لوري ووژل شي.

پر همدې ورځ چې هورم هب مصري عسکرو او چريکانو ته دغه پيغام واستاوه، د لمر لوېدو پر وخت په داسې حال کې چې عسکرو کندې ايستلې د دښتې فضا له دوړو ډکه شوه او د هاتي ګاډي راڅرګندې شوې.

کله چې زموږ عسکرو وليدل چې د ګاډيو په مخکې د اوسپنې په نوم له يوه عجيبه فلزه جوړ شوي غټ غټ لرونه لګېدلي دي، نو داسې ووېرېدل چې له ډاره يې پوزې سرې شوې (په هغه وخت کې د ډار يو سمبول دا و، چې ويل به يې، پوزه يې سره شوه، لکه اوس چې وايو له ډاره يې وينښتان نيغ ودرېدل ژباړن)

له دې کبله چې شپه رانږدې شوې وه، نو د هاتي عسکرو، جرائت ونه کړ چې حمله وکړي، ځکه چې هغوی له سيمې سره بلد نه ول او نه پوهېدل چې د دښمن لښکر په څه ډول حالت کې دی.

هغوی هم په دښته کې اډه جوړه کړه. او ربې بل کړ او خپلو اسونو ته يې وابښه ورکړل. تر هغه ځايه چې سترګو کار کاوه، په دښته کې د اور لمبې ښکارېدې.

د هاتي کشفي ګاډيو هم ټوله شپه موږ څارولو او زموږ يو شمېر ساتونکي يې هم ووژل، خو چريکي ډلو او غلو چې د مصر خدمت يې کاوه پر هغوی بريد وکړ، څو تنه يې ووژل او له هغوی يې څو ګاډي هم ونيول.

له دې سره سره چې هورم هب خپلو عسکرو ته ويلي ول، چې ويده شي. خو زه فکر کووم پر دې شپه له زړو او تجربه کارو سپا هيانو پرته هېڅ يو هم ويده نه شو. خو د پخوانيو عسکرو لپاره دغسې شپه چې پر سبا يې جنګ پيلېږي عادي وي.

پر دغې شپه تر سهاره د جنګي ګاډيو د ارابو د وسلو د کړچا. د غشو د تېرېدا شغهار او د ټپيانو زګېروي اورېدل کېدل.

هورم هب خپل يو شمېر تازه دم او تکړه عسکر په لومړي ليکه کې د اډې د ساتونکو په توګه ګمارلي ول او ما تر سهاره يې د څو تنو ټپيانو درملنه کوله.

هورم هب زه يوې څنډې ته کړم او ويې ويل، زما لپاره هر يو پخوانی او زوړ عسکر تر زرو نويو عسکرو ډېر ارزښت لري، هڅه وکړه چې هغوی معالجه کړې او مه پرېږده چې مړه شي.

ده وويل، زه به د دغه هر يوه عسکر د معالجې په بدل کې يوه کړۍ زر درکړم او وزن به يې يو (دين) وي.

ومې ويل هورم هبه! زه نه پوهېدم چې تا دلته ياني د سينا غره په لمنه کې اډه جوړه کړې او نيت لرې چې دلته د هاتي مخه ونيسې.

که زه ستا له دې فيصلې خبر شوی وای، نو ته مې راګرځولې چې دلته اډه جوړه نه کړې، ځکه چې په اواره دښته کې چې ګاډي پکې ښه منډه وهلی شي د هاتي د عسکرو د ګاډيو مخنيوی ډېر سخت او خطرناک کار دی.

خو اوس چې تا دغه فيصله کړې، زه يې نه شم بدلولای.

زه به ستا هر نوی او زوړ عسکر چې ټپي شي معالجه کړم، ان که پېر دې هم پوه شم، چې نوي عسکر که ښه شي، هېڅ هم نه شي کولای او کېدای شي د هاتي له حملې وروسته وتښتي.

زه د سرو زرو لپاره ستا د عسکرو معالجه نه کووم، هغه څه چې ته يې د معالجې په بدل

کې ماته راکوې. زما پر ځای یې خپلو عسکرو ته ورکړه، ځکه چې هغوی تر ما ډېر سرو او سپینو ته اړتیا لري.

بله دا چې ښایي موږ ټول ووژل شو او سبا به زه نه یم چې ستا د عسکرو معالجه وکړم او زخمونه یې وتړم.

هورم هب وویل سینوهه! ته ډېر هوښیار سړی یې خو د جنګ سړی نه یې او په هر جنګ کې باید خطر هم په پام کې ولرې.

که په جنګ کې خطره نه وای اوس به توت انخ آمون چې لا هم یو ماشوم دی، د پوځ قوماندان شوی و.

زه اوس ځم چې لږ شراب وڅښم او ویده شم، کله چې را ویښ شم، ښه جګړه به وکړای شم او که زما په سر کې د شرابو لږه تودخه پاتې وي. ښه به وجنګېږم.

څو شېبې وروسته ما د هغه منګي د قلقل غږ واورېد، چې په خوله کې یې تشاوه. له هغه وروسته یې خپلو څو تنو عسکرو ته چې د هغه د کېږدۍ تر مخ تېرېدل ورناري کړې او هر یوه ته یې یو یو غوړپ شراب ورکړل.

هورم هب وویل، هغه کسان چې پیره نه لري لاړ دې شي او ویده دې شي چې سبا د جنګ لپاره تیار وي.

زه تر سهاره ویده نه شوم، سهار مې ولیدل چې زموږ د جبهې په مخکې څو دانې اسونه مړه پراته دي، د هاتي څو ګاډۍ هم چپه پرتې وې او کارغانو د مړیو سترګې خوړلې.

د هاتي عسکرو په خاورو باندې خپل اورونه مړه کول، اسونه یې په ګاډیو پورې تړل او بیا یې خپلې وسلې پاکولې.

هورم هب خپل عسکر د غره په لمن کې راټول کړل او یوې ډېرې ته یې ډډه ولګوله، په داسې حال کې چې له پیازو سره یې یوه ټوټه ډوډۍ خوړله داسې یې وویل: د مصر ستر خدای آمون معجزه وکړه، چې د هاتي عسکر یې ستاسې مخې ته راوستل، چې تاسې یې له منځه یوسئ.

لکه چې پوهېږئ، د هاتي پلې ځواک لا نه دی راغلی، هغوی د صحرا په څنډه کې ایسار شوي دي، ځکه چې هلته اوبه ډېرې دي دوی تمه لري چې ګاډۍ د هغوی لپاره لاره پرانیزي او د اوبو مرکزونه ونیسي.

له هغه وروسته به د هاتي پلې ځواک حرکت کوي، چې له ګاډیو سره یو ځای شي.

بېګا د هاتي په اړه کې اوبه نه وې، تول اسونه يې تږي دي او ځينو خو وا ښه هم نه درلودل چې له کبله يې د هاتي عسکر مجبور شول د اغزيو بوټي ورته کېږدي

ما په ښېدا کې د اوبو او وښو تولې زېرمې له منځه وړې دي، له همدې کبله به نن د هاتي جنګي ګاډي ډېر سخت جنګ وکړي، هڅه به وکړي چې لار پرانيزي او مصر ته ځان ورسوي، يا دا چې بايد بېرته سوريې ته ستانه شي.

که هغوی عقل درلود او هوښياران وای، نو بايد نن بېرته ستانه شوي وای. خو هغوی ډېر حريص خلک دي او هيله کوي، چې مصر ته په رسېدا سره به لوټمار پيل کړي او ډېر سره او سپين به ترلاسه کړي.

بله دا چې د منګيو او چاټيو د رانيولو لپاره يې سره او سپين لګولي، نو نه شي کولای چې له هغو تېر شي او بېرته ستانه شي.

له همدې امله وايم چې آمون معجزه کړې او د هاتي ځواک يې زموږ مخې ته راوستی دی، ځکه کله چې د هغوی جنګي ګاډي حرکت وکړي، موږ به پرې ورنازل شو، او دوی به په کندو کې ولوېږي.

هورم هب په دې وخت کې غلی شو، وچه ډوډۍ يې خولې ته يوړه او په غاښونو يې لږه ترې بېله کړه، ويې ژووله

عسکرو د ماشومانو په شان چې يوې کيسې ته غوږ وي ناري کړې ويې ويل نور څه کېږي ووايه ...... !

هورم هب ناڅاپه ژوولې ډوډۍ له خولې تو کړه او چټيات يې له خولې ووتل ويې ويل، د پوخ اشپزانو لکه چې په اوړو کې د پيشکو غايطه مواد اچولي او پاخه کړي يې دي ځکه ډوډۍ زما په خوله کې داسې بد خوند او بوی لري.

که يې دغه کار کړی وي نو زه به يې اپوته په دار وځړوم.

کله چې عسکرو دغه خبره واورېده ويې خندل او هورم هب ناري کړې... اې موږ کانو او د نيل سيند د چيکړو چونګښو ولې خاندئ ؟ -

ايا تصور کوئ چې که اشپزان ستاسې په ډوډيو کې د اسونو او خرو خوشايي ږدي نو زه به سزا ورکړم ؟ نه ...... نه ! که هغوی د جنګ له پيله تر پايه پر تاسې د ځارويو خوشايي وخوري، زه به سزا ور نه کړم. مګر په دې به خواشيني شم چې تاسې ولې زما د اسونه خوشايي خوړلي دي، ځکه چې تاسې عسکر نه ياست، بلکې د ارن موږ کان ياست.

که تاسې سرتېري وای نو پوه شوي به واست چې ستاسې په لاسونو کې دغه اوږدې لکړې د نیل سیند د اوبو د مېچ کولو لکړې نه، بلکې نېزې دي، هغه هم داسې نېزې چې وسپنیزې څوکې لري.

د غه نېزې ددې لپاره دي چې د هاتي د عسکرو خېتې پرې څیرې کړئ.

تاسې ته وایم، اې غشي ویشتونکو! تاسې کله کله دماشومانو په شان د اسمان پر لوري غشي ولیء او ګورئ چې د چا غشی ډېر لوړ ځي.

دغه غشي ددې لپاره درکړل شوي دي، چې د هاتي د عسکرو سترګې پرې ړندې او خېتې يې پرې څیرې کړئ.

که مو وس نه وي چې د هاتي عسکر په ننبه کړئ، نو صبر وکړئ چې نږدې راشي، د هغوی اسونه لويې ننبې دي هغه وولئ.

کله چې د هاتي عسکر در نږدې شي، نو د نېزې لرګي پر ځمکه کېږدئ او په دواړو لاسونو يې کلکې ونیسئ، چې څوکې د اسونو په خېټه کې ورننوځي.

که په دې ډول مو اسونه مړه نه کړل او تاسې پر ځمکه را وغورځېدلی نو په چړې سره د اسونو پلې او غوښې ورپرې کړئ، ګنې ستاسې هډوکي به درمات کړي.

هورم هب په کرکې سره پخپل لاس کې نیولې ډوډۍ بوی کړه او بیا ایسته واچوله، له خپل منګي څخه يې یو غوړپ شراب وڅښل او ويې ویل: زه فکر کووم دغه خبرې ستاسې لپاره ګټه نه لري، ځکه کله چې تاسې د هاتي د ګاډیو غږ او د عسکر کرېږې واورېدې، نو داسې به ووېرېږئ چې له وېرې او مجبوریته به د خپلو مېندو تر لمنو لاندې پټ شئ، خوله دې کبله چې دلته ستاسې مېندې نشته نو د دښتې تر خاورو لاندې به سرونه پټ کړئ.

خو دا خبره باید درته وکړم چې کله هاتیا ن له دې ځایه تېر شي ځانونه زموږ شاته د اوبو او ونو زېرمو ته ورسوي، خپل اسونه او ځانونه به ماړه او خړوب کړي، بیا به نو تاسې حتماً له منځه ولاړ شئ. ستاسې له پوستکو به کڅوړې او بوخځ جوړې کړي.

کله چې د هاتي ښځې خپل تي رودونکي ماشومان په کوم شي څملوي چې لندبل ترې تېر نه شي نو ستاسې پر پوستکو به يې څملوي یادا چې ستاسې سترګې به ړندې کړي، چې پاتې عمر د هاتي او آزیرو د تېلوا یستلو ژرندې او ارهټونه وګرځوئ.

ما خپل پنځه سوه پخواني او ډاډمن عسکر ستاسې تر شا ځای پر ځای کړي دي او

دغه پينځه سوه کسان به په جنګ کې له تاسې سره لږ واټن ولري. که تاسې وو پرېدئ، نو پر تاسې به ملنډې وو هي او که وتښتئ تاسې به ووژني. ياني که ستاسې په مخکې مرګ احتمالي وي خو تر شا به مو حتمي مرګ په تمه وي.

خو که تاسو احتمالي مرګ ګوانبې، ورسره په څنګ کې غنيمتونه او ويارونه هم درته په تمه دي.

زه باوري يم، که هر څوک خپله دنده ترسره کړي او هڅه وکړي چې د هاتي عسکر او اسونه ووژني مونږ به بريالي شو.

زه به په ټول جنګ کې له تاسې سره يم او مبارزه به کووم. پر توري او نېزې سربېره له خپلې متروکې هم کار اخلم.

که څوک وګورم چې خپله دنده په سمه توګه سرته نه رسوي، نو په متروکه به يې له پښو وغورځوم.

ما احساس کاوه چې له دې خبرو څخه د هورم هب هدف د عسکرو پارول نه دي. بلکې غواړي دده عسکر د هاتي د سرتېرو تر حملې مخکې دده خبرې واوري. ځکه چې د دښمن د عسکرو د حملې پر وخت له وېرې او وحشت سره مخامخ نه شي.

خو کله چې د هاتي عسکرو خپله اډه ټوله کړه او حرکت يې وکړ هورم هب وويل :

د دښمن سرتېري وخوځېدل او زه له آمون او د مصر له ټولو خدايانو مننه کووم. چې هغوی يې زمونږ لوري ته را واستول.

اې د نيل سيند مردار خورو ! اوس خپلې جنګي اډې ته لاړ شئ او زما له حکم پرته هېڅوک ترې را ونه وځئ.

بيا يې پر پخوانيو سرتېرو غږ وکړ ويې ويل، اې پينځه سوه پخوانيو او تکړه عسکرو، ددغو چونګښو ترشا پاتې شئ. هر څوک چې وغواړي وتښتي له ځنډ پرته يې ووژنئ.

په دې وخت کې هورم هب خپل غږ نور هم اوچت کړ او ټولو عسکرو ته يې په خطاب کې وويل :

زه تاسې ته ويلای شم چې د توري خاورې، د مصر د خدايانو او د خپلو مېرمنو او بچيانو لپاره وجنګېږئ ! خو دغه سپارښتنه بې ګټې بولم. ځکه چې پوهېږم که وکړای شئ نو وبه تښتئ او ځان به روغ رمټ وباسئ.

په دې ډول پر خپلو بچیانو، مېرمنو او تورې خاورې نارې تو کوئ.

له همدې امله وايم، چې یوازې د ځان د ساتلو لپاره و جنګېږئ او شاتګ مه کوئ که مقاومت وکړئ، بریالي به شئ. خو که شاتګ وکړئ حتماً به ووژل شئ. نو اوس لاړ شئ او د هاتي د ګاډیو تر راتګ مخکې خپلو پوستو ته لاړ شئ.

سرتېریو په داسې حال کې چې نارې یې وهلې، د خپلو پوستو پر لوري لاړل. زه پوه نه شوم، چې ایا هغوی له خوشحالۍ نارې وهلې، که له وېرې.

زه د عسکرو تر شا پاتې شوم. ځکه چې په جنګ کې د ډاکټر پوسته، د عسکرو ترشا وي، چې د ژوبلو کسانو معالجه وکړي.

د هاتي لښکرو خپلې ګاډۍ په بېدیا کې په جنګي دوه درولې وې.

د نارینه وو پر ټټر او د ګاډیو په مخکینۍ برخه کې د وزر لرونکي او رنګین لمر تصویر ځلېده او د عسکرو پر سر ښکې او بیرغونه د څپو په شان ښکارېدل.

 څرګنده وه چې د هاتي ګاډیو غوښتل، له یوې اوارې سیمې څخه چې هلته هورم هب خندونه جوړ کړي ول تېر شي. ځکه چې د هاتي عسکر له غرنۍ سیمې څخه نه شوای تېرېدای.

د اوبو، وښو او خوړو نه شتون، هم د هاتي سپاره دې ته اړ کول، چې له همدې ځایه تېر شي.

دوی نه غوښتل چې په بېدیا کې لویه دوره وکړي، ځکه پوهېدل که بېدیا ته لاړ شي، نو که دوی مقاومت وکړي، اسونه یې مقاومت نه شي کولای او وبه وژل شي.

د هاتي د ګاډیو په هر ټولي کې شپږ ګاډۍ وې، لسو ټولیو یو کنډک جوړاوه او تصور کووم چې شپېته کنډکونه یې درلودل.

د هاتي د جنګي ګاډیو په منځ کې، به د هغوی درنې ګاډۍ هم تر سترګو کېدې او درنې ګاډۍ د سپکو غوندې ګړندۍ نه شوې تللی.

دوی د صحرایي کشتیو په شان وې، خو زه پوهېدم چې هر څه به تر خپلې خېټې لاندې، له خاورو سره خاورې کړي او زه حیران وم چې هورم هب او د هغه عسکر به څنګه ددې ګاډیو مخه ونیسي؟

د هاتي د پوځیانو د نغارو غږ پورته شو، لوړ رتبه افسرانو خپل بیرغونه وښورول او ناڅاپه ګاډیو حرکت وکړ.

په یوه ځای د شپېتو کنډکونو ګاډیو حرکت کاوه، چې تکړه عسکر هم پکې سپاره ول او وېرونکې ننداره یې جوړه کړې وه. په لومړي سر کې چې ما ولیدل د ګاډیو اسونه داسې ځغلېدل ته وا هېڅوک پرې سپاره نه دي، خو وروسته چې ځیر شوم پوه شوم، د هر اس پر شا یو کس داسې پروت دی چې په لومړي نظر نه لیدل کېږي.

زه دغو سپرو په لیدو حیران شوم، دوی بې له دې چې آس ودرېږي ځانونه به یې ټیټول، چې لاسونه یې ځمکې ته ورسېږي. دوی به د چړو په وسیله هغه پړي پرې کول چې موږ پر ځمکه غځولي او په تیرانو مو تړلي ول.

په داسې حال چې دغو سپرو پړي پرې کول، نور سپاره به ورپسې راغلل، هغه نېزې به یې پر ځمکه خښې کړې، چې په سرونو کې یې بیرغونه رپېدل.

ددې کار په ګټه نه پوهېدم، خو سپرو په بېړه دغه کار کاوه. او ما ددې فرصت پیدا نه کړ چې د هاتي عسکرو په دې مانوره پوه شم.

زه پوه نه شوم چې هغوی ولې نېزې په ځمکه کې ښخوي او له دې کاره یې هدف څه دی؟

نا څاپه هورم هب ناره کړه، نېزې له منځه یوسئ او پخپله هم لاړ ځان یې یوې نېزې ته ورساوه. له ځمکې یې را وایستله او لرې یې غورځاره کړه.

د هغه عسکر هم لاړل او په ځمکه کې خښې شوې نېزې یې را وایستلې او د جنګ د جبهې ترشا یې په یو ځای کې واچولې.

هغه وخت زه پوه شوم چې ولې د هاتي عسکرو دغه نېزې په ځمکه کې ښخې کړې وې.

زه پوه شوم د هغوی هدف دا و، چې زموږ د جبهې کمزوري تکي په نښه کړي.

زه فکر کووم که هورم هب پر دغې ورځ ژر اقدام نه وای کړی او پر ځمکه د ښخو شویو نېزو د ختمولو امر یې نه وای کړی نو ګاډی، به زموږ د جبهې له کمزورو برخو تېرې شوې وې او د مصر پوځ به ماتې خوړلې وه.

کله چې ګاډی، زموږ له لوري جوړو شویو خندونو ته ورسېدلې، له دې سره سره چې هورم هب په ډېرې سختۍ سره دغه خندونه جوړ کړي ول، خو بیا هم ځینې ګاډی، له دغو خندونو تېرې شوې.

یوه کوچنۍ کنده د هاتي د ګاډیو لپاره ډېر لوی خنډ نه و، ځکه چې ځینو یې له ځان سره تختې درلودې، کله چې به دې خندونو ته ورسېدل نو هغه درې به یې د پلونو په شان پر کنده واچولې او ګاډی، به یې پرې تېرې کړې (*موږ تصور کوو، چې د پوځیانو له لوري په*

او سني پېر کې د متحرکو پلونو لېږد د دې پړاو یوه جنګي نوښت دی په داسې حال کې چې په دې کتاب کې ګورو چې دغه مانور د سینوهه په وخت کې هم ترسره کېده او جنګي ګاډي د پلونو په شان تختې له ځان سره لېږدولې چې د کندو او خندقونو د تېرېدا لپاره ترې کار واخلي. ژباړن)

که څه هم یو شمېر ګاډي له خندقونو تېرې شوې خو له دې کبله چې ډېره مرګ ژوبله یې وزغمله، نورې ګاډي چې خندونو ته ورسېدې نو احتیاط یې وکړ او لږ ایساري شوې، خو کومې ګاډي چې تېرې شوې وې، د ډېرو د هغو تختو پر وړاندې ایساري شوې چې موږ ورته ایښي وې.

د ګاډیو چلوونکي او سپرلي راښکته شوې او هڅه یې کوله چې ډبرې له مخې لرې کړي.

د هاتي د عسکرو د مانورې ګړندیتوب حیران کړی وم او داسې ښکارېده، چې هغوی څو کاله تمرینونه او مشقونه کړي دي، یا یې د جنګ په ډګر کې ډېرې تجربې تر لاسه کړې دي، چې وکړای شي د خندونو په لیدو سره سملاسي له ګاډیو کوز شي او خندونه له مخې لرې کړي.

هورم هب، چې ولیدل د هاتي عسکر د خندونو د لرې کولو تابیا کوي، پوه شو چې که هغوی ته وخت ورکړي، نو ډېر ژر به خندونه لرې کړي او لار به خلاصه کړي.

په دې وخت کې یې خپلو عسکرو ته امر وکړ، هغه عسکر په غشو وولي چې له ګاډیو ښکته شوي دي او یا دې د هغوی اسونه ووژني.

که څه هم د هاتي عسکرو ډبرې له مخې لرې کړې، خو ځیني یې ووژل شول او ځیني نور ژوبل شول او اړ شول چې بېرته په شا شي.

زموږ عسکر د هاتي د سپاهیانو په ستنېدا ډېر خوشحال شول او د خوشحالۍ نارې یې وکړې، ځکه چې فکر یې وکړ، بریالي شول او جنګ پای ته ورسېد.

خو هورم هب پوهېده چې جنګ پای ته نه دی رسېدلی، بلکې نوی پیل شوی دی.

امر یې وکړ چې نغارې ووهي او خپلو عسکرو ته یې وویل، ډېرې په بیړه، بیرته خپلو ځایونو ته ورسوئ.

زه پر دې ورځ پوه شوم چې د تکړه او تجربه کارو او هغو عسکرو ترمنځ چې ښه تمرین یې نه وي کړی څومره توپیر شته ؟

د هاتي عسکر له دې سره سره، چې وخت ورسره لړ و او زموږ د عسکرو له غشو سره مخامخ شوي ول، بيا يې هم ډېر ژر هغه ډبرې له مخې کړې، او زموږ سپاهيانو که څه هم ډېر وخت درلود خو بريالي نه شول چې هغه ډبرې بېرته خپلو ځايونو ته ورسوي.

تر دې وړاندې چې زموږ عسکر ډبرې خپلو ځايونو ته ورسوي، د هاتي جنګي ګاډي راورسېدې.

هورم هب وليدل چې عسکر د ګاډيو د حرکت د مخنيوي لپاره د ډبرو په لېږدولو کې پاتې راغلل، نو د خپلو افسرانو په وسيله يې سپاهيانو ته امر وکړ، چې د نېزو په وسيله د ګاډيو مخه ونيسي. د نېزو لرګي دې پر ځمکه کېږدي او څوکې دې د ګاډيو د اسونو د سينې لور ته په نښه کړي، چې نېزې د ګاډيو د اسونو په سينو کې دننه شي او د هغوی مخه ونيول شي.

خو دا کار هم سم و نه شو، ځکه چې د اسونو ټټر، ورمېږ او سينې ته وسپنيزې پاڼې او يا پوښونه وراغوستل شوي ول او د نيزو څوکې ترې نه شوې تېرېدای.

ما وليدل چې د هاتي د ګاډيو اسونه د مصري اسونو په پرتله ډېر غټ او لوړ دي او بېل نسل دی.

د هرې ګاډۍ په مخکې دوه لوی لرونه لګول شوي ول، چې د هاتي جنګياليو به له ګاډيو څخه خوځول او زموږ عسکر به يې د وښو په شان رېبل.

وروسته به زموږ وژل شوي عسکر د ګاډيو تر درنو ارابو لاندې شول او هډوکي به يې مات شول.

کله چې به ما د درنو ګاډيو غټ اسونه له وسپنيزو زغرو سره ليدل او کتل به مې چې د اسونو د مخ له ماسکونو څخه د ښکرو په شان وسپنې راوتلې دي، نو ددې وحشي ځناورو له څېرې به وېرېدم.

د هاتي درنې ګاډۍ به د لرونو په واسطه د وژل شويو مصري سپاهيانو پر مړيو تېرېدې، نو زه پوه شوم چې هيڅ شی د هاتي د عسکرو مخه نه شي نيولی، ځکه چې هر شی يې ماتول او له ځان سره يې ختمول.

له دې سره سره چې هورم هب به نارې کړې او په متروکو سره يې زموږ عسکر جنګ ته اړکول، خو ما ليدل چې د هغه هلې ځلې نتيجه نه ورکوي او د هاتي جنګي ګاډۍ شېبه په شېبه زموږ پر مورچو راخېږي او زموږ عسکر له منځه وړي.

په دې وخت کې پوه شوم چې څوک نه شي کولای د دغو ګاډيو مخه ونيسي او حتماً به هغوی مصر ته ننوځي، زموږ ښار به وران کړي، د مصر بچيان به ووژني او توره څمکه به ونيسي.

سر مې پر ځمکه کېښود او د مصر او د هغه د بچيانو لپاره مې وژړل.

له لرې مې د ګاډيو د حرکت، د جنګياليو نارې سورې، د ټپيانو زګېروي او د هورم هب چيغې اورېدلې، خو د هغه نارې سورې بې ګټې وې او درنې جنګي ګاډۍ تېرې شوې وې.

هورم هب امر وکړ، چې د مصر سپکې جنګي ګاډۍ، چې ډېرې ګړندۍ وې د هاتي د درنو ګاډيو ترشا حرکت وکړي او هڅه دې وکړي چې په ګاډيو کې سپاره د هاتي عسکر په غشو وولي.

ما دغه مانوره بې ګټې بلله، ځکه چې د درنو ګاډيو ترشا ګردونه او خاورې وې او دوړو د دې مخه نيوله، چې زموږ عسکر دې د هاتي عسکر په غشو وولي.

ان که دوړې هم نه وای، خو سپاهيان د غشو په ويشتلو کې دومره تکړه نه ول، چې کې له روانو ګاډيو څخه په بل خوځنده ګاډۍ کې څوک وويشتلای شي.

ناڅاپه د هاتي له هغو عسکرو څخه چې په لويو او درنو ګاډيو کې سپاره ول، هيبتناکه کړيکه پورته شوه، ما وليدل چې ځمکې خوله پرانستله او دغه درنې ګاډۍ يې ونغرلې.

هغه وخت پوه شوم، هورم هب چې کله سپکو ګاډيو ته امر وکړ چې د هاتي درنې ګاډۍ تعقيب کړي، هدف يې دا نه و، چې زموږ عسکر د دښمن سپاهيان په نښه کړي.

دده اصلي هدف دا و، چې په دې ډول د هاتي د درنو ګاډيو تکړه اسونه هيجاني او نور هم ګړندي شي، چلوونکې به وېرېږي چې زموږ د سرتېرو غشي پرې و نه لګېږي او بله دا چې په ګړنديتوب کې دوی نه شي کولای چې خپلې ګاډۍ ژر راکابو کړي.

د هورم د غه مانور ډېر ګټور او اغېزناک و او په دې ډول د هاتي درنې ګاډۍ د هغه خندق څنډې ته ورسېدې، چې مخکې، هورم هب د جبهې ترشا کيندلې او سر يې ورته پټ کړی و.

د هاتي ګاډۍ بې له دې چې پوه شي تر پښو لاندې ځمکه يې خالي ده ناڅاپه په دې کنده کې ولويدې داسې لکه چې ځمکې خوله خلاصه کړې وي او د هاتي ټولې درنې ګاډۍ يې نغرلې وي

په سر کې زه د ډېرو دوړو او خاورو له امله پوه نه شوم چې حالت څه ډول دی خو

وروسته چې دوړې ختمې شوې ومې ليدل، چې زموږ عسکرد هورم هب په امر د خندق په څنډه ولاړ ول او د هاتي پر عسکرو يې غشي او ډبرې اورولې.
هورم هب امر کړی و چې يو کس هم بايد له دغې کندې څخه ژوندی را و نه وځي.
خو زموږ سپکې ګاډۍ چې د هاتي درنې ګاډۍ يې تعقيبولې، تر هغه وروسته چې د هاتي ګاډۍ کندې ته ولوېدې، دوی بېرته راستنې شوې، چې د پليو عسکرو په مرسته د هاتي د هغو سپکو ګاډيو مخه ونيسي چې د درنو ګاډيو تر شا روانې وې.
کله چې د هاتي درنې ګاډۍ کندې ته ولوېدې، مصريان ډېر خوشحال شول، هغه کسان چې وېرېدلي ول، بېرته هيله من او زړه ور شول.
هورم هب متوجه شو، چې د عسکرو روحيه يې ډېره ښه ده، له دې فرصت او د خپلو سرتېرو له ورتيا يې پوره استفاده وکړه او زموږ په خوا کې يې خپلو مليشو او لوټمارانو ته پيغام واستاوه چې د مرستې لپاره راشي.
هغه وخت د مصر ټولو قواوو، سرتېرو، چريکانو، پليو او سپارو ټولو په ګډه په زړه ورتيا سره د هاتي په سپکو وسلو بريد وکړ او دښمن يې حيران کړ.
د لومړي ځل لپاره په دې لويه دښته کې د هاتي ګاډيو او سرتېرو لويه مرګ ژوبله وليدله او شاتګ يې وکړ.
له درنو ګاډيو او سپرو څخه هېڅوک پاتې نه شول، دوی او اسونه يې ټول په کنده کې له منځه لاړل او يا سخت ټپيان[1] شول چې تر مړينې يې بد حالت درلود. د مصر سپاهيانو هم هاتي عسکر ژوندي پرې نه ښودل چې له کندې راووځي، ټول يې مړه او ژوبل کړل.
د هاتي افسران چې پوهېدل ټولې درنې ګاډۍ او د سپکو ګاډيو يوه برخه يې له منځه تللې ده، نو له شاتګ وروسته يې د خپلې شورا غونډه راوبلله.
په دې غونډه کې هغوی ډېرې خبرې وکړې او بېلابېلې نظرې وړاندې شوې.
هغوی د لومړي ځل لپاره له داسې پېښې سره مخامخ شول، چې مخکې يې حتی تصور هم نه کاوه. دوی نه پوهېدل چې څنګه دغه حالت بېرته سم کړي.
هورم هب د هغوی له شاتګ او مشورې استفاده وکړه او له دې وېرې چې هغوی له بل اړخه پر موږ بريد ونه کړي چريکان او لوټماران يې د جبهې دواړو لورو ته واستول.
نور سرتېري يې بيا اړ کړل چې د هاتي د ګاډيو په لاره کې بيا خندونه جوړ کړي، چې که هغوی بيا حمله وکړي نو مخه يې ډب شي.

د هاتي افسران او سرتېري دومره زړه ور ول. له دې سره سره چې پوهېدل لویې ګاډۍ یې له منځه تللې دي، بیا یې هم د حملې تابیا کړې وه.

خو زموږ عسکر نور د هاتي له سپاهیانو څخه نه وېرېدل ځکه، چې د هغوی سپکې او درنې ګاډۍ کندو ته ولوېدې او ځینې مو روغې هم ولجه کړې.

کله چې برید کېده د ډېرو دوړو له کبله ما د جنګ میدان نه شو لیدای. خو چې جنګ پای ته ورسېد او د بېدیا بادونه کم شول. نو پوه شوم چې زیات شمېر مصري عسکر د هاتي د عسکرو په برید کې وژل شوي دي، په داسې حال چې داخل هغوی درنې او لویې ګاډۍ هم نه درلودې.

د جنګ په پای کې مې له ځینو مصري سرتېرو واورېدل چې ویل به یې نن دوړو ددې مخه ونیوله چې موږ د جنګ میدان ووینو، ګني که د مصري عسکرو ډېره مرګ ژوبله مو کتلې وای، نو له وېرې به مو جنګ نه شوای کولای.

مازیګر مهال چې د هاتي عسکر پوه شول. مقاومت ګټه نه لري نو تسلیم شول او هورم هب امر وکړ چې د هاتي اسیران په پړي کلک وتړي.

زموږ عسکر لکه چې عجیبه ځناور ویني، په حیرانۍ سره ورنږدې کېدل او بدن به یې لمس کاوه، چې پوه شي ایا د دوی په شان غوښه او پوستکی لري. که یې بدن له بل ډول موادو جوړ شوی دی.

زموږ ځینو عسکرو به د وزرلرونکي لمر نښانونه د اسیرانو له ټټره شکول او د یادګار په توګه به یې ساتل، چې مصر ته له ستنېدا وروسته یې خپلو خپلوانو ته وښیي.

خو تر وزرلرونکي لمر، هغه وسپنیزې خولۍ ډېرې عجیبه ښکارېدې، چې د هاتي عسکرو پر سر کړې وې پر دغو خولیو دوه متقاطع تبرونه لګېدلي ول.

زموږ عسکر تر دغې ورځې نه پوهېدل چې وسپنه څه ډول فلز دی. نو ددې خولیو په لیدو ځکه حیران پاتې ول.

له دې سره سره چې هورم هب ډېر ستړی و، خو ډېر خوشحال ښکارېده او د مصري عسکرو په منځ کې به ګرځېده.

دی له یوه ټولي څخه بل هغه ته ورغی، په ډېره مینه به یې د سرتېرو پر ملا لاس تېراوه او شاباسی به یې ورکاوه، ویل به یې افرین اې دنیل د چیکړو چینجیو! نن مو ډېر ښه جنګ وکړ.

ايا په زړه مو دي، چې نن سهار مې تاسې ته ويل چې که خپله دنده ښه تر سره کړئ، نو بريالي به شئ او اوس دا خبره منئ چې ما سمه خبره کړې وه؟

هورم هب امر وکړ چې عسکرو ته د اوربشو اوبه او ډوډۍ ورکړي. کله چې عسکر ماړه شول نو هغوی يې ازاد پرېښودل چې لاړ شي او د هاتي او مصر له وژل شويو عسکرو څخه د غنيمت شيان راټول کړي.

هورم هب پوهېده چې د هاتي او مصر وژل شوي عسکر د پام وړ شيان نه لري، خو غوښتل يې د هغه عسکر دا تصور وکړي، چې جنګي غنيمتونه يې ترلاسه کړي دي.

مصري عسکرو ته د جنګ ګران بيه غنيمت نه رسېده، بلکې ګاډۍ او اسونه يې ترلاسه کول او هورم هب پوهېده چې اسونه تږي او وږي دي.

ده هغو مصريانو ته يې چې د اسونو په روزولو کې تکړه ول، وويل اسونو ته واښه او اوبه ورکړئ.

اسونه په مصري ژبه نه پوهېدل نو په لومړي سر کې يې چې نوي پالونکي وليدل، غوسه شول. خو مصريانو واښه او اوبه ورکړې او له هغه وروسته يې له اسونو سره په ملايمت خبرې وکړې.

اس ډېر ځيرک او هوښيار ځناور دی، کله چې په بهرنۍ ژبه هم نه پوهېږي خو د غږ له تون او لهجې پوهېږي، چې ورسره مينه کېږي کنه؟ کله چې پوه شوی ورسره مينه کېږي ډېر ژر رام کېږي.

هورم هب يو شمېر ګاډۍ او اسونه ترلاسه کړل. غله او چريکان يې را وبلل چې د جنګي ګاډيو په ټوليو کې کار وکړي.

يو لامل چې هغه لوټماران او چريکان يې د اسونو په ټوليو کې کار کولو ته راوبلل دا و، چې پوهېده غله او لوټماران د اسونو په روزولو کې تر مصريانو ډېر ښه پوهېږي، ځکه مصريان له اسونو ډارېږي، خو غله او لوټماران له اسونو څخه نه وېرېږي.

له جنګ وروسته ټولو روغو عسکرو استراحت وکړ، خو ما ونه کړای شول، چې ويده شم، ځکه چې مجبور وم د ټپيانو معالجه وکړم او د هغوی پر زخمونو پټۍ کېږدم.

دغه راز د هغو عسکرو د کوپړيو عمليات وکړم، چې د هاتي د عسکرو په ګورز ژوبل شوي ول.

درې ورځې او شپې له څو تنو نورو کسانو سره چې مرسته يې راسره کوله، د ټپيانو په

معالجې بوخت وم.

په دې شپو ورځو کې یو شمېر زخمیان چې ټپونه یې لاعلاجه ول مړه شول.

له هغه وروسته هورم هب خپلې جنګي ګاډۍ پیاوړې کړې او هره ورځ به یې مصري عسکرو روزل، چې له جنګي ګاډیو سره د جنګېدا چل زده کړي.

هورم هب ویل، که څه هم موږ په دې جنګ کې له ځمکنیو ځنډونو څخه په استفادې سره بریالي شوو. خو ددې لپاره چې سوریه له آزیرو او هاتي بیرته ونیسو، جنګي ګاډیو ته اړتیا لرو، ځکه یوازې په جنګي ګاډیو کولای شو بریالي شو.

آزیرو او هاتي په سوریه کې جنګي ګاډۍ لري، او په دې جنګ کې د هاتي پلي ځواک برخه نه وه اخیستې او زه هیله کووم، هغوی چې د خپلو ګاډیو له ماتې خبر شوي، خپل پلي عسکر به بېدیا ته را واستوي او په دې ډول به زه پخپلو ګاډیو او پلیو عسکرو باندې هغوی له منځه یوسم.

خو د هاتي پلي عسکر بیدیا ته رانه غلل او د سوریې له پولو یې حرکت ونه کړ.

داسې ښکارېده چې ته وا د دښمن پلی ځواک په تمه و، چې هورم هب پرې برید وکړي او په دې ډول به د هورم هب ستړي سرتېري مات شوي ول.

خو هورم هب پوهېده، تر هغه چې د جنګي ګاډیو له پلوه خپل ځواکونه مضبوط نه کړي، باید په سوریه کې دازیرو او هاتي جنګ ته ورونه دانګي.

په صحرا کې د هورم هب بریالیتوب په سوریې کې ډېر انعکاس درلود او د سوریې ځینو ښارونو بلوا وکړه، ځکه چې په سوریه کې خلک د آزیرو له کبر او بې رحمۍ په تنګ شوي ول.

پر دې سربېره د سوریې د ښارونو ترمنځ دایمي اختلاف او سیالۍ روانې وې.

هغوی له هر فرصته استفاده کوله، چې د مخالف ښار پر خلکو خپله غوسه سړه کړي.

پردې سربیره د هورم هب جاسوسانو هم په سوریه کې د اختلافاتو اور ته لمن وهله او په صحرا کې یې د هاتي د جنګي ګاډیو د ماتې په اړه په خلکو کې یې بوږنونکي خبرونه او اوازې خپرولې، چې هغوی د مصر له قدرته ووېروي.

دوی به ویل چې د مصر د کمزورتیا او ناکامۍ وخت پای ته رسېدلی، ځکه چې نور د مصر خدای آتون نه دی او ددې هېواد تلپاتی خدای چې آمون نومېږي بیا پر مصر واکمن شوی دی.

آمون بې رحمه او غښتلی خدای دی، چې د سیند په شان د هغو کسانو وینه بهوي چې د مصر دښمنان دي.

په داسې حال کې چې هورم هب خپل عسکر په صحرا کې مشق او تمرین ته اړ کول او هغه غر یې د بریالیتوب غر وباله چې دوی یې تر څنګ د هاتي پر عسکرو حمله کړې وه.

غزې ته یې څو استازي واستول. هر ځل چې به یې خپل استازي استول، ویل به یې مقاومت وکړئ .... مقاومت وکړئ.

ځکه چې پوهېده که غزه مقاومت ونه کړي. نو د آزیرو او هاتي لښکر به یې ونیسي، بیا به هغه پر سوریې د حملې لپاره مضبوطه او ډاډمنه اډه ونه لري.

هورم هب ځینو کسانو ته دنده وسپارله چې د هغه په عسکرو کې د سوریې په هکله خبرې وکړي او و دې وایي چې په سوریه کې دومره سره او سپین شته چې که کوم پوځ له بهره پرې بریدو کړي. نو هر سرتېری به د خپل وزن په اندازه سره او سپین او ډېر نور غنیمتونه ترلاسه کړي.

یو شی چې د هورم هب ګمارلو کسانو به د هغه په هکله خبرې کولې په سوریه کې د ایشتار د معبد ښځې وې.

هغوی به ویل په سوریه کې د ایشتار معبد له ښکلو او ځوانو مېرمنو ډک دی چې په مصر یا بل هېڅ ځای کې یې ساری نه لیدل کېږي.

دغه مېرمنې ایشتار ته د خدمت کولو لپاره ډالۍ شوې وې، چې ځانونه به نارینه وو ته سپاري، په تېره بیا مصري نارینه پرېږدي، چې له هغوی سره تفریح وکړي.

ځکه چې د ایشتار د معبد مېرمنې چې هر ځل له یوه مصري سړي سره ساعت تېری کوي، تصور کوي چې ایشتار هغوی تلپاتې نعمت ته رسولې دي.

یوه ورځ یو سړی چې له تندې او لوږې یې خبرې نه شوې کولای زموږ اډې ته راننوت، مصري عسکرو هغه ونیو، خو هغه وویل چې باید ډېر ژر له هورم هب سره وګوري.

عسکرو په لومړي سر کې په هغه ملنډې ووهلې، خو وروسته مجبوره شول چې هورم هب پرې خبر کړي.

هورم هب د شپې د پیلېدا په وخت کې هغه ته د کتلو اجازه ورکړه او هغه سړي، چې سریاني جامې یې اغوستې وې، د هورم هب په مخکې رکوع وکړه، بیا یې لاس پر سترګه کېښود او داسې ښکارېده چې سترګه یې درد کوي.

هورم هب ترې پوښتنه وکړه، چې کومې حشرې چیچلی یې؟

هغه سړي وویل، هو ! هورم هبه، زه یوې حشرې چیچلی یم.

هورم هب وویل اې اتله سلام دې وي پر تا، څرګندې خبرې وکړه، ځکه چې دلته چې کوم سړی ناست دی، هغه ډاکټر دی او د حیواناتو په شان په دې نه پوهېږي چې موږ څه وایو.

سړي د هورم هب په خواب کې وویل، زما باداره هورم هبه ! هلته وبا ګډه شوه.

کله چې ما دغه خبره واوریده پوه شوم چې هغه د هورم هب جاسوس دی او په شیفرنو او رازنو کې خبرې کوي.

هورم هب چې دغه خبره واورېده، له کېږدۍ راووت او امر یې وکړ چې د بریالیتوب په غره دې اور بل کړي.

لنډه شېبه وروسته د مصر تر سرحدونو پورې پر غرونو او غونډیو اورونه بل شول او زه پوه شوم چې د مصر د ځواکونو قوماندان د اور په وسیله تانیس ته پیغام واستاوه.

د نوموړي پیغام دا و، چې د مصر جنګي کشتۍ دې له تانیسه حرکت وکړي او د غزې پر لور دې لاړې شي، هلته دې د سوریې له سمندري ځواکونو سره جګړه پیل کړي.

بله ورځ سهار هورم هب امر وکړ چې نغارې ووهي او ځواکونه یې راټول کړل.

د مصر پوځ په داسې حال چې جنګي ګاډۍ یې په مخکې روانې وې، د سوریې د سرحد پر لور وخوځېد.

زه نه پوهېدم چې هورم هب په کومه تمه او هیله نیت لري، چې په اواره ځمکه او دښته کې د هاتي له عسکرو سره چې ګاډۍ هم لري وجنګېږي.

عسکر په خوشحالۍ سره د سوریې پر لور روان شول، ځکه چې په زړه کې یې ګوړې ماتولې چې هلته به ډېر سره او سپین تر لاسه کړي او د ایشتار د معبد له ښکلو نجونو او مېرمنو سره به ساعت تېرې وکړي.

زه هم پر خپل روان تخت سپور شوم، د مصر د پوځ تر شا روان شوم. زموږ د بریالیتوب غږ، د هاتي او مصري سرتېرو د مړیو هډوکي چې د ورونو په شان ګډوډ شوي ول ترشا پرېښودل.

نهه ځلو ښتم څپرکی

د غزې د بوړنوونکي مقاومت بیانول

اوس به را شو د سوریې جنګ ته، خو هغه څه چې زه یې ددې جنګ په هکله لیکم ډېر مختصر دي.

ځکه چې زه پوځي کس نه یم او په دې نه پوهېږم چې د جنګي تخنیکونو له پلوه د جنګونو ترمنځ توپیر څه وي؟

زما له نظره ټول جنګونه یو شان دي، ځکه چې په ټولو جګړو کې ښارونه ورانېږي، کورونه سوځول کېږي، خلک وژل کېږي او د ښځو او ماشومانو کړیکې او ساندې د سړي زړه دردوي.

له دې کبله چې دغه منظرې په ټولو جنګونو کې تکرارېږي، نو که وغواړم، د سوریې د جنګ، په هکله پوره معلومات درکړم، د دغه درې کلن جنګ په هکله به زما خبرې ډېرې ستومانوونکې شي.

یوازې دومره وایم، چې د سوریې ډېر کلي وران شول، ددې لپاره چې مېوه یې په اسانه وخواړی شي په باغونو کې یې مېوه لرونکې ونې غوځې کړې او په لویو ښارونو کې یې د خلکو نفوس لږ شو.

کله چې هورم هب سوریې ته ننوت دو که یې ورکړه.

د دغې پېښې یادول اړین دي.

هغه چې کله سوریې ته ننوت عسکر یې ازاد پرېښودل، چې په کلیو کې د خلکو شیان لوټ کړي او ښځې یې اسیرانې کړي.

دغه کار یې ددې لپاره وکړ چې عسکر فکر وکړي په سوریه کې یې ډېر څه ترلاسه کړل او ډېر ساعت تېری یې وکړ.

خو له دې وروسته چې عسکرو تر يوه حده ساعت تېرى وکړ، هورم هب د هغوى مخه ونيوله او نېغ په نېغه د غزې پر لور لاړ.

هورم هب چې غزې ته نږدې شو، ژمى را رسېدلى و او کله چې د هاتي عسکرو وليدل چې هورم هب نيت لري غزې ته ننوځي، نو په بېړه يې خپل پوځيان د دې ښار په شا و خوا کې د بېره کړل، چې د هورم هب مخه ونيسي.

د هاتي پوځ په دې پوهېده چې د غزې په مخکې يوه لويه د ښته ده او په اسانه د جنګي ګاډيو په وسيله د مصر ځواکونه ختمولاى شي.

د ژمي له امله د هاتي عسکر مجبور شول د خپلو اسونو د مړولو لپاره وچ واښه د سوريې له سوداګرو واخلي.

کله چې هغوى اسونو ته دغه خواړه ورکړل، اسونه يې ناروغ شول، خوشايي يې شنه او نري شول، ډېر اسونه مړه شول او د هاتي ګاډي او د سوريې (د سوريې د پاچا آزيرو) پوځ بې اسونو شول.

له همدې کبله هاتي او آزيرو ونه کړاى شول، چې له خپلو ګاډيو څخه د هورم هب د مخنيوي لپاره کار واخلي.

له دې کبله چې هورم هب د ګاډيو له پلوه تر هغوى بر لاسه و، نو ډېر ژر يې د هغوى ګاډي له منځه يوړې.

بيا يې پليو ځواکونو ته مخه کړه او غزې ته څېرمه يې د هاتي او سوريې پلي ځواکونه هم مات کړل.

په دې سيمه کې د هاتي، سوريې او مصر دومره عسکر مړه شول چې تر دې وروسته دغه تاټوبى د هډوکو په دښتې مشهور شو.

کله چې د هاتي او سوريې پوځ د غزې پر وړاندې ماته وخوړه او هورم هب د هغوى اډه چورتالان کړه، نو امر يې وکړ چې د نومووړي اډې خوراکي ګودامونه وسوځوي، چې اسونه يې ونه خوري.

په دې وخت کې زه پوه شوم چې د هاتي د پوځ د اسونو واښه هغه زهرجن کړي ول.

زه تراوسه هم پوه شوى نه يم چې هورم هب څنګه د سوريې واښه پلورونکي سوداګر اړ کړي ول، چې پر هاتيانو زهرجن واښه خرڅ کړي چې د هغوى اسونه ناروغ او مړه شي.

له دې وروسته چې د دښمن لښکر د غزې پر وړاندې ناکام شو، هورم هب هڅه وکړه چې

غزې ښار ته ننوځي، چې د سمندر پر غاړه يو بندري ښار دی.

په همدې وخت کې د مصر سمندري ځواکونه چې له تانيس څخه را روان شوي ول، په ډېر بد حالت کې د غزې ښار ته را ورسېدل.

ځکه کله چې د مصر جنګي بېړۍ غزې ته ورسېدې مجبور شوې چې د هاتي او سوريې له جنګي بېړيو سره وجنګېږي، چې ځانته لاره خلاصه کړي.

له جګړې وروسته د مصر ځينې بېړۍ، ډوبې شوې او د نورو بېړيو سپرليو هڅه وکړه، چې ډېر ژر ځان غزې ته ورسوي، چې د دښمن د بېړيو له حملو خوندي شي.

خو د غزې د بندر پوځي قوماندان هغوی ته بندر خلاص نه کړ او ويې ويل، زه نه پوهېږم، چې تاسې مصريان ياست کنه، زموږ د غولولو لپاره مو د مصر د جنګي بېړيو نښانونه لګولي دي.

د غزې د ښار قوماندان چې پر بندري سيمې يې هم حکومت کاوه، دومره شکمن سړی و، چې حتی هورم هب ته يې هم دروازه خلاصه نه کړه او هغه هم مجبور شو چې يوه ورځ د غزې د دېوالونو ترشا پاتې شي.

تر يوې ورځې وروسته دغزې د پوځي ځواکونو قوماندان هغه ته اجازه ورکړه چې ښار ته داخل شي.

کله چې يې د ننوتو اجازه ورکړه، ويې ويل، بايد د هورم هب عسکر له ښاره دباندې پاتې شي او دی يوازې ښار ته ننوځي.

کله چې ډاډه شول دغه سړی هورم هب دی، نو بيايې د هغه عسکرو ته هم اجازه ورکړه چې غزې ته ننوځي.

په کومه ورځ چې د غزې نه ماتېدونکي کلا د هورم هب پر مخ خلاصه شوه او هغه دې ښار ته ننوت، نو پر ده ورځ په مصر کې اختر و.

دغه ورځ، د جنګ د الهې (سخ مت) ورځ بلله کېږي.

پر دې ورځ ماشومان په لرګينو ګورزونو او مصنوعي نېزو سره لوبې کوي او د غزې د جنګ ننداره وړاندې کوي.

بې له شکه بل داسې ښار نه و، چې د غزې په شان دې يې، د دښمن پر وړاندې مقاومت کړی وي.

بل داسې پوځي قوماندان هم نشته چې د دغه قوماندان په شان دې له دښمن سره مقابله

وکړي.نو له همدې کبله غوره ده، چې زه د دې قوماندان نوم په دې برخه کې ولیکم.

سره له دې کله چې زه په سوریه کې د مصر سفیر وم او له آزیرو سره مې د سولې تړون لاسلیک کړی و . هغه ما ته اجازه رانه کړه چې په دروازې د غزې کلا ته ننوځم.بلکې زه یې په یوه زنبیل کې پر د ېوال ور واړولم.

د دغه قوماندان نوم (روژو) و او عسکرو یې(غواسری) باله، ځکه چې د بدن فزیکي جوړښت یې د غوایي په شان و.

له اخلاقي او روحي پلوه هم داسې سړی ما نه و. لیدلی چې د روژو په شان بدګمانه او ځېلناک وي.

کله چې هغه موافقه وکړه چې هورم هب دې ښار ته ننوځي، بیاهم له دې سره سره چې پوه شو هورم هب د مصر قوماندان دی،د هاتي لښکرو ته یې ماتې ورکړې وه، خو بیا هم شکمن و او هغه ته یې اجازه نه ورکوله چې ښار ته داخل شي.

ویل به یې ښایي دا د سوریې او هاتي عسکر وي، چې د مصر د پوځ جامې یې اغوستي وي.

له دې وروسته چې د مصر لښکرې غزې ته ننوتې،له روژو پرته ټول خوشحال شول.ځکه چې دغه سړی څو کاله په دې ښار کې کلابند و.

که څه هم له هورم هب څخه یې امر ترلاسه کاوه، خو عادت یې دا و چې پخپل مرکز کې مطلق واکمن او قوماندان وي.

خو د هورم هب راتللو ، ددې مخه نیوله، چې هغه وکړای شي په خپل سر واکمني وکړي.

زه تصور کووم روژو چې غواسری یې باله، لږ شانته لیونی او ډېر ځېلناک و او که دغه خوی ورسره نه وای، نو له هاتي او سوریې سره یې دومره مقاومت هم نه شو کولای.

روژو ښه پوځي مخینه نه درلوده، ځکه یې هغه په غزه کې پوځي قوماندان ګمارلی و ،چې هغه له مصره لرې وساتي.

په دې ډول به د هغه له ځېلونو او شکایتونو په کرار شي،ځکه چې غزه داسې ځای و ،چې کله به یې څوک له مصره لرې کول او یا به یې سزا ورکوله هغه به یې غزې ته لېږه.

خو له دې وروسته چې آزیرو په سوریه کې بلوا وکړه او غزې مقاومت وکړ څرګنده شوه روژو یو تکړه پوځي کس دی او په دې کې شک هم نه شته چې که غزې لوړاو کلک دیوال

نه درلود روژو هلته مقاومت نه شو کولای.

د غزې د ېوالونه یې په لویو ډبرو جوړ کړي ول، ویل به یې دغه کلا په پخوا زمانو کې دېوانو جوړه کړې ده.

د هاتي عسکرو هره کلا ډېره ژر نیوله او بیا به یې ورانوله، مګر په دې کلا کې ناکام شول.

د هاتي لښکر پوځي مهارتونه درلودل، د هرې کلا تر برج لاندې به یې کنده و ایسته او په دې ډول به یې دغه برج وران کړ.

تر دې وړاندې، چې د غزې کلابندي، پیل شي، دلته غزې دوه، ښارونه درلودل. یو یې پخوانی ښار و، چې په کلا کې دننه ودان شوی و او بل یې نوی ښار و، چې له دېوالونو د باندې جوړ شوی و.

کله چې د آزیرو بلوا پیل شوه، روژو حکم وکړ چې له کلا دباندې دې، نوی ښار وران کړي.

هغه د پوځي مصلحت پر اساس دغه ښار وران نه کړ، ځکه چې په هغه وخت کې لا آزیر و د غزې د نیولو تابیا نه وه کړې، بلکې یوازې د دې لپاره یې دغه ښار وران کړی و، چې له خپلو سلاکارانو سره مخالفت وکړي.

د هغه مشاورینو ویلي ول، چې له کلا دباندې ښار ښایي زموږ د مقاومت لومړنی مرکز وي، خو روژو د دې لپاره چې له هغوی سره مخالفت وکړي، د دې ښار د ورانولو امر وکړ.

د ښار اوسېدونکي چې د ښار د ورانولو په تړاو د روژو له امره خبر شول نو بلوا یې وکړه او له آزیرو یې مرسته وغوښته، خو تر دې وړاندې چې آزیرو د هغوی مرستې ته راشي، روژو د نوي ښار اوسېدونکي ټول ووژل.

د دې بلوا مخنیوی دومره بوږنونکی و، چې د غزې د جنګ تر پایه چا جرائت ونه کړ، چې د غوایي سري روژو له حکمه سرغړونه وکړي.

هېڅوک نه پوهېدل چې باید له روژو سره څه ډول چلند وکړي؟

که د دښمن یوه عسکر به خپله وسله روژو ته وسپارله او روژو ته به یې وویل: ما مه وژنه، پر ما ورحمېږه! نو روژو به ناري کړې، دغه سړی ووژنئ، ځکه هغه د دې پر ځای چې زما عدالت ته پناه یوسي زما ښښنې ته پناه وړي او دغه موضوع ثابتوي چې ما عادل کس نه بولي.

خو کله چې به کوم عسکر تسلیم شو او د ببنني غوښتنه به یې ونه کړه، روژو به ویل، دغه سړی ووژنئ، ځکه چې له ما سره سپین سترګي کوي او ماته په درنه سترګه نه ګوري.
کله چې به مېرمنې او ماشومان ورته راغلل او په ژړا او انګولا به یې د خپلو پلرونو او مېړنو لپاره، چې هغه مهال د سوریې عسکر ول، له روژو څخه ببننه غوښته، نو روژو به ویل دغه کسان هم ووژنئ.
ده به ددغو کسانو د وژنې دلیل دا راووړ چې دوی په دې نه پوهېږي، څنګه چې د ځمکې په اړه د اسمان حکم نه بدلېږي، همغسې د هغو کسانو په اړه چې د مصر پر خلاف یې بلوا کړې وه. حکم نه بدلېږي.
هېڅوک نه پوهېدل چې له دغه سړي سره، څنګه چلند وکړي او څنګه ورسره خبرې وکړي، چې هغه خپه نه شي.
هغه به هره خبره داسې ګڼله چې ته وا څوک ورته ښکنځلې کوي، یا هغه غولوي او یا د هغه د حکم پر خلاف عمل کوي.
خلکو د هغه په یوه شي اعتماد کاوه او ډاډمن به ول، هغه دا چې کله به یې امر کاوه حتماً یې اجرا کوي او د خپل حکم د نه عملي کېدا او یا ځنډ په هکله یې هېڅ پلمه نه منله.
په لومړي سر کې د غزې پر ښار د امورو هېواد پاچا آزیرو، حمله وکړه.
دغه سړی د مصر پر خلاف له بلوا وروسته د ټولې سوریې پاچا شو او سوریه یې د مصر له منګولو خلاصه کړه.
خو پر غزې د آزیرو حمله د هاتي د برید په پرتله د ماشومانو لوبو ته ورته وه او د نارینه وو جنګ نه و.
ځکه چې د هاتي پوځ شپه ورځ اورونه، له زهرجنو مارانو ډک منګي، مصري اسیران او مړي ښار ته راغورځول، کله چې به مصري اسیران پر ځمکه ولګېدل مړه به شول، ځیني به د ښار پر دېوالونو لګېدل او هډوکي به یې ماتېدل.
کله چې مونږ غزې ته ننوتو داسې کور مو ونه لید، چې چت ولري.
د ډبرو او اورونو د ګوزارولو له امله د ټولو کورونو چتونه لوېدلي یا سوځېدلي ول او د ښار ډېر لږ شمېر اوسېدونکو په تل خونو کې ژوند کاوه، هغه هم ښځې او ډنګر بوډاګان ول، چې څو کاله یې یوازې یو وخت ډوډۍ خوړلې وه.
روژو د کلابندۍ له پیله ټول نارینه او ماشومان د لوېدلي دېوال پر جوړېدا ګمارلي ول

او په لسو نارینه وو او ماشومانو کې نهه تنه ووژل شول.
کله چې د ښار ژوندیو خلکو ولیدل و ددې پر ځای چې خوشحال شي ښکنځلې یې کولې او پر سرونو یې خاورې بادولې.
هورم هب وویل هغوی ته غوښه او غنم ورکړئ، خو ځینو چې له ډېرې مودې وروسته یې په ماړه نس ډوډۍ وخوړله مړه شول، ځکه چې د هغوی معدې څو کاله په لږو خوړو عادت شوې وې او ډېر خواړه یې ونه زغمل.
کله چې د غزې ښار ته ننوتو د دغه ښار انځور هېښوونکی و، ما ولیدل چې له دېوالونو څخه د انسانانو پوستکي راځوړند شوي دي.
په ښار کې د مړیو بویونه ول، موږ چې به کله روان وو، پوزې به مو پټولې.
دغه مړي به د هاتي عسکرو ښار ته ورګوزارول، چې د ښار ساتونکي د هغو له بویه په تنګ کړي او یا دا چې د ښار ساتونکي په رازراز ناروغیو اخته او مړه شي.
زه پر دې ورځ، چې د مصر د بریالیتوب ستره ورځ وه، خوشحاله نه شوم، ځکه چې ومې لیدل دغه بریالیتوب د هاتي له لوري د ډېرو ظلمونو، کړاونو او بدبختیو له تېلو وروسته ترلاسه شوی و، چې تر هغې ورځې یې ساری نه ولیدل شوی.
د غوایي سري روژو عسکرو چې د ښار دفاع یې کوله، له دې کبله چې ډېر ډنګر شوي ول، خلک ترې ډارېدل حتی هغه مړي تر دې عسکرو غټ او ښایسته ول، چې د مړیو په کور کې به مومیایي کېدل.
د دغو سرتېرو لاسونه او پښې د روژو له لوري د مترکو د وهلو او ډېرې لوږې له امله اوږده او نري شوي ول، پښتۍ یې له ورایه ښکارېدې او پر زنګنو یې د لوږې له کبله غدې رامنځته شوې وې.
داسې سرتېری مې ونه لید چې پر لاره نېغ لاړ شي، ټول پر ملا کړوپ شوي ول او سترګې یې د سر په کاسه کې د ننه شوې وې.
کله چې به یې موږ ته کتل موږ ترې ډارېدو، ځکه داسې ښکارېدل چې وحشي او داړونکي کسان راته ګوري.
کله چې یې هورم هب ولید په ډنګرو او ناتوانه لاسونو یې خپلې نېزې پورته کړې او ځګیروي ته ورته کړیکه یې وکړه، ویل یې مقاومت وکړئ!
کم بخته عسکرو د هورم هب په سپاربښتنه له خپل قوماندانه دغه ټکی دومره اورېدلی

و، چې د «مقاومت وکړئ» له خبرې پرته يې بل څه نه شوی ويلای او نه يې په خوله او زړه کې بله خبره وه.

کله چې هورم هب وليدل، دغه سرتېري د ډېر مقاومت او جنګ له امله دې حال ته را رسېدلي، نو هغوی ته يې وويل. له دې وروسته استراحت وکړئ، وخورئ، وڅښئ او ويده شئ، چې د بدن ستوماني مو ختمه شي او بېرته پخواني طاقت پيدا کړئ.

بې له ځنډه يې پر عسکرو تازه غوښه، ډوډۍ او د اوربشو اوبه ووېشلې.

هورم هب په خپلو لاسونو، د هر سرتېري په غاړه کې د زرو غاړکۍ واچولې او د سوريې اسيران يې پر هغوی ووېشل.

خو عسکرو له ډېرې بې وسۍ او کمزورۍ څخه دغه اسيران خرڅولای نه شول او د هاتي د عسکرو په تقليد يې هغوی شکنجه کول. ددې اوږدې مودې په کلابندۍ کې مصري عسکرو د هاتي له عسکرو زده کړي ول، چې څنګه خلک شکنجه کړي او څنګه د هغوی پوستکي وباسي او پر د ېوالونو يې ځوړند کړي ول.

کله چې به له هغوی پوښتنه وشوه، چې ولې د سوريې ښځې شکنجه کوئ او ولې يې نه خرڅوئ، په ځواب کې به يې ويل، زموږ له نظره د سوريې نارينه او ښځې يو شان دي، هر يو چې پيدا کړو خپل غچ ترې اخلو او په شکنجې سره يې وژنو.

هورم هب، غوايي سري روژو ته د سروزرو يوه غټه غاړکۍ، چې په ښکلو غميو سره پسولل شوې وه او په لاس کې يې د سرو زرو يوه متروکه ورکړه.

هورم هب هغو مصري عسکرو ته چې له ده سره غزې ته راغلي ول وويل، د غوايي سري روژو په وياړ چيغې ووهئ.

ټولو په شور و زوږ نارې کړې، ځکه کله چې ښار ته ننوتل پوه شول، چې دې سړي د ښار د ساتلو لپاره څومره زيار ګاللی او څومره سرښندنه يې کړې ده.

له دې وروسته چې د عسکرو نارې ختمې شوې روژو، هورم هب ته وويل، ايا ته فکر کوې، چې زه اس يم چې غاړکۍ دې په غاړه کې را واچوله او دغه متروکه دې په لاس کې راکړه.

بيا يې پوښتنه وکړه، ايادا خالصه طلا ده، که سرياني طلا ده؟ ځکه چې سرياني سره زر په لسو کې نهه برخې مس لري.

هورم هب دې خبرې ته حيران نه شو، ځکه پوهېده چې ددغه سړي اخلاق او خوی څه

ډول دی. نو هغه ته يې ډاډ ورکړ، چې دغه مترو که له سوچه مصري طلا سره جوړه شوې ده.

غوايي سري په ډېرې غوسې سره هورم هب ته وويل، خپل عسکر له دې ښاره وباسه، ځکه چې هغوی شور ماشور کوي او ما خوب ته نه پرېږدي.

ما د غزې د کلا بندۍ په وخت له دې سره سره چې د تورو، نيزو، د ډبرو د لګېدا او د اورونو د بلېدا غږونه اورېدل، خو بيا به مې هم ارام خوب کاوه، مګر اوس مې ستا د عسکرو د شور ماشور له امله خوب ګډوډ شوی دی.

که ته خپل عسکر له دې ښاره ونه باسې او هغوی زما خوب نور هم خراب کړي، نو مجبور يم چې خپلو عسکرو ته امر وکړم چې ستا ټول سرتېري ووژني.

غوايي سري سمه خبره کوله، هغه سړی چې څو کاله شپه او ورځ په جنګ کې ارام ويده کېږي اوس نه شي ويده کېدای، په تېره بيا دا چې شپه او ورځ د پوځي وسايلو د جمع کولو او حساب په فکرونو کې وي. يوه ورځ هورم هب ته راغی او دا ځل يې په ډېرې خاکسارۍ ورته وويل: هورم هبه! ته د مصري پوځ قوماندان او زما مشر يې. له تا څخه غواړم چې ما ته سزا راکړې، ځکه چې زه د سزا لياقت لرم.

هورم هب ورته وويل ولې ته د سزا وړ يې؟

غوايي سري ورته وويل، ددې لپاره چې هغه پوځي وسايل او تجهيزات چې تا ما ته راکړي ول او بايد د هغو حساب کتاب بيرته فرعون ته ورکړم، نه پوهېږم چې څه کړي مې دي.

که زما پاپيروسونه موجود واى، زه پوهېدم چې دغه شيان مې څه کړي دي، خو پاپيروسونه د اور په لمبو کې سوځېدلي دي او له هغه وخته چې زه نه شم ويدېدلی، خپله حافظه مې له لاسه ورکړې ده.

زه دومره پوهېږم چې د هغو ټولو شيانو حساب کتاب چې ما ته سپارل شوی و منظم دی، خو يوازې په دې نه پوهېږم، چې د خرو هغه پېنځه سوه کتې (ځل) چې په ډېپو کې وې څه شوې دي؟

زه په دې پوهېږم چې له دغو کتو (ځلونو) مو استفاده نه وه کړې، ځکه چې موږ له لوږې ټول خره خوړلي دي او کوم خر راپاتې نه شو چې کته پرې واچوو.

نو، اې هورم هبه! ددغې بې پروايۍ له امله ما ته د ټولو عسکرو په مخکې په مترو کو

سزا راکړه، چې پوه شم، د فرعون مخې ته نه شم تللی، ځکه هغه پوځي شیان مې ورک کړي چې ماته سپارل شوي ول.

هورم هب وویل :له دې امله هیڅ اندېښنه مه کوه، ځکه چې زه به له خپلې پوځي ډیپو څخه څلور سوه کتې درکړم، چې په ګودام کې یې کېږدې او په دې ډول به ستا حساب کتاب بشپړ شي.

خو غوایي سري ونه منله او ویې ویل ته غواړې ما وغولوې او غواړې د خپلو خرو کتې راکړې، چې بیا وروسته د فرعون پر وړاندې په اسانه ما تورن کړې او ورته ووایې، چې ما پوځي شیان اختلاس کړي دي.

زه به دغه کار ونه کړم او ستا دوکه به ونه خورم او په دې هم پوهېږم چې ته له ما سره حسادت کوې، غواړې د غزې حاکم شې او زما ځای ونیسې.

زه اوس فکر کووم چې تا خپلو عسکرو ته دنده سپارلې، چې زما له ګودامونو څخه د خرو کتې پټې کړي، چې په اسانه ما د فرعون پر وړاندې تورن کړای شې.

زه به هغه کتې ونه منم چې ته یې راکوې او دغه ښار به دومره وپلټم چې کتې پیدا کړم.

دغو خبرو هورم هب اند ېښمن کړ، چې دغه سړی ښځي لېونی شوی دی او ویې ویل، روژو ! غوره دا ده، چې ته د استراحت لپاره مصر ته لاړ شې.

زه احساس کووم چې ددې ښار اوږدې کلابندۍ او هغو زیارونو چې تا دلته ایستلي دي، ته ډېر ستومانه کړی یې.

خو روژو ورته وویل، زما ښځه ددې ښار کلا او څلور برجونه یې زما بچیان دي او زه به له دې ځایه لاړ نه شم.

که دغه کتې مې پیدا نه کړې، پخپل لاس به د خپلې مېرمنې او بچیانو سرونه له تنه جلا کړم.

له هغه وروسته روژو د هورم هب له خبرتیا پرته خپلو عسکرو ته امر وکړ، چې د پوځي ګودامونو منشي، چې یو زړه ورکس و او څو کاله یې د دښمن پر وړاندې مقاومت کړی و، په دار وځړوي.

کله چې هورم هب له دې کیسې خبر شو ویې ویل، بې له شکه دغه سړی لیونی شوی دی او امر یې وکړ، چې هغه په یوه کوټه کې بند او وڅاري او دباندې دوتلو اجازه ورنه کړي ماته یې وویل، ورشه، هغه معاینه کړه او وګوره چې څنګه یې معالجه کولای شې؟

زه لاړم او روژو مې معاینه کړ.

بیرته چې راستون شوم، هورم هب ته مې وویل، د هغو بخارونو له امله چې دده په سر کې راټول شوي، هغه لېوني شوی دی او د هغه د معالجې لپاره مې دوه وسیلې په نظر کې شته.

لومړی دا چې ته له خپلو عسکرو سره له ښاره ووځې او غزه هغه ته پرېږده، چې هغه په یوازې سر په دې ښار کې حکومت وکړي. هورم هب وویل، زه تر هغه له غزې نه شم تللی چې له مصره مرستندویه ځواک را ونه رسېږي.

بیا به په سوریې برید وکړم، ځکه د مرستندویه ځواکونو له راتګه مخکې، که زه له دې ځایه لاړ شم، سمدستي به ماتې وخورم او زما د لښکرو د ساتلو او امنیت یوازینۍ وسیله د غزې کلا ده.

ومې ویل اوس چې له دې ښاره نه شې تللی، د غوایي سري د معالجې لپاره بله چاره نه لرم، مګر دا چې سر یې سوری کړو، چې له سره یې بخارونه ووځي.

هورم هب په دې پوهېده چې د سر د کوپړۍ سوری کول خطرناک کار دی، نو زما له وړاندیز سره یې موافقه ونه کړه او ویې ویل، زه هغه سړی د سر سوري کولو له خطرې سره نه شم مخامخ کولی، چې د مصر د دفاع لپاره یې سرښندنه کړې وي.

پر دې سربېره کېدای شي دا تور هم راپورې شي چې د هغه له زړورتیا او مېړانې سره مې بخیلي کړې ده او د هغه د وژلو زمینه مې برابره کړې ده.

زه له یو شمېر ارام ښونکو درملو او دوو تنو مضبوطو کسانو سره د هغه کوټې ته ورغلم، دغو کسانو ته مې وویل، چې هغه په یوه کټ کې کلک وتړي چې درمل پرې وخوروم.

دغو کسانو غوایي سری په یوه کټ کې وتاړه او ما په یوه قیف سره د هغه په ستوني کې درمل ور توی کړل.

له دې وروسته مسکن درمل، چې لږ نشه یې مواد هم پکې ول، هغه ته ورکړل.

کله چې د غوایي سري معدې ته درمل ورسېدل، ورو ورو یې اغېز وکړ، پوه شوم چې لږ ارامه شو ماته یې وویل: دغه شغال هورم هب، چې له صحرا د غزې بندر ته راغلی دی، زما فکر یې داسې خراب کړی چې هر څه راڅخه هېر شوي دي.

دا مې هم هېر کړي چې د هورم هب تر راتګه یوه ورځ مخکې مې د سوریې یو خطرناک جاسوس نیولی او د کلا په برج کې مې بندي کړی دی.

ما نیت درلود چې په دار یې کړم، خو د هورم هب د راتګ او د هغه د عسکرو د راتګ له امله زما پرېشانۍ ،ددې مخه ونیوله چې زه د غه جاسوس ختم کړم.

خو دا چې دغه سړی ډېر چالاک دی نو فکر کووم د خرو کتې هم هغه پټې کړې دي.

لاړ شه او هغه ماته راوله، چې زه ترې پوښتنې ګروېږنې وکړم. پوه شم چې کتې یې څه کړې او چېرته یې پټې کړې دي.

له دې وروسته چې د هغوی له پټنځایه خبر شم نو اسوده به شم او په ارام به ویده شم.

ما په سر کې فکر وکړ چې غوايي سری چټیات وايي خو هغه داسې ټینګار کاوه، چې زه مجبور شوم په برج کې د کلا زندان ته ورشم او هغه جاسوس ووینم.

له دې وروسته چې د برج پر لور لاړم، معلومه شوه.چې جاسوس د جیل په ښکتني پوړ کې دی.دغه ځای ډېر تیاره دی او جیل ته د ورتګ لپاره باید مشالونه ولګوو.

یو مشال مې روښانه کړ او دغه جیل ته د ننوتو تکل مې وکړ.

په دې وخت کې متوجه شوم چې د جیل ساتونکی ړوند دی، هغه ته مې وویل. زه راغلی یم، چې د سوریې هغه جاسوس ووینم، چې د هورم هب له راتګه یوه ورځ مخکې نیول شوی دی.

زه غواړم دی له زندانه راوباسم او غوايي سري ته یې ورولم.

خو ړوند بوډا د مصر د شلو خدایانو نومونه واخیستل او په هر یوه یې قسم وخوړه چې په دې جیل کې ژوندی بندي نشته.

ځکه کله چې به بندي ونیول شو،لومړی به یې د معلوماتو د ترلاسه کولو په خاطر او دا چې ولې او څنګه دلته راغلی او کوم ډول خبرونه غواړي ، شکنجه کاوه.

بیا به یې په جیل کې په ځنځیرونو وتاړه او پخپل حال به یې پرېښود چې له لوږې مړ شي او مړی یې د جیل د ېږوونکو مږو خوراک شي، ځکه چې بندیانو ته د ډوډۍ ورکولو لپاره هېڅ شی هم نه پیدا کېدل.

له دې سره سره چې ړانده بوډا د مصر په شلو خدایانو قسم وخوړ چې په دې جیل کې څوک ژوندی نشته، خو زه یې په خبرو پوه شوم، چې دروغ وايي،ځکه چې یو رېښتونی کس اړ نه دی،چې په شلو خدایانو قسم وخوري.

هغه ته مې وویل ته پوهېږې،چې غوا سری داسې کس دی،چې که پوه شي تا دروغ ویلي، نو له دې سره سره چې بوډا او ړوند یې، پوست به دې وباسي،نو غوره ده چې رښتیا

دوايي.

کله چې بوډا پوه شوه، زه يې په خبرو نه غولېږم، نو رکوع او سجده يې وکړه او ويې ويل، اې ستر انسانه! چې زه دې نه وينم، خو له غږه دې پېژنم، چې مصري يې او ځواکمن يې، پر ما ورحمېږه او ما واکمن ته مه سپاره، ځکه چې هغه به مې مړ کړي.

زه د مصر او فرعون يو وفادار خدمتګار وم او يم او د کلابندۍ په پړاو کې هغه وخت چې لا يې محبو سينو ته خواړه ورکول او خوراکي مواد ډېر کم شوي نه ول، ما به هره ورځ مصر او فرعون ته د خدمت لپاره د بنديانو يوه اندازه خواړه پټول، ځکه پوهېدم، څومره چې هغوی ډېر وږي وي، ما به مصر ته ډېر خدمت کړی وي.

خو دغه سرياني جاسوس، چې غزې ته د هورم هب له راتګه يوه ورځ مخکې نيول شوی، عادي بندي نه دی، ډېر ژبور دی او کله چې خبرې کوي، د هغه خوږې خبرې زما په غوږونو کې د بلبلا نو د غږ په شان وي په کومه ورځ چې هغه جېل ته راوستل شو او د بنديانو مړي يې وليدل چې غوښې يې د مږو خوراک شوې دي، له ما يې پوښتنه وکړه چې دغه کسان ولې مړه شوي دي؟

ومې ويل، له دې کبله چې په دې ښار کې خواړه نه پيدا کېږي، موږ بنديانو ته خواړه نه شو ورکولای او هغوی له لوږې مري.

بايد ته پوه شې چې زه ړوند يم او دغه بندي په ځنځيرونو نه شم تړلی.

تل چې بندي جېل ته راځي نور کسان يې په مسي ځنځيرونو تړي او بيرته ځي.

خوله دې وروسته چې بندي په زنځير وتړل شي، زه د جېل ساتنه کولای شم.

کله چې دغه جاسوس راوستل شو، همدا کار يې ورسره وکړ، په پيل کې نور کسان راغلل او هغه يې په ځنځير وتاړه او کله چې هغوی لاړل بندي له ما څخه د بنديانو د مرګ د علت په هکله پوښتنه وکړه. د بنديانو دمرګ په اړه چې هغه زما ځواب واورېد نو ماته يې وويل، که ما ته خواړه او اوبه راکړې چې زه له لوږې مړ نه شم او پياوړی پاتې شم، نو زه به دې ښار ته د هورم هب د راتګ په وخت کې دومره سره و سپين زر درکړم، چې په سوريه کې هېڅ شتمن کس دومره زر ونه لري.

کله چې ما دغه ژمنه تړې واورېده پوه شوم چې رښتيا وايي او په خپله وعده به عمل وکړي. هغه به ويل پر دې سربېره چې زه به دومره سره و سپين درکړم، چې لېږدول به يې درته سخت وي، ستا د سترګو معالجه به هم وکړم. ځکه چې زه يو ډاکټر هم پېژنم چې د

سترګو د نارغیو په شمول د ډېرو نورو نارغیو په معالجه کې مشهور دی.

بندي راته وویل،زما دغه سترګه چې ته یې ګوري، همغه ډاکټر رغولې ده او له دې وروسته چې هورم هب دې ښار ته راننوت ته به هم شتمن شې او هم به دې سترګې رنې شي.

د ځان لپاره به کور جوړکړې، پخپل کور کې به لس نوکران وساتې او په شواروز کې به لس ځله د غاز غوښه وخورې.

ما باور درلود چې هغه به د هرې ډوډۍ په بدل کې ما ته ډېر زر راکړي، نو هره ورځ به مې هغه ته ډوډۍ، او اوبه ورکولې او هر ځل چې به مې ډوډۍ ورکوله،هره ډوډۍ به مې لس ځله ..لس ځله ...لس ځله ...لس (دین) سره زر ګڼله.

خو هغه ډېر ژر ژر وږی کېده او په شواروز کې به یې څو ځله له ما څخه ډوډۍ غوښتله.

ما به هم په هغو وسایلو سره چې په لاس کې به مې ول، هغه ته ډوډۍ برابروله او ورکوله.

دغه سړی اوس د هغې ډوډۍ په بدل کې چې خوړلې یې ده، تر څو ورځو مخکې پورې دوه وارې ،لس ځله...لس ځله .... لس ځله.... لس ځله....لس ځله...لس ځله دینه زما پوروړی دی.

(د جیل د ساتونکي هدف د سرو زرلس زره دینه دي او دین ،د اشل په وزن د نن سبا د یوه ګرام په اندازه دی.)

خو زه له هغه ډېر څه غواړم او تر هغه وخته به په تمه شم، چې زما پور درې مېلیون دین شي ،بیا به هغه ته خبر ورکړم، چې هورم هب دې ښار ته راغلی دی.

ومې ویل نو د اسې ښکاري چې تر اوسه پورې تا هغه ته نه دي ویلي چې هورم هب ښار ته راغلی دی؟

جیل ساتونکي وویل. نه ! که مې هغه ته ویلي وای، زه به له ډېرې شتمنۍ بې برخې شوی وای، خو کله چې زما پور درې مېلیونه دین ته ورسېد بیا به هغه خبر کړم.

ما ورته وویل اې رنده او ساده سړیه !ایا په دې پوهېږې چې درې مېلیونه دینه څومره طلا کېږي؟

که درې مېلیون دینه سره زر په یوه ځای کې غونډ کړې، ان په شلو اسونو به یې بل ځای ته ونه شې لېږدولی.

هغه وخت چې غزه د سوداګرۍ مرکز و ، په ټوله غزه کې درې مېلیونه دینه سره زر نه پیدا کېدل،اوس خو لا پرېږده، چې دغه ښار ببخي وران شوی دی.

پنځوسم څپرکی

کاپتا په غزه کې

په دې وخت کې چې له دې سرې سره مې خبرې کولې، زما زنګنونه له ډېرې خوشحالۍ رېږدېدل او زړه مې په ګوګل کې ټوپونه وهل، ځکه حدس مې واهه چې دغه بندي چې پخپله خوړه ژبه يې د جېل ساتونکی غولولی دی څوک دی؟

په خندا مې د جېل ساتونکي ته وويل، دغه چلباز او مداري بندي بايد مجازات شي.

ما هغه ته بوځه چې پوه شم څوک دی؟

خو ډېره به درته سخته شي، که هغه دې ځورولی وي او يا دې له لوږې وژلی وي.

په داسې حال چې د جېل ساتونکي ځان په آمون سپاره او ځګېروي يې کول، مشال يې په لاس کې واخيست، چې زه جېل وليداى شم، ځکه چې د هغه سترګې هسې هم ړندې وې.

کله چې زندان ته ورننوتم، د هغه ځای د بد بوی او د مړيو د هډوکو په ليدو چې لا يې په لاس و پښو کې ځنځيرونه ول، حيران او وډار شوم.

د جېل ساتونکي يوې ځنډې ته بوتلم، يوه ډېره يې وخوځوله، چې يو سوری ترې راڅرګند شو، بيا يې بله ډېره هم لرې کړه او سوری نور هم لوی شو.

د څو ډبرو په لرې کولو سره پوه شوم چې هلته يوه کوټه شته او ددې لپاره چې د جېل ساتونکی دغه ځای د روژو له عسکرو پټ کړي په مخکې يې ډبرې ايښې وې.

خو کوټې هوا درلوده او ما وليدل چې له بهره رڼا هم ورځي.

د زړو جامو خاوند بوډا چې په ځنځيرونو تړل شوی و، په دې کوټه کې ناست و او ماته يې کتل.

کله چې، وپېژندلم ناره يې کړه: اې زما باداره سينوهه!.. دا ته يې.. که زما سترګې دروا غ وايي؟

بختوره ده دغه ورځ چې ته يې دلته راوستې، خو ما ته ډېر ژر يو منګی شراب راوړه،

ځکه له کومې ورځې چې په دې جېل کې اچول شوی یم، شراب مې نه دي څښلي.

خپلو مریبیانو ته ووایه چې ما ووینځي او پر بدن مې خوشبویه تېل وموښي، ځکه چې زه په ساعت تېري عادت شوی یم.

د دې جېل ډبرو زما د بدن پوستکی او لګن خاصره ژوبل کړی دی.

کله چې مې ووینځي او ګران بیه جامې راواغوندي، نو که ته ورته ووایې چې د ایشتار معبد څو باکره نجونې زما کوټې ته راولي، زه به د ې ونه رټم.

ما د هغه پر ملا لاس تېر کړ او ومې ویل کاپتا ...کاپتا .... زه ستا په لېدو ډېر خوشحاله شوم.

کله چې په طبس کې وم ماته یې وویل چې ته وژل شوی یې خو زه پوهېدم چې دا خبره سمه نه ده، ځکه چې ته داسې کس یې چې په اسانه نه مرې او دلیل هم دادی چې په دې جېل کې ټول مړه شوي دي یوازې یو کس چې ژوندی دی،هغه ته یې.

په داسې حال چې په دغو کسانو کې ښایي داسې کسان هم ول، چې ستا په پرتله یې له خدایانو سره ښه مقام او ارزښت درلود، خو خدایانو ونه کړای شول چې هغوی له مرګه وژغوري.

مګر ته د خپلې ژبې او چل ول په مټ ژوندی پاتې یې، یوازې ډنګر شوی یې، لویه خېټه دې کمه شوې ده او د پوستکي په شان ستا پر پښو پرته ده. خو زه له دې ټولو سره سره په دې خوشحال یم چې ژوندی یې.

کاپتا وویل زما باداراه سینوهه ! ته لا همغه سړی یې ،کله چې زه ستا مریی وم، ته مې وپېژندې،خو د خدایانو په هکله له مونږ سره خبرې مه کوه،ځکه کله چې ونیول شوم او بدبخته شوم، ټولو خدایانو ان د بابل او هاتي خدایانو ته مې پناه یوړه، مګر هېڅ یو زما مرستې ته رانه غی او زه یې ونه ژغورلم.

ددې لپاره چې ژوندی پاتې شم، مجبور شوم چې ځان ډېوالیه کړم، ځکه چې دغه جېل ساتونکي د هر وخت ډوډۍ په بدل کې د یوه ښار د یوه کال قلنګ په اندازه سره زر راڅخه غوښتل.

ددې ښار واکمن هم یولېوني سړی دی، چې په عقل برابره خبره نه مني او زه یې داسې شکنجه کړی یم، چې ما به د هغه سخوندر په شان نارې وهلې، چې څوک یې ژوندی له پوسته کړي، مګر دغو نارو سورو به پر هغه هېڅ اغېز نه کاوه.

خو زما باداره! ووایه چې دغه ځنځیر خلاص کړي او ما له دې زندانه وژغوري
اوس چې ته راغلی یې، نو زه نور یوه شېبه هم په دې زندان کې نه شم پاتې کېدای.
ماهم بې له ځنډه امر وکړ، چې دده ځنځیرونه خلاص کړئ.
کاپتا ډېر کمزوری شوی و، پر لاره هم نه شو تللی، ما د خپلو مریانو په مرسته خپلې کوټې ته بوت او مریانو ته مې وویل، چې هغه ووینځي او د سر وېښتان او ږیره یې اصلاح کړي.
د کتان جامې مې ور واغوستلې، د سرو زرو امېل مې ور په غاړه کړ او په لاس مې ورته کړه وتړله، چې نور پوه شي، هغه یو محترم سړی دی.
په داسې حال کې چې زما غلامان د هغه په وینځلو او د کالیو په بدلولو بوخت ول، کاپتا بې له ځنډه خوله ښوروله او ډوډۍ یې خوړله چې تاند او تکړه شي.
خو د دروازې له شا د جېل د ساتونکي زګېروي او نارې سورې اورېدل کېدې.
هغه د ځان لپاره دوه مېلیونه و درې لکه و شپږ سوه زره (دین) سره زر غوښتل.
جېل ساتونکي نه غوښتل چې حتې یو دین سره زر یې کم شي او ویل به یې، زه د هغه خوړو د برابرولو لپاره چې ژوندی پاتې شي، له ډېرو خطرو تېر شوی یم، له خپل ژوند سره مې لوبې کولې او اوس یو دین سره زر هم نه ورېښم.
ما کاپتا ته وویل، دوه او نیم کېږي، چې هورم هب په دې ښار کې دی او په دې موده کې دغه درواغجن او چلباز سړي تا ته ونه ویل، چې هغه په دې ښار کې دی.
له دې کبله چې ستا او هغه معامله په هغه ورځ خلاصېده، چې هورم هب دې ښار ته راغلی دی، نو دغه خبر یې تا ته در نه کړ؟
ستا له بندي کېدا یوه ورځ وروسته هورم هب دې، ښار ته راننوت او ته یوازې د یوې ورځې لپاره د هغه د خوړو پوروړی یې، هغه هم د همدې ورځې د خوړو په بیه باید ورسره معامله وکړي.
له دې کبله چې دغه چلباز سړي درسره ډېره دوکه کړې ده، زه حکم کووم چې، هغه په مترو کو ووهي.
هورم هب ته مې وویل، چې امر وکړي سر یې له بدنه جدا کړي، ځکه چې دغه سړي د غزې د کلابندۍ په وخت کې د بندیانو ډوډۍ پټوله او هغوی ته یې نه ورکوله
دی په دغه جېل کې د هغو ټولو بندیانو د مړینې مسول دی چې له لوږې مړه شوي دي.

خو کاپتا اعتراض وکړ او ویې ویل، دغه کار مه کوه، ځکه زه داسې سړی یم چې غواړم سمه معامله وکړم او خپله ژمنه بیرته وانه خلم.

سمه ده چې باید ما خواړه د ورځې په نرخ حساب کړي وای، خو کله چې به ما ډوډۍ ولیدله داسې به بې تابه شوم، چې څه به هغه غوښتل ما به منل.

زه پر دې خبرې حیران شوم، ومې ویل، ستا دې خبرې حیران کړم، ایا ته په رښتیا کاپتا یې او دغه خبره ستا له خولې اورم؟

ته داسې کس یې چې له یوې کړۍ مس څخه هم نه تېرېدې او اجازه دې نه ورکوله چې څوک دې دوکه کړي.

اوس ډېر ښه پوهېږم چې دغه سړي غولولی یې او تا ته یې دروا غ ویلي دي، کله چې هورم هب دې ښار ته راغی، ده تا ته نه دي ویلي چې هغه راغلی دی، نو اوس ډېره د حیرانۍ خبره ده، چې ته که څه هم پوهېږې هغه دوکه کړی یې، خو بیا هم هڅه کوې د هغه پور ورکړې.

زه تصور کوم چې د دې ښار خاصیت دادی، هر څوک چې د غزې ښار په دېوالونو کې ایسار شو، نو د غوایي سري په شان لېونی کېږي او حتی د کاپتا په شان سړی هم لېونی کېږي او فکر نه کوي چې دوه مېلیونه و درې لکه شپېته زره دینه سره زر څنګه دې سړي ته ورکړي؟ دا په داسې حال کې ده، چې کله د آتون خدایي له منځه لاړه ته هم زما په شان دېوالیه شوې.

خو کاپتا چې د ډېرو شرابو د څښلو له کبله مست شوی و، ویې ویل زه سم او رښتونی سړی یم او پخپله ژبه درېږم.

د دې سړي پور به ورکړم، خو له هغه څخه مهلت اخلم چې ورو، ورو یې پور ورکړم.

بله خبره دا ده، چې هغه دومره ساده او احمق دی، چې که زه هغه ته لس دینه سره زر یا حتی دوه دینه سره زر په یوه تله کې واچوم او ورته ووایم چې دا دوه مېلیونه و درې لکه و شپېته زره دینه دي، نو و به مني یې او خپل حساب به ورسره پاک کړم.

په دې ډول به راضي شي، ځکه دغه سړي ټول عمر حتی یو دین سره زر هم نه دي لیدلي.

زما باداره سینوهه! لکه چې تا وویل زه نن دېوالیه یم او د طبس بلواوو بېوزله کړی یم. کله چې په طبس کې جنګ پیل شو، نه پوهېږم هغه مریبان او نوکران چې د آتون پلویان ول، څنګه پوه شول چې زه له آمون سره ارتباط لرم؟

هغوی ته ویل شوي ول، چې ما، مریيان او کارګران په آمون خرڅ کړي دي او د آتون پلوي کارګرانو او نوکرانو زموږ پر میخانې برید وکړ.

دوی زما د وژلو نیت درلود، خو زه د ځان د ژغورلو لپاره وتښتېدم او له طبسه ممفیس ته لاړم.

له دې وروسته چې پوه شوم، هورم هب د سوریې تکل کړی دی،نو په دغه هېواد کې ورسره یو ځای شوم.

دلته مې هورم هب ته ډېر خدمتونه وکړل، منجمله دا چې بریالی شوم، چې د هاتي پر لښکرو وا ښه خرڅ کړم او هغه څه چې ما دهاتي پر لښکرو خرڅ کړل، ددې سبب شول چې د هاتي ټول اسونه مړه شي.

ددې خدمت له امله هورم هب کابو یو مېلیون دینه سره زر زما پوروړی دی.

ما خپل ژوند په خطرې کې واچاو او د سمندر له لارې مې ځان د غزې بندر ته ورساوه، خو کله چې زه ښار ته راننوتم، د ښار لېوني واکمن، ونیولم او په دې تور یې شکنجه کړم، چې ګني زه د سوریې جاسوس یم.

بیا یې زندان ته واچولم او که دغه جېل ساتونکي، زه نه وای ژغورلی. زه به په جېل کې له لوږې او دردونو مړ شوی وای.

هغه وخت زه پوه شوم چې کاپتا په سوریه کې د هورم جاسوس او د جاسوسانو مشر و.

دغه راز زه متوجه شوم، هغه جاسوس چې په سینا صحرا کې ما ولید او له هورم هب سره د مخامختیا پر مهال یې پر یوې سترګې لاس ایښی و، په دې ډول یې غوښتل هورم هب ته وروښیي چې په یوه سترګه د ړانده کس یانې کاپتا له لوري راغلی دی.

زه پوه شوم چې کاپتا د هاتي پر لښکرو د زهرجنو وښو په پلورلو سره بریالی شو، چې د هغوی ګاډي له کاره واچوي او د هورم هب د لښکرو پر وړاندې لاره پرانیزي.

هورم هب په سوریه کې له کاپتا پرته داسې تکړه جاسوس نه شو پیدا کولای، ځکه د سوریې له حالاتو سره تر زیات نه بل څوک بلد ول او نه بل څوک د هغه غوندې چالاک و.

که څه هم زه پوهېدم چې هورم هب، داسې څوک نه دی، چې د چا پور ورکړي، ومې ویل، کاپتا فرض کړه، چې هورم هب دې تر دې سرو زرو لس برابره ډېر پوروړی دی، خو که ته یوه ډېره ټینګه کړې، ممکنه ده سره زر ترې واخلې.

مګر هورم هب دومره سخت دی، چې تا ته به د غنمو د یوې دانې په اندازه هم سره زر

درنه کړي.

دغه سړي تر اوسه پورې د هېڅا پور نه دی ورکړی.

کاپتا وویل زه پوهېږم چې هورم هب د غزې له هغه غوايي سړي واکمن څخه هم ناشکره دی، چې ما له لوږې وژغوره. پر هورم هب باندې هم ښه نه دي معلوم.

ما په حیرانی سره ترې پوښتنه وکړه، ایا تا هغه له لوږې ژغورلی دی؟

کاپتا وویل هو ! کله چې غزه د هاتي د لښکرو په کلابندۍ کې وه، ما د هاتي پر پوځ له مارانو ډک منګي خرڅ کړل.

هغوی په سر کې باور نه کاوه چې په منګیو کې زهري ماران دي، ما یو پکې خلاص کړ ماران له منګیو راووتل او د هاتي درې عسکر یې وچیچل.

بیا یې جرائت ونه کړ، چې نور منګي خلاص کړي او هغه منګي یې په دې ګمان چې ماران پکې دي، د غزې کلا ته ګوزارول.

په داسې حال کې چې ما هغه منګي له غنمو ډک کړي ول او په وروستیو ورځو کې همدغه غنم وو، چې د غزې واکمن او د هغه سرتېري یې له مرګه وژغورل.

خو د هورم هب په هکله باید ووایم چې هغه، ددې ښار تر واکمن هم ناشکره دی او ما ته حتی یو (دین) سره زر هم نه راکوي، خو زه له هغه څخه غواړم، چې په ټوله سوریه کې د مالګې د خرڅلاو ټیکه ماته راکړي او دغه راز د هر هغه بندر د مالیاتو د ترلاسه کولو حق راکړي چې ازاد وي.

ومې ویل کاپتا ! تا فیصله کړې، چې ټول عمر کار وکړې او د زندان ددې ساتونکي پور ورکړې؟

کاپتا وخندل، ویې ویل، ما ددې سړي د پورونو د ورکولو لپاره دوه لارې په نظر کې نیولې دي.

یوه دا چې لږ سره زر ورکووم او هغه ته وایم چې همدومره پوروړی وم او هغه چې هېڅکله سره زر نه دي لیدلي، ممکنه ده راضي شي.

بله لاره داده، چې له هغه سره مې ژمنه کړې ده، چې ستا په وسیله به چې یو ډاکټر یې د هغه د سترګې معالجه کړم او کله چې بینا شو له هغه سره به د کمسایي لوبه وکړم او پر هغو سزو زرو به شرط وتړم چې پر ما یې باندې دي.

له دې کبله چې د کمسایي په لوبه کې زه ډېر تکړه یم او هر ډول چې مې زړه غواړي

کمسايي اچولی شم، نو د هغه ټول پورونه به په دې ډول پرې کړم.

په دې وخت کې د جهل ساتونکی چې د دروازې تر شا يې ژړل، کوټې ته راننووت.

کاپتا ورسره خبرې وکړې او د جهل ساتونکی يې راضي کړ چې د خپل پور د ترلاسه کولو لپاره کاپتا ته مهلت ورکړي.

له هغه وروسته ما د جهل ساتونکي سترګه معاينه کړه، پوه شوم چې د سترګو د يوې ناروغۍ له امله ړوند شوی دی، چې تر اوسه پورې چا نه دی معاينه کړی.

زه پوهېدم چې په يو ډول ستنو سره، چې د ميتاني په هېواد کې مې ليدلې وې، د هغه د سترګې نظر بيرته په موقتي ډول راستنولی شم.

کله چې سترګه د يوې ستنې په وسيله عمليات شي، که څه هم نظر بيرته سمېږي، خو له هغه وروسته، د دې ناروغ سترګه داسې کېږي، چې بيا بيرته نه رغېږي. دغه راز بيا يې عمليات هم نه شي کېدای *(دغه څرګندونې د سينوهه د وخت او د هغه وخت علمي استدلال او منطق دی ژباړن)*

په بله ورځ چې کاپتا استراحت کړی او تکړه شوی و، ما هورم هب ته وروست.

هورم هب د کاپتا په ليدو ډېر خوشحال شو او هغه يې په غېږ کې ونيو، ښکل يې کړ او ويې ويل، کاپتا! ته نن سبا د مصر يو ستر اتل يې او د مصر ملت به دې هېڅکله هېر نه کړي.

خو کاپتا وژړل او ويې ويل اې هورم هبه! ټول هغه وياړونه چې د مصر ملت يې پر ما پيرزو کول غواړي، زما لپاره د غنمو د يوې دانې په شان ارزښت لري.

اې هورم هبه! وياړ او قدرونه د خدايانو د مرستې په شان دي، چې د مسو د يوې کړۍ په شان ارزښت نه لري او زه نه ستاسو قدرونه غواړم او نه هم هغه وياړ غواړم چې د مصر ملت يې پر ما پېرزو کول غواړي.

زه سره زر غواړم ځکه چې له تاسره د مرستې لپاره مې ډېر لګښت کړی دی او دومره پوروړی يم، چې له چاسره د مخامخ کېدا جرئت نه لرم.

ته بايد ماته سره زر را کړې، چې له دغو پورونو خلاص شم.

د هورم هب تنده تروه شوه او له ډېرې غوسې يې خپله متروکه په خپله پښه ووهله، ويې ويل، کاپتا! هغه څه چې ته يې وايې زما په غوږونو کې د مچانو د بنګېدا په شان دي.

ستا خوله په دې خبرو پليته شوه، ته پوهېږې چې ما لا جنګي غنيمتونه، نه دي ترلاسه

کړي، چې تا ته سره زر درکړم.

که مې کومه ورځ غنیمتونه تر لاسه کړل، نو باید سره زر یې د هاتي پر خلاف په جنګ کې ولګوم او تا ته به هېڅ هم درونه رسېږي.

خو له دې کبله چې ته پوروړی یې او د پورونو غوښتونکو ته ځان نه شې ښودلی، نو هغوی ما ته راوښیه، چې زه ټول په جاسوسۍ او خیانت تورن کړم. په دار یې وځړوم او بیا به د چا پور درباندې نه وي.

کاپتا وویل، زه نه غواړم چې پور غوښتونکي مې په دار وځړوې، ځکه که هغوی ووژل شي، په مصر او سوریه کې به زما باور ختم کړي او بیا به هېڅوک له ما څخه کوم شی وانه خلي.

هورم هب چې غوښتل یې زما پر پخواني مریي ملنډې ووهي وویل، کاپتا! غواړم پوه شم چې غوایي سري، څنګه په دې تور چې د سوریې جاسوس یې جېل ته واچولې او شکنجه یې کړې.

ځکه چې د غزې واکمن که څه هم لېونی دی، خو یو ځیرک او ښه سرتېری دی، په پوځي مسلو کې تېروتنه نه کوي او حتماً داسې کوم علت شته چې پر تا یې ناسم ګمان کړی دی.

کله چې کاپتا دغه خبره واورېده، داسې زګېروی یې وکړ ته وا بیا شکنجه شوی وي.

د خپلو جامو ګرېوان یې وشکاوه، ځکه چې پوهېده تاوان نه کوي او دغه جامې ما ورکړې وې.

بیا یې وویل هورم هبه! تا همدا اوس ما ته وویل چې مصر به زما قدر وکړي او ما تلپاتې ویاړ ور په برخه کړی دی، نو څه ډول پر هغه کس د جاسوس تور لګوې چې مخکې دې ستر کس باله؟

ایا د مصر پوځ او پخپله تا زما خدمتونه هېر کړي دي؟

ایا دا زه نه وم، چې د هاتي پر اسونو مې زهرجن وابښه وخوړل، هغوی مې ختم کړل او په دې ډول د هاتي ګاډي بې کاره شوې؟

ایا دا زه نه وم چې د مرګ خطره مې ومنله او غزې ته مې غنم ورسول.

که زه نه وای، هغه غنم به غزې ته رسېدلي وای؟

ایا دې ښار مدافعین به له لوږې مړه شوي نه ول او ته به دې ښار ته ننوتی وای؟

ایا دا زه نه وم، چې د خپلو سرو او سپینو په وسیله مې کسان وګمارل، چې په صحرا

کې تا د هاتي د عسکرو له حالته خبر کړي او د هاتي د عسکرو د اوبو ژې خبرې کړې، چې اسونه او عسکر یې ترې پاتې شي او په دې ډول ختم شي.

ټول دغه کارونه مې تا او مصر ته د خدمت په موخه کړي دي. په داسې حال چې پوهېدم، ته به زما اجوره ډېره ژر رانه کړې او په عین حال کې نورو له ما پیسې غوښتلې او چا ورپیا کار هم راته نه کاوه.

ته پوهېږې، چې د طبس د پېښو له امله مې خپله ټوله شتمني له لاسه ورکړه او ډېوالیه شوم او کوم شی مې نه درلود چې مصرف یې کړم.

زه مجبور وم چې د آزیرو پاچا او هاتي ته خدمتونه وکړم، چې هغوی سره و سپین راکړي او یا ستا د بریالیتوب لپاره په نورو ډولونو د هغوی مرستې راجلب کړم.

هغه خدمتونه چې ما هاتي او د آزیرو پاچا ته کړي دي، په دې ډول و، چې تا ته یې تاوان نه رساوه، خو زما کارونه یې اسانول.

زه باوري وم، چې باید یو لایق کس څو غشي په کڅوړه کې ولري، چې که یې یو پر نښې ونه لګېد، نو له نورو غشو به استفاده وکړي.

له همدې امله مې د ختمو یوه لوحه د سورېې له پاچا آزیرو څخه واخیستله چې که د سوریې پوځ راته ستونزه پېښه کړي، په دې لوحه به ځان وژغورم.

له دې وروسته چې د زهرجنو ونښو له امله د هاتي ټول اسونه مړه شول، هغوی پر ما بدګمانه شول او ما چې ځان په خطر کې لیده د سمندر له لارې غزې ته راغلم.

ما فکر کاوه چې که مې د غزې واکمن درناوی ونه کړي، نو لږ تر لږه له هغه چا سره به بد چلند نه کوي، چې مصر ته یې دومره لوی خدمتونه کړي دي.

خو هغه چې لېونی دی، کله چې یې زه، په سریاني جامو کې ولیدم پر ما شکمن شو او بیا یې زه وپلټلم.

د پلټنې په لړ کې یې راسره د آزیرو لوحه وموندله او چې څومره سپیناوی مې وکړ او له تا سره مې د خپلې ملګرتیا نښې ورته وویلې، هغه ونه منلې او باور یې نه کېده چې ما به د مصر پوځ ته دومره خدمتونه کړي وي.

زه یې داسې شکنجه کړم چې د غوایي په شان به مې نارې وهلې او متوجه شوم چې هغه غوایي، ما دوه ځایه کړي، نو مجبور شوم اعتراف وکړم چې زه د آزیرو جاسوس یم.

هورم هب وخندل او ویې ویل کاپتا! تا مصر او ددې هېواد پوځ ته ډېر خدمتونه کړي

دي، چې معنوي اجر لري، خو د سرو او سپينو خبره مه کوه، ځکه ته پوهېږې، که له ما څخه سره و سپين وغواړې ما به غوسه کړې.

کاپتا له دې ټولو سپينو خبرو سره سره ماتې ونه منله او دومره زارۍ او ژړاوې يې وکړې چې بالاخره يې له هورم هب د هغه او د هغه د عسکرو د ټولو غنيمتونو د پېر و پلور ټېکه واخيسته.

ددې ټېکې له مخې کاپتا دا حق ترلاسه کړ، چې له هورم هب او د هغه له عسکرو څخه ټول جنګي غنيمتونه واخلي او په بدل کې يې خواړه او د تفريح وسايل پر عسکرو وپلوري.

کاپتا دا حق هم درلود، چې پيرودل شوي شيان په هر ځای کې پلورلای شي.

ددې تړون له مخې د هغو غنيمتونو د پېر و پلور حق هم کاپتا ته ورسېد، چې د هېوکو په دښته کې د هورم هب پوځ ته په لاس ورغلي و.

زه پوهېدم چې په دغو امتيازونو سره کاپتا ښه شتمن کېدای شي.

په همدې وخت کې، چې کاپتا له هورم هب څخه دغه حق ترلاسه کاوه، ځينې سورياني او مصري سوداګر هم غزې ته راغلي ول، چې د عسکرو غنميتونه ترلاسه کړي.

خو له دې کبله چې د غنيمتونو د ترلاسه کولو حق له کاپتا سره و، نو د هغه له خوښې او باج ورکولو پرته سوداګرو هغه غنيمتونه هم له سوريې نه شوای ايستلای چې اخيستي يې ول.

هورم هب له دې وروسته په غزه کې يې له مصره راغلي مرستندوی ځواکونه، له خپلو ځواکونو سره يو ځای کړل، نو په جنوبي سوريه کې چې څومره اسونه ول ټول يې ترلاسه کړل.

عسکر او ګاډۍ يې تمرين او مشق کولو ته اړ کړل، غوښتل يې د سوريې پر يوه ستر بندر ژوبه بريد وکړي.

خو پر دغه بندر له حملې مخکې يې يوه اعلاميه صادره کړه، چې د هغه د جاسوسانو په وسيله په ټوله سوريه کې د خلکو تر غوږونو ورسول شوه.

په دې اعلاميې کې د سوريې خلکو ته په خطاب کې ويل شوي ول، زه ددې لپاره نه يم راغلی چې د سوريې ښارونه ونيسم، بلکې غواړم د سوريې ښارونه وژغورم او د ښار اوسېدونکي بايد ما خپل ژغورونکی وبولي.

باید ووایم، هغه مهال چې سوریه د مصر په کنټرول کې وه او لا د آزیرو او هاتي لاسونو ته نه وه لویدلې، د سوریې هر ښار خپلواک او ازاد و او په هر ښار کې یوه پاچاحکومت کاوه.

ددې ښارونو او سپېدونکو په آزادۍ کې ژوند کاوه، سوداګري یې کوله، شتمن هم ول، خو له دې وروسته چې آزیرو په سوریې حکومت وکړ، پخوانی دود یې ختم کړ او د ښارونو خپلواکي او پاچاهان یې ختم کړل او له ښارونو یې ډېرې مالیې ترلاسه کړې.

آزیرو چې ډېر حریص و، دغه ښار یې په هاتي خرڅ کړ او هاتي په خپله بې رحمۍ او خاص حرص سره د ښار پر او سپېدونکو داسې فشار راوست، چې هغوی به هېڅکله د هاتي د حکومت وخت هېر نه کړي.

هورم هب پوهېده چې خلک د هاتي له ظلمونو تنګ شوي، نو پخپله اعلامیه کې یې وویل، زه هورم هب، د شاهین زوی یم، هر ښار او کلي به د مریبتوب له جغه وژغورم او ټینګار کووم چې د سوریې ټول ښارونه به د پخوا په شان ازاد او خپلواک وي.

هغو پاچاهانو چې د هاتي او آزیرو تر واکمنۍ مخکې یې پر دغو ښارونو حکومت کاوه، هغوی به بیا د پاچاهۍ پر ګدۍ کېنېني.

یو ځل بیا به د سوریې د ښارونو او کلیو دغوړېدا او سوکالۍ وختونه راشي.

هورم هب پخپله اعلامیه کې د سوریې ټولو ښارونو ته بلنه ورکړه، چې د هاتیانو پر خلاف پاڅون وکړي.

هغوی وباسي او ویې ویل، هرښار چې د هاتي پر خلاف بلوا وکړي د هغه ملاتړ به و رسره وي.

خو هغه ښارونه چې د مصریانو پر وړاندې مقاومت وکړي، کله چې مصریان بریالي شي، نو لوټ به یې کړي او ټول او سپېدونکي به یې د مریبانو او وینځو په توګه وپلوري.

د ښار کلا به داسې ورانه کړي، چې بیا به هلته هېڅکله ښار اباد نه شي.

د هورم هب اعلامیې د سوریې او هاتي په خلکو کې اختلافات پیدا کړل او د هورم هب هدف هم همدا و.

کله چې د هورم هب بېړیو د ژوبه بندر پر لور حرکت وکړ، کاپتا له غزې ونه خوځېد، ځکه باور یې نه کېده، چې هورم هب به په ژوبه کې بریالی شي.

هغه پوهېده چې آزیرو او هاتي په سوریې کې د ځواکونو په ټولولو بوخت دي

غوايي سرى (روژو) وروسته له کاپتا سره پخلا شو، ځکه چې پوه شو، هغه د سوريې د پاچا ازيرو جاسوس نه دى، بلکې د مصريانو خدمتونه يې کړي دي

بله دا چې کاپتا، روژو د خرو د څلور سوه کتو د ورکېدا له لانجې وژغوره، هغه ته يې وويل، د خرو کتې چا نه دي پټې کړې، بلکې د هغه عسکر چې وږي ول، د پسونو له پوستکو جوړې کتې يې هم خوړلې دي

له دې وروسته چې غوايي سرى پوه شو، چې کتې چا نه دي خوړلې لېونتوب يې هم ښه شو، موږ يې لاسونه او پښې خلاصې کړې او ازاد شو.

بايد ووايم چې د هورم هب او د هغه د لښکر له تګه وروسته، زه په غزه کې پاتې شوم ما وليدل چې څه ډول د ړانده جېل ساتونکي سترګې، په موقتي ډول معالجه شوې او هغه خپل نظر بيرته ترلاسه کړى.

غوايي سرې د هورم هب له تګه وروسته د ښار دروازې بيرته بندې کړې او ويې ويل، له دې وروسته، به د مصر هېڅ يوه لښکر ته اجازه ورنه کړي، چې دې ښار ته ننوځي او د هغه لپاره ستونزې پېښې کړي

له دې کبله چې د غزې واکمن، بل کار نه درلود، نو له کاپتا سره يې چې د هغه ملګرى شوى و، شراب څښل او د کاپتا او بوډا جېل ساتونکي د کمسايي ننداره يې کوله

کاپتا او نوموړي بوډا له سهاره تر ېګا کمسايي کوله، شراب يې څښل او ډېر ځله به سره ښکېل شول، ځکه چې جېل ساتونکى به تل بايلونکى و، هڅه به يې کوله چې په هره لوبه کې لږ شرط وتړي، خو کاپتا به اړ کړ چې ډېر شرط وتړي

کله چې د هورم هب لښکر ژوبه ته ورسېد *(ژوبه يو بندري ښار و، چې نن سبا يافا بلل کېږي ژباړن)* د کاپتا او زاړه جېل ساتونکي لوبه هم خلاصه شوه او ما واورېدل، چې هغوى په يو وار په يو نيم لک دينه سرو زرو شرط وهلى و.

بوډا جېل ساتونکى نه يوازې پر کاپتا هغه ټولې پيسې بايلودې، چې پور يې ورباندې و، بلکې له کاپتا څخه دوه لکه دينه سره زر پوروړى هم شو.

خو کاپتا څواني وکړه او دغه سره زر يې له هغه څخه ونه غوښتل، بلکه څو کړى، سپين زر يې هم ورکړل

په دې ډول چې کله زه او کاپتا له غزې څخه د ژوبه پر لور تلو، دغه بوډا د دغه احسان له امله چې کاپتا پرې کړى و ژړل

زه نه پوهېږم، چې کاپتا د کمسايي په سمو دانو له هغه سره لوبه کوله، که ټګي يې ورسره کوله، خو په دې خبر يم چې کاپتا د کمسايي په لوبه کې ډېره تجربه درلوده.

له دې وروسته چې موږ له غزې روان شو، ددې کمسايي اوازه، چې څو ورځې يې دوام وکړ او دوو قماربازانو، په څو مېليونه دينه سرو زرو لوبه کوله، په ټولې سوريې کې خپره شوه.

بوډا جېل ساتونکی زموږ له تګه وروسته بېرته ړوند شو او په هغو سپينو زرو چې له کاپتا يې اخيستي ول، د ښار د کلا په خوا کې يې يوه جونګړه جوړه کړه او خپل پاتې عمر يې هلته تېر کړ.

له دې کبله چې غزې د هاتي له ولکې تر وتلو وروسته خپل سوداګريز اهميت بيا موند، ډېر مسافر او سوداګر به دې ښار ته تلل او هر څوک چې به د سوريې له داخل او بهره دې ښار ته ننوتل، غوښتل يې هغه بوډا جېل ساتونکی وګوري او د هغه ستر قمار کيسه ترې واوري چې تر هغه وخته يې په مصر او سوريه کې ساری نه درلود.

دغه کيسه د هغه بوډا له خولې واوري.

بوډا په ډېرو ياړ او خوشحالي سره دا کيسه کوله. کله چې به دې ځای ته ورسېد، چې په يو ځل کمسايي اچولو يې يو نيم لکه دينه سره زر وبايلل، خلکو به له حيرانيتا چيغې کړې، ځکه چې تر هغه وخته يې نه و اورېدلي چې حتی يو فرعون په کمسايي اچولو کې يو نيم لک دينه سره زر بايللي وي.

هر څوک چې به ددې بوډا کتلو ته راتله يوه اندازه مس او سپين زر به يې هغه ته ورکول او په دې ډول ددې بوډا د قمار اوازه د هغه لپاره د تنخوا يوه ښه وسيله شوه.

لکه چې زه خبر وم تر هغه وخته، چې ژوندی و، په همدې شتمنۍ يې ګوزاره کوله او که کاپتا هغه ته يوه پانګه هم ورکړې وای، داسې ښه ژوند يې پرې نه شو کولای.

کله چې هورم هب د ژوبه ښار ونيو، زه او کاپتا هم هلته ورسېدو او هلته مې د لومړي ځل لپاره وليدل. يو بريالی پوځ چې يوه شتمن ښار ته ننوځي، نو هلته کومې کانې او لوبې کوي.

هورم هب د ژوبه ښار کلابند کړ، په وروستيو ورځو کې تر نسکوريدا مخکې، د ښار ځينو زړورو اوسېدونکو د هاتي د ځواکونو پر خلاف پاڅون وکړ او د ځان د ژغورولو لپاره يې سربښند نه وکړه.

خو هورم هب په دې پلمه چې د ښار د اوسېدونکو بلوا هغه وخت وه چې د مصر د لښکر لپاره یې هېڅ ګټه نه درلوده، نو د ښار د لوټولو مخه یې ونه نیوله او د غه ښار یې له لوټماری معاف نه کړ.

د هورم هب عسکروو دوه اوونۍ د غه ښار لوټ کړ او کاپتا په دې دوو اوونیو کې ډېر شتمن شو، ځکه چې د هورم هب عسکر مجبوره ول چې د ښار غنیمتي شیان پر کاپتا او یا د هغه پر همکارانو خرخ کړي او په بدل کې یې د اوربشو اوبه او شراب واخلي.

کاپتا به ګران بیه شیان، ښکلي مېزونه او د خدایانو مجسمنې په ډېره کمه بیه اخیستل.

هر سرتېري له ځان سره اسیران درلودل او هر سریاني اسیر یې د مسو د دوو کړیو په بدل کې پر کاپتا خرڅاوه، ځکه چې بل پېرودونکی نه و.

دغه حق هم هورم هب کاپتا ته ورکړی و، بل چا د غنیمت شیان وینځې او مریيان نه شوای پېرودلی.

په دغه ښار کې ما ولیدل چې له انسان پر ته بل داړونکی ځناور نشته.

کله چې یوه ډله انسانان پر بل لوري بریالي کېږي، نو له ناکامو کسانو سره داسې چلند کوي، چې د مصر د جنوب وحشیان یې ددې سیمې له ځناورو سره هم نه کوي.

ځکه کله چې یو ځناور یا وحشي حیوان موړ شي، له نورو ځناورو سره بیا کار نه لري، مګر انسان؛ چې وږی شي، بیا هېڅکله نه مړېږي.

که د مصر بابل او سوریې ټوله شتمني هم ورکړې، بیا به هم وژل کوي او کورونه به ورانوي ځکه غواړي چې نوره شتمني هم ترلاسه کړي.

خو کله چې پوه شي له خلکو څخه نور څه نه شي ترلاسه کولی، د خلکو وژلو ته مخه کوي او نور کسان وژني، که څه هم چې ورته ګټه نه لري او د هغه شتمني نه شي زیاتولی.

ما ولیدل چې په ژوبه کې د مصر سرتېرو کورونو ته اور واچاوه چې د هغه اور په رڼا کې خپل شراب وڅښلی شي او ځانونه بوخت کړي.

ما پخپله لیدل چې کله به د مصر لښکریانو له یوه سوداګره د هغه شتمني ولوټوله، هغه به یې شکنجه کړ، چې ورته ووایي نور سره و سپین یې چېرته ښخ کړي دي؟

ما ولیدل چې د مصر سرتېري به په یوه څلور لاره کې درېدل او هر نارینه، ښځه، بوډا او ماشوم چې به دلته تېرېدل هغوی به یې وژل او د ژوبه د ښار ښځې، سړي او ماشومان د

مصر د سرتېرو د غښو ویشتلو نښې وې.

ما تصور کاوه، هغه منظرې چې ما په طبس ښار کې، د خدایانو په جنګ کې ولیدلې، تر ټولو وېرونکې وې او په عمر کې به بیا د غسې حالت و نه وینم. خو کله چې مې په ژوبه ښار کې د هورم هب د عسکرو ځارویتوب ولید، متوجه شوم چې د طبس ښار غمیزه د دې پر وړاندې یوه ټوکه ده.

په طبس کې د آتون او آمون پلویان، دواړه مصریان ول او کله کله به یې پر ماشومانو او ښځو رحم کاوه او ټول به یې زما د مېرمنې او بچي په شان نه وژل.

خو په ژوبه کې د هورم هب عسکرو تې خواره ماشومان هم ووژل. هورم هب بېخي ازاد پرې ایښي ول او مخه یې نه نیوله.

ما فکر کاوه، چې ژوبه په ښار کې د هورم هب د عسکرو ډلوژنه او لوټماري د هېرېدو نه ده او په دې بېساري وژنې او لوټماری کې د شمتنیو د ترلاسه کولو خوند مصري سرتېرو وڅاکه.

زه ویلای شم چې هورم هب په ژوبه ښار کې په قصدي توګه خپل عسکر د وژنې او لوټماری لپاره ازاد پرې ایښي دي

ځکه چې هغوی پوه شي، د خلکو د شتمنیو لوټل او د هغوی د بېګناه ماشومانو او ښځو اسیرانول څومره خوند لري او په را تلونکې کې به د داسې خوند د ترلاسه کولو لپاره هر ډول خطر ته غاړه کېږدي

همداسې هم وشول، د ژوبه د جنګ له پای ته رسېدو وروسته کله چې هورم هب هڅه وکړه، چې د سوریې نور ښارونه هم ونیسي عسکرو د شرابو شتمنی او ښځو د ترلاسه کولو لپاره د هېڅ خطر پرواه نه کوله او د مرګ هر کلي ته ورتلل.

مصري عسکرو هڅه کوله چې یا بریالي شي او یا ووژل شي، ځکه چې پوهېدل د سوریې د پاچا ازیرو عسکر اسیران نه مني او هر مصری عسکر چې ورته تسلیم شي ژوندی یې له پوسته کوي

دوی به ویل د غه مصري عسکر هم د نورو په شان د سوریې د ښارونو په لوټولو او د خلکو په وژلو کې لاس درلود.

کله چې د ژوبه ښار د لوټماری او ډلوژنې خبر د سوریې نورو ښارونو ته ورسېد، د سوریې په خو ښارونو کې خلکو د ځان له وېرې د هاتي د عسکرو پر خلاف بلوا وکړه او

هغوی یې له ښارونو و ایستل چې هورم هب به ور ورسېد د ښار دروازي به یې ورته خلا صې کړې.

زه (ژوبه) ښار کې د مصري عسکرو د وژني او لوټماریو په هکله نور څه نه وایم. ځکه کله چې دغه غمیزه را په زړه شي له ډېر خپګانه مې زړه په ګوګل کې د یوې درنې ډبرې په شان درونډ شي.

لاسونه مې وچ شي، دغه شکلونه پر پاپیروس نه شم انځورولی.

همدومره وایم. تر دې وړاندې چې هورم هب پر ژوبه ښار حمله کوله، په دغه ښار کې له ماشومانو پرته شل زره کسانو ژوند کاوه، خو کله چې دغه ښار هورم هب ونیو څه د پاسه درې سوه کسان پکې پاتې شول.

هغه نور جنګونه چې هورم هب په سوریه کې وکړل، ټول د ژوبه ښار د جنګ په شان ول.

ما د هورم هب او د مصر د لښکر د ډاکټر په توګه ولیدل، چې بشر څنګه د خپل ساري لپاره پر یوه لویه بلا بدلېدای شي.

د سوریې جنګ درې کاله اوږد شو، چې په ترڅ کې یې هورم هب څو ځله د آزیرو او هاتي لښکرې ماتې کړې.

سره له دې چې دوه ځله د هاتي ګاډیو د هورم هب لښکرې کلابند کړې، خو هغه بریالی شو، چې ځان د ښارونو د کلاګانو د دېوالونو په پناه کې پټ کړي او له تباهی یې وژغوري.

هورم هب به تل له مصر سره سمندري اړیکي درلودل او هر ځل به وتوانید چې له مصره مرستندویه ځواکونه را وغواړي چې له کلاګانو راووځي او جنګ ته دوام ورکړي.

د دغه درې کلن جنګ له امله د سوریې ښارونه وران شول او خلکو چې په هېڅ ځای کې خوندي نه وو، ښارونه او کلي یې پرېښودل او غرونو ته یې پناه یوړه.

خو هغو سیمو ته تلل چې د مصر تر کنټرول لاندې وې، ځکه چې په دغو سیمو کې خلکو امنیت او خپلواکي درلوده، تجارت او کرنه به یې کوله

خو همغه ډول چې په دغه درې کلن جنګ کې د سوریې ښارونه وران شول، د مصر ښارونه او کلي هم په دغه درې کلن جنګ کې له خلکو تش شول

د نیل سیند په دواړو غاړو کې داسې کورنه و، چې خپل یو یا څو نارینه یې د سوریې په جنګ کې له لاسه نه وي ورکړي.

خو هورم هب ویل. چې دغه سربښندنه د مصر د لوړاوي په لاره کې ده او د تورو خاورو دغه هېواد به ستر کړي.

په دې درې کلن جنګ کې هورم هب، په پرله پسې توګه په سوريه کې وجنګېده، زه تل د هغه له عسکرو سره وم او ټپيان به مې معالجه کول.

که څه هم د طب او جراحی په برخه کې مې نوې تجربه تر لاسه کړه خو ملا مې کړوپه شوه او په مخ کې مې ګونځې پيدا شوې.

پخپلو سترګو مې داسې وېرونکې جنايتونه وليدل، چې زما فکر، ادب او ظرافتونه، څپڅپانده شول او ما هم د بوډا ډاکټرانو، په شان په خشونت سره خبرې کولې او د ځوانی په اپوته مې له ناروغانو او ټپيانو سره نرمې خبرې نه کولې.

د جنګ په درېيم کال د طاعون ناروغي ګډه شوه او علت يې دا و چې اکثره وخت له سترو جنګونو وروسته طاعون پيدا کېږي، ځکه چې د انسانانو ډېر مړي په يوه ځای کې راټولېږي.

له دې کبله چې دغه مړي نه خښېږي او نه موميايي کېږي او يا يې له موميايي کولو پرته شخوي، نو د انسانانو مړي، د جنګ په ډګرونو کې ورستېږي او په دې ډول د طاعون ساري ناورغي پيدا کېږي.

يو پنځوسم څپرکی

له يو مات شوي سړي سره يوه شپه

دجنګ د دوام له امله ټوله سوريه پر يوه قصاب خانه بدله شوې وه، په هرځای کې مړي پراته ول او په دغسې حالت کې څوک د طاعون خپرېدا ته نه حيرانېږي.

دغه طاعون داسې مرګ ژوبله واړوله چې د سوريې ځينې قومونه بېخي له منځه لاړل.

په دې ډول چې حتی د هغوی ژبه هېره شوه او نن سبا څوک نه پوهېږي چې د دوی اصلي ژبه کومه وه.

دې ناروغی د مصر، هاتي او سوريې د پاچاهانو په جبهه کې دومره عسکر تر تورو خاورو لاندې کړل، چې جنګي خوځښتونه ودرېدل او عسکر له سمو څخه د غرونو پر لور وتښتېدل چې له طاعون څخه خوندي شي.

د طاعون ناروغي د مصر د پخواني خدای آتون، په شان مساواتو، ته پام کاوه، څکه چې شتمن بېوزلي، زاړه، ځوانان، ښکلي او بدرنګه ټول يې وژل او يو خان به يې د يوه سوالګر په شان تباه کاوه.

هېڅ ډول معمولي درملو ددې ناروغی مخه نه شوه نيولای، دا ناروغي دومره سخته وه، چې پرې اخته کسانو به خپلې لمنې پر سر ورپورته کړې، پر ځمکه به يې پښې اوږدې وغځولې او په درې ورځو کې به مړه شول.

ځينې پکې معالجه شول، په تخرګ يا د ورنو په پورتنی برخه کې به يې غټه دانه پيدا شوه او د طاعون زوې او چرک به له دې لارې ووت.

خو تر هغه چې ژوندي ول ددې تپ ځای به يې په بدن کې پاتې و او ددې ښودنه يې کوله چې له ډېرې لويې خطرې سره مخامخ شوی دی.

د طاعون له امله به غټ او چاغ کسان تر هغو ژر مړه شول، چې ډېر ډنګر او کمزوري به

ول او كله چې به يو كمزوري او كم خونه كس په طاعون اخته شو، ددې احتمال ډېر و، چې معالجه شي او ژوندى پاتې شي.
له همدې امله كله چې به ما د طاعون ناروغان معالجه كول، خوځله به مې د هغوى وينه كموله، چې كمزوري شي او ورته ويل به مې، چې څو ورځې ډوډۍ ونه خوري.
له دې سره سره چې ځينې كسان به په پرله پسې ډول د وينې له وركولو وروسته او د ډوډۍ په نه خوړلو، پسې معالجه شول، خو زه نه شم ويلاى چې ايا زما علاج به د هغوى په درملنه كې ګټور و كنه؟
ځكه ځينې كسان چې همداسې مې معالجه كړي ول مړه شول. كه څه هم چې پوهېدم زما درملنه ډېره ګټوره نه ده، خو معالجې ته مې دوام وركاوه، ځكه يو ډاكټر حتى كه پوه شي، چې ناروغ يې مړ كېږي بيا هم تر پايه د هغه معالجه كوي او بايد ناروغ ته داسې وښيي، چې معالجه يې كولاى شي.
زه نه وايم چې زما د معالجې رودې ګټورې وې، خو دغه ګټه يې درلوده، چې ښوزلو هم ترې استفاده كولاى شوه، ځكه چې ګرانه نه وه او د وينې را ايستل يا لږ ډوډۍ خوړل د بې وزلو لپاره تر ټولو ارزانه درمل دي.
هغو بېړيو چې د مصر او سوريې تر منځ يې حركت كاوه، د طاعون ناروغي يې مصر ته هم ولېږدوله، خو دې ناروغۍ په مصر كې ډېره مرګ ژوبله نه درلوده.
په مصر كې هغه كسان چې علاج يې كېده، تر هغو ډېر ول، چې مړه به شول.
كله چې منى را ورسېد د نيل سيند مست شو، ورسره په مصر كې د طاعون ناروغي هم ختمه شوه.
د ژمي په را رسېدا سره په مصر كې هم دا ناروغي ختمه شوه او له هغه وروسته هورم هب وتوانېد چې له غرنيو سيمو څخه خپل تيت و پرك عسكر بېرته را وغواړي.
په پسرلي كې هورم هب له خپلو عسكرو سره د مجيدو دښتې ته ننوت او په دغې دښته كې يې ديوې لويې جګړې په پايله كې د هاتي لښكرو ته ماتې وركړه. له دې سره هغوى د سولې وړانديز وكړ، ځكه پوهېدل كه سوله ونه كړي، د بابل د پاچا له حملې سره به هم مخامخ شي.
(بورابورياش) چې د مصر د فرعون اخناتون په پېر كې د مصر له حكومت سره متحد شوى و، كله چې يې واوريدل هورم هب په مجيدو دښته كې د هاتي لښكرو ته ماتې

ورکړې ده، فیصله يې وکړه چې د میتاني پر هېواد حمله وکړي.
ده غوښتل له هاتي څخه میتاني ونیسي او دغه کار هم وکړ، میتاني يې له هاتي څخه ونیو.
د هاتي لښکرې له دې هېواده وتښتېدې او د دوو سترو سیندونو چې په بابل کې بهېږي په سرچینه کې پرتې پراخې سیمې د بابل د پاچا لاس ته ولوېدې
کله چې د هاتي افسران په سوریه کې مات شول، پوه شول چې سوریه د اسې ورانه شوې، چې نور له دې ځایه استفاده نه شي کېدای.
دوی نه غوښتل په سوریه کې خپلې پاتې جنګي ګاډۍ له لاسه ورکړي، چې باید د بابل د پاچا پر خلاف ترې کار واخلي.
هورم هب د هاتي د سولې په وړاندیز خوشحال شو، ځکه چې د سوریې درې کلن جنګ مصر ته ډېر تاوان رسولی و او هورم هب غوښتل چې دغه جنګ نور پای ته ورسېږي چې وکړای شي سوریه اباده کړي.
خو د سولې یو شرط يې دا کېښود چې د هاتي لښکر دې د مجیدو ښار، چې هغه مهال د سوریې پاچا آزیرو خپله پلازمینه ټاکلې وه، له آزیرو او د هغه له ماشومانو سره یو ځای هورم هب ته تسلیم کړي.
ځکه د آمورو هېواد پاچا آزیرو، له دې وروسته چې سوریه يې ونیوله او د سوریې پاچا شو، خپله پلازمینه يې بدله کړه او مجیدو يې پلازمېنه کړه.
د هاتي لښکرو هم په مجیدو کې د آزیرو پر ماڼۍ برید وکړ، هغه يې له خپلې مېرمنې او بچیانو سره ونیو او په ځنځیرونو تړلي يې هورم هب ته وسپارل.
وروسته چې د هاتي لښکرو د سوریې پاچا، د هغه مېرمن او بچیان يې هورم هب ته وسپارل، نو پرېکړه يې وکړه چې د سوریې له پلازمېنې مجیدو څخه لاړ شي.
د تګ پر مهال چې يې هر څومره پسونه، غوایي او نور مالونه موندل، له ځان سره يې هاتي ته یوړل.
هورم هب د سوریې پاچا آزیرو او د هغه ښځه او بچیان بندیان کړل، امر يې وکړ نغارې ووهي، چې ټول پوه شي جنګ پای ته رسېدلی او د مصر او هاتي تر منځ سوله ټینګه شوې ده.
ددې سولې په ویاړ يې یوه مېلمستیا برابره کړه او د هاتي افسرانو ته يې هم بلنه

ورکړه، چې د سولې د ټینګښد اپه شپه دې په دې مېلمستیا کې ګډون وکړي

ده فیصله وکړه، چې د دې مېلمستیا پر سبا د سوریې پاچا آزیرو او د هغه مېړمن او ماشومان د هاتي او مصر د حاکمانو او افسرانو په مخکې له سختې شکنجې وروسته اعدام کړي.

ما د دې کتاب په پیل کې له آزیرو سره د خپلې ملګرتیا په هکله خبرې کړې وې او ویلي مې ول، چې هغه تر دې وړاندې چې د ټولې سوریې پاچا شي، پخپل هېواد آمورو کې چې د سوریې یوه برخه وه زما هرکلی کړی و.

پر دې شپه مې د هورم هب په مېلمستیا کې ګډون ونه کړ او هوډ مې وکړ، چې د هورم هب په مېلمستیا کې د ګډون پر ځای هغې کېږدی ته ورشم چې آزیرو یې پکې په ځنځیرونو تړلی دی.

زه پوهېدم دغه سړی چې یو وخت د ټولې سوریې پاچا و، اوس د پاچاهۍ له ګدۍ غورځول شوی او په مرګ محکوم شوی دی او سبا به په سخته شکنجه مړ شي.

دی هېڅ ملګری نه لري او دغه راز پوهېدم چې آزیرو داسې سړی دی، چې غواړي ژوندی پاتې شي او په اسانه له ژونده لاس نه شي اخیستلای.

ما غوښتل هغه ته ووایم چې ژوند دومره هم خوږ نه دی، چې دی یې تصور کوي

که هغه شیان چې ما پخپل عمر کې لیدلي، هغه لیدلي وای نو په اسانه به یې له ژونده لاس اخیستی وای.

له دې کبله چې زه یو ډاکتر یم غوښتل مې، هغه ته ووایم چې مرګ د بدني ځوروني او د ژوند له سترو غمونو او نهیلیو څخه یوه خوږه پېښه ده او بله دا چې انسان تل له ژونده کړېږي، نه له مرګه.

ما غوښتل دغه ټولې خبرې هغه ته وکړم، چې ښایي پر دې شپه ارام خوب وکړي، ځکه پوهېدم، د هغه په شان یو کس چې ژوند پرې ګران دی، کله چې وپوهېږي سبا یې وژني، نو ټوله شپه به ویده نه شي.

که زما خبرو پرې اغېز وکړ ډېره به ښه شي، خو که یې اغېز ونه کړ، زه به یې تر څنګ تر سهاره کېنم چې یوازې نه وي.

ځکه چې انسان په ژوند کې ډېر کلونه له ملګري پرته پاتې کېدای شي، خو د مرګ په وخت کې یوه ملګري ته اړتیا لري، په تېره بیا چې یو ستر کس او پاچا وي.

کله چې یې آزیرو له نیولو وروسته د هورم هب اډې ته راوست، مصري عسکرو ورته ښکنځلې کولې او د اسونو په خوشیو یې ویشت. زه چې د هورم هب تر څنګ ناست وم، خپل مخ مې پر خپله لمن پټ کړ چې ما ونه ګوري او ونه شرمېږي.

زه پوهېدم چې آزیرو یو کبرجن کس دی او پوهېده، هغه وخت چې ما لیدلی و، د قدرت په اوج کې و، غوښتل یې ټوله سوریه ونیسي، خو اوس یې نه غوښتل چې زه یې داسې خوار ووینم.

په دې شپه چې کله ما غوښتل د آزیرو کېږدۍ ته ننوځم، ساتونکو زما مخه ونه نیوله، پوهېدل، چې زه ډاکټر یم، فکر یې وکړ ورځم او د آزیرو ټپونه معالجه کووم او که آزیرو زخمي هم نه وای بیا هم ساتونکو زما مخه نه شوای نیولې.

کله چې زه کېږدۍ ته ورننوتلم ساتونکو وویل پریږدئ، چې د غه سړی کېږدۍ ته ورننوځي، ځکه سینوهه ابن الحمار د هورم هب ملګری دی.

که موږ یې د ننوتو مخه ونیسو، هغه به په خپله ژبه چې د لړم د نیښ په شان ده، موږ وچچي او یا به له خپله طبابته استفاده وکړي او زموږ د مردانګۍ څواک به ختم کړي.

په دې ډول له کوم مزاحمت پرته کېږدۍ ننوتم او ومې ویل :اې آزیرو، د آمورو هېواد پاچا !ایا په دې شپه چې په سبا یې مرې غواړې یو دوست او ملګری ومنې؟

د کېږدۍ په تیارو کې د آزیرو د ځنځیرونو غږ واورېدل شو او هغه سوړ اسویلی وایست ویې ویل، زه نور پاچا نه یم او کوم ملګری هم نه لرم، ځکه څوک چې له قدرته لوېږي، خپل ټول دوستان او ملګري له لاسه ورکوي، خو ستا غږ راته اشنا دی ... ایا ته سینوهه نه یې؟

ومې ویل هو زه سینوهه یم.

آزیرو وویل د مردوک په خدای قسم درکووم، که سینوهه یې چاته ووایه چې یو څراغ راوړي، چې د غه ځای لږ روښانه شي، ځکه چې په تیاره کې زه نا ارام یم.

دغو لعنتي هاتیانو زما جامې شکولې دي او بدن یې راټپي کړی دی، نو له همدې کبله زه نور یو ښکلی سړی نه یم.

خو پوهېږم چې ته یو ډاکټر یې او تر بدرنګه کسان دې هم کتلي دي او پر دې سربېره زه باید مړ شم، نو په خپله بدبختۍ نه شرمېږم. ځکه چې د مرګ په وخت کې بدبختي د شرم خبره نه ده.

سینوهه! یو چاته ووایه، یو څراغ راوړي چې زه تیا وګورم او ستا لاس ونیسم، ځکه چې زما روح غمجن دی.

کله چې د خپلو بچیانو او ښځې فکر کوم، له سترګو مې اوښکې بهېږي او که ته وګړای شې، چې لږ د اوربشو اوبه راته پیدا کړې، چې شونډې او ستونی پرې لوند کړم، نو له مړینې وروسته به د بلې دنیا دېوانو ته ستا ستاینه وکړم. ځکه چې له مړینې وروسته به له دېوانو پرته نور ملګري نه لرم.

زه اوس داسې بېوزله شوی یم، چې د اوربشو د یوه منګي اوبو د پېرودلو وس هم نه لرم او د هاتي عسکرو زما هر څه ولوټل، ان وروستی کړی مس یې هم را څخه واخیستل.

ما عسکرو ته وویل څراغ راوړئ، خو هغوی مشال راوړ او له دې کبله چې کېږدی د مشال له لوګي ډکه شوه، موږ په تنګ شوو، نو مې بېرته ورته وویل چې مشال یوسي او څراغ راوړي.

له دې وروسته چې عسکر څراغ راوړ، ومې ویل موږ ته د اوربشو اوبه هم راکړئ.

د سوریې تېز بیر یا د اوربشو اوبه یې راوړې، آزیرو په زګیرو یو سره پورته شو او ما ورسره مرسته وکړه، چې بیر وڅښي.

په دې وخت کې مې ولیدل، چې د هغه د سر ویښتان د ایرو په رنګ شوي ول او عسکرو یې ږیره داسې ور شکولې وه، چې د مخ غوښه یې هم له ویښتانو سره جلا شوې وه.

دغه راز ومې لیدل، چې د لاس ګوتې یې سختې ژوبلې شوې وې او ځینې ګوتې یې بېخي ماتې شوې وې.

نوکان یې د هغې وینې له امله تک تور شوي ول چې له ګوتو یې بهېدلې وه.

د آزیرو څو پوښتۍ هم ماتې وې، په ډېره سختۍ یې ساه اخیستله او کله به یې له خولې وینه هم وبهېدله.

کله چې یې د اوربشو لږ اوبه وڅښلې، څراغ ته یې وکتل او ویې ویل، نن شپه د څراغ رڼا زما د سترو سترګو لپاره ملا یمه او خوندوره ده.

خو د څراغ رڼا د ژوند د شغلې په شان څو تکانونه خوري، نڅا کوي او بیا د ژوند په شان خاموشه کېږي.

اې سینوهه! زه د دې څراغ او د اوربشو د اوبو له امله ستا مننه کووم او خواشینی یم

چې کوم شی نه لرم چې د ډالۍ په توګه یې درکړم، ځکه چې د هاتي عسکرو ان زما هغه طلايي غاښونه هم له خولې وایستل چې تا زما لپاره جوړ کړي ول.

له دې کبله چې د هغه سړي رټل چې زموږ په خبرو یې عمل نه دی کړی او ځان یې بدبخته کړی دی، د کبر او غرور مانا لري، نو ما ورته ونه ویل، چې پخوا مې له هاتي منع کړی و او ورته مې یادونه کړې وه چې هاتي ډېر بې رحمه، بې پروا او ظالم ملت دی.

هغه کس چې زموږ نصیحت ته د بې پامۍ له امله بدبخته شوی دی، ددې بې پروايي سزا یې پخپله بدبختۍ سره تېره کړې ده.

موږ یې اوس باید ونه رټو، چې ولې دې زموږ نصیحت ته پام نه دی کړی.

بیا مې د آزیرو سر ورو ورو په خپلو لاسونو کېښود، هغه وژړل او اوښکې یې زما د ګوتو ترمنځ وڅڅېدې.

آزیرو وویل سینوهه! کله چې زه پاچا او ځوکمن وم، ستا په وړاندې به له شرم او خجالته پرته خندېدم او خوشحاله به وم او اوس چې بدبخته شوی یم، ولې ستا پر وړاندې په ژړا وشرمېږم؟

خو سینوهه! پـه دې پوه شه، چې زه په تللې پاچاهۍ پسې نه ژاړم او د خپلې لوټ شوې شتمنۍ لپاره هم اوښکې نه تویوم، بلکې زه د خپلې مېرمنې (کفتیو) او خپل ځوان او زړور زوی او بل ماشوم زوی په خاطر ژاړم.

کفتیو ماته تا راکړې وه.

ومې ویل اې د آمورو پاچا آزیرو! ما نه غوښتل چې نن شپه داسې خبره وکړم، چې تا نور هم خپه کړم، خو له دې کبله چې ته د خپلې ښځې او ماشومانو لپاره ژاړې، زه دې ارکړم، چې یو څه درته ووایم.

هغه نور کسان چې له دریو کلونو راهیسې په دې هېواد کې بدبخته شوي او د هغوی دسترګو پر وړاندې یې ښځې او ماشومان وژل شوي دي، هغوی هم خانونه درلودل او د خپلو بچیانو او مېرمنو په غم غمجن شول.

درې کاله کېږي، چې سوریه ستا د کبر او ډېر حرص له امله پر یوه وژنتون بدله شوې او دومره ډېر کسان پکې ووژل شول چې چا یې مړي شمېرلی نه شوای.

له دې سره سره زه نه وایم چې ته ددې بدبختیو سبب وې، نو باید ووژل شې، بلکې وایم، له دې کبله چې مغلوب شوی یې، نو باید ووژل شې.

ځکه یو پیاوړی ګنهګار تر هغه له سزا خوندي وي، چې قدرت ولري، خو کله چې کمزوری شو، بیا سزا ورکول کېږي.
مګر له دې سره سره چې زه ستا اعدام او عدالت بولم، خو ستا د مېرمنې او بچیانو له مړینې سره موافق نه یم او ما ستا د ماشومانو او مېرمنې د مرګ په هکله له هورم هب سره خبرې وکړې، هغه ته مې وویل که هغوی خوشي کړي د ېر ثواب به وګټي.
خو هغه زما خبره ونه منله او ویې ویل، باید د آزیرو نوم او د هغه نسل له سوریې ځخه ختم شي.
له همدې امله کله چې ته ووژل شې ستا جنازه به په قبر کې ښخه نه کړي، بلکې په یوه دښته کې به دې واچوي، چې ځناور او مردار خواره دې وخوري.
ځکه چې هورم هب نه غواړي ستا قبر پاتې شي او په راتلونکې کې سریانیان ستا په قبر راټول شي او ستا په نوم قسم وخوري او یا داچې د خدایانو په شان دې عبادت وکړي.
آزیرو له دې کبله چې په قبر کې به ښخ نه شي وډار شو او ویې ویل سینوهه! ته چې نن شپه دلته راغلی یې، خپله دوستي نوره هم بشپړه کړه.
دوی چې ما نه خبنوي، ته زما له مرګه وروسته په آمورو هېواد کې د بعل خدای پر وړاندې زما په نوم قرباني وکړه، ځکه چې زه بیا په بله دنیا کې تل په لوږه او تنده کې سرګردانه ونه اوسم.
دغه راز هغه همکاري چې تا له کفتیو سره درلوده او هغه دې بیا ماته راکړه، نو یو ځل بیا د هغې لپاره هم قرباني وکړه، چې په بله دنیا کې وږې، تږې او بې کوره نه وي. زما دوه ماشومان هم چې سبا وژل کېږي، زما او کفتیو په شان قربانۍ ته اړتیا لري.
زه له هورم هبه ګیله نه لرم، ځکه که زه هم پرې برلاسه شوی وای همداسې چلند به مې کړی وای او هغه به مې وژلی وای.
کله چې زه فکر کووم زما ښځه او ماشومان به ووژل شي، که څه هم ډېر خپه کېږم خو د تسلي لپاره یوه وسیله هم لرم او هغه دا چې له ما وروسته به څوک زما له مېرمنې کفتیو سره تفریح ونه کړي.
ډېر کسان زما د مېرمنې غوښتونکي دي، ډېر سپین پوستکي او چاغ کسان یې غواړي او پرې ګرانه ده.
که زما له مړینې وروسته هغه ژوندۍ پاتې شي د نورو په برخه به شي او زه به په بله

دنیا کې له دې امله بدبخته شوی یم.

که څه هم ښه به وای چې زما بچیان ژوندي پاتې وای خو پوهېږم چې هغوی به د مرییانو په توګه مصر ته بوځي، په داسې حال کې چې هغوی شهزادګان ول، باید مرییان نه شي او د مصر په کانونو کې کارکولو ته اړ نه شي.

خو اوس به یې له دې کبله څوک مریان نه کړي چې وژل کېږي.

سینوهه! پر دې خبرې دې خوشحاله شوم، چې و دې ویل، زه له دې امله مرم چې ناکام شوی یم.

که زه په دغه جنګ کې بریالی شوی وای نو له دې سره سره چې ته وایې سوریه پر یوه قصاب خانه او وژنتون بدله شوې، خلکو به حتی په مصر کې هم زما نوم په ویاړ سره یاداوه.

ټولې ګناوې به یې د مصر پر غاړه اچولې او ویل به یې د مصر فرعون خونړی او ظالم پاچا دی او که یې پر سوریې حمله نه وای کړې نو دغه جنګ به نه کېده او د سوریې خلک به نه وژل کېدل.

ما یوه غلطي وکړه او هغه پر هاتي باور و.

زه نه پوهېدم چې هاتیان دې دومره بې غیرته وي، چې له مصر سره تر سولې وروسته خپل متحد هغوی ته وسپاري او د هغه شتمنې لوټ کړي.

آزیرو د اوربشو له اوبو غوړپ وکړ او بیا ته وا د خلکو ټولي ته وینا کوي، په ډېر شور او ولولې سره یې وویل، افسوس دې وي ستا په حال اې سوریې اې پر ما ګرانه هېواده! د یوې ښکلې مینې په شان دې وکړولم... اې سوریې ما ستا د لوړاوي لپاره زیار وایست... ددې لپاره مې بلوا وکړه، چې ته ازاده شې او مصر درڅخه مریی جوړ نه کړي، خو نن سبا چې د مرګ وخت راغلی دی، ته ما پرېږدې او پر ما لعنت وایې.

اې! د(بیبلوس) لوړه ښاره ... اې د ازمیر شتمنه ښاره .... اې د(سیدون) لوی او ښکلیه ښاره، اې د (ژوبه) ځواکمنه ښاره.. او د سوریې نورو ښارونو! چې ټول زما د پاچاهۍ په تاج د غمیو په شان ځلېدئ، ولې مو زه پرېښودم او ولې مو له ما لاس واخیست؟

اې د سوریې لوړو، بډایو، ځواکمنو او شتمنو ښارونو پر ما دومره ګران وئ، چې ان نن هم، چې زه مو پرې اینبی یم او پر ما مو لعنت کړی دی، بیا هم له تاسې څخه زړه نه شم بېلولای، ځکه چې پوهېږم، تاسې زما معشوقې یاست او هره ښکلې معشوقه له خپل

عاشق سره بې پروایي او ناز کوي.

اې سوریې... ! تو کمونه له منځه ځي او ملتونه رامنځته کېږي، ویاړونه هم دهغه سیوري په شان دي چې دلمر له لویدو وروسته له منځه ځي خو ته پاتې شه او تلپاتې اوسه.

اې سوریې ! تر هغه چې دا نړۍ شته ته د سمندر په څنډه کې، د سرو غرونو او غونډیو په څنګ کې ستر ښارونه جوړ کړه، شا و خوایې دنګې کلاګانې جوړې کړه او هر خل چې باد را الوځي زما د هډوکو دوړې به له بیدیا څخه ستا د ښارونو پر لوري روانې وې، چې ستا ښارونه ښکل کړي.

زه دې خبرو اغېزمن کړم او د هغه خبرې مې غوځې نه کړې، ځکه متوجه شوم، چې دغه فکرونه هغه ته تسلي ورکوي.

ورو مې د آزیرو لاسونه چې تېپیان شوي ول، ونیول، هغه وویل :

سینوهه ! تا ته مې وویل چې زه د خپل مرګ له کبله خوابدی نه یم او پښېمان هم نه یم، چې ولې مې د مصر پر خلاف بلوا وکړه، ځکه تر هغه چې انسان په یوه ستر کار لاس پورې نه کړي ستره ګټه نه شي کولای او په سترو کارونو کې د تاوان احتمال ډېر وي.

هغه کار چې ما وکړ ددې سبب شو، چې د سوریې پاچاهي او د هغه ویاړونه زما په برخه کړي او تر هغه وخته چې زه ژوندی وم، ډېر ښه ژوند مې وکړ، مینه مې ولیده او په دې ډول مې وکولای شول چې خپلې کینې ارامې او له منځه یوسم.

په دې وخت کې هېڅ کار نه یم پښېمانه کړی.

اوس دغه ټول کارونه لکه یو پړی داسې په غاړه کې تاو شوي او ما د مرګ پر لوري بیایي.

دا خبرې ددې لپاره کووم چې ته پوه شې، زه له مرګه نه وېرېږم، خو له دې کبله چې ټول عمر یو کنجکاوه سړی وم او د هر سریاني په شان زما خټه هم له سوداګرۍ سره اخښل شوې ده.

له تجارت او معاملو سره مې مینه ده، غواړم له تا څخه چې یو ډاکټر یې پوښتنه وکړم، چې ایا په یوه سوداګریزه معامله مرګ غولولی شو او په یوه سودا خدایان تېر ایستلی شو؟

موږ سریانیان چې په تجارت کې تکړه یو، په ټولو معاملو کې خلک غولولی شو او ایا ممکنه ده، چې مرګ ته له هغه سره د یوې معاملې ژړاندېز وکړم، چې ویې غولوم او له ما

لاس واخلي؟

ومې ویل،نه!

آزیرو! انسان هرڅه تېر ایستلی شي، خو مرګ نه شي غولولی.

مګر له دې کبله چې سبا ستا د ژوند د یوه مړه کېږي غواړم یو حقیقت درته ووایم.

دا هغه حقیقت دی چې تر اوسه پورې به چا جرئت نه وي کړی، چې ویې وایي.

دغه حقیقت دا دی چې مرګ هېڅ درد نه لري.

آزیرو! ایا پوهېږې چې ولې تر اوسه پورې چا دغه جرائت نه دی کړی چې دغه علمي او طبي حقیقت خلکو ته ووایي؟

علت یې دادی چې مرګ ته د ډېرو قوي،زړورو او باارادې هم له وېرې تسلمېږي.

دوی تصور کوي چې د مرګ درد له بدني دردونو څخه زر ځله سخت دی، حال دا چې د انسان په ژوند کې تر مرګ بل خوندور او په زړه پورې شی نشته.

آزیرو! دا ومنه چې د یوه غاښ د ایستلو درد لس ځله.لس ځله او لس ځله تر مرګ سخت دی.

په حقیقت کې مرګ د هغه کس له حالت سره توپیر نه لري، چې ستړی وي او غواړي پر یوې ځمکې اوږد وغځېږي او خوب یې سترګې سره ورولي.

د مرګ په وخت کې هېڅ ډول درد او کړاو نه احساسېږي او هر ډول درد او کړاو د ژوند له امله وي، نه د مرګ له امله.

هغه څوک چې ژوبلېږي او یوه شیبه هم ارام نه شي پاتې کېدای، لامل یې دانه دی چې مړ کېږي، بلکې ددې لپاره پر ځان راتاوېږي، چې ژوندی دی.

مرګ د ټولو دردونو،حسرتونو،محرومیتونو، نهیلیو او دغه راز د ټولو بدني دردونو پای دی.

ایا ته متوجه شوی یې، چې له یوې ګرمې او ساړوبې ورځې وروسته، د شپې سړه وږمه څومره خوندوره وي؟ مرګ هم د ژوند په پرتله په ډېره ګرمه ورځ کې یوه سړه وږمه ده.

خو دغه حقیقت هوښیارانو او پوهانو نه دی رسوا کړی، چې له مرګ څخه د خلکو وېره له منځه لاړه نه شي.

ددې لپاره چې که خلک له مرګه و نه وېرېږي، هېڅ بل ځواک سرکشه او یاغي کسان نه شي کنټرولولای.

خلک له دې څخه نه وېرېږي، چې له مرګ وروسته به بیرته ژوندي شي، بلکې له دې څخه وېرېږي چې د مرګ په وخت به سختې شکنجې وزغمي.

آزیرو! مرګ نه شو تېر ایستلی، ځکه چې معامله ورسره نه شي کېدای، سره، سپین، ښکلې مېرمنې او شراب نه مني، خو تر هر ډول شربتو خوږ دی او ورسره غاړه غړی کېدل ډېر خوندلري.

آزیرو! زه یو ډاکټر یم او باور نه لرم چې زموږ جسم به له مرګ وروسته، ان که مومیایي هم شي پاتې شي.

البته مومیایي کېدل ددې سبب کېږي، چې بدن وروست او خراب نه شي، خو هغه څه چې له مومیایي کېدا وروسته پاتې کېږي یو انسان نه، بلکې یو وچ لرګی وي.

زه له دې سره سره چې یو مصري یم، خو په بله دنیا کې، چې موږ مصریان یې لوېدیزه نړۍ بولو، په ژوند کولو عقیده نه لرم او ټینګار هم نه کووم چې زما دغه عقیده دې سمه وي.

ښایي په بله دنیا کې زموږ لپاره یو ډول ژوندوي او له همدې امله به ستا او ستا د ښځې او ماشومانو له مړینې وروسته د بعل د خدای په نوم ستاسې لپاره قرباني وکړم.

ځکه که په بله نړۍ کې زموږ لپاره ژوند وي، نو چې ته، ستا مېرمن او بچیان هلته لالهانده او وږي او تږي نه وي.

آزیرو! زما په خبرو خوشحاله شو او په ډېره هیله مندۍ یې وویل، سینوهه! اوس چې غواړې قرباني وکړې داسې پسونه انتخاب کړه، چې زما د خپل هېواد آمورو وي، ځکه چې د آمورو پسونه چاغ وي او خوندوره غوښه لري.

د لړمون او بډوډو کباب یې ارو مرو د بعل خدای ته ډالۍ کړه، ځکه چې زما هم تل د لړمون او بډوډو کباب خوښېده.

که د قربانۍ په وخت کې د (سیدون) شراب له عنبهر سره یو ځای د بعل په خدای وڅښې، زه به ډېر خوشحال شم. ځکه چې له مرګ وروسته به له کفتیو سره شراب وڅښم او تر هغه چې مې زړه غواړي له هغې سره به خبرې وکړم.

تر هغه وخته چې آزیرو دغه خبرې کولې خوشحال و، خو وروسته اندېښمن شو او ویې ویل: سینوهه! له دې سره سره چې ته مصری یې او ما له مصریانو سره ډېره بدي کړې ده، خو نه پوهېږم چې ته ولې له ما سره نیکي کوې.

هغه څه چې تا د مرګ په هکله وویل پر ما یې اغېز وکړ او ښایي همغسې چې تا وویل مرګ د یوه خواره خوب په شان وي.

په پسرلي کې به د آمورو په هېواد کې د بادامو، الوچو او ګیلاسونو، ونو غوټۍ کولې، پسونو به په شنو غونډیو کې نارې وهلې او سېرلیو به ټوپونه وهل. اوس چې کله دا را زړه شي، نو ډېر خواشینی کېږم چې ژوند له لاسه ورکووم.

کله چې زا په زړه شي، چې په پسرلي کې په آمورو هېواد کې د زنبق ګلان ټوکېږي او د کاج له ونو ښکلې وږم پورته کېږي، نو زړه مې په تنګ شي.

زه د زنبق له ګلانو سره خاصه مینه لرم، ځکه چې سلطنتي ګلان دي.

زه په دې ډېر خواشینی یم چې نور به د آمورو پسرلی ونه ګورم.

ددغه هېواد په اوړي کې به د یخو اوبو لرونکو چینو پر غاړه نه شم کېناستلای او په ژمي کې به له واورو ډک غرونه نه شم لیدلای.

په دې ډول زه او آزیرو په دې شپه تر سهاره وغږېدو.

کله به مو د مرګ په هکله خبرې کولې، کله به د آمورو په هکله غږېدو او کله به مو د ځوانۍ د وخت خاطرې سره شریکې کړې.

کله چې سپېدې وچاودې، هوا روښانه شوه، زما مریبانو زموږ لپاره خوندوره او پریمانه ډوډۍ راوړه او ساتونکو یې هم مخه ونه نیوله، ځکه هغوی هم له ډوډۍ څخه خپله ونډه اخیستې وه.

زه وږی نه وم او خوړو ته مې زړه نه کېده، غوښتل مې چې آزیرو ډوډۍ وخوري.

زما خواړه، وریت شوی او ګرم پسه، کباب شوي چرګان او د غنمو له مغزه په غوړو کې سره شوې ډوډۍ وه.

زما مریبانو موږ ته سیدون شراب هم راوړل چې عطر یې ورسره یو ځای کړي ول.

آزیرو ډوډۍ وخوړه، شراب یې وڅښل او بیا مې مریبانو ته وویل چې آزیرو ووینځي، وهښتان یې ږمنځ کړي، ږیره دې په یوې زري جالۍ کې پټه کړي او تر ټولو ښکلې جامې دې ور واغوندي.

زما مریبانو کفتیو او دهغوي بچیان هم پاک ووینځل او پاکې جامې یې ورواغوستلې.

خو هورم هب موافقه ونه کړه چې آزیرو له مرګ مخکې خپل بچیان او ماشومان وګوري.

کله چې لمر را وخوت هورم هب د هاتي له افسرانو سره یو ځای له خپلې لوېې کېږدۍ

څخه راووت، ما ولیدل چې ټول خاندي او پوه شوم چې ټول د شرابو د څښلو له امله څه ناڅه مست او نشه دي.

زه هورم هب ته ورننوتلم ورته ومې ویل، ته پوهېږې چې څو ځله مې درته خدمت کړی دی، چې وروستی ځل یې د صور ښار (په پخوانۍ سوریې کې پروت ښار و) په وړاندې په جنګ کې ستا د ژوبلې شوې پښې معالجه کړې وه.

په دې جنګ کې یو زهرجن غشی ستا پر پښه ولګېد او ما ددې مخه ونیوله، چې ددې غشي زهر تا ووژني.

اوس راغلی یم چې له تا څخه یو شی وغواړم او هغه دا دی چې آزیرو په شکنجې سره ونه وژنې، ځکه چې دغه سړی د سوریې پاچا و او په جنګ کې په مېړانه وجنګېد.

تر دې وړاندې چې آزیرو ستا لاس ته ولوېږي، د هاتي افسرانو هغه ډېر شکنجه کړی دی.

دوی غوښتل چې په دې ډول ورته د سرو او سپینو زرو خزانې وروښيي، نو ښه به وي چې نور و نه کړېږي.

بله دا چې که ته د هغه له شکنجه کولو تېر شي، نو ستا نیک نوم به نور هم ستر شي.

کله چې هورم هب دغه خبره واورېده، سترګې یې کش کړې او د مخ رنګ یې تک تور شو، ځکه چې هغه د آزیرو د مرګ لپاره پلانونه جوړ کړي ول.

ده غوښتل چې آزېرو په شکنجې سره ووژني چې د هاتي افسران او د مصر سرتېري او افسران یې وګوري او تفریح وکړي.

ما ننداره چیان لیدل چې په لومړي کتار کې د ځای نیولو لپاره یې له یو بل سره لانجې کولې.

دا خبره باید وکړم چې هورم هب له شکنجه کولو خوند نه اخیست او بې رحمه نه و، خو یو سرتېری و او مرګ یې د ځان لپاره یوه وسله بلله.

هورم هب په دې ورځ نیت درلود چې آزیرو داسې ووژني، چې د نورو لپاره د عبرت درس شي او بیا څوک جرئت ونه کړي، چې د مصر پر خلاف پاڅون وکړي.

هورم هب پوهېده چې ملتونه، تاوتریخوالی د لیاقت او قدرت په مانا بولي او فکر کوي، چې بې رحمه سرلښکر تکړه قوماندان وي او په بدل یې کې رحم او نرمښت د کمزورتیا په مانا بولي.

له همدې امله یې د هاتي د شهزاده شوباتو له اوږې خپل لاس لرې کړ او په زړې متروکه یې ځو ځله خپلې پوندې ووهلې ویې ویل، سینوهه ته د یوه ازغي په شان زما په پښو کې ننوتی یې او لرې پاتې ده چې له تا په تنګ شم، ځکه چې ته عادي کس نه یې او د عادي مسلو په هکله ستا قضاوت د لېونیو په شان دی.

کله چې یو کس شتمن شي او مقام ته ورسېږي، نو ددې پر ځای چې هغه وستایې، ته پرې نیوکې کوې او کله چې سړی خپل مقام او شتمني له لاسه ورکړي ددې پر ځای، چې په اړه یې بې پروا شې، خو ته ورځې او دلاسا کوې یې.

خبر شوم، چې بېګا، تر سهاره پورې له آزیرو سره وې، له هغه سره دې د اوربشو اوبه څښلې دي او سهار دې خپلو مریانو ته ویلي، چې د هغه لپاره خواړه او شراب راوړې.

دادلېونیانو کاردی چې له بېوزلو او له پښو لوېدلیو کسانو سره مرسته کوي، ځکه چې له کم بختو او بېوزلو کسانو سره دوستي او ملګرتیا د انسان لپاره هېڅ ګټه نه لري او بده لا دا چې ددغسې خلکو ملګرتیا سړي ته تاوان کوي.

ځکه انسان مجبورېږي، چې له خپلو سرو او سپینو څخه هغه ته یو څه ورکړي.

تر هغه چې انسان ژوندی دی، باید له هغو کسانو سره ملګرتیا ونه کړي چې شته او مقام ونه لري.

له دغسې کسانو څخه باید لرې و اوسي او تل د هغو کسانو ملګرتیا وکړي، چې یوه ورځ د هغه له مقام او شتمنۍ څخه استفاده وکړای شي.

تا تر هغه وخته له آزیرو سره ملګرتیا ونه کړه، چې په مقام کې و او نن چې نه پاچا دی او نه شتمني لري، نو د هغه ملګری یې او د هغه پلویتوب کوې.

خو سینوهه! ته پوهېږې چې ما نن له شاوخوا سیمو څخه څو تنه تکړه جلادان راوستلي دي، چې د خپلو عسکرو او افسرانو د تفریح لپاره خپل هنر وښیي.

د هغوی د شکنجې د وسایلو نصبول ما ته ډېر ګران تمام شوي دي او زه نه شم کولای چې په دې ورستیو شپبو کې د نیل د چیکړو دغه چنجي (هورم هب خپلو عسکرو ته د نیل د چیکړو چینجي ویل) له سیله بې برخې کړم، ځکه چې هغوی درې کاله په سوریه کې د همدغه آزیرو د ختمولو لپاره سربښندنې کړې دي او نن دا حق لري، چې د هغه شکنجه وګوري.

د هاتي شهزاده شوباتو چې کله دغه خبره واورېده، هورم هب یې پر ملا وټپاوه او ویې

ویل، شاباسې هورم هبه ! سمه خبره دې وکړه، ته باید نن موږ له دې سیله بې برخې نه کړې

موږ ددې لپاره چې تا د هغه له شکنجې بې برخې نه کړو، کله چې مو آزیرو ونیوه، نو د هغه د بدن غوښې مې ټوټه ټوټه نه کړې، یوازې د هغه نوکان مو له وریو جلا کړل او ګوتې مو ورماتې کړې، نو ته باید زموږ د خوشحالۍ لپاره هغه شکنجه کړې، ګنې موږ به خوا بدي شو.

هورم هب تنږی ګونځې کړ او زه پوه شوم چې ولې هغه بدل شو، ځکه چې د مصر د لښکرو قوماندان ځان یو فاتح بولي او دا تمه یې نه کوله چې شهزاده شوباتو، چې مغلوب قوماندان دی، هغه پر ملا وټپوي او پر هغه امر وکړي

هورم هب وویل :شوباتو ! داسې ښکاري چې ته نشه یې او خپل حد نه شې ساتلی.

ما ځکه د آزیرو د شکنجې فیصله وکړه، چې هغه په ډېر کړاو مړ کړم چې ټول پوه شي، هر څوک چې دهاتي په ملګرتیا اعتماد وکړي، پایله به یې همدا وي او د آزیرو له برخلیک سره به مخامخ شي.

خو له دې کبله چې زه او ته تېره شپه سره ملګري وو او ډېر جامونه مو سره تش کړل، نو زه به له هغه چا سره زیاتی ونه کړم چې یوه ورځ ستاسې ملګری او متحد و.

زه به ووایم چې له شکنجې پرته یې په اسانه مرګ ختم کړئ.

شوباتو په دې خبره ډېر خپه او د څېرې رنګ یې تت شو، ځکه چې د هاتي او سېدونکي له دې سره سره چې له خپلو ملګرو او متحدینو سره خیانت کوي او کله که یې ګټه پکې ولیده، نو خپل ډېر نږدې ملګری به هم خرڅ کړي، خو بیا هم نه غواړي چې څوک یې خاینان او بې وفا وبولي.

ښايي هغوی سم فکر کوي، ځکه چې هر ملت او تکړه واکمن همداسې چلند کوي.

کله چې په خیانت کې خپله ګټه وګوري، نو خیانت کوي، خو هاتیان په خیانت کې ډېر مېړني دي او له هېڅ عذر او توضیح پرته خیانت کوي.

شوباتو غوسه شو، خو د هغه ملګري پوه شول، چې ښايي د هغه غوسه به نورو ته درنه بیه ولري، نو د هغه پر خوله یې لاس کېښود او لرې یې کړ.

څو شېبې وروسته د هاتي پر شوي قوماندان کانګې وکړې او هغه څه چې د شپې یې خوړلي ول، ټول یې بېرته را وګرځول او نشه یې هم ختمه شوه.

هورم هب امر وکړ چې آزیرو راولي.

سره له دي چي پو هېده ما آزیرو ته خواړه ورکړي، کله چي يې ولیدل دغه سړی په لوړ سر او استواره ګامونو راځي. ویارمني جامې يې اغوستې او سر و ږیره يې اصلاح شوي دي حیران شو.

آزیرو په خندا را روان و او د مصر پر هغو افسرانو او سرتېرو يې ملنډې وهلې، چې د هغه د ساتنې لپاره ګمارل شوي ول.

کله چي د هورم هب مخې ته ورسېد د خپلو ساتونکو له شا يې هورم هب ته وویل: اې ګنده هورم هبه! له ما مه وېرېږه او د خپلو سرتېرو د نېږو تر شا مه پټېږه، ځکه چي زه يې په ځنځیرونو تړلی یم.

نږدې را شه چي وکړای شم، خپلې پښې ستا په جامو ومښم او د خپلو پښو خوشایي پاک کړم، ځکه اوس چي ستا د کمپ په منځ کي د اعدام ځای ته راتېرېدم نو پښې مي ککړې شوې.

ما پخپل ټول عمر کي داسې ګنده کمپ او اډه نه وه لیدلې او ټول پوهېږي، کله چي یوه اډه چټله وي، دلیل يې دا دی، چي ددې اډې قوماندانان ګنده دي او لیاقت نه لري.

هورم هب د زړه له تله وخندل او ويې ویل، آزیرو! زه تاته نه نږدې کېږم، ځکه چي خوسا بوی دې ځي.

که څه هم تا اوس نوې او پاکې جامې اغوستې او خپل تېپونه دې پټ کړې، خو بیا هم ستا خوسا بوی شته.

موږ دا خبره هم نه شو پټولی، چي ته یو زړه ور سړی يې او له مرګه نه وېرېږې، خو داچې د اعدام ځای ته روان يې او لا هم خاندې، نو له همدې امله مي وویل چي تا له شکنجې پرته مړ کړي، ځکه چي په راتلونکې کي زما نوم ښه شي.

قدرت دا نه دی چي یو څوک خپل ناکام دښمن شکنجه کړي، بلکې قدرت په دې کې دی، چي بریالی قوماندان له دې سره سره چي ناکام سیال شکنجه کولی شي، خو بیا هم د هغه له کړولو تېرېږي.

له هغه وروسته هورم هب حکم وکړ، چي ساتونکی ګارډ د آزیرو شاوخوا کلابنده کړي، چي مصري عسکر، د هغه لور ته خوشایي او کاڼي ورونه ولي او هغه ته ښکنځلې ونه کړي.

له آزیرو وروسته يې د هغه مېرمن کفتیو راوستله چي ځان يې سینګار او ښایسته

کړي و.

له دې سره خپل دوه زامن هم روان ول او یو بل ته یې لاسونه ورکړي ول، چې له تګه یې ښکارېده، هغوی شهزادګان دي.

د اعدام په ځای کې مېرمن او بچیان یې له آزیرو سره یو ځای شول.

کله چې آزیرو خپله مېرمن ولیدله خپه شو او ناري یې کړې، یې کفتیو.... کفتیو ! زما سپینې اسپې او اې زما د سترګو توره، زه ډېر خواشینی یم، چې ستا د مرګ سبب شوم، ځکه چې پوهېږم تا له ژونده خوند اخیستلی شو.

کفتیو ورته وویل آزیرو ! زما لپاره مه خپه کېږه، ځکه چې زه په ډېرې خوښۍ او لېوالتیا په تا پسې د مړیو تاتوبي ته درځم.

دا ځکه چې پوهېږم له تا وروسته به بل خاوند پیدا نه شي، چې ستا په شان ما خوشاله او راضي کړي، ته د یوه سخوندر په شان مضبوط یې.

کله چې ته ژوندی وې، ما له ټولو ښځو ښېل کړې او پرې مې نه ښودې، چې له ما پرته له بلې ښځې سره تفریح وکړې.

اوس چې د مړیو تاتوبي ته ورځې زه به له تا سره لاړه شم چې هلته هم تا ته اجازه ورنه کړم چې له نورو ښځو سره تفریح وکړې.

زه پوهېږم هغه ټولې ښکلې ښځې، چې تر ما مخکې یې له تا سره تفریح کړې وه او اوس د مړیو په تاتوبي کې دي، ستا په تمه دي، چې له ما څخه دې واخلي.

حتی که مصریان ما ونه وژني، زه به پر خپلو اوږدو څنو ځان غرغره کړم، چې له تا وروسته د مړیو تاتوبي ته ولاړه شم او له تا سره یو ځای شم.

زه یوه وینځه وم او یوه مصري ډاکټر تا ته سپارلې وم.

ته پر دې سربېره چې زما مېړه وې زه دې ملکه هم کړم او ما تا ته دوه ښکلي زامن و زېږول.

آزیرو ! په دې ځواب ډېر خوشحال شو او بیا یې خپلو بچیانو ته وویل، زما بچیانو ! تاسې د یو پاچا زامن یاست او په دې وخت کې باید د شهزادګانو په شان له وېرې پرته مړه شئ.

ما په دې وروستیو کې د مرګ په هکله له داسې سړي سره خبرې کړې، چې تجربه یې د یوه عادي کس په پرتله سل چنده زیاته ده.

هغه راته وویل چې مرګ د یو غابښ تر ایستلو لس ځله ،لس ځله اسانه دی او هېڅ درد

نه لري.
تاسې باید پوه شئ، چې مرګ هېڅکله درد نه لري، بلکې دا ژوند دی چې انسان له دردونو او کړاونو سره مخامخ کوي.
له دې خبرې وروسته آزیرو د جلاد په مخکې په ګونډو شو او کفتیو ته یې وویل: زه د دغو بوینو مصریانو له کتلو چې شا و خوا ولاړ دي کرکه کووم او نه غواړم چې د هغوی په وینو ککړې نېزې وګورم.
له همدې کبله غواړم چې په دې وخت کې یوازې تا ووینم.
کفتیو، زما ښکلې مېرمنې! په دې وخت کې زما په مخکې ودرېږه چې ستا ښکلې څېره وکتلای شم.
کفتیو خپل وېښتان شاته واچول او خپل مخ یې هغه ته ور وښود. په داسې حال کې چې آزیرو سترګې پکې ښخې کړې وې، جلاد خپله درنه توره پورته کړه او د آزیرو پر ورمېږ یې ګوزار وکړ.
په یوه ګوزار یې د هغه سر له بدنه جلا کړ.
ګوزار دومره سخت و، چې د هغه سر د کفتیو پښو ته ولوېد او هغو وینو، چې د آزیرو له ورمېږه یې داري ووهلې، د هغه مېرمن او دواړه بچیان رنګین کړل چې کوچنی زوی یې ورېږدېده.
خو کفتیو د آزیرو سر اوچت کړ او پر خپل ټټر یې کېښود، د هغه شونډې او سترګې یې ښکل کړې او ږیره یې ور وموښله.
له دې پرته چې سر یې له ټټره لرې کړي، زامنو ته یې وویل، زما زامنو! ولې معطله یاست، اوس چې ستاسې پلار تللی دی، تاسې هم ورشئ، زما هم بیړه ده، چې له هغه او تاسې سره یو ځای شم.
مشر زوی یې له دې پرته چې د کوچني ورور لاس خوشې کړي، په ګونډو شو او جلاد د هغه سر هم د پلار په شان په یوه ګوزار له تنه ور بېل کړ او ور پسې یې د کوچني هغه سر هم غوځ کړ.
کفتیو چې د آزیرو سر یې لا پر سینه ایښی و، د خپلو بچیانو مرګ ته له خپګانه پرته کتل.
د هغوی له مړینې وروسته جلادانو د دواړو سرونه په لغتو له خپلې مخې لرې کړل او

کفتيو ته يې اشاره وکړه؛ چې په ګونډو شي.

ښځې له دې پرته چې د آزيرو سر له سينې بېل کړي، د جلاد پر وړاندې ګونډه وه هلته او پر يوه لاس يې خپلې زلفې له مخه لرې کړې چې ورمېږ يې ښکاره شي.

جلاد د هغې سر هم له تنې جلا کړ او د کفتيو د ورمېږ له رګونو څخه د آزيرو او د هغوی د زامنو په سرونو باندې وينه ورتوی شوه.

په دې ډول دغه څلور کسان له دې پرته چې شکنجه شي، په بېړه ووژل شول.

خو هورم هب د مړيو د ښخولو اجازه ورنه کړه او ويې ويل، مړي په بېديا کې واچوئ، چې مردار خواره او ځناور يې وخوري.

د آمورو هېواد پاچا چې وروسته د سوريې پاچا شو په دې ډول مړ شو او د هغه له مړينې وروسته هورم هب له هاتي سره سوله وکړه، په داسې حال چې پوهېده، دغه سوله به دوام ونه کړي.

ځکه چې هاتي د سولې د تړون په اساس د سوريې، سيدون، ازمير، بيبلوس او کادش ښارونه نيولي ول او بيا يې د سوريې په شمال کې دغه ښارونه پر يوه ستره جنګي کلا بدل کړي ول.

که څه هم هورم هب پوهېده چې دغه سوله به دايمي نه وي، خو له دې کبله چې دواړه لوري له جنګه ستړي شوي ول، له هاتي سره يې د سولې تړون وکړ.

پر ستړيا سربېره د جنګ دوه نور علتونه هم ول، چې هورم هب مجبور شو له هاتي سره سوله وکړي.

يو دا چې غوښتل يې د خپل وخت يوه برخه د مصر په پلازمينه طبس کې د خپلو کتمو د خوندي کولو لپاره ولګوي او بله دا چې پوهېده، د مصر په جنوب کې تورپوستو قبايلو سر اوچت کړی دی او چمتو نه دي چې مصر ته قلنګ ورکړي.

په دې کلونو کې چې هورم هب جنګېده، د مصر فرعون توت آنخ آمون، په دې هېواد کې پاچاهي کوله، هغه د خپل قبر له ساتلو پرته بله بوختيا نه درلوده.

ده که څه هم د نورو په چارو کې لاسوهنه نه کوله، خو بيا هم د مصر ملت خپلې ټولې بدبختۍ د هغه له لاسه بللې او ويل به يې، څه ډول له هغه فرعون څخه د نېمګرغۍ د راوړلو تمه وشي، چې ښځه يې د کاذب او دروغجن فرعون له نسله ده.

آمي په خلکو کې د دې فکر د سمولو لټه نه کوله، بلکې اوازې به يې خپرولې، چې

خلک د فرعون پر وړاندې نور هم بدبینه کړي، ځکه پوهېده څومره چې خلک پر فرعون بدبینه شي، د هغه په ګټه دي.

ده به خپلو ملګرو ته ویل، چې هر چاته وواییي فرعون د مصر ټوله شتمني د خپل قبر په جوړولو او ښکلولو لګوي او د مصر د ملت بدبختي له همدې امله ده.

د آمي د لمسون په اساس د فرعون له لوري په مصر کې پر مړیو هم مالیات ولګېدل او له هغو کسانو به مالیه اخیستل کېده چې غوښتل یې قبر ولري او یا یې مړی له مرګه وروسته مومیایي شي.

دغه مالیه د دې لپاره وه چې د فرعون پر قبر یې ولګوي.

دغو مالیاتو خلک سخت خپه کول، ځکه چې له مړیيانو پرته ټولو باید دغه مالیه ورکړې وای.

هر مصري غوښتل چې له مرګه وروسته، د هغه مړی مومیایي او په قبر کې ښخ شي.

ځینو مړیانو، به ټول عمر له خپلو بادارانو غلا کوله او پس انداز به یې کاوه، چې له مرګه وروسته د هغوی مړی مومیایي شي او په قبر کې یې کېږدي.

په دغو کلونو کې چې توت آنخ آمون په مصر کې حکومت کاوه، زه په پرله پسې ډول، د هورم هب له لښکر سره وم او د ټپیانو او ژوبلو کسانو معالجه به مې کوله.

د مصر د پلازمینې طبس له حالاتو مې ډېر معلومات نه درلودل او یوازې ځینو مسافرو به څه ناڅه معلومات راکول.

هغه مسافر چې له طبسه راتلل، ویل به یې چې فرعون کمزوری او ډنګر شوی دی او یوه مرموزه ناروغي یې ځوروي او دغه ناروغي د سوریې له جنګ سره تړاو لري.

ځکه کله چې د هورم هب د بریالیتوب خبر ور ورسېږي حالت یې داسې خرابېږي، چې خبره یې بسترې ته رسېږي، خو کله چې واوري هورم هب په جنګ کې ناکام شوی دی، نو ښه شي او له بسترې پورته کېږي.

مسافرو به ویل دغه موضوع دومره عجیبه ده چې کوډو ته ورته ښکاري، ځکه چې د فرعون د روغتیا او ناروغۍ مسلې د سوریې د جنګ له خبرونو سره تړاو پیدا کړی دی.

کله چې د سوریې جنګ اوږد شو آمي بې خبره شو او له مصره یې څو استازي هورم هب ته واستول او ویې ویل، ترکومه غواړې چې د سوریې جنګ ته دوام ورکړې؟

بیره وکړه او سوله وکړه چې زه خپل هدف ته ورسېږم، ځکه چې زه بوډا یم او خپل هدف

ته د رسېدا لپاره صبر نه شم کولای.

کله چې خپل هدف ته ورسېدم د هغې ژمنې په اساس چې له تا سره مې کړې ده، تا یې هم خپل هدف ته ورسوم.

ما په دې خبره باور نه کاوه، چې ګني د فرعون ناروغي دې، د کوډو له امله وي او ګمان مې کاوه، چې فرعون له دې امله د جنګ د خبر په رسېدا سره کله ناروغ او کله بېرته سمېږي چې آمي خاصه موخه لري.

په همدې ډول کله چې د سوریې جنګ پای ته ورسېد او هورم هب له هاتي سره سوله وکړه، موږ په جنګي بېړیو کې کېناستو او د نیل سیند د اوبو د بهیر پر خلاف روان شوو.

وا مو ورېدل چې فرعون د آمون په زرینه بېړۍ کې سپور کړای شوی چې د لوېدیځ د تاتوبي پر لور وخوځېږي.

ما د فرعون د مړینې د خبر په اورېدو سره تعجب ونه کړ او هغه وخت پوه شوم چې د فرعون ناروغېدل او بیرته رغېدل د دې لپاره و، چې کله که د هغه د مړینې خبر خپور شي نو څوک حیران نه شي، چې ولې توت آنخ آمون سمد ستي مړ شو.

کله چې موږ د فرعون د مرګ خبر واورېد د جنګي بېړیو بیرغونه موو راکوز کړل او مخ مو په لوګیو تور کړ.

موږ ته وویل شو ل، چې کله په مجیدو کې د مصر د لښکرو د بریالیتوب او له هاتي سره د سولې له مسلې فرعون خبر کړای شو هغه داسې هیجاني شو چې له ډېر هیجان او کړکېچه یې ناروغي سخته او مړ شو.

خو د فرعون د مړینې په اړه د دارالحیات ډاکټرانو یو او ګډ نظر نه درلود، څرګنده نه وه چې هغه له کومې ناروغۍ مړ شوی دی.

خو د مرګ د کور کارکوونکو ویلي ول، چې کله یې د مومیایي کولو لپاره د فرعون خېټه خلاصه کړه، ویې لیدل چې کولمې یې تورې شوې دي او فکر یې وکړ، چې هغه ته زهر ورکړل شوي دي

ملت به ویل، فرعون له دې امله مړ شو، چې د مصر پوځ په سوریې کې بریالی شوی دی، ځکه چې د ولس په باور فرعون پوه شو، چې له دې بریالیتوب به وروسته به ملت له سختیو خلاص شي او نېکمرغه به شي، حال دا چې ده د ملت د بدبختۍ غوښتنه کوله او له ډېرې غوسې ناروغه او بیا مړ شو.

زه پوهېدم په کومه ورځ چې هورم هب، د متې خاورې پر لوحې له هاتي سره د سولې ترون لاسليک کړ، دا سې ښکارېده لکه چې آمي خپله چاره د فرعون په خېټه کې دننه کړې وي.

څکه چې آمي له دې پرته بله تمه نه کوله چې د سوريې جنګ ډېر ژر پای ته ورسېږي، چې هغه په ارام فکر فرعون ووژني او د هغه پر ځای د سولې فرعون د پاچاهۍ په ګدۍ کېني.

د فرعون د مرګ خبر هورم هب او د هغه عسکر ډېر خپه کړل. څکه چې کله فرعون مصر ته ننوت د بريالیتوب بيرغونه يې ورپول او د سوريې مشران يې د کښتيو له عرشو سر په څېړۍ په دار وځړول، چې وښيي دی هم د پخوانيو فرعونيانو په شان دی.

کله چې به نور فرعونيان له جنګه راستنېدل، دښمنان به يې سر په څېړۍ په دار ځړول هورم هب هم غوښتل همدا سې چلند وکړي، خلک د مات دښمن په ليدو وويارې او پوه شي چې مصر د پخوا په شان مضبوط دی او له خپلو بهرنيو دښمنانو او ياغيانو غچ اخيستی شي.

خو د فرعون د مرګ خبر ددې سبب شو، چې هورم هب د بريالیتوب بيرغ پورته نه کړای شو، د سوريې د مشرانو مړي يې هم له بېړيو کوز کړل او نيل ته يې واچول.

د مصر سپاهيان چې له هورم هب سره مصر ته ستانه شوي ول، په سوريه کې له درې کلن جنګ او له ډېرو خطرو وروسته طبس ته ستنېدل. دوی له ځانه سره هغه سره و سپين هم درلودل چې په جنګونو کې يې د غنيمت په ډول نيولي ول او هيله يې کوله چې په طبس کې به پرې ساعت تېري او عياشي وکړي.

خو دغه خوښونه يې پر اوبو لاهو شول، څکه چې پوهېدل دا سې ښار ته به ننوځي چې په وير کې ډوب دی، نو بايد مخونه په لوګيو تور کړي او ځان ويرجن وښيي.

ټولو به ويل دغه فرعون چې موږ يې د سوريې جنګ ته واستولو او اوس چې مړ شوی دی، خو بيا هم له موږ څخه لاس نه اخلي.

د هغه مړينه هم د هغه د ژوند په شان موږ ته کړاو پېښوي.

کله چې سپاهيان پوه شول، طبس ته په ورتلو سره عياشي نه شي کولای، نو د نيل په هر ساحل کې چې به بېړيو لنګر واچاو، دوی به هغه ښځې له ځان سره ساحل ته بېولې چې له سوريې څخه يې راوستلې وې.

هلته به یې د ښځو او د سوریې د نورو غنیمتونو پر سر کمسایي کوله او قمار به یې واهه.

که څه هم هر سړی له خپلې ښځې موړ شوی وو او نه یې غوښتل چې له هغې سره ساعت تېر کړي، خو دا فکر یې کاوه، چې له نورو ښځو سره به ساعت تېری تر خپلې ښځې خوندور وي او غوښتل یې په قمار سره نورې ښځې وګټي.

کله چې به مصري عسکر د قمار وهلو پر وخت غوسه شول، شخړه به یې کوله او یو بل به یې ژوبلول.

دوی به خدایانو ته هم ښکنځلې کولې او په دې ډول به د نیل د سواحلو او سېدونکي د هغوی بې دیني ته حیران شول، په وحشت او حیرانتیا سره به یې ورو ورو پوښتنې کولې چې ایا دغه خلک مصریان دي؟

که مصریان وي، بیا ولې خدایانو ته سپکې سپورې وایي؟

دوی په دې خبر نه ول، چې مصري سپاهیان له وطنه لرې ول او له دې امله ډېرو پکې سریاني جامې اغوستې او ان په خبرو کې یې سریاني کلیمې کارولې.

څینو خو به د مصري خدایانو پر ځای د سوریې د خدای بعل عبادت کاوه.

ما پخپله هم د سوریې په آمورو هېواد کې د بعل خدای لپاره څلور قرباني وکړې چې آزیرو، د هغه مېرمن او بچیان له مرګه وروسته وړي، تږي او لالهانده نه وي.

له دغو خبرو زما هدف دا دی چې د مصر ملت، د هورم هب له عسکرو ډارېده، څکه چې کتل یې ډېر پکې د جامو او ظاهري حالت له پلوه له مصریانو سره ورته نه دي او نه یې د مصر پر خدایانو عقیده درلوده.

د مصر عسکرو او ما به د دې ساحلي سیمو په لیدو تعجب کاوه، څکه د نیل په هر ساحل کې چې به له ډېریو کوز شوو، لیدل به مو چې خلک وږي او بې وزله دي.

د مصر خلکو خپلې جامې دومره وینځلې او پیوند کړې وې، چې اصلي رنګ یې نه ښکارېده او د ټولو مخونه ډنګر او وچ ښکارېدل، څکه چې مصریانو د نباتي غوړو د ترلاسه کولو وس نه درلود.

ټولو به موږ ته په وېرې او ترهې سره کتل او د بېوزلو ملاوې د مالیې ټولوونکیو د مامورینو د متروکو په وهلو سره ژوبلې شوې وې.

عامې او حکومتي ودانۍ د ورانېدا په حال کې وې او د کورونو له د پوالونو څخه

خاورې او خټې توييدې.

له هغې ورځې څخه چې موږ له مصره وتلو، لارې نه وې رغېدلې او د اوبو لګولو ډېر کانالونه وران شوي ول.

خو کله چې مو معبدونه وکتل ګورو چې معبدونه ودان او په زرينو انځورونو ښکلي شوي دي، کاهنان نور هم چاغ شوي، سرونه يې خرييلي او تېل يې پرې موښلي ول.

زه پوه شوم چې د معبد په کاهنانو باندې دغه وخت ډېر ښه تېر شوی او تل يې د ښو ډوډيو، شرابو او غوښو په خوړلو کې اصراف کړی دی.

په داسې حال کې چې هغوی خوړل او څښل، خو نورو خلکو که به يوه نمړی وچه ډوډی پيدا کړه، نو هغه به يې د نيل په اوبو کې لمدوله او بيا به يې خوړله.

ځينو مصريانو چې مخکې به يې په طلايي لوښو کې شراب څښل اوس به يې که په مياشت کې يو ځل ارزان بيه بير يا د اوربشو اوبه پيدا کړې، نو ځانونه به يې نېکمرغه بلل.

اوس د نيل په ساحل کې د ښځو د خندا غږونه او د ماشومانو د خوشحاليو اوازونه، نه اورېدل کېدل، ښځې مړاوې او ډنګرې شوې وې، په ډنګرو لاسونو به يې د کاليو د وينځلو سوتې پورته کول او خيرن کالي به يې پرې وينځل.

ډنګرو ماشومانو چې له ډېرې لوږې يې د لوبو حوصله نه وه، ځمکه به يې وکيندله چې د بوټو ريښې را وباسي او خپله خېټه د بوټو په ريښو مړه کړي.

اوږدې جګړې، مصر په دې ورځې اخته کړی و.

هغه څه چې د آتون او آمون په جنګ کې خوندي پاتې شول، د سوريې او مصر په جنګ کې له منځه لاړل.

له همدې لامله خلکو تاندوالی او خوشحالي نه درلوده.

دا حوصله يې هم نه وه، چې د جنګ له ختمېدا وروسته خوشحالي وکړي او د هورم هب جنګي بېړيو ته يې چې د طبس پر لوري تللې په وېرې او ترهې سره کتل.

له دې ټولو سره سره به مستې توتکې د نيل د اوبو پر سر الوتې.

د نيل د سواحلو په لوخو کې به اسونه ششنېدل او تمساحګانو به خولې خلاصې کړې، چې مرغان پخپلو منبو کو باندې د هغوی د غاښونه منځونه ورپاک کړي.

موږ به د نيل اوبه څښلې چې د نړۍ تر ټولو اوبو خوندورې دي او د نيل د چيکړو له

بوی سره به مو د هغې سیمې اخښل شوې هوا تنفس کوله.

د پاپیروس د بوټو غرونه به مو اورېدل، چې باد به ښورول.

د هیلیو الوت او په آسمان کې د آمون حرکت ته موکتل. *(آمون دلته د لمر په مانا دی او د سینوهه د برخلیک په لومړیو کې مو هم ولیدل چې آمون د لمر پر ځای کارېدلی دی. ژباړن)*

دغو ننبو ننبانو او بویونو موږ پوهولو چې خپل هېواد ته ننوتي یو.

یوه ورځ مو سترګې پر هغو دریو غرونو ولګېدې چې د مصر د پلازمېنې ساتونکي بلل کېږي او د آمون د معبد د پورتنۍ برخې د ډبرینو ستنو طلایي څوکې مو ولیدلې. *(دغه ډبرینې ستنې د ډبرو یوه ننبه وه، چې وخت پرې معلومېده. په دغو دریو ستنوکې یوه اوس هم په پاریس کې ساتل کېږي. یانې له مصره پاریس ته لېږدول شوې ده. د دغو ستنو له سیوري به یې وخت معلوماوه. ژباړن)*

کله چې طبس ته نږدې شوو، سترګې مې د مړیو په ستر ښار ولګېدې (د طبس هدیره. ژباړن) د مړیو ښار هومره لوی دی چې پای نه لري. وروسته ښار ته ننوتو او بندرونه یې تر سترګو شول.

د بېوزلو سیمه مو د هغې له خټینو کورونو سره ولیدله او د خانانو او اشرافو د کورونو او سیمو په لیدلو سره خوشحال شوو.

په دې وخت کې مې په ډېر قوت سره د طبس هوا تنفس کړه.

ماکوګانو خپل لوی پاروګان په ډېر زور سره په اوبو کې دننه کړل، د هورم هب عسکرو د فرعون ماتم هېر کړ، د خوشحالۍ چیغې یې وکړې او بدلې یې وویلې.

په دې ډول زه بیرته طبس ته ننوتم، هغه ښار ته چې ماشومتوب مې پکې تېر شوی و او پکې لوی شوی وم.

نور مې فیصله وکړه چې بیا به له دې ښاره نه وځم، ځکه چې زما سترګو په بېلابېلو سیمو کې د انسان دومره رزالت او شیطانت لیدلی و، چې نور مې نه غوښتل دغه بې رحمۍ او رزالتونه ووینم.

ما غوښتل چې پاتې عمر پخپل اصلي ټاټوبي کې د بېوزلو په سیمه کې تېر کړم، چې کور مې هم هملته و او د طبابت له لارې خپل ژوند وچلوم.

ما تر دې ښه کور نه شو اخیستلای، ځکه چې هغه سره و سپین چې ما په سوریه کې

ګټلي ول، د آزيرو، د هغه د ميرمنې او بچيانو لپاره مې په قرباني، ولګول.

بله دا چې ما نه غوښتل، هغه ککړ او ناولي سره و سپين له ځان سره و ساتم او مصر ته يې يوسم، ځکه چې پوهېدم هغه سره و سپين چې په سوريه کې مې تر لاسه کړي ول، په وينو ککړ دي او له هغوی څخه د وينې بوی راته.

له همدې امله هغه څه چې مې په سوريه کې تر لاسه کړي ول، د آزيرو، د هغه د مېرمنې او بچيانو د خوشحالی لپاره يې ولګول او تش لاسونه طبس ته ستون شوم.

خو په دې خبر نه وم چې لا زما د بر خليک پيمانه نه وه ډکه شوې او بيا هم يو کار زما په تمه و، چې له کولو يې وېرېدم او کرکه مې ترې کوله خو مجبور وم چې يې کړم.

همدغه کار د دې سبب شو، چې په طبس کې له څو ورځو تېرولو وروسته مې بېرته له هغه ځايه کډه وکړه او بل ځای ته لاړم چې کيسه به يې وروسته درته وکړم.

آمي او هورم هب له دې وروسته چې له هاتي سره سوله وشوه او فرعون مړ شو، هر څه يې پخپله ګټه وليدل او فکر يې وکړ هېڅ شی هم د دوی د واکمنېدا په لار کې خنډ نه شي کېدای نه شي.

خو لړ پاتې و، چې د يوې ښځې د کينې له امله دواړه له واکمنی، څخه محروم شي.

غوره ده يو ځل بيا دلته د ملکې نفرتي تي او شهزادګی، باکتامون نومونه واخلم، ځکه هغه ښځه چې کينه يې کړې وه، پخوانی، ملکه نفرتي تي وه.

خو د دې لپاره چې د دغې دوو ښځو او د هغوی د دسيسو او هغو خطرو په هکله چې د آمي او هورم هب د پاچاهي لپاره يې رامنځته کړې وې خبرې وکړم، بايد يو نوی څپرکی ورته پرانيزم.

دا به زما د ژوند د تاريخ وروستی څپرکی وي او په دې فصل کې به ووايم چې څه ډول ما قتل وکړ، په داسې حال کې چې له مرګه د خلکو د ژغورلو لپاره او د هغوی د معالجې لپاره راغلی وم.

آمي له هورم هب سره موافقه کړې وه، چې د توت آنخ آمون له مرګه وروسته به د مصر سلطنتي خولی، په سر کړي.

نو د دې لپاره چې دغه خولی، ډېره ژر پر خپل سر کېږدي او د سلطنت په ګدی، کېني، د توت آنخ آمون د وير مراسم يې لنډ کړل. د طبس د موميايي کولو مسولين يې اړ کړل، چې د فرعون مړی ډېر ژر موميايي کړي.

د فرعون قبر چې د نقشې په اساس يوه پرتمينه ودانۍ وه، آمې نيمګړې پرېښود او په نتيجه کې د توت آنخ آمون قبر د مصر د سترو فرعونيانو د قبرونو پر خلاف ډېر کوچنی.

آمې په دې ډول ټول هغه شيان د ځان کړل، چې فرعون غوښتل هغه خپل نوي قبر ته له ځان سره يوسي.

خو هورم هب په دې شرط له آمې سره موافقه وکړه چې آمې بايد داسې کار وکړي چې شهزاده ګۍ باکتامون د هورم هب مېرمن شي.

آمې د دې لپاره چې شهزادګۍ باکتامون د هورم هب ښځه کړي په طبس کې يې د آمون د معبد له کاهنانو سره خبرې وکړې او د هغوی په مرسته يې يو پلان جوړ کړ، چې په دې بڼه به اجرا کېده.

په کومه ورځ چې هورم هب له سوريې څخه په راستېندا پسې د مصر د ستر سوبمن په توګه د آمون معبد ته ځي، نو مېرمن باکتامون به په معبد کې د جنګ د الهې (سخ مت) په شان ځان سينګاروي.

د مذهبي دستورو له پای ته رسېدا وروسته به کاهنان له معبده ووځي او يو کاهن به د وتلو په وخت کې د هورم هب او مېرمن باکتامون ترمنځ چې په دې ورځ د جنګ الهه شوې ده، يو منګی مات کړي.

بيا به معبد ېبخي تش شي او له هغه وروسته به هورم هب له شهزادګۍ باکتامون سره تفريح وکړي.

د جنګ د الهې په معبد کې په دې تفريح سره به هورم هب د خدايي درجې ته ورسېږي او د جنګ خدای به شي.

کاهنانو د آمې د تلقين له امله ويل، چې د دغو دواړو ترمنځ د منګي ماتولو ته اړتيا نشته، ځکه خدايان د دې لپاره چې له يو بل سره پيوند وکړي، د منګي ماتولو ته اړتيا نه لري.

د منګي ماتول يوازې د عادي خلکو کار دی نه د خدايانو، ځکه چې د خدايانو مقام د منګي تر ماتولو ډېر لوړ دی.

پر دې سربېره له دې کبله چې دغه دوه تنه به په معبد کې تفريح وکړي او يو پکې د جنګ الهه ده، نو په خپله د يو بل مېړه او ښځه کېږي.

دوه پنځوسم څپرکی

حيرانوونکی پيوند

آمي فکر کاوه چې په دې پلان سره به مېرمن باکتامون د هورم هب مېرمن کړي، ځکه چې کله شهزادګۍ له اغيارو په تش معبد کې ځان له هورم هب سره چې لوړ، هدوړ او ښکلی دی، يوازې وګوري نو مقاومت نه شي کولای او ځان به د هغه غېږه کې ورواچوي.

خو ملکې نفرتيتي چې له هورم هب سره يې رخه او کينه درلوده او د علت په هکله يې ما مخکې خبرې کړې وې، نو نه يې غوښتل چې شهزادګۍ باکتامون د هورم هب مېرمن شي.

تل به يې له هورم هب څخه شهزادګۍ ته شکايتونه کول، په تېره بيا د هورم هب د ذات او نسل د ټيټوالي په هکله به يې ورته خبرې کولې.

باکتامون ته به يې ويل، ته د خدايانو له توکمه يې، خو دغه سړی چې کله وزېږېد، د ګوتو په منځ کې يې خوشايي نښتي وله.

که دغه سړی له تا سره تفريح وکړي، ستا وينه به چټله کړي او بيا به دې څوک د خدايانو توکم نه بولي.

دغو دواړو مېرمنو په دې وخت کې يو پلان جوړ کړ، چې يوازې د يوې ښځې چل او مکر دغه پلان عملي کولای شي.

ځکه کله چې د يوې ښځې روح له کينې ډک شو، د هېڅ شي ان د ځان پروا هم نه کوي او تولې سياسي، پوځي او ټولنيزې ګټې ترې ځاروي.

تر دې مخکې چې ووايم د دغو دوو مېرمنو پلان څه و، بايد يادونه وکړم، کله چې په سوريه کې د هاتي لښکرو د سولې وړانديز وکړ، زه ورته حيران شوم.

ما چې د هاتي له روحيې او سخت جنګه کوم معلومات درلودل، تمه مې نه کوله،

چې هغوی دې په سوریه کې سوله وکړي، ځکه که فرض کړو، چې په لسو نورو جنګونو کې سورېې ماتې خوړولې وای، نو د هغوی خپل هېواد ته کوم تاوان نه رسېده، ځکه چې سوریه د دوی اصلي هېواد نه و.

که هورم هب د خپلو پرله پسې بریاوو له کبله نه وای مغرور شوی، نو هغه به هم زما په شان د هاتي د سولې ورانديز ته حیران شوی و.

خو هغه له کبر او غرور پرته غوښتل چې له سورېې سره سوله وکړي، چې وکړای شي طبس ته ستون شي، خپلو کارونو ته ورسېږي او شهزادګۍ باکتامون خپله مېرمن کړي.

نفر تي تي د خپل خاوند د واکمنۍ پر مهال ډېر نفوذ درلود، خو د مېړه مرګ د هغې قدرت او نفوذ کم او ختم کړ، مګر د هغې ښکلا همغسې په خپل حال پاتې وه.

هغې فیصله وکړه، چې له خپلې ښکلا استفاده وکړي او هورم هب چې د مصر تر ټولو قدرتمند او مضبوط سړی و، د ځان لور ته جذب کړي چې له هغه سره له تفریح او ساعت تېري خوند واخلي او خپل تېر قدرت او نفوذ، دا ځل د هورم هب په مرسته ترلاسه کړي.

خو هورم هب له شهزادګۍ باکتامون سره د ساعت تېري هیله کوله، کله چې یې ولیدل نفر تي تي غواړي، هغه ته ځان تسلیم کړي، نو هغه یې له ځانه لرې کړه.

د ښځې لپاره تر دې بله لویه سپکه نشته، چې هغه په دې فکر یوه سړي ته ځان ورنږدې کړي، چې ګني پر هغه ګرانه ده، خو هغه سړی یې پروا ونه کړي او له ځانه یې لرې کړي.

نفر تي تي له همدې ورځې څخه له هورم هب سره د ښمنۍ پیل کړه.

څرنګه چې دا ډېره ښکلې وه، نو د مصر په دربار کې یو شمېر کسانو، چې له خوراک و څښاک پرته یې په دربار کې بل کار نه درلود او ټل یې په عیش او ساعت تېري پسې و، د نفر تي تي پر شاوخوا راټول شول.

له دې سره هغه بریالۍ شوه، چې د توت آنخ آمون په دربار کې د ځان لپاره یو بل دربار جوړ کړي.

ددې په ترڅ کې یې د شهزادګۍ باکتامون له فطري غروره هم استفاده وکړه، هغې ته یې داسې خبرې وکړې، چې د خدایانو له توکمه ده او ان د حمام کولو په وخت کې

به یې چاته اجازه نه ورکوله چې څوک یې پر بدن لاس ووهي.

باکتامون به ویل، د وینځو لاسونه باید زما پر بدن ونه لګېږي، څوک باید زما پر سیوري ګام کېنږدي، ځکه چې زه الهه یم او زما سیوری د الهي سیوری دی.

شهزادګی باکتامون تر هغه وخته خپل بکارت وساته، ځکه چې ویل به یې په مصر کې څوک زما ور نشته، چې منګی را سره مات کړي.

فکر کووم د هغې اوږد پېغلتوب، د ځینو عصبي ستونزو سبب هم شو، ځکه کله چې یوه پېغله واده ونه کړي او ډېر وخت مجرده پاتې شي، د واده عمر پرې تېر شي، نو د روحي فشارونو له امله یې اعصاب خرابېږي. خو که مېړه وکړي دغه ستونزه یې ختمېږي.

نفرتي تي شهزادګی باکتامون ته تلقین کړی و، چې هغه دې لپاره رامنځته شوې، چې مصر له هغو کسانو پاک کړي، چې عام خلک دې خو د پاچاهۍ خوبونه ویني.

هغې ته یې وویل چې مصر پخوا یوه ملکه درلوده، چې (هاچپ سوت) نومیده، ساختګي ږیره یې کېښوده او شاته به یې د زمري لکۍ نښلوله.

دې به هېواد اداره کاوه او ټولو د هغې حکمونه منل، نو ته هم باید په راتلونکې کې د مصر پیاوړې ملکه شې.

زه فکر کووم، له دې سره سره چې نفرتي تي که د هورم هب په هکله دې پېغلې ته هرڅومره بدې خبرې کولې بیا هم هورم هب پر شهزادګی باکتامون ګران و.

خو د نفرتي تي او نورو رټل او سپکاوی یې نه شو زغملای، چې ځان داسې سړي ته وسپاري، چې ټول پوهېږي ټیټ ذاتی دی.

زه تصور کووم له دې کبله چې نفرتي تي د آمي لور وه، نو دغه سړي خپله لور د هورم هب پر پلان خبره کړې وه او هغې ته یې ویلي ول چې مونږ دوه کسه غواړو پر مصر حکومت وکړو.

له همدې کبله نفرتي تي پر دې هم پوه شوه، چې ددې کار لپاره به دغو دوو کسانو دا پلان هم جوړ کړی وي، چې هورم هب له شهزادګی باکتامون سره واده وکړي. خو نفرتي تي له خپلې ښکلا او هوښیارۍ څخه کار واخیست چې دغه پلان عملي نه شي.

کله چې د نفرتي تي په شان یوه ځیرکه مېرمن وغواړي، یو پلان پر خپل وخت

عملي کړي، نو د جنګي ګاډیو په ارابو کې له موجودو چړو هم تېره او خطرناکه شي.

ددغو دوو مېړمنو د پلان کشفېدا په دې ډول ده، چې کله هورم هب طبس ته ننوت د شهزادګۍ باکتامون لپاره یې پیغام واستاوه چې هغه وګوري، خو شهزادګۍ دغه خبره ونه منله.

هورم هب چې له ډېرو کلونو راهیسې یې هیله کوله له شهزادګۍ باکتامون سره وګوري، د شپې مهال یې وغوښتل د هغې کور ته لاړ شي.

کله چې د باکتامون کور ته نږدې شو، په حیرانۍ سره یې ولیدل، چې د هاتي یو افسر د باکتامون کور ته ننوځي او چې څومره په تمه پاتې شو، چې دغه افسر به راووځي، خو هغه له کوره را و نه ووت.

هورم هب چې هر څه فکر وکړ، د هاتي دغه افسر به له باکتامون سره څه کار لري، خو فکر یې کار ونه کړ او آمي ته یې خبر ورکړ.

هورم هب له آمي سره یوځای د باکتامون کور ته ننوت او هغه مړیې چې غوښتل یې د دوی مخه ونیسي ووژل شو.

دوی غوښتل، چې د هاتي افسر په دې کور کې ونیسي، خو د هاتي صاحب منصب داسې خبرې کولې، لکه چې څوک پر ځان ډېر باور او وړسا لري.

ده د سولې د تړون خبره وکړه، چې هورم هب مجبور شو، خوشې یې کړي، ځکه د سولې په وخت یې د هغه د نیولو لپاره هېڅ ډول اجازه نه درلوده او د شهزادګۍ کور ته د هغې په اجازې د هاتي د یوه افسر یا د یوه عادي کس ننوتل جرم نه دی.

خو له دې وروسته چې د هاتي صاحب منصب یې خوشې کړ، کور یې ولټاوه او د پخلنځي په ایرو کې یې څو لوحې پیدا کړې، چې معلومه شوه د شهزادګۍ باکتامون د لیکونو په ځواب کې د هاتي له لوري را استول شوې دي.

کله چې آمي او هورم هب د لوحو له مضمونه خبره شول، داسې حیران او وډار شول بیایې د باکتامون او د پخوانۍ ملکې نفرتي تي د کور شا و خواته ساتونکي وګمارل او پر همدې شپه د بېوزلو په سیمه کې زما کور ته راغلل.

دغه کور چې د طبس په جنګ کې وران شوی و، زما نوکرې (موتي) په هغه فلز بېرته رغولی و چې کاپتا له سوریې څخه ورته را استولی و.

کله چې هورم هب او آمي زما کور ته راغلل، خانونه یې نه و، معرفي کړي او مخونه

بې هم په نقابونو کې پوښلی ول.
زه، چې له سوريې څخه طبس ته راغلی وم، د شپې مهال به خوب نه راته پر دې شپه هم ويښ وم، چې د کور د دروازې د ټکولو غږ مې واورېد.
موتي چې له خوبه پاڅېدلې وه غږمېده، دروازې ته ورغله چې خلاصه يې کړي ما تصور نه کاوه چې په شپه کې به آمي او هورم هب زما کور ته راشي، فکر مې وکړ، چې کوم کس سخت ناروغ دی او غواړي ما د هغه کتنې ته ورولي.
کله چې دوی ولیدل موتي ته مې وویل، غټ څراغ بل کړه، چې کوټه نوره هم روښانه شي او موږ ته شراب راوړه.
هورم هب راته وويل بايد موتي ووژني، ځکه چې هغې زما مخ ليدلی دی.
زه دې خبرې ته حيران شوم، ځکه چې داسې نه و شوي، چې هورم هب دې کوم څوک په دې جرم ووژني چې د هغه څېره يې ليدلې ده.
هغه ته مې ووېل ډاډه درکووم چې دې ښځې ستا څېره نه ده ليدلې، ځکه د هغې سترګې په رڼا ورځ دومره کمزورې دي، چې په نژدې واټن کې د اوبو اس نه شي ليدلای نو د شپې مهال خو هېڅوک نه پېژني.
سترګې يې ببخي کار نه کوي، نو شراب وڅښه او له دې ښځې څخه مه وېرېږه او اوس راته ووايه، چې څه شوي دي، چې ته او آمي په دې شپه کې زما کور ته راغلي ياست؟
ناروغان ياست که کومه بله ستونزه لرئ چې په دې وخت کې دې کور ته راغلي ياست؟
هورم هب وويل زه ناجوړه نه يم او کوم خطر مې هم نه ګوابني، خو مصر له يوه لوی خطر سره مخامخ دی او سينوهه! ته بايد مصر وژغورې.
آمي هم د هورم هب خبره تاييد کړه او ويې ويل، سينوهه! نه يوازې مصر له يوې سترې خطرې سره مخامخ دی، بلکې ما هم خطر ګوابني.
يوازې ته کولای شې ما او مصر وژغورې، له همدې امله زه او هورم هب تا ته راغلي يو، چې له موږ سره مرسته وکړې.
ما وخندل، لاسونه مې وښورول او ومې ويل، لکه چې ګورئ زما لاسونه له سرو و سپينو تش دي او په مصر کې مې چې څومره سره و سپين درلودل، يا مې د طبس په

کورني جنګ کې د بېوزلو د ښځې په مړولو ولګول، یا مې هورم هب ته ورکړل، چې د سوریې په جنګ کې یې ولګوي.

نن سبا داسې شی راسره نشته چې وکړای شم له تاسې سره مرسته وکړم.

په دې وخت کې هورم هب، هغه لوحې راوښودلې چې د شهزادګۍ باکتامون په کور کې یې پیدا کړې وې.

که څه هم دغه لوحې ټولې د هاتي د پاچا (شوبیلو لیوما) له لوري مېرمن باکتامون ته لیکل شوې وې، خو د هغوی له ځوابه سړی پوهېده، چې شهزادګۍ باکتامون د هاتي پاچا ته څه لیکلي دي.

د هر لیک د ځواب په سریزه کې د مېرمن باکتامون د لیک د مضمون یوه برخه هم لیکل شوې وه.

داسې ښکارېده چې شهزادګۍ باکتامون پخپلو لیکونو کې د هاتي پاچا ته لیکلي ول، چې زه د فرعون لور او ډېره ښکلې هم یم. په مصر کې داسې څوک نشته چې له ما سره د واده کولو وړتیا ولري.

اورېدلي مې دي، چې ته څو ځوانان زامن لرې، نو خپل یو زوی ما ته مصر ته را واستوه چې زه ورسره منګی مات کړم او هغه زما مېړه شي.

له دې وروسته چې هغه له ما سره منګی مات کړ، په مصر کې به زما په واکمنۍ کې شریک شي او له موږ وروسته به زموږ بچیان په مصر کې حکومت وکړي.

د هاتي له لوحو دا خبره سپینه شوه چې (شوبیلو لیوما) کله چې د شهزادګۍ لومړنی لیک ترلاسه کړ حیران شوی و او فکر یې کړی و، چې باکتامون نیت لري هغه وغولوي او ملنډې پرې ووهي.

ده په پټه مصر ته یو استازی استولی و، چې پوه شي دغه لیک سم او رښتونی دی که څنګه؟

له دې وروسته چې د هغه استازي په پټه له مېرمن باکتامون سره وکتل پوه شو، چې لیک سم دی.

مېرمن باکتامون د دغه استازي په لاس بل لیک د هاتي پاچا ته واستاوه او ورته یې ولیکل چې د مصر خانان او د آمون کاهنان د دې پلویان دي او د هاتي له یوه شهزاده سره د هغې واده تایدوي.

په دې وخت کې د هاتي پاچا پوه شو چې له شهزادګۍ باکتامون سره د خپل یوه زوی په واده سره د مصر هېواد نیولی شي.

د خپلو پوځیانو مشر او خپل زوی (شوباتو) ته یې وویل د هاتي او مصر په سوله پسې، د فرعونیانو هېواد ته لاړ شه او له شهزادګۍ باکتامون سره واده وکړه.

په داسې حال کې چې زه د لوحو په لوستلو بوخت وم. هورم هب له آمي سره لانجه درلوده او ویل یې: آمي له دې وروسته چې ما او تا د مصر دومره خدمتونه وکړل، ایا زما انعام همدا دی؟ که زه پوهېدای چې ته دومره نالایقه یې. چې په طبس کې زما ګټې نه شي خوندي کولای. نو د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره به پخپله مصر ته راغلی وم او یا دا چې یو تکړه کس به مې د دې کار لپاره ګمارلی وای.

که ما یو روند سپی هم په طبس کې د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره ګمارلی وای، ستا په پرتله به یې زما ګټې ښې خوندي کړې وې او اجازه به یې نه ورکوله. چې په طبس کې زما پر خلاف دومره ستره دسیسه وشي.

آمي ! په ربښتیا چې ته تر هغو ټولو منفور سړی یې، چې ما پخپل عمر کې لیدلي دي.

له دې وروسته بله چاره نه لرم. مګر دا چې طبس د خپلو عسکرو په وسیله ونیسم او پرې نه ږدم چې دغه واده وشي.

آمي وویل ټولې هغه خبرې چې په دې لوحو کې لیکل شوې دي سمې نه دي او ته پخپله ښه پوهېږې. چې خانان او د آمون کاهنان دواړه د هاتي له شهزاده سره په دې هېواد کې د هېڅ له واده کولو سره موافقه نه کوي.

له ملته هم باید ونه وېرېږو ،چې زما له سلطنت سره دې مخالفت وکړي، ځکه چې ملت هېڅکله د پاچاهي په کارونو کې لاسوهنه نه کوي او هرڅوک چې قدرت ولري د خلکو پر ورمېږو نو جغ اېښودلی شي او هغوی کارکولو ته اړ کولای شي.

زه له خانانو، کاهنانو او د مصر له ملته نه وېرېږم، خو د هاتي د پاچا له زوی شوباتو څخه ډېر وېرېږم، ځکه که دغه سړی طبس ته ورسېږي او له مېرمن باکتامون سره منګی مات کړي، دغه ښځه خپله ماندینه کړي، نو حتماً به د مصر پاچا شي.

موږ به بیا د دې سړي د پاچاهۍ مخه و نه شو نیولای، مګر دا چې له هاتي سره جنګ پیل کړو.

خو مصر له سوریې سره په درې کلن جنګ کې دومره کمزوری شوی چې له هاتي سره جنګ نه شي کولای او که یې وکړي نو په دې جنګ کې به حتماً له منځه ځي.

نو یوازې یو کس موږ ژغورلای شي او هغه هم سینوهه دی.

ما په حیرانۍ سره وویل، د مصر په ټولو خدایانو قسم درکووم چې ووایې، زما په شان یو ډاکټر چې نه سره و سپین لري او نه زور، نو څه ډول به تاسې وژغورلی شي؟

ایا دا هیله کولای شئ چې زه وکړای شم دغه لېونی شهزادګی، دې ته اړه کړم چې له هورم هب سره واده وکړي او ورسره مینه وکړي.

هورم هب وویل، سینوهه! تا پخوا یو ځل له موږ سره مرسته کړې وه او اوس باید بیا له موږ سره مرسته وکړې.

ځکه کله چې یو کس، یو ځل په اوړو کې لاسونه ننباسي، بیرته یې نه شي را ایستلی، مګر دا چې دغه اوړه لانده شي او ډوډۍ ترې پخه شي.

ته باید له دې ځایه د شهزاده شوباتو کتنې ته ورشې او داسې کار وکړې، چې هغه ژوندی پاتې نه شي، چې له مصره و نه وځي.

زه نه پوهېږم چې ته باید څه وکړې چې هغه ژوندی پاتې نه شي خو پخپله باید د هغه د وژلو لاره پیدا کړې.

زه هغه په ښکاره نه شم وژلی، ځکه که یې په ښکاره ووژنم هاتي به بیا پر مصر د حملې تابیا وکړي او نن سبا مصر داسې کمزوری شوی، چې د هاتي د حملې مخه نه شي نیولای.

زه ددې خبرې په اورېدو ووېرېدم، ځنګونو نه مې ورېږدېدل، زړه مې په درزا شو او کله چې مې غوښتل خبره وکړم، ژبه مې په خوله کې بنده شوه او په ترڅ تریږي حالت کې مې وویل: که تاسې ولیدل چې ما یو ځل له تاسې سره مرسته کړې، نو هغه ددې لپاره وه، چې غوښتل مې یو لېونی فرعون وژغورم، ځکه چې اخناتون پخپله ډېر کړېده او د هغه ژوند مصر له تباهۍ سره مخامخ کاوه.

خو د هاتي د پاچا زوی شهزاده شوباتو له ما سره کومه بدي نه ده کړې او ما یوازې یو ځل، هغه مهال ولید چې آزیرو یې اعداماوه.

زه چمتو نه یم چې هغه ووژنم او نه غواړم چې لاسونه مې د یوه بېګناه سړي په وینو سره شي.

هورم هب تېنده تروه کړه او له غوسې تک تور شو، په متروکه یې خپله پنډۍ ووهله او وېې ویل، سینوهه ! ته هوښیار سړی یې او پوهېږې، چې موږ د مصر په شان یو ستر هېواد، دیوې ښځې پر هوس قربان کړو.

مصر نن سبا په نړۍ کې عزت لري او د سوریې له فتحې وروسته یې ابرو خوندي شوې ده.

لږ فکر وکړه او پوه شه، چې ایا یو هېواد په داسې حالت کې قربانولی شو، چې یوه ښځه وایي زه له پلاني سره واده نه شم کولای، بلکې له بل چاسره واده کووم؟

سینوهه ! داخبره ومنه چې د مصر د ژغورلو لپاره بله لاره نشته، مګر دا چې دغه سړی له منځه لاړ شي او ته باید هغه، مصر ته له را رسېدا مخکې مړ کړې.

ددې لپاره چې له دغه سړي سره اشنا شې، تر ټولو ښه وسیله دا ده، چې بې له ځنډه حرکت وکړې او په سینا صحرا کې له دې شهزاده سره وګورې.

زما د سمو معلوماتو پر بنسټ که ته سمدستي روان شې او ځان د سینا صحرا ته ورسوې، نو د مصر د سرحد په دریو مزلونو کې ځان دغه شهزاده ته رسولی شې.

کله چې دې هغه ولید، ورته ووایه چې د مېرمن باکتامون استازی یې او هغې را استولی یې، چې راتلونکی مېړه یې معاینه شي او په دې پوه شي، چې ایا هغه دا وس او وړتیا لري، چې د مصر شهزادګۍ ته یو ځواکمن مېړه شي؟

زه باور لرم چې که ته ځان هغه ته په دې ډول معرفي کړې، نو هغه به ستا پر خبره باور وکړي او له دې کبله، چې شهزاده هم د نورو په شان هوس او کنجکاوي لري، نو هغه به وکړي چې له تا ځخه د خپلې راتلونکې مېرمنې په هکله پوښتنې او څېړنې وکړي او پوه شي چې راتلونکې ښځه یې ښکلې ده کنه؟

سینوهه ! ته به هغه مهال په نرمه او خوږه ژبه د شهزادګۍ باکتامون، په هکله داسې خبرې وکړې، چې هغه نوره کنجکاوي او نور تحقیق ونه کړي، چې ایا ته په رښتیا د مېرمن باکتامون له لوري راغلی یې کنه؟

فرضاً که وغواړي تحقیق وکړي، چې ته د مېرمن باکتامون له لوري راغلی یې کنه، نو ددغه کار لپاره به کافي فرصت ونه لري.

دی به ونه شي کولای چې طبس ته یو استازی را واستوي، چې هغه له باکتامون څخه پوښتنه وکړي او بیرته ستون شي، نو ته به خپل کار وکړای شې.

خو ما د هورم هب او آمي له لوري د دغه کار راسپارل نه شوای منلی او د هغوی خبرې مې ردې کړې. کله چې هورم هب پوه شو . زه نه غواړم دغه کار وکړم. ویې ویل، سینوهه! ځپله فیصله وکړه، مرګ غواړې که ژوند؟

اوس چې ته زموږ په راز پوه شوی یې، نو که له موږ سره مرسته ونه کړې، فکر مه کوه چې زما نړدې ملګری یې او ژوندی به دې پریږدم.

سینوهه! دغه نوم چې ستا مور پر تا ایښی دی شوم او سپېره دی. ځکه د دې نوم خاوند د فرعونیانو په رازونو پوه شو او څوک چې په دې رازونو پوه وي. تر هغه چې ژوندی دی، باید هڅه وکړي چې پر دې رازونو پوهېدل یې د مړینې سبب نه شي.

اوس وو ایه چې ایا چمتو یې کنه. چې له مصره لاړ شې. د شهزاده شوباتو هرکلی وکړې او تر دې وړاندې چې هغه مصر ته ننوځي. ته یې ووژنې. که منفي ځواب راکړې په دې چړې سره چې په ملا پسې مې تړلې ده، همدلته دې رګونه او سږي څیرم، خو باور وکړه چې له مجبوریته به دغه کار وکړم.

که ته زړ ځله نور هم له ما سره ملګرتیا ولرې بیا به دې هم ووژنم.

ما او تا پخوا هم یو جنایت کړی. چې هغه د فرعون اخناتون قتل و . خو هغه جنایت مو د مصر د ژغورلو لپاره وکړ.

اوس باید بیا د مصر د ژغورولو لپاره یو بل جنایت وکړو . ځکه که دغه جنایت ونه شي، مصر به د هاتي له سلطې سره مخامخ شي.

ومې ویل، هورم هبه! ما له مرګه مه وېروه او په دې پوه شه چې یو ډاکټر له مرګه نه ډارېږي.

هورم هبه! د چړې له لاستي لاس لرې کړه، ځکه چې ستا چاړه زما د جراحی تر چړې ډېره پخه ده او زه له چړې کرکه کووم.

خو ته په دې پوه شه چې زه د مرګ له وېرې، ستا وړاندیز نه منم بلکې، له دې امله دغه غوښتنه منم چې، پوهېږم خبره دې سمه ده، باید مصر له هاتي څخه وژغورو.

هورم هب وویل، افرین له دې وروسته چې ته د هاتي شهزاده ته ورغلې او هغه پوه شو، چې ته د هغه د راتلونکې مېرمنې له لوري ورته راغلی یې، نو تا ته به ډېرې ډالۍ هم درکړي، چې ډېر شتمن به شې.

ما وویل. د هغه ډالیو ته مې سترګې نه دي نیولې.

که زه حريص سړی وای، نو ټول هغه سره او سپين، مريان او وينځې چې درلودې مې، هر څه به مې ساتلي ول، خو نه پوهېږې چې ما دا ټول له لاسه ورکړل

زه باوري يم، چې ويه وژل شم، ځکه کله چې د شهزاده شوبانو شا و خوا کسان وګوري، چې ما يې د پاچا زوی ور وژلی دی، نو ما به ووژني.

زه لا تر اوسه نه پوهېږم، چې څه ډول به دغه سړی ووژنم، خو دغه کار به د مصر د ژغورنې لپاره وکړم.

پوهېږم چې دا هم د هغو نورو پېښو په شان ده، چې زما په قسمت کې وې او له ازله د اسمان ستورو دغه پېښې زما په قسمت کې ليکلې دي.

اې هورم هبه! او اې آمي! تاسې چې غواړئ د مصر واکمنان شئ، د مصر پاچاهي، تاج زما له لاسه واخلئ او پر خپل سر يې کېږدئ، هيله کووم چې په راتلونکې کې زما نوم په ښو ياد کړئ او ووايئ چې يوه بې وسه مصري د اکثر موږ د مصر پاچاهي، ته ور سولو.

کله چې ما دغه خبرې کولې، په باطن کې مې د غرور احساس کاوه، ځکه چې را ياد شول، زه د مصر د فرعونيانو له ذاته يانې د خدايانو له ذاته يم.

ماته را ياد شول چې زه د مصر د تاج و تخت وارث يم او د مصر د فرعون کېدا لپاره مې تر آمي، چې يو کوشنی کاهن دی، صلاحيت ډېر دی.

په همدې ډول تر هورم هب هم د پاچاهي لپاره ډېر صلاحيت لرم، ځکه د هغه له مور و پلاره لا هم د خوشيو بويونه لتېږي

په دې شپه مې هورم هب ته وويل چې له مرګه نه وېرېږم او دا خبره سمه وه، ځکه چې د مرګ له درده نه ډارېدم.

زه پوهېدم چې مرګ درد نه لري، خو له دې سره سره چې ځان مې د هورم هب او آمي پر وړاندې زړور او قوي سړی وښود، مګر په دې ډېر خواشينی وم چې خپل ژوند له لاسه ور کووم.

ماته را پر زړه شول، چې که زه مړ شم، نو د نيل د پاسه به د تونکيو الوت و نه وينم او نور به مې سترګې د هرمونو د تاکستان له منظرو څخه خوند وانه خلي.

له دې وروسته به له هغو غازانو څخه خوند وانه خيستلای شم چې موتي يې د طبس په دود په تنور کې کباب وي

د دغو خوندونو په اړه پر فکر کولو سربېره پوه شوم، چې د مصر ژغورل ضروري کار دی.

ما چې د مصر د ژغورلو لپاره فرعون اخناتون بلې نړۍ ته واستاوه، باید د یوه هاتي وال له مرګه هم ډډه ونه کړم، د هغه کس له مرګه چې د مصر او زما د هېواد او خدایانو دښمن حسابېږي.

خکه که د یوه پردي شهزاده، چې زه ورسره هېڅ علاقه او مینه نه لرم، له وژلو ډډه وکړم، نو داسې به وي، چې فرعون اخناتون مې بې ګټې وژلی دی او هغه لویه سربښندنه به بې نتیجې وي، چې ما د فرعون د وژلو لپاره وکړه.

په دې شپه چې آمي او هورم هب زما په کور کې ول، دغه ټول فکرونه مې په ذهن کې تېرېدل او کله به د دغو دوو کسانو اصلي څېره زما تر سترګو شوه.

له دې سره به مې فکر وکړ، چې دوه غله او لوټماران دلته ناست دي، چې غواړي مصر ولوټي، خو دغه دوه کسان مصریان دي، په داسې حال کې چې شهزاده شوباتو پردی دی.

هورم هب ته مې وویل، تا چې اوس فیصله کړې، د مصر د پاچاهۍ تاج پر سر کړې، نو په دې پوه شه، چې د پاچاهۍ تاج ډېر درووند دی.

ته به د دوبې په یوه ګرمه شپه کې، کله چې دې له سر و مخه خولې راماتې وي، د دې تاج دروندوالی احساس کړې.

هورم هب وویل، سینوهه! د دې پر ځای چې د پاچاهۍ د تاج د درنښت فکر وکړې، غوره ده چې ژر پاڅېږې او حرکت وکړې.

ستا لپاره بېړۍ چمتو شوې او ته باید په بېړه ځان د سینا صحرا ته ورسوې، چې سرحد ته د هاتي د شهزاده له رسېدا مخکې له هغه سره یو ځای شې.

په دې شپه ما د طبابت وسایل او ځینې نور ضروري شیان هغې ګرندۍ کشتۍ ته ورسول، چې هورم هب راته برابره کړې وه.

په دې شپه، موتي زما لپاره د طبس په دود، په تناره کې یو غاز کباب کړی و، چې لږه برخه مې په ماسخوتن کې وخوړه او پاتې برخه مې بېړۍ ته راسره یووړه، چې په لاره یې وخورم او شراب مې هم له ځان سره واخیستل.

کله چې بېړۍ نیل سیند کې مخ پر ښکته روانه وه، ما دا فرصت پیدا کړ، د هغه

خطر په هکله فکر وکړم چې مصر ګواښي.

زه پوه شوم چې دغه خطر هغه توپان ته ورته دی، چې له افقه راپورته شوی او که يې مخه ونه نیول شي، نو مصر به له منځه یوسي.

زه نه غواړم په دې خبره ځان د مصر ژغورنکی معرفي کړم، ځکه که دغه خبره وکړم دروا‌غ به مې ویلي وي.

هغه کارونه چې انسانان يې کوي بېلابېل عوامل لري او په هر کار کې، ممکن دوه اصلي علتونه موجود وي، يو علت خصوصي وي او بل د عامه ګټو لپاره وي.

زه فکر کووم هر څوک چې د عامه ګټو لپاره کوم کار کوي، يو خصوصي علت هم وي چې هغه دې کار ته مجبوروي.

خو ډېر خله خلک خصوصي علت ته توجه نه کوي او يا يې نه ګوري، له همدې امله فکر کوي، چې دغه کار يې د خلکو د ګټو لپاره کړی دی.

مثلاً زه د هاتي د پاچاهی له خطر څخه د مصر د ژغورلو لپاره روان وم، خو يو خصوصي علت هم دغه کار ته وهڅولم او هغه دا چې پوهېدم، که لاړ نه شم هورم هب به مې ووژني.

خو له دې ټولو سره سره، له ځان او وجدان څخه شرمېدم، چې ولې دیوه سړي د وژلو لپاره روان یم، مګر پر دې هم پوهېدم چې د هغه وژل مصر ژغورلی شي.

يو ځل بیا مې ځان يوازې ولید او پوه شوم چې کوم ملګری او غمخور نه لرم.

هغه راز چې ما پخپل زړه کې درلود، دومره خطرناک و، چې که رسوا شوی وای، په زرګونو کسان به وژل شوي ول، نو له هېچا سره مې نه شو شریکولای.

ما د هاتي د شهزاده د ژغورلو لپاره له چا څخه مرسته نه شوه اخیستلای، ځکه که بل څوک په دې راز خبر شوی وای، نو په کوڅه او بازار کې به ټول پرې خبر شوي ول.

ما باید د هاتي د شهزاده د وژلو لپاره له ډېرې چالاکی څخه کار اخیستی وای، ځکه پوهېدم، که د شهزاده شا و خوا کسان پوه شي، چې ما د هغوی د پاچا زوی وژلی، نو ما به په ډول ډول شکنجو ووژني.

يوه شکنجه دا وه چې په ژوندیني به خرمن راڅخه وباسي، ځکه د هاتي خلک په شکنجه ورکولو کې، د نړۍ تر ټولو تکړه استادان دي.

کله به مې فکر کاوه، چې دغه کارونه کړم، وتښتم، په يوه لرې هېواد کې ژوند

وکړم او مصر پر خپل حال پرېږدم، چې هر څه کېږي پر ما یې څه؟

که تېښتېدلی وای، نو د نړۍ حالات به بدل شوي ول او د نړۍ تاریخ به په اینده کې بل ډول شوی و.

له ځان سره مې وویل، سینوهه! اوس چې ته بوډا شوی یې او ښه تجربه لرې، نو باید پوه شې، چې په خبرو ونه غولېږې. ځکه چې په دې نړۍ کې داسې اصول او قوانین شته، چې د هیلمندۍ هېڅ یوه خبره او ستره ژمنه. هغه له منځه نه شي وړای

ددغو اصولو له ډلې څخه یو دا دی، چې په هر هېواد کې باید پر بېوزله او خوارو پرګنو د خانانو او واکمنانو له لوري ظلم وشي، که دغه واکمن آمي وي، یا هورم هب او یا دهاتي شهزاده؟

نو که ته د هاتي شهزاده ووژنې، د مصر د بېوزلو په ژوند کې به بدلون رانه شي. ځکه که یو بهرنی شهزاده د مصر فرعون شي، پر بېوزلو او بېوسو به ظلم ونه کړي. خو آمي او هورم هب به پر هغوی فشار راولي.

نو سینوهه! وتښته او پاتې عمر په یوه لرې هېواد کې تېر کړه، چې لاس دې د دې سړي په وینو ککړ نه شي.

له دې سره سره چې له ځان سره مې دغه خبرې کولې. خو ونه تښتېدم. ځکه زه یو کمزوری سړی وم او اسوده ژوند او ښه خوراک و څښاک سړی له روحي پلوه کمزوری او بېوسه کوي.

کله چې یو کس له ښه او سوکاله ژوند سره روږدی شي، داسې کمزوری کېږي، چې د نورو تالی څټې ترې جوړ شي او د هغوی لپاره جرم او جنایت کوي

زه فکر کووم سوکاله ژوند، ښه خوراک و څښاک او د مریانو او وینځو درلودل، انسان داسې روږدی او لټ کوي، چې په دغسې کسانو کې ځینې چمتو دي مړه شي، خو نه غواړي چې ژوند یې بدل شي.

لامل یې دا دی چې دوی د راتلونکي ژوند له مجهولاتو وېرېږي او وایي ښایي دغه ښه خواړه، جامې او سوکاله ژوند به بیا ونه مومي.

له دې کبله چې زه یو کمزوری کس وم، نو له هغه برخلیکه مې ځان نه شو ژغورلای، چې ستورو راته په نظر کې نیولی و.

له همدې کبله مې د تېښتې فکر له سره ویوست او فیصله مې وکړه چې شوباتو

وو ژنم.

مافکر کاوه، چې څه ډول هغه له منځه يوسم، چې د هغه شا و خوا کسان او د هاتي پاچا، ما او د مصر ملت د هغه د وژنې مسول ونه بولي.

زه پوهېدم چې سخته دنده را په غاړه شوې، ځکه چې شهزاده شوباتو هېڅکله يوازې نه وي او د هاتي قبيلې خلک هم ډېر بدبينه خلک دي. چې پر هر چا شک کوي او امکان نه لري، ما د خپل پاچا له زوی سره يوازې پرېږدي.

زه پوهېدم چې شوباتو له خان سره بيديا ته نه شم بېولی، چې يوې درې ته يې ګوزار کړم. يا دا چې په يوه زهرجن مار يې وچيچم. ځکه چې د هغه شا و خوا کسان به اجازه رانه کړي، چې يوه شېبه هم ورسره يوازې پاتې شم.

زه پوهېدم چې د ميوې ځينې ونې داسې روزلی شو. چې مېوه يې زهرجنه شي او که يې څوک وخوري مړ کېږي.

دغه خبره مې هم اوريدلې وه، چې د پاپيروس پر پاڼو ليکل شوي ځينې کتابونه هم په زهرو ککړولی شو، چې هر څوک يې پاڼې واړوي له هغو زهرو څخه به مړ شي.

خو د سينا په صحرا کې مې له دغو وسايلو څخه استفاده نه شوه کولی، ځکه په زهرو د ککړو مېوو روزل. يا په زهرو د کتاب د پاڼې ککړول، وخت او مناسب ځای ته اړتيا لري او شهزاده شوباتو کتاب لوستونکی کس هم نه و، چې په زهرو ککړ کتاب ورکړم.

که په دې سيمه کې کاپتا موجود وای، له هغه مې مرسته اخيستلای شوه، پوهېدم، چې هغه ډېر چالاک سړی دی او د غيرعادي حللارو په موندلو کې استاد دی، خو کاپتا په سوريه کې و چې له خلکو څخه خپل پورونه واخلي.

له همدې امله بايد د شهزاده شوباتو د وژلو لپاره له خپل علم او پوهې څخه استفاده وکړم، ځکه له بل چا مې مرسته نه شوه غوښتلای.

که شوباتو ناروغ وای نو وژل يې ما ته سخت نه وو او ددې وس مې درلود، چې په علمي اصولو هغه بلې نړۍ ته واستوم چې څوک شک هم ونه کړي.

يوازې ډاکټران پر دې پوهېدای شول، چې ما هغه وژلی دی. خو ډاکټران د هغه ناليکلي قانون له مخې، چې دوی ټول ورته پام کوي، د خپل همکار پر جنايت پرده اچوي.

هېڅکله یو ډاکټر نه وايي چې پلاني ډاکټر په قصدي توګه یا له ناپوهۍ څخه خپل ناروغ وژلی دی.

شوباتو ناروغ نه و او که ناروغ شوی هم و ای، نو دهاتي هېواد ډاکټرانو معالجه کاوه او دا اړتیا نه وه، چې ما د هغه درملنې ته ور وبولي.

دغه خبرې د دې لپاره کووم چې پوه شئ، هغه دنده چې هورم هب او آمي په تېره بیا هورم هب راسپارلې وه، څومره سخته وه.

اوس چې مې د دې کار سختي بیان کړې، بیرته به د دې پېښې کیسه وکړم.

کله چې زما بېړۍ د ممفیس پر لور روانه شوه، د دې ښار دارالحیات ته ولاړم او ومې ویل چې یوه اندازه بېلابېل زهر راکړي.

هېڅوک زما پر دې خبرې حیران نه شول، ځکه ټول پوهېدل چې تر ټولو خطرناک زهر په ځینو ناروغیو کې (که د ډاکټر له لوري په کمه اندازه ورکړل شي.) ممکنه ده د معالجې سبب شي.

له دې وروسته چې له دارالحیات څخه مې بېلابېل زهر ترلاسه کړل تانیس ته لاړم او له هغه ځایه په روان تخت کې د سینا صحرا پر لوري روان شوم.

لکه څرنګه چې هورم هب ویلي ول، څو جنګي ګاډي یو ته دنده سپارل شوې وه، چې په هر ځای کې له ما سره وي، چې په لاره کې غله را ته ستونزې پیدا نه کړي.

د شوباتو د مسافرت په هکله د هورم هب معلومات دومره دقیق ول، چې د تانیس د ښار په دریو مزلونو کې د اوبو د یوې کوچنۍ ویالې ترڅنګ شوباتو ته ور ورسېدم.

ومې لیدل چې هغه دلته اړولي او یو شمېر عسکر او نوکران هم ورسره ول.

د هاتي د پاچا د زوی په اډه کې د هر څه موجود ول، زه پوه شوم چې د دغو خرو بار هغه ډالۍ دي، چې شوباتو یې مصر ته وړي او شهزادګۍ باکتامون ته یې ورکوي.

په دې کمپ کې یوه درنه او لویه جنګي ګاډۍ هم لیدل کېده او وامې ورېدل چې یوه وړه او سپکه ګاډۍ هم د کشف لپاره مخکې تللې ده.

ځکه، د هاتي پاچا چې خپل زوی یې مصر ته استاوه، پوهېده چې هورم هب په باطن کې مصر ته د هغه د ځوان زوی په ورتګ خپه دی. نو له خپل زوی سره یې یوه کوچنۍ، خو تکړه جنګي ډله هم واستوله چې که هورم هب د شهزاده لپاره کوم بد نیت ولري دغه جنګي ډله به ترې دفاع وکړي.

کله چې د هاتي د پاچا د زوی کمپ ته نوتو هغه کسان چې هلته ول. ما او له ما سره تللیو افسرانو ته یې درناوی وکړ. ځکه د هاتي دود او رواج دا دی، چې کله پوهېږي له یو چا ځخه کوم شی په اسانه او له جنګ پرته ترلاسه کولای شي، نو تر هغه یې درناوی کوي چې دغه کسان تر خپلې سلطې لاندې راولي.

کله چې دا کار وشو، بیا یې نو له پوسته کوي او یا یې سترګې ړندوي او په ژرندو کې یې تړي چې تېل پرې جوړ کړي.

د هاتي کسانو مرسته وکړه، چې د شهزاده شوباتو د کمپ تر څنګ موږ هم خپل کوچنی کمپ جوړ کړو، خو د دې لپاره چې موږ د بېدیا له غلو او زمریانو وساتي یو شمېر ساتونکي یې زموږ د کمپ شا و خوا ودرول.

کله چې شوباتو خبر شو، چې زه د مېرمن باکتامون له لوري راغلی یم. زه یې ور وغوښتلم.

د هغه کېږدۍ ته چې ورغلم او هغه مې په لومړي ځل له نږدې ولید، رونبانه او ځلېدونکې سترګې یې درلودې.

کله چې ما، هغه د سوریې په مجیدو ښارکې له لرې لیدلی و د هورم هب په څنګ کې ولاړ او نشه و، ځکه خو یې سترګې هم لوېدلې او بې نوره وې.

خو په دې ورځ مې ولیدل، چې ښکلې او رونبانه سترګې لري او له دې کبله چې فکر یې کاوه، زه د مېرمن باکتامون له لوري راغلی یم، نو له ډېرې خوشحالۍ او کنجکاوۍ یې سپږمې وربړېدېدلې،و یې خندل او سپین غاښونه یې ښکاره شول.

هغه مصري جامې اغوستې وې، خو په دې جامو کې خوشحال او ارام نه ښکارېده.

دوا ړه لاسونه مې پر څنګنو کېښودل، رکوع مې وکړه، بیا پاڅېدم او د مېرمن باکتامون، جعلي لیک مې ورکړ چې آمې برابر کړی و. په دې جعلي لیک کې باکتامون، زه د هاتي شهزاده ته د خپل استازي په توګه معرفي کړی وم او لیکل شوي ول، چې زه سینوهه درباري ډاکټر او د هغې د ټولو رازونو محرم یم.

له دې کبله چې د شهزادګۍ له ټولو رازونو خبر یم، نو راتلونکی مېړه یې هم باید خپل رازونه له ما پټ نه کړي، باید زما پوښتنو ته سم ځوابونه راکړي او پر ما بشپړ باور وکړي.

شوباتو وویل، سینوهه! له دې کبله چې ته درباري ډاکټر یې او زما د راتلونکې

مېرمنې په ټولو رازونو پوهېږې. زه هم له تا څخه هېڅ شی نه پټوم.

درته وایم چې کله ما له شهزادګۍ باکتامون سره واده وکړ مصر به زما د هېواد په شان وي.

فیصله مې کړې، چې د مصر ټولو قوانینو ته غاړه کېږدم او له همدې امله مې مصري جامې اغوستي دي.

اوس د مصر دودونه او رواجونه زده کووم. چې کله هلته لاړم، نو څوک راته د پردي په سترګه ونه ګوري.

زړه مې ډېر غواړي چې ډېر ژر د مصر سیل ځایونه وګورم او د مصر د خدایانو له قدرته خبر شم. چې له دې وروسته به زما خدایان هم وي.

خو تر هر څه ډېر مې زړه غواړي. خپله راتلونکې مېرمن وګورم. ځکه چې پوهېږم له باکتامون سره یوه سلطنتي کورنۍ جوړوم.

نو د هغې په هکله راته خبرې وکړه او دا راته ووایه، لکه څرنګه چې مې اورېدلي. ایا هغه ښکلې ده کنه؟ راته ووایه چې د هغې ونه لوړه ده که ټیټه او سینې یې څنګه دي؟ ایا د بدن شاتنۍ برخه یې پراخه او لویه ده کنه؟

سینوهه! له ما څخه هېڅ شی مه پټوه او که پوهېږې، چې د مېرمن باکتامون په بدن کې کوم عیب وي، هغه راته ووایه. ځکه همغه ډول چې زه په تا باور لرم، ته هم باید پر ما اعتماد وکړې.

د شوباتو اعتماد له دې ډېر ښه معلومېده، چې د کېږدۍ شا و خوا یې وسله وال کسان ولاړ ول او زما تر شا هم څو تنه نېزه لرونکي ساتونکي درېدلي ول، چې که زه کوم شکمن اقدام وکړم، نو دوی به خپلې نېزې زما په بدن کې ننباسي.

خو ما داسې وښوده چې ګنې هغوی نه وینم او ومې ویل: مېرمن باکتامون د مصر تر ټولو ښکلې ښځه ده او له دې کبله چې د خدایانو سپېڅلې وینه لري، تر او سه پورې یې خپل پېغلتوب ساتلی دی. دې نه غوښتل، دداسې کس مېرمن شي، چې د هغې ورتیا ونه لري، نو له همدې امله له تا څخه لږ زیات عمر لري، خو د یوې ښکلې مېرمنې عمر ډېر مهم نه وي، ځکه چې د هغې ښکلا، هغه تل تانده او ځوانه ښيي.

مېرمن باکتامون د سپوږمۍ په شان مخ لري او سترګې یې بیضوي دي.

که ته یې سترګې وګورې، صبر او حوصله به بایلې.

د شهزادګۍ ونه او قد نه ډېر دنګ دی او نه ډېر لنډ او د بدن شاتنی برخه یې پلنه ده.
دغه موضوع له طبي پلوه، ددې ښودنه کوي، چې هغه ډېر بچیان زېږولی شي. خو د شهزادګۍ ملا د مصر د نورو مېرمنو، په شان نرۍ ده او له همدې امله یې زه رالېږلی یم، چې زه تا وګورم او پوښتنه در څخه وکړم چې ایا د هغې لپاره به یو ښه او پیاوړی مېړه شي؟
خکه شهزادګۍ، چې ته یې د خپل خاوند په توګه د خان لپاره ور کس ګڼلی یې. تمه لري چې ته د یوه مېړه په توګه خپله دنده په سمه توګه ترسره کړې.
کله چې شهزاده شوباتو دغه خبرې واورېدې خپل لاس یې پورته کړ او متې یې راوښودلې . ویې ویل، زما په متوکې دومره زور شته چې د ډېرې لویې او کلکې لیندۍ مزی هم راکاږلی شم.
که پر کوم خره سپور شم، او دواړو ورنونو ته فشار ورکړم، نو د خره هډوکي به ورمات کړم.
خبره مې همداده چې ته یې ګورې، کومه نیمګړتیا نه لري او تر اوسه مې نه یاد یږي چې ناروغ شوی وم.
ومې ویل، شوباتو داسې ښکاري چې یو بې تجربې ځوان یې او د مصر له دودونو څخه خبر نه یې، خکه چې فکر کوې یوه مصري شهزادګۍ، چې د خدایانو وینه یې په بدن کې ده، یوه لینده ده، چې وکړای شې د هغه مزی په کلکو متو راکاږې، یا یوه خره ده چې د هغې هډوکي ورته مات کړې، نه!
شوباتو! یوه ښکلې او ځوانه مېرمنه د نورو شیانو لپاره واده کوي او له همدې امله یې زه دلته را واستولم، چې که له یوې ښځې سره د څملاستو او مینې په چل نه پوهېږې، زه به یې درزده کړم.
شوباتو پر دې خبرې سخت غوسه شو، چې نارینتوب یې له پوښتنې سره مخامخ شوی، لاسونه یې سره ومروړل او په کېږدۍ کې موجودو افسرانو وخندل.
خو شوباتو نه غوښتل چې پر ما په قهر شي، نو خپله غوسه یې تېره کړه او بیا یې وویل سینوهه! ته فکر کوې چې زه یو ماشوم یم او لا مې له کومې ښځې سره تفریح نه ده کړې؟
ما تر ننه پورې تر دوو ځلونو ډېر له شپېتو ښځو سره تفریح کړې او ټولې له ما راضي وې، که ستا شهزادګۍ یو ځل هم له ما سره څملي، پوه به شي چې د هاتي د هېواد نارینه د نړۍ تر ټولو تکړه کسان دي.

ومې ویل دا خبره منم، خو تا څو شپې وړاندې وویل، چې هیڅکله ناروغ شوی نه یې، په داسې حال چې زه ستا له سترګو پوهېږم، چې خپته دې ښه نه ده او تا ګروي.

د ډاکټرانو یو چل چې وکړای شي، له شتمنو څخه سره و سپین ترلاسه کړي، دا دی چې ورته ووایي، ته ناورغ یې.

لامل یې دا دی چې که انسان هر څومره روغ هم وي، خو کله چې له ډاکټره واوري، چې ناورغ دی، نو د ناروغي احساس کوي.

انسان چې څومره روغ هم وي، کله چې د ډاکټر دغه خبره واوري ور په زړه کېږي، چې تېره شپه ښه نه و ویده شوی، یا پرون چې کله له خوبه پاڅېد د کسالت احساس یې کاوه او یا یې ورمه شپه ښه ډوډۍ نه ده خوړلې.

د دغه ډول خبرو پر زړه کول، ان ډېر روغ سړی هم قانع کولای شي، چې ډاکټر سمه خبره کوي او دی ناروغ دی، نو باید د ځان معالجه وکړي، که دغه سړی شتمن وي، ډاکټر په دې ډول ترې ډېر څه ترلاسه کولای شي.

خو ما د تمه لرونکي ډاکټر په پرتله، چې د شتمنی د ترلاسه کولو لپاره یوه روغ کس ناروغ بولي، دغه امتیاز درلود چې پوهېدم د شهزاده شوباتو خپته سمه نه ده، ځکه هر څوک چې له سینا دښتې تېر شي د سینا صحرا په نهرونو کې یو ډول ماده (سودیم هایدروکسایډ) شته چې کله یې انسان وخوري اسهال ورته پیدا کوي، په تېره بیا هغه کسان ژر اسهالوي، چې تل یې د سورې خوندورې اوبه څښلې وي او د سینا صحرا له اوبو سره بلد نه وي

ما دغه طبي موضوع په سینا صحرا کې له ډېرو سفرونو، وروسته زده کړې وه او پوهېدم چې هر څوک سینا صحرا ته داخل شي او دغه ماده (سودیم هایدرکسایډ) له اوبو سره وخور ي اسهالېږي.

شوباتو زما په خبرې حیران شو او ویې ویل سینوهه! ته څنګه په دې خبر پوه شوې؟

ومې ویل ستا له سترګو پوه شوم، چې خپته دې ښه کار نه کوي، په داسې حال چې داسې نه وه او د شوباتو سترګې روښانه وې او پر دې ناروغی یې هیڅ دلالت نه کاوه.

د هاتي شهزاده وویل، خو زما یو ډاکټر هم په دې خبرې پوه نه شو، همغه ډول چې ته وایي زما خپته خرابه ده او همدا نن څو ځله قضای حاجت ته لاړم.

له دې خبرې وروسته شهزاده څو ځله پر خپل تندي لاس کېښود، ویې ویل احساس

کووم، چې زما ښنده ګرمه ده، سترګې مې درنې دي او ځان راته سم نه ښکاري
ومې ویل، خپل ډاکټر ته ووايه چې دارو درمل درکړي، چې ستا د خېټې مشکل حل شي او نن شپه ارام ويده شې، ځکه چې د سينا صحرا د اسهال ناروغي ډېره خطرناکه ده.
زه چې ډاکټر يم په وار وار مې د مصر يو شمېر عسکر ليدلي چې له همدې ناروغۍ څخه په دې بېديا کې مړه شوي دي.
لا تر اوسه څوک د دغې ناروغۍ په علت نه پوهېږي، ځينې کسان وايي، چې دغه ناروغي د سينا صحرا د سوزنده بادونو له امله پيدا کېږي، ځکه چې ځينې دغه بادونه زهرجن دي.
ځينې خلک عقيده لري، هغه ملخان چې په دې بيديا کې الوځي دغه ناروغي رامنځته کوي او ځينې هم دغه ناروغي د اوبو له امله بولي. خو له دې کبله چې ښه ډاکټران لرې، هغوی ته ويلای شې چې تا معالجه کړي.
زه باوري يم چې نن شپه به په ارامه تېره کړې او سبا به د مصر پر لور روان شې.
خو کله چې شهزاده، دغه خبرې واورېدې، په فکرونو کې ډوب شو او بيا يې خپلو افسرانو ته وکتل څه يې ونه ويل.
خو زه پوهېدم چې په زړه کې راته وايي سينوهه! ته چې دغه ناروغي پېژنې د هغې درمل هم ته جوړ کړه او راباندې ويې خوره.
له دې سره سره چې زه پوهېدم چې هغه غواړي څه شی ووايي، خو چوپتيا مې غوره کړه او ځان مې ناګاره کړ.
شو باتو وويل: ولې ته پخپله دغه درمل نه راکوې، چې زما ناروغي ورسره معالجه شي. ما خپل لاسونه وښورول او ورته مې په لوړ غږ چې ټول يې واوري وويل، زه هېڅکله دغه کار نه کووم، ځکه که زه کوم درمل درکړم او ستا ناروغي نوره هم سخته کړي، نو ستا ډاکټران او افسران به سملاسي ما تورن کړي او وبه وايي چې ما قصداً دغه درمل درکړي دي چې ستا وضعيت نور هم خراب کړي.
نو غوره ده چې ستا خپل ډاکټران تا معالجه کړي او درمل درکړي.
شهزاده وخندل او ويې ويل سينوهه! ستا نصيحت ګټور دی او زه به خپل ډاکټر احضار کړم، چې ورته ووايم درمل راکړي چې د خېټې ستونزه مې ښه شي، ځکه زه غواړم له تا سره ډوډۍ وخورم او له تا څخه د مېړمن باکتامون په هکله واورم.

بله دا چې هره شپه دې ته مجبور نه شم چې له خپلې کېږدۍ څخه د قضاى حاجت لپاره ووځم.

بيا شهزاده شوباتو خپل خاص ډاکټر راوغوښت، ماوليدل چې هغه شکاکي او تريو سرى دى. خو له دې وروسته چې پوه شو زه ورسره سيالي نه کووم، تندي يې ورين کړ او موسکى شو.

د شهزاده د حکم په اساس يې د قبضيت درمل ورکړل او له دې وروسته چې لومړى دغه ډاکټر درمل وڅکل بيا يې شهزاده ته ورکړل

کله چې ډاکټر هغه ته د قبضيت درمل ورکړل، زه خوشحال شوم، ځکه کوم زهر چې ما هغه ته ورکول، ښه اغېز کوي چې سړى قبض وي.

په داسې حال چې د اسهال په وخت ممکنه ډېر زهر د هغه له بدنه ووځي. اغېز يې پاتې نه شي او هغه ونه وژني.

تر هغې مېلمستيا وړاندې چې شهزاده زما په وياړ برابره کړې وه. زه خپلې کېږدۍ ته لاړم او يو منګى د زيتون تېل مې وخوړل، ځکه پوهېدم کله چې سړى ډېر زيتون وخوري، که بيا کوم ډول زهر هم وخوري اغېز پرې نه کوي

بيامې په شرابو کې لږ زهر ګډ کړل او دغه شراب مې په يوه صراحۍ کې واچول. ښه خبر شوم چې په کوچنۍ صراحۍ کې له دوو جامونو زيات شراب نه وي

سر مې وربند کړ، پخپل جيب کې مې کېښوده او د ډوډۍ د خوړلو لپاره د شوباتو کېږدۍ ته لاړم.

د ډوډۍ خوړلو په وخت کې مې د شهزادګۍ باکتامون او د مصريانو د سکس او عشقونو په هکله خبرې وکړې، شهزاده زما خبرو ته په کړس کړس خندل او کله کله به يې زه په شاو وټپولم

تر دې پورې چې ويې ويل، له دې سره سره چې ته يو مصرى يې، خو مجلس دې ډېر خوږ دى، زه چې د مصر د شهزادګۍ باکتامون مېړه شم تا به خپل ډاکټر کړم.

تر دې وړاندې چې ته خبرې وکړې، زه د خېټې له درده ناکراره وم، خو اوس مې د خېټې درد ورک شو.

تا د مصر د عشق او سکس په هکله خبرې وکړې، خو د هاتي د خلکو له عشقه نه يې خبر، کله چې زه ستاسې هېواد ته ننوتم، خپلو عسکرو او افسرانو ته مې وويل، چې د هاتي

هېواد د ژوند رودې مصريانو ته وروښيي، چې هغوی پوه شي په دې ډول له ژونده ډېر خوند اخيستلی شي.

د شهزاده نوکرانو چې زموږ په شان يې ډوډۍ خوړله او د خپل شهزاده په شان يې شراب څښل، زموږ له خبرو يې خوند اخيست او هيجاني شوي ول.

دوی هم د شهزاده خبرې په خندا سره بدرګه کولې.

شهزاده شوباتو پخپله هم شراب وڅښل او په نورو يې هم وڅښل، ويې ويل، سينوهه! کله چې شهزادګی باکتامون زما مېرمن شوه هاتي او مصر به سره يو شي او بيا به هېڅ پاچا ونه کړای شي زموږ پر وړاندې مقاومت وکړي، ځکه چې موږ به په نړۍ کې تر ټولو مضبوط او قدرتمند يو.

خو تر دې وړاندې چې موږ تر ټولو قوي هېواد شو بايد د مصريانو په زړونو کې وسېنه او اور ځای پر ځای کړو، چې هغوی هم زموږ په شان زړور او بې رحمه شي او پوه شي چې بايد له مرګه ونه ډار شو.

شوباتو له دې خبرو وروسته يو جام شراب اسمان او بل ځمکې ته ډالۍ کړل، ما ته يې پام شو او ويې پوښتل سينوهه! ته ولې شراب نه څښې؟ ومې ويل اې د هاتي د پاچا زويه! نيت نه لرم چې تا ته سپکاوی وکړم او تا خپه کړم، خو پوهېږم چې تا تر اوسه پورې د هرمونو د تاکونو شراب نه دي څښلي.

که دې دغه شراب څښلي وای، نورو شرابو به ستا په خوله کې د اوبو په شان خوند درلودای، له همدې امله زه ستا شراب نه څښم، ځکه چې د مصر شراب مې څښلي او له هغوی سره روږدی شوی يم.

زه تل له ځان سره دغه شراب ګرځوم، چې ويې څښم، خو فکر مې وکړ چې که د مصر شراب له خپله جېبه را وباسم او ويې څښم ته به خپه شې.

شوباتو وويل زه نه خپه کېږم او ستا له دې خبرې وروسته غواړم، پوه شم چې د هرمونو د تاکونو شراب څه ډول دي؟

ما له جيبه د شرابو صراحي را وايسته، ومې ښوروله چې ښه ګډ شي، هغوی هم همداسې کول چې شراب يې ښه ګډ شي.

له دې وروسته چې شراب مې ښه وښورول ومې ويل، دا د هرمونو د تاکونو حقيقي شراب دي، چې په مصر کې يې په سرو زرو خرڅوي او له هېواده د باندې خو يې بيه نوره هم زياتېږي.

له دې کبله چې په شرابو کې مې عطر ګډ کړي ول. د هغه بوی په ټوله کېږدۍ کې خپور شو او د شرابو کوم صفت چې ما کړی و حقیقت و.

په ربښتیا چې ښه شراب ول، ما لږ په یوه تشې پیاله کې واچول او تر وروستي ځاځکي مې وڅښل.

له څو شېبې وروسته مې ځان داسې وښود، چې نشه شوی یم او ګله چې شوباتو ولیدم چې په یوه غوړپ دومره نشه شوی یم. خپله پیاله یې راوړاندې کړه او ویې ویل، لږ دغه شراب ماته هم واچاوه چې وګورم مزه او تودوخه یې څنګه ده؟

ما ظاهرآ د شرابو له ورکولو ډډه وکړه او ومې ویل، شوباتو زه خپل شراب بل چاته نه ورکوم. د دې لپاره نه چې زه سخت او کنجوس یم، بلکې د دې لپاره چې زه نور شراب نه شم څښلی او له دې پرته نور مصري شراب هم نه لرم، نو مجبور یم چې دغه شراب درنه کړم. بله دا چې زه غواړم نن شپه ښه نشه شم، ځکه نن یوه ستره شپه ده، پر دې شپه مصر او هاتي د تل لپاره متحد کېږي او یو نوی هېواد جوړوي.

بیا مې لږ نور شراب د ځان لپاره واچول او خولې ته مې نږدې کړل، خو لاسونه مې له وېرې رېږدېدل.

هلته موجودو کسانو فکر کاوه، چې زما د لاسونو رېږدېدا له ډېرې نشې ده، ځکه ټولو وخندل او ما د دې لپاره چې هغوی نور هم غلط کړم ځان مې نشه وښود. د خرو په شان مې نارې کړې او شته کسانو داسې وخندل چې بدوګو ته یې لاس ونیو.

له دې سره سره چې هغه کتل زه نشه یم او باید له یوه نشه کس څخه شراب ونه غوښتل شي، خو شوباتو له ما شراب وغوښتل.

هغه داسې کس نه و، چې له چا کوم شی وغواړي او څوک یې ورنه کړي

د هغه غوښتنه چا نه شوای ردولای.

زه هم د ده د غوښتنې پر وړاندې تسلیم شوم، ځکه چې بله چاره مې نه درلوده او یوه پیاله مې له شرابو ډکه کړه او ور مې کړه.

شوباتو لږ شراب بوی کړل، بیا یې شا وخوا وکتل ته وا له نورو پوښتنه کوي، چې دغه شراب وڅښي کنه؟ زه پوهېدم چې شوباتو په وروستیو شېبو کې ډارشوی دی، خو جرائت یې نه شو کولای چې خپل پیش مرګي را وغواړي او لومړی دغه شراب پرې وڅښي چې پوه شي شراب په زهرو ککړ دي که نه؟

هغه وېرېده چې که خپل پیش مرګی را وغواړي، زه به خپه شم او فکر به یې کاوه، چې لاهم ما ته اړتیا لري، ځکه چې ممکنه ده، زه د هغه په هکله شهزاداګی باکتاموں ته ناسم راپور ورانډې کړم.

له همدې کبله نبایي شهزاداګی له ده سره له واده کولو پښېمانه شي. له همدې امله یې د شرابو ډک جام ما ته نژدې کړ او ویې ویل سینوهه! له دې کبله چې له ما سره ملګری یې او زه غواړم چې له دې وروسته له تا سره ډېره ملګرتیا وکړم نو تا ته اجازه درکووم، چې زما له جامه لږ شراب وڅښې.

ما ظاهراً په ډېرې خوشحالۍ سره جام له هغه واخیست او یو غوړپ شراب مې ترې وڅښل.

له هغه وروسته شوباتو پیاله خپلې خولې ته نږدې کړه، له دې کبله چې شرابو عطر درلودل، نو هغه یې پر سر واړول او چې جام خالي شو پر ځمکه یې کېښود، ویې ویل سینوهه! ستا شراب ډېر قوي دي او نشې یې پر ما اغېز وکړ، خو له څښلو وروسته خوله تریخوي او اوس به د خولې تریخوالی په خپلو شرابو سره له منځه یوسم.

له هغه وروسته یې له خپلو شرابو څخه پیمانه ډکه کړه او ویې څښل. زه پوهېدم، هغه زهر چې ما ورکړي دي، ترسهاره د هغه د مړینې سبب نه کېږي، ځکه چې هغه ډېره ډوډۍ وخوړله، پر دې سربېره ډاکټر ورته د قبضیت درمل ورکړل او کله چې قبضیت موجود وي، زهر په ځنډ اغېز کوي.

ما هم په خپل جام کې لږ د سورېې شراب واچول او ومې څښل خو د دې لپاره نه چې شراب وڅښم او ځان نشه کړم، بلکې د دې لپاره چې زما جام وو ینځل شي، د زهرو اغېز پکې پاتې نه شي، او که زما له تګه وروسته کوم ډاکټر هغه معاینه کړي نو د زهرو نښې پکې پیدا نه کړای شي.

له دې وروسته مې بیا ځان نور هم نشه وښود او داسې مې وښودل چې د کېناستو توان نه لرم، باید لاړ شم او ویده شم.

د هاتي افسرانو له دواړو متو ونیولم او خپلې کېږدۍ ته یې بوتلم، خو ما د شوباتو له کېږدۍ څخه له ځان سره د شرابو هغه صراحي هم بېرته راوړه، چې له مصره مې پکې شراب راوړي ول.

د هاتي افسرانو په توکو ټکالو، زه په خپله کېږدۍ کې ویده کړم او لاړل چې په خپله هم

ویده شي.

کله چې مې احساس وکړ ټول ویده شوي دي پاڅېدم او ګوته مې په ستوني کې دننه کړه، هرڅه چې مې خوړلي ول. د زیتون له تېلو سره مې یو ځای ټول بېرته را وګرځول.

بیا مې د مصر د شرابو تشه صراحي وو ینځله او ماته مې کړه، ټوټې او کوډوړي مې یې د دښتې په شګو کې ښخ کړل.

پر بدن مې سړې خولې راماتې وې، ځکه چې وېرېدم. ښایي زهرو به مسموم کړی یم.

د ډېر احتیاط لپاره مې د کانګو درمل وخوړل چې بیا کانګې وکړم او هغه څه چې زما په معده کې وو ټول راووځي.

که څه هم ما د زیتون ډېر تېل خوړلي ول، خو بیا هم ډارېدم چې زهر پر ما اغېز ونه کړي.

ځان مې چمتو کړ چې ویده شم، خو له وېرې خوب نه راته، پر ډار سربېره مې د شوباتو څېره چې ښکلی ځوان و او د هغه ځلانده سترګې او سپین غاښونه هم سترګو ته درېدل.

کله چې سهار شو زه پوهېدم چې د شهزاده شوباتو وضیعت به ښه نه وي، خو هغه چې د هاتي د ټولو او سپډنکو په شان کبرجن او مغروره و، داسې یې وښودله چې خپل سفر ته دوام ورکولای شي او پر خپل روان تخت سپور شو.

زه خبر شوم چې د هغه ډاکټر دوه خله د قبضیت دوا ورکړې، چې دغو درملو د شوباتو حالت نور هم خراب کړی دی.

که پر دې ورځ د شوباتو ډاکټر دغه ځوان ته مسهل درمل (جولاب) ورکړي وای، ښايي هغه ښه شوی وای، خو له دې کبله چې قبض شوی و نو ټول زهر د هغه په بدن کې پاتې شول.

د شپې مهال چې کله د استراحت ځای ته ورسېدو د شوباتو حالت داسې خراب شو، چې سترګې یې پټې شوې او د مرګ نښې نښانې پکې څرګندې شوې.

د هغه ډاکټر، زه د مشورې لپاره وروغوښتلم او کله چې ما هغه ځوان ولید پوه شوم. چې هغه مې د مرګ پر لور استولی دی، نو ودرېږم.

ډاکټر فکر وکړ، چې ډېر خپه یم، ځکه رېږدېدم او له ما یې پوښتنه وکړه سینوهه! د دې ناروغی په هکله ستاسې نظر څه دی؟

ومې ویل دا هغه د بېدیا ناروغي ده، چې پرون ما د شهزاده په بدن کې کشف کړې وه او هغه تاته وویل، چې معالجه یې کړې.

ډاکټر وویل د دې ناروغی درمل څه دي؟

ومې ویل، زه فکر کووم په دې پړاو کې باید مسکن درمل ورکړل شي چې د کولمو او معدې درد یې ختم کړي.

د کولمو د درد د کمولو لپاره باید یوه ډېره ګرمه کړو او د هغه پر نس یې کېږدو.

ما شهزاده شوباتو ته هېڅ ډول درمل نه دي ورکړي، بلکې پرې مې ښود چې د هغه خاص ډاکټر. هغه ته خپل درمل برابر او د هغه په خوله کې یې واچوي.

ډاکټر په یوه اله د شهزاده خوله خلاصوله او درمل یې پکې وراچول.

زه پوهېدم چې مسکن درمل او ګرمه ډېره به د هغه د مړینې مخه ونه نیسي خو لږ ترلږه درد یې ورته اراماوه او په وروستیو شېبو کې به په اسانه مړ شي.

شهزاده د زهرو له امله سخت اسهال شوی و او ډاکټر یې حیران پاتې و، چې ولې د قبضیت له دې ټولو درملو سره چې ده ته یې ورکړي، بیا هم اسهال دی.

دې سخت اسهال د شوباتو ډاکټر قانع کړ، چې دا همغه د صحرا ناروغي ده، چې ځانګړې نښه یې اسهال دی.

زه متوجه وم چې هېڅوک پر ما شک نه کوي او په دې ډول مې پر خپله چالاکۍ ویاړ کولای شو، خو په باطن کې شرمنده وم، ځکه چې یو ډاکټر د دې لپاره ډاکټر شوی وي، چې ناروغان معالجه کړي، تر څو ممکنه مړه نه شي. نه دا چې یو ښکلی او غښتلی ځوان بلې دنیا ته واستوي.

دغه کار د هاتي تر ټولو وحشي سرتېرو په نېزو او چړو سره هم کولای شو.

د بلې ورځې تر سهاره شهزاده شوباتو ژوندی و او ما بې له دې چې د هغه په معالجه کې مداخله وکړم، هڅه مې کوله چې د هاتي د ډاکټر په مټ د هغه ځوان درد کم کړم.

دغه ډاکټر د خپل هېواد له ځايي ناروغیو پرته نورې ناروغۍ نه پېژندلې او کله خو به یې د ځیګر، کولمو، معدې او پښتورګو دندې سره غلطولې.

باید د هاتي او نورو هېوادونو د ډاکټرانو نالایقۍ ته حیران نه شو، ځکه چې د هغوی طبي تحصیلات نظري دي او عملي کار نه کوي.

د نړۍ په هېوادونو کې یوازې مصر دی، چې له زرګونو کلونو راهیسې د طب علم په عملي توګه محصلینو ته ورښیي او د مومیايي کولو یو شاګرد په مصر کې د هاتي د لسو ډاکټرانو هومره پوهه او د بدن د غړیو په هکله معلومات لري، دا ځکه چې هره ورځ د بدن غړي ګوري او د هر غړي په نقص پوهېږي.

د مصر د مومیایي کوونکو پوهه دومره زیاته ده، چې کله د مړي ځېته پرانیزي، پوهېږي چې هغه په کومه ناروغۍ مړ شوی دی.

په همدې ډول مصري ډاکټران چې په دارالحیات کې یې زده کړې کړې وي، له مومیایي کوونکو څخه ډېر د بدن د غړیو په دندو او د ناروغیو په نښو ښه پوهېږي

زه تصور نه کوم داسې کووم هېواد دې وي، چې د طب په برخه کې له مصر سره سیالي وکړای شي او په راتلونکې کې هم که نور ملتونه وغواړي چې د دې علم په رازونو پوه شي، نو له مصره به یې زده کوي.

کله چې لمر راوخوت شهزاده شوباتو مرګ ته نږدې شوی و، ځکه خو هوښیار شو.

کله چې مرګ نږدې کېږي او ژوند چې زموږ د ټولو دردونو لامل دی پای ته رسېدونکی شي، نو بدن نور د درد احساس نه کوي او له دې کبله چې د ژوند کړاو له منځه ځي، حواس او هوښیاري بیرته راستنېږي.

شوباتو هم په دغه وخت کې هوښیار شوی و، د هاتي افسران یې راوغوښتل او هغوی ته یې وویل، هیڅوک زما د مرګ مسولیت نه لري، بلکې زه د صحرا د ناروغۍ له امله مرم.

له دې سره سره چې د هاتي تر ټولو ستر ډاکټر زه معالجه کړم او د مصر لوړ مقامه ډاکټر سینوهه هم ورسره مرسته کوله، خو زه معالجه نه شوم.

یا د اسمانونه او ځمکې اراده ده، چې زه باید مړ شم او یا د سینا صحرا، زما د مرګ حکم کړی دی، چې د مصر د خدایانو تاتوبی دی.

زما له خولې څخه زما پلار ته وواياست او تاسې هم پوه شئ چې له دې وروسته باید د هاتي سرتېري، سینا صحرا ته رانه شي، ځکه چې دغه صحرا زموږ د تباهۍ سبب کېږي او زما مرګ دغه خبره ثابتوي

ټول پوهېږي چې په همدې بیدیا کې مو ماتې وخوړه او د هاتي جنګي ګاډۍ چې تل یې سوبه کړې وه، په همدې بیدیا کې تباه شوې.

زما له مړینې وروسته دغو دوو تنو ډاکټرانو ته چې هڅه یې وکړه ما معالجه کړي، ښې ډالۍ ورکړئ او سینوهه ته چې کله مصر ته ستون شوې، شهزادګۍ باکتامون ته زما سلام ورسوه او ورته ووایه، چې زه هغه له هغې ژمنې معافوم چې له ما سره یې کړې وه.

خو افسوس کووم چې ولې زما عمر له ما سره ملګرتیا ونه کړه چې، هغه دې او زما په خوښه د هاتي شهزادګۍ کړم.

هغې ته دا هم وو ایه، اوس چې زه مرم، بیا هم د هغې فکر کووم او د هغې په خیال بلې نړۍ ته ځم.

شهزاده شوباتو په داسې حال کې چې موسکۍ و، له دې نړۍ یې سترګې پټې کړې او زه د هغه موسکا ته هېڅ حیران نه شوم، ځکه خینې کسان چې د مرګ په وخت له بدني دردونو خلاصېږي. لـه دې کبلـه چـې ځـان اسـوده احسـاسـوي او ښـکلې منظرې پـه فکـر کـې مجسـموي، نو موسکي شي.

د هاتي افسرانو د شهزاده مړی په یوه ستره تغاره کې کېښود، تغاره یې یې له شرابو او شاتو ډکه کړه، سر یې وربند کړ، چې مړی خپل هېواد ته ستون کړي او د هغې غونډۍ پر سر یې خاوروته وسپاري، چې نور شهزادګان او د هاتي پاچاهان پکې ښخ دي.

دغو افسرانو چې زه په ژړا ولیدم، له ما سره یې مینه پیدا شوه، پر یوه لوحه یې ولیکل، سینوهه د شهزاده شوباتو پـه مړینه کې مسولیت نه لري، هغه پـه صحرا کې د اسهال د ناروغۍ له امله مړ شو.

دغه راز یې پر لوحه ولیکل، سینوهه د هاتي له ډاکټر سره یوځای ډېره هڅه وکړه، چې شهزاده معالجه کړي، خو بریالي نه شول.

هغوی پر دې لوحه د اروانباد شهزاده او خپل مهرونه ولګول، ځکه چې فکر یې وکړ، مصر هم د هاتي په شان دی او که زه د شهزاده د مرګ خبر مېرمن باکتامون ته ورورم هغه به ما ووژني او تصوربه وکړي، چې د هغې راتلونکی خاوند ما وژلی دی.

کله چې مې غوښتل مصر ته ستون شم، د شوباتو د وصیت په اساس یې ما ته ډېرې ډالۍ راکړې او زه د مصر پر لوري رهي شوم.

په دې کې مې شک نه کاوه چې د دې شهزاده په وژلو سره مې مصر ته لوی خدمت کړی دی او توره خاوره مې د هاتي د پاچاهانو له خطرې ژغورلې ده، خو مصر ته د دې ستر خدمت له امله مې ویاړ هم نه کاوه.

کله چې مصر ته راستون شوم را پر زړه شول، له دې سره سره چې ډاکټر یم، خو زما وجود د هغو کسانو لپاره چې ما پېژندل او راباندې ګران ول د کړاو سبب شوی دی.

ما خپل ناسکه مور و پلار چې راباندې ګران ول، له لاسه ورکړل، بیا مې په مینا زړه بایلود، هغه پېغله هم زما د کمزوري نفس له امله د کرت د خدای په کور کې مړه شوه.

له هغه وروسته له مریت او تهوت سره اشنا شوم او دغه دواړه هم زما د کمزورتیا او

شکونو له امله مړه شول.

د مصر فرعون اخناتون له ما سره ډېره نیکي کړې وه، خو زما له لاسه یې زهر وخوړل او مړ شو، ځکه چې ما تصور کاوه، د هغه په وژلو سره به مصر ته یو ستر خدمت وکړم.

وروستی کس چې ما د وژلو لپاره ورسره علاقه پیدا کړه، شوباتو و او هغه هم زما په لاس بلې نړۍ ته واستول شو.

داسې ښکاري چې زما وجود سپیره دی او له هر چا سره چې علاقه پیدا کووم له منځه ځي.

له هغه وروسته د تانیس ښار ته ننوتم او په بېړۍ کې د طبس پر لور روان شوم.

زما بېړۍ د زرینې مانۍ (سلطنتي مانۍ) پر وړاندې ودرېده او زه مانۍ ته ننوتم.

آمي او هورم هب هلته ول، ما ورته وویل ستاسې هیله پوره شوه او شهزاده شوباتو د سینا په صحراکې مړ شو، د هغه مړی یې له شرابو او شاتو څخه په یوه ډکه تغاره کې واچاو او هاتي ته یې ولېږداوه.

هغه به بیا مصر ته راستون نه شي او د دغه هیواد لپاره به ستونزې پیښې نه کړي.

دواړه په دې خبر ډېر خوشحال شول او آمي له سلطنتي خزانې څخه یو زري امیل را پر غاړه کړ.

هورم هب وویل لاړ شه او دغه خبره مېرمن باکتامون ته ورسوه، چې پوه شي د هغې راتلونکی خاوند مړ شوی دی، ځکه که مونږ دغه خبر ورکړو باور به ونه کړي.

زه شهزادګۍ باکتامون ته ورغلم او هغې ته مې وویل، اې شهزادګۍ ستا چنغول شهزاده شوباتو چې غوښتل یې مصر ته راشي او له تا سره واده وکړي، په سینا صحرا کې د صحرا د ناروغۍ له امله مړ شو، خو ما او د هغه خاص ډاکټر ترخپله وسه پورې هڅه وکړه، چې هغه وژغورو.

شهزادګۍ باکتامون چې شونډې یې سرې کړې وې، چې دغه خبر یې واورېد، د سرو زرو یو بنګړی یې له خپله لاسه را خلاص کړ او ماته یې راکړ.

په ملنډو یې وویل: سینوهه! دغه بنګړی د ډالۍ په توګه واخله، خو ترې دې وړاندې، چې ته راشې او دغه خبر ماته راکړې. زه پوهېدم چې دلته زما په هکله څه فکر لري، ځکه چې فیصله یې کړې ده، ما د جنګ د الهې (سخ مت) الهه کړي او زما سرې جامې یې تیارې کړې دي

خو د شوباتو د ناروغۍ او مړينې په هکله بايد ووايم چې زه د هغه ناروغۍ او مړينې ته نه حيرانېږم. ځکه پوهېږم، هر چيرته چې ته لاړ شې، مرګ هم له تا سره هلته ځي.

زما وروراخناتون له دې امله لوېدېزې نړۍ ته لاړ چې تا معالجه کړي و، نو له همدې امله تا ته وايم، اې سينوهه! لعنت دې پر تا وي او زه له خپلو خدايانو غواړم چې تر ابده دې ملعون کړي.

زه له خدايانو غواړم چې ستا قبر ملعون کړي، ستا موميايي پاتې نه شي او نوم دې له منځه لاړ شي، ځکه چې دا ته وې چې د مصر د فرعونيانو تاج و تخت دې په داسې کسانو وپلوره چې ذات يې هم معلوم نه دی.

دا ته وې چې زما په رګونو کې د مصر د سترو فرعونيانو بهېدونکې پاکه وينه دې ګنده کړه.

سينوهه .... اې خونړيه ډاکټره! د تل لپاره معلون پاتې شې...

ما خپل لاسونه پر زنګنو کېښودل، رکوع مې وکړه او ومې ويل اې شهزادګۍ هغه څه چې تا وويل همغسې به شي.

کله چې زه له زرينې ماڼۍ څخه راووتم شهزادګۍ امر وکړ، چې په ما پسې ترسلطنتي ماڼۍ پورې تو له ځمکه جارو کړي، چې ځمکه زما له ککړتيا او پليتۍ پاکه شي.

د مصر د فرعون توت آنخ آمون مړی هډېرې ته د لېږد لپاره چمتو شوی و، آمي کاهنانو ته امر وکړ، چې د فرعون جنازه په وادي السلاطين کې پرانه قبر ته ولېږدوي.

ډېرې هغه شيان چې فرعون غوښتل پخپل قبر کې يې کېږدي د آمي له لوري ولوټل شول او کله چې يې د قبر دروازه بنده کړه نو کاهنانو چې آمي ورته ډېر رشوت ورکړی و، فيصله وکړه چې نوموړی د مصر فرعون شي.

هورم هب د مصر په واټونو او څلورلارو کې خپل سرتېري ځای پر ځای کړل، چې کله آمي د تاج اېښودلو او تبرک لپاره د آمون معبد ته ځي نو خلک بلوا ونه کړي.

خو هېچا د اعتراض غږ پورته نه کړ، ځکه چې خلک له لوږې په تنګ شوي ول او ملت هغه خره ته ورته و چې بار کړی يې وي او د متروکې او چوکې په زور په يوه بې پايه سرک کې روان وي چې د ډېرې ستړيا له کبله خپل خاوند په لغته هم نه شي وهلای.

په کومه ورځ چې آمي معبد ته روان و، پر خلکو يې ډوډۍ او شربتونه ووېشل.

دا چې خلک وږي ول، نو د غو خوړو پرې اغېز وکړ او د هورم هب لپاره يې نارې ووهلې.

خو هوښیار کسان پوهېدل چې په مصر کې آمي یو نمایشي او چټي فرعون دی، اصلي قدرت د هورم هب په لاس کې دی، هغوی په دې حیران ول، چې ولې د غه سړي د پاچاهۍ تاج نه دی پر سر کړی.

خو هورم هب پوهېده چې څه کوي؟ ځکه چې د مصر د ملت د بدبختۍ دوره لا پای ته نه وه رسېدلې او باید مصریان بیا هم جنګ وکړي.

دوی باید د هېواد په جنوب کې د کوش (د تور پوستو تاتوبی) له خلکو سره جګړه وکړي.

پر دې سربېره د سوریې جنګ هم د یوې موقتي سولې له مخې ارام شوی و او د هاتي ځواکونو د سولې د تړون پر اساس په سوریې کې ځو ستر او کوچني تکیه ځایونه درلودل او هوښیاران پوهېدل چې بیا به هلته جنګ وشي.

هورم هب چې د مصر د ملت لپاره یې د دغو بدبختیو اتکل کاوه لېوال و، چې دغه بدبختۍ د آمي د پاچاهۍ په وخت کې رامنځته شي چې خلک پوه شي دغه ستونزې او ناخوالې د آمي د پاچاهۍ له امله دي.

له دې وروسته چې جنګ پای ته ورسېږي، نو هورم هب به د جنګونو د سوبمن، ژغورونکي او د سولې د خدای په توګه مصر ته راستون شي او ملت به پوه کړي، چې له دې وروسته د سوکالۍ او نېکمرغۍ وخت دی او پخپله به د مصر فرعون شي.

آمي د هورم هب په پلان نه پوهېده، یا خو پوهېده، مګر فکر یې کاوه، چې هورم هب د دغه پلان د اجرا وخت او وسیله نه لري.

قدرت او شتمنۍ آمي نشه کړ او هڅه یې کوله چې له خپل عمر او پاچاهۍ ځخه استفاده وکړي.

خو پر هغه ژمنه یې وفا وکړه، چې له هورم هب سره یې د اخناتون د مرګ په وخت کې کړې وه او شهزاده باکتامون یې هغه ته وسپارله.

د هغه پلان له مخې چې آمي برابر کړی و او د کاهنانو په وسیله اجرا شو، باید پر ټاکلې ورځ د شهزادګۍ باکتامون په خبره کې د سخمت الهه د دې الهې په معبد کې د سوریې د فاتح هورم هب قدرونه او نمانځنه وکړي.

په دې ورځ یې شهزادګۍ په ګاڼو پسوللې او په سروجامو کې سینګار شوې معبد ته بوتله.

کله چې هورم هب د معبد پروړاندې د خپلو عسکرو له بدرګې سره مخامخ شو، هغوی ته یې سپین زر ورکړل او معبد ته ننوت.

په دې وخت کې ټول کاهنان له معبده را ووتل، هورم هب او شهزادګۍ یې په معبد کې یوازې پرېښودل او د معبد دروازه یې رابنده کړه.

هورم هب چې یو سرتېري و او اوږده کلونه یې د شهزادګۍ د وصال په ارمان کې تېر کړي ول، پر دې شپه یې له فرصته ښه ګټه پورته کړه.

په داسې حال چې هغه په معبد کې د ننه له فرصته استفاده کوله، د هغه عسکر په طبس کې پر عمومي ځایونو او میخانو ور شیوه شول او تر سهاره یې شراب وڅښل.

ځینې پکې د جنګ او شخړو له امله ټپیان شول او څو ځایه اورونه هم ولګېدل.

سهار د سخ مت د معبد پر وړاندې راټول شول، چې له هغه ځایه د هورم هب وتل وګوري.

کله چې د معبد دروازه خلاصه شوه او هورم هب ترې راووتو سرتېرو یې په ویاړ ناري کړې او د هورم هب د سر، څېرې، ټټر، مټو او پښو په لیدو حیران شول، ځکه د غه سړي له سره تر پښو پورې ټول په وینو ککړو. داسې ښکارېدل چې د جنګ الهې تېره شپه د خپل ماهیت او خوی په اساس چلند کړی دی او په خپلو نوکانو او غاښونو یې د هورم هب مخ او اندامونه ټپي کړي ول.

خو په دې ورځ هېچا شهزادګۍ باکتامون په معبد کې ونه لیده، ځکه چې کاهنانو په پټه هغه د سخ مت له معبده ایستلې وه او زریني ماڼۍ ته یې لېږدولې وه.

دا زما د پخواني ملګري او د مصر د سپاهیانو د قوماندان هورم هب، د زفاف شپه وه.

زه په دې حیران یم چې ده به په دې شپه کې له هغې ښځې څخه څه خوند اخیستی وي چې دده یې داسې هر کلی کړی دی.

ما فرصت پیدا نه کړ چې ترې پوښتنه وکړم، پر دې شپه یې د شهزادګۍ لغتې او ګوزارونه څنګه زغملي ول، ځکه چې لنډه موده وروسته هورم هب له تورپوستو سره د مبارزې او د هغوی د کنټرولو لپاره د مصر جنوب ته ولاړ، له همدې کبله ما ونه کړای شو، د زفاف د شپې په هکله له هغه څخه پوښتنه وکړم.

آمي د خپلې پاچاهۍ له قدرته ډېر خوند اخیسته او ویل به یې سینوهه! په مصر کې بل څوک قدرت نه لري او زه له مرګه نه وېرېږم، ځکه چې پوهېږم یو فرعون هېڅکله نه مري، بلکه له مړینې وروسته به هم ژوندی وي او پاتې عمر چې تلپاتې دی د آمون په بېړۍ کې

تېروي (په پخواني مصر کې د آمون بېړۍ دوه ماناوې درلودې. يوه پر تهولې نرۍ خوربدونکې لمر او بله هغه بېړۍ وه چې شتمنو مصريانو به پخپل قبر کې اېښودله. اوس په کيندنو کې څو ځله د پخوانيو مصريانو په قبرونو کې د غسې بېړۍ موندل شوي دي کله چې به يو مصري ويل زه د آمون په کښتۍ کې وم، په دې مانا چې په همدې کښتۍ کې او هم به د آمون له خداى او لمر سره يم ژباړن)

له دې وروسته چې آمي څه موده د غه خبرې کولې تصور کووم چې د بوډاتوب او له ښځو سره د ډېرې تفريح له امله د هغه اعصاب خراب شول ځکه چې له هغه وروسته يې ماته ويل سينوهه زه به هيڅکله مړ نه شم د دې لپاره چې فرعون يم او يو فرعون هيڅکله نه مري.

ما ورته وويل آمي ته خيال کوې، چې څو تنو کاهنانو ستا پر مخ او سر تېل موښلي نو ته يې سپېڅلى کړى يې او له نورو سره تو پير لرې؟ خو ايا تا ونه ليدل چې اصلي فرعونيان هم، چې پلرونه يې فرعونيان ول او د خدايانو وينه يې په رګونو کې وه مړه شوي دي؟

په دې ډول ستا غوندې سړى، چې له سره عام سړى وې او بيا فرعون شوې. ايا هيله کوې چې هېڅکله به نه مرې؟

آمي وويل. کاهنان به اجازه ورنه کړي، چې زه مړ شم.

ما به وويل که کاهنانو، ددې وس درلوداى چې د مرګ مخه ونيسي، نو داسې کار به يې کړى و، چې دوى پخپله مړه نه شي.

په دې وخت کې آمي خپه او نهيلى شو او ويل به يې سينوهه! ايا ته غواړې ووايې چې د فرعون کېدا لپاره زما د غه ټولې د سيسې بې ګټې وې او هغو ټولو هلو ځلو چې خلک مې ووژل نتېجه او پايله نه درلوده؟ ايا زه هم بايد د نورو په شان مړ شم او د فرعون کېدا له خوندونو تېر شم چې تر ټولو، ان د شرابو له څښلو او له ښځو سره له تفريح کولو هم خوندور دي.

سينوهه داسې کار وکړه، چې زه وکړاى شم هره ورځ سل ځله له ښځو سره خملم او په وجود کې مې له دې کاره هېڅ ډول ستوماني او ستړتيا احساس نه شي.

ته يو ډاکټر يې او په ټولو شيانو پوهېږې، ته زما قدرت زيات و لې شې چې زه وکړاى شم، تر لسو ځوانانو لس ځله زيات له ښځو سره تفريح وکړاى شم.

د غو خبرو رازده کړل، چې د آمي عقل د بوډاتوب او د مقام او چوکۍ د غرور له امله خراب شوى دى او له هغه وروسته د هغه د خرابو اعصابو نورې نښې نښانې هم راته

څرګندې شوې.

دې له ډوډۍ خوړلو وېرېده او هغه کس چې ويل به يې د فرعون کېدا يوه ګټه د ډېرو شر ابو څښل دي، د خپل طبيعت د خرابېدا له وېرې يې نه شراب څښل او نه يې قوي خواړه خوړل ،بلکې په لږې وچې ډوډۍ او د اوربشو په اوبو به يې ګوزاره کوله او هغه يې هم په ډېر احتياط خوړل چې مسموم نه شي.

په عين حال کې دغه کس چې غوښتل يې هره ورځ سل ځله له ښځو سره تفريح وکړي، ناڅاپه له ښځو موړ شو او د هاتي د خلکو هغه غير طبيعي باور ونه په ده کې هم راپيدا شول.

دري پنځوسم څپرکی

د باکتامون انتقام

شهزادګۍ باکتامون د جنګ د الهې په معبد کې له هورم هب سره د یوې شپې تر تېرولو وروسته، امېندواره شوه.

شهزادګۍ له خپل مېړه څخه کرکه کوله، ځکه یې هڅه کوله خپل ماشوم په خپله خېټه کې مړ کړي، خو بریالۍ نه شوه او دغه ماشوم یې وزېږاوه.

له دې وروسته چې ماشوم وزېږېد، ماشوم یې له هغې بېل کړ، چې هغه یې ونه وژني او یا یې په تو کړي کې کېنږدي او په نیل سیند کې یې خوشې نه کړي

د دې ماشوم د زوکړې په هکله کیسې او افسانې جوړې شوې، داسې اوازه هم خپره شوه، چې کله ماشوم نړۍ ته سترګې رڼې کړې، سر یې د جنګ د الهې په شان و او پر سر یې د جنګ مخصوصه خولۍ وه.

زه چې د مېرمن باکتامون ډاکټر وم او ماشوم مې لیدلی و، نو وایم چې دغه ماشوم له نورو ماشومانو سره توپیر نه درلود.

هورم هب به دغه ماشوم د رامسس په نوم یاداوه.

کله چې دغه ماشوم وزېږېد، هورم هب د مصر په جنوب کې له تورپوستو سره په جنګ بوخت و او د هغه ګاډي، دغه خلک وژل، ځکه چې تورپوستو په جنګونو کې ګاډي نه وو لیدلي او نه پوهېدل څنګه د ځان دفاع وکړي.

هورم هب د هغوی کورنه چې له لوخو او لرګیو جوړ شوي ول وسوځول، ښځې او ماشومان یې د مریانو په توګه مصر ته را واستول او تورپوستي نارینه یې پخپل پوځ کې شامل کړل، چې هغوی بیا زړه ور او بېباکه عسکر شول.

له دې وروسته چې تورپوستي د هورم هب په پوځ کې شامل شول ازاد شول، چې د خپلو اصولو او عقیدو په اساس څرنګه چې دوی غواړي ډولونه ووهي او ونځېږي.

د تورپوستو نڅا د هغوی په روحيې عجيبه اغېز درلود او له دې وروسته چې نيم ساعت وګډېدل داسې به زړه ور شول، چې له يوې نېزې سره به د زمري جنګ ته ورتلل.

هورم هب پوهېده، چې د هاتي پر خلاف په را تلونکي جنګ کې له هغوی څخه استفاده کولای شي او داسې عسکر به د هغوی جنګ ته واستوي چې د هاتي تر عسکرو ډېر زړور دي.

هورم هب د تورپوستو په تاتوبي کې ټول څاروي او مالونه مصر ته ولېږدول، تر دې حده چې په مصر کې شېدې ډېرې پريمانه شوې او ډېرو بېوزلو کسانو هم غوښه خوړلی شوای.

په مصر کې د لوږې له کلونو وروسته له کروندو څخه ډېر غنم ترلاسه شول او خلک پر ډوډۍ، اوربشو او شرابو ماړه شول.

کله چې به مېندو خپلو ماشومانو ته تی ورکاوه، له خدايانو به يې د هورم هب لپاره د نور ځواک غوښتنه هم کوله. ځکه پوهېدل چې هغه په مصر کې شېدې، مستې، غوښه او په غير مستقيمه توګه غنم او د اوربشو اوبه پريمانه کړې.

خو د مصر له جنوبه د تورپوستو د مالونو لېږدولو، د هغوی د کورونو سوځولو او نورو جناياتو تورپوستي داسې وېرول، چې خپل هېواد يې پرېښود او د پيلانو، زرافو او زمريانو د تاتوبي پر لور وتښتېدل.

له هغه وروسته تر څو کلونو پورې د مصر په جنوب کې د کوش په نامه تاتوبی شاړ پاتې شو، هېڅوک هلته ژوندنه کاوه، چې مصر ته قلنګ ورکړي.

خو مصر په دې خپه نه شو چې له کوش څخه يې قلنګ نه اخيست، ځکه چې تر دې مخکې هم دې تاتوبي مصر ته څه نه ورکول، نو د قنلګ نه ورکول د مصريانو لپاره عادي چاره وه.

په داسې حال کې چې د سترو فرعونيانو په وخت کې کوش د مصر د عايد لويه سرچينه نه وه او مصر تر کوشه زيات له سوريې څخه ګټه کوله.

هورم هب د مصر په جنوب کې له دوه کلن جنګه وروسته له ډېرو غنيمتونو سره مصر ته راستون شو او خپلو عسکرو ته يې چې ډېری پکې تورپوستي ول سره او سپين ورکړل

طبس ته د هورم هب په راتګ سره لس ورځې او شپې په دې ښار کې جشنونه جوړ

شوي ول.

نشه عسکرو به له سهاره ترماښامه او بيا له ماښامه تر سهاره په واټونو کې چکرې وهلې او له دې جشن وروسته د مصر يو شمېر ښځو له تورپوستو سره ودونه هم وکړل

کله چې هورم هب د مصر له جنوبه راستون شو خپل زوی رامسس به يې تل په غېږ کې و او په ويار سره به يې خلکو ته وربنود، ويل به يې: وګورئ دغه هلک زما له ذاته دی، خو د فرعونيانو او خدايانو وينه يې په رګونو کې ده.

له دې سره سره چې کله زه وزېږېدم د پښو په ګوتو کې مې خوشايي نښتي ول او س زما زوی يو حقيقي فرعون کېدای شي.

کله چې هورم هب طبس ته راستون شو، لار چې آمي وګوري، خو لکه چې ومې ويل، آمي د لېونو په شان شوی و.

له ما خخه وډار شو، دروازه يې په ځان پسې بنده کړه او د دروازې له شا يې وويل، زه له تا ډارېږم، ځکه چې ته راغلی يې ما ووژنې.

هورم هب له دې خبرې سره وخندل، په يوې لغتې يې دروازه ماته کړه او ويې ويل، آمي ما اورېدلي ول، چې ته لېونی شوی يې، خو تر دې مهاله مې باور نه کېده.

اوس چې ګورم ستا د لېونتوب په اړه شوې خبرې سمې دي، ځکه که ته لېونی نه وې، نو پوه شوی به وې چې ستا له مرګه ، ماته ستا ژوند ګټور دی.

که زه پوه شم چې ته مرې چمتو يم چې له کوشه راوړې نيمايي شتمني به په معبدونو کې قرباني کړم، چې ته ژوندی پاتې شې، ځکه چې يو بل جنګ په مخکې لرو چې په دې جګړه کې به د مصر ملت له بلې بدبختۍ سره مخامخ شي.

نو ته بايد ژوندی پاتې شې، ځکه چې مصريان خپلې ټولې بدبختۍ ستا له لوري وګڼي.

هورم هب د خپلې مېرمنې باکتامون لپاره ګران بيه ډالۍ راوړې.

په دغو ډاليو کې د سرو زرو ډبرې هم وې او په هغو ټوکريو کې اېښودل شوې وې، چې تورپوستو ښځو اوبدلې وې.

دغه راز يې هغې ته د زمري پوستکي چې هورم هب په کوش کې ښکار کړي ول، د شتر مرغ بڼکې او ژوندۍ بيزوګانې هم راوړې وې.

خو شهزادګۍ هېڅ يوه ډالۍ ونه منله او ويې ويل، هورم هبه ! خلک فکر کوي چې زه

ستا مېرمن یم او ما ستا لپاره یو ماشوم راوړ، نو همدا ستا لپاره کفایت کوي او ته له دې وروسته باید له ماسره تفریح ونه کړې.

که وغواړې چې په معبد کې د هغې شپې په شان په زور له ماسره ساعت تېري وکړې، زه به له تا داسې غچ واخلم چې د هرمونو له جوړېدا راهیسې به هېڅ یوې مېرمنې له خپل خاونده نه وي اخیستی.

ددې لپاره چې تا وشرموم له مر ییانو، پنډیانو او پادوانانو سره به د طبس ښار په منځ کې او یا د نیل سیند پر غاړه تفریح وکړم، ځکه چې زه له تا څخه کرکه کووم او کله چې تا وګورم کانګې راځي.

دغه مقاومت له شهزادګۍ سره د تفریح کولو لپاره د هورم هب هېجان نور هم زیات کړ.

کله چې یې زه ولیدم، نو له باکتامون څخه یې شکایت وکړ او ویې ویل، زه غواړم له دې ښځې سره څملم خو هغه اجازه نه راکوي.

ومې ویل، غوره داده چې له نورو ښځو سره ساعت تېر کړې، خو پر هورم هب باندې باکتامون داسې ګرانه وه چې نورې ښځې یې په نظر نه ورتلې.

په دې وخت کې یې له ما وغوښتل، داسې درمل ور کړم، چې باکتامون ته یې ورکړي، چې پر هغې ګران شي.

ما وویل، دغسې درمل نشته.

ویې ویل داسې درمل راکړه، چې هغه ویده کړي او زه وکړای شم په خوب کې له هغې سره خپل ساعت تېر کړم.

ما وویل د خوب درمل د ښځو له طبیعت سره اړخ نه لګوي او په دې ډول هورم هب چې ویې نه کړای شول له ما څخه د خوب درمل ترلاسه کړي.

وروسته یې له یوه بل ډاکټر څخه دغه درمل ترلاسه کړل او د باکتامون له خبرتیا پرته یې هغه پرې وخوړل.

شهزادګۍ ویده شوه او بیا هورم هب ورسره تفریح وکړه، خو کله، چې شهزادګۍ راویښه شوه نو له هورم هبه یې کرکه او کینه نوره هم زیاته شوه.

هورم هب چې غوښتل یې له خپلو عسکرو سره سوریې ته لاړ شي چې هاتي له سوریې څخه بېځي وباسي، هغه هېواد ته له روانېدا مخکې شهزادګۍ ته ورغی چې خدای پاماني ورسره وکړي.

شهزادګۍ ورته وویل هورم هبه، در په زړه کړه، چې ما څه درته ویلي ول او که د راستنېدا په وخت کې پوه شوې چې ما رسوا او دوس کړی یې نو د اعتراض حق نه لرې هورم هب وخندل او لاړ.

کله چې هغه سوریې ته لاړ شهزادګۍ بیا متوجه شوه، چې امیندواره شوې ده، دامیندوارۍ په وخت کې یوې کوټې ننوته او بیا را و نه وته شهزادګۍ ته به یې له یوې دریخې څخه خواړه ورکول.

کله چې دلنګون وخت راغی هغه تر ټارني لاندې وساتل شوه، چې خپل زوی ونه وژني.

خو باکتامون ماشوم مړ نه کړ او نوم یې ست هوس کېښود.(د ست بچی) (په پخوانی *مصر کې د نن ورځې د ابلیس په شان یوشی موجود و، چې ست نومېده، همغه ډول چې شیطان له خدای سره مخالفت کوي، ست هم د مصر له خدایانو سره مخالفت کاوه. ژباړن)*

له دې وروسته چې باکتامون د لنګون له پړکالۍ ښه شوه، ځان یې سینګار کړ، د کتان جامې یې واغوستلې، له زریني ماڼۍ څخه راووته او د طبس د کب پلورونکو د بازار پر لور روانه شوه.

هتله یې کب پلورونکو او هغو خرکارانو ته چې په خرو یې کبان راوړي و، وویل زه شهزادګۍ باکتامون او د مصر د پوځ د قوماندان او ستر سوبمن هورم هب مېرمن یم.

تر اوسه مې د هغه لپاره دوه زامن زېږولي دي، خو پر دغه سړي ګرانه نه یم او له ما سره تفریح نه کوي، ځکه خو نن د کب پلورنکو بازار ته راغلې یم، چې تاسې ته ووایم د نیل د ساحل ګټو ونو ته راشئ او له ما سره تفریح وکړئ.

داځکه چې زه ستاسې له خشونت او بې تربیتۍ څخه خوند اخلم او ستاسې د کبانو بوی ما لیونۍ کوي.

کله چې خرکارانو او کب پلورونکو دغه خبرې واورېدې، ووېرېدل او له هغې څخه وتښتېدل.

خو باکتامون د کب پلورونکو د بازار په منځ کې د کتان جامې خلاصې کړې او خپل اندام یې نارینه وو ته وروښود، ویې ویل، تاسې نه ګورئ چې زه څومره ښکلې یم؟

چېرته زما په شان ښکلې مېرمن پیدا کولای شئ؟ راشئ او د نیل سیند تر څنګ تر ګټو ونو لاندې له ما سره تفریح وکړئ.

زه له یوې ډېرې پرته بل شی نه غواړم، خو که له ما سره مو له تفریح خوند واخیست،

بايد يو لويه ډبره راته راوړئ.

د مصر په تاريخ کې چا نه ليدلي او نه اورېدلي ول، چې د غسې ښېښه دې شوې وي نارينه په سر کې له باکتامون څخه وتښتېدل، خو کله چې يې د هغې ښکلى اندام وليد او د هغه د بدن عطر يې تر سپږمو شول، ويې ويل دغه شهزادګۍ د سخمت الهه ده.

نو کله چې يوه الهه د نارينه وو، منځته راځي او هغوى ته وايي، چې له ما سره تفريح وکړئ، ددې حکم له اجرا سر غړونه ناشونې ده، ګني د خدايانو له قهر سره به مخامخ شو.

ځکه چې بشر همداسې پنځول شوى دى، چې د خپلو غريزو د ارضا لپاره د منلو وړ دلايل راوړي، شهوت، کينه او حرص د خدايانو په نوم او يا د هېواد او د ملت د لوړو ګټو په نوم اراموي.

ځينو نارينه وو به ويل، که د جنګ د الهې امر و نه منو، نو د خداى له قهر سره به مخامخ شو.

بله دا چې هغه ډالۍ چې دغه شهزادګۍ يې له موږ غواړي، تر ټولو ارزانه ډالۍ ده او تر اوسه پورې په مصر کې کومې ښځې ځان دومره ارزانه نه دى خرڅ کړى.

کله چې موږ يوه عمومي کور (فاحشه خانې) ته ورځو او غواړو چې له يوې تورپوستې مېرمنې سره تفريح وکړو، لږ تر لږ بايد د مسو يوه کړۍ ورکړو، خو دغه شهزادګۍ چې د خدايانو له توکمه ګڼل کېږي، وايي چې زما لپاره يوه ډبره راوړئ.

له دې کبله چې ډبره يوازې په ودانيو کې کارول کېږي او نور هېڅ مصرف نه لري، نو داسې ښکاري چې هغه د ځان يا د يوه خداى لپاره معبد جوړوي.

شهزادګۍ د کبانو د بازار ځينې نارينه له ځان سره د نيل ساحل ته بوتلل او پر دې ورځ يې تر ماښامه له هغوى سره تفريح وکړه.

هر نارينه چې له باکتامون سره ساعت تېراوه، د هغې لپاره يې يوه ستره ډبره راوړله او په خوشالۍ به يې نورو ته ويل شک نشته چې باکتامون يوه الهه ده، ځکه چې يوازې د يوې الهې شونډې د باکتامون د شونډو په شان خوږې وي.

ماښام چې کله باکتامون غوښتل زرېنې ماڼۍ ته لاړه شي، يو بېړۍ يې کرايه کړه، چې ترلاسه کړې ډبرې د دغې بېړۍ په وسيله يوه ځاى ته ولېږدوي.

د کبانو د بازار نارينه وو، به د هغې پر وړاندې سجده وکړه، روان به شول او ويل به يې، اې د جنګ الهې سبا هم راشه او له موږ سره تفريح وکړه، موږ به سبا ستا لپاره نورې

ډبرې هم راوړو.

خو پر بله ورځ شهزادګۍ سبزي منډیي ته لاړه دا بازار هم د کبانو د بازار په شان د نیل پر غاړه پروت و.

کلیوالو به خپل کرنیز محصولات په خرو او غوایانو دغه بازار ته وړل او شهزادګۍ هغوی ته په خطاب کې وویل: زه باکتامون د مصر د پوځ د قوماندان او د ستر فاتح هورم هب میرمن یم چې د هغه لپاره مې دوه زامن زیږولي دي.

خو هورم هب داسې سړی دی چې زه پرې ګرانه نه یم او له ماسره تفریح نه کوي، ان زما د او سپدو لپاره یې یو کور هم نه دی جوړ کړی.

له همدې امله زه نن تاسې ته راغلم او له تاسو غواړم چې له ماسره د نیل د څنډې تر ونو لاندې تفریح وکړئ.

تاسې ته ډاډ درکووم چې هیڅ یوه ښځه به زما په شان خوندوره نه وي او یوازېنی شی چې له تاسې یې غواړم یو ډبره ده.

کلیوال هم د کب پلورونکو په شان په سر کې وډار شول، خو شهزادګۍ خپلې جامې لرې کړې او خپل اندام یې وروښود.

د کتان جامو لمن یې وښوروله، چې باد د هغې د بدن عطر په فضا کې خپاره کړي او د کلیوالو سپږمو ته یې ورسوي.

کلیوالو وویل، باید دغه فرصت له لاسه ورنه کړو، ځکه چې په ټول عمر کې یو ځل ممکنه ده، یوه شهزادګۍ موافقه وکړي، چې له یوه کلیوال او بېوزلي سره تفریح وکړي.

موږ تر اوسه پورې داسې ښځه نه ده لیدلې چې له جامو یې داسې خوږ وږم احساسېږي، زموږ د ښځو له اندامونو څخه خو د خوشبو بوی یو نه لتېږي.

له دې وروسته یو شمېر کلیوالو له شهزادګۍ سره د نیل په ساحل کې تفریح کوله، نورو خپل خره خوشي کړي و، تللي ول چې ډبرې را ټولې کړي او مابښام شهزادګۍ له ډبرو په ډکه بېړۍ کې ماڼۍ ته ستنه شوه.

پر درېیمه ورځ شهزادګۍ د سکرو بازار ته لاړه او هغه څه یې تکرار کړل چې دوه ور ځې مخکې یې تر سره کړي ول.

سکرو پلورونکو په سر کې دا تصور هم نه کاوه، چې یوه شهزادګۍ دې له دوی سره تفریح وکړي او د سکرو په دوړو دې ځان تور کړي.

شهزادګۍ دومره سکاره پلورونکي د نیل څنډې ته بوتلل، چې د نیل ساحل تک تور ښکارېده او که دې د لمر لوېدو پر وخت چا د نیل د څنډې واښه لیدلي وای، نو فکر یې کاوه چې د اوبو یو ډله اسونه پر دې ځای تېرشوي دي او واښه یې تر پښو لاندې کړي دي.

پر دې ورځ د شراب پلورونکو او کاهنانو اعتراض پورته شو، ځکه چې سکرو پلورونکو ډېرې نه درلودې چې شهزادګۍ ته یې ورکړي، نو د میخانو او معبدونو پر وراندې ډبرې یې ټولې کړې او شهزادګۍ ته یې راوړلې.

د لمر لوېدو په وخت کې شهزادګۍ بیا له ډبرو په ډکه بله بېړۍ کې ماڼۍ ته ستنه شوه او هغه ځای ته یې ولېږدولې چې ورته ټاکلی یې و.

له دې کبله چې له دریو ورځو راهیسې شهزادګۍ باکتامون خپل ځان ټولو ته بربنډ کړی و، نو پر دې شپه په طبس کې له دې خبرې پرته بل بحث نه و.

هغو کسانو چې په خدایانو یې عقیده نه درلوده، د شهزادګۍ د دې عمل په هکله یې بله توضیح ورکوله او هر سړي په طبس کې هیله کوله چې له شهزادګۍ باکتامون سره ساعت تېر کړي.

په بله ورځ زیات شمېر نارینه، ان هغه کسان چې څو مېرمنې یې درلودې له شهزادګۍ سره د ساعت تېری لپاره، ډبرې په لاس په هغو بازارونو کې ګرځېدل، چې په تېرو دریو ورځو کې باکتامون پکې لیدل شوې وه او د هغې په تمه کېناستل.

هغو کسانو چې سره او سپین یې درلودل، ډبرې یې وپیرودلې او هغو چې سره و سپین نه درلودل له معبدونو او عمومي ځایونو یې ډبرې غلا کړې، په داسې ډول چې کاهنان مجبور شول له ګزمې وغواړي چې د معبد شا و خوا پیره وکړي چې غله ونه شي کړای د معبدونو ډبرې غلا کړي.

خو په هغه ورځ شهزادګۍ باکتامون بازارونو ته نه لاړه او ځان یې خلکو ته ونه ښود، بلکې په زرینه ماڼۍ کې یې استراحت وکړ، چې د تېرو دریو ورځو ستومانې ختمه کړي.

بیا غرمه مهال د ډبرو کتلو ته ورغله چې د نیل په څنډه کې یې ایښې وې.

وروسته یې د دربار د غوجلو معمار راوغوښت او ورته ویې ویل:

دغه ډبرې چې ګورې، ما راټولې کړې او ټولې زما لپاره ډېر ارزښت لري، ځکه چې هره ډبره ما ته یوه خاطره راپرزړه کوي.

هر څومره چې ډبره لویه وي، دغه خاطره هومره قوي وي او اوس له تا غواړم چې له

دغو ډبرو څخه زما لپاره يو کور جوړ کړه، چې زه کور ولرم او هلته ژوند وکړای شم، ځکه چې زما مېړه هورم هب له ما کرکه کوي، ما پرېږدي، کله کوش او کله هم سوريې ته ځي.

هغه کور ته چې ته يې ماته جوړوې، بايد ډېر ښکلی او لوی وي او د مسالو له درکه اندېښنه مه کوه، ځکه چې زه بيا هم ځم او دغه ډول ډبرې راوړم چې ته به د ډبرو له پلوه هېڅ ستونزه ونه لرې.

د سلطنتي غوجلو د جوړولو معمار ډېر ساده سړی و، کله چې يې د شهزادګۍ وړاندېز واورېد ويې ويل، شهزادګۍ ما ټول عمر ساده ودانۍ او غوجلې جوړې کړې دي او ماني نه شم جوړولی.

ته چې نيت لرې يو ښکلی قصر جوړ کړې، بايد ستر معماران او هنرمندان راوبولې، چې ستا کور زما د کم عقلۍ له امله بې کاره نه شي.

شهزادګۍ د معمار پر اوږه لاس کېښود او ويې ويل اې د سلطنتي غوجلو جوړونکيه! زه يوه بېوزله مېرمن يم او ته پوهېږې، زما مېړه هم له ما کرکه کوي، نو دومره شته نه لرم چې ستر معماران او هنرمندان وګمارم.

زه هغوی ته فلزات نه شم ورکولای او ان ستا د زيارونو پر وړاندې تا ته داسې ډالۍ نه شم درکولای، چې ستا زحمتونه جبران کړي، خو کله چې د دغه کور کار خلاص شو، زه او ته به دې کور ته ننوځو او له تا سره به تفريح وکړم.

معمار په دې خبره خوشحال شو، ځکه کتل يې چې شهزادګۍ باکتامون د مصر تر ټولو ښکلې مېرمن ده او اورېدلي يې هم و، چې هغې په ورستيو ورځو کې په طبس کې له يو شمېر نارينه وو سره تفريح کړې ده.

که هورم هب په طبس کې وای ښايي معمار تر ډېر ډار شوی وای او په دې هيله به يې شهزادګۍ ته کور نه جوړاوه، چې ورسره تفريح وکړي، خو له دې کبله چې د مصر د پوځ قوماندان په مصر کې نه و، نو معمار فکر کاوه چې ځان بايد له يوې سترې نيکمرغۍ څخه محروم نه کړي.

د سلطنتي غوجلو معمار په مينه او لېوالتيا سره کار کاوه او له باکتامون سره د څملاستو مينې هغه دې ته اړ کاوه، چې ډېرې خولې توېې کړي. شهزادګۍ باکتامون به د نورو ډبرو د ترلاسه کولو لپاره هره ورځ له مانۍ څخه وتله او نه يوازې په واټونو کې، بلکې په معبدونو کې يې هم خلکو ته ويل چې د هغې لپاره ډبرې راوړي.

يوه ورځ کاهنانو د ګزمې په مرسته هغه په يوه معبد کې ونيوله، خو باکتامون په غرور

سر پورته کړ او ویې ویل، ایا پوهېږئ، چې د چا پر وړاندې ولاړ یاست؟

زه باکتامون د لوی فرعون لور یم او په رګونو کې مې د فرعونیانو او خدایانو وینه بهېږي.

په مصر کې داسې قاضي نشته چې ما محاکمه کړای شي، بلکې دا زه یم چې قاضیان محاکمه کووم.

له دې سره سره چې تاسې ما ته سپکاوی کړی دی، خو زه به سزا درنه کړم. بلکې ډېر مې زړه غواړي، چې له تاسې سره تفریح وکړم، ځکه کاهنان ښه خواړه خوري او تکړه کسان وي. کاهنان او د ګزمې کسان هېڅکله وږي نه پاتې کېږي، خو که تاسې هم غواړئ، چې له ما سره تفریح وکړئ، باید هر یو، یوه ډبره راته راوړئ.

لاړ شئ او د معبد دېوالونه او د قاضي کور وران کړئ، ځکه چې په دغو ودانیو کې تر نورو ځایونو ډېرې ډبرې کارول شوې دي.

د ګزمې کسان چې دنده یې د نورو کورنو ساتنه وه، چې څوک یې ډبرې پټې نه کړي، اوس یې پخپله د معبدونو او د قاضي د کور پر دېوالونو حمله وکړه، ډبرې یې وکیندلې او مېرمن باکتامون ته یې وروړې.

هغې به خپلې ژمنې پوره کولې او هر یو به ورسره خپل ساعت تېراوه.

له هغه وروسته د ډبرو د ترلاسه کولو لپاره عمومي ځایونو ته لاړه او په فاحشه خانو کې یې ځان د هغه ځای په نارینه وو خرخ کړ.

له هغو یې وغوښتل چې ډبرې ورووړي او هر ځل به یې ځان په بشپړ ډول معرفي کاوه چې خلک یې وپېژني چې دا شهزادګۍ باکتامون، د مصر د لښکرو د قوماندان هورم هب مېرمن ده.

خو دا خبره هم باید وکړم، کومه ورځ چې به شهزادګۍ دباندې نه تله د خپل شخصیت او مقام فکر به یې ډېر کاوه او داسې کار به یې نه کاوه، چې شخصیت ته یې تاوان ورسېږي.

دغه راز کله به چې له زریني ماڼۍ د خپلو ځینو کارونو لپاره په روان تخت کې دباندې تله، دومره پرتم او وقار یې درلود چې چا دا جرئت نه شو کولای چې له هغې وغواړي تفریح ورسره وکړي.

ځکه چې د شتمنو کسانو او لویو شخصیتونو مېرمنې مجبوره نه دي، د شتمنۍ د ګټلو لپاره ځان خرخ کړي، نو کله چې وغواړي په ارزانه بیه د ځان له خرڅولو ډډه کولای شي.

دغه راز کله چې خلک ګوري یوه شهزادګۍ ځان په ارزانه بیه خرڅوي، نو هغه نه

سپکوي، ځکه فکر کوي چې يوه اصيله او شتمنه مېرمن حتماً په يوه داسې دليل چې دوی پرې نه پوهېږي ځان ارزانه خرڅوي.
دوی فکر کوي دا له هغو ښځو سره تو پير لري، چې د يوې نمړۍ ډوډۍ لپاره ځانونه خرڅوي او له هر سړي سره ځملي.
په داسې حال کې چې ددې عمل ځرنګوالى او کيفيت يو شان دی، په دواړو حالتونو کې ښځې ځان ارزانه خرڅ کړی دی، که هغه د يوې نمړۍ ډوډۍ لپاره وي، يا د هوس او يا د هورم هب په شان له يوه مېړه ځخه د غچ اخيستو لپاره.
تر هغه چې دا نړۍ وي، داسې ښځې به وي، چې ځانونه ارزانه خرڅوي، خو يوه د يوې نمړۍ ډوډۍ لپاره ځان خرڅوي، بله د يوې کړۍ مسو او سرو و سپينو لپاره، بله د کور او مرييانو د ترلاسه کولو لپاره، خو څلورمه بيا يوازې د هوس لپاره ځان ارزانه خرڅوي.
يوازې ددې لپاره چې له يو چا سره يې خپل ساعت تېر کړی وي.
په دغو ښځو کې هغه ډېره سپکېږي چې تر ټولو ښوزله وي
خلک د هغو مېرمنو لپاره چې شتمنې دي پلمې پيدا کوي او هغه چې شهزادګۍ ده، هر څو مره چې ځان ارزانه خرڅ کړي بيا يې هم خلک نه سپکوي.
په زرينه مانۍ کې ټول پوهېدل چې شهزادګۍ باکتامون د خپل کور ډېرې له کوم ځايه راوړې دي
کله چې به د زرينې مانۍ ښځې د باکتامون د کور ليدو ته راتلې، هغه ډېرې به يې شمېرلې چې ددې د کور په جوړلو کې لګېدلې وې.
دوی به حيرانې شوې او ويل به يې ايا دا خبره د منلو ده، چې يوه ښځه ددې ډېرو په اندازه، له خلکو سره ځملاستلې وي
خو هېڅ يوې ښځې دا جرئت نه شو کولای چې دا خبره په خپله باکتامون ته وکړي.
ان د مصر فرعون آمي چې کله له دې مسلې خبر شو، ددې پر ځای چې غوسه شي، خوشحال شو، ځکه چې له هورم هب سره يې دښمني درلوده.
دی پوهېده چې کله دغه سړی په بريالیتوب سره له سوريې راستون شي او هاتي ته ماتې ورکړي، نو آمي به نور د مصر فرعون نه وي.
له همدې امله يې خوشحالي کوله چې باکتامون په دې ډول هورم هب په خلکو کې سپک او نوم بدی کړ.
که دغه سړی له سوريې ځخه په راستنيدا پسې وغواړي، چې آمي له پاچاهۍ لرې کړي، داسې به يې سپک او مشهور کړي چې حيران به پاتې شي.

خو هورم هب په سوريه کې په جنګ بوخت و او په دې بريالی شو چې د سيدون، ازمير، او بيبلوس ښارونه له هاتي څخه ونيسي.

ددې هېواد ډېر غنيمتونه يې مصر ته راواستول او دغه راز د خپلې مېرمنې لپاره يې ښکلې ډالۍ را واستولې.

په طبس کې ټول پوهېدل چې په زرينه ماڼۍ کې څه تېرېږي، خو دغه خبرې يې هورم هب ته نه رسولې.

ان هغه خلک، چې هورم هب ګمارلي ول، چې په طبس کې د هغه ګټې خوندي کړي، هغوی هم هورم هب نه خبراوه او ويل به يې باکتامون چې کوم کار کوي دا د مېړه او ښځې د جنګ يوه برخه ده.

که موږ د ژرندې د پلونو ترمنځ لاس کېږدو تاوان به مو کړی وي، نو غوره ده چې د مېړه او ښځې په دې جنګ کې غلي پاتې شو.

په دې ډول هورم هب د شهزادګۍ باکتامون له کارونو بې خبره پاتې شو.

زه تصور کووم چې دغه موضوع د مصر په ګټه وه، ځکه چې که هورم هب له دې مسلې خبرشوی وای، نو په ارامو اعصابو به يې پوځي عمليات نه وای کړي.

ما په دې تاريخ کې په مصر کې د آمي د سلطنت او په طبس کې د شهزادګۍ باکتامون د چلند په هکله ډېرې خبرې وکړې.

د ځان په هکله مې خبرې ونه کړې، علت يې دا و، چې د خپل ژوند په هکله بله د پام وړ خبره نه لرم چې ويې کړم.

نور زما ژوند نه مستېده، زما د ژوند اوبه په کراره روانې وې او د سيند په دوارو لورو کې يې ګردابونه جوړول.

څلور پنځوسم څپرکی

زما تفکرات

ما د طبس ښار په هغه کور کې ژوند کاوه، چې موتي د کاپتا په رالېږلو فلزاتو بيرته رغولی و او نه مې غوښتل نور له دې ځايه لاړ شم.

زما پښو دومره نړۍ کچ کړې وه، چې نور يې د ستومانۍ احساس کاوه او سترګو مې دومر پليتۍ او بدۍ ليدلې وې، چې نور يې دغو منظرو دليدلو وس نه درلود.

زما زړه د وګړيو له ځانغوښتنې او حرصه دومره موړ شوی و، چې نور يې نه غوښتل د هغوی د ځان غوښتنو او کبر شريک شي.

له همدې امله مې له خلکو لرې په دې کور کې ژوند کاوه.

نور مې ناروغان د پيسو لپاره نه معالجه کول او يوازې ځينې وخت به مې خپل ګاونډيان او بېوزلي ناروغان چې فيس يې نه شو ورکولای معالجه کول.

ما په دې کور کې يو حوض جوړ کړ او رنګارنګ کبان مې پکې واچول. هغه ونې چې مخکې وچې شوې وې، بيرته زرغونې شوې، ځکه چې ريښې يې روغې وې.

ترونو لاندې به کېناستم. په اوبو کې به مې د کبانو د حرکت ننداره کوله او د خرو اوازونو او په لوبو دبوختو ماشومانو شور ماشور ته به مې غوږ نيولی و.

موتي زما پالنه ډېره ښه کوله، خوندور خواړه يې راته پخول، خو ما د پخوا په شان له خوړو څخه خوند نه اخيست، بلکې هغه بد کړه وړه به يې راپر زړه کړل چې په تېرو وختونو کې مې کړي ول.

د اخناتون فرعون سترګې چې د مرګ پر وخت يې د زهرو جام له ما واخيست او ويې څښنه راپر زړه کېدې.

د هاتي د ځوان شهزاده شوباتو سترګې به مې ليدلې، چې زما له لاسونو يې زهر واخيستل او ويې څښل.

زما په سترګو کې دومره ناوړه خاطرې انځور شوې، چې نور مې د بېوزلو او ګاونډیانو له معالجې څخه هم لاس واخیست، ځکه چې پوهېدم زما لاسونه سپېره دي او ددې پر ځای چې شفا ورکړي، د مرګ سبب کېږي.

د حوض تر څنګ په کېناستو او د کبانو په لیدو سره به مې هیله کوله، چې کاشکې د هغوی په شان په اوبو کې وای او مجبور نه وای چې د ځمکې پر سر له جنایتونو ککړه هوا تنفس کړم.

کله به مې خپل روح ته په خطاب کې ویل: ولې د هغو اعمالو له امله خواشینی یې، چې په تېر وخت کې دې کړي دي؟ ته هېڅ ګناه نه لرې، ځکه چې ستا اعمال ددې نړۍ او ژوند یوه برخه ده او په دې نړۍ کې رحم او ښېګڼه هېڅ مانا نه لري.

دلته رحم او ښېګڼه له واقعیته لرې شیان دي.

هغه څه چې ریښتوني دي حرص، شهوت، ظلم او بې رحمي ده او د ژوند قانون د ظلم، حرص او بې رحمۍ پر اساس اېښودل شوی دی.

اوس نامکنه ده، چې څوک ددې قانون پر خلاف عمل وکړي او هغه کسان چې ځانونه مهربان او بشردوسته کسان بولي، درواغ وایي. د دوی هدف دا دی چې په دې پلمه خلک وغولوي، چې ښه ظلم وکړای شي، خپله حرص او تمه سړه کړي او شهرت ومومي.

که باور نه کوئ د هغوی زړونه وخیرئ او وګورئ چې د هغوی په زړونو کې د غوسې، حرص او شهوت څومره اورونه پټ دي.

که نه غواړئ د هغوی زړونه پرانیزئ، نو داسې کار وکړئ چې د هغوی له ګټو او شهرت سره لرې په ټکر کې وي، بیا به پوه شئ چې تاسو څنګه له منځه وړي.

ځکه چې تاسو جرائت کړی چې د هغوی د حرص او شهرت په لاره کې خنډ رامنځته کړئ.

سینوهه! ته داسې تمه کوې چې انسان دې تر هغه ډېر ښه وي، چې خدایانو رامنځته کړی دی.

خدایانو بشر د غوسې، کینې، رخې او شهرت پرستۍ لپاره پنځولی دی او نامکنه ده چې بشري فطرت بدل شي.

سینوهه! ته بې ځایه دا تمه کوې چې د وخت په تېرېدا سره به بشر ښه شي، که د بشر له عمره څو ځله، لسګونه ځله.. لسګونه ځله تېر شي بیا به هم دغه بشر اصلاح نه شي.

ته بې ځایه تمه کوې چې جنګ، لوږه، طاعون، اورونه، او عام وژنې به د بشر لپاره یوه تجربه شي چې هغه اصلاح کړي.

دغه تجربې یو شان او هر ځل نوي زهر دي، چې پر پخوانیو زهرو بر سېره یې په جام کې واچوي.

ددې پر ځای چې د پخوانیو زهرو اغېز کم کړي، هغه نور هم قوي کوي او د وژنې اغېز یې نور هم زیاتوي.

جنګ، وژنو، طاعون، لوتماریو او ډلوژنو هم بشریت حریص، شهوت پرست او له دښمنیو ډک کړی دی.

سینوهه! ته هم یو انسان یې که څه هم د خدایانو وینه ستا په رګونو کې بهېږي، خو د انسان په څېره کې یې او وینه، پوست، هډوکي او رګونه لرې، نو په دې بنه کې ته دا تمه مه کوه، چې په غوسه، شهوت او تمه کې به له چا سره شریک نه وې.

دا تمه مه کوه چې چېرته به یو نیک انسان پیدا کړې، ځکه ممکنه نه ده هغه څوک دې یو بنه انسان و اوسي، چې خدایانو یې ختمه له غوسې، حرص، دښمنیو او شهوت سره اخښلې ده.

کله چې انسان مري او د هغه مړی د مومیایي کولو لپاره دارالممات ته وړي هغه ښه کېږي.

له همدې امله یو انسان تر هغه نه شي ښکمرغه کېدای، تر کومه چې مړ نه شي، ځکه چې یوازې د مرګ په وسیله له غوسې، کینې، شهوت او حرصه ژغورل کېږي.

سینوهه! په دې حقیقت پوه شه، چې علم بشریت نه شي اصلاح کولای، بلکې هغه نور هم حریص، بې رحمه او شهوتي کوي.

هغه کسان چې پوه او عالمان دي، تر نورو خلکو، لس ځله.... لس ځله... لس ځله ډېر حریصان دي، له همدې امله تر ناپوهو کسانو ډېره کینه او شهوت لري.

سینوهه! که ته پوه او ډاکټر نه وای، پخپل عمر کې دې دومره جنایتونه او غمیزې نه رامنځته کولې... زرګونه کسان ستا د پوهې له امله له لوږې او ناروغیو څخه مړه شول، یا د وسلو په وسیله ووژل شول، یا یې د جنګي ګاډیو تر ارابو لاندې ساه ورکړه او یا د بیدیا په بېلابېلو ځایونو کې له ډېرې ستومانۍ څخه ختم شول.

اې جنایتکاره! که ته پوه نه وای، ماشومان به د مېندو په خېټه کې نه مړه کېدل او د

مرییانو پر ملاوو به د کوتکو گوزارونه نه کېدل. خونړیو سرتېرو به پر زرگونو ښځو تېری نه کاوه او زرگونه نارینه به نه مرییان کېدل.

ظلم به پر عدالت، چل او دوکه به پر رښتونولی. نه برلاسي کېدل او نن سبا به غلو په نړۍ حکومت نه کاوه.

دا ته وې چې په زهرو سره دې اخناتون فرعون مړ کړ، هغه فرعون دې له منځه یووړ، چې د عدالت او برابرۍ غوښتونکی و او نړۍ دې د وینې زېښوونکو، شهوتیانو او غلو لپاره ازاده پرېښوده.

زرگونه کسان، چې د پوستکي رنگ یې ستا د پوستکي له رنگ سره توپیر درلود ستا د پوهې له امله مړه شول او زرگونه کسان چې ستا په ژبه یې خبرې نه شوې کولای بې گناه ووژل شول او د مرگ مسوولیت یې ستا پر غاړه دی.

یوازې ته مسوول یې، له همدې امله د هغوی ساندې، زگېروي او نارې سورې ددې مخه نیسي، چې ته د شپې مهال ویده نه شې، خواږه دې په مرۍ کې ونښلي او بې خونده شي.

یوه ورځ چې له خپل روح او زړه سره مې همدا خبرې کولې، زړه او روح مې راته وویل، سینوهه! ستا جنایتونه د ښښولو نه دي، موږ به دې تر هغه په کرار پرې نه ږدو چې ژوندی یې.

زموږ له لاسه به یوه شپه هم ارام خوب ونه کړې، ځکه چې پوه او عالم یې او پوهېږې چې څه کوې، نو ستا مسوولیت ډېر درونددی او ښښل کېدای نه شي.

بیا مې خپلې جامې څیرې کړې او نارې مې کړې لعنت دې زما پر دې پوهه شي.

په هغه ورځ دې لعنت وي چې موږ وزېږولم، لعنت دې وي پر دغو لاسونو چې ما پرې جنایتونه کړي دي او لعنت دې وي پر هغو سترگو چې دغه جنایتونه یې تول وکتل.

د(اوزیریس)تله راوړئ، چې زما جنایتکار زړه په هغې کې وتلي او ووایي: چې زما د زړه له تللو وروسته دې څلو ښت بیزوگانې زما په هکله فیصله وکړي، ځکه یوازې هغوی کولی شي ووایي چې ما جنایتونه کړي دي کنه؟(*اوزیریس د پخواني مصر یو خدای و او په ترازو سره یې د انسانانو زړونه تلل، چې یوه شي څومره وزن لري. یانې څومره ثواب او گناه لري او بیا به څلو ښتو بیزوگانو د دغه سري په هکله چې زړه یې را ایستل شوی و فیصله کوله. د ثواب او گناه د تللو عقیدې هم له پخواني مصره ځینو مذهبونو ته لاره وموندله. ژباړن*)

زما د نارو سورو له امله موتي له پخلنځي راووته او زه يې په يوه تخت څملولم، پر سر يې يو لوند ټوکر راواچاو او ترخې خو ارام بښوونکې جوشانده يې راکړې

کله چې ما غوښتل له بستره پورته او انګړ ته لاړ شم زما مخه يې ونیوله او ویل یې، دغه کار مه کوه، ځکه چې لمر دې پر سر ونه لګېږي

زه یوه موده ناروغ وم او په بستره کې مې اوتې بوتې ویلې.

کله به مې د اوزیریس او د هغه د ترازو په هکله خبرې کولې او کله به د مریت او تهوت په هکله غږېدم.

له دې وروسته چې زما ناروغي معالجه شوه، د اوزیریس، تهوت او مریت په هکله مې خبرې ونه کړې، خو هغوی مې هېر هم نه کړل، ځکه چې تهوت زما زوی او مریت يې مور وه.

زه پوهېدم چې هغه دوه کسه له دې امله مړه شول، چې زه یوازې شم. که هغوی ژوندي وای زه به یوازې نه پاتې کېدم او نیکمرغه شوی به وم.

خو خدایانو زه ددې لپاره پیدا کړم چې یوزاې پاتې شم. ځکه پر کومه شپه چې وزېږېدم، زه یې په یوه ټوکرۍ کې کېښودلم او د نیل په اوبو کې یې خوشې کړم.

له دې سره سره چې ما د خپل زوی او د هغه د مور په هکله او دغه راز د هغو کارونو په هکله چې مخکې مې کړي ول، له چا سره خبرې نه کولې، خو هېڅکله مې خپل پخواني کارونه هېر نه کړای شول.

بالاخره یوه ورځ مې د بېوزلو جامې واغوستې، له هغه کوره ووتم او بیرته ورستون نه شوم.

له کوره په وتلو پسې بندر ته لاړم او هلته مې پندېتوب ته ملا وتړله، ډېره ژر مې ملا د درنو بارونو په لېږدولو ژوبله او دردمنه شوه.

کله چې به وږی شوم سبزي منډيي ته به تلم او هغه سبزیانې به مې خوړلې چې خلکو به لرې اچولې.

کله چې پوه شوم نور جوالیتوب کولای نه شم، یوه پښ ته ورغلم چې د اهنګرۍ بادوهونکی ورسره وچلوم، هلته مې کار پیل کړ، تر دې چې د ملا زخمونه مې ښه شول او دردونه یې ختم شول.

مریيانو، بېوزله او کارګرانو ته مې ویل، چې د انسانانو ترمنځ هېڅ توپیر نشته، ځکه چې ټول لوڅ پیدا شوي دي.

د هېڅا په هکله بايد د هغه د پوستکي د رنګ ،ژبې، جامو او ګاڼو پر بنسټ قضاوت ونه کړو ، بلکې د انسان زړه ته وکتل شي او د هغوی د زړونو پر اساس قضاوت وشي، ځکه خو يو ښه سړی تر بد غوره دی او يو هوښيار کس تر ظالم ښه دی.

خو مرييانو او کارګرانو په خندل، ويل به يې سينوهه ! ته لېوني شوی يې، ځکه تر هغه چې انسان لېوني نه وي، د ليک لوست له زده کړې سره سره د مرييانو په شان کار نه کوي

يا دې کوم جنايت کړی، دوی غواړي ودې نيسي او سزا درکړي. خو ته ځان په موږ کې پټوې.

دوی به ويل، يوه بله فرضيه هم شته او هغه ډېره سمه ښکاري.

دغه فرضيه دا ده چې ته د آتون پلوی يې، ځکه داسې خبرې کوې.

ستا خبرې ښيي چې ته د آتون پلوی يې.

په داسې حال کې چې پوهېږې بايد د آتون نوم وانخلې.

موږ تا حکومت ته ور په ګوته کولای شو چې ودې نيسي او د شاقه کارونو لپاره دې کانونو ته بوځي، خو موږ دغه کار نه کوو ، ځکه ستا په خبرو ځان خوشحالوو او ته مو تر ټوکمارانو ډېر خندوې.

خو په دې شرط چې نور ونه وايې، د انسانانو رنګ د هغوی د توپير نښه نه ده، ځکه چې ته په دې خبرې سره موږ ته سپکاوی کوې.

ايا ته وايې چې موږ او تورپوستي سره يو شان يو ؟

داسې نه ده، شک مه کوه چې تور پوستي تر موږ ډېر ټيټ دي او موږ چې مصريان يو ، په دې وياړو چې غنم رنګه يو.

پخوا مو هم وياړ کاوه او په راتلونکې کې به هم وياړو ، ځکه چې پوهېږو په نړۍ کې د مصر تر ملت بل ستر ملت نه او س شته او نه به په راتلونکې کې پيدا شي.

تر هغه چې دا نړۍ وي، څوک به د هرمونو په شان ودانۍ جوړې نه کړای شي، زموږ د مجسمو په شان مجسمې به جوړې نه کړي او نور هېڅوک به زموږ په شان خدايان ونه لري.

زموږ په شان به څوک مړي موميايي نه کړای شي، چې کلونه کلونه د هغوی بدنونه روغ پاتې شي.

تول به مړه شي له منځه به لاړ شي، خو د مصر ملت به تلپاتې وي، ځکه چې موږ داسې شيان رامنځته کړي، چې له منځه نه ځي.

له همدې امله نه غواړو، چې مور له نورو سره پرتله کړې او يو شان مو وګڼي.
ته که غواړې زموږ په منځ کې ژوند وکړې، نو دا خبره ومنه، چې د مصر ملت د نړۍ تر ټولو لوړ او غوره ملت دی.
ما به هغوی ته ویل، ستاسې بدبختي له همدې امله ده، چې يو ملت تر بل لوړ او غوره او يوه پرګنه تر بلې ښه او لوړه ګڼئ.
تر هغه وخته چې يو ملت او يا تن تر نورو ځان لوړ ګڼي، د کمزورو کسانو او بېوزلو د لاسونو او پښو د تړلو لپاره ځنځير او د مريیانو او کارګرانو پر ملاوو د ګوزار لپاره کوتک به له منځه لاړ نه شي.
يوه ورځ يو کس وايي، زه د خدايانو زوی يم، نو تر نورو غوره يم او بله ورځ بل تن وايي چې مور سره و سپين لرو، نو تر نورو غوره او ښه يو.
يوه ورځ داسې ډله پيدا شي چې وايي مور د مصر په لوړ ښوونځي دارالحيات کې زده کړې کړې دي او پوهان يو، نو تر نورو ښه او برلاسي يو.
خو د دغو ټولو کسانو چې په بېلابېلو نومونو ځان تر نورو لوړ ګڼي، هدف دا دی چې نور پر سر، سر ووهي او ملاوې يې په کوتکونو ور زخمي کړي.
هغوی د څارويو په شان اړ کړي، چې د دوی لپاره کار وکړي او د يوې نمرې ډوډۍ او يا يوه جام شرابو په بدل کې نور خلک ور ته کار ونه وکړي.
تر هغه چې يو کس يا يو ملت وايي چې زه تر نورو غوره يم، عام وژنه به له منځه لاړه نه شي او مردارخواره او تېوسان به د مړيو په غوښو ماړه وي.
د انسانانو په هکله بايد د هغوی د زړونو پر اساس قضاوت وشي او که غواړئ، چې پوه شئ، ولې ټول انسانان سره يو شان دي او يو پر بل غوره نه دي، هغوی د بدبختيو او رنځونو په وخت وازمايئ او د هغوی په هکله قضاوت وکړئ.
بيا به پوه شئ چې ټول انسان يو شان ژګېروي کوي او هغه اوښکې چې د هغوی له سترګو راووځي يو شان او تروې دي، په دې مانا چې د يوه تورپوستي د سترګو اوښکې له يو سپين پوستي سره هېڅ توپير نه لري.
هغو کسانو چې زما خبرې به يې اورېدلې په کرس کرس به يې وخندل او ويل به يې سينوهه! بې له شکه چې ته ليونی شوی يې، ځکه چې يوازې يو لېونی داسې فکر کوي، چې انسان بايد تر نورو ځان لوړ ونه ګڼي.

که یو څوک په هر علت چې وي، ځان تر نورو لوړ او ښه ونه بولي ژوندنه شي کولای، ان تر ټولو بېوزلي او کمزوري کسان هم، په یوه نه یوه علت باندې ځان تر نورو لوړ ګڼي او په دې هیله ژوند کوي.

هغه څوک چې پوزې اوبې، پر دې ویاړي چې تر نورو یې ګوتې ښه کار کوي او یو بل پر دې ویاړي چې متې یې تر نور کلکې دي او توان یې ډېر دی.

چلبازان او دوکه ماران پر دې ویاړي چې تر نورو ځیرک دي.

کله چې قاضي یوه غله ته سزا ورکوي، ویاړي چې عدالت پلی کوي او یو ډاکټر په دې ویاړي چې پوه او تکړه دی.

هغه کسان چې کنجوسان دي په دې ویاړي چې تر نورو ښه بچت کولای شي او هغه چې ډېر اصراف کوي، هغوی هم ویاړي چې تر نورو لوړ او غوره دي.

یوه پاک لمنې مېرمن ځان تر نورو ښځو ښه بولي، خو هغه ښځه چې په کوڅه او بازار کې ځان خرڅوي، په دې ویاړي چې له هرچاسره تفریح کولای شي.

موږ هم چې کارګران او مریان یو، ځان له تا څخه چې لیک لوست هم کولای شې، لوړ ګڼو، ځکه چې باور لرو تر تا ځیرک او هوښیاران یو. نو دغه د لیونیانو فکر له ذهنه لرې کړه چې انسان داسې فکر کولای شي چې تر نورو ځان لوړ ونه ګڼي.

ما ورته وویل، له دې سره سره عدالت تر ظلم ښه دی.

دغو کارګرانو او مریانو یو ځل بیا وخندل او ویې ویل، سینوهه! ته دومره ساده یې چې ته وا په داسې ځای کې دې ژوند کړی، چې هلته انسان نه و موجود.

عدل او ظلم داسې شیان نه دي، چې هغه له یو بله بېل کړو، په نړۍ کې داسې قاضي نشته چې د عدالت او ظلم ترمنځ توپیر وکړای شي، بلکې هغه څه چې په دنیا کې شته قوي او ضعیف خلک دي.

هغه بادار چې تل زموږ له غوښې او شرابو غلا کوي، زموږ مېرمنې او بچیان وږي پرېږدي او تل مو په کوتکو او متر کو وهي، نو که دغسې کس ووژنو پخپل تصور، موږ عدالت کړی دی.

خو سمدستي به موږ ونیسي او قاضي ته مو بیایي، هغه امر کوي چې زموږ دوه غوږونه او پوزه پرې کړي او سر په خیړه مو راځوړند کړي، چې ووژل شو.

همدغه قاضي چې موږ د یوه بې رحمه بادار د وژلو په تور وژني او سزا راکوي، دې ته

نه چمتو کېږي ، چې دغه بادار ته په دې ډول سزا ورکړي چې پر موږ يې ظلم کړی دی. ځکه چې هغه قوي او موږ ضعيفان يو.

ما ورته وويل، قاضي حق لري چې تاسې ته تر ټولو سخته سزا درکړي، ځکه چې قتل تر ټولو پليت او ناوړه کار دی.

هغوی وويل، که دغه خبره هورم هب ستا له خولې واوري، تا به د سختو کارونو لپاره کانونو ته واستوي، ځکه چې د هورم هب له نظره تر دې بل ويا ړمن کار نشته چې انسان وکړای شي په جنګ کې د دښمن عسکر ووژني.

خو که ته غواړې چې بشريت اصلاح کړې ظلم او ستم له منځه يوسې، نو ددې پر ځای چې له موږ سره خبرې وکړې، غوره داده، چې شتمنو ته ورشې او دغه خبرې هغوی او د مصر قاضيانو ته وکړې.

ځکه که موږ بد يو داسې وسيله نه لرو چې ظلم وکړای شو، په داسې حال کې چې هغوی هم بد کسان دي او هم ظلم کوي.

خو په دې پوه شه چې که دغه خبرې د مصر قاضيانو او د فرعون درباريانو ته وکړې، نو تور به در پورې کړي چې ته د آتون پلوی يې، ستا غوږونه او پوزه به در پرې کړي او د سختو کارونو لپاره به دې کانونو ته واستوي.

که څه هم، کارګرانو او مريبانو وېرولی وم، ما دغه سپارښتنه عملي نه کړه او په داسې حال چې د بېوزلو جامې مې اغوستې وې، په طبس کې روان شوم، چې له شتمنو سره خبرې وکړم.

له سوداګرو او تاجرانو څخه مې خپل تبليغ را پيل کړ.

هغه کسان چې په اوړو کې به يې خاورې اچولې او له خاورو ډک اوړه به يې پر خلکو خرڅول، ورته مې وويل دغه کار نور مه کوئ، ځکه چې دا يو جنايت دی.

هغو کسانو چې ژرندې يې درلودې او په ژرندو کې يې انسانان تړلي ول، خولې يې ور بندې کړې وې چې غنم ونه خوري، او ژرندې وګرځوي، هغوی ته مې وويل. بايد له انسان سره د ځناورو په شان چلند ونه کړي.

هغو قاضيانو ته ورغلم چې د يتمانو شتمنۍ به يې لوټلې او يا يې رشوت اخيست او نا حق حکمونه يې کول، ورته مې وويل، له دغو کارونو لاس واخلئ.

ما له ټولو شتمنو کسانو او چارواکو سره اړيکي ټينګ کړل او ټول مې ورټل.

هغوی زما د دغو خبرو په اورېدو حیران شول او زما زړو جامو ته به یې کتل، او رېدل به مې چې پخپلو کې به یې ویل، دغه سینوهه چې بېوزله سړی دی، بې له شکه د فرعون جاسوس دی او فرعون رالېږلی دی، چې زموږ پر حالت ځان پوه کړي، ځکه هغه کسان چې داسې بېوزله دي، د داسې خبرو جرئت نه شي کولای.

خو ډېر ژر د مصر خانان او اشرافان پوه شول، چې زه د فرعون جاسوس نه یم او هغه دنده نه ده راسپارلې، چې دغه ډول خبرې وکړم.

دوی به خپلو مریبانو ته ویل چې، ما ووهي او له خپلو کورنو او ځایونو څخه به یې شړلم.

له دې وروسته چې شتمنو کسانو او سوداګرو زه د طبس په واټونو کې ژوبل او پرهرژلی ولیدم، راته ویل به یې، که یو ځل بیا راشې او موږ تورن کړې، چې له اوړو سره خاورې ګډوو، یا په شرابو کې سرکه اچوو، خرابه غوښه خرڅوو او د خپلو مریبانو خولې ګنډو، نو د درواغو د خپراوي او د امنیت د خرابولو د هڅې په جرم به دې قاضي ته ور وپیژنو او له تا څخه به شکایت وکړو.

کله چې ما ولیدل زما تبلیغ ګټه نه کوي او زه نه شم کولای، چې ظلم له منځه یوسم، په خلکو کې مساوات او عدالت راولم، بېرته کور ته راستون شوم، د حوض په څنګ کې تر ونو لاندې کېناستم او د کبانو په ننداره بوخت شوم.

د خرو غړا او په کوڅه کې د لوبېدونکو ماشومانو شور ماشور ته مې غوږ ونیو. تر هغې ورځې پورې چې کاپتا بیرته له سوریې څخه راستون شو او ما ته راغی همدا حالت روان و.

پر کومه ورځ چې زما پخوانی مریی کور ته راننوت ډېر په پرتم کې و.

ما ولیدل چې پر یو روان تخت ناست دی او دوولس تورپوستي مریان یې لېږدوي.

پر بدن یې عطر وهلي دي، چې د بېوزلو له سیمې د تېرېدا پر وخت یې ناوړه او خراب بو یونه ونه کړوي.

کاپتا ډېر چاغ شوی و او په ړنده سترګه کې یې د سرو زرو او غمیو یوه مصنوعي سترګه اینښې وه.

کله چې کېناست هغه سترګه یې لرې کړه، ځکه چې ځوراوه یې.

زما په لیدو سره په ژړا شو او بیا یې خبرې پیل کړې، ویې ویل، په سوریه کې جنګ پای ته رسېدونکی دی، ځکه چې هورم هب ټولې هغه سیمې او ښارونه نیولي، چې د هاتي

په ولکه کې ول، اوس یوزاې (کادش) ښار پاتې دی، چې هغه یې هم کلابند کړی دی.

بیا یې وویل په سوریه کې د جنګي غنیمتونو د پلور ټیکه له ما سره وه، ما د دغو غنیمتونو له پلورلو ډېره ګټه وکړه او اوس بیرته طبس ته راستون شوی یم.

په دې ښار کې مې یوه ماڼۍ اخیستې ده او اوس ځو مریيان او کارګران زما په ماڼۍ کې د هغې د جوړولو او سینګارولو په کار بوخت دي.

زه به نور په طبس کې میخانه جوړه نه کړم، ځکه چې دومره شتمني لرم چې دې کار ته نوره اړتیا نه وینم.

بیا یې زما په هکله خبرې وکړې او ویې ویل، زما باداره سینوهه! په دې ښار کې مې ستا په هکله ډېرې خطرناکې خبرې واورېدې.

خلکو وویل چې ته دلته بېوزلي مریيان او کارګران د شتمنو پر خلاف راپاروې او پر شتمنو او قاضیانو تهمت لګوې.

زه در ته نصیحت کووم چې احتیاط وکړه، ځکه که همداسې پر مخ لاړ شې، تا به د سختو کارونو لپاره معدن ته واستوي او که یې تر اوسه تا ته لاس نه دی دراچولی د دې لامل دا دی، چې پوهېږي د هورم هب ملګری یې او شتمن، خانان او سوداګر له هورم هبه ډارېږي.

خو اوس دا راته ووایه، چې ولې داسې لېونتوب کوې، ښایي زه وکړای شم، د دې لېونتوب چاره وکړم او هغه له منځه یوسم.

ما خبرې وکړې او ورته مې وویل چې په کومو فکرونو سره مې هڅه وکړه چې خلکو ته تبلیغ وکړم.

کاپتا وویل: سینوهه پخوا، ما ویل چې ته یو ساده او تقریباً لېونی سړی یې، او فکر مې کاوه چې د وخت په تېرېدا او د عمر په زیاتېدا به سم شې، خو اوس ګورم چې عمر دې ډېر دی او لېونتوب دې نور هم زیات شوی دی.

ته پخپله پوهېږې چې آتون څه ډول لوبې وکړې او څومره بدبختۍ یې رامنځته کړې، خلک یې څه ډول له بېوزلۍ، ناروغۍ او کاختۍ سره مخامخ کړل.

زه فکر کووم، دغه فکرونه چې ستا په سر کې ګرځي د وزګارتیا له امله دي او له دې کبله چې ته اوس ناروغان نه معالجه کوې، نو له دغسې خیالاتو سره مخامخ شوی یې.

که د پخوا په شان د ناروغانو معالجه وکړې، پوه به شې چې د یوه ناروغ معالجه به تر

دغو خبرو ډېره خوندوره وي، چې هم ستا لپاره خطرناکې دي او هم نورو خلکو ته ستونزې پیداکوي.

که نه غواړې چې طبابت وکړې، نو د نورو شتمنو کسانو په شان خپل وزګار وخت په نورو کارونو تېرولای شې.

که دې له ښکار سره مینه وای، درته ویلي به مې ول، چې د اوبو د اسونو ښکار ته لاړ شه، خو پوهېږم چې ته ښکاري نه یې.

که دې له پیشوګانو سره علاقه درلودای، تاته مې ویل چې د پیت آمون په شان پیشوګانې وروزه، نن سبا دغه سړی د لوکسو پیشوګانو د روزلو له امله په طبس کې ډېر مشهور دی، خو پوهېږم چې ته د پیشو ګانو له بویه کرکه کوې.

خو له ښکار او د پیشوګانو له روزلو پرته په نورو شیانو هم خپل وخت تېرولی شې.

مثلاً ته لیک لوست کولای شې او ځان په لیک لوست بوختولی شې او یا پخواني کتابونه راغونډولای شې.

یا د هرمونو د وخت د شیانو په راټولولو ځان بوخت ساتلی شې او یا د تورپوستو هغه لوبتکې او وړې مجسمې ټولې کړه، چې د کوش له ټاټوبي یې راوړې دي.

تر ټولو ښه خبره به دا وي چې خپل پاتې عمر په عیاشۍ او ساعت تېرۍ کې تېر کړې او بیا به وګورې چې ستا د عمر یو کال د یوې میاشتې په شان تېرېږي او یوه میاشت عمر به دې د یوې ورځې په شان تېرېږي.

ومې ویل کاپتا ! د دغو ظلمونو او تېریو کتل چې په کمزورو کسانو کېږي، ما نه پرېږدي چې اسوده ژوند وکړم.

کاپتا وویل زما باداره په دې نړۍ کې هېڅ شی بشپړ نه دی او هر څه یوه نیمګړتیا لري.

کله چې له تنوره ډوډۍ راباسې، ګورې چې څنډې یې سوځېدلې دي او کله چې یوه مېوه په منځ نیموې، چې خولې ته یې یوسې، ګورې چې په منځ کې یې چینجی دی.

کله چې شراب د شپې وڅښل شي، د سهار خوا ته سر درد او کسالت پیدا کوي، نو دا تمه مه کوه، چې په دې نړۍ کې دې هر څه سم او پوره وي.

ناممکنه ده چې په نړۍ کې دې عدالت پوره شي.

ښه نیت هم ممکنه ده، چې ناوړه نتیجې ورکړي، موږ ولیدل، چې د اخناتون په وخت کې، له دې سره سره چې فرعون ښه نیت درلود، خو د هغه د فیصلې پایلې څومره تاواني وې.

سینوهه ! زه یو عادي کس یم او پر هېڅ شي هم نه پوهېږم، خو له دې کبله چې تمه نه لرم، په دې دنیا کې دې بشپړ عدالت راشي، نو له ژونده پوره استفاده کووم.

نن قاضیان زما په مخکې له دې کبله سجده کوي چې پوهېږي شتمني لرم.

خو سینوهه ! ته چې د هېواد یو ستر کس وې او د فرعون ډاکټر وې، نن سبا په دې هېواد کې د یوه مړیي هومره ارزښت او حیثیت هم نه لرې، ځکه چې پخپله دې داسې کار وکړ، چې دغه ورځ درباندې راشي او له هر څه دې ځان محروم کړ.

زما باداره ! که ته د دې دنیا د حالاتو مسوول وای، نو د خپګان حق به دې درلود، خو دغه دنیا تا نه ده پنځولې، نو ولې ځان خورې او اندېښنه کوې. چې په دې نړۍ کې عدالت نشته

که زما خبره منې له دې فکرونو تېر شه او د دې لپاره چې بیا په دې سوچونو کې ډوب نه شې، ځان پر یو شي بوخت کړه.

که وکړای شې طبابت وکړې، تر ټولو غوره کار دی، ځکه زه تا پېژنم او پر دې پوهېږم چې ته د ناروغانو له معالجې خوند اخلې، نو دغه خوند د دې مخه نیسي چې دغسې فکرونه وکړې.

ومې ویل کاپتا ستا خبرو پر ما اغېز وکړ او سمه خبره کوې، چې که زه طبابت وکړم، د ناروغانو له معالجې خوند اخلم، خو تا د خبرو پر وخت د آتون خبره وکړه.

په داسې حال کې چې د دې خدای نوم اخیستل بند دي، نو ایا داسې کسان شته چې لا د دې خدای عبادت وکړي؟

ځکه که دغسې کسان نه وای تا د دې خدای په هکله فکر نه کاوه او د هغه نوم دې نه اخیست.

کاپتا وویل، زما باداره ! د آتون خدای د افق د ښار په شان هېر شوی دی، نور کوم کس هغه د خدای په توګه نه پېژني، خو لا هم ځینې هنرمندان شته چې د آتون د وخت د هنري رودو پیروي کوي.

هغه کیسه ویونکي هم تر اوسه شته چې د آتون د دورې نکلونه کوي او کله ناکله پر خارو یا د هوالونو د حیات صلیب یانې د آتون صلیب تر سترګو کېږي.

که څه هم، چې څوک د دغه خدای عبادت نه کوي او عقیده هم پرې نه لري، خو هغه هېر شوی نه دی.

ومې ويل کاپتا ستا د نصيحت په اساس به زه د طبابت کار بيرته پيل کړم او له دې کبله چې ودې ويل، د عمر د تېرېدا لپاره بايد ځان پر يو شي بوخت کړم او د ځينو شيانو کلکسيون جوړ کړم. نو زه به د هغو کسانو کلکسيون جوړ کړم، چې لا يې د آتون خدای نه دی هېر کړی.

کاپتا فکر کاوه، چې زه توکې کووم، نو د هغو شرابو په څښلو بوخت شو، چې موتي زمونږ لپاره راوړي ول. ما هم شراب وڅښل او يوه موده مو سره خبرې وکړې.

کاپتا نشه شو او له دې کبله چې ډېر چاغ شوی و، له خپله ځايه نه شو پورته کېدای، مريبان يې راغلل او هغه يې پورته کړ، پر روان تخت يې سپور کړ او روان يې کړ.

خو پر بله ورځ کاپتا له ګران بيه ډاليو، سره چې ماته يې اخيستې وې، کور ته راغی او ماته يې ډېر سره زر هم راوړي ول.

کاپتاوويل، باداره! هېڅکله دا اجازه مه ورکوه، چې د خوشحالۍ لپاره دې څه کم شي، ځکه چې زه دومره سره و سپين لرم چې څومره غواړې درته به يې راوړم.

خو نن ددې لپاره ډېر زر نه درکووم چې وېرېږم تول به بېوزلو ته وبښې.

له دې ورځې وروسته مې د طبابت ښه پر خپلې دروازې ولګوله او ناروغانو راته مراجعه وکړه، هرچا له خپل وس سره سم يو شی راکاوه. ما به له بېوزلو فيس نه اخيست او هغوی به مې وړيا معالجه کول، خو له هغوی سره به مې د آتون په هکله په احتياط خبرې کولې.

ددې لپاره مې احتياط کاوه چې نه مې غوښتل، هغوی له ما وډار شي او تصور وکړي، چې ګني زه غواړم هغوی په آتون معتقد کړم.

ځکه که ډارېدلي وای، زما په هکله به يې نورې اوازې خپرولې، هسې هم په طبس کې بدنام شوی وم او دغو اوازو نور تاوان هم راته پېښاوه.

خو ډېر ژر پوه شوم چې آتون د يوه خدای په توګه بېخي هېر شوی دی او هېڅوک پرې باور نه لري.

يوازې هغه کسان چې ظلم پرې شوی وي او د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره بله هېڅ وسيله ونه لري، ظالم د آتون پر صليب سپاري، چې د غه صليب او يا پخپله آتون ترې غچ واخلي.

په داسې حال کې چې پوهېدل، نه آتون او نه هم د هغه صليب د دوی انتقام اخيستلی

شي.

په مني کې د نيل سيند له مستېدا وروسته د مصر فرعون آمي مړ شو او اوازه خپره شوه، چې هغه له لوږې مړ شوی دی.

آمي له دې ډېر وېرېده چې څوک به زهر ورکړي، نو هېڅ شی به يې نه خوړل. ان که د هغه په مخکې به يې ډوډۍ پخه کړه، بيا به يې هم نه خوړله. ځکه تصور يې کاوه چې ددې ډوډۍ غنم يې هغه وخت زهرجن کړي چې لا په وږي کې ول.

پينځه پنځوسم څپرکی

هورم هب د مصر فرعون شو

کله چې هورم هب د آمي د مړینې خبر واورېد، له دې سره سره چې کادش یې کلابند کړی و، خو هغه یې همداسې هاتي ته پرېښود او له سوریې څخه مصر ته راستون شو.
د دې لپاره چې په مصر کې خپل وروستي ارمان ته ورسېږي او د مصر فرعون شي.
(هورم هب چې په ځینو دایراة المعارفونو کې یې نوم هرم هب هم ذکر شوی دی او لوستونکو یې تاریخ او مخینه د سینوهه په دې کتاب کې ولوستله د آمي له مړینې وروسته له سوریې څخه راستون او د مصر فرعون شو ژباړن).
د مصر په تاریخ کې د فرعونیانو د نولسمې لړۍ بنسټګر دی. په دې لړۍ له هورم هب پرته چې د دې لړۍ بنسټګر بلل کېږي نور فرعونیان په رامسس یاد شوي دي
د هورم هب زوی چې د شهزادګۍ باکتامون له نسله و، هم د رامسس په نوم یاد شوی دی. د مصر په تاریخ کې د رامسس په نوم یوولس فرعونیان تېر شوي دي، چې ځینې یې د فرعونیانو له نولسمې لړۍ څخه دي او ځینې یې له شلمې لړۍ څخه. تاریخپوهان پوهېږي چې په لرغوني مصر کې د فرعونیانو شلرویشت لړۍ تېرې شوې دي، چې د ځینو لړیو (لکه نولسم پړاو، چې هورم هب یې بنسټګر و) د حکومت دوره اوږده شوې ده او سینوهه د هورم هب د پاچاهۍ د دورې پیل په دې کتاب کې لیکلی دی.
اصلي ژباړونکي د مصر په تاریخ کې د هغه د سلطنت پړاو له میلاده ۱۳۵۰ کاله مخکې لیکلی دی، کاشکې د لرغونو فرعونیانو په هرې لړۍ کې د سینوهه په شان کسان وای او دغسې کتابونه یې لیکلي وای، چې د نړۍ خلکو د مصر د فرعونیانو د هرپړاو او لړۍ له تاریخ سره ډېر ښه اشنا شوي وای ژباړن)
هورم هب آمي ته د یوه حقیقي فرعون په سترګه نه کتل او د خپلې پخوانۍ نقشې له مخې چې کله له سوریې راستون شو اعلان یې وکړ چې آمي یو جعلي فرعون و او د

مصريانو له وژلو، بدبخته کولو او ځنګونو پرته يې بله هيله نه درلوده.

له دې کبله چې هغه درواغجن او جعلي فرعونو، بايد خلک د هغه د مرګ لپاره وير ونه کړي او د آمي مړی بايد په وادي السلاطين هديره کې ښخ نه شي.

هورم هب د جنګ د الهې د معبد دروازې بندې کړې او ويې ويل نور د جنګ پړاو پای ته ورسېد او زه هم هېڅکله د جنګ غوښتونکی نه وم، خو له دې کبله چې يو عسکر وم مجبور وم، چې د مصر د فرعونيانو په تېره بيا د آمي حکمونه ومنم.

کله چې خلک پوه شول. نور جنګ نه کېږي، د هورم هب لپاره يې نارې ووهلې او مصر ته يې د هغه راستنېدل بختور کار وباله.

هورم هب چې کله طبس ته راستون شو، زه يې وروغوښتم او ويې ويل.زما ملګريه سينوهه! زه تصور کووم چې زه او ته دواړه تر هغه وخته چې په وروستي ځل مو سره وليدل ډېر بوډاګان شوي يو.

زه ستا دا خبره نه هېروم چې ويل به دې. زه بې روحه او خونړی کس يم. خو له دې وروسته به جنګ ونه کړم. ځکه چې خپل هدف ته ورسېدم چې د مصر ساتنه وه.

له دې وروسته به هېڅ بهرنی خطر مصر ونه ګواښي، ځکه چې ما د هاتي نېزې ورماتې کړې.

که څه هم کادش تر اوسه له هاتي سره دی، خو چې زما زوی رامسس لوی شو ،هغه ځای به هم ونيسي وروسته.به په مصر کې زما کار دا وي چې بايد د خپل زوی لپاره د مصر د پاچاهۍ تخت ډاډمن او يقيني کړم.

نن سبا مصر د يوه بوډ زلي سړي د غوجلې په شان چټل او ګنده دی، خو وبه ګورې چې زه به دغه غوجله پاکه کړم، ظلم به له منځه يوسم او دهغه پر ځای به عدالت ټينګ کړم.

په مصر کې به هر څوک له خپلې ورتيا سره سم انعام او تنخوا اخلي، يانې د مصر ملت به بيرته د پريمانۍ او مړېښت پخوانۍ وخت ته ستون شي.

له دې کبله چې دغه ملت د توت آنخ آمون او امي د پاچاهۍ په وخت کې ډېر کړاوونه زغملي او ډېره لوږه يې تېره کړې، نو زه به دغو دوو فرعونيانو نومونه له منځه يوسم.

داسې به يې کړم چې ته وا د غو دوو کسانو هېڅ وجود نه درلود او پاچاهي يې نه ده کړې.

له دې کبله چې د اختاتون نوم هم حذف شوی او هېر شوی دی،نو زه به د خپلې پاچاهۍ

ورځې له هغو وختونو را پیل کړم، چې له خپل شاهين سره طبس ته ننوتم او له تاسره مې وليدل.
زما د پاچاهۍ وخت به د دريم آمون هوتپ له مرګه وروسته پيلېږي. ځکه دريم آمون هوتپ په هغه شپه مړ شو چې زه طبس ته ننوتم او له تاسره مې وکتل.
بيا هورم هب خپل سر په دوارو لاسونو کې ونيو. ما وليدل چې اوږدو جنګونو او د وخت تېرېدا د هغه په مخ کې ډېرې ګونځې پیدا کړې دي.
هورم هب په خپګان سره وويل: نن د مصر حالت زموږ د ځوانۍ په شان نه دی. زموږ په ځوانۍ کې بېوزله په نس ماړه ول او د کارګرانو او مریانو په جونګړو کې نباتي غوړي پيدا کېدل.
خو نن سبا نباتي غوړ د کارګرانو او مریانو لپاره د سروزرو په شان شوي دي او لاس يې نه ور رسېږي.
خو سينوهه! زه به تېر وختونه بيرته راستانه کړم، د مصر کروندې به بيرته ورغوم، په کانونو کې به بيرته کار پيل شي، د مصر بېړۍ به هر چيرته لاړې شي او د مصر د فرعون یانې زما خزانې به له سرو و سپينو ډکې شي.
زه به لوی معبدونه جوړ کړم او د غه هېواد به داسې اباد کړم، چې که ته تر لسو ګلونو پورې ژوندی وې، په مصر کې به يو بېوزله او بېچاره ونه ګورې.
زه به په دغه هېواد کې فاسد او بېکاره کسان له دندو لرې کړم، ځکه چې د دغو کسانو شتون به د مصر د ملت وينه تباه کړي.
زما زوی تکړه کسانو ته اړتيا لري، چې له لوېيدو وروسته به تولنه نړۍ ونيسي.
دغو خبرو پر ما ښه اغېز ونه کړ، زه يې خوشحال نه کړم، بلکې زما روح يې خپه او غمجن کړ، سر مې ښکته واچاو او د هورم هب ځواب مې ورنه کړ.
هغه پوه شو چې زه يې په خبرو خپه او غمجن شوم، نو ويې ويل، سينوهه! ته د پخوا په شان يې او فرق دې نه دی کړی. همغه ډول چې پخوا به کله ما ليدلې حيران او خپه به شوم.
اوس هم ما ځوروې.
زه ځومره خواشينی وم چې تصور مې کاوه ستا په ليدو به خوشحاله شم. ځکه طبس ته له راستنېدا وروسته ته لومړنی کس وې چې ما را وبللې چې په کتو دې خوشحاله شم
لا مې خپله مېرمن او بچيان نه دي کتلي، خو تا پخپله چوپتيا او دې غمجنې ځېرې

سره زما غم نور هم زیات کړ.

زه په سوریه کې ډېر خپه وم، ځکه څوک مې نه درلودل، چې وکړای شم ورسره د زړه خبره وکړم او په ازاده توګه ورسره خپل رازونه ووایم.

هر ځل چې به مې له بل چا سره خبرې کولې، ډېر احتیاط به مې کاوه، چې کومه ناسنجول شوې خبره ونه کړم.

خو له دې کبله چې تا ځانته نږدې کس او خپل رازدار بولم، له تا سره هره خبره کولای شم او له خبرو څخه وېره نه لرم.

سینوهه زه ستا له دوستۍ پرته بل شی نه غواړم، خو ته دغه ساده دوستي چې هېڅ لګښت هم نه غواړي پر ما نه پېرزو کوې او اوس ګورم چې زما په لیدو نه خوشحالېږې.

ما خپل دواړه لاسونه پر ځنګنو کېښودل او د هغه په مخکې مې رکوع وکړه، ورته مې وویل: هورم هبه! ستا د ځوانۍ په ملګرو کې یوازې زه پاتې یم او نور ټول مړه شوي دي، باور وکړه چې پر ما ډېر ګران یې.

ته پوهېږې له تا سره زما ملګرتیا د سرو او سپینو لپاره نه ده او زه له تا څخه څوکۍ او مقام نه غواړم. پخوا هم له مادي تمې پرته پر ما ګران وې او په راتلونکې کې به هم له هر رنګه مادي تمې پرته پر ما ګران یې.

هورم هبه! ته نن د مصر تر ټولو غښتلې سړی یې او هېڅوک درسره سیالي نه شي کولای.

پوهېږم چې ډېر ژر به د مصر د پاچاهۍ تاج پر سر کېږدې او ددې هیلې هم لرې چې د سترو فرعونیانو په ګدۍ به کېنې.

ټول مجبور دي چې ستا امر ته غاړه کېږدي او له دې کبله چې ته قدرت لرې، نو له تا غواړم چې د آتون د خدایۍ وخت بېرته راستون کړه.

که ته د آتون د خدایۍ وخت بېرته راولې خدای ښلی فرعون اخناتون به له تا خوشحال شي او زموږ ټول بوږنونکي جنایتونه به بېرته جبران شي.

د آتون خدای بېرته راستون کړه چې ټول خلک یو شان شي او جنګونه له منځه یوسي.

هورم هب وویل، که ته لېونی نه وای، دغسې خبرې دې نه کولې، ځکه چې د آتون د خدایي راستنېدل ناممکن کار دی او که ممکن هم وي ګټه نه لري.

هغه خبرې چې آتون کولې د یوې سترې ډبرې په شان وې، چې په یوه حوض کې واچول

شي، يوازې غږ وکړي او اوبه راپورته کړي خو هېڅ ته يې ګټه و نه رسېږي.

کله چې اخناتون د آتون پلويتوب کاوه، د نورو خلکو په شان له خپل ژونده راضي او خوشحاله نه و، غوښتل يې هغه بدل کړي، ځکه يې اخناتون ته پناه يوړه.

انسان داسې دی، چې له خپل او سني ژونده ناراضه وي او د تېر وخت ارمان کوي او يا فکر کوي، راتلونکی ژوند به يې تر نني ژونده ډېر ښه وي.

اخناتون په دغو فکرونو سره مصر او د هغه خلک داسې و زېږبنل او ببوزله يې کړل، چې په هېڅ وخت کې يې ساری نه دی ليدل شوی.

خو زه له دې پرته چې د اتون د وخت خدايي بيرته راتازه کړم، داسې کارونه به وکړم، چې د بېوزله او شتمن تو پير تر نن ورځې ډېر کم شي.

د دې کار لپاره پر شتمنو داسې زور راوړم، چې خپله شتمني له لاسه ورکړي او حتی د مصر خدايان هم زبېښم چې ډېر چاغ شوي دي.

په بدل کې به يې په مصر کې د بېوزلو لپاره کروندګري، صنعت او تجارت ته داسې وده ورکړم، چې هغوی شتمنې وګټي او په دې ډول له دې پرته چې آتون بيرته راستون شي او په هېواد کې فتنه، لوږه او نا امنۍ رامنځته شي د آتون هدف به پوره شي.

خو ته زما په خبرو نه پوهېږې، ځکه چې ډېر کمزوری سړی يې او يو کمزوری سړی د يوه قوي او غښتلي سړي پر فيصلې ژر نه شي پوهېدای.

کمزوری سړی د يوه کمزوري ملت په شان، د دې لپاره رامنځته شوی، چې تر پښو لاندې شي، تر هغه چې نړۍ شته همدا اصول پکې شته دي او له دې وروسته به هم همداسې وي.

زه د هورم هب له وروستيو خبرو ډېر خپه شوم او پوه شوم چې د برياليتوب، غرور، کبر او قدرت داسې نشه کړی، چې ان د ځوانۍ د وخت يوازيني پاتې ملګري ته هم توجه نه کوي او هغه ته ښکنځلې کوي.

په خوابدۍ سره له هغه جلا شوم. وپوهېدم چې نور زموږ ترمنځ ملګرتيا دوام نه شي کولی.

له دې وروسته چې زه لاړم، وامې ورېدل، چې هورم هب خپلې مېرمنې او بچيانو ته ورغلی و، خپل بچيان يې په غېږ کې نيولي ول او بيا يې باکتامون ته ويلي و: اې زما شهزادګۍ! په دې موده کې چې زه په سوريه کې وم، هره شپه به ستا خيال د سپوږمۍ د

رڼا په شان زما شپې روښانولې.
ما غوښتل داسې کار وکړم چې ستا ور شم، خو له دې وروسته لکه چې ته پخپله یې هم منې زه دغه وړتیا او لیاقت لرم او ته به زما ترڅنګ د مصر د پاچاهۍ پر تخت ناسته یې.
ددې پاچاهۍ په قدر پوه شه، ځکه ددې لپاره چې تا د سلطنت په ګدۍ کښنوم، ډیرې وینې مې وبهولې، ډېر ښارونه مې وران کړل او اوس یې د انعام او بدلې په فکر کې یم.
باکتامون موسکۍ شوه او لاس یې د هورم هب پر غښتلو متو کښښود، ویې ویل، رښتیا وایې، ته د انعام او جایزې وړتیا لرې او دغه انعام ما مخکې له مخکې درکړی دی.
له همدې امله مې ستا په نه شتون کې یو جونګړه جوړه کړې، زه هم له یوازیتوبه په تنګ شوې وم، ددې جونګړې ډېرې مې پخپله برابرې کړې دي.
اوس راشه چې دې جونګړې ته ورشو، چې خپل انعام پخپلې غېږې سره درکړم.
هورم هب په دې خبره ډېر خوشال شو او شهزادګۍ له باغه تېر کړ.
کله چې د زرینې ماڼۍ او سپېدونکو کتل چې باکتامون هورم هب له ځان سره هغې جونګړې ته بیایي چې دې جوړه کړې وه، داسې وډار شول چې ټولو ځانونه پټ کړل.
مریان او نوکران خوان له غوجلې څخه هم وتښتېدل، ځکه اټکل یې کاوه چې کله هورم هب پوه شي، دغه جونګړه څنګه جوړه شوې، نو وینې به وبهوي.
کله چې دې جونګړې ته ورسېدل، هورم هب وغوښتل چې شهزادګۍ په غېږ کې ونیسي، خو دې ښځې ورته وویل، هورم هبه لږ صبر وکړه، چې زه درته ووایم دغه جونګړه مې څنګه جوړه کړې؟
ایا په زړه دې دي، په وروستي ځل چې په زور دې په غیږ کې ونیولم ما څه درته ویلي ول؟
ایا یاد دې، دي چې ما ګواښلې وې ویلي مې وو، زه به له ټولو نارینه وو سره ځملم؟
ما پخپلې وعدې عمل کړی او په دې پوه شه، چې ددې کور هره ډبره چې ګورې، یوه سړي راته د یو ځل ځملاستلو په بدل کې راکړې ده.
ددې کور هره ډبره له یوه نارینه سره زما د ځملاستو خاطره ده او دغه کور مې ددې لپاره چې له تا غچ واخلم تاته جوړ کړ.
کله چې به یو نارینه ډبره راته راوړه ما به خپل ځان ورپېژانده، چې د چا مېرمن یم، چې په دې ډول هغه پوه شي، د مصر د پوځ د قوماندان او ستر سردار هورم هب مېرمن یې په

غېږ کې نیولې ده او ان یو خل مې هم دغه خبره نه ده هېره کړې.

د مثال په توګه دغه لویه سپینه ډبره چې ګورې، یوه کب نیونکي راکړې ده. دغه شنه ډبره چې ګورې د سکرو یو پلورونکي راکړې ده او دغه اوو دانې قهوه اي ډبرې، یوه سبزي پلورونکې راکړې او له ما سره ویده شو.

اې هورم هبه! که ته حوصله لرې، زه به هره ورځ د یوې ډبرې بر خلیک درته ووایم او هره شپه به د یوې ډبرې کیسه درته وکړم.

ډاډه درکووم چې هره کیسه به تر بلې ډېره خوندوره وي، ځکه هر ځل چې به له یوه مین سره ځملاستم بیل خوند مې ترې اخیستی دی.

زه باور لرم چې کله ته د دغه ډبرو په کیسو پوه شې له ما سره له تفریح کولو به خوند واخلې ځکه چې دغه ډول کیسې د هغه نارینه لپاره چې غواړي له خپلې ښځې خوند واخلي د خوږو د اچارو او مصالحو په شان وي اوس دغه کور ته ځیر شه او ګوره چې څومره ډبرې پکې کارول شوي دي او بیا یې وشمیره چې زه ستا په غیاب کې څو ځله له پردیو سره ځملاستلې یم او اټکل وکړه چې که زه وغواړم د هرې ډبرې کیسه درته وکړم څو کاله وخت به واخلي.

زه فکر کوم که وغواړم د دغو ډبرو کیسې درته بیان کړم تر هغه به دوام وکړي، چې موږ بوډاګان شو، بیا به هم زما کیسې پای ته ونه رسېږي.

هورم هب تصور وکړ، چې شهزادګۍ ټوکې کوي، خو چې د باکتامون سترګو ته یې وکتل، پوه شو چې د هغې له سترګو هم وژونکې کینه او دښمني احساسېږي.

هورم هب پوه شو، چې دغه ښځه رښتیا وایي، خپله وسپنیزه چاړه یې چې په هاتي هډو کې یې جوړه کړې وه راوایستله چې باکتامون ووژني.

شهزادګۍ خپل کمیس وشکاوه او سینه یې هغه ته وروښودله، ناري یې کړې، هورم هبه و وهه...... و وهه...... خپله چاړه زما په ټټر کې ښخه کړه! چې د مصر د پاچاهۍ خوب بلې دنیا ته یوسې، ځکه چې زه هم د فرعون لور یم او هم د جنګ د معبد سخ مت الهه او څوک چې د فرعون او یوه خدای لور ووژني هېڅکله به پاچا نه شي.

هورم هب له دې خبرې سره په کرار شو، ځکه چې پوه شو شهزادګۍ رښتیا وایي، د هغه پاچاهي د باکتامون په شتون پورې تړلې ده او که دغه ښځه ووژني هېڅکله به د مصر فرعون نه شي.

په دې ډول شهزادګۍ باکتامون له خپل مېړه، چې دا یې په زور کړې وه، په دې ډول غچ واخیست، هورم هب حتی جرئت ونه کړ، چې دغه کور وران کړي او د کور ډبرې بل ځای ته ولېږدوي.

ځکه که یې دغه ودانۍ ورانولې او ډبرې یې بل ځای ته لېږدول، نو دا ډنډوره یې پخپله وهله، چې دغه کور څنګه جوړ شوی دی.

ځان یې په بې خبرۍ وواهه او داسې یې وښودله، چې نه پوهېږي مېرمنې یې دغه کور څنګه جوړ کړی دی، د خلکو ملنډې او پېغورونه یې په ځان ومنل چې دده په غیاب کې به یې کول.

خوله دې ورځې وروسته یې له مېرمن باکتامون سره واده ونه کړ او دا خبره هم باید وکړم، چې شهزادګۍ هم خپله روده ښځې بدله کړه او چا وانه ورېدل. چې هغې له کوم چا سره تفریح کړې وې.

په دې ډول هورم هب، په رسمي توګه د مصر فرعون شو او په معبد کې یې د مصر تاج پر سر کېښود.

خو زه پوهېدم چې په کومه شېبه کې کاهنان د هغه پر سر معطر تېل موښي او تاج یې پر سر ږدي، هغه له زړه خپه دی، ځکه پوهېده، ټول هغه کسان چې په دې معبد کې شته دي، په زړه کې پرې ملنډې وهي.

دوی د هورم هب هېڅ پوځي ویاړ ته نه ګوري، مګر دده پر خلاف په خپل ذهن کې د شهزادګۍ د جوړ کړي کور ډبرې شماري.

له دې وروسته چې هورم هب د مصر فرعون شو، پر ټولو بدګمانه شو.

فکر یې کاوه ټول په غیاب کې پر هغه ملنډې وهي او دغه موضوع هغه غشي ته ورته وه، چې د هورم هب په ټټر کې ننبنتی وي چې بهر یې نه شي را ایستلی.

ددې لپاره چې خپل غم هېر کړي سخت کار یې کاوه، لکه چې خپله یې ویلي ول، فیصله یې وکړه، دغه چټله غوجله پر یوه پاک ځای بدله کړي، ظلم له منځه یوسي او د بې عدالتۍ پر ځای نیاو واکمن کړي.

ددې لپاره چې بې انصافي ونه شي، باید ووایم، له دې سره سره چې هورم هب کله وزېږېد، په پنجو کې یې خوشایي ننبتي ول او په پاچاهۍ نه پوهېده، خو کله چې فرعون شو دا یې ثابته کړه، چې یو تکړه پاچا دی.

د هغه د پاچاهۍ څو کاله نه و تېر شوي، چې د مصر ملت یې ستاینه پیل کړه او هغه یې د مصر په سترو فرعونانو کې وشمېره.

یو کار چې هورم هب وکړ او تر هغه مخکې هېڅ فرعون نه و کړی دا و، چې درباریانو او حکومتي چارواکو کې یې تجملات له منځه یوړل.

هورم هب پوه شو چې د مصر د دربار یانو د فساد علت دا نه دی، چې غونبې او ډوډۍ نه ارتیا لري، بلکې له دې امله فاسد شوي، چې په تجملاتو او لوکس ژوند کې له یو بل سره سیالي کوي.

هر څوک غواړي تر نورو ښکلې ماڼۍ او محل جوړ کړي او پخپلو کورنو کې ډېر مریان او وینځې ولري او هره ورځ و شپه د ځان لپاره نوې بوختیاوې او سرګرمۍ پیدا کړي.

هغه پوه شو تر هغه وخته چې د مصر د دربار یانو پوځي او ملکي چارواکو تر منځ د غه ډول سیالي موجوده وي، ناممکنه ده، چې فساد له منځه یوسي. ځکه چې د هغوی ارتیاوې نه پوره کېږي او دا څوک نه شي ویلای، چې کله ماړه شول او ارتیاوې یې پوره شوې، نو بیا به له فساده لاس اخلي او رشوتونه به نه اخلي.

هورم هب په مصر کې لومړنی فرعون دی، چې د مالیاتو د ترلاسه کوونکو مامورینو تنخوا یې د حکومت له خزانې ورکړه، نه دا چې مالیه ورکوونکي دې راشي او دغو مامورینو ته دې رشوت ورکړي.

تر هورم هب مخکې دود داسې و، چې د مالیاتو محصل یا مامور به له حکومت سره د یو قرارداد له مخې د یوې سیمې د مالیاتو د راغونډولو دنده واخیستله او بیا به یې له هغو مالیاتو څو برابره مالیه له خلکو اخیستله چې حکومت به ټاکلې وه.

هورم هب، دغه دود مات کړ او د هرې سیمې مالیه یې په قطعي توګه، معلومه کړه.

د مالیاتو مامورینو ته یې تنخوا هم له خزانې ورکوله، چې د مزد په توګه له خلکو نور څه وانه خلي او پر خلکو فشار رانه شي.

د قاضیانو په هکله یې هم همداسې وکړل او د هرې پرګنې لپاره یې تنخوا معلومه کړه، چې د حکومت له خزانې به یې ورکوله.

قاضیانو حق نه درلود، چې د خلکو د مسلو په اړه د قضاوت په بدل کې د اجورې په توګه له هغوی څخه سپین او یا مس واخلي.

ددې لپاره چې هورم هب تجملات له منځه يوسي، له ځانه يې پيل وکړ.

دې دې پايلې ته ورسېد، تر هغه چې پخپله فرعون اشرافي ژوند پرې نه ږدي او له تجملاتو لاس وانه خلي، مصريان به خاني او اشرافيت پرې نه ږدي.

هغه به په ساده جامو کې له خپلو سپاهيانو سره په ښار کې ګرځېده او تر شا به يې د حريصو او رشوت خورو ماليه ټولوونکو او قاضيانو پوزې او غوږونه پر ځمکه تويېدل.

دا ځکه چې هورم هب له رحم کولو پرته د هغوی پوزې او غوږونه پرې کول او هغوی به يې د اجباري کار لپاره کانونو ته استول.

هغه نور کارونه چې هورم هب په مصر کې وکړل دا و، چې تل به په ولايتونو کې ګرځېد او خلکو ته يې ازادي ورکړې، چې هر څوک له قاضيانو او د ماليې له مامورينو شکايت کوي نېغ په نېغه دې پخپله ده ته ورشي.

تر ټولو بېوزله کروندګر به هم له کومې واسطې پرته هورم هب ته مراجعه کولای شوه او هغه ته به يې خپل شکايت وړاندې کړ.

کله چې به فرعون د چا شکايت اورېد، تر هغه به بل لوري ته نه روانېده چې د کروندګر شکايت ته توجه ونه شي.

د هورم هب د کار اغېز په يوې ورځې او دوو کې څرګند نه شو خو ورو ورو په مصر کې خلکو بدلون احساس کړ او له هغه وروسته د مالياتو مامورينو جرئت نه شو کولای، چې د کروندګرو او ماليه ورکوونکو په ماليا تو ځان شتمن کړي.

له هغه وروسته قاضيانو نه شو کولای، په رشوت سره ناحقې فيصلې وکړي او د مصر خدايان هم د ماليا تو د مامورينو په شان مجبور شول چې خپله تمه کمه کړي.

له يوې خوا د مصر د درباريانو، خانانو او کاهنانو شتمني کمه شوه او له بلې خوا بېوزله کسان شتمن شول، ځکه چا پرې ظلم نه کاوه، د ماليا تو مامورينو يې شتمني نه لوټله او مزدوري يې بل چا نه وړله، په دې ډول هغوی شتمن شول.

د مصر بېړيو تل د تورې خاورې او نورو ملکونو تر منځ تګ راتګ کاوه او که له لسو تلونکو بېړيو څخه پنځه په سمندر کې ډوبېدلې، پنځو نورو دومره ګران بيه شيان راوړل چې د پنځو بېړيو زيان به يې پوره کړ او پردې سربېره به يې مصر ته ډېره ګټه هم ورسوله.

هورم هب د مصر د ترقۍ او د ظلم د ختمولو لپاره هلې ځلې وکړې چې د (نت نت سوت) په معبد کې يې د يوه خدای په توګه عبادت کېده او د هغه لپاره به يې د غواګانو

قرباني کوله او د(هت نت سوت)او هورم هب خدای يو شو.

زما پخوانی مریی په داسې حال کې چې نور خانان بېوزله کېدل، هغه ورځ پر ورځ شتمن کېده، چا د هغه لپاره ستونزې نه پيښولې ځکه هغه زوی نه درلود او هورم هب يې خپل وارث ټاکلی و.

د دې لپاره چې ارام ژوند وکړي، له همدې امله هورم هب هغه ته هېڅ هم نه ويل او د مالياتو د ترلاسه کولو مامورينو هم هغه نه تنګاوه.

کاپتا به د اشرافو په سيمه کې خپلې مانۍ ته ډېر ورېللم او له دې کبله چې لوی باغ يې درلود ، ګاونډيانو به ورته مزاحمت نه شو کولای.

کاپتا خپله مانۍ د کرت د ماڼيو په شان جوړه کړه او د مانۍ په کوټو کې د اوبو نلونه جوړ شوي ول.

په تشنابونو کې هم د کرت د کورنو په شان تل اوبه بهېدې او هر ځل چې به زه دده مانۍ ته تلم ليدل به مې، چې هغه د سرو زرو په لوښي کې ډوډۍ خوري.

د ډوډۍ په وخت کې به د طبس نڅاګرې زموږ په مخکې ګډېدلې او موږ به يې بوخت ساتلو.

کاپتا د مرييتوب د وخت ځينې عادتونه ساتلي ول، مثلاً له ډوډۍ خوړلو وروسته به يې اروړمي ايستل او کله به يې ګوته په پوزه کې دننه کړه.

خو له دې سره سره چې کله به يې عمومي مېلمستياوې کولې، نو خانان او اشرافو به د هغه مېلمستياوو ته راتلل، ځکه چې کاپتا به خانانو ته ګران بيه ډالۍ ورکولې او په مالي چارو کې به يې ورسره مرسته کوله.

هرځل چې کاپتا عمومي مېلمستيا کوله او خانان يې کور ته راتلل هغه به د دوی، د مصروفولو لپاره ځان د مريې په شان کړ او د يو چالاک او غله مريي پېښې به يې کولې، چې غواړي د خپل بادار شيان غلا کړي.

په دې نه شرمېده چې دغه کارونه به د هغه مخينه د مليمنو په ذهنونو کې تازه کړي.

کاپتا دومره مشهور او شتمن شوی و، چې د خپل پخواني ژوند له خاطرو به نه وېرېده، چې کومه ستونزه به ورته پېښه کړي.

ماته يې وويل، زمابادراه سينوهه ! کله چې د يوه کس شتمني له حده زياته شي، نور نه بېوزله کېږي او ورځ تر بلې يې شتمني نوره هم زياتېږي، حتی که پخپله وهم نه غواړي چې

شتمني يې زياته شي.

خو دغه شتمني چې زه يې لرم ټوله ستا ده او له همدې لامله، دې زه خپل باداربولم.

که څه هم نن سبا په طبس کې تر ما بل شتمن کس نشته. خو تر هغه وخته چې ژوندی يې زه به ستا اړتياوې درپوره کووم.

خو خپله شتمني تا ته نه شم درکولای. ځکه چې پوهېږم که خپله ټوله شتمني درکړم يو کال ور وسته به يې وزله يې.

ته داسې سړی نه يې چې شتمني وساتې او که تا خپل جايداد ساتلی اوس به دې د آتون د خدای په لاره کې نه و ورکړی او نن به د مصر، سوريې، هاتي او بابل تر ټولو شتمن کس وې.

خو په دې مه خپه کېږه چې شتمن نه يې. ځکه چې زه به ستا د عمر تر پايه پورې هر څومره سپين او سره چې وغواړې درکړم.

له دې سره سره چې کاپتا ليک لوست نه شو کولای، خو د هنرمندانو ملاتړ يې کاوه او مجسمه جوړوونکو د هغه څو مجسمې هم جوړې کړې وې.

په دغو مجسمو کې کاپتا نسبتاً ځوان او له پرتمه ډک ښکارېده او دواړه سترګې يې روغې وې، په يوه لاس کې يې د ليکلو قلم او په بل کې يې يوه لوحه ښکارېده، چې په ځنګنو يې ايښې وه.

هر چا به چې دغه مجسمه ليدله، فکر يې کاوه چې کاپتا پوه او عالم سړی دی، چې ليک لوست کولای شي او پخپله کاپتا چې به دغه مجسمې کتلې، خندل به يې.

له دې کبله چې آمون خدای ته يې ډېرې ډالۍ ورکړې وې، د هغه يوه مجسمه يې د آمون په ستر معبد کې ايښې وه.

کاپتا د مړيو په ښار کې (د طبس د ښار هدېره. ژباړن) د ځان لپاره يو ستر قبر جوړ کړی و او امر يې کړی و، چې هنرمندان د قبر په دېوالونو کې د هغه ستر انځورونه جوړ کړي.

په دغو انځورونو کې کاپتا چې سترګه يې روغه کېښل شوې وه او ځوان ښکارېده، په ورځينو کارونو بوخت و، چې د خدايانو لپاره قرباني کوي

کاپتا دې لپاره دغسې انځورونه کښلي ول، چې په ژوند کې يې خلک ډېر غولولي و اوس يې غوښتل په دې ډول انځورونو سره خدايان هم وغولوي او په لوېديزه نړۍ کې هم په پرتم او اسودګۍ کې ژوند وکړي

يو شی چې د کاپتا په قبر کې ايښودل شوی و د امواتو د کتاب يوه نسخه وه، چې ما تر

هغه ښکلی او جامع کتاب نه و ليدلی (*د امواتو يا د مړيو کتاب تر ټولو پخوانی مذهبي او اخلاقي کتاب دی، چې بشر ليکلی دی او نن سبا هم موجود دی . د دغه کتاب يوه نسخه د مصر په کيندنو کې موندل شوې او اوس د نړۍ په يوه موزيم کې ساتل کېږي ژباړن*)

دغه کتاب د مصر هنرمندانو او کاهنانو په دوولس طومارونو ليکلی او انځور کړی دی او ددې کتاب يو طور په دې اړه و، چې څه ډول د اوزيرس د ترازو شاهين په بلې نړۍ کې د کاپتا په ګټه وښوروي، څه ډول په جعلي ډېرو سره ددې ترازو يوه خوا د کاپتا په ګټه درنه کړي او څه ډول ځلوېښت بيزوګانې وغولوي

ما د کاپتا له شتمنۍ سره له دې امله بخيلي نه کوله، چې هغه ما د پخوا په شان خپل باداربولي، بلکې له لويه سره ما دا عادت نه درلود او هېڅکله مې د چا له شتمنۍ او څوکۍ سره بخيلي نه ده کړې.

کله چې زه ګورم يو کس ډېر کبرجن او ځان غوښتونکی دی او په ډېرو کمزورو او بې اساسه شيانو غرور کوي، نو هڅه نه کووم، چې هغه اصلاح کړم او ورته ووايم چې بايد په داسې شيانو پورې زړه ونه تړل شي چې اساس او بنسټ نه لري.

ځکه چې پوهېږم حقيقت داسې تريخ دی، چې کله خو د يوه اورېدونکي لپاره د يو کس تر وژلو هم سخت وي او وګړي کولای شي يو عمر له هغو چټي خيالونو سره هم ځان خوشال وساتي، چې دی راضي کوي او د غرور احساس پکې پياوړی کوي، خو له حقيقت سره يوه شېبه هم ژوند نه شي کولای.

په هغو کلونو کې چې هورم هب په مصر کې حکومت کاوه، زه په طبس کې د ناروغانو په معالجې او د جمجمې او کوپړيو په سوري کولو بوخت وم.

له دې کبله چې يو شمېر هغه کسان، چې ما يې سرونه ورسوري کړي ول، معالجه شوي ول، نو له لرې ځايونو هم ناروغان راته راتلل چې درملنه يې وکړم.

له څو کلونو طبابت وروسته چې پکې خوشالوم، يو ځل بيا پوه شوم چې د چاپېريال حالت مې خوروي او خپه کوي.

کاپتا ته مې وويل، ستا دغه اشرافي ژوند او خوراک څښاک مې نور نه خوښېږي او ترې کرکه کووم.

کاهنانو ته مې هم د ډېرو خوړو ،شرابو او عياشۍ له امله سپکې سپورې ويلې.

يوه شي چې ډېر ځورولم دا و ،چې هورم هب خپلو عسکرو ته له حده زياته ازادي

ورکړې وه او هغوی چې بل کار نه درلود له سهاره تر بېګا پورې به په میخانو کې او له شپې تر سهاره به په فاحشه خانو کې ول.

څرنګه چې عسکر له چا څخه نه وېرېدل نو د طبس په واټونو کې به یې د خلکو نجونو او مېرمنو ته ستونزې پېښولې، په زور به یې هغوی فاحشه خانو او د نیل د غاړې شراب خانو ته بېولې او تفریح به یې ورسره کوله.

که به چا د هورم هب له یوه عسکره شکایت کاوه او ویل به یې چې دغه عسکر په زور دده له مېرمنې یا لور سره څملاستلی دی، هورم هب به ویل خوشحاله اوسه چې زما عسکر ستا له مېرمنې یا لور سره تفریح کړې ده، ځکه چې ستا یو زوی به زیات شي او زه په مصر کې د سپاهیانو لپاره ډېرو کسانو ته اړتیا لرم.

هغه ځواب چې هورم هب به معترضینو ته ورکاوه له دې امله و، چې هغه له ښځو کرکه کوله، ځکه مخکې مې وویل چې شهزادګۍ باکتامون له هغه څخه ډول غچ واخیست.

له هغه وروسته هورم هب نه شو کولای ښځه وزغمي او له ټولو ښځو سره یې دښمني او کینه درلوده.

خو ما ته د زغملو نه و، چې د هورم هب یو عسکر ددې لپاره چې یوه ورځ په سوریه کې د هاتي له عسکرو سره جنګېدلی دی، دغسې جنایتونه وکړي، خلک ژوبل کړي او یا پر ښځو تېري وکړي.

هغوی به له سوداګرو قلنګ غوښت او که کوم سوداګر به ډېره کوله پر هغه به یې حمله کوله، دوکان به یې ورووران کړ او شیان به یې لوټ کړل.

ما به په ښکاره ویل چې عسکر ددې لپاره پیدا شوي، چې له بهرني دښمن سره وجنګېږي او هغه عسکر چې په هېواد کې دننه پر خپلو هېوادوالو تېری کوي. له طاعونه هم خطرناک دي

هر قوماندان چې د دغسې عسکرو ملاتړ کوي، باید له منځه لاړ شي، حتی که هغه د مصر فرعون هم وي.

دغه نیوکې به مې په لوړ غږ کولې او له چا څخه نه وېرېدم.

عسکرو به اورېدلې خو جرائت یې نه شو کولای، چې پر ما حمله وکړي، ځکه پوهېدل چې زه بېوزله کسان معالجه کووم. نو پر هغوی ګران یم او دغه راز پوهېدل چې د هورم هب نږدې ملګری هم یم.

شپږ پنځوسم څپرکی

څه ډول هورم هب له مصره جلاوطن کړم

کله چې پسرلی شو د نیل اوبه ښکته شوې او تو تکیو الوتونه پیل کړل.
یوه ورځ د هورم هب یو شمېر عسکرو زما پر کور حمله وکړه او بېوزله ناروغان یې چې هلته د معالجې لپاره راغلي ول، له کوره را وایستل او زه یې هورم هب ته بوتلم.
له څو کلونو راهیسې مې هورم هب نه و لیدلی او پر دې ورځ چې مې هغه ولید پوه شوم چې بوډا شوی دی او په مخ کې یې ګونځې پیدا شوې دي، څټ یې ډډ شوی او ملا یې تر یوه حده کږه شوې وه.
کله چې هورم هب ولیدم ویې ویل: سینوهه! ما څو ځله اخطار درکړی، چې ځینې خبرې مه کوه خو تا زما ګواښونو ته توجه ونه کړه او پر ما ملنډې وهې.
ته په مصر کې خلکو ته وایې چې عسکري تر ټولو ټیټ او رزیل کار دی او که یو ماشوم د مور په نس کې مړ شي، تر دې ډېر ښه دی، چې نړۍ ته سترګې رنې کړې او بیا عسکر شي.
له دې سره سره چې ته پوهېږې زه غواړم، د مصر نفوس ډېر شي او زه وکړای شم د پوځ لپاره ډېر کسان وګمارم.
خو ته بیا هم وایې چې د هرې کورنۍ لپاره دوه یا درې بچیان بس دي، که هره ښځه او مېړه په دوو یا دریو بچیانو اکتفا وکړي او هغوی سم وروزي، تر دې به ډېره ښه وي، چې لس بچیان ولري خو زامن یې جوالیان یا عسکر شي او پخپله مېړه او خاوند له لوږې مړه شي.
ته وایې چې د مصر ټول خدایان یو شان دي، یو له بله غوره نه دي او په ټولو معبدونو کې ټنبل او خېټور کاهنان ناست دي.

ته خلکو ته وایې چې یو کس حق نه لري، حتی بل کس وپېږي او مریې یې کړي

دغه راز ته وایې، په ټول مصر کې، چې هر کروندګر په کومه ځمکه چې کار کوي او قولبه پکې کوي، باید ددې ځمکې خاوند هم وي، حتی که دغه ځمکه د مصر د فرعون هورم هب هم وي.

تا خلکو ته ویلي، چې زما پاچاهي د هاتي له پاچاهۍ سره توپیر نه لري. ځکه همغه ډول چې هاتي خلک وژني او په زور د خلکو له نجونو او مېرمنو سره تفریح کوي، زما عسکر هم مصریان وژني او د مصریانو پر لوڼو او مېرمنو تېري کوي. دغه ټولې خبرې زما جاسوسانو راته کړې دي، خو تر اوسه مې ستا پر خلاف اقدام نه دی کړی، ځکه چې ته مې پخوانی ملګری یې.

تر هغه وخته چې آمي ژوندی و، ما تاته اړتیا درلوده، چې د ضرورت پر وخت شهادت ورکړې، چې آمي څه ډول کارونه کړي دي؟

خو له دې وروسته چې آمي مړ شو، زه تاته اړتیا نه لرم او نور دې ماته ګټه نه رسېږي، بلکې په هغو شیانو چې ته خبر یې، ښایي ماته ستونزې پیدا کړي.

که تا خپله خوله بنده ساتلې وای او زما په عسکرو او حکومت پسې دې سپکې سپورې نه وای ویلې، د عمر ترپایه دې په دې هیواد کې ژوند کولی شو.

ته یو ډاکټر یې، د ناروغانو د معالجې په فیس دې خپل ژوند کولای شو، خو سینوهه! ته په کرار نه شې پاتې کېدای او داسې ښکاري چې مجبور یې تل په ما او زما په عسکرو پسې سپکې سپورې ووایې.

زه نور نه شم کولای چې تر دې زیات د خپل حکومت پر خلاف له تا څخه څه واورم. له دې خبرې وروسته هورم هب په قهر شو او څو ځله یې پر خپله متروکه باندې خپلې پښې ووهلې او ویې ویل: سینوهه! ته نن د ځمکې د چینجي په شان یې چې زما په باغ کې ځمکه خرابوي او د بوټو د ودې مخه نیسي.

ته نن د هغه غوړ مچ په شان یې چې زما پر اوږو کېني او ما ځوروي. ته نن هغه بوټي ته ورته یې چې زما په باغ کې ټوکېدلی وي، خو د ګل یا مېوې پر ځای اغزي کوي او زه به دغه مضر بوټی له ریښې وباسم او لرې به یې ګوزار کړم.

اوس د پسرلي موسم دی، تو تکی الوت کوي، په هوا کې سندرې وایي، زاڼې خپلې مښوکې سره موښي او د اکاسي ونې ګلان کوي.

د پسرلي موسم د څناورو او ځوانانو لپاره د هیجان او مستۍ موسم دی، ځکه چې په دې موسم کې د طبیعت غوښتنه دا وي، چې هر شی له یو بل سره مینه وکړي.
خو ستا په شان بوډا ګان نور نه شي کولای، چې عشق او مینه وکړي. ستا په شان بوډاګان چې نور مینه او عشق نه شي کولای په پسرلي کې د هغه ځواک له امله، چې ترلاسه کوي یې په خبرو راځي او اوتې بوتې وايي.
زه تصور کووم چې ستا دغه بې ځایه خبرې د دې سبب شوې، چې ځینې کسان په معبدونو کې زما انځورونو ته چیکرې ور وشیندي او په یوه معبد کې یې زما د مجسمې غوږونه او پوزه مات کړي دي.
له همدې امله مجبور یم چې تا له مصره جلا وطن کړم، ځکه که ته په مصر کې پاتې شې، ما به دومره په قهر کړې، چې بې واکه به شم او ښايي تا ووژنم.
خو زه نه غواړم چې زما په امر مړ شې، ځکه چې زما د ځوانۍ یوازینی ملګری یې، چې لا ژوندی پاتې یې.
سینوهه ! زه دې له مصره جلا وطن کووم او تر هغه وخته، چې زه د مصر فرعون یم، ته مصر ته نه شې راستنېدای او هېڅکله به د طبس ښېره ونه ګورې.
ستا خبرې د اور هغه لمبې دي، چې د وچو وښو په یوه ورشو کې بل شي او په یوه ځل تول وسوځوي.
کله چې اور بل شو، بیا د دې وچو وښو د اور خاموشه کول، ناممکنه شي او زه پوه شوم چې ځینې وخت خبرې تر نېزې خطرناکې وي.
هغه کسان چې خطرناکې خبرې کوي باید له منځه یووړل شي له همدې امله د هاتي د هېواد او سېدونکي کوډګر په سیخانو کې ورکوي، ځکه چې پوهېږي دغه کسان پخپلو خبرو سره فتنې پیدا کوي.
زه نه غواړم چې مصر ستا د فتنو له امله له خدایانو سره په یوه بل جنګ کې ښکېل شي.
سینوهه ! له همدې امله تا له دې ښاره جلاوطن کووم، ځکه چې ته که څه هم لېونی نه یې، خو عادي سړی نه یې او داسې ښکاري، چې له دې نړۍ لرې په یوه بله نړۍ کې ژوند کوې.
ښايي هورم هب سمه خبره کوله، زه به عادي سړی نه وم او ښايي له دې امله عادي نه

ښکارېدم، چې د مصر د خدایانو یانې د فرعون او د میتاني د هېواد د شهزادګۍ وینه زما په رګونو کې وه.

له دې سره سره کله چې ما د هورم هب خبرې واورېدې ومې خندل او هورم هب په دې خندا سره نور هم غوسه شو، پخپله متروکه یې خپلې پونډی ووهلې او ویې ویل، سینوهه! د خدایانو شکر وکړه، چې ته زما پخوانی ملګری یې، ګني وژلې مې.

زما او ستا تر منځ د اوږدې مودې دوستي ما له دې کاره منع کوي چې تا ختم کړم، خو حتماً به دې تبعید کړم او اجازه نه ورکووم، چې له مړینې وروسته ستا مړی بیرته مصر ته راستون کړي، خو له مړینې مخکې ویلی شې، چې ستا مړی مومیایي کړي او همغلته چې ژوند کوې هلته یې ښخ کړي.

هغه ځای چې ما ستا د جلاوطنۍ لپاره په نظر کې نیولی دی، د ختیځ سمندر په څنډه کې دی. (هدف د سور سمندر څنډه ده. ژباړن) دا هغه ځای دی چې ببرې ترې هندوستان ته ځي. زه دې سوریې ته نه شم تبعیدولای، ځکه چې په سوریه کې د پخواني اور ځینې سکروټې پاتې دي، چې تر ایرو لاندې ښخې شوې دي. په سوریه کې ستا شتون ښایي دد دې سبب شي، چې د غه ایرې له سکروټو لرې شي او یو ځل بیا د اور لمبې بلې کړي. زه نه شم کولای تا د مصر په جنوب کې د کوش تاټوبي ته واستوم. ځکه که ته هلته لاړې، تورپوستو ته به وایې چې د ځمکې ټول انسانان یو شان دي او سپین پر تور ښه والی او غوره والی نه لري، نو تورپوستي چې له نسله کم عقل او ساده ګان دي، ستا د غه خبرې به ومني او ممکنه ده بلوا وکړي.

خو د ختیځ هغه ساحل چې زه به تا هلته جلا وطن کووم څوک پکې نه اوسي او که ته څو مره خبرې هم وکړې، له سرو ډبرو، کارغانو او مارانو پرته به نور اورېدونکي و نه لرې.

زه ډاډه یم چې هغوی د مصر د حکومت لپاره ستونزې نه پیدا کوي او هلته به زه ستا د اوسېدو د ځای شا و خوا سپاهیان وګمارم او هغوی به دنده لري، چې تا پرې نږدي له دې سیمې څخه ووځې او که وتښتې وبه دې وژني.

زه پوهېږم ته له طبس سره مینه لرې، او له طبسه ستا بېلتون او له خلکو خالي سیمې ته ستا استول یوه لویه سزا ده.

زه به دې د خوراک و څښاک له پلوه په تنګسیا کې رانه ولم او ډاډ درکووم چې هلته به یو کور ولرې، په دې کور کې به پر یوه نرمه بستره وید هېږې، پر یمانه ډوډۍ به خورې او

هرڅه چې وغواړې ستا لپاره به چمتو وي خو په دې شرط چې هوښيار واوسې.
هلته به پر تا يوازې يو بنديز وي او هغه دا چې له هغې محدودې نه شې وتلی چې ستا لپاره په نظر کې نيول شوې وي.
زه له جلاوطنۍ څخه نه ډارېدم، ځکه چې په ژوند کې ډېر خله، يوازې وم. خو همغه ډول چې هورم هب وويل، له طبس سره مې مينه وه. چې فکر مې وکړ نور به د مصر خاوره ونه وينم، د نيل او به به ونه څښم او د طبس بوی به احساس نه کړم، نو ډېر خپه شوم.
هورم هب ته مې وويل: زه په دې ښار کې ډېر ملګري نه لرم، ځکه چې خلک زما له خولې وېرېږي او له ما څخه ځان ساتي، خو په بېوزلو کسانو کې ځو ملګري لرم او زړه مې غواړي چې د وروستي ځل لپاره يې ووينم او له هغوی سره خدای پاماني وکړم.
بله دا چې غواړم په طبس کې لږ وګرځم او په دې پسرلني هوا کې د قوچانو په واټ کې د ونو د غوټيو او د معبدونو په انګړ کې د معبدونو د سپاندو له بويونو خوند واخلم.
د شپې په پيلېدا سره د بېوزلو له سيمې تېر شم، له هغه ځايه چې زما کور پکې دی، چې د هغو کبانو بوی احساس کړم، چې هغوی يې د خپلو کورنو په مخکې سره کوي.
هورم هبه! ته نه پوهېږې، هغو مېرمنو ته کتل چې ماښام د خپلو کورنو په مخکې خواړه پخوي، د هغو نارينه وو ننداره چې له کاره ستړې راستنېږي او د هغو ماشومانو ليدل چې د ماښامنۍ په تمه د کورونو په مخکې لوبې کوي ماته څومره خوند راکوي.
تصور نه کووم چې بل څوک دې له دغو منظرو څخه دومره خوند واخلي لکه چې زه يې اخلم، هېڅوک به زما په شان د لمر لوېدو په وخت کې د طبس په کوڅو او واټونو کې له ګرځېدا څخه خوند نه اخلي.
که ما دغه کلېمې په عاجزانه ډول ويلې وای او له هورم هب مې غوښتي وای، چې ماته څو ورځې وخت راکړي، چې له طبس سره خدای پاماني وکړم، هغه به زما غوښتنه منلې وای.
خو ما له عاجزۍ او زارۍ پرته له هغه سره، داسې خبرې کولې، لکه چې څوک يې له خپل سيال سره کوي او له هورم هب څخه مې يوه غوښتنه وکړه.
دغه کار مې ددې لپاره وکړ، چې پوهېدم بايد علم د قدرت پر وړاندې سر ټيټ نه کړي او له همدې امله فرعون زما غوښتنه ونه منله ده وويل: زه يو عسکر يم او په کارونو کې له ځنډ او احساساتو کرکه کووم، نو امر کووم چې همدا اوس په روان تخت کې تا له طبسه

وباسي.

که ستا کوم خپل او ملګری غواړي، له تا سره مسافرت وکړي، زه به ورسره موافقه وکړم، خو په دې شرط چې هغه به هم نور مصر ته نه راځي، بايد له تاسره پاتې شي او حتى ستا له مرګه وروسته هم بايد بيرته راستون نه شي.

زه پوهېږم که هغه هر څوک وي، کله چې له تا سره ناسته پاسته وکړي، ستا خبرې به پرې اغېز وکړي او ستا له مرګه وروسته هم چې مصر ته راستون شي، ستا خطرناک افکار به خپاره کړي ځکه چې خطرناک فکرونه له طاعون څخه هم ژر خپرېږي.

ستا د ملګرو په هکله چې ودې ويل د ببوزلو له پرګنې څخه دي، بايد ووايم، چې يو کس پکې ستا مربي دی چې د ژرندې د بره يې ګرځوله.بل يو انځور ګر دی، چې تل نشه وي او د خدايانو عکسونه انځوروي او دوه تنه نور هم تورپوستي دي.

دغه څلور واړه په دې تور چې ستا د فکرونو تر اغېز لاندې ول، اوس په يوه اوږده سفر تللي چې له هغه ځايه راستنېدل ناممکن دي.

کله چې مې له هورم هبه دغه خبره واورېده، پر ځان مې لعنت ووايه، ځکه چې يو ځل بيا يو شمېر بېګناه کسانو، ته په دې تور سزا ورکړل شوې ده، چې زما ملګري ول او له ابدي بدبختۍ سره مخامخ شوي دي.

له هغه وروسته بې له دې چې هورم هب ته رکوع وکړم، غوښتل مې چې له هغه ځايه ووځم، هورم هب ددې لپاره چې وښيي له ما سره بله خبره او کار نه لري، د مصر د سترو فرعونيانو په تقليد يې وويل:((د فرعون خبرې خلاصې شوې))

د هورم هب عسکرو په يوه روان تخت کې کېنولم، چې يردې پرې راځوړندې وې او د ختيځ پر لور يې روان کړم.

شل شپې او شل ورځې مو پر هغه لار سفر وکړ، چې هورم هب د ختيځ پر لور کښلې وه، تر دې چې يوه بندر ته ورسېدو، چې له هغه ځايه بېړۍ د هندوستان پر لوري تللې.

خو په دې بندر کې کلی هم و، خو د هورم هب عسکر هلته ايسار نه شول او زه يې له بندره هم لرې کړم.

له درې ورځو وروسته يو بل ځای ته ورسېدو، چې پخوا پکې کوم کلی و، خو کروندګرو دغه کلی پرې ايښی و او څوک پکې نه تر ستر ګو کېدل.

په دې ځای کې يې زما لپاره يو ځای وټاکه چې ژوند پکې وکړم، بيا يې په دې سيمه

کې را ته کور جوړ کړ او له هغه وخته په دې کور کې د ژوند نوی پړاو پیل شو.

زه هېڅکله په دې کور کې په تنګسیا کې نه وم او هره اړتیا مې پوره کېدله، خوراک، څښاک او جامې ټولې را رسېدلې او حتی د لیکلو وسایل یې هم راته برابر کړي ول.

ما څو کاله په دې ځای کې تېر کړل، د طب په اړه مې څو کتابونه ولیکل او د هر کتاب له خلاصېدا وروسته به مې په یوه صندوق کې اېښودل.

خو دغه کتاب تر ټولو وروستی کتاب دی، چې ما ولیکه، ځکه خو مې هغه د خپل ژوند او برخلیک په اړه لیکلی دی. که د دې کتاب له لیکولو وروسته ژوندی پاتې شوم، نور به کوم شی ونه لیکم، ځکه چې سترګې مې ډېرې کمزورې شوې او نور مې سترګې پر پاپیروس د قلم حرکت نه شي لیدلای. ما د دې لپاره د خپل ژوند خاطرې په دې کتاب کې ولیکلې چې وکړای شم د ژوند ټولې پېښې له هغې ورځې چې ځان مې پېژندلی دی، تر ننه پورې را پر زړه کړم او دغه راز پوه شم چې ولې مې ژوند کړی دی.

خو اوس چې زما ژوند لیک پای ته ورسېد نه پوهېږم چې ولې مې ژوند وکړ او له ژونده زما موخه څه وه؟

په ځوانۍ کې مې فکر کاوه، د دې لپاره ژوندی یم، چې بوډا شم او اوس چې بوډا شوی یم حیران یم چې دا څه ډول هیله وه، چې ما په ځوانۍ کې درلوده، ایا بوډاتوب ته رسېدل هغه هیله ده چې د ژوندي پاتې کېدا ارزښت ولري.

زه هره ورځ سمندر ته ګورم، کله د شا و خوا سور رنګه غرونو انځور په سمندر کې لوېږي او هغه تک سور کړي او کله توپان شي، د سمندر اوبه تکې تورې شي او د شپې مهال سمندر تک سپین وینم.

په کومو ورځو کې چې هوا توپاني نه وي، د سمندر شین رنګ د هغه له شنو ډېرو زیات وي، خو زه د سمندر له کتلو ستومانه شوی یم، سمندر دومره لوی او وېرونکی دی، چې انسان د عمر تر پایه د سمندر په کتلو ځان بوخت نه شي ساتلی.

زه د ختیځ سمندر (*هدف سور سمندر دی ژباړن*) په څنډو کې له لړمانو او مارانو سره دومره کېناستم، چې نور هغوی له ما څخه نه وېرېدل، خو له هغو سره ملګرتیا ته هم لېوال نه یم، ځکه که هغوی زما ملګري هم شي جاهل او ناپوه دوستان به وي، چې خپل نېښ به زما په بدن کې ننباسي.

تر دې یو کال وروسته چې زه یې له طبسه تبعید کړم. کله چې له طبسه د هندوستان کاروان روانېده، چې د ختیځ سمندر ساحل ته ورسېږي، نو زما نوکره موتي هم چې په طبس کې وه له دغه کاروان سره راغله او له ما سره یو ځای شوه.

کله چې موتي زه ولیدم لاسونه یې پر ځنګنو کېښودل او رکوع یې وکړه.

کله چې یې ولیدم. زه ډېر نګر شوی یم او خېټه مې ننوتلې ښکاري، ویې ژړل

ما ورته وویل موتي! ولې ژاړې؟

موتي وویل، له دې امله ژاړم چې په دې موده کې تا څوک نه درلودل، چې خوندوره ډوډۍ درته پخه کړي. ځکه ډېر ډنګر شوی یې.

ومې ویل موتي! زما ژوند هغه پړاو ته رسېدلی، چې چاغي او ډنګرتوب راته اهمیت نه لري.

موتي وویل: سینوهه! ایا په وار وار مې درته نه دي ویلي، چې خپل خوی سم کړه او د خپلې ژبې مخه ونیسه

زه نه پوهېږم چې نارینه ولې داسې دي، چې خبره پرې هېڅ اغېز نه کوي، که څه هم پوهېږي، هر څوک چې سر پر دېوال ووهي سر یې ماتېږي، خو بیا هم همدا کار کوي.

خو سینوهه! اوس ته په داسې عمر کې یې چې باید هوښیار شوی وای او نور باید د هغه کوچني غرې له وېرې او وسوسو څخه ځان وساتې چې زموږ په ګوګل کې دي او د نړۍ ټولې بدبختۍ له هغه دي.

ومې ویل، موتي! تا غلطي کړې، چې له طبسه راوتلې یې او دلته راغلې، ځکه چې زه رټل شوی کس یم او د هورم هب له عسکرو پرته هر څوک چې دلته له ما سره ژوند وکړي، باید د عمر تر پایه دلته پاتې شي.

هغوی بیا مصر ته نه شي ستنېدای، ځکه چې هورم هب پر دې سربېره، چې مصر ته زما د تګ مخه نیسي، بلکې هغه کس هم طبس او مصر ته نه ورپرېږدي چې دلته یې له ما سره ژوند کړی وي.

موتي وویل، سینوهه! زه باوري یم، دغه چلند چې له تا سره وشو، ستا په ګټه و، ځکه چې فرعون هورم هب ته یوه ارام او لرې ځای ته را واستولې، چې خپل بوډاتوب دلته تېر کړې.

زه هم د طبس او د ګاونډیانو له شور ماشوره په تنګ شوې وم، تل به یې زما د پخلنځي شیان په پور وړل او بیرته به یې نه راکول.

کله چې به ما ورته یادونه وکړه، چې هغه شیان بیرته راکړي، غوسه به شول او ویل به یې مورږ خو غله نه یو، چې فکر کوې ستا دیګی او یا کتوه به مو پټه کړې وي.

زه په طبس کې مجبوره وم چې په ورځ کې دوه ځله، د کور مخه جارو کړم خو بیا به هم د کور مخه پاکه نه وه، ځکه چې ګاونډیان تل د کور ګند او دېران په کوڅه کې اچوي، څومره ناري چې به مې کولې چا نه اورېدلې.

بله خبره دا چې په طبس کې زمورږ کور ډېر کوشنی و او مورږ هلته سبزیانې نه شوای کرلی، خو دغه ځای د سبزیانو د کرلو لپاره ډېره ځمکه لري، په تېره بیا دا چې ستا پالک ډېر خوښېږي او زه به یې دلته وکرم.

دغه تنبل او بې کاره عسکر، چې فرعون ستا د ساتنې لپاره ګمارلي دي، دوی به اړ کړم، چې سبزیانې وکري او بیدیا ته د ښکار کولو لپاره لاړ شي، په سمندر کې کبان ونیسي.

سره له دې چې زه فکر نه کووم، چې د سمندر د تروو اوبو کبان دې د سیند د خوږو اوبو په شان خوندور وي.

بله دا چې غواړم، دلته یو ځای د خپل قبر لپاره پیدا کړم او یو قبر پکې جوړ کړم، چې له مرګه وروسته، پکې دمه شم، ځکه چې ډېره ستړې یم.

ما هېڅکله له طبسه د باندې ګام نه و ایښی، اوس پوهېږم چې سفر کول ډېر سخت دی او نه غواړم، چې له مرګ وروسته مې هم وکړوي او د ښخولو لپاره مې طبس ته یوسي.

په دې ډول موتي هم له ما سره مېشته شوه او له هغه وروسته یې زما پالنه کوله.

زه تصور کووم دا چې د عمر په پای کې اسوده شوم او بریالی شوم چې دغه کتاب ولیکم، د موتي له برکته و، ځکه چې ډېر ښه یې ساتلم او هڅه یې کوله، چې د ژوند په هېڅ برخه کې ستونزه ونه لرم.

موتي په دې خوشحاله وه، چې زما لپاره د لیکلو په وسیله یوه بوختیا پیدا شوې وه او په دې ډول مې چتې فکرونه نه کول. خو په دې پوهېدم چې په زړه کې دغو لیکنو ته توجه نه کوي او هغه بې ګټې کار بولي.

موتي زما لپاره خوندور خواړه پاخه کړل او لکه چې دې ویلي و، سپاهیان یې اړ کړل، چې ځمکه واړوي، تخم پکې وکري، بیدیا ته ولاړ شي او ښکار وکړي او یا په سمندر کې کبان ونیسي.

عسکرو له یو کال راهیسې یوازې خوړلې او ویده شوي ول، کله چې اوس کار کولو ته

مجبور شول، د پرغوسه ول، خو جرائت یې نه شو کولای چې څه ووایي، ځکه چې د موتي ژبه د سخوندر تر ښکرو تېره وه.

موتي به هغوی ته سپکې سپورې ویلې او کله کله به یې پخپل سبک د ځینو کیسو په کولو سره عسکر خندول.

خو ورو ورو عسکر خوشحال شول، ځکه چې پوه شول ښکار کول ورته ښه دي او له وزګارتیا یې ژغوري.

له هغه وروسته به په شوق ښکار ته تلل او ډول ډول سبزیانو او د کبانو ښکار د هغوی خواړه هم ښه کړل او موتي د خوندورو خوړو پخول هم ورزده کړل.

هر کال چې به له طبسه د هندوستان پر لور کاروان راته، کاپتا به مور ته په خرو بار ډالۍ، سره و سپین را استول او د طبس خبرونه به یې هم راکول چې هلته څه تېرېږي.

هغه به دغه پېښې په کاتبانو لیکلې او ماته به یې را استولې، په دې ډول زه د طبس له حالاتو بې خبره نه وم او پوهېدم چې هلته څه تېرېږي.

هغه عسکر چې پر ما یې پیره کوله په هغه ځای کې له ژوند کولو سره روږدي شول او له ژونده راضي ول، ویل به یې که زه مړ شوم بیا به هم طبس ته ستانه نه شي، ځکه چې دلته نېکمرغه دي او هېڅ ستونزه نه لري.

سپاهیانو په هغو ډالیو چې ماورکړې وې، د ځان لپاره غواګانې او پسونه اخیستي ول او د مالداري په وسیله یې ژوند چلاوه.

زه نور له لیکلو ستړی شوی وم، ځکه چې سترګو مې څه نه لیدل، یوځل خو د موتي پیشو زما پر زنګنو ناسته وه، حیران شوم، چې څنګه ما ونه لیدله.

زما روح له هغه څه ستړی شو چې ما یې کیسه وکړه او نور پوهېدم چې بدن مې ابدي استراحت ته اړتیا لري.

زه اوس نېکمرغه سړی نه یم، خو په دې ګوتې او یوازېتوب کې ځان بدبخته هم نه بولم.

زه خوشحال یم چې پاپیروس او قلم شته، ځکه که دغه دوه شیان نه وای، ما به د دې وس نه درلود چې خپل ماشومتوب او ځواني را پر زړه کړم.

په خیالي دنیا کې یو ځل بیا له مینا سره یو ځای د بابل په کوڅو کې وګرځېږم او د مریت له مهربانۍ ډک وجود پخپله خوا کې احساس کړم.

ددې وس به مې نه درلود، چې د هغو کسانو پر ناخوالو وژاړم چې په طبس کې وږي دي

او خپل غنم وربو کسانو ته ورکړم.

زه پوهېږم چې زما له مرګه وروسته به ساتونکي، د هورم هب له حکم سره سم، زما ټولې لیکنې له منځه یوسي او دغه کور به هم وران کړي، ځکه وېرېدل، چې ما پر د هوالونو کوم شی نه وي لیکلی.

خوموتي ددې کتاب پنځلسو ټوکونو ته له لوخو څخه پنځلس کلک پوښونه جوړ کړل.

زه به هر ټوک په یو پوښ کې کېږدم او بیا به پنځلس واړه ټوکونه د سپینو زرو په یوه صندوق کې وساتم.

دغه کوچنی صندوق به د سدر ونې له لرګیو څخه جوړ په یوه بل صندوق کېږدم، بیا به دغه لرګین صندوق په یوه مسي صندوق کې واچوم او موتي به زما له مرګه وروسته دغه صندوق له ما سره په قبر کې کېږدي.

هغې ډاډ راکړی، چې ساتونکي به غلط کړي او صندوق به زما په قبر کې کېږدي.

له دې کبله چې زه یو انسان یم ،نو په هر هغه انسان کې ژوندی وم چې تر ما مخکې یې ژوند کړی او په هر هغه انسان کې به ژوندی یم، چې له ما وروسته دې نړۍ ته راځي.

زه یو انسان یم او له دې وروسته به د راتلونکو انسانانو په خوښیو ،غمونو ، خنداګانو ،ژړاګانو ، ښیګڼو ،بدیو او د هغوی په کمزورتیا وو او ځواکونو کې ژوندی یم

هغه انسان چې له ما څخه زرګونه کاله وروسته هم دې نړۍ ته راځي، زما په شان به وي او هېڅ تو پیر راسره نه لري، ځکه چې هغه به هم زما په شان ژاړي،خاندي او زما په شان به جنایت کوي یا به احسان کوي.

هغه به هم حرص لري او د یوې یا څو ښځو له لوري به غولول کېږي، له خوندرو بویونو به خوند اخلي او د موسیقۍ غږ به یې احساساتي کوي.

ښايي کلونه میاشتې او ورځې به غمجن وي، دوستان به ورسره خیانت کوي او له خپلو دوستانو سره به خیانت کوي.

خپله شتمني به د قمار او کمسايي له لارې ضایع کوي، زما په شان به د هوالیه کېږي او دعمر په پای کې به په یوه ګوښه ځای کې، یا د کورنۍ له غړیو سره یو ځای مړ کېږي.

له همدې لامله زه په دې خواشینی نه یم، چې دغه کتاب له منځه لاړ شي، فرضاً که دغه کتاب له منځه لاړ هم شي، نو زه به په راتلونکیو انسانانو کې ژوندی یم.

دا د مصري ډاکټر وروستۍ خبره وه، چې فکر یې کاوه ټول عمر یوازې دی.

د فرعون د مخصوص ډاکتر
(سینوهه) د کتاب پای

له دې وروسته د سینوهه د کتاب بشپړه سریزه راځي کله چې د دې کتاب ژباړه پیل شوه، سریزه په سر کې په لنډیز سره راغله، چې لوستونکي ګومان ونه کړي، چې یو اخلاقي کتاب او یا د فولکلور یو کتاب لولي. زه لوستونکو ته ډاډ ورکووم، چې د کتاب له اصلي متنه حتی یوه کلمه هم نه ده غورځېدلې او دغه کتاب نه یوازې جمله پر جمله، بلکې کلمه پر کلمه ژباړل شوی دی. او س چې کتاب پای ته رسېدلی دی او لوستوونکي د دې ارزښتناک کتاب په تاریخي او لرغوني اهمیت پوه شول، غوره ده د سینوهه د کتاب بشپړه سریزه هم دلته وژباړو، د دې لپاره چې د اصلي ژباړونکي او لیکوال پر هویت نور هم پوه شئ.

د مصري ډاکټر د کتاب بشپړه سريزه

زه سینوهه د(سن موت) او د هغه د مېرمنې (کیپا) زوی دغه کتاب لیکم.

زه دغه کتاب ددې لپاره نه لیکم چې د مصر د خدایانو ستاینه وکړم، بلکې ددې لپاره يې لیکم چې له خدایانو تنګ شوی یم.

دغه کتاب ددې لپاره نه لیکم چې د مصر فرعون وستایم، بلکې غواړم دا روښانه کړم، چې د مصر د فرعونیانو له اعمالو څخه کړېدلی یم.

زه دغه کتاب د مصر پاچاهانو او یا خدایانو ته دغوړه مالۍ لپاره نه لیکم.

هغه څه چې زه يې ددې کتاب لیکلو ته اړ کړم له راتلونکي وخت څخه وېره او یا هیله مندي نه ده.

ما پخپل عمر کې دومره ترخې ورځې شپې لیدلې او له دومره مصیبتونو سره مخامخ شوی یم، چې نور له خیالي شیانو او نامعلوم راتلونکي څخه وېره نه لرم.

زه لکه څنګه، چې له خدایانو او پاچاهانو څخه تنګ شوی یم هماغسې د ځان له شهرته هم ستړی یم.

زه دغه کتاب د ځان لپاره لیکم او له همدې کبله فکر کوم چې له ټولو مخکنیو او راتلونکو لیکوالو سره توپیر لرم، ځکه هر هغه شی چې پخوانیو لیکوالو لیکلي، یا د خدایانو د ستاینې یا خوښۍ لپاره ول او یا هم د پاچاهانو او نورو انسانانو د راضي کولو لپاره.

زه فرعونیان هم د انسانانو په شان ګڼم، ځکه چې هغوی له موږ سره توپیر نه لري او که هغوی زرګونه ځله خدایان وبولو، بیا هم پاچاهان زموږ په شان دي، هغوی هم مینه او دښمني لري او زموږ په شان هیله او نهیلۍ لري.

که څه هم هغوی دا توان لري، چې خپله کینه ختمه کړي او کله چې وېرېږي، نود

ډار د ختمولو لپاره یوه چاره موندلی شي، خو د هغوی د غه زغم د دې سبب نه کېږي چې له کړاوونو او دردونو خوندي پاتې شي.

دوی هم زموږ په شان درد زغمي او د نورو انسانانو په شان له غمونو سره مخامخېږي.

هغه څه چې تر اوسه پورې په نړۍ کې لیکل شوي، یا د پاچاهانو د حکم پر اساس لیکل شوي، یا خدایانو ته د چاپلوسۍ په خاطر او یا هم د خلکو د غولولو لپاره لیکل شوي دي.

دغو کسانو غوښتل ، خلکو ته القا کړي، هغه څه چې دوی لیدلي سم نه دي او حقیقي پېښې له هغه څه سره توپیر لري چې دوی لیدلې دي.

دوی هڅه کړې خلکو ته وښيي، چې په پلانکۍ پېښه کې د پلانکي سړي رول ډېر کم و او یا پلانکی سړی هیڅ مهم نه دی، خو په دې پېښه کې یې ډېره ونډه درلوده.

زه یقین لرم او په جرئت سره وایم، له هغې ورځې چې دا نړۍ رامنځته شوې، ټول لیکل شوي شیان یا د دې لپاره ول، چې خدایان خوشحاله کړي او یا د انسانانو د رضایت لپاره لیکل شوي دي، هغوی که پاچاهان وي یا بل هرڅوک.

زه تصور کووم چې په راتلونکې کې به هم همداسې وي او که په راتلونکې کې څوک قلم ته لاس کړي، د دې لپاره به وي، چې خدایانو ته چاپلوسي او غوړه مالي وکړي، یا پاچاهان خوشحاله او راضي کړي او یا د بشر د یوې خاصې پرګنې زړه وساتي.

که دغه کسان یو ملت وي، یا یوه ټولنه او یا یوه خاصه پرګنه.

زه له دې امله دغه فکر کووم چې په راتلونکې کې هم ټول لیکوال د خدایانو او پاچاهانو د راضي کولو لپاره لیکوالي کوي او یا د بشر د یوې پرګنې د رضایت لپاره لیکنې کوي.

په دې ډول په دې دنیا کې نوی شی نه رامنځته کېږي، بلکې ټول شیان بیرته را ژوندي کېږي او هغه څه بیا ظهور کوي، چې مخکې موجود ول.

تر لمر لاندې انسان ښځې نه بدلېږي او یو لک کاله وروسته، چې کوم انسان پيدا کېږي، هغه به هم دننني هغه په څېر وي، خو ښايي وېښتان، جامې او د وېښتانو موډ او فېشن یې بدل شي.

د انسان یو شی هېڅکله نه بدلېږي او هغه دده حماقت دی.

که یو لک کاله وروسته کوم انسان پیدا شي، نو زموږ د وخت د انسان او هغو انسانانو په شان به احمق وي، چې تر موږ مخکې یې د هرمونو د جوړېدا په وخت کې ژوند کاوه.

بیا به هم انسان احمق وي او راتلونکی انسان هم په دروغو او تشو وعدو تېر باسلی شي، ځکه چې انسان د ژوند د دوام لپاره دروغو او چټي وعدو ته اړتیا لري او د هغه فطرت همدا غواړي، چې تل تر رښتیا پر دروغو ډېر باور وکړي او د واقعیت په پرتله پر تشو وعدو ډېر ایمان لري چې هېڅکله به عملي نه شي.

تر هغه چې انسان ژوندی دی احمق به وي او تشې وعدې او دروغ به یې غولوي.

په هر وخت او پړاو کې به د وخت له غوښتنو سره سم، هغه ته دروغ ویل کېږي او هغه به هم په شور او ولولې سره دغه دروغ او چټیات مني.

کله چې څوک ورته ووايي، دغه خبرې چې تا ته یې کوي، دروغ او چټیات دي، راشه چې زه درته حقیقت ووایم، نو غوسه به شي او دغه روښاندی به په دې تور ووژني چې خاین او ورانکاری دی.

په دروغو او چټي وعدو او هغه زېري باندې باور کول، چې هېڅکله به عملي نه شي، د انسان له ختې سره اخښل شوې ده.

انسان له حقیقي پېښو څخه، افسانې ته ډېره ترجیح ورکوي. د بېلګې په ډول یو کیسه ویونکی، چې خوله خلاصه کړي او کیسه پیل کړي، نو خلک پرې راټولېږي.

دوی ښه ګوري، چې دغه کس پخپله په کوڅه کې په خاورو کې ناست دی، خو دوی ته چې وايي خزانې به ومومي او شمتن به شې، نو خلک یې پر خبرو باور کوي.

خو زه ددې کتاب لیکوال سینوهه له دروغو څخه، هغه هم په دې وخت کې چې بوډا شوی یم، کرکه کووم او په دې کتاب کې به دروغ ونه لیکم.

که څوان وای او دغه کتاب مې په ځوانۍ کې لیکلی وای، ښایي ما هم د نورو لیکوالو په شان دروغ ویلي وای او داسې شیان به مې لیکلي وای، چې د خدایانو او پاچاهانو یا د یوې خاصې پرګنې خوښ شي.

خو په دې پړاو کې چې بوډا شوی یم او له خدایانو، پاچاهانو او نورو کسانو څخه نهیلی شوی یم، دروغو ته هېڅ لېوالتیا نه لرم او نه هم ورته اړتیا لرم.

له دې کبله، چې زه دغه کتاب د نورو لپاره نه لیکم. نو هېڅ نیت نه لرم، چې څوک پرې خوشحال کړم، دغه کتاب د ځان لپاره او د ځان د خوشحالۍ لپاره لیکم.

هغه څه چې زه یې په دې کتاب کې لیکم، داسې شیان دي، چې پر خپلو سترګو مې لیدلي او یا پرې پوهېږم چې حقیقت لري، حتی که مې په سترګو هم نه وي لیدلي.

له همدې امله زه له پخوانیو لیکوالو او هغو لیکوالو سره توپیر لرم، چې له دې وروسته راځي، ځکه چې پخواني او اوسني (له دې کبله چې په نړۍ کې هرڅه بدلېږي) تل، هغه شیان نه لیکي چې پر خپلو سترګو یېویني.

بده لا دا چې کله خو حقیقت هم تر پښو لاندې کړي او داسې شیان لیکي، چې د هغوی له شهرت سره مرسته وکړي.

هغه څوک چې یو شی لیکي یا په ډېرو کې خپلې لیکنې حک کوي هیله کوي. چې راتلونکي کسان به یې لیکنه ولولي، هغه ته به شاباسی ورکړي او د غوره کارونو ستاینه به یې وکړي.

خو په دې کتاب کې چې زه یې لیکم، داسې کوم شی نشته، چې په شاباسي و ارزي او هغه کارونه، چې ما کړي، د ستاینې وړ نه دي.

زه پوه او هوښیار سړی نه یم، چې نور له ما څخه درس او عبرت واخلي او ماشومان به هېڅکله هغه جملې، په ښوونځیو کې د خاروې پر لوحو ونه لیکي، چې خپل مشق ورسره ښه کړي او د هغه له مخې خپلې لیکنې ښې کړي.

دغه راز به بالغ کسان ددې لپاره چې په یوه مجلس کې ځان لوړ وښیي زما له جملو څخه به استفاده ونه کړي، ځکه زه هیله نه کووم، چې څوک دې زما کتاب

ولولي او زما نوم دې پر زړه کړي

فرضاً که زه یو پوه کس او د نظر خاوند وای او دغه هیله مې کولای چې راتلونکي کسان زما کتاب ولولي، بیا به هم زما پوهه او عقل د راتلونکو خلکو لپاره ګټه نه درلوده، ځکه چې انسان د پوهو کسانو د کتابونو په لوستلو نه اصلاح کېږي.

انسان دومره بې رحمه او شر غوښتونکی دی، چې د نیل سیند تمساح ګانې هم ترې مهربانه او با رحمه دي او چا ته یې د انسان په اندازه ازار نه رسېږي

د انسان زړه تر ډبرې هم کلک دی، هېڅکله به نرم نه شي او ناممکنه ده، چې یوه ورځ دې، د هغه کبر او ځان غوښتنه له منځه لاړه شي.

یو انسان له جامو سره په نیل سیند کې واچوه، چې ښایي او به یې ډوب کړي، خو کله چې له اوبو راووځي او جامې یې وچې شي همغه انسان به وي چې مخکې و.

یو انسان له ډېرو سختو او سترو بدبختیو سره مخامخ کړه، چې ښایي اصلاح شي، خو کله چې له بدبختیو خلاص شي او ځان سوکاله او نېکمرغه ووینې، نو بیرته پر همغه کس بدلېږي چې پخوا و.

ما پخپل عمر کې ډېر انقلابونه او بدلونونه ولیدل او هر ځل مې فکر کاوه چې له دې تحول او بدلون وروسته به انسان بدل شي، خو بیا به مې ولیدل، چې هېڅ بدلون یې نه دی کړی، نو څنګه دا هیله کولای شم، چې د یوه کتاب په لوستلو سره دې انسان ببخي بدل شي.

ځینې کسان شته چې وایي، هغه څه چې نن پېښېږي، مخینه نه لري او هېڅکله به په نړۍ کې نه وي شوي، خو د دوی دغه خبره د وګړو د کمې تجربې او د فکري ځواک د کموالي له امله ده، ځکه په نړۍ کې چې کومه پېښه شوې، د هغې مخینه ارو مرو لیدل شوې ده.

زه سینوهه نومېږم، ما پر خپلو سترګو ولیدل، چې یو زوی، په کوڅه کې خپل پلار وواژه، ځکه چې زوی د صلیب نښه پر خپل تټر تومبلې وه او پلار د ښکر نښه درلوده.

ما ولیدل چې مریانو او کارګرانو د شتمنو او خانانو پر خلاف پاڅون کړی او ومې لیدل چې خدایان له یو بل سره جنګ ته پاڅېدل.

ما پر خپلو سترګو ولیدل، هغه کس چې تل به یې د سرو زرو په جامونو کې شراب څښل، کله چې بېوزله شو، د نیل سیند پر غاړه ناست و او د سیند اوبه یې څښلې.

ما ولیدل هغه کسان چې په تلو کې یې سره زر تلل، په څلورلارو کې سوال ته مجبور شول او د همدغو کسانو مېرمنو د یوې ټوټې مسو په بدل کې ځانونه پر تور پوستو خرڅ کړل.

دغه ټول کارونه زما په مخکې شوي دي او له دې وروسته به هم همدغسې ډېر نور کارونه وشي.

زما په وخت کې خلکو له تېرو تجربو څخه ګټه وانخیسته، نو ځنګه ویلای شم، چې راتلونکي کسان به زما د وخت له پېښو څخه عبرت واخلي، چې په دې کتاب کې لیکل شوې دي.

همغه ډول چې تر ننه پورې انسان نه دی بدل شوی، په راتلونکې کې به هم بدل نه شي.

نو زه دغه کتاب ددې لپاره نه لیکم، چې څوک یې د پند او نصیحت لپاره ولولي او له تېرو وختونو پند واخلي.

زه دغه کتاب د ځان لپاره لیکم، ځکه چې کړوي مې او د تېزابو په شان زما زړه خوري، زه مجبور یم هغه څه ولیکم چې پرې پوهېږم او غواړم په دې ډول مې کړاو کم شي.

زه چې کله د ختیځ سمندر څنډو ته تبعید شوم، نو هلته د اوسېدو پر درېیم کال مې ددې کتاب په لیکلو پیل وکړ.

داهغه سیمه ده چې هند ته تلونکې بېړۍ له دغه ځایه حرکت کوي او زما د اوسېدو په شا و خوا کې سره غرونه ترسترګو کېږي، چې پخوا به د مصر پاچاهانو د خپلو مجسمو د جوړولو لپاره ددغو غرو له ډبرو استفاده کوله.

زه ددې لپاره دغه کتاب لیکم چې نور نه شراب ، نه له ښځو سره تفریح، نه په حوضونو کې د کبانو لیدل او نه هم د باغونو او ګلانو ننداره خوند راکوي.

د ژمي په سړو شپو کې که یوه ځوانه تورپوستکې نجلۍ راشي. په څنګ کې مې ویده شي او بستره مې راګرمه کړي ما به هېڅ خوشحاله نه کړي.

یوه موده کېږي، چې سندرغاړي مې رخصت کړي، ځکه چې سندرې یې اوس خوند نه راکوي او ان د هغوی غږونه مې تنګوي.

له دې وروسته سره و سپین، طلایي او د سپنیو زرو جامونه او ښکلې مېرمنې خوند نه راکوي.

سره له دې چې زه جلا وطنی یم، خو دغه ټول شیان چې یاد مې کړل له ما سره شته.

د مصر له پلازمېنې څخه یو کس چې پخوا زما مریی و او اوس ډېر شتمن دی، زما لپاره ډېر ګران بیه شیان او زما د اړتیا وړ ټول توکي رااستوي.

لا هم زما مریان زما د لکنې له ګوزارونو وېرېږي او زما ساتونکي عسکر، چې ما ویني، لاسونه پر ځنګنو ږدي او رکوع کوي.

خو هغه سیمه چې زه پکې ګرځېدای شم ډېره محدوده ده او هېڅ یوه بېړۍ هم نه شي کولای له سمندر څخه هغه ساحل ته راشي چې زه پکې ژوند کووم.

اوس هرڅه زما له نظره لوېدلي دي، نور به مصر ته ستون نه شم او توره خاوره به تر پښنو لاندې نه کړای شم، د طبس د پسرلي د شپو بوی به احساس نه کړم او په دغسې یوه حالت کې دغه کتاب لیکم.

پخوا زما نوم د فرعون په طلایي کتاب کې ثبت شوی او په زرینه ماڼۍ کې، چې د مصر سلطنتي ماڼۍ ده، زما ځای د فرعون په ښي اړخ کې و، خو نن سبا زه په دې سیمه کې، یوازې یم.

په هغه وخت کې زما خبرې د مصر د ډېرو لوړو کسانو تر خبرې زیات ارزښت درلود، خانانو به ډالۍ راکولې او زري امیلونه به یې زما پر غاړه کول.

ما په هغه وخت کې هر هغه څه درلودل چې یو کس یې هیله کوي، خو په داسې څه پسې وم، چې هېڅ انسان یې نه شي ترلاسه کولای.

دغه شی، حقیقت او رښتیا ویل ،ازادي او مساوات مې غوښتل.

له همدې امله نن په دې لرې پرته سیمه کې ،د ختیځ سمندر په څنډو کې ژوند کووم، ځکه چې د مصر د فرعون هورم هب د پاچاهۍ پر شپږم کال کې زه د ازادۍ ،عدالت او مساوت د غوښتلو په تور له مصره جلا وطن شوم.

هورم هب امر وکړ، که غواړم مصر ته ستون شم، ما به د یوه لېوني سپي په شان ووژني او که زما ګامونه، د مصر خاورې ته ورسېدل، ما به د یوه چینجي په شان د مصر په خاورو او ډبرو کې تر پښو لاندې کړي.

هغه ساتونکي چې د فرعون له لوري دلته ګمارل شوي، دنده لري چې ما له خپلې محدودې دبالندې پرې نه ږدي.

په داسې حال چې فرعون یوه ورځ زما ملګری و، زه تصور کووم چې په هغه وخت کې یې ماته اړتیا درلوده او ما ورته ځینې خدمتونه وکړل.

خو له هورم هب څخه، چې د ټیټې کورنۍ وګړی دی او اصالت نه لري، نوله دې څخه پرته بله تمه ترې کېدای نه شي.

دی چې کله پاچا شو، په معبدونو او دېوالونو کې یې د پخوانیو فرعونیانو نومونه پاک کړل او د هغو پر ځای یې د خپل پلار و مور او نیکونو نومونه ولیکل.

پر کومه ورځ چې هغه په معبد کې تاج پر سر کړ، زه هلته وم او ومې لیدل، چې د مصر سپین او سور تاج یې د هغه پر سر ورکېښود.

له دې ورځې شپږ کاله وروسته یې زه جلا وطن کړم او دا بل دلیل دی چې زه ډېر ښه پوهېږم چې هغه پر کومه نېټه د مصر پاچا شو.

سره له دې یې خپلو کاتبانو ته دنده وسپارله، چې د سلطنت دوره یې اوږده کړي او داسې ولیکي چې کله یې زه جلاوطن کولم، نو د هغه د پاچاهۍ دوه دېرش کاله تېر شوي دي.

ما پر خپلو سترګو ولیدل، چې کله هغه جلا وطن کړم، دومره مغرور او پیاوړی و، چې دا یې ښخي مهمه نه بلله چې زما د تبعید نېټه دې چیرته ولیکل شي.

دا خبره مې ځکه وکړه، چې خلک پوه شي هغه د خپلې پاچاهۍ دوره اوږده

کړي.نو کله چې څوک تاریخ لولي، فکر به کوي چې کله زه جلاوطن کېدم.د هغه د حکومت دوه د پرش کاله تېر شوي دي، په داسې حال کې چې په دې وخت کې هغه شپږ کاله حکومت کړی و.

هغه د خپلې پاچاهۍ وخت هغه ورځ لیکلې وه، په کومه ورځ چې دی طبس ته ننوت او یو باز ورسره و.

دا د مصر د یوه پاچا له لوري لیکل شوی تاریخ دی، چې د ځان په ګټه یې لیکلی. نو اوس څنګه پر نورو تاریخونو باور وکړو؟

په ځوانۍ کې ته وا ړوند وم او په حقیقت نه پوهېدم.نو ځکه مې له هغه چا کرکه کوله چې د حقیقت لپاره ژوندی و.

زه پوهېدم، د هغه حقیقت به د مصر لپاره ستونزې او بدبختۍ پیدا کړي

هغه غوښتل له خپل خدای، یانې حقیقت سره ژوند وکړي.ما د هغه قدر ونه کړ او د دغه سړي د ختمولو لپاره مې هلې ځلې وکړې، نو نن سبا باید د خپل عمل سزا وګورم. ځکه چې زه هم غواړم له حقیقت سره ژوند وکړم.

حقیقت د یوې تېرې چړې په شان دی او یو لاعلاجه ټپ دی، له همدې لامله په ځوانۍ کې ټول له حقیقت څخه تېښتي او ځینې کسان ځانونه د شرابو په څښلو او له ښځو سره په ساعت تېري بوخت ساتي.

ځینې خلک د پیسو په ټولولو بوخت دي،چې په دې ډول حقیقت هېر کړي.

ځینې د قمار په وسیله ځان بوخت ساتي او د موسیقۍ او نغمو اورېدل هم له حقیقته د تېښتې لپاره ښه وسیله ګڼي.

تر هغه چې ځواني پاتې وي، ددې مخه نیسي چې څوک په حقیقت پوه نه شي، خو کله چې بوډا شو ، حقیقت د هغه په بدن کې ځای نیسي او هغه. سوری سوری کوي

په دې وخت کې هېڅ شی د انسان په نظر نه ښکاري او له هر شي څخه کرکه کوي، ځکه دی ویني،هر شی لوبتکه او درواغ دي،په دې وخت کې په نړۍ کې ځان له خپل سیوري سره یوازې ګڼي، نه انسان او نه خدایان ورسره مرسته کولای شي.

زه سینوهه، چې دغه ننبسي په پاپیروس انځوروم، اعتراف کووم چې زما د عملونو يوه برخه ډېر ځيږه او خرابه ده او حتى ما جرمونه کړي دي، ځکه چې فکر مې کاوه ورانکاري او جرم د ځينو کارونو لپاره مشروع او ضروري دی.

خو اوس په دې هم پوهېږم، چې که دغه کلېمې په اتفاقي توګه چا ولوستلې، هغه به زما له ژونده درس وانخلي.

کله چې نور کسان ګناه کوي، د آمون معبد ته ورځي، پر ځان د آمون اوبه تويوي او فکر کوي په دې کار سره له ګناه پاکېږي.

خو زه چې د عمر په وروستي پړاو کې يم، پر خدايانو عقيده نه لرم، په سپېڅلو اوبو ځان نه وينځم، ځکه پوهېږم، چې خدايان هم د نورو په شان درواغ او چل ول کوي.

زه پوهېږم. هېڅ داسې قدرت نشته، چې يو ورانکاری او مجرم له ګناه پاک کړي. د يوه کس زړه بدل کړي او بله دا چې داسې سړی هم نه پيدا کېږي چې جرم او ګناه يې کړې وي او بيا پخپل زړه کې ځان ګناکار وبولي. خو زه دا فکر کووم چې که خپل عملونه وليکم. هغه فشار به کم شي چې دا مهال يې زه پر ځان احساسوم.

نور کسان په درواغو د خپلو عملونو منظرې پخپلو قبرونو کې کاږي، چې په لوېديزه نړۍ کې (اوزيريس) تېرباسي او دغه عملونه د هغه په تله کې کېږدي، چې د نېکو عملونو تله درنه شي.

زه د چا تېر باسلو نيت نه لرم او زما تله د پاپيروس پاڼې دي.

د دغه ترازو شاهين دغه قلم دی، چې زما په لاس کې دی او اوس د پاپيروس پر مخ ځو کرښې انځوروي.

خو ښايي زه غواړم ځان تېر باسم، خداي دې خير کړي، چې انسان دومره درواغجن او چلباز شي چې خپله نه پوهېږي، خو ځان هم تېر باسي.

که داسې هم وي، ددې کتاب د ليکلو بار هغو اپيمو ته ورته دی، چې د درد د کمولو سبب کېږي.

اپيم درد کموي، خو ددې مادې له امله اصلي ناروغي نه معالجه کېږي

دغه کتاب به زما دردونه کم او ارام کړي، خو زما ناسم او خیره کره وره به له منځه یو نه سي او زه به پاک او سپېڅلی نه شم.

تر دې وړاندې چې ددې کتاب په لیکلو پیل وکړم، غواړم خپل زړه ازاد پرېږدم، چې لږ وژاړي او زګېروي وکړي.

دا د یوه. زړه خوږي او رټل شوي انسان زړه دی، چې زګېرویو ته اړتیا لري.

زما زړه د مصر، نیل او طبس د اب و هوا په هیله زګېروي کوي، ځکه کله چې د نیل سیند اوبه چا وڅښلې، تل د دغو اوبو د څښلو هیله کوي او نورې اوبه د هغه تنده نه شي کمولای.

هغه چا چې په طبس کې نړۍ ته سترګې رڼې کړې وي، هیله کوي چې طبس وګوري، ځکه چې نړۍ د طبس په شان بل ښار نه لري.

څوک چې د طبس په یوه کوڅه کې لوی شوی وي، که یې داسې ماڼۍ ته ولېږدوي، چې د صندورو له لرګیو جوړه وي، بیا هم د هغې کوڅې ارمان او هیله کوي، چې په منقلونو کې د خوشایو د سوځېدا او د هغو پر سر د سرو کړیو کبانو بوی احساس کړي. که ما کولای شول چې یو ځل بیا د نیل سیند په تورو سواحلو کې ګام کېږدم، نو دې به چمتو یم، چې د شرابو خپله طلایي پیمانه، د مصر د یوه کروندګر پر کولالي لوښي ورکړم او پر خپل تن د کتان دغه جامې لرې واچوم او د مریانو لنګ واغوندم.

که ما کولای شول چې حتی یو ځل د نیل پر څنډه د لوخو د ځنګل له منځه د بادونو غږ واورم او د نیل پر اوبو د توتکیو الوتنه وګورم، نو خپله ټوله شتمني به په یوه وار پر بېوزلو ووېشم.

خو زه یوه توتکۍ نه یم چې وکړای شم، له ساتونکو پرته له دې ځایه، د مصر ټاټوبي ته والوځم، هلته د آمون د معبد په یوه لوړ برج کې چې طلایي ګنبده لري ځاله جوړه کړم او د آمون د معبد د سپاندو او د عبادتځای د قربانیانو د وینې بوی احساس کړای شم.

زه یو مرغه نه یم چې د آمون د معبد د بام پر سر د شا و خوا سیمو ننداره وکړم،

وګورم چې په طبس ښار کې غوايي څه ډول، درنې ګاډۍ په ځان پسې راکاږي؟

زه نـه شم کـولای هغـه کسبګر وګـورم چې پخپلـو دوکـانونو کـې د منګیـو پـه جوړولو، د پوزيو په اوبدلو او د ډوډيو په پخولو بوخت دي

زه نه شم کولای هغه مېوه خرڅونکي ووینم چې پر لارویانو باندې مېوې پلوري

اوف خدایـه ..... اې د ځـوانۍ ځلېدونکیـه لمـره! او اې د تانـدوالي د وخـت خوندوره لېوتتوبه! چیرته یاست او ولې مو یوازې پرېښودم؟

نن زه د غنمو د مغز ډوډۍ خورم او خپله هره نمړۍ له شاتو په ډکه کاسه کې ننباسم. خو دغه ډوډۍ زما پـه خوله ترخه لګېږي، د ځوانۍ د وخت د وچې او له سبوسو ډکې ډوډۍ غوندې نه ده او هغسې بوی نه لري

اې تېرو شویو کلونـو چې لاړئ. ایسـا رشئ او ..... بیرتـه راستانه شئ .. !اې آمونه! (لمره) چې تل په اسمان کې له ختیځه تر لوېدیځه په حرکت کې يې، يو ځل خو له لوېدیځه د ختيځ پر لور روان شه، چې زه بیرته خپله تللې ځواني ترلاسه کړم

اې د ځوانۍ هغو لړزو چې د مینا او مریت په غېږ کې پر ما راتلئ! اوس چیرتـه یاست او ولې د هېڅ یوې ښځې په غېږ کې زه دغسې لړزه نه احساسوم.

اې نازک قلمه! چې اوس زما په لاس کې يې او د پاپیروس پر مخ ځغلې، اوس چې خدایان زما ماشومتوب بیرته نه شي راګرځولی، ته پخپلو لیکنو سره د ماشومتوب د پړاو خاطرې او د ځوانۍ د وخت زړه او تاندوالی ماتـه راستون کړه چې نن سبا د تورې ځمکې تر ټولو بدبخت سړی سینوهه، له تېر وخت سره بوخت شي او اوسني غمونه هېر کړي

***

هغه کس چې ما تصور کاوه، زما پلار دی، د سن موت په نوم ډاکټر و، د طبس پـه بېوزلو سیمو کې يې ژوند کاوه او د بېوزلو کسانو درملنه يې کوله

هغـه ښځه چې کیپا نومېده او ما خپلـه مـور بللـه، د هغـه مېـرمن وه. دغـو دوو کسانو له دې چې عمر يې تېر شوی و، خو زوی يې نه و زېږولی او له همدې امله يې په بوډاتوب کې زه د خپل زوی په توګه ومنلم

سن موت او کیپا له دې کبله چې ډېر ساده ګان ول، ویل به یې، چې زه ورته خدایانو را استولی وم او اټکل یې نه کاوه، چې زه به څومره غمونه ورپه برخه کړم.

کیپا چې له افسانو سره یې مینه درلوده، زه یې د دغو افسانو د لوی اتل په نوم، یانې سینوهه ونومولم.

سینوهه هغه کس و، چې د یوه روایت پر اساس یې یوه ورځ د فرعون په کېږدۍ کې یو وحشتناک راز واورېد او له دې وېرې چې ونه وژل شي وتښتېد.

ډېر کلونه په پردیو هېوادونو کې و او له ډېرو خطرناکو پېښو سره مخامخ شو، چې له ټولو روغ ووت.

کیپا هم یوه ساده مېرمن وه، فکر یې کاوه، چې ما هم له ډېرو خطرو ځان ژوندی ایستلی دی او تر دوی را رسېدلی یم، نو که زما نوم سینوهه کېږدي، په راتلونکي کې به هم له پېښو څخه خوندي پاتې شم.

خو د آمون خدای کاهنان وایي، چې نوم د انسان پر برخلیک ډېر اغېز لري او ښایي له همدې امله زه له ډول ډول پېښو، سره مخامخ شوم.

ډېره موده مې په پردیو هېوادونو کې تېره کړه او له دې کبله چې نوم مې سینوهه و، په ډېرو رازونو پوه شوم، چې ځینې یې خطرناک هم ول.

د پاچاهانو او د هغوی د مېرمنو په رازونو خبر شوم، چې د مرګ سبب هم کېدای شي او بالاخره همدې نوم زه په یوه رټل شوي سړي بدل کړم او جلاوطن هم شوم.

خو زه دا فکر نه کووم چې زه دې له دې امله له ناخوالو او کړاوونو سره مخامخ شوی یم، چې ګني نوم مې سینوهه دی.

که زما نوم (کپرو) یا (کفرن) او یا (موسي) وای، بیا به هم زما برخلیک همدا و، خو له دې خبرې انکار نه شو کولای چې سینوهه رټل شوی او رد شوی کس دی او د باز زوی هورم هب د مصر پاچاهۍ ته ورسېد او د مصر تاج یې پر سر کېښود.

له همدې امله ځینې وخت د یوه کس د ژوند پېښې د هغه له نوم سره داسې اړخ لګوي، چې خلک فکر کوي، نوم د انسان په برخلیک کې ستر رول لري.

ځینې کسان د دې لپاره چې، د خپلو بدبختیو پر وخت ځانته تسلي ورکوي

وایي، پر موږ د خدای غضب نازل شوی او د نېکمرغۍ پر وخت پر ځان ویاړي، چې له پیله یې نوم همداسې نیک و، ځکه خو نېکمرغۍ ور په برخه شوې

زه د درېیم آمون هوتپ د پاچاهۍ پر وخت وزېږېدم او پر همدې کال یو بل کس هم وزېږېد، چې وروسته یې پر ځان څلورم آمون هوتپ او بیا یې اخناتون نوم کېښود.

خو نن سبا څوک دغه نوم نه اخلي، ځکه چې پر دغه نوم لعنت شوی، هغه هم له دې کبله چې څلورم آمون هوتپ غوښتل د حقیقت لپاره ژوند وکړي

کله چې هغه وزېږېد د مصر په سلطنتي ماڼۍ کې خوشحالي وه او فرعون، ددې پېښې په شکرانه کې د آمون په معبد کې قرباني وکړه. د مصر ملت هم خوشحالۍ کولې، ځکه چې نه پوهېدل د اخناتون د حکومت په وخت کې به له څومره بدبختیو سره مخامخ شي.

د فرعون مېرمنې تي ئي چې کابو دوه ویشت کاله یې نوم له خپل مېړه سره یو ځای په ټولو معبدونو کې کیندل شوی و، تر هغه وخته یې ونه کړای شول چې خپل مېړه ته یو زوی وزېږوي

له همدې امله د دغه هلک له زېږېدو وروسته فرعون ډېر خوشحال شو او کله چې کاهنانو دغه هلک سنت کړ، هغه یې خپل ولیعهد وباله

دغه هلک په پسرلي کې وزېږېد، هغه موسم چې کروندګر پکې کرنه کوي او ما په مني کې، هغه مهال چې د نیل سیند مستېږي، دې نړۍ ته سترګې پرانستې

خو د خپلې زوکړې له دقیق تاریخه خبر نه وم، ځکه خو کله چې زما ناسکه مور کیپا ولیدم، هغه مهال زه په یوه ټوکرۍ کې د نیل په اوبو کې روان وم او د نیل اوبو د کیپا کور ته راوستم

تو تکۍ زما پر سر الوتلې خو زما غږ چا نه اورېده، ان مور مې تصور وکړ، چې زه مړ شوی یم، خو زما پر مخ چې یې لاس تېر کړ، نو پوه شوه، چې زه ژوندی یم

زه یې کور ته بوتلم او د نغري تر څنګ یې واچولم، بیا یې خپله خوله زما پر خوله کېښودله، چې ساه راکړي، تر دې چې ما وژړل

زما پلار سن موت په دې وخت کې د بېوزلو د معالجې لپاره له کوره وتلی و او د بېرته راتګ پر مهال له دوو هیلیو او یوې پیمانې اوړو سره راستون شو، چې د فیس په بدل کې یې تر لاسه کړي ول.

زما غږ چې یې واورېد فکر یې وکړ چې کیپا پیشونګوري پیدا کړې او غوښتل یې له هغې سره لانجه وکړي، خو زما مور ورته وویل دا پیشونګوري نه دي، بلکې یو ماشوم دی.

ته باید خوشحال شې چې خدای مور ته زوی راکړی دی.

پلار مې بدل شو او زما میره یې کونګ وبلله، خو هغې ماشوم ور وښود.

کله چې د سن موت سترګې پر ما ولګېدې او زما کوچنۍ سترګې او خوله یې ولیده، زړه یې ورحمېد او چمتو شو چې ما په زوی والي ونیسي.

له دې وروسته، دې مېږه او ښځې ګاونډیانو ته وویل چې زه کیپا زېږولی یم، خو زه نه پوهېږم چې د غه خبره به ګاونډیانو منلې وي کنه؟

زما ناسکه مور چې زه یې حقیقي مور ګڼم، په یوه زانګو کې واچولم او هغه تو کړه یې چې زه یې په سیند کې، پکې پیدا کړی وم د زانګو پر سر کېښودله.

زما ناسکه پلار چې زه یې حقیقي پلار ګڼم، په کور کې یې تر ټولو ښکلې مسې لوښې معبد ته یووړې، چې کاهنانو ته یې ډالۍ کړي او هغوی زما نوم د سن موت او کیپا د زوی په توګه په ژوندو کې ثبت کړي، چې دغه کار هم وشو.

زما پلار چې یو ډاکټر و، زه یې پخپله سنت کړم، ځکه چې د کاهنانو له ککړو چړو وېرېده، چې د هغوی چړې زما ټپ میکروبي نه کړي.

زه فکر کووم چې هغه د بچت لپاره هم دغه کار وکړ، ځکه چې د بېوزلو ډاکټر و او ډېر عاید یې نه درلودل، نو زما د سنتولو لپاره یې کاهنانو ته ښې ډالۍ نه شوې ورکولای.

زه چې لږ لوی شوم هغې ښځې او مېړه، چې ما فکر کاوه، زما اصلي مور و پلار دي دغه خبرې ماته وکړې، خو فکر نه کووم چې دروا غ به یې ویلي وي، ځکه چې دواړه له درواغو وېرېدل.

له دې وروسته چې لوی شوم، زما د ماشومتوب وهښتان یې لنډ کړل او حقیقت یې راته بیان کړ، ویې ویل زه د هغوی اصلي زوی نه یم. بلکې په زوی توب یې منلی یم.

هغوی له خدایانو وېرېدل او نه یې غوښتل او خپله چوپتیایې د خدایانو لپاره ستر درواغ بلله، نو ځکه یې پر اصلي کیسې خبر کړم.

زه نه پوهېدم چې له کوم ځایه راغلی یم او زما اصلي مور و پلار څوک دي؟ خو له دې وروسته چې بالغ او هوښیار شوم، د ځینو شواهدو او قراینو له مخې چې په دې کتاب کې مې یادونه کړې، فکر کووم چې زما اصلي مور و پلار څوک دي.

خو دغه فکر چې څومره هم قوي وي، بیا هم یو ګمان او حدس دی.

هغه څه چې زما لپاره جوت شول، دا دي چې زه یوازینی ماشوم نه وم، چې په یوه تو کرۍ کې اچول شوی او په نیل کې له بره ښکته لور ته خوشې شوی وم.

د طبس ښار په هغه وخت کې ډېر معبدونه او ماڼۍ درلودې او شا و خوایې د بېوزلو جونګړې وې.

د فرعونیانو په وخت کې څو نور هېوادونه، هم له مصر سره یو ځای شول او مصر د نړۍ یو شتمن هېواد شو.

له دې کبله چې نور هېوادونه له مصر سره یو ځای شول، ددغو هېوادونو، ډېر اوسېدونکي، هم طبس ته راغلل، چې هلته کورونه او ماڼۍ جوړې کړي.

دوی پر دې سربېره د خپلو خدایانو د عبادت لپاره معبدونه جوړ کړل او د نورو هېوادونو یو شمېر اوسېدونکي، چې بېوزله ول، په جونګړو کې یې واړول.

بهرنیانو په طبس کې له اوسېدو سره خپلې خپلې عقیدې او رواجونه هم دود کړل.

که څه هم د هغوی عقیدو پر ټولو مصریانو اغېز ونه کړ، خو ځینې یې متاثر کړل. په دوی کې یو دود دا و، چې بېوزلو به د خپلو ماشومانو د ساتلو توان نه درلود، نو خپل ماشومان به یې په ټوکریو کې واچول او په نیل کې به یې خوشې کول.

ځینو شتمنو مېرمنو به هم، چې مېړونه به یې په سفر کې ول، د خپلو عیاشیو او عشقونو مېوې په ټوکریو کې اچولې او نیل ته به یې سپارلې.

ښایي زه د کوم مانو په کاله کې زېږېدلی وم، چې مېرمن یې د خپل خاوند په غیاب کې له یوه سریاني سړي سره ځملاستلې وي، له همدې امله یې له زېږېدو وروسته زه سنت کړی نه وم او د نیل اوبو ته یې اچولی وم، ځکه که پلار مې مصری وای حتماً یې زه سنت کولم.

له دې وروسته چې ما د ځوانۍ په پړاو کې ګام کېښود او زما د ماشومتوب وېښتان یې راخخه لرې کړل، کیپا دغه وېښتان او زما د ماشومتوب بوټان د لرګي په یوه صندوق کې کېښودل.

بیا یې هغه ټوکرۍ چې زه یې پکې په نیل کې پیدا کړی وم، پر نغري را ځوړنده کړه چې د نغري د لوګیو له امله زېړه شوه.

وروسته یې د دې ټوکرۍ ځیني برخې ووینځلې او ما چې به هر ځل دغه ټوکرۍ لیدله را په زړه کېدل مې، چې په دې ټوکرۍ کې له نیله را تېر شوی یم.

زه پوهېدم چې د دې ټوکرۍ اوبدل شوې غوټې، د کوتر بازانو غوټې دي.

ما له خپل مجهول مور و پلاره یوازې دغه ټوکرۍ درلوده او د دې ټوکرۍ په کتلو مې زړه رحمي شو، ځکه چې زما د اصلي مور و پلار یوازېنۍ نښه ده.

دې ټوکرۍ زما په زړه کې لومړنی ټپ جوړ کړ.

همغه ډول چې یوه مهاجره مرغۍ له یوې مودې هجرت وروسته خپلې مېنې ته ځي، کله چې انسان هم بوډا شي غواړي، چې خپل ماشومتوب ور پر زړه کړي.

کله چې زه خپلې حافظې ته مراجعه کووم ګورم، چې زما ماشومتوب ډېره ځلا او برېښنا لري، داسې ښکاري چې په هغه وخت کې هر څه ډېره ځلا درلوده.

انسان چې هر څومره بېوزله شي، خو کله چې خپل ماشومتوب، ته ستون شي، د خوشحالۍ ډېر شیان پکې موندلی شي او له دې اړخه شتمن او بېوزلي سره ورته دي.

زما پلار سن موت د بېوزلو په سیمه کې د معبد ترڅنګ د طبس په ډېره ګڼ

میشتې سیمه کې ژوند کاوه.

د هغه کور ته نژدې د طبس د ښار بندر و.

په دې بندر کې هغه بېړۍ چې له پورته نیله راتلې او هغه کښتۍ چې د نیل له برنۍ برخې څخه طبس ته ننوتلې، دواړو به خپل بارونه خالي کول.

ددې بېړیو ماڼوګانو له دې وروسته، چې خپل بارونه به یې دلته تش کړل، د بېوزلو د سیمې تنګو کوڅو ته به ننوتل او ددې محلې په میخانو کې به یې شراب او د اوربشو اوبه څښلې او ډوډۍ به یې خوړله.

په همدې محله کې فاجشه خانې وې، چې نارینه وو به پکې وخت تېري کاوه، شتمن کسان به هم په روان تخت کې دغو کورونو ته راتلل چې وخت تېري کړي.

د بېوزلو په سیمه کې زموږ ګاونډیان د مالیاتو مامورین، واړه افسران او په نیل سیند کې د ګرځېدونکو بېړیو خاوندان ول، دغه راز څو تنه ټیټ رتبه کاهنان هم هلته اوسېدل.

همغه ډول چې د نیل سیند له مستېدا وروسته د اوبو لوړ دېوالونه د خلکو پام ورجلبوي. زما مور و پلار هم په دې سیمه کې د خلکو پام ځانته جلباوه او په دې سیمه کې پېژندل شوې څېرې ګڼل کېدې.

زموږ کور د شا و خوا کورونو په پرتله، په تېره بیا د جونګړو او ختینو کورنو په پرتله ډېر لوی ښکارېده، حتي موږ په خپل کور کې یو کوچنی باغ درلود او د اکاسي د ونو کتار، زموږ کور له کوڅې څخه بېلاوه.

زموږ د کور په منځ کې د ډبرو یو ډنډ و، خو دغه ډنډ به له ښني وروسته د نیل د اوبو د مستېدا له امله ډکېده.

زموږ کور څلور کوټې درلودې، چې په یوه کې به مې مور ډوډۍ پخوله او ډوډۍ به مو په برنډ کې خوړله، چې له پخلنځي هم لاره ورغلې او هم مې د پلار له کتنځي څخه یوه لاره ورغلې وه.

په اونۍ کې به دوه ځله یوه ښځه زموږ کور ته راتله او د کور په صفایي کې به یې

زما له مور سره مرسته کوله، ځکه کیپا ډېره کمزورې وه.

دغه راز به هره اونۍ، یو بله ښځه هم زموږ کور ته راتله او د نیل پر غاړه به یې زموږ چټلې جامې وینځلې.

له ګڼې ګوڼې ددې ډکې او ګنده سیمې، چې زه پرې له ماشومتوبه وروسته پوه شوم، د ګندګۍ یوازېنۍ علت هغه پردي کسان او غیر مصریان ول، چې هلته یې ژوند کاوه.

زما مور و پلار د پخواني مصر له دودونو سره سم ژوند کاوه، چې ډېر د احترام وړ ول.

سره له دې چې په طبس کې د خلکو اوان د خانانو او اشرافو مینه او دلچسپي له پخوانیو دودونو او رواجونو سره کمه شوې وه، خو زما پلار او ګاونډیانو یې د پخوانیو مصریانو په شان پر خدایانو عقیده درلوده او د روح پر سپېڅلتیا یې باور درلود.

په لږو یې ګوزاره کوله او له تجملاتو او اشرافي ژونده لرې ول، ځکه چې وېرېدل له نېغې او سمې لارې څخه وا نه وړي.

ته وا دغو کسانو چې هلته یې ژوند کاوه او په دې سیمه کې یې دندې درلودې، غوښتل چې په پرهېزګارۍ او پخوانیو دودونو ته په لېوالتیا سره خلک وپوهوي چې د هغوی له ډلې څخه نه دي او نه غواړي د دوی په شان شي.

خو زه نه پوهېږم ولې دا مسلې چې په ماشومتوب کې پرې نه پوهېدم او په لویوالي کې پرې پوه شوم اوس د بوډاتوب په دې پړاو کې یادوم.

ایا غوره نه ده، چې ووایم، زموږ په کور کې یوه لویه ونه وه، چې لویه سته یې درلوده او ما به په ماشومتوب کې هغه مهال ددې ونې سیورې ته پناه وړه چې لمر به تنګ کړم.

ایا غوره نه ده چې را په زړه کړم، په ماشومتوب کې زما تر ټولو ښه لوبتکه، یوه لرګنیه تمساح وه، چې سره خوله یې درلوده، ما به پر یوه پړۍ تړلې وه او د کوڅې په ډبریز غولي به مې کشوله.

لرګینه تمساح به په ماپسې روانه شوه او خپله خوله به یې پرانیستله. ما به کتل چې ستونی یې هم تک سور دی.

کله چې به ما په کوڅه کې له خپلې لرګینې تمساح سره لوبې کولې، د ګاونډیانو ماشومانو به په حیرانتیا سره ورته کتل او ماته به یې د شاتو ډوډۍ، رنګینې ډبرې او مسې تارونه راوړل چې په بدل کې یې وکړای شي زما پر تمساح لوبې وکړي.

ځکه چې یوازې د خانانو زامنو دغسې لوبتکه درلوده او د بېوزلو بچیانو هغه د ځان لپاره نه شوای برابرولای.

زما پلار هم ددې لوبتکې د اخیستو توان نه درلود، بلکې درباري نجار، زما د پلار لپاره جوړه کړې وه او هغه ته یې ډالۍ کړې وه.

زما پلار ددغه نجار یوه دانه معالجه کړې وه، چې د هغه د کېناستو مخه یې نیوله.

مور به مې هره ورځ ترلاسه نیولم او بازار ته به یې بېولم.

کیپا په بازار کې ډېر څه نه اخیستل خو غوښتل یې چې یوه ګړۍ د یوې ګېډۍ پیازو لپاره چنې ووهي او په اونۍ کې به هره ورځ بازار ته تلله چې یوه جوړه بوټان واخلي.

مور به مې له دوکاندارانو سره داسې خبرې کولې چې ته وا شتمنه مېرمن ده او د شیانو په اخیستو کې شک کول او ټینګېدل یې ددې لپاره نه دي، چې بېوزله او تش لاسې ده، بلکې غواړي ښه شیان واخلي.

ما به کتل چې مور مې ځینې شیان غواړي، خو نه یې شي اخیستلای.

ماته به یې داسې راښودله، چې دغه کار ددې لپاره کوي، چې ماته رازده کړي، بچت څه ډول کېږي.

ماته به یې ویل، شتمن هغه څوک نه دی، چې سره زر ولري، بلکې هغه څوک شتمن دی، چې په لږو قناعت وکړي.

مور چې به مې دغه خبرې راسره کولې، زه به پوه شوم، چې سترګې یې ورېښمینو او رنګارنګ ټوکرانو ته دي، په تېره بیا (سیدون) او (بیبلوس) ټوکران

يې د هر خوښېدل چې په سوريې کې اوبدل کېدل
دغه ټوکر د هيليو د ښځکو په شان سپک وي.
په بازار کې به يې د شتر مرغ پر ښځکو او د عاج پر زينتي شيانو لاس تيراوه، که څه هم لاس ونه يې له د هر کاره ځيره شوي ول.
کله چې به د سوداګرو له ټولي تېرېده، ويل به يې، په بازار کې ټول دغه شيان بې ځايه او اضافي دي او يوازې د کبرجنو او ځانغوښتونکيو کسانو د ارام لپاره دي.
خو زه چې ماشوم وم، په زړه کې مې د مور خبره نه منله او زړه مې د هر غوښتل چې مور راته يوه بيزو واخلي، چې زه يې په غېږ کې ونيسم او دغه ځناور خپل لاسونه زما په غاړه کې را امېل کړي.
د هر مې زړه کېده چې په بازار کې يو ښايسته مرغه راته واخلي، چې په مصري يا سرياني ژبه خبرې وکړي.
ما دا خبره نه شوه منلی، چې ښايسته غاړکۍ او بوټان چې پر مخ يې د سرزرو ټوټې لګېدلې وې، دا سې شيان وبلل شي، چې په درد نه خوري.
کله چې لوی شوم پوی شوم، چې مور مې هم دغه شيان غوښتل، هيله يې کوله چې شتمنه شي او وکړای شي، دغه شيان واخلي، خو له دې کبله چې خاوند يې يو بېوزله ډاکټرو، مور به مې مجبوره شوه چې قناعت وکړي او خپلې بې ځايه هيلې به يې په خيالونو ارامولې.
مور به مې د شپې مهال په کرار غږ هغه کيسې راته کولې، چې زده يې وې.
يوه کيسه يې د سينوهه افسانه وه او په بله کيسه کې يې د هغه چا په هکله خبرې کولې، چې په سمندر کې ډوب شوی و او يوه ټاپو ته ګوزار شوی و، چې هلته د مارانو پاچا حکومت کاوه او له دې ټاپو يې يوه ستره خزانه له ځان سره راوړه.
په دې افسانه کې مې مور د خدايانو، ديوانو، کوډګرو، مارګيرانو او د مصر د پخوانيو فرعونيانو په هکله خبرې کولې.
کله چې به مې پلار دغه کيسې اورېدې، غريده به او زما مور ته به مې يې ويل، په دغو چټي شيانو د هلک ذهن مه خرابوه.

مور به مې غلې شوه، خو چې پوه به شوه پلار مې ویده دی، نو بیا به یې کیسه له همغه ځایه پیل کړه چې غوځه کړې به یې وه.

مابه احساس کاوه چې زما مور یوازې زما د بوختیا لپاره دغه کیسې نه کولې، بلکې پخپله یې هم خوند ترې اخیست.

د دوبي په ګرمو شپو کې چې زمور بستره به د اور په شان وه، مور به لوڅ ځملا ستلو او ګرمي به خوب ته نه پرېښودو.

د مور کرار غږ به داسې ویده کړم، چې تر سهاره به مې سترګه نه رپوله او نن هم کله چې هغه غږ اورم د ډاډ او ارامښت احساس کووم.

زه فکر کووم چې زما حقیقي مور به هم له ما سره د کیپا په اندازه مینه نه وای کړې.

دې خرافاتي ښځې چې د نقالانو او کیسه ویونکیو افسانې به یې اورېدلې، دغو رندو نقالانو او کیسه ویونکیو ته به یې د هرې کیسې په بدل ښه خواړه ورکول.

تر حقیقي مور له ما سره دې مور ډېره مهرباني کړې ده.

هغه افسانې چې مور به راته کولې، زما ساعت ورسره تېرېده.

ما به هم د مور په شان د ماشومتوب له هغه ژونده، چې په چټله کوڅې کې به مو لوبې کولې دغو کیسو ته پناه وړله.

د لمر لوېدو په وخت کې به چې د آمون زرینه بېړۍ (لمر) د لوېديځ د غونډیو پر لور ولاړه او د افق تر شا به پټه شوه، نو د ټولو بېوزلو له کورنو به د سرو کړیو کبانو او تازه ډوډیو بویونه او لوګي پورته شول ما له ماشومتوبه له دغو بویونو سره داسې عادت وکړ، چې په ټول عمر کې، چې په هر ځای کې به وم، دغه بوی مې ډېر خوښېده.

نن چې بوډا شوی یم او پوهېږم، چې مرګ مې نږدې شوی دی، د دغو بویونو په یادکې د حسرت اوښکې تویوم.

د سینوهه د بشپړې سریزې پای

د خپرندود ارزونې یوه ورځنۍ غونډه او د دوو وتلیو خپرونکیو
استاد زلمي هېوادمل او ډاکټر عبدالروف رفیقي نمانځغونډه
جلال آباد: ۱۳۹۱/۱/۲۲ - ۲۰۱۲/۴/۱۰

SINUHA

د کتاب له متن څخه:

- د انسان یو شی هېڅکله نه بدلېږي او هغه دده ناپوهي ده. که یو لک کاله وروسته کوم انسان پیدا شي؛ نو زموږ د وختو انسان او هغو انسانانو په شان به ناپوه او تېروتی وي، چې تر موږ مخکې يې د اهرامونو د جوړېدا په وخت کې ژوند کاوه

- بیا به هم انسان ناپوه وي او راتلونکی انسان هم په درواغو او تشو وعدو تېر وځي؛ ځکه چې انسان د ژوند د دوام لپاره درواغو او چټي وعدو ته اړتیا لري او د هغه فطرت همدا غواړي، چې تل تر رښتیا پر درواغو ډېر باور وکړي او د واقعیت په پرتله پر تشو وعدو ډېر ایمان لري، چې هېڅکله به عملي نشي

- ځینې کسان شته، چې وايي، هغه څه چې نن پېښېږي، مخښنه نه لري او هېڅکله به په نړۍ کې نه وي شوي؛ خو د دوی دغه خبره د وګړو د کمې تجربې او د فکري خواک د کموالي له امله ده: ځکه په نړۍ کې چې کومه پېښه شوې، د هغې مخښنه ارومرو لیدل شوې ده

- زه سینوهه نومېږم، ما په خپلو سترګو ولیدل، چې یو زوی، په کوڅه کې خپل پلار وواژه؛ ځکه چې زوی د صلیب نښه پر خپل ټټر ټومبلې وه او پلار د ښکر نښه درلوده

- ما پر خپلو سترګو ولیدل، هغه کس چې تل به يې د سرو زرو په جامونو کې شراب څښل، کله چې بېوزله شو، د نیل سیند پر غاړه ناست و او د سیند اوبه يې څښلې

- ما ولیدل هغه کسان چې په تلو کې يې سره زر تلل، په څلور لارو کې سوال ته مجبور شول او د همدغو کسانو مېرمنو د یوې ټوټې مسو په بدل کې خانونه پر تور پوستو خرڅ کړل

- دغه ټول کارونه زما په مخ کې شوي دي او له دې وروسته به هم همدغسې ډېر نور کارونه وشي

دانش خپرندویه ټولنه

ISBN 978-9936-22-173-4
9 789936 221734 >

Published By
DANISH PUBLISHING ASSOCIATION